درېیم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې درېیم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱٦۰ افغانۍ



**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**



د میثاق ایثار نشراتي اداره

پشاور ـ نصرت مینه

Tel: ۰۹۱ ۲۳۲۵۵۳۶

دریېم جلد

# د قرآن پلوشې

## حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

## فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|


يونس ........................................................ ۱
هود ........................................................ ۶۲
د يوسف له سورې ئې زده کړو ........................................ ۱۲۹
پلورل شوی صحرايي زلمی! ........................................ ۱۲۹
ځنګه له زندان قصر ته ورسېد ........................................ ۱۲۹
سريزه ........................................................ ۱۳۰
يوسف ........................................................ ۱۳۷
الرعد ........................................................ ۲۲۷
ابراهيم ........................................................ ۲۵۹
الحجر ........................................................ ۲۸۵
النحل ........................................................ ۳۲۱
الإسراء ........................................................ ۳۹۷
فهرست ........................................................ ٤۷۶

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحيم

# یونس

## د سورې پېژندنه

د دې سورې نوم یونس دئ، چې د سورې له ۸۸ آیته اخیستل شوی، ۱۰۹آیتونه لري، په مکه مکرمه کې نازله شوې، د آیتونو فواصل ئې د دوهم او درېیم آیتونو (مبین) او (تذکرون) ته ورته دي، تر نیمایي لږ زیات ئې په داسي صیغو پای ته رسېدلي چې (تذکرون) ته ورته دي او د پاته آیتونو ئې (مبین) ته ورته دي، آیتونه ئې د مکي دور په وروستیو کې نازل شوو سورتونو ته ورته اوږدوالی لري؛ خو هر یو له څو لنډو مسجع فقرو جوړ شوی او سورې ته ئې کُښلی (ښکلی) او خوندور وزن ورکړی.

لکه څنګه چې دا سوره په دریو حروفو (الف، لام، را) پیل شوې د دې سورې د بحث محوري موضوعات هم درې دي چې خلاصه ئې د سورې په آخري دوو آیتونو کې په دې توګه راغلې:

- ... ستاسو د رب له لوري حق (دین) درته راغلی، نو څوک چې په سمه لار روان شي نو بې شکه چې د ځان لپاره په سمه لار درومي؛ او څوک چې بې لاري شي نو د خپل ځان په ضرر بې لاري کېږي،...
- د هغه څه متابعت وکړه چې وحي ئې درته کېږي،
- او تر هغه صبر وکړه چې الله (وروستۍ) پرېکړه وکړي؛ او هغه تر ټولو غوره پرېکړه کوونکی دئ.

یعني الله تعالی د زمانې په هر پړاو کې د خلکو د لارښوونې لپاره پیغمبران لېږلي، چا چې د دوی په لاس د راغلي حق دین متابعت کړی بریا ئې په برخه شوې او چا چې له دې حق دین مخ اړولی او بې لاري شوی ځان ته ئې زیان رسولی. نو د وحي متابعت وکړه او تر هغه صبر وکړه چې خیر الحاکمین رب وروستۍ پرېکړه وکړي. او دا هغه مطالب دي چې د التوبه د سورې په آخري دوو آیتونو کې راغلي، که د سورې مضامینو ته ځیر شو نو راته جوته کېږي چې په حقیقت کې دا سوره د همدغو دوو آیتونو شرح او تفصیل دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ١

الف، لام، راء، دا د باحکمت کتاب آیتونه دي.

(۱)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې په دغې سورې کې ستاسو په وړاندې د باحکمت کتاب آیتونه پراته دي، که غواړئ په حکمت پوه شئ او هره خبره او هر کار مو حکیمانه وي نو دا کتاب ځان ته لارښود کړئ.

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ٢

آیا خلکو ته دا عجیبه برېښي چې د دوی د ډلې کوم سړي ته وحي ولېږو چې خلکو ته خبرداری ورکړه او مؤمنانو ته د دې زېری ورکړه چې د خپل رب په خوا کې ئې رښتینی (غوره) مقدم (مقام) دئ، کافرانو وویل: دا خو یقیناً څرګند کوډګر دئ!

(۲)- په دې مبارك آیت کې څو لارښووني شوې:

- خلکو ته دا خبره عجیبه او د حیرانتیا وړ برېښي چې الله تعالی دې د انسانانو له منځه کوم انسان د پیغمبر په توګه غوره کړي، هغه ته دې وحي ولېږي او د هغه له لارې دې ځینو ته د بدو عملونو د بدو پایلو خبرداری ورکړي او مؤمنانو ته دې د روښانه مستقبل او د الله تعالی په خوا کې د غوره مقام زېری ورکړي!

- کله خلکو د دې لپاره پیغمبر نه دئ منلی چې هغه ئې د ځان په څېر یو انسان موندلی، ویلي ئې دي چې د الله تعالی استازی او پیغمبر باید یا فرشته وي یا داسې ذات چې له عادي انسانانو سره په هر څه کې توپیر ولري، خارق العاده کارونه وکړی شي، د ګوتې په خوځولو سره کاڼي په سرو زرو بدل کړی شي، فرشتې ئې په خوا کې او د ده د مرستې او حمایې لپاره ملاتړلې ولاړې وي؛ او کله ئې د مخکینیو پیغمبرانو په اړه ویلي چې هغوی خارق العاده کارونه کولی شو، په غیب پوهېدل او د خلکو حاجتونه ئې تر سره کولی شو، هر نوی پیغمبر هم باید د مخکینیو په څېر وي او همدغه کارونه وکړی شي.

● د دوی د حیرانتیا وجه دا وه چې ویل به ئې د الله تعالی پیغمبر ولې باید داسې وي چې یو وېروي او بل ته زېری ورکوي، داسې کار خو هغه څوك کوي چې نه مجرم ته د سزا ورکولو توان لري او نه نېك بنده ته د بدلې ورکولو، توان ئې یوازې دومره وي چې یو په گواښونو وویروي او بل په زېرې خوشحال کړي، که د الله تعالی له لوري کوم پیغمبر لېږل شوی وی نو هغه به کافرانو ته د مجرد گواښ پر ځای سزا ورکوله او مؤمنانو ته به ئې د مجرد زېرې پر ځای مخامخ او فوراً نېکه بدله ورکوله.

● چا چې به پر پیغمبر ایمان راوړ نو دغو کافرانو به د هغوی په اړه ویل: دا خلك د یوه ځرگند کوډگر د کوډو تر اغېز لاندې تللي، دوکه شوي او پر یوه کوډگر ئې د پیغمبر گمان کړی!

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

بې شکه چې ستاسو رب هغه الله دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، چارې سمبالوي، هیڅ داسې شفاعت کوونکی نشته چې د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وکړی شي، دا ستاسې رب الله دئ، نو د ده عبادت وکړئ، آیا عبرت نه اخلئ؟

(۳)- دا مبارك آیت لاندیني مهم مطالب بیانوي:

● الله تعالی زمکه او آسمانونه په شپږو ورځو (تکویني مراحلو) کې پیدا کړل. د دې تکویني مراحلو لپاره د ورځو نوم غوره شوی، دې ته مو باید پام وي چې کوم نومونه انسانانو د مخلوقاتو لپاره وضع کړي؛ کله چې دا نومونه د انسان او نورو مخلوقاتو په ارتباط په قرآن کې راځي نو په حقیقي معنی راځي، لکه ورځ یا شپه چې د دوارو اوږدوالی څلرویشت ساعته دئ، د انسان په اړه په همدې حقیقي معنی راځي، خو کله چې د الله تعالی په ارتباط راځي نو په مجازي معنی راځي، په دې کې له شپږو ورځو مراد د انسان د معیارونو مطابق ورځې نه دي چې نژدې ۷۲ ساعته کېږي، بلکې داسې شپږ تکویني مرحلې دي چې اوږدوالی ئې له الله تعالی پرته بل چا ته معلوم نه دئ، په قرآن کې به تاسو وگورئ چې کله دا ورځ زر کاله ښودل شوې او کله پنځوس زره کاله، له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا شپږ ورځې د انسان د وړو معیارونو مطابق ورځې نه دي، بلکې د الله تعالی له شأن سره مناسب موده ده.

● آسمانونه او زمكه ئې له پيدايښت وروسته مهمل او خپلې مخې ته ندي پرېښي، بلكې هغه اداره كوي او چارې ئې سمبالوي، د دغه مطلب د افادې لپاره قرآن دا الفاظ غوره كړي: استوى على العرش: پر عرش برابر شو، د عرش نوم هم انسان د مخلوق لپاره وضع كړى، چې عرب ورته عرش وايي او موږ ورته تخت يا كټ، كله چې په قرآن كې دا نوم د الله تعالى په ارتباط راځي نو مجازي معنى ئې مراد وي نه حقيقي معنى، پر عرش د استوى معنى هم په هغه معنى نه ده چې انسان ئې پر تخت يا كټ د ناستې لپاره كاروي، انسانان پر تخت كښېنستا د يو چا د پاچا كېدو لپاره كاروي، د همغه مطلب د افادې لپاره قرآن دا الفاظ د الله تعالى په اړه راوړي او مطلب ئې دا دئ چې الله تعالى د آسمانونو او زمكې ټولواك دئ، د عالم له پيدايښت وروسته ئې د آسمانونو او زمكې ټولې چارې په خپل واك كې اخيستې دي، د مالك الملك په توګه په كې تصرف كوي، د همدې لپاره په دې فقرې پسې متصل ويل شوي چې (يدبر الامر: كارونه سمبالوي)، يعنې د (استوى على العرش) معنى همدا ده، په دې سره قرآن غواړي د بايبل هغه غلطه وينا تصحيح كړي چې وايي: خداى په شپږو ورځو كې آسمانونه او زمكه پيدا كړل او په اومه ورځ له ټولو كارونو فارغ شو او آرام ئې وكړ!! قرآن دا غلطه خبره ردوي او وايي الله تعالى نه ستومانه كېږي، د عالم پيدايښت، ساتنه او پالنه ئې نه ستومانه كوي، د عالم له پيدايښت وروسته ئې د ټولو چارو سمبالول په خپل واك كې ونيول. پر عرش د استوى معنى دا ده چې د ټولو موجوداتو د مالك، حاكم او واكدار په توګه ئې د دې پراخ عالم د ټولو امورو تدبير په خپل واك او اختيار كې واخيست.

● هيڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندې د شفاعت او سفارش توان او صلاحيت نه لري، هغه د دنيا د پاچايانو په شان نه دئ چې د نورو سفارش او شفاعت ته اړ وي، داسې نده چې بايد بل څوك يو مظلوم ور معرفي كړي، بل څوك د چا د لياقت او اهليت په اړه معلومات وركړي او د ده او بنده تر منځ واسطه شي.

● هغه رب او پالونكى چې بايد يوازې د هغه عبادت وكړې او يوازې له هغه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولې هستې خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونكى دئ، په عرش ئې استوى كړې، د هر څه مالك او واكدار دئ، د هستې د ټولو امورو د تدبير اختيار ورسره دئ، ستا او هغه تر منځ د رابطې لپاره هيڅ وسيلې، واسطې، سفارش او شفاعت كوونكي ته ضرورت او اړتيا نشته. دا درس بايد درته پند وي او د هغه په رڼا كې نبغه لاره له كړې بېله كړې او د الله تعالى له دربار پرته بل دربار ته له رجوع او پناه وړلو ځان وساتې.

په دې اړه د مزيد معلومات لپاره د الانعام د سورې ١٨ آيت او د الاعراف د سورې ٥٤ آيت شرحې ته مراجعه وكړئ.

إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٤

د ده په لوري ستاسو ټولو بېرته گرځېدا ده، د الله رشتینې وعده، بې شكه چې هغه پیدایښت پیلوي، بیا ئې اعاده كوي، د دې لپاره چې هغو ته د انصاف له مخي بدله وركړي چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي؛ او هغه چې كافران شوي؛ دوی ته د تودو اوبو څښاك دئ او دردناك عذاب؛ د دې لپاره چې كفر ئې كاوو.

---

(٤)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دا د الله تعالی رښتينې وعده ده چې ټول انسانان به د ده لوري ته ورگرځي، مري به او بېرته به راژوندي كېږي.
- د هر څه د پیدایښت پیل د ده كار دئ، یعني دا یوازې الله تعالی دئ چې يو څه په لومړي ځل له مخكيني مثال او بېلگې پرته پیدا كوي، له ده پرته بل څوك د څه پیدا كولو توان نه لري،
- او دا الله تعالی دئ چې دا په لومړي ځل پیدا شوی مخلوق بیا اعاده كوي، د بیا اعاده كولو معنی یا دا ده چې بیا بیا او په تكرار سره ئې راپیدا كوي، لكه دا چې انسان ئې په لومړي ځل له خاوري پیدا كړ او بیا د همدې انسان نسل بیا بیا د ده له نطفې راپیدا كوي؛ او یا ئې معنی دا ده چې له مرگ وروسته ئې بیا راژوندی كوي. د دې لپاره باید دا دوهمه معنی ترې غوره كړو چې دلته د بحث موضوع د انسان بیا راژوندي كول دي او تر دغي فقرې وروسته ویل شوي چې هغو ته د انصاف له مخي بدله وركړي چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي؛ او هغه چې كافران شوي؛ دوی ته د تودو اوبو څښاك دئ او دردناك عذاب؛ د دې لپاره چې كفر ئې كاوو.

---

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥

دی هغه ذات دئ چې لمر ئې رڼا گرځولی او سپوږمۍ ئې روښنائي؛ او هر یوه ته ئې د ټېكي ځای ټاكلی چې د كلونو په شمېر او حساب پوه شئ، الله دا نه دي پیدا كړي

مگر په حقه سره، هغو وگړو ته چي پوهېږي آيتونه په تفصيل سره بيانوي.

(۵)- دلته بايد څو خبري په پام کي ولرو:

- د مخکينۍ موضوع په ارتباط ويل شوي چي الله تعالی هر څه په حقه پيدا کړي، د هر څه په پيدايښت کي حکمت او مصلحت مضمر دئ، دوه مثاله ئي لمر او سپوږمۍ دي، يو ئې د ورځي له لوري تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي او بل ئي ستاسو تيارې شپې روښانه کوي، هر يوه ته ئې د ټېکي ځای ټاکلی، داسي چي له ټاکلي ځايه خوځي او په ټاکلې نېټې وروستي منزل ته رسي، حرکت ئې دومره دقيق چي د هغه له مخي د شپو ورځو، مياشتو او کلونو حساب معلوموليی شئ.
- له بياژوندون، قيامت، حساب و کتاب او مکافات او مجازات انکار په دې معنی دئ چي گواکې انسان خوشی او بې هدفه پيدا شوی، نه د فساد، ظلم او کفر سزا ورکول کېږي او نه د ايمان او نېك عمل اجر او بدله!! کوم د عقل او شعور خاوند به دا خبره ومني چي د دې خور او پراخ عالم هر څه دي هدفمن پيدا شوي وي، د هر څه خوځښت او حرکت دي د دقيق حساب له مخي وي خو انسان دي د دغي عامي قاعدې خلاف او د يوې استثناء په توگه داسي پيدا شوی وي چي نه ئې پيدايښت کوم هدف لري، نه پوښتنه ترې کېږي، نه د ښه او بد عمل محاسبه ورسره کېږي او نه سزا او جزاء ورکول کېږي؟!! نور مخلوقات داسي دي چي له خپل ټاکلي مسير يوه ذره ښي او کيڼ لوري ته انحراف نه کوي او معمولي انحراف ئې د زوال او تباهي باعث کېږي، آيا سمه ده چي ووايو: انسان نه د حرکت لپاره ثابت او ټاکلی مسير لري او نه د انحراف سزا گوري؟!!

إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ ٦

يقيناً چي د شپې او ورځي په بدلېدو رابدلېدو او په هغه څه کي چي الله په آسمانونو او زمکي کي پيدا کړي د هغو وگړو لپاره نښي دي چي ځان ساتنه کوي.

(٦)- په منظمه توگه د شپې او ورځي يوه په بلي پسي تگ راتگ؛ او په هري يوې سره يوې اړتيا او ضرورت ته ځواب ويل، يوه تشه پرې ډکول، يو ستر هدف او يو لوی مصلحت پرې تر لاسه کول؛ هغه نښي دي چي د عقل خاوندانو او هغو ته چي غواړي له انحرافه وژغورل شي خپل رب ورښيي.

همدا راز که د آسمانونو او زمکي هر څه ته ځير شو؛ داسي به ئې ومومو چي موږ ته د خپل رب په لوري لارښوونه کوي، د حال په ژبه راته وايي چي دا هر څه عليم او حکيم رب پيدا کړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمۡ
عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ۝٧ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ۝٨

يقيناً هغه چې زموږ د ملاقات هيله نه لري او په دنيايي ژوند راضي شوي او پرې ډاډه شوي او هغه چې زموږ له آيتونو غافل دي؛ د دوی استوګنځی اور دئ په سبب د هغه څه چې تر لاسه کول ئې.

(۷-۸)- دا آيت دوزخ د دغو خلکو استوګنځی ګڼي:

- له الله تعالی سره د مخامخېدو هيله نه لري، پام مو وي چې دلته د (باور نه لرلو) په ځای د (هيلې نه لرلو) الفاظ راغلي؛ او دا ښيي چې له الله تعالی سره د مخامخېدو هغه څوك انکار کوي چې د ډېرو ګناهونو او ظلمونو په سبب ئې د الله تعالی له رحمت او پيرزوينو طمع او هيله قطع شوې وي. يعني دا انکار عقلي وجوهات نه لري بلکې روحي او رواني وجوهات لري، دا ګناه ده چې په تکرار سره ئې انسان هغه پړاو ته رسوي چې له قيامت، مکافات او مجازات او له الله تعالی سره له مخامخېدو ئې انکار ته وهڅوي.
- پر دنيايي ژوند راضي شوي، دا ئې وروستی هدف وي، په خپل ژوند کې بل داسې څه نه ګوري چې د دنيا تر لذتونو ئې لوړ او غوره وګڼي، د معنوي الوت لوړوالی ئې ډېر ټيټ او د معنوي غوښتنو محدوده ئې د دنيا مال او متاع وي.
- له الهي آيتونو غافل دي، د دوی په شاوخوا کې، هر لوري ته او په هر ګام کې ځلېدونکې د قدرت نښې نښې درك کولی، پر سترګو ئې د جهل پرېړې پردې غوړېدلې، د سترګو ليد ئې لنډ دئ او دا بې شمېره آيتونه چې د الهي صفاتو مظاهر او د هغه د قدرت نښې دي؛ د دوی خوبولې سترګې ئې نه ويني، دوی د خپلو سترګو له پرانيستلو او هر څه ته په غور او دقت سره کتلو محروم دي.
- دوی په دنيا کې د فتنو اورونه بل کړي ول، عملونه ئې داسې وو چې سزا ئې له اور پرته بل څه نشي کېدی، د همدې لپاره به په آخرت کې د دوی استوګنځی اور وي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٩ دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ
فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٠

بې شکه هغو چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ د دوی رب به ئې د خپل

ایمان په سبب هدایت کړي، ترې لاندې به ویالې بهېږي، له نعمتونو ډك جنتونو كې، په هغه كې به ئې وینا دا وي: پاكي تا لره ده اې الله! او هلته به ئې د استقبال وینا سلام وي؛ او وروستۍ وینا به ئې دا وي چې ستاینې ټولې د عالمیانو رب لره دي.

(۹-۱۰)- دلته د دوزخیانو په مقابل كې د جنتیانو یادونه په دې توګه شوې:

- دوی ایمان راوړی او نېك عملونه ئې كړي.
- ایمان ئې د دې سبب شو چې الله تعالی د دوی پر مخ د هدایت دروازې پرانیزي، د هر څه د ښه پېژندو توفیق ورپه برخه كړي؛ داسې چې په هر څه كې د خپل رب د قدرت نښې او آثار وګوري.
- داسې جنتونه به ئې په برخه شي چې له راز راز نعمتونو به ډك وي، د ونو او بنګلو لاندې به ئې ویالې بهېږي، هلته به ئې لومړۍ وینا دا وي: پاكي تا لره ده اې الله! د استقبال وینا به ئې یو پر بل سلام كول وي؛ او وروستۍ وینا به ئې دا وي چې ستاینې ټولې د عالمیانو رب لره دي. او دا همغه څه وو چې په دنیایي ژوند كې ئې هم كول، هلته ئې هم لومړۍ وینا د الله تعالی تسبیح او پاكي بیانول او له هر عیب ئې لوړ ګڼل وو، یوه بل ته د سلام تحفه او پیام درلود، وروستۍ وینا به ئې دا وه چې د خپل رب ستاینه وكړي او د پېرزوینو ئې شكر پر ځای كړي.

وَلَوْ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسْتِعْجَالَهُم بِٱلْخَيْرِ لَقُضِىَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا فِى طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾

او كه الله په تلوار سره خلكو ته شر رسولی، هغسې لكه چې دوی په تلوار سره ښېګڼه غواړي نو هرومرو به د دوی نېټه پای ته رسېدلې وه، نو هغه چې زموږ د ملاقات هیله نه لري؛ په خپل طغیان كې ئې لالهانده پرېږدو.

(۱۱)- د دې آیت په مطلب سم پوهېدا لږ غور او دقت غواړي، دلته ویل شوي چې كه الله تعالی خلكو ته د زیان په رسولو كې تلوار كولی نو هرومرو به د دوی مهلت پای ته رسېدلی وو، دا وینا د كافرانو د هغې خبرې په ځواب كې شوې چې وایي: كه د مكافات او مجازات هغه ادعاء حقیقت لري چې تاسو ئې وایئ، كه په رښتیا موږ د عذاب وړ یو، كه الله تعالی په رښتیا له انسان سره د هغه د كړنو محاسبه كوي، كه تاسو د الله تعالی له لوري رالېږل شوي یئ او ستاسو دا ګواښونه او انذارونه حقیقت لري نو ولې پر موږ د الله تعالی عذاب نه نازلېږي؟! ولې ډېر خلك له كومې محاسبې پرته له دنیا درومي، كافر وي، مشرك وي، ظلم ئې كړی وي، ګناهونه ئې كړي وي خو له كومې سزا پرته ومري او له دنیا ولاړ

شي!! قرآن د کافرانو دا وينا په ډېرو آيتونو کې څېړلي او په هر ځای کې ئې هغوی ته مناسب ځواب ورکړی، دوی کله دا خبره له آخرت د انکار په لړ کې کړې، کله له پيغمبر د انکار په لړ کې او کله له مکافات او مجازات د انکار په لړ کې، دلته د دوی په ځواب کې ويل شوي: که الله تعالی له خپلو بندګانو سره په محاسبې کې او دوی ته د بدو کړنو په سزا ورکولو کې تلوار کولی نو بيا خو به انسان ته د مهلت او فرصت ورکولو لړۍ پای ته رسېده، له هري ګناه سره به متصل د سزا متروکه د ګنهګار پر سر راپرېوته، دا د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه ده چې انسان فوراً نه نيسي او له ګناه وروسته هغه ته د توبې، اصلاح او جبران فرصت ورکوي. قيامت ئې د دې لپاره ټاکلی چې له انسان سره ډېر وروسته، د ده او د ټولي نړۍ د عمر په پای کې محاسبه وشي، داسي چې د ځان د تبرئې لپاره هيڅ عذر او حجت ورته پاته نه وي، د همدې لپاره الله تعالی هغه ځا ته هم مهلت ورکوي او په خپل طغيان کې ئې لالهانده پرېږدي چې د طغيان او ګناهونو په سبب ئې خپلي ټولي اړيکي له خپل رب سره شلولې او هيڅ هيله ورته نه لري.

دې ټکي ته هم بايد متوجه وو چې دلته د ګناه سزا د (شر) په نامه ياده شوې، دا ځکه چې په ګناه سره انسان ځان ته د شر او ضرر دروازې پرانيزي. دلته په ډېره ظريفه توګه ويل شوي: هغه انسان چې د خير تر لاسه کولو کې ډېر تلوار لري؛ عجيبه ده چې له الله تعالی په تلوار سره (شر: د خپلي ګناه سزا) غواړي!!

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢﴾

او کله چې انسان ته څه تکليف ورسېږي، نو په داسي حال کې موږ مرستي ته بلي چې په اړخ به پرېوتی وي، يا به ناست وی، يا به ولاړ وي، خو کله چې ده ته هغه رسېدلی مصيبت لري کړو بيا به داسي درومي لکه چې موږ ئې له هغه تکليف خلاصون ته نه وو وربللي، مسرفينو ته خپل عملونه داسي ښايسته او مزين کړی شوي.

(١٢)- په دې مبارك آيت کې څو مهمو مطالبو ته اشاره شوې:

- د آيت د لومړۍ فقرې د (ضر) له کلمې معلومېږي چې په مخکيني آيت کې له (شر) مراد همدا ضر يعني کړاو او تکليف دئ.

- هغه عجول انسان ته چې په تلوار سره د شر راتلو غوښتنه کوي ويل شوي: کله چې ورته راشي نو داسي به ئې ګورې چې په هر حالت کې به مسلسل الله تعالی ته دعاء کوي

او مرسته به ترې غواړي، که په اړخ پروت وي، یا ناست وي یا ولاړ او روان وي دعاګانې به کوي.

- خو چې له تکلیفونو وژغورل شي بیا به داسې درومي لکه چې الله تعالی ته ئې هیڅ دعاء نه وه کړې او په هغه مشکل وخت کې ئې هیڅ مرسته نه وه ترې غوښتې، هم به الله تعالی هېر کړي او هم له الله تعالی سره خپل ټول تعهدات او ژمنې.

دا مطلب د الاسراء د سورې په ٦٦- ٦٩ آیتونو کې داسې لولو:

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَـٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ الاسراء: ٦٧- ٦٩

او کله چې په بحر کې کوم ربړ درورسېږي له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چې (مرستې ته ئې) دربلئ، خو چې کله مو وچې ته وژغوري نو اعراض او ډډه کوئ او انسان ډېر ناسپاسه دئ، آیا له دې خوندي شوي یئ چې د بحر په ژۍ کې مو ښخ کړي او یا تونده سیلۍ درباندې راولېږي، بیا هیڅ وکیل درته ونه مومئ او آیا له دې خوندي شوي یئ چې یو ځل بیا مو بېرته وروګرځوي او ستاسو د کفر او ناسپاسۍ په وجه د باد تونده سیلۍ درباندې راولېږي او غرق مو کړي او بیا د دغې سزا په وجه پر مونږ کوم نیوونکی ونه مومئ.

په دغو ټولو آیتونو کې دا حقیقت ستاسو مخې ته راځي چې انسان هغه وخت الله تعالی ته مخه کوي، دعاء ورته کوي او عبادت ته ئې چمتو کېږي چې د احتیاج او اړتیا احساس وکړي، د "عبادت" اراده ئې د "نیازمندۍ له احساسه" راولاړېږي، خو چې د استغناء او بې نیازۍ احساس وکړي نو له الله تعالی مخ واړوي، د عصیان او طغیان لار غوره کړي، په دې ترتیب ګورئ چې د الله په اړه د انسان معرفت او د ده د ربوبیت په اړه د ده علم او پوهه په انسان کې د نیازمندۍ احساس راولاړوي، د ده دعاء له هغه "معرفته" څرګوبه کېږي چې د رب العالمین په اړه ئې لري.

---

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ وَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ جَعَلْنَـٰكُمْ خَلَـٰٓئِفَ

فِي ٱلْأَرْضِ مِنۢ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

او یقیناً چې تر تاسو مخکې مو ډېر پېړۍ وال هغه مهال هلاك كړل چې ظلم ئې وكړ؛ او پیغمبرانو ئې څرګندې نښې ورته راوړې خو دوی (دې ته تیار) نه ول چې ایمان راوړي، همداسې مجرمین مجازات کوو، بیا مو تاسو تر دوی وروسته په ځمکې کې ځای ناستي کړئ چې وګورو څنګه عمل کوئ.

(۱۳-۱٤)- په داسې حال کې چې تاریخ ګواهي ورکوي چې په تېرو پېړیو کې په وار وار ظالم قومونه مؤاخذه شوي، کله چې پیغمبران علیهم السلام ورته راغلي او څرګند آیتونه ئې د دوی مخې ته ایښي او په دې توګه الهي حجت پرې بشپړ شوی، خو دوی ایمان نه دئ راوړی نو په سخت الهي عذاب اخته شوي، د دوی هر څه راتلونکو نسلونو ته په میراث پاته شوي، د دې حقیقت له مشاهدې سره سره څنګه له الهي مجازات انکار کوئ او د عذاب په راتلو کې ځنډ د دې باعث شوی چې الهي وعید او د پیغمبر انذار تکذیب کړئ؟!

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآيِٕ نَفْسِيٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾

او کله چې زموږ څرګند آیتونه پرې ولوستل شي؛ هغه چې زموږ د ملاقات هیله نه لري وایي: له دې پرته کوم بل قرآن راوړه یا ئې بدل کړه! ووایه: ما ته نه ښایي چې له خپلې خوا ئې بدل کړم، زه خو یوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحې کېږي، یقیناً چې زه خو د یوې سترې ورځې له عذابه وېرېږم که له خپل رب سرغړاوی وکړم. ووایه: که الله غوښتي وی نو نه به مې پر تاسو لوستی وو او نه به ئې پرې پوه کړي وئ، زه خو تر دې د مخه یو عمر په تاسو کې پاته شوی یم، آیا تعقل نه کوئ؟!

(۱٥-۱٦)- دا خلك د الله تعالی د مقروء کتاب د آیتونو په اړه هم همغه چلند لري چې د مشهود کتاب د آیتونو او د تاریخي څرګندو پېښو په اړه ئې لري، لکه څنګه چې له هغو آیتونو او نښو پند نه شي اخیستی چې د دې پراخ عالم په غېږ کې هرې خوا ته ترسترګو

کېږي او لکه څنګه چې د تاریخ له عبرتناکو پېښو عبرت نه اخلي؛ همدا راز د قرآن له څرګندو او حکیمانه لارښوونو ګټه نشي اخیستی، د دغو آیتونو پر عظمت له پوهېدو هم عاجز دي، پیغمبر علیه السلام ته وایي چې یا خو بل قرآن راوړه یا په دې کې داسي بدلون راوړه چې موږ ته د منلو وړ شي، هغه برخي ترې حذف کړه چې موږ ئې نه شو منلی!!

پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه شوې چې دوی ته څو ځوابونه ورکړه:

- دا زما له شأن لري ده چې د الله تعالی په کتاب کې له خپله لوري څه تبدیلي راوړم،
- زه خو یوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کېږي،
- زه خو د یوې ستري ورځي له عذابه وېرېږم که د خپل رب له حکم سرغړاوی وکړم او د الله تعالی په کتاب کې کمی او زیاتی وکړم،
- که الله تعالی نه وی غوښتي نو نه به مي پر تاسو لوستی وو او نه به الله تعالی پرې پوه کړي وئ،
- زه خو تر دې د مخه یو عمر په تاسو کې پاته شوی یم، نه مي لیك لوست کړی، نه مي تر دې د مخه د وحي، کتاب، رسالت او بعثت په اړه تاسو ته څه ویلي، نه مو له ما دروغ اورېدلي او نه مو له ما د خلکو د دوکه کولو کومه هڅه لیدلې؛ پاکه او بې داغه لمن مي او له ګناهونو ځان لري ساتل مي ښیي چې زه له الله تعالی وېرېږم او د هغه د حکمونو له سرغړاوي ډډه کوم، نو څنګه به په درواغو دا دعوی کوم چې زه د الله تعالی له لوري ګمارل شوی یم؟ ولې تعقل نه کوئ؟!

---

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾

نو تر هغه چا به ډېر ظالم څوك وي چې پر الله ئې دروغ وتړل او یا ئې د هغه آیتونه دروغجن وګڼل؟! یقیناً چې دا مجرمین نه بریالي کېږي.

---

(۱۷)- دلته د مخکیني مطلب په دوام کې ویل شوي: پر الله تعالی باندي په دروا‌غو افتراء کول او د هغه په اړه داسي څه ویل چې هغه نه دي ویلي، په دروا‌غو ځان د الله تعالی استازی او پیغمبر معرفي کول په داسي حال کې چې د الله تعالی له لوري نه وي لېږل شوی، هغه ستر ظلم دئ چې یوازې ستر ستر ظالمان د هغه جسارت کولی شي، تاسو ته زما ژوند معلوم دئ، په دغو اوږدو کلونو کې چې ستاسو په منځ کې وم پر یوه انسان باندي مي هم افتراء نه ده کړې، د چا په حق کې مي ظلم او تېری نه دئ کړی؛ نو د الله تعالی په اړه به څنګه دا کار کوم؟! بل لوري ته تاسو خپل ځان ته ځیر شئ؛ د الله تعالی څرګند آیتونه

تکذیبوئ، د داسي ستر ظلم جسارت کوئ!! پوه شئ چي داسي ستر مجرمین خپلو موخو ته نشي رسېدی او د الله تعالی له عذابه نه شي ژغورل کېدی.

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١٨﴾

او له الله پرته د هغه څه عبادت کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه او وایي: دوی خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي! (ورته) ووایه: آیا الله د آسمانونو او زمکي په داسي څه خبروئ چي دئ پرې نه پوهېږي؟! پاکي ده ورته؛ او لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شریکوي.

(۱۸)- دلته له یوې خوا د عبادت حقیقت په ګوته شوی او له بلي خوا د شفاعت حقیقت، ویل شوي: دوی د داسي چا عبادت کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه! او وایي: دوی خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي!

که د ټولو هغو خلکو حالت ته ځیر شې چي د شرك په ګنده ډنډ کي پرېوتي نو د دغو دوو ویناوو مصداق به دي تر سترګو شي، د داسي چا او څه عبادت به کوي چي نه د ضرر دفع کولو توان لري او نه د ګټي رسولو وس، په خپل لاس به له ډبري او لرګي بُت جوړ کړي، په خپل لاس به ئې له یوه ځایه بل ځای ته یوسي، چېري به ئې نصب کړي، بیا به ئې مخي ته ګونډه شي، د دعاء لاسونه به لوړ کړي او مرسته به ترې غواړي، ځوك به په خپل طبیعي مرګ ومري یا به شهید شي، قبر به ورته وکیني، ښخ به ئې کړي، د قبر د پاسه به ګنبده پرې جوړه کړي، جنډې به پرې ولګوي، بیا به د همدې قبر مخي ته ګونډه شي، د دعاء لاسونه به لوړ کړي او مرسته به ترې غواړي، دا په داسي حال کي چي دا شخص په دې نه وو قادر چي په خپل ژوند کي ځان له مرګ وژغوري، د قاتل مقابله وکړي او پرېنږدي چي دی ووژني، په غسل، تکفین او تدفین کي بل ته اړ وو، خپلوان ئې مجبور ول چي ژر ئې دفن کړي که نه نو جسد ئې خرابېږي او بوي کوي، جنازه ئې نورو پر اوږو اخیستې، دومره ئې نه شو ویلی چي څه وخت مي وخوځوئ او په کوم لوري مي یوسئ، نورو په قبر کي ایښی او خاوري ئې پرې اړولې، علي رضی الله عنه شهید شو، نه پوهېدو چي په جومات کي دښمن کمین ورته نیولی، پر ده د توري ګوزار کولو ته چمتو دئ، د لمانځه په نیت خوځېدلی، خو دښمن ناڅاپي پرې ګوزار وکړ، زخمي او له همدې زخم شهید شو، خو اوس شیعه مشرکین ورته مولای کائنات، مشکل کشاء او حاجت روا وایي!! امام حسین د کوفې د خلکو په بلنه له مکې د حج په ورځو کي کوفې ته روان شو، د کوربنۍ

غړي ئې ورسره، په دې هيله چي د کوفې خلك به له ده سره بيعت کوي؛ خو کوفې ته له رسېدو مخکي په کربلا کي د يزيد له لښکر سره مخامخ شو، نښته وشوه، د ده د کورنۍ نژدې اويا غړي شهيدان شول، نه دوی له ځانه دفاع وکړی شوه او نه علي رضی الله عنه د دوی مرسته وکړی شوه، خو شيعه وو د دوی په نامه د نړۍ په گوټ گوټ کي زيارتونه جوړ کړي، دعاءگاني ورته کوي او د خپلو حاجتونو د تر سره کېدو مرسته ترې غواړي!! د علي رضی الله عنه له کړوسيانو يو مجهول الهويه پنځه کلن ماشوم ته د غائب امام نوم ورکوي، امام زمان ئې گڼي، د ټول عالم د متصرف په سترگه ورته گوري، استوگنځی ئې تر الله تعالی لوړ په آسمانونو کي گڼي او په خپلو دعاءگانو کي الله تعالی هغه ته واسطه کوي او وايي: خدايه زموږ عرائض امام زمان ته ورسوه!! هغه له موږ راضي کړه!! دا خو پرېږده چي خپل حاجتونه هغه ته وړاندي کوي او مرسته ترې غواړي بلکه دلته او هلته او د هغه سوړي خوا ته چي وايي دا ماشوم هملته پټ شوی ليکلي عرائض غورځوي، ټگمار مجاورين ئې اخلي او بيا ځواب ورلېږي او دوی گمان کوي چي دا د امام زمان له لوري لېږل شوی ځواب دئ!! د دوی يوه جمهور رئيس چي په ايران کي ورته د ليبرال او آزادخيال په سترگه کتل کېږي د جمعې د ورځي په خطبې کي وويل چي موږ له امام زمان سره کتبي رابطه لرو!! له دې قياس کړئ چي که د ليبرالانو وضعيت ئې داسي وي نو د زوړپالانو حالت به ئې څنگه وي!! دا په داسي حال کي چي کله د دې امام زمان نوم اخلي نو په لوړ ږغ او په گډه وايي: عجل الله فرجه الشريف: خدای دې د ده په خلاصون کي تلوار وکړي!! يعني امام زمان چېري بندي دئ! خدای دې ژر راخلاص کړي!! دوی اوس هغو امامانو ته د دوی له مرگ وروسته دعاءگاني کوي چي د کربلا په غمجني پېښي کي د دوی پلرونو خيانت ورسره وکړ، په ميدان کي ئې يوازي پرېښودل او د يزيد له لښکر سره يو ځای شول او د هغوی په خلاف وجنگېدل!! د هغوی اولاده اوس د دوی قبرونو خوا ته ناست وي او مرسته ترې غواړي؛ او د دغه څرگند شرك په دروغجني توجيه کي به وايي: دا خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي، دعاءگاني مو تر خدايه رسوي او ترې غواړي چي وئې مني او زموږ حاجتونه تر سره کړي!!

خو الله تعالی د دغو مشرکينو د دې غلط استدلال په ځواب کي فرمايي: آيا غواړئ ستاسو دا شفعاء او شريکان الله تعالی؛ په زمکي يا آسمان کي له هغه څه خبر کړي چي دی پرې نه پوهېږي؟! دوی تاسو ورمعرفي کوي؟ دوی ورته وايي چي دا کس محتاج دئ، دا ئې حاجت دئ، د مرستي او عنايت مستحق دئ، حاجت ئې رفع کړه او دعاء ئې قبوله کړه؟!! د يو چا په وړاندي د کوم کس شفاعت په حقيقت کي په دې معنی دئ چي هغه د دې کس له وړتياوو او ښېگڼو خبر نه دئ، شفاعت کوونکي ئې ورمعرفي کوي او ورته وايي: دا نېك سړی دئ، د پاملرني وړ دئ، بايد توجه ورته وشي، په دې ارزي چي له غلطيو ئې سترگي پټي شي!! نو ځکه الله تعالی فرمايي: دوی ته ووايه: آيا دغه شفاعت کوونکي؛ الله تعالی له داسي څه خبروي چي په آسمانونو يا زمکي کي له ده پټ پاته شوی، دوی ئې پرې

خبروي؟!! دا د هغه شفاعت پر سر ستر گوزار دئ چې جاهل قومونه پرې باور لري او د شفاعت په اړه ئې باور شرك لړلی دئ.

دوی له الله تعالی پرته د داسې چا عبادت کوي چې "په نه عبادت سره ئې" دوی ته ضرر نشي رسولی او "په عبادت سره ئې" دوی ته گټه نشي رسولي او وايي: دا د الله په وړاندې زمونږ شفاعت کوونکي دي، ووايه: آيا پدې شفاعت کوونکو سره غواړئ خدای د آسمانونو او زمکې پداسې څه خبر کړی چې نه وربانديې پوهېږي؟! پاکې ده هغه لره او له دې ډېر لوړ دئ چې شريك ورسره نيسي.

يعنی: دا مشرکان چې د شفاعت په اړه غلط او باطل تصورلري، د داسې څه عبادت کوي چې دوی ترې د ضرر د دفع کولو او گټې رسولو طمع لري، پداسې حال کې چې دوی نه د گټې وس لري او نه دتاوان واك، د گټې او تاوان فيصلې له الله تعالی سره دي. مشرکين له الله تعالی پرته له نورو د مرستې غوښتلو د جواز په اړه وايي: مونږ خو د دې شيانو عبادت نه کوو، فقط دوی د خدای په دربارکې خپل شفاعت کوونکي نيسو، دوی د خدای په وړاندې زمونږ وسيله او شفيع دي، قرآن د دوی د دې ادعاء د ترديد لپاره فرمايي: آيا تاسې غواړئ د خپلو شفاعت کوونکو له لارې الله تعالی ته داسې څه وواياست چې هغه نه پرې پوهېږي؟!! په زمکه او يا آسمان کې له هغه پټ دي؟! په دنيا کې چې څوك د حاکم او پاچا په وړاندې د کوم کس شفاعت کوي نو ورته وايي: دا ښه سړی دئ، له تاسې سره اخلاص لري، څه جرم ئې نه دئ کړی، ستاسې معلومات د ده په اړه مکمل او دقيق ندي، هغه د دې لايق نه دئ چې سزا ورکړی شي او مجازات شي، بايد عفوه ورته وشي، دا ستاسې او د نظام په گټه ده........ آيا فکرکوئ چې الله تعالی هم همداسې دئ لکه دا دنيايي پاچايان چې شفاعت کوونکي ئې د مجرم له حقيقي حالت خبروي؟! آيا داسې څه شته چې له الله تعالی پټ وي؟! او بيا دا شفاعت کوونکي راشي او الله تعالی ته ئې په اړه معلومات ورکړي ؟! الله تعالی له دې عيب پاك او له شريك نه بې نيازه دئ.

قرآن د هغه کسانو حالت څومره ښه او کښلی انځور کړی چې پدې ډول شفاعت باورلري او خپل مزعوم شفاعت کوونکي ئې د الوهيت تر درجې پورې لوړ کړي دي، دا کسان به د قيامت په ورځ په حقيقت پوه شي او وبه ويني چې دوی په غلطه روان وو، د دې خيالي شفاعت کوونکو په اړه ئې باطل تصور درلود، هغه چې دوی په دنيا کې له الله تعالی سره برابر او شريکان گرځولي وو، نه يوازې د شفاعت کولو توان نه لري بلکې له دوی خپله بيزاری اعلانوي او په خپله غلطۍ اعتراف کوي، قرآن فرمايي:

تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ الشعراء: ۹۷-۱۰۱

قسم په خدای چې مونږ په ښکاره ضلالت او بې لارۍ کې وو چې تاسو مو له رب العالمين

سره برابرگرځولي وئ، مونږ بل چا نه يو بې لاري كړي مگر دغو مجرمينو، اوس نه شفاعت كوونكي لرو او نه رښتينى دوست.

د قيامت په ورځ چې ټول حقائق به څرگند شي، وبه ليدل شي چې دا مشركه ډله او په مشركانه شفاعت باور لرونكي به په خپله خپل باوروونه غلط شمېرى، ځانونه به گمراه بولي، اعتراف به كوي چې دوى خپل لويان د الوهيت درجې ته اوچت كړي وو او هغه كسان به مجرم شمېري چې دوى ئې بې لاري كړي وو او وبه وايي: اوس نه داسي شفيع لرو چې د خداى په وړاندي زمونږ شفاعت او مرسته كولى شي او نه داسي دوستان او اولياء چې گمان مو كولو دوى پر مونږ او مونږ پر دوى گران يو او د قيامت په ورځ به د الله په وړاندي زمونږ حمايت او شفاعت كوي!!

د قرآنكريم متعدد آيتونه پدې دلالت كوي چې د قيامت په ورځ شفاعت نشته او د هيچا شفاعت بل چا ته گټه نه شي رسولئ، له الهي عذاب او مجازات ئې نه شي ژغورلی، البته د دې آيتونو تر څنگ داسي مبارك آيتونه هم شته چې "مشروط شفاعت "په اثبات رسوي او په جواز ئې دلالت كوي، قرآنكريم فرمايي:

... مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ البقره :٢٥٥

هغه به څوك وي چې د ده په وړاندي د چا شفاعت وكړى شي، مگر د ده له اذن او اجازې وروسته؟ په ټولو هغو شيانو پوه دئ چې د دوى مخي او يا شاته دي او دوى د ده له علم په هيڅ شي احاطه نشي كولى، مگر په هغه څه چې ده غوښتي....

يعنى هغه شفاعت نشته چې تاسي ئې تصور او گمان كوئ، داسي نده چې كومه فرشته يا كوم مقرب بنده به يو شمېر مجرمين راغونډوي، د خداى حضور ته به ئې وروِلي او هلته به ئې شفاعت كوي، نه، داسي نده، بلكه شفاعت كوونكي به هم د خداى له لوري غوره كېږي او شفاعت كېدونكي هم، هغه به مشخصو كسانو ته د خاصو كسانو په اړه د شفاعت اجازه وركوي، دواړه به د الله تعالی له لوري ټاكل كېږي، داسي گمان ونه كړئ چې د لوى رب په وړاندي به څوك د ده له اجازې پرته د خبرو او شفاعت توان او جرأت ولري او يا به څوك دا توان ولري چې د خداى په نزد بې اجازې د كوم مجرم شفاعت وكړي او په هر څه عالِم خداى د كوم مجرم له حال خبر كړي او د هغه د داسي صفاتو په اړه ورته معلومات وركړي چې له مجازاتو پرې معاف شي. الله تعالی فرمايي:

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَـٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَرَضِىَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ طه:١٠٩-١١٠

په هغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړي او د ده په وینا راضي شي، هر هغه څه ورته معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي او دوی علماً پر ده احاطه نشي کولی.

دا آیتونه پدې دلالت کوي چې د قیامت په ورځ به د مشرکانو مزعوم شفاعت نه وي، د شفاعت په اړه د دوی تصور او ګمان بې اساسه او غلط دئ، دا ډول تصور په شرك ککړ او له شرکي افکارو راولاړ شوی تصور دئ، شریعت هغه شفاعت مني چې د دې خصوصیاتو درلودونکي وي:

- شفاعت کوونکي د الله تعالی له خوا ټاکل کېږي او د الله تعالی له اجازې وروسته به شفاعت کولی شي.
- د شفاعت وړ او د سفارش مستحق کسان به هم د الله تعالی له خوا غوره کېږي او له الهي اذن وروسته به د دوی شفاعت کېدی شي.
- هیڅوك دا جرأت او وس نه لري چې د الله تعالی له اجازې پرته د هغه په وړاندې څه ووایي او نه څوك د هغه له اذن نه پرته د چا د شفاعت حق او جرأت لري.
- هغه شخص د شفاعت وړ بلل کېږي چې مسلمان وي خو جرم ترې شوی وي، د مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالی له شرك پرته د ټولو ګناهونو بخښنه کوي. خوشرك نه بخښي او نه د مشرك په حق کې د چا شفاعت قبلوي او هیڅوك هم دا جرأت نشي کولی چې د الله تعالی په وړاندې د کوم مشرك شفاعت وکړي.

---

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخۡتَلَفُواْۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡ فِيمَا فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٩

او خلك خو يوازې يو امت وو، بيا ئې په خپلو کې اختلاف وکړ او که ستا د رب له لوري مخکينۍ وينا نه وی نو حتماً به ئې د دوی تر منځ په هغه څه کې فيصله کړې وه چې اختلاف په کې کوي.

---

(١٩)- دلته بايد دا پوښتنه ځواب شي چې خلك کله يو امت وو؟ په ايمان کې يو رنګ ول او که په کفر کې؟ اختلاف د پيغمبر له بعثت مخکې راولاړ شوی او که وروسته؟ ځينو درنو مفسرينو داسې انګېرلې چې ګواکې دلته د خلکو هغه يووالي او وحدت ته اشاره شوې چې دوی په ايمان سره راغونډ وو او هيڅ اختلاف په کې نه وو، خو که د دې آيت سياق و سباق ته توجه وکړو په ځرګنده توګه معلومېږي چې د يووالي حالت ئې د پيغمبر عليه السلام له بعثت مخکې او د اختلاف ئې له بعثت وروسته ښودل شوی، د پيغمبر عليه السلام له بعثت مخکې په دوی کې د مؤمنانو او مشرکانو په نامه اختلاف نه وو، د دوی تر

منځ دا اختلاف هغه مهال پیل شو چې په دوی کې پیغمبر مبعوث شو، ځینو پرې ایمان راوړ او ځینې پر خپل مخکیني شرك او كفر ټینګ پاته شول، كه د الله تعالی هغه سنت نه وی چې انسانانو ته مهلت وركوي، ژر ئې نه نیسي، فوراً د ګناه او له پیغمبر سره د مخالفت سزا نه وركوي، نو حتماً به ئې د دوی تر منځ په هغه څه كې فیصله كړې وه چې اختلاف په كې كوي. پر كافرانو باندې به ئې عذاب نازل كړی وو او مؤمنانو ته به ئې وروستۍ بشپړه بریا ورپه برخه كړې وه. یوازې دا تعبیر هم د آیت د الفاظو سم او دقیق مفهوم افاده كوي او هم د آیت له سیاق و سباق سره اړخ لګوي، بل تعبیر نه دقیق برېښي او نه له مخكینیو آیتونو سره اړخ لګوي.

دا آیت په حقیقت كې د بقرې د سورې لاندې آیت ته په بشپړه توګه ورته دئ:

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾ البقره: ۲۱۳

خلك ټول یو امت او ټولی وو، نو الله زیری وركوونكي او انذار وركوونكي پیغمبران ولیږل او له دوی سره ئې حقیقي كتاب راولیږو چې د خلكو تر منځ په هغه څه كې پرېكړه وكړي چې دوی په كې اختلاف كړی وو او اختلاف خو له هغو پرته بل چا نه وو كړی چې كتاب وركړی شوی وو او دا هم په خپلو كې د كینې په وجه او وروسته له هغه چې څرګندې نښې ورته راغلې، نو الله په خپل حكم سره هغه كسان په مختلف فیه شیانو كې هدایت كړل چې ایمان ئې راوړی وو او الله خو چې هر څوك وغواړي د سمې لارې په لورې ئې هدایت كوي.

ښه به وي چې د دې آیت شرح د قرآن پلوشې په لومړي جلد كې وګورئ، خو دلته دومره څه ویل ګټور برېښي چې ځینې په دې آیت كې د (امة واحدة) له فقرې وروسته د (فاختلفوا) لفظ مقدر ګڼي؛ او وایي: خلك یو متحد امت وو، نو اختلاف ئې وكړ، بیا الله پیغمبران ولیږل، حال دا چې خبره د دې عكس ده، الله تعالی هغه مهال پیغمبران لیږلي چې د باطل، شرك، كفر ظلم او فساد تورو وریځو پر خلكو خپل وزر غوړولی، د حق رڼا تته شوې او د دې ضرورت احساس شوی چې نوی پیغمبر له نوي پیغام سره د ولس لورې ته ولیږل شي، د پیغمبر له راتلو وروسته ځینو ایمان راوړی او ځینو پر مخكینی حالت ټینګار كړی او په دې سره د دوی تر منځ د دا راز اختلاف لړۍ پیل شوې.

دلته د (فاختلفوا) مقدر ګڼلو ته هیڅ اړتیا نشته او نه د آیت تركیب دا اجازه وركوي او نه له مخكې او وروسته فقرو سره اړخ لګوي، د احتیاط تقاضا خو دا ده چې د الله په

کلام کې تصرف ونه کړو او په خپل سر او بې ضرورته څه اضافه نه کړو.

د قرآن په آیتونو کې بې ضرورته څه زائد گڼل او هغه له نظره غورځول او یا څه مقدر او کم گڼل او په خاصو الفاظو سره دا کموالی پوره کول، دا کار اکثراً یا هغه څوك کوي چې د آیت له اصلي الفاظو او د هغوی له ترکیب سم مطلب نه شي اخیستی او یا هغه څوك چې له مخکې خاص نظر او رأیه ورسره وي او غواړي دا آیت داسې جوړ کړي چې د ده رأیه او نظر تائید کړي، نو ځکه د آیت په ترکیب کې تصرف کوي، کله څه ترې راکم کړي او هغه ته د زائد نوم ورکړي او کله څه ورباندې اضافه کړي او په هغه د مقدر نوم کښېږدي.

وَيَقُولُونَ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ فَقُلۡ إِنَّمَا ٱلۡغَيۡبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

او وایي: ولې د خپل رب له لوري کوم آیت (څرگنده نښه) نه دئ پرې نازل شوی؟ نو (ورته) ووایه: غیب خو یوازې الله لره دئ، نو انتظار وکړئ چې زه هم ستاسو په څنگ کې له منتظرینو یم.

(٢٠)- دلته د آیت له دوهمې برخې معلومېږي چې یا خو مشرکینو له پیغمبر علیه السلام داسې معجزه غوښتې چې دوی ته د راتلونکو پېښو خبر ورکړي او یا داسې څه چې خلك پر پیغمبر علیه السلام باندې ایمان راوړو ته چمتو کړي، خو د آیت وروستۍ فقره ښیي چې دوی دغه دوهم صورت غوښتو، نو ځکه پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ورته ووایه: غیب خو یوازې الله لره دئ، زه نه پوهېږم چې آیا زما رب به داسې څه تاسو ته دروښیي که نه، تاسو هم انتظار وکړئ او زه هم ستاسو په څنگ کې له منتظرینو یم. وبه گورو چې الله تعالی تاسو ته داسې څه درښیي چې د خلکو ډېری به ایمان راوړي که نه؟!

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ﴿٢١﴾

او کله چې خلکو ته له هغه وروسته چې کړاو وررسېدلی د کومې پېرزوینې (خوند) وروڅکو (گورې به چې) ناڅاپه به ئې زموږ په آیتونو کې د پټ تدبیر (اراده) وي، ووایه: الله په پټ تدبیر کې تر ټولو ډېر چابك دئ. یقیناً چې زموږ استازي ستاسو پټ تدبیرونه لیکي.

(٢١)- دلته هم د عجول او وعده خلاف انسان حالت بیان شوی، کله چې الله تعالی له

کړاو وروسته د کومي پېرزويني خوند وروڅکي نو د دې پر ځای چي ايمان راوړي او شاکر بنده شي په عکس د دې به ګورې چي له دې فرصت په استفادې سره د الله د دين په ضد توطئې کوي، په خپلو پټو تدبيرونو سره غواړي د دين د غلبې مخه ونيسي، خو دوی په دې نه پوهېږي چي دا تدبيرونه ئې د هغه ذات د قطعي پرېکړو په خلاف دي چي په تدبير کې تر هر چا سريع او چابك دئ او څوك ئې د مقابلې توان نه لري او د ده فرشتو د دوی ټول پټ تدبيرونه تر نظر لاندي نيولي او ليکي ئې.

هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

الله هغه ذات دئ چي تاسي په وچه او اوبو کې بيايي، تردې چي تاسي په بېړۍ کې وئ او بېړۍ له سورو سره يوځای له ملايم او خوندور نسيم سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان وربانديې راشي او له هر لوري څپې وربانديې راتاو شي او ګمان وکړي چي محاصره شول، (پدې وخت کې) الله ته پداسي حال کې دعاء کوي" او مرسته ترې غواړي" چي په خپل ديانت کې ورته مخلص شوي وي او وايي: که دي له دې وژغورلو نو حتماً به شکر کوونکي بندګان وو، خو کله چي نجات ورکړو بيا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په زمکې کې سرکشي او بغاوت کوي. اې خلکو! په يقين سره چي ستاسي سرکشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده " دا درکړی شوی فرصت " د دنيوی ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لوري ته راتګ دئ او په هغه څه به مو خبر کړو چي تاسو کول.

(۲۲-۲۳)- په دې مبارکو آيتونو کې د عجول انسان د حالت او وضعيت څرنګوالی د کړاو او له کړاو د ژغورني پر مهال په ډېر کښلي او عبرتناك اسلوب، خوندورو الفاظو سره او په ډېره دقيقه توګه انځور شوی: فرمايي: دا انسان داسي دئ چي کله په بېړۍ کې سپور شي، د بېړۍ په خوځېدو او د نرم باد په لګېدو سره خوشحاله شي، خو کله چي توند او تېز

بادونه د دوی لوري ته مخه کړي او د طوفان څپې ئې احاطه کړي، حالت ورته داسي وبرېښي چي د نجات ټولي لاري ترل شوې، د نجات هیڅ لاره په نظر نه ورځي، داسي څه په لاس کي نه لري چي اعتماد پرې وکړي او طمع ترې ولري، داسي څوك او څه په خپل ماحول کي نه گوري چي مرستي ته ئې راوبلي، نو الله جل شأنه ته مخه کړي، هغه ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، په داسي حال کي چي په خپل دیانت کي د اخلاص ژمنه کوي، وايي: که موږ ته له دې مشکل او مصیبت نجات راکړې نو حتماً به ستا له شاکرو بندگانو وو، ځان به ستا د دې او ټولو نورو نعمتونو مرهون او پوروړي گڼو، خو کله چي هغوی له کړاوه وژغوري ناڅاپه به گوري چي د خپلو مخکینیو تعهداتو په خلاف به هغوی په زمکه کي په ناحقه تېری او بغاوت کوي، هغه ژمني به ترې هېري وي چي ویل ئې: که مو وژغورې نو بیا به ستا مخلص بندگان وو!! بیا به د خپلي ژمني خلاف په ناحقه په زمکي کي سرکشي او بغاوت کوي. الله تعالی دوی ته فرمایي: اې خلکو! په یقین سره چي ستاسي سرکشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده، دا درکړی شوی فرصت خو د دنیوی ژوند یوه متاع ده، بیا مو زموږ لوري ته راتگ دئ او په هغه څه به مو خبر کړم چي تاسو کول.

په دې مبارك آیت کي (په دین کي اخلاص) په ډېر وضاحت سره ښودل شوی او هغه دا چي کله انسان خپل رب ته په داسي حالت کي دعاء کوي چي له ده پرته ئې هیچا ته طمع نه وي، بل داسي څوك نه مومي چي په وړاندي ئې د دعاء لاسونه لوړ کړي او مرسته ترې وغواړي، په ټول عالم کي داسي څواك په نظر نه ورځي چي سترگي ئې ورواوړي او له کړاوونو د ده د ایستلو واك او توان ولري، حالت ئې هغه چا ته ورته وي چي په طوفاني بېړۍ کي سپور دئ، له یوې خوا سیلۍ او له بلي خوا د اوبو هیبتناکي څپې، له الله تعالی پرته نه کوم حامي مومي او نه کوم مرستندوی، په دین کي د اخلاص معنی همدا ده.

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِٱلْأَمْسِ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

حقیقت له دې پرته بل څه نه دئ چي د دنیایي ژوند مثال د هغو اوبو په څېر دئ چي له آسمانه مو نازلي کړې، چي په دې سره د زمکي هغه راټوکېدونکي چي خلك او څاروي ئې خوري گډ وډ راشنه شي، تر هغه چي زمکي خپله ښېرازه کېدا تر لاسه کړه او ښه ښایسته شوه او اوسېدونکو ئې گمان وکړ چي له هغې پر گټې اخیستو قادر دي؛ ناببره زموږ امر په شپه یا ورځ کي ورته راشي نو داسي ئې وگرځوو لکه رېبل شوی

کښت، ګواکې پرون (دا کښت دلته ولاړ) نه وو، همداسې خپل آيتونه هغو وګړو ته بيانوو چې فکر کوي.

(۲٤)- دلته د هغه دنيايي ژوند ماهيت او څرنګوالې بيان شوی چې تر دې د مخه په (۷) آيت کې د هغه په اړه ويل شوي وو: (يقيناً هغه چې زموږ د ملاقات هيله نه لري او په دنيايي ژوند راضي شوي او پرې ډاډه شوي او هغه چې زموږ له آيتونو غافل دي؛ استوګنځی ئې دوزخ دئ)، د يوه عبرتناك مثال په ترڅ کې دنيايي ژوند داسې انځور شوی: د هغو اوبو په څېر دئ چې له آسمانه مو نازلې کړې، چې په دې سره د ځمکې هغه نباتات ګډ وډ راشنه شي چې خلك او څاروي ئې خوري، ځيني ئې د انسانانو خوراك شي او ځيني ئې د څارويو، کله چې ځمکه ښه ښېرازه او ښه ښايسته شي او اوسېدونکې ئې ګمان وکړي چې اوس نو له هغې پر ګټې اخيستو قادر يو؛ نابېره د الله تعالی پرېکړه د دوی د زعم او هيلو خلاف وشي، په شپه يا ورځ کې تونده سيلۍ يا بل آفت پرې راشي، ټول بوټي داسې له جرړو سره وباسي لکه رېبل شوی کښت، پټې ئې داسې شي لکه چې پرون دلته کوم کښت نه وو ولاړ!! له دې آيتونو هغه پند او عبرت اخلي چې فکر کوي.

دا دنيا همداسې ده، هر څه ئې موقت او فنا کېدونکې، هره شېبه ئې له آفتونو او مصيبتونو سره توأم، په هر ګام کې له ګواښونو سره مخامخېدا!

وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٢٥﴾ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٦﴾

او الله د امن استوګنځي په لور بلنه ورکوي او هغه څوك سمې لارې ته هدايت کوي چې دی ئې غواړي، هغو ته چې نېکې ئې کړې وي؛ ښايسته (بدله) ده او يو زياتوالی؛ او مخونه به ئې نه تور ګرد پټوي او نه سپکاوی، دوی جنتيان دي، تلپاته په هغه کې.

(۲۵-۲٦)- دلته دنياپالو ته ويل شوي چې د دغو موقتي او فنا کېدونکو لذتونو په ځای د الله تعالی لوري ته مخه کړئ، له آفتونو او مصيبتونو هغه خوندي استوګنځي ته چې الله تعالی تاسو ته د هغه په لوري د تلو بلنه درکوي، که د الله تعالی بلنه ومنئ نو د سلامتيا هغه ځای ته د رسېدو په سمې لار به مو هدايت کړي او په دې لار د تلو توفيق به درکړي. دا د الله تعالی قطعي او ثابته وعده ده چې نېکانو ته به ښايسته او غوره بدله ورکوي او پر دې بدلې سربېره ډېر نور څه په اضافي توګه، مخونه به ئې ځلانده وي، د نعمتونو آثار په کې څرګند، نه به ئې د دوزخ د لوخړو تور ګرد پټوي او نه د سپکاوي او

ذلت نشي، په جنت کې به تلپاته وي.

وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ
مِنْ عَاصِمٍۖ كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مُظْلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ
ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾

او هغو چې بد کارونه ئې کړي د هري بدي سزا به هغې ته ورته وي او سپکاوی به (وزر پرې) خوروي، له الله به هیڅ ساتونکی ورته نه وي، داسې به وي لکه چې مخونه ئې د تیارې شپې په (تیارو) ټوټو پټ شوي وي، دوی دوزخیان دي چې په هغه کې به تلپاته وي.

(۲۷)- د نېکانو جنتیانو په مقابل کې به د بدکارو دوزخیانو حالت داسې وي:

- د دوی د هر بد عمل سزا به د دوی عمل ته ورته وي،
- د ذلت او سپکاوي آثار به ئې په څېرو کې څرګند وي،
- داسې څوك به نه مومي چې د الله تعالی له دردناك عذابه ئې وژغوري،
- مخونه به ئې داسې تك تور وي لکه چې د تیارې شپې په تیارو ټوټو پټ شوي وي،
- د تل لپاره به په دوزخ کې وي.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُواْ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْۚ
فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾ فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا
بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾

او کومه ورځ چې ټول راغونډ کړو، بیا هغو ته چې شرك ئې کړی وواېو: په خپل خپل ځای پاته شئ تاسو هم او ستاسو شریکان هم. نو تر منځ به ئې بېلوالی راولو او شریکان به ئې وواېي: تاسو زموږ عبادت نه کولو او الله زموږ او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ چې موږ ستاسو له عبادته بې خبره وو.

(۲۸-۲۹)- دلته د مشرکینو او د دوی د دروغجنو معبوادانو تر منځ هغه منازعه انځور شوې چې د قیامت په ورځ به د دوی تر منځ راولاړه شي، هغه مهال چې الله تعالی به ټول انسانان په بېلو بېلو ډلو کې راغونډ کړي، هره ډله به پر خپل خپل ځای ودرول شي،

مشركان او د دوی هغه مذهبي مشران چي له الله تعالی سره ئې په الوهیت او ربوبیت کې شریك کړي ول، که ئې پیر دې مقام ته رسولی وو، که ئې پیغمبر، که خپل علماء او مشائخ، په ژوند کې یا له مرگ وروسته، که ئې د دوی قبر ځانځلی یا ئې د دوی په نامه بُت ځانځلی، ټول به په خپل خپل ځای ودرول شي، شریکان به ئې ووایي: تاسو زموږ عبادت نه کولو او الله زموږ او ستاسو تر منځ د گواه په توگه کافي دئ چي موږ ستاسو له عبادته بې خبره وو.

له دې آیت معلومیږي چي دا شخصیتونه چي له مرگ وروسته د معبودانو په کچه ځانځل شوي په دې به خبر هم نه وي چي دغو مشركانو زموږ عبادت کولو، زموږ د قبر خوا ته راغونډېدل او له موږ به ئې مرسته غوښته او موږ ته به ئې د شفعاءو په سترگه کتل، الله تعالی به په دې خبري شاهد نیسي چي موږ د دغو مشركینو له عبادت او دعاء په بشپړه توگه بې خبره وو.

هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٍ مَّآ أَسۡلَفَتۡۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٣٠﴾

دلته به هر کس خپل مخکې لیږل شوي (عملونه) په ښکاره توگه ومومي؛ او د خپل حقیقي مولا په لوري به وگرځول شي او ټول هغه به ترې ورك شي چي په درواغو ئې (ځان ته معبودان) گرځولي ول.

(۳۰)- په دې ورځ به هر څوك هغه څه په څرگنده توگه په خپلو سترگو وگوري چي په دنیا کې ئې کړي ول، هم به د خپلو عملونو په څرنگوالي پوه شي او هم د خپلو عقائدو، د خپل حقیقي مولا په لوري به غونډه کړی شي او ټول هغه معبودان به ترې ورك وي چي په دروا‌غو ئې له الله تعالی سره شریکول او د معبودانو په توگه ئې ځانځل.

قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ﴿٣٢﴾

(ورته) ووایه! له آسمان او زمکې څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ او د دغو غوږونو او سترگو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چي ژوندی له مړي او مړی له ژوندي

راپيدا کوي؟ او د کارونو تدبير څوك کوي؟ حتماً به ووايي: الله، نو ووايه: آيا (له کفر او شرك) ځان ساتنه نه کوئ؟ نو همدا الله ستاسو حقيقي رب دئ، نو له حق وروسته له ضلالت پرته بل څه دي؟ نو په کوم لوري گرځول کېږئ؟!

(۳۱-۳۲)- دلته د هر راز شرك د بشپړ ترديد او د حقيقي رب د ښه پېژندا لپاره لاندي لارښوونې د پوښتنې او ځواب په بڼه کې شوې:

- ووايه! له آسمان او زمکې څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ که له الله تعالی پرته بل داسي څوك نه مومئ چي له آسمانه اوبه وروي، له زمکې دانه او مېوه راټوکوي او په دې توگه تاسو ته رزق او روزي درکوي، نو څنگه له ده پرته بل ته لاس او لمن اوږدوئ او لمانځنه ئې کوئ؟!

- ستاسو د دغو غوږونو او سترگو حقيقي او اصلي مالك څوك دئ؟ د چا له لوري درکړی شوي؟ دا نعمتونه چا درکړي او دا د چا په اراده او حکم ستاسو په خدمت کې دي او تاسي ته لار ښيي؟ که خدای اراده وکړي چي دا سترگې او غوږونه درنه واخلي، آيا داسي څوك شته چي دا شيان بېرته درکړی شي؟ که له الله تعالی پرته بل داسي ذات نه گورئ چي د غوږونو، سترگو او نورو غړو په ورکړې کې شريك وي نو څنگه بل ته طمع کوئ او په وړاندي ئې د دعاء لاسونه لوړوئ؟!

- څوك دئ چي ژوندی له مړي او مړی له ژوندي راپيدا کوي؟ د چا په حکم سره مړه خاوره په دانو او مېوو بدلېږي او بيا د انسان او حيوان په بدن کې ژوندۍ نطفه ترې جوړېږي؟ که د مرگ ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي او په ټول عالم کې داسي ځواك نه گورئ چي مړي ته ژوند ورکړي او ژوندی له مرگ وژغوري، نو څنگه له الله تعالی پرته له بل د مرگ او ژوند په اړه طمع او وېره لرئ؟!

- د دې پراخ عالم د چارو تدبير څوك کوي او کارونه ئې څوك سمبالوي؟ پدې پراخ کائنات کې چي په هره برخه کې ئې حرکت، خوځښت او د کمال په لور هاند او تحرك دئ، هرې خوا ته ئې نظم او نسق، ښکلا او ښايست دئ، هرڅيز له نيست هست کېږي، بيا وده مومي د کمال په لور درومي او کله چي د کمال او ودې يوه ثابت حد ته ورسېږي نو د زوال مرحله ئې پيل شي او په مرگ محکوم شي، فنا شي او ځای ئې بل ته خوشې شي. څوك دئ چي دا ټول امور اداره او تنظيموي؟ آيا له دې پرته چي ووايو او اعتراف وکړو چي د دې هستي د ټولو امورو تدبير د الله تعالی په واك کې دئ، آيا له دې اعتراف پرته بله چاره لرو؟ که له دې پرته بل ځواب نه لرئ چي ووايئ: الله، نو ولې له کفر او شرك ځان ساتنه نه کوئ؟

- کوم ذات چي دغه کارونه کوي همدا ستاسو حقيقي رب دئ،

- له دې پرته بله هره عقيده درلول له ضلالت پرته بل څه نه دي!!
- نو په کوم لوري گرځول کېږئ؟! څه شی مو غولوي او د شرك او ضلالت په گنده ډنډ کې مو غورځوي؟!

يعني دا د رزق او روزي انتظام څوك كوي؟ د چا په اراده دا آسمان او زمكه په گډه كار كوي چي انسان ته د رزق او روزي انتظام وكړي؟ له آسمانه اوبه راورېږي او له زمكي دانه او مېوه راټوكېږي او په دې سره د انسان اړتياوو ته ځواب ويل كېږي، دا كار د چا په اراده تر سره كېږي؟ دا د كوم مدبر ذات دقيق تدبير دئ؟ دا غوږونه او سترگي چي ته پرې ليدل او اورېدل كوې، د دې اصلي مالك څوك دئ؟ د چا له لوري دركړى شوي؟ د چا په اراده ستا د ژوند يوه اساسي او مهمه برخه بشپړوي؟ كه دا غړي دي په واك كې نه وی له څومره ستونزو سره به مخامخ وې؟ آيا دې پوښتنو ته له دې پرته بل ځواب ويلى شې چي دا د مهربان پالونكي رب له لوري دركړى شوي؟ آيا له دې اعترافه پرته بله چاره لرې؟ له دې ځرگند حقيقت د انكار لپاره څه دليل لرې؟ ووايه: ستا او ټولو ژوو لپاره د رزق او روزي انتظام څوك كوي؟ له آسمان او زمكي تاسو ته څوك رزق او روزي دركوي؟ دا د رزق او روزي وسائل چا پيدا كړي؟ باران څوك وروي؟ شپه او ورځ څوك راولي؟ لمر زموږ زمكي ته د چا په اراده نور او تودوخه وركوي؟ د زمكي پر مخ د نور وړانگي د چا په اراده خورېږي؟ دا له زمكي دانه او مېوه څوك راشنه كوي؟ دا زموږ سترگي او غوږونه د چا په اراده كار كوي؟ د دې مالك څوك دئ؟ دا ژوندي له مړو او مړي له ژونديو څوك راپيدا كوي؟ دا د عالم چاري څوك سمبالوي، د امورو تدبير ئې د چا په واك كې دئ او كارونه ئې د چا په اراده تر سره كېږي؟

له دې پرته بله چاره نه لري، دوی په دې خبري اعتراف ته اړ او مجبور دي او بله چاره نه لري چي ووايي: دا هر څه الله تعالى كوي.

پورتني مطالب د قرآن په بل آيت كي په دې توگه راغلي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٤٠﴾ الروم:٤٠

الله هغه ذات دئ چي تاسي ئې پيدا كړئ، بيا ئې تاسو ته روزي دركړه، بيا تاسي وژني، بيا مو بېرته راژوندي كوي، آيا ستاسي له شريكانو داسي څوك شته چي له دې كارونو نه كوم يو وكړى شي؟! پاكي ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شريك گرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت كي، ستاسي په رزق او روزي كي او ستاسو په مرگ او ژوند كي هيڅوك له خدای سره شريك نه دئ، الله تعالى له دې عيب پاك او له دې لوړ دئ چي په دې كارونوكي څوك د ځان شريك ونيسي.

كَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٣﴾

همداسي ستا د رب وينا (پرېکړه) د هغو خلکو په اړه محققه شوه چي سرغړاوی ئې کړی، داسي چي ایمان به نه راوړي.

(۳۳)- دا آيت موږ ته لارښونه کوي چي د دغو خلکو د مخالفت او ايمان نه راوړو وجه دا نه ده چي کافي دلائل ئې مخي ته نه دي ايښودل شوي، يا ئې زړه او دماغ په دې نه دئ قانع شوي چي له الله تعالی پرته بل څوك نه د عبادت وړ دئ او نه د استعانت، بلکي وجه ئې د دوی فسق دئ، د ګناهونو په ډنډ کي نښتي دي، ترې وتلی نشي، د فسق او فجور په وجه له خپل رب دومره لري تللي چي بېرته ورګرځېدی نشي، د الله تعالی دا سنت او دا پرېکړه د دوی په اړه محققه شوي چي د خپل فسق په وجه به ايمان نه راوړي.

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣٤﴾ قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٥﴾

ووايه: آيا ستاسو له شريکانو داسي څوك شته چي پيدايښت پيل کړي بيا ئې اعاده کړي؟ ووايه: الله هغه ذات دئ چي پيدايښت پيلوي بيا ئې اعاده کوي، نو څنګه دوکه کېږئ. ووايه: آيا ستاسو له شريکانو داسي څوك شته چي د حق لوري ته لارښوونه کوي؟ ووايه: الله هغه ذات دئ چي د حق لوري ته لارښوونه کوي، نو آيا هغه چي د حق لوري ته لارښوونه کوي تر ټولو زيات د دې وړ دئ چي متابعت ئې وشي او که هغه چي لار نه مومي مګر دا چي لارښوونه ئې وشي؟ نو څه دي تاسو لره؟ څنګه حکم کوئ؟

(۳٤-۳۵)- په دې مبارکو آيتونو کي هم د مخکينيو په دوام د توحيد او شرك په اړه د سؤال او ځواب په توګه مزيد ويل شوي:

آيا په خپلو شريکانو او دروغجنو معبودانو کي داسي څوك مومئ چي څه ئې په لومړي ځل پيدا کړي وي او بيا ئې اعاده کړي وي؟ که داسي څوك نه مومئ چي يقيناً ئې موندل محال دي او په خپلو سترګو ګورئ چي الله تعالی هغه يوازينی ذات دئ چي د هر څه پيدايښت پيلوي او بيا ئې اعاده کوي، نو څنګه دوکه کېږئ، ولي هغه چا ته د معبود په

سترګه ګورئ چې د هیڅ څه پیدا کولو توان او وس نه لري؟!! دې ته مو باید پام وي چې ساینس په قاطع او پرېکنده الفاظو وایي چې نه څوك څه پیدا کولی شي او نه ئې له منځه وړلی شي، انسان له دې پرته بل څه نه شي کولی چې د پیدا شوو شیانو حالت او کیفیت بدل کړي.

آیا ستاسو په شریکانو کې داسې څوك شته چې د حق لورې ته لارښوونه کوي؟ له کوم بُت یا قبر تاسو ته غږ شوی چې سمه لار دا ده او کږه لار هغه؟! مګر نه ګورئ چې الله تعالی تاسو ته سترګې درکړې چې لار پرې ګورئ، عقل ئې درکړی چې سم او ناسم پرې پېژندی شئ، پیغمبر او د هغه په لاس ئې کتاب درلېږلی چې د حق په لوري ستاسو لارښوونه وکړي، نو ووایئ: څوك د دې وړ دئ چې متابعت ئې وشي: هغه چې حق لار درښیي او که هغه چې د سمې لارې په موندلو کې بل ته اړ دئ؟ ووایئ ستاسو پرېکړه څه ده؟

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّاۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او د دوی ډېری له ګمانه پرته د بل څه متابعت نه کوي، یقیناً چې ګمان (هیڅوك) د حقیقت له کوم برخې نه بې نیازه کوي، یقیناً چې الله په هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي.

(٣٦)- دوی نه په (دلیل) پسې ځي، نه د (عقل) نداء اوري او نه د (علم) حکم ته غاړه ږدي، په خپلو ګمانونو پسې ځي، په داسې حال کې چې (ګمان) نه د حق په بشپړ پېژندو کې کفایت کوي او نه ئې د یوې برخې په پېژندو کې مرسته کوي، ډېر ځلې ګمانونه د حق په سم پېژندو کې د انسان مخه نیسي او له صحیح لوري ئې غلط لوري ته بیایي. د دوی په اړه د الله تعالی دا وینا د هغه علم له مخې ده چې د دغو مشرکینو د اعمالو او افعالو په اړه ئې لري.

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾

او دا قرآن داسې نه دئ چې له الله پرته دې (څوك) په دروغو جوړ کړی شي، خو لیکن د هغه څه تصدیقوونکی دئ چې ترې مخکې وو او د کتاب تفصیلي بڼه، چې هیڅ شك په کې نشته؛ د عالمیانو د رب له لوري.

(۳۷)- دلته د قرآن څو ځانګړتیاوې په ګوته شوې:

- داسې دئ چې له الله تعالی پرته ئې هیڅوك د جوړولو توان نه لري، د هغو جامع علومو له پلوه چې قرآن پرې احاطه کړې، د هغو اسرارو له پلوه چې قرآن څرګند کړي، د هغو روښانه لارښونو له پلوه چې قرآن ئې د انسان مخې ته ږدي، د هغو احکامو له پلوه چې د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د مختلفو اړخونو د تنظیم لپاره قرآن وړاندې کړي، د هغه خوندور، جذاب، اغېزناك او جالب اسلوب له پلوه چې په قرآن کې د مطالبو د بیان په اړه غوره شوی، بالآخره له هره پلوه دا قرآن داسې دئ چې انسان نه بلکې یوازې الله تعالی ئې پر وړاندې کولو قادر دئ.

- د مخکینیو الهي کتابونو تصدیقوونکی دئ، که څوك تر دې د مخه په کوم بل الهي کتاب ایمان لري، نو دا قرآن به داسې ومومي چې د هغه کتاب د هر اساسي مطلب او هرې مهمې خبرې تصدیق کوي، همغه څه وایې چې هغو کتابونو ویلي.

- د الهي کتاب تفصیلي بڼه دئ، څه چې په نورو کتابونو کې په مجمله او مختصره توګه راغلي په قرآن کې په لازیات تفصیل او وضاحت سره راغلي.

- د شك مورد په کې موندلی نه شئ، هیڅوك نه شي توانېدی په قرآن کې داسې څه په ګوته کړي چې د هغه په حقانیت کې او په دې کې چې دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ شك او شبهه راولاړه کړي.

- د دې کتاب هر څه په دې ګواهي ورکوي چې د عالمیانو د رب له لوري لېږل شوی.

دلته د قرآن دا ځانګړتیاوې د دې لپاره بیان شوې چې د مخکینۍ سلسلې په لړ کې مشرکینو ته مزید وویل شي چې پر مخکینیو دلائلو علاوه دا قرآن د یوه داسې لارښود کتاب په توګه ستاسو مخې ته پروت دئ چې ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب وایې، ستاسو ټول شکونه له منځه وړي او د ژوند د هرې پېښې په اړه ستاسو لارښوونه کوي.

---

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ
ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلۡ كَذَّبُواْ بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ
تَأۡوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ
﴿٣٩﴾

آیا وایي چې له ځانه ئې جوړ کړی، (ورته) ووایه: نو د دې په څېر خو یوه سوره راوړئ؛ او له الله پرته ټول هغه (ذوات مرستې ته) دروبلئ چې توانېدی شئ، که

ربښتيني يئ! بلكې هغه څه ئې تكذيب كړ چې د هغه په پوهې ئې احاطه ونه كړى شوه او تأويل ئې ورنه غى، همداسې تر دوى مخكينيو تكذيب كړ، نو وګوره چې د ظالمانو پايله څه وه.

(٣٨-٣٩)- كه دوى دا ادعاء كوي چې دا له عظمتونو ډك قرآن؛ د پيغمبر عليه السلام له لوري جوړ شوى؛ نو ورته ووايه: ستاسو دا بې بنسټه ادعاء خو به په هغه صورت كې څه وزن ولري چې تاسو هم وتوانېږئ د دې كتاب د يوې لنډې سورې په څېر كومه سوره جوړه كړى شئ، ولاړ شئ؛ يو بل ته لاس وركړئ، له الله پرته ټول هغه ذوات مرستې ته دروبلئ چې څه طمع ترې لرئ او ګمان كوئ چې په دې كار كې به ستاسو مرسته وكړى شي، په ګډه د دې هڅه وكړئ چې د دې قرآن په څېر يوه سوره راوړئ!

حقيقت دا دئ چې دوى ځكه د قرآن په اړه دا خبره كوي او دا نه مني چې د الله تعالى له لوري نازل شوى چې قرآن ئې نه دئ لوستلى، پر معنى ئې نه دي پوه شوي، لا ئې هغه څه نه دي ترسترګو شوي چې قرآن ئې وړاندوينه كړې، د كفر، شرك، ظلم او فساد د پايلو په اړه چې قرآن څه ويلي او مؤمنانو ته چې الله تعالى د برياوو كومې وعدې وركړې دا لا په بشپړه توګه نه دي تر سره شوي؛ نو ځكه قرآن تكذيبوي او هغه د پيغمبر عليه السلام له لوري جوړ شوى كتاب ګڼي، كه څه هم ځينو مفسرينو دلته (تأويل) د تفسير په معنى اخيستى او ويلي ئې دي چې د دوى د تكذيب بله وجه دا ده چې د قرآن په تفسير نه دي پوه شوي، خو دا تعبير ځكه ضعيف دئ چې دې ته ورته مطلب په مخكينۍ فقرې كې په دې توګه راغلى چې دوى په قرآن نه دي پوه شوي، د دغو مفسرينو دا تعبير د تكرار باعث كېږي، همدا راز د آيت وروستۍ برخه هم ښيي چې له (تأويل) مراد د قرآن د ويناوو مصداق دئ، ځكه دلته ويل شوي چې مخكينيو هم الهي كتابونه تكذيب كړل، تاريخ ته رجوع وكړه او وګوره چې د دوى پايله څنګه وه، مطمئن اوسه چې د قرآن دغو ظالمو مكذبينو ته هم دې ته ورته پايله منتظره ده، دوى به هغه مهال د قرآن په حقانيت پوه شي چې د ظالمانو د عاقبت په اړه د قرآن د وينا مصداق په خپلو سترګو وګوري.

وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾

او له دوى ځيني هغه دي چې ايمان پرې راوړي او ځيني هغه دي چې ايمان نه پرې راوړي؛ او ستا رب پر دغو مفسدينو ښه پوه دئ.

(٤٠)- دوى د قرآن په اړه په دوو ډلو وېشل شوي: د دوى صالحين پرې ايمان راوړي او مفسدين ئې ايمان نه پرې راوړي، ستا رب د دغو مفسدينو په حال ښه پوه دئ چې ولې ايمان نه راوړي؟ خپل فساد ئې له ايمانه منع كوي كه د دلائلو نشتوالى؟!! د دې خبرې حقيقت الله تعالى ته ښه معلوم دئ.

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾

او كه تا تكذيب كړي نو (ورته) ووايه: زما لپاره زما عمل او تاسو ته ستاسو عمل، تاسو له هغه څه بې زار يئ چې زه ئې كوم او زه له هغه څه بې زار يم چې تاسو ئې كوئ.

(٤١)- په دې مبارك آيت كې پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه شوې چې د دښمنانو د تكذيب او مخالفت پروا ونه كړي، د دوى له كړنو خپله بې زاري اعلان كړي او ورته ووايي: زه به په خپلې تګلارې او كړنلارې دروممم او ستاسو دې خپلې كړنې وي، وبه ګورو چې زه چېرې رسم او تاسو كوم ځاى ته؟!

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَۚ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾

او له دوى ځيني هغه دي چې تا ته غوږ نيسي، نو آيا ته كاڼه ته څه وراوروړلى شې كه څه هم تعقل نشي كولى؟

(٤٢)- له دوى ځيني داسي دي چې ستا وينا ته غوږ نيسي خو داسې دي لكه كاڼه، په خبرې ئې سر نه خلاصېږي، ستا وينا پرې هيڅ اغېز نه شي كولى؛ دا ځكه چې تعقل نه كوي.

وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَۚ أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾

او له دوى ځيني هغه دي چې تا ته ګوري، نو آيا ته ړانده ته لارښوونه كولى شې كه څه هم نه ويني؟

(٤٣)- او ځيني ئې داسې دي چې تا ته ګوري، خو داسې لكه چې سترګې ئې څه نه ويني، ستا لوړ اخلاق، پاكيزه سيرت، نېك اعمال، غوره عادات، ښه سلوك، صالح ملګري، پر ټولنې او وضعيت ئې ستا ژور اغېز او... ګوري خو نه ئې په ارزښت پوهېږي او نه اهميت وركوي، نو ته به څنګه د هغه چا لارښوونه وكړى شې چې د زړه سترګې ئې ړندې دي؟!

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾

يقيناً چې الله پر خلكو هيڅ ظلم نه كوي خو خلك پر خپل ځان ظلم كوي.

(٤٤)- كه دوى له هدايت محروم دي، په سمې لار د تلو توفيق ترې سلب شوى، سترګې،

غوږونه او عقل ئې مسخ شوي او د لارې په موندلو کې ئې مرسته نشي کولی، له بدو ورځو سره مخامخ دي، په راز راز عذابونو او مصيبتونو اخته دي، الله تعالی پرې ظلم نه دئ کړی بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کړی، په خپل لاس ئې ځان له دې بدو پايلو سره مخامخ کړی.

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿٤٥﴾

او هغه ورځ چې ټول راغونډ کړو؛ داسې به وي لکه چې د ورځې يو ساعت ئې ځنډ کړی؛ په خپلو منځونو کې به يو بل سره پېژني، بې شکه چې هغه وګړي زيانمن شول چې د الله ملاقات ئې دروغجن ګڼلو او هدايت کېدونکي نه ول.

(٤٥)- دوی خو نن دا خبره کوي چې که د الهي عذاب په اړه ستا ګواښونه حقيقت لري ولې نه راځي، د عذاب ځنډېدا داسې ګڼي لکه چې دا هسې يو ګواښ وي او هيڅ حقيقت ونه لري!! دوی خو نن وايي چې که د قيامت په اړه د پيغمبرانو وينا رښتيا وی ولې تر اوسه رانه غی؟! دوی ته ووايه: لږ نور صبر وکړئ، حتماً به ئې په خپلو سترګو وګورئ، هغه ورځ به راشي چې تاسو ټول راغونډ کړی شئ، وضعيت به مو داسې وي چې ګمان به کوئ په زمکې کې مو صرف يو ساعت تېر کړی، دا موده چې نن ئې ډېره اوږده ګڼئ هلته به ئې يوازې د يوه ساعت په اندازه بولئ؛ قبرونو ته تګ، يو له بله بېلېدا او هلته څه موده پاته کېدا به هم داسې نه وي چې يو بل هېر کړئ، له قبرونو راپاڅېدا وروسته به په خپلو منځونو کې يو بل سره پېژنئ، له هرې خوا او له هر څه به د حال يا قال په ژبه دا پيغام تر لاسه کوئ چې: بې شکه هغه وګړي زيانمن شول چې د الله ملاقات ئې دروغجن ګڼلو او هدايت کېدونکي نه ول.

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤٦﴾

او که تا ته ځيني هغه (عذابونه) دروښيو چې له دوی سره مو د هغوی ژمنه کړې ده او يا (تر دې د مخه) تا وفات کړو نو زموږ په لورې ئې بېرته ګرځېدا ده او پر هغه څه الله ښه شاهد دئ چې دوی ئې کوي

(٤٦)- او د هغو عذابونو په اړه چې له دوی سره ئې وعده شوې؛ د الله تعالی سنت دا دئ چې يا به ستا په ژوند کې دوی پرې اخته کړي او ته به ئې په خپلو سترګو وګورې چې د الله تعالی عذاب پرې نازل شوی او يا به ستا له وفاته وروسته، په هر صورت کې د دوی

تګ د الله تعالی په لوري دئ او الله د دوی د ټولو کړنو ښه ناظر او لیدونکی دئ.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

او هر امت ته یو رسول دئ؛ او کله چې رسول ئې ورشي نو د دوی تر منځ به په انصاف سره پرېکړه کېږي او پر دوی به ظلم نه کېږي.

(٤٧)- دا هم د الله تعالی ثابت او دائمي سنت دئ چې یوازې هغه مهال پر یوه قوم د عذاب لېږلو پرېکړه کوي چې لومړی په دوی کې پیغمبر مبعوث کړي، حق ته بلنه ورکړي، حق او باطل ورته روښانه کړي، د سعادت او شقاوت په عواملو ئې پوه کړي، کله چې دوی له کفر، شرك، ظلم او فساد نه لاس اخیستو ته چمتو نشي، نو د دوی تر منځ په انصاف سره وروستۍ پرېکړه کوي، داسې سزا ورکوي چې ورسره وړ وي، پر دوی ظلم نه کوي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

او وایي: دا وعده به کله تر سره کېږي که رښتیني يئ؟

(٤٨)- دوی د الله تعالی له وعد او وعید نه انکار کوي، خو دا انکار په دې صیغه څرګندوي: که تاسو په خپلو ګواښونو کې رښتیني يئ نو دا د الهي عذاب وعده به کله تحقق مومي؟! ولې ځنډېږي؟ که په دې کې څه حقیقت وی نو تر اوسه به تر سره شوې وه!

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

ووایه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو اختیار)، پرته له هغه څه چې الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چې د دوی اجل راورسېږي نه یوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي.

(٤٩)- دوی ته څو خبرې وکړه:

- نه یوازې د عذاب پرېکړه زما په واك کې نه ده بلکې زه نه له خپل ځانه د ضرر دفع کولو واك لرم او نه د ګټې رسولو واك، د ګټې او زیان واکمن الله تعالی دئ، پرېکړه ئې د هغه له لوري کېږي، زه یوازې هغه څه کولی شم چې الله تعالی غوښتي،
- د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چې د دوی اجل راورسېږي نه یوه شېبه

وروسته کېږي او نه مخکې کېږي، د يوه ولس د زوال نېټه نه د چا په خوښه او هيله وروسته کېدی شي او نه ئې څوك رامخکې کولی شي.

گورئ چې قرآن پيغمبر عليه السلام ته وايي: په خپله خوله خلکو ته ووايه چې د تاوان او گټې پرېکړه زما په واك کې نه ده، ثابتې الهي نېټې نه شم بدلولی، د گټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکی اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو بيان شوی او دا د دې لپاره چې د ټولو هغو ټگمارانو او دوکه مارانو مخه ونيسي چې خلکو ته وايي: راشئ په يوه دم او دعاء سره ستاسو تقدير بدلولی شو، مرگ مو ځنډولی شو، عمر مو زياتولی شو، تاوانونه او مصيبتونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لارې درته پرانيستلی شو!! حاجتونه مو پوره کولی شو، فقط د يوې شکرانې او نذرانې په بدل کې!! په همدې سره کمعقله خلك غولوي او خپل جيبونه ډکوي!!

قرآن همدا راز فرمايي: الهي سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي، هيڅوك نه شي کولی د الله تعالی هغه ثابت سنن بدل کړي چې په دې عالم کې ئې وضع کړي او هر څه د هغوی مطابق تر سره کېږي، عادي انسانان خو پرېږده د محمد عليه السلام په څېر د الله تعالی جليل القدره پيغمبران عليهم السلام هم د الله تعالی ثابت سنن نشي بدلولی، نه د الله تعالی پرېکړې ځنډولی شي او نه ئې رامخکې کولی شي. لکه چې فرمايي:

سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٦٢﴾ الاحزاب: ٦٢

دا د الله هغه سنت دئ چې په مخکينيو کې تېر شوی او هيڅکله به د الله د سننو لپاره تغيير او تبديلي ونه مومې.

ٱسۡتِكۡبَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّيِٕۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴿٤٣﴾

فاطر: ٤٣

آيا دوی د مخکينيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسې حال کې چې هيڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تحويل (تغيير) ونه مومې.

---

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوۡ نَهَارٗا مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٥٠﴾

ووايه: پام مو دئ چې که د ده عذاب د شپې يا ورځې له لوري راشي؛ نو مجرمين به

له ده څه په تلوار غواړي؟

(۵۰)- دوی اوس او له عذابه مخکې تا ته وايي: دا د الله عذاب چې تاسو موږ پرې وېروئ؛ ولې نه راځي؟ ولې پر هغو خلکو ستاسو د رب عذاب نه راځي چې تاسو ئې د عذاب وړ ګڼئ؟ که ستاسو په ګواښونو کې څه صداقت وی نو دا عذاب به تر اوسه راغلی وو!! دوی ته ووايه: که دا عذاب د شپې له لوري چې تاسو په خوب ويده وئ يا د ورځې له پلوه چې تاسو په لوبو بوخت وئ؛ راشي، ما ته ووايئ چې هغه مهال به مجرمين څه شی په تلوار غواړي؟ آيا غوښتنه به ئې دا نه وي چې عذاب وځنډېږي؟! دوی ته د ايمان راوړو مهلت ورکړی شي؟ نو اوس ئې څنګه په تلوار غواړي؟

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿٥١﴾

آيا کله چې واقع شي نو ايمان به پرې راوړئ؟ آيا اوس په داسې حال کې چې (تر دې د مخه) تاسو په تلوار غوښتو؟!

(۵۱)- خو هغه مهال به دوی ته وويل شي: آيا اوس د هغه عذاب حقانيت منئ چې تيار ستاسو پر سر راپرېوتی؟!! آيا اوس ئې منئ په داسې حال کې چې تر دې د مخه مو په تلوار غوښتو او د ژر نه راتلو په سبب مو ترې انکار کاوو؟!

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٥٢﴾

بيا به هغو کسانو ته چې ظلم ئې کړی وويل شي: د تلپاته عذاب خوند وڅکئ! آيا له هغه پرته چې تاسو کول کومه سزا درکړی شوې؟

(۵۲)- دا ظالمان به په دوزخ کې وي، دوی ته به وويل شي: د هغه تلپاته عذاب خوند وڅکئ چې انکار مو ترې کاوو او په تلوار مو غوښتو، ووايئ: آيا تاسو ته همغسې سزا نه ده درکړی شوې چې ستاسو کړنو ته ورته او ورسره وړ او مناسب ده؟!

وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ قُلۡ إِي وَرَبِّيٓ إِنَّهُۥ لَحَقّٞۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥٣﴾

او دا خبره درنه پوښتي چې آيا دا حق دئ؟ ووايه: هو؛ زما په خپل رب قسم چې دا له شك پرته حق دئ او تاسو عاجزوونکي نه ياست.

(۵۳)- که څه هم دلته نه دي ويل شوي چې کافرانو د څه په اړه پوښتنه کوله چې آيا دا

حق دئ؟ او پيغمبر عليه السلام د الله په نامه لوړه کړې چې هو؛ دا حق دئ! ځينو درنو مفسرينو پوښتنه د قرآن په اړه ګڼلې، خو د آيت سياق و سباق ته پام سره په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې پوښتنه ئې د الهي عذاب په اړه ده، نه د قرآن په اړه، ځکه تر دې د مخه هم خبره د الهي عذاب په اړه ده او وروسته هم او د آيت په پای کې هم ويل شوي چې تاسو د دې عذاب د راتلو مخنيوی نشئ کولی، نه تر دې مخکې د قرآن ذکر راغلی او نه وروسته.

وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي ٱلْأَرْضِ لَٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾

او که هر هغه کس ته چې ظلم ئې کړی د زمکې هر څه (په واك کې) وی نو هرومرو به ئې په بدل کې ورکړي وی؛ او کله چې عذاب وګوري نو (خپله) پښيماني به پټوي؛ او د دوی تر منځ به په انصاف سره پرېکړه وشي او پر دوی به ظلم نه کېږي.

(٥٤)- دا آيت څو لارښووني لري:

- دوزخيان به هغه وګړي وي چې پر ځان ئې ظلم کړی، د دې لپاره چې له دغي بدي ورځې ئې خپل ځان نه وو ژغورلی.
- د دوزخ عذاب به دومره ستر او هيبتناك وي چې دوزخيان به له لري د هغه په ليدو سره په خپلو کړنو پښېمانه شي.
- دې ته به تيار وي چې که د زمکې هر څه د دوی په واك کې وی، له دې ستر عذابه د نجات لپاره ئې په فديه کې ورکړي،
- د دوی تر منځ به په انصاف سره پرېکړه وشي او پر دوی به ظلم نه کېږي.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾

پام چې يقيناً ټول هغه څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د الله دي، پام چې بې شکه د الله وعده حق ده خو ډېری خلك نه پوهېږي، دا خو فقط هغه دئ چې ژوندي کول او وژل کوي او د ده په لوري بېرته ګرځول کېږئ.

(٥٥-٥٦)- دلته د الله تعالی د پېژندنې په اړه څو لارښووني شوې چې له مخکينيو مطالبو سره ژوره رابطه لري:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله دي، هغه د هر څه مالك او ټولواك دئ، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه او څومره ورکړي.
- د الله تعالی وعدې رښتيني دي، هيڅوك ئې د تحقق مخه نشي نيولی.
- د مرگ او ژوند پرېکړه د ده له لوري کېږي، نه د چا ژوند د بل په لاس کې دئ او نه ئې مرگ.
- ټول به د هغه په لوري درومئ، هغه هم چې په دې خبرې باور لري او هغه هم چې ترې انکار کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾

اې خلکو! يقيناً چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري يوه موعظه او د هغه څه لپاره درمل درغی چې په سينو کې دي او مؤمنانو ته لارښود او پېرزوينه.

(۵۷)- په دې مبارك آيت کې خلکو ته په خطاب کې ويل شوي چې تاسو ته داسې کتاب درغلی چې ځانگړتياوې ئې دا دي:

- ستاسو د رب له لوري غوره او اغېزمنه موعظه،
- د بيمارو زړونو او سينو لپاره درمل،
- د مؤمنانو لپاره هم لارښود او هم د الهي پېرزوينو او رحمت وسيله.

قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾

ووايه: نو په همدې؛ د الله په فضل او پېرزوينې دې خوشحاله شي، دا تر هغه ډېر غوره دئ چې دوی ئې غونډوي.

(۵۸)- دلته مؤمنانو ته په خاصه توگه ويل شوي چې تاسو د خپل رب پر دغه فضل او رحمت خوشحاله اوسئ، هغه قرآن چې تاسو پرې ايمان راوړی او خپل لارښود مو گرځولی، دا د الله تعالی ستر فضل او لويه پېرزوينه وگڼئ، دا تر ټولو هغو شيانو او مال و متاع ډېر غوره دئ چې کافران ئې راغونډوي.

قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَٰلًا قُلْ

ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْۖ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾

ووايه: آيا پوهېږئ الله چې کوم څه له رزق تاسو ته نازل کړي، هغه چې تاسو ځيني ترې حرام او ځيني حلال ګرځولي، ووايه: آيا الله د دې اجازه درکړې او که پر الله باندي افتراء کوئ؟

(۵۹)- پر الله تعالی باندي د کافرانو د افتراء يوه بېلګه زموږ په وړاندي ږدي: کوم رزق او روزي چې الله تعالی دوی ته ورکړې، دوی په خپل سر او له کوم عقلي او شرعي دليل پرته ځيني حرام او ځيني حلال ګڼي، دوی ته ويل شوي: آيا الله د دې اجازه درکړې او که پر الله باندي افتراء کوئ؟

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦٠﴾

او د هغو وګړو ګمان د قيامت د ورځي په اړه څنګه دئ چې پر الله باندي دروغ تړي، يقيناً چې الله پر خلکو د فضل خاوند دئ خو ډېری ئې شکر نه کوي.

(٦٠)- دا آيت دوه برخي لري: لومړۍ برخه ئې دا ده چې د هغو وګړو ګمان د قيامت د ورځي په اړه څنګه دئ چې پر الله باندي دروغ تړي؛ او دوهمه ئې دا ده چې يقيناً الله پر خلکو د فضل خاوند دئ خو ډېری ئې شکر نه کوي. د دې دواړ تر منځ تړاو داسي دئ: دا د الله تعالی د فضل يوه څرګنده بېلګه ده چې د قيامت ورځ ئې ټاکلې، هم له دې پلوه چې انسان ته د خپلو نېکو عملونو بدله ورکول کېږي او هغه چې په دنيا کې ئې د خپلو هلو ځلو نتيجه نه ده تر لاسه کړې تش لاس او محروم تللی په آخرت کې به خپل عادلانه او بشپړه بدله تر لاسه کړي، چې دا له شك پرته پر انسان باندي د الله تعالی لويه پېرزوينه ده؛ او هم له دې پلوه چې که د قيامت ورځ نه وی ټاکل شوې نو بيا خو به هر مجرم ته فوراً او له کوم ځنډ او تأخير پرته د ګناه سزا ورکول کېده، نه به ئې د توبې مجال تر لاسه کولو او نه د تجديد نظر او جبران، خو ارحم الراحمين رب په دې سبب د قيامت ورځ ټاکلې چې پر خپلو بندګانو مهربان او د فضل خاوند دئ. خو ډېری ئې شکر نه کوي.

وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُواْ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَـٰبٍ

مُّبِينٍ ﴿٦١﴾

او ته په هيڅ کوم حالت کې نه يې؛ او نه د دې قرآن کوم آيت تلاوت کوې؛ او نه تاسو کوم کار کوئ مگر دا چې موږ درباندې شاهد يو؛ هغه مهال چې په کې مشغولېږئ؛ او ستا له رب؛ نه د ذرې په اندازه (کوم څيز) نه په ځمکې کې پټېدی شي او نه په آسمان کې او نه له دې کوم وړوکی او يا لوی داسې څيز شته چې په څرگند کتاب کې دې نه وي (ليکل شوی).

(٦١)- دلته الله تعالی موږ ته په دې توگه معرفي شوی:

- د انسان هر حالت گوري، هره وينا ئې که دا د قرآن د کوم آيت تلاوت دئ او که د ده خپله وينا، اوري، د ده د هر عمل شاهد دئ، داسې نه چې د عمل له کولو وروسته ترې خبرېږي، بلکې د کولو په حال کې ئې گوري.
- نه په ځمکې کې د ذرې برابر شی ترې پټېدی شي او نه په آسمان کې.
- او نه تر دې ووړ يا لوی شی شته چې په څرگند کتاب کې لادمخه د هغه يادونه نه وي شوې.

دا آيت هم له مخکيني مضمون سره ژور تړاو لري، ځکه هلته د قيامت د ورځې يادونه شوې او دلته د الله تعالی دا صفت چې د انسانانو له حاله خبر دئ، هره وينا ئې اوري او هر کار ئې گوري او هر څه لادمخه په لوح محفوظ کې ليکل شوي، د همدغه جامع علم له مخې به له انسان سره معامله کېږي؛ او هم له وروستي آيت سره پوخ تړاو لري ځکه په هغه کې د الله تعالی دوستانو ته اطمئنان ورکړی شوی چې الله تعالی ستاسو له حاله خبر دئ، نه د وېرې لپاره ځای پاته دئ او نه د غمجن کېدو لپاره مجال.

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ
يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٤﴾

پام چې بې شکه د الله دوستان داسې دي چې نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. هغه چې ايمان ئې راوړی او ځان ساتنه ئې کوله. دوی ته په دنيايي ژوند کې او په آخرت کې زېرې دي، د الله په ويناوو کې تبديلي نه راځي، همدا ستره بريا ده.

(٦٢-٦٤)- دلته د الله تعالی د دوستانو په اړه څو لارښوونې شوې:

- د الله دوستان هغه دي چي ايمان ئې راوړی او د خپل رب د حکمونو له سرغړاوي ئې ځان لري ساتلی.
- دوی داسي دي چي نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي، يعني دوی ته نه له څه نه وېره په کار ده او نه په څه وير.
- دوی ته هم په دنيايي ژوند کي زيري دي او هم په آخرت کي، هم به ئې په دنيا کي فلاح او بريا په برخه شي او هم په آخرت کي.
- دوی بايد ډاډه وي چي د الله تعالی وعدې رښتيني دي او په ويناوو کي ئې تبديلي نه راځي، هيڅوك ئې د تحقق مخه نشي نيولی، نه د چا تدبيرونه په هغه کي تبديلي راوستی شي او نه ئې زور او ځواك له تحقق نه مخنيوی کولی شي.
- همدا ستره بريا ده.

دلته د يوې خبري وضاحت ضروري دئ چي اولياء الله څوك دي او دغه وعدې له چا سره شوې دي، د قرآن له نظره چا ته د ولي په سترګه کتلی شو، د هغوی مواصفات او ځانګړتياوي کومي دي؟ قرآن موږ ته اولياء الله او د دوی مواصفات او ځانګړتياوي راښودلي، ايمان، جهاد في سبيل الله، صبر، تقوی، احسان د اولياء الله اساسي او مهم صفات ګڼي، قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي موږ ته وايي چي الله تعالی له هغه چا سره محبت کوي او د اولياء الله په ډله کي ئې نيسي چي ايمان ئې راوړی، د الله په لار کي ئې په خپل سر او مال جهاد کړی او په مرصوص او منظم صف کي د الله له دښمنانو سره جنګېدلی، د ايمان په لار کي ئې د کړاوونو په وړاندي صبر کړی، پر الله ئې توکل کړی، خپله ځان ئې له ګناهونو پاکه ساتلې، د الله د رضاء لپاره ئې مالي او ځاني قرباني ورکړې. په چا کي چي دا صفات نه وي، مه دا ګمان پرې کوه چي هغه له الله تعالی سره مينه لري او مه دا چي الله تعالی به ئې د اولياءو په ډله کي ومني.

خو متأسفانه له قرآن او قرآني علومو او مفاهيمو د بې خبرۍ په وجه ځيني داسي ګمان کوي چي اولياءالله هغه خلك دي چي له دنيايي چارو ئې لاس اخيستی، له خلکو لري په ورانو ويجاړو کي اوسي، په اذکارو او اورادو بوخت دي، نه د خلکو په ښه کار لري او نه په بد، نه د دې پروا لري چي د ده شاوخوا ته څه تېرېږي او نه د دې چي په نړۍ کي څه حال دئ، د همدې په اړه وايي چي د الله په عشق کي له دنيا او ما فيها بې خبره دئ!! ځيني تر دې هم مخکي درومي په هغه چا د ولي ګمان کوي چي بې سده او لېون وزمه وي، جامې ئې شلېدلې، وېښتان ئې اوږده او په خاورو لړلي، نوکان ئې رسېدلي، د چرسو بوی ترې پورته کېږي، په ګنده ځای کي ناست، سپي ئې په خوا کي راغونډ او مچان پرې راټول، نه لمونځ کوي، نه روژه نيسي او نه نور شرعي وجائب تر سره کوي، د همدغو په اړه وايي چي دوی د (وصال) او (يقين) مقام ته رسېدلي او له عباداتو معاف دي!!!

وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾

**او د دوی وینا دې تا غمجن نه کړي، یقیناً چې عزت ټول د الله (په واك كې) دئ، هغه پوه اورېدونکی دئ.**

(٦٥)- له دې مبارك آيت معلومېږي چې دا سوره په داسې وخت كې نازله شوې چې مسلمانان كمزوري او ناتوانه ول، د دوى ضعف او كمزورئ ته په پام سره دښمنانو د دوى په ضد تبليغات كول، چا به د دوى پرېشانه حالت ته گوته نيوله، چا به ويل د پيغمبر په خوا كې غلامان، نيستمن، كمزوري او ناپوه ځوانان راغونډ شوي، دوى به څنگه د ټولني ځواكمنو، مخورو او شتمنو مخي ته ودرېږي؟ څنگه دا گمان كوي چې الله به دوى ته برى وركوي او دا دين به پر ټولو دينونو غالبوي؟! چا به ويل دا څنگه د الله تعالى له لوري لېږل شوى پيغمبر دئ چې خپل ياران له دغو بدو او سختو ورځو نشي ژغورلى، ځيني وژل كېږي، ځيني كړول كېږي، ځيني زنداني كېږي، ځيني د كور كلي پرېښودو ته اړ كېږي؟ تبليغات دومره شديد او پراخ ول چې كله كله به ئې پيغمبر عليه السلام هم غمجن اوپرېشانه كړ، الله تعالى هغه ته اطمئنان وركوي چې د دوى وينا دې تا غمجن نه كړي، عزت ټول د الله په واك كې دئ، دا پرېكړه د ده له لوري كېږي چې چا ته عزت او غلبه وركړي او څوك له ذلت او سپكاوي سره مخامخ كړي. الله هم ستاسو په حال پوه دئ او هم د دښمن په حال، هم ستاسو دعاءگاني اوري او هم د دښمن تبليغات. هغه پوه اورېدونكى دئ.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٦٦﴾ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾

**پام چې يقيناً هغه څه چې په آسمانونو او زمكې كې دي (ټول) د الله دي؛ او هغه چې له الله پرته (بل څه مرستي ته) وربلي د شريكانو متابعت نه كوي، دوى له گمان پرته د بل څه متابعت نه كوي؛ او نه دي مگر دا چې خوشې (دروغجني) خبري كوي، دى هغه ذات دئ چې شپه ئې درته گرځولې ده چې په كې آرام وكړئ او ورځ ئې ليدونكې (د ليدو وسيله) يقيناً چې په دې كې د هغو وگړو لپاره څرگندي نښې دي چې اوري.**

(٦٦-٦٧)- دلته څو اساسي لارښوونې شوې:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه ورکړي.

- لکه څنګه چې شپه او ورځ د الله تعالى په اراده ځي راځي او په هري يوې کې ئې ستر ستر مصلحتونه نغښتي دي، همدا راز د انساني ټولني حالات هم د ده په اذن او حکم بدلېږي رابدلېږي، پام کوئ چې ستاسو دا سختې شپې ورځې مو پرېشانه نه کړي او اندېښني درته راولاړې نه کړي.

- دا مشرکان د الله د شريکانو متابعت نه کوي، الله شريکان نه لري، چا ته چې دوى د الله د شريك په سترګه ګوري هغوى د الله تعالى شريکان نه دي، دوى فقط د خپلو غلطو ګمانونو او واهمو متابعت کوي او په خوشو خبرو کې لګيا دي. کوم څه چې دوى د خپلو دروغجنو معبودانو په اړه وايي؛ ځيني د الله تعالى په وړاندې د تقرب وسيله ګڼي، ځينو ته د شفاعت کوونکو په سترګه ګوري، ځيني د حاجتونو پوره کوونکې، ځيني د بيمارانو روغوونکې، دا ټول خوشې ګمانونه او واهمې دي چې هيڅ حقيقت نه لري.

قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنۡ عِندَكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٨

وئې ويل: الله (ځانته) زوى نيولى! پاکې ده هغه لره، هغه بې نياز دئ، ټول هغه څه د ده دي چې په آسمانونو کې دي او په زمکې کې دي. په دې اړه هيڅ دليل درسره نشته، آيا د الله په اړه هغه څه وايئ چې نه پرې پوهېږئ؟!!

(٦٨)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- که څه هم ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دلته خبره د مسيحيانو لورته اوښتې ده، ګواکې دا د دوى خبره ده چې الله زوى او ځاى ناستى نيولى! خو دا خبره په دې دليل ضعيفه برېښي چې دلته نه مکې او نه وروسته د مسيحيانو يادونه شوې، قرآن وايي چې يهودو او مسيحيانو هم دا خبره له نورو کافرانو اخيستې ده، د هغوى په تقليد کې ئې له مسيح او عزير عليهما السلام د خداى زامن جوړ کړل، مشرکينو هم ويل چې فرشتې د خداى لوڼې دي.

- تر دې مخکې ويل شوي چې دا مشرکان د الله د شريکانو متابعت نه کوي، الله شريکان نه لري، چا ته چې دوى د الله د شريك په سترګه ګوري هغوى د الله تعالى شريکان نه دي، دوى فقط د خپلو غلطو ګمانونو او واهمو متابعت کوي، دلته د دوى د

دغه غلطو گمانونو يوه بېلگه زموږ مخې ته اېښودل شوې، د خدای لپاره د زوی ټاکل يو له همدغو غلطو گمانونو دئ.

- د مشرکينو د دغې وينا چې خدای زوی نيولی معنی دا ده چې خدای ځان ته ځای ناستی ټاکلی، د عالم ځيني اختيارات ئې هغه ته سپارلي، په ځينو چارو کې د الله په ځای د ده زوی او ځای ناستی تصرف کوي، داسې زامن ډېرو مشرکينو د الله تعالی لپاره ټاکلي.

- د دوی د دغې غلطې انگېرنې په ځواب کې الله تعالی فرمايي: ١- الله له دې عيب منزه دئ چې زوی او ځای ناستی ولري، ٢- هغه بې نياز دئ؛ ځای ناستی هغه څوك ځان ته غوره کوي چې د بل مرستې ته اړ وي او په يوازې توگه خپل ملك نه شي اداره کولی، ٣- د زمکې او آسمانو هر څه د الله دي، هغه څوك ځان ته ځای ناستی غوره کوي چې د عالم کومه برخه د ده له واکه بهر وي يا وروسته د ده له واکه وځي، الله تعالی به ولې ځای ناستی غوره کوي؟ ٤- په دې اړه هيڅ دليل درسره نشته، ٥- تاسو د الله تعالی په اړه هغه څه وايئ چې نه پرې پوهېږئ.

---

قُلْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾

ووايه: يقيناً هغه چې پر الله باندې درواغ تړي بريالي به نشي.

---

(٦٩)- دوی ته ووايه: څوك چې د الله تعالی په اړه دروغ وايي او افتراء کوي، شريك، زوی او ځای ناستی ورته ټاکي هيڅ کله به بريالی نشي او د الله تعالی له عذابه به ونه ژغورل شي.

---

مَتَٰعٌ فِي ٱلدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلْعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

په دنيا کې برخمن کېدا ده، بيا ئې بېرته گرځېدا زموږ په لور ده، بيا به د سخت عذاب خوند وروڅکو په سبب د دې چې کفر ئې کاوو.

---

(٧٠)- له دې مبارك آيت داسې معلومېږي چې له دې شرك ځينو دنيايي متاع تر لاسه کوله، نو ځکه دلته ورته ويل شوي: په دنيا کې برخمن کېدا ده، بيا ئې بېرته گرځېدا زموږ په لور ده، بيا به د سخت عذاب خوند وروڅکو په سبب د دې چې کفر ئې کاوو. حقيقت همدا دئ چې دا شرکي عقيده هغه څوك خوروي چې کمعقله خلك پرې غولوي، شکرانې او نذرانې پرې تر لاسه کوي، تاسو به وگورئ چې په هر ځای او د زمانې په هر پړاو کې هغه څوك د بُت او قبر لپاره کرامات ثابتوي، خدای ته د قرب وسيله ئې گڼي، شفاعت کوونکي

ئې بولي، د دعاءګانو د قبلېدو باعث ئې شمېري او د الله تعالی د زوی او ځای ناستي نوم ورکوي چي د همدې قبر او بُت مجاور دئ او خلك چي څه د دغو ذواتو په نامه قرباني کوي نو د دوی په کڅوړې کې لوېږي.

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي
وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا
يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ
فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٧٢﴾

او د نوح خبره پرې واوروه چي خپل قوم ته ئې وويل: اې زما قومه! که زما دريځ او د الله په آيتونو پند درکول درباندې سخت وي نو پر الله مې توکل کړی، نو تاسو خپل کار او خپل شريکان راغونډ کړئ؛ بيا دې ستاسو کار درباندې شکمن نه وي، بيا ئې زما په اړه تر سره کړئ او مهلت مه راکوئ. او که ډډه وکړئ نو هيڅ اجر نه درنه غواړم، زما اجر يوازې پر الله دئ او زه ګمارل شوی يم چي له غاړه اېښودونکو وم.

(٧١-٧٢)- دلته د خپل قوم مخالفينو ته د نوح عليه السلام څو خبرې راغلې:

- که زما دريځ او تبليغ تاسو ته د زغملو وړ نه وي؛ نو ما پر الله توکل کړی،
- تاسو راغونډ شئ او زما په اړه خپله متفقه پرېکړه وکړئ،
- خپل شريکان ( او دروغجن معبودان) مو هم راغونډ کړئ،
- کوم څه چي زما په ضد کوئ نو ښه ئې وڅېړئ، هيڅ خوا ئې بايد ستاسو له پامه نه وي پاته شوې،
- همدا سنجول شوې پرېکړه مو زما په خلاف عملي کړئ او
- ما ته هيڅ مهلت مه راکوئ.
- او که ډډه وکړئ نو هيڅ اجر نه درنه غواړم، زما اجر يوازې پر الله دئ او زه ګمارل شوی يم چي له غاړه اېښودونکو وم.

او دا همغه خبره ده چي د التوبه د سورې په پای کې په دې توګه راغلې: که ئې مخ واړاوو نو ورته ووايه: خدای راته کافي دئ، په هغه مې توکل کړی او هغه د ستر عرش رب

دئ.

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ وَجَعَلْنَٰهُمْ خَلَٰٓئِفَ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

**نو تکذيب ئې کړ او موږ دی او هغه چې له ده سره په بېړۍ کې ول وژغورل؛ او وارثان مو کړل او هغه مو غرق کړل چې زموږ آيتونه ئې تکذيب کړل، نو وګوره چې د انذار کړی شوو پايله څنګه وه؟!!**

(۷۳)- دا مبارك آيت د نوح عليه السلام او د ده د ملګرو او مخالفينو د مبارزې پايله داسې بيانوي:

- نو الله تعالی؛ نوح عليه السلام او هغه چې له ده سره په بېړۍ کې ول وژغورل، شمېر ئې دومره محدود وو چې په ډکې کښتي کې ځای شول.
- د زمکې وراثت مو د دوی په برخه کړ، د مخالفانو هر څه مو دوی ته په ميراث ورکړل.
- هغه مو غرق کړل چې زما آيتونه ئې تکذيب کړل.
- نو وګوره چې د انذار کړی شوو پايله څنګه وه؟!!

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤْمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبْلُۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾

**بيا مو تر ده وروسته خپل خپل قوم ته پيغمبران ولېږل چې څرګندې نښې ئې ورته راوړې خو دوی په هغه څه ايمان نه راوړو چې تر دې د مخه ئې تکذيب کړي وو، همداسې د تېري کوونکو پر زړونو مهر لګوو.**

(۷٤)- الله تعالی تر نوح عليه السلام وروسته ډېر پيغمبران خپل خپل قوم ته ولېږل چې څرګندې نښې ئې ورته راوړې؛ خو دوی همغه لار غوره کړه چې د دوی مخکينيو مشرکو او کافرو پلرونو غوره کړې وه، په هغه څه ئې ايمان رانه وړ چې د دوی پلرونو تر دوی د مخه تکذيب کړي وو، وجه ئې دا وه چې دوی د خپلو پلرونو په څېر د ظلم او تيري لار غوره کړې وه او دا د الله تعالی سنت دئ چې د تېري کوونکو پر زړونو مهر لګوي او د ايمان راوړو توفيق ئې نه په برخه کوي.

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمًا مُّجۡرِمِينَ ﴿٧٥﴾

بیا مو تر دوی وروسته موسی او هارون له خپلو آیتونو سره د فرعون او د ده د درباریانو په لور ولېږل چي د (خپلي) لویي په لټه کي شول او مجرم وګړي ول.

---

(۷۵)- له دې وروسته تر ۹۳ آیت پوري د موسی علیه السلام د قصې داسي برخي زموږ مخي ته ږدي چي د سورې له مضامینو سره ئې ژور ارتباط دئ، په دې توګه چي بیا مو تر دغو پیغمبرانو وروسته موسی او هارون علیهما السلام له خپلو آیتونو سره د فرعون او د ده د درباریانو په لور ولېږل خو د خپلي لویي په لټه کي شول او مجرم وګړي ول.

---

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٧٦﴾

نو کله چي زموږ له لوري حق ورغی وئې ویل: یقیناً چي دا ښکاره جادو دئ!

---

(۷٦)- موسی او هارون علیهما السلام دوی ته د الله تعالی حقیقي وینا او پیغام ورسولو خو هغوی په ځواب کي وویل: دا خو له شك پرته څرګند جادو دئ، چي له دې ئې یا مقصد دا وو چي دوی همغه څه خلکو ته ښیي چي زموږ جادوګران ئې ښیي او یا د دوی د دعوت ژور اغېز ته پام سره ئې ویلي چي دوی په خلکو کوډي کوي او په ځان پسي ئې روانوي.

---

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمۡۖ أَسِحۡرٌ هَٰذَا وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾

موسی وویل: آیا د دغه حق په اړه چي درته راغلی (داسي) وایئ؟ آیا دا جادو دئ؟ په داسي حال کي چي جادوګران نه بریالي کېږي.

---

(۷۷)- د دغو تبلیغاتو په وړاندي د موسی علیه السلام ځواب دا وو: آیا حق ته د جادو نوم ورکوئ؟ آیا هغه څه چي زه ئې تاسو ته وړاندي کوم دا جادو دئ؟! په داسي حال کي چي جادوګر هیڅکله د داسي حقائقو په وړاندي کولو نه بریالی کېږي، زه خو تاسو د الله تعالی لوري ته بلم، له شرك، کفر، ظلم او فساد لاس اخیستو ته، د حق منلو ته، د کوډګر ئې له داسي خبرو سره څه؟ هغه خو په خپلي لوبي سره کمعقله خلك غولوي او څه ترې شکوي!!

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٧٨﴾

وئې ويل: آيا موږ ته د دې لپاره راغلی يې چي له هغه څه مو واړوې چي خپل پلرونه مو پرې موندلي او په زمکي کي ستاسو دواړو برلاسی وي او موږ درباندي باور کوونکي نه يو.

---

(٧٨)- کله چي د فرعونيانو دا تبليغات بې اغېزه شول، چا دا خبره نه منله چي موسی عليه السلام دي کوډګر وي، نو د هغه څه په ويلو ئې پيل وکړ چي د تاريخ په اوږدو کي تل او د هر پيغمبر په ضد د باطل پلويانو ترې کار اخيستی او قرآن ئې تر ټولو ستر مکر او توطئه بولي، وئې ويل:

- آيا د دې لپاره راغلي يئ چي موږ له خپل پلرني غوره دين واړوئ؟! ستاسو لپاره د خپل نيکه له دين لاس اخيستو ته چمتو نه يو، دا دئ ګورئ د خدای او دين د دښمنانو له لوري د مذهب په نامه د مذهب په ضد جنګ، فرعون د خلکو د پلرني دين حامي شوی او موسی عليه السلام له مخکيني دين په بغاوت متهموي!!

- تاسو د اقتدار په لټه کي يئ، غواړئ د ولس مشري او قيادت مو په برخه شي!! دا هم هغه تور دئ چي تل حقپال مشران او زړه سواند دعوتګران پرې تورن شوي، فرعون د اقتدار له تخت موسی او هارون عليهما السلام د اقتدار په غوښتلو تورنوي!!

- ولاړ شئ موږ درباندي باور کوونکي نه يو. ستاسو دا خبري د دې وړ نه دي چي موږ پرې باور وکړو!!

---

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٨٢﴾

او فرعون وويل: هر ښه پوه کوډګر راته راولئ. نو کله چي کوډګران راغلل؛ موسی ورته وويل: هغه څه وغورځوئ چي تاسو ئې غورځوونکي يئ! نو کله چي ئې وغورځول؛ موسی وويل: څه چي تاسو راوړل، (دا خو) جادو دئ، يقيناً چي الله به ئې شنډ کړي، يقيناً چي الله د مفسدينو کړنه نه رغوي. او الله په خپلو اوامرو سره حق

محقق کوي که څه هم مجرمين (ترې) کرکه ولري.

(۷۹-۸۲)- فرعون د موسی عليه السلام مقابلې ته پوه پوه کوډګران راغونډ کړل، کوډګران د مصريانو د هغه مهال مذهبي مشران ول، دا دئ ګورئ چي قرآن موږ ته وايي: فرعونيان تل همدا مذهبي مشران د حق دين په ضد جنګ کې لومړي خط ته لېږي او لومړۍ مقابله د دوی په لاس پيلوي، د دې تفصيل د القصص د سورې د څلورم آيت په شرح کې وګورئ.

موسی ورته وويل: هغه څه وغورځوئ چي تاسو ئې غورځوونکي يئ! دښمن ته ئې موقع ورکړه چي مقابله د هغه له لوري پيل شي، که تاريخ ته مراجعه وکړو وبه ګورو چي تل نښتې د باطل پلويانو پيل کړې، جنګ ته بلنه هم د دوی له لوري وي او لومړی برید هم د دوی له لوري. د فرعون دا د کوډګرو مذهبي لښکر خپل پړي او عصاګاني وغورځول، موسی وويل: څه چي تاسو راوړل، (دا خو) جادو دئ، يقيناً چي الله به ئې شنډ کړي، يقيناً چي الله د مفسدينو کړنه نه رغوي او الله په خپلو اوامرو سره حق محقق کوي که څه هم مجرمين (ترې) کرکه ولري. ګورئ چي موسی عليه السلام د حق په بريا بشپړ باور او يقين لري، د فرعونيانو په اړه وايي چي (مفسدين) او (مجرمين) دي، الله تعالی به ئې هڅې شنډوي او له خپلو هلو ځلو به څه تر لاسه نه کړي.

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ ۚ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾

نو پر موسی د ده د قوم له ځينو زامنو پرته چا ايمان رانه وړ، د فرعون او د دوی د مشرانو له دې وېرې چي تعذيب به ئې کړي، يقيناً چي فرعون د ځمکي پر سر يو متکبر او باغي وو او هغه له مسرفينو وو.

(۸۳)- دا آيت موږ ته د قصې څو برخي بيانوي:

- د موسی عليه السلام د قوم محدود شمېر ځلميانو پرې ايمان راوړ،

- وجه ئې دا وه چي له يوې خوا د فرعون له تعذيبونو وېرېدل او له بلي خوا د خپل قوم د هغو مشرانو له تعذيبونو چي د فرعون ملګرتيا ئې کوله او د نظام د مخالفينو په نيولو او ځورولو کې ئې د هغه مرسته کوله. دې ټکي ته مو بايد پام وي چي ځينو درنو مفسرينو (ملإيهم) د فرعون درباريان ګڼلي، خو دقيقه رأيه دا ده چي له دې مراد د بني اسرائيلو هغه مشران دي چي د فرعون ملګرتيا ئې کوله، ځکه دلته د (هم) ضمير بني اسرائيلو ته راجع دئ، فرعون ته ئې نه شو راجع کولی؛ او په دې سره قرآن موږ ته همغه خبره کوي چي تل د ولس ځلميانو د پيغمبرانو عليهم السلام ملګرتيا کړې او ملأ او مترفينو د

دوی مخالفت ته ملاتړلې.

- موسی علیه السلام فرعونیان د مفسدینو او مجرمینو په نامه یاد کړل، الله تعالی دوه نور نومونه هم پرې علاوه کوي او فرمایي: یقیناً چي فرعون د زمکي پر سر یو متکبر او باغي وو او هغه له مسرفینو وو.

---

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

او موسی وویل: اې زما قومه! که مو پر الله ایمان راوړی وي نو پرې توکل وکړي که مسلمانان یئ، نو وئې ویل: پر الله مو توکل دئ، اې زموږ ربه! د دغه ظالم قوم لپاره مو د آزمېښت وسیله ونه ګرځوې او په خپل رحمت سره مو له دې کافر قوم وژغورې.

---

(٨٤-٨٦)- موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: که تاسو پر الله ایمان راوړی وي، نو په هغه توکل وکړئ که رښتیا د الله اوامرو ته منقاد یاست، یعني که مسلم یاست او ایمان لرئ نو پر الله توکل وکړی! دلته څو خبري په پام کي ولرئ:

- ګورئ چي دلته هم قرآن عظیم الشأن فرمایي چي په الله باندي توکل د ایمان غوښتنه او تقاضا ده.

- د قرآن دا وینا ښیي چي بني اسرائیلو په مېړاني سره د موسی علیه السلام ملګرتیا کړې، پر الله تعالی ئې توکل کړی، د کړاوونو ګاللو ته چمتو شوي او ویلي ئې دي: اې زموږ ربه! د دغه ظالم قوم لپاره مو د آزمېښت وسیله ونه ګرځوې او په خپل رحمت سره مو له دې کافر قوم وژغورې.

- د همدغه، ایمان، توکل او صبر په سبب الله تعالی پر دښمن بری ورکړ او د نړۍ پر ټولو قومونو او ولسونو ئې دوی ته فضیلت ورکړ.

---

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٧﴾

او موسی او د ده ورور ته مو وحي وکړه چي د خپل قوم لپاره په مصر کي څو کورونه تیار کړئ او خپل کورونه قبله وګرځوئ او لمونځ اقامه کړئ او مؤمنانو ته

زېرى وركړه.

(۸۷)- له دې مبارك آيت څو خبرې معلومېږي:

- د مصر واكمنانو د بني اسرائيلو معابد او جوماتونه له منځه وړي ول،

- موسى او هارون عليهما السلام په دې وګمارل شول چې د دوى لپاره د ګډ عبادت او لمانځه لپاره په مصر كې د بني اسرائيلو له كورونو خاص خاص ځايونه وټاكي، هملته د قبلې لورى تعيين كړي او په جماعت سره لمونځ اداء كړي.

- خوف او وېرې پر دوى داسې سيورى غوړولى وو او په دوى كې ئې د روښانه مستقبل هيلې داسې ځپلې وې چې په بشپړه توګه مأيوس او نهيلي ول، نو ځكه موسى عليه السلام ته د نورو لارښوونو تر څنګ ويل شوي وو چې دوى ته د روښانه راتلونكې زېرى وركړه.

- دا آيت موږ ته دا لارښوونه هم كوي چې د يوه مجاهد او مبارز ټولي او حزب د جوړلو لار دا ده چې غړي ئې د ګډ عبادت له لارې وروزو، په جومات او جماعت كې د يو بل خوا ته په منظمه توګه د ودرېدو تمرين پرې وكړو، له يوې خوا ئې له الله تعالى سره تعلق ټينګ او مضبوط كړو او له بلې خوا ئې په خپلو كې سره نژدې او د ګډ منظم كار لپاره تيار كړو.

- له دې آيت دا موضوع هم معلومېږي چې د دې سورې د نزول په ورځو كې صحابه د قريشو له لاسه له سختو آزموينو او كړاوونو سره مخامخ ول، ډېرو خپل ايمان نه شو څرګندولى، په څرګنده ئې د الله تعالى عبادت نه شو كولى، د همدې لپاره پيغمبر عليه السلام دوى ته لارښوونه كړې وه چې په خاصو خاصو كورونو كې دې راغونډېږي او په ګډه دې لمونځ كوي.

---

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِكَ ۖ رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا۟ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿۸۸﴾ قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَٱسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۸۹﴾

او موسى وويل: اې زموږ ربه! تا فرعون او د ده درباريانو ته د دنيايي ژوند داسې د زينت وسائل او مالونه وركړي چې په نتيجه كې ئې ستا له لارې (خلك) بې لارې كوي، اې زموږ ربه! پر مالونو ئې تباهي ولګوه او پر زړونو ئې داسې سختي چې د دردناك عذاب تر ليدو پورې ايمان رانه وړي. وئې ويل: يقيناً چې ستاسو دعاء قبوله شوه، نو

ثابت قدمه اوسئ او د هغو په لار مه ځئ چي نه پوهېږي.

(٨٨-٨٩)- دلته د موسى عليه السلام دعاء په داسي الفاظو بيان شوې چي ښيي د فرعون ظلم انتهاء ته رسېدلی وو، د بني اسرائيلو لپاره ملا ماتوونکی او له زغملو لوړ، د همدې لپاره خپل رب ته دعاء کوي: اې ربه! تا فرعون او د ده درباريانو ته د دنيايي ژوند داسي زينتي وسائل او مالونه ورکړي چي په نتيجه کي ئې خلك ستا له لاري بې لاري کوي، اې زموږ ربه! پر مالونو ئې تباهي ولګوه؛ او پر زړونو ئې داسي سختي چي د دردناك عذاب تر ليدو پوري ايمان رانه وړي. د دعاء له دغو الفاظو معلومېږي چي موسى عليه السلام د فرعونيانو له ايمان راوړو په بشپړه توګه مأيوس شوی او له دې پرته د بل څه انتظار نه لري چي الهي عذاب پرې نازل شي. الله تعالی په ځواب کي وفرمايل: يقيناً چي ستاسو دعاء قبوله شوه، نو ثابت قدمه اوسئ او د هغو په لار مه ځئ چي نه پوهېږي.

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ
إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ
وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾
فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ
ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾

او بني اسرائيل مو له سينده تېر کړل، نو فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په قصد ورپسې شول، تر هغه چي غرقېدا راګېر کړ، وئې ويل: په دې ايمان راوړم چي له هغه معبود پرته بل معبود نشته چي بني اسرائيلو پرې ايمان راوړی او زه (نور د الله تعالى په وړاندي) له غاړه اېښودونکو او تسليم شوو يم!! اوس! او په داسي حال کي چي مخکي دي سرکښي کوله او له مفسدينو وې؟!! نو نن به دي بدن وژغورو چي هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چي له تا وروسته (راځي او پاته) دي او د خلکو ډېری زما له آيتونو غافل دي!!

(٩٠-٩٢)- په دې مبارکو آيتونو کي څو مهمي خبري زموږ توجه جلبوي:

- بني اسرائيلو هجرت وکړ او له سيند واوښتل،
- فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په قصد ورپسې شول، غوښتل ئې پر دوی ظلم او تېری وکړي او سخته سزا ورکړي،

- خو په اوبو کې غرق شو،
- د غرقېدا په وخت ئې ویل: په دې ایمان راوړم چې له هغه معبود پرته بل معبود نشته چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی، له سرغړاوي لاس اخلم او خدای ته تسلیم یم!!

په ځواب کې ورته ویل شوي: اوس! او په داسې حال کې چې مخکې دې سرکشي کوله او له مفسدینو وې؟!! نو نن به دې بدن وژغورو چې هم هغو ته د عبرت نښه وې چې له تا وروسته پاته کېږي او هم راتلونکو نسلونو ته.

دا ښیښه ښیي چې الله تعالی د فرعون په څېر مفسدینو ته سزا ورکوي خو د خلکو ډېری د الله تعالی له آیتونو غافل دي!!

دې ته مو باید پام وي چې د دغه فرعون مومیایي شوی جسد تر اوسه روغ رمټ پاته دئ او دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، ډېرو د فرعون پر دې جسد تحقیقات کړي چې دا څنګه څو زره کاله روغ رمټ پاته شوی؟ په مومیایي کولو کې له کومو توکو استفاده شوې؟ او د ده د مرګ سبب څه وو؟ یو له دغو تحقیق کوونکو ډاکټر موریس بوکل وو چې په خپله مسیحي دئ، دی د فرعون په مومیایي شوي جسد له تحقیق وروسته پوه شو چې هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، کله چې نوموړي ډاکټر له مسلمانانو واورېدل چې په قرآن کې ویل شوي: فرعون په اوبو کې غرق شو او د ده جسد به د خلکو د عبرت لپاره خوندي وساتو، حیران شو، پرېکړه ئې وکړه چې قرآن مطالعه کړي، په پنځوس کلنۍ کې ئې عربي د دې لپاره زده کړه چې قرآن مطالعه کړي.

---

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٖ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخْتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾

او یقیناً چې بني اسرائیل مو په غوره استوګنځي کې مېشت کړل او له پاکیزه رزق مو روزي ورکړه، نو تر هغه ئې اختلاف ونه کړ چې (څه) علم ئې په برخه شو، یقیناً چې ستا رب به د قیامت په ورځ په هغه څه کې د دوی تر منځ پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

---

(۹۳)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې د موسی علیه السلام د ملګرتیا، جهاد او هجرت په سبب بني اسرائیل د فرعون له ظلمونو او له هغه ذلت او سپکاوي وژغورل شول چې په مصر کې ورسره مخامخ ول، الله تعالی غوره او ډاډمن استوګنځی او پاکیزه رزق ورپه برخه کړ، دا حالت ئې تر هغه دوام وکړ چې دوی اختلاف ته مخه کړه، د الله

تعالی له لوري كتاب ورته راغی، د دې په ځای چې ټول پر دې الهي كتاب منګولې ولګوي، ټول منازعات هغه ته راجع كړي او د هغه پرېكړه وروستۍ پرېكړه وبولي، خو دوی له همدې كتاب د اختلاف وسيله جوړه كړه، په دې اړه د قرآن الفاظ داسي دي چې ښيي دا اختلاف د دوی ملايانو او مذهبي مشرانو راولاړ كړ، دوی د الله كتاب او هغه كچه او محدود علم چې له دې كتابه ئې تر لاسه كړی وو د وحدت او يووالي پر ځای د اختلاف سبب كړ. الله تعالی فرمايي چې ستا رب به حتماً د قيامت په ورځ په هغه څه كې د دوی تر منځ پرېكړه كوي چې دوی په كې اختلاف كولو.

---

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾

نو كه د هغه څه په اړه په شك كې يې چې ستا لوري ته مو درلېږلی نو له هغو وپوښته چې تر تا د مخه ئې كتاب لوستلو، بې شكه چې تا ته ستا د رب له لوري حق درغلی نو له شك كوونكو مه اوسه! او له هغو مه اوسه چې د الله آيتونه ئې تكذيب كړل كه نه نو له زيانمنو به وې.

---

(۹۴-۹۵)- د دې مبارك آيت الفاظ داسي دي چې ښيي خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ او ده ته ويل شوي چې كه ته د هغه څه په اړه په شك كې يې چې ستا لوري ته مو درلېږلی نو له هغو وپوښته چې تر تا د مخه ئې كتاب لوستلو، بې شكه چې تا ته ستا د رب له لوري حق درغلی نو له شك كوونكو مه اوسه! ځينو درنو مفسرينو دې خبري ته په پام سره چې پيغمبر عليه السلام به څنګه په دې اړه شك كوي؟! هغه ته خو دا وينا د الله تعالی له لوري شوې او هغه هيڅكله د الله تعالی په وينا كې شك نه كوي! نو ځكه ئې ويلي چې كه څه هم مخاطب پيغمبر عليه السلام دئ خو مقصود د قرآن نور مخاطبين دي!! خو نه دې تكلف ته څه ضرورت شته او نه داسي توجيه او تعبير ته، ځكه دا آيت وايي چې كه احيناً تا ته په دې اړه شك راپيدا شي او په ذهن كې دي دا خبره تېره شي چې آيا په رښتيا له فرعون سره به همدا كار شوی وي؟! هغه به له خپل لښكر سره غرق شوی وي؟! جسد به ئې خوندي پاته شوی وي... نو له اهل كتاب پوښتنه وكړه، هغوی به دا ټولي خبري تصديق كړي، دا ځكه چې يهودان هم دا خبري مني، د دوی محرف كتاب هم له ټولو تحريفاتو سره سره په دې اړه همغه خبره كوي چې الله تعالی د وحي له لاري تا ته كړې. دې ته هيڅ ضرورت نشته چې ووايو دا وينا پيغمبر عليه السلام ته متوجه نه ده، ځكه دلته داسي نه دي ويل شوي چې ته شك كوې، بلكي ويل شوي چې كه احياناً شك

وکړې، د دې پر ځای چې غیرضروري تکلف وکړو او ووایو دا خطاب پیغمبر علیه السلام ته متوجه نه دئ باید ووایو: دا او دې ته ورته ویناوي ښیي چې دا قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی، ځکه هیڅوك د ځان په اړه داسي الفاظ نه کاروي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

یقیناً هغه چې ستا د رب وینا پر دوی ثابته شوې ایمان نه راوړي؛ تر هغه چې دردناك عذاب وګوري، که څه هم هره څرګنده نښه ورته راشي.

(٩٦-٩٧)- له دې مبارك آیت معلومېږي چې له مخکیني آیت سره ژور ارتباط لري او ښیي چې د مخاطبینو ایمان نه راوړل او پر خپل کفر د دوی ټینګار؛ ډېر ځله دعوتګران د خپل دعوت، تګلارې او اسلوب په اړه شکمن کړي، دا واهمه ورسره راپیدا کړي چې ښایي زه اشتباه کوم، ما سمه لار او سمه تګلاره او اسلوب نه دي غوره کړي، د همدې لپاره خلك زما دعوت نه مني، زما بلنې ته ځواب نه وایي، زما پر دلائلو نه قانع کېږي او زما د موعظو تر اغېز لاندې نه راځي، په دې آیت کې ویل شوي چې: دا اندېښنې پرېږده، دا معاندین هغه وګړي دي چې د دوی حالت ته په پام سره ستا د رب دا وینا د دوی په اړه ثابته شوې چې ایمان به نه راوړي؛ تر هغه چې دردناك عذاب وګوري، که څه هم هره څرګنده نښه ورته راشي. د دوی د ایمان نه راوړلو سبب دا نه دئ چې کافي دلائل نه دي ورته ویل شوي او تا خپله دنده په ښه توګه نه ده تر سره کړې، بلکې دوی د ایمان راوړلو استعداد له لاسه ورکړی، زړونه ئې داسي تك تور شوي چې د حق خبرې منلو ته هیڅ ځای نه دئ په کې پاته.

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ ءَامَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٩٨﴾

نو ولې بل داسي کلی نه دئ لیدل شوی چې (د عذاب له پرېکړې وروسته ئې) ایمان راوړلو ګټه وررسولې وي؟ مګر د یونس قوم چې کله ئې ایمان راوړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنیایي ژوند کې ترې لرې کړ او تر یوه وخته مو له خپلو پېرزوینو برخمن کړل.

(٩٨)- دا مبارك آیت وایي چې یوازې یو قوم داسي تېر شوی چې د عذاب پرېکړه ئې شوې وه، سیوری ئې پرې غوړولی وو، خو له رانازلېدو مخکې هغوی توبه کړې، ایمان ئې راوړی

او دا عذاب تم شوی!! د تم کېدو وجه ئې هم دا ښودل شوې چې دې قوم ته لېږل شوی پيغمبر؛ يونس عليه السلام تر هغه د مخه چې خپل مأموريت بشپړ کړي او الله تعالی د هجرت اجازه ورکړي، د خلکو له مخالفت او لجاجت تنگ شوی او خپله دنده ئې نيمگړې پرېښې؛ او له قوم تللی، نو له دې کبله چې د دې خلکو په اړه د الله تعالی حجت نه وو بشپړ شوی او هغه مهلت چې دوی ته ورکړی شوی وو لا پای ته نه وو رسېدلی، نو ځکه د عذاب په ليدو سره د دوی توبه او ايمان منل شوی او عذاب ترې پورته شوی، دا خبره د فرعون د هغې وينا په څواب کې شوې چې د غرقېدو پر مهال ئې کړې وه، الله تعالی د هغه ايمان په دې سبب قبول نه کړ چې مهلت ئې پای ته رسېدلی او حجت پرې بشپړ شوی وو.

قرآن فرمايي چې يونس عليه السلام په داسې سيمې کې مبعوث شوی وو چې د اوسېدونکو شمېر ئې سل زره يا څه زيات وو. دا يوازينی مورد دئ چې قرآن د يوه قوم د شمېر خبره کوي او هغه هم په دې توگه چې سل زره او يا څه ترې زيات او دا د دې لپاره چې قرآن د تاريخ او احصائيې کتاب نه دئ، قانون او لارښود دئ؛ او دا هم د دې لپاره چې د بايبل د هغې دروغجنې او له مبالغې ډکې ادعاء پوچ والی په گوته کړي چې ليکي: يونس (عليه السلام ) د نينوا هغه ستر ښار ته د نبي په توگه لېږل شوی وو چې اوږدوالی يا سور ئې د دريو ورځو مزل په اندازه وو، يعني لږ تر لږه اويا کيلومتره، دا بايد د اوسني بغداد، تهران او حتی د کراچۍ په اندازه پراخ وو او نفوس به ئې هم نژدې لس مليونه او د ماشومانو شمېر به ئې يو سل شل زره نه بلکې نژدې څلور مليونه وو، بايبل وايي چې ښار ته د يونس په ننوتو سره هغه اعلان وکړ چې په څلوېښتو ورځو کې به دا ښار وران شي او بيا به ټول ښاريان د پاچا په شمول توبه کوي؟!! وايي چې په همغه لومړۍ ورځ د ده له دې اعلانه هم ټول ښاريان خبر شول او هم پاچا!! کوم عقل به دا خبره ومني چې په دومره ستر ښار کې د يوه مسافر خبره په يوه ورځ کې د ټولو ښاريانو حتی د پاچا غوږ ته رسېږي؟ هلته خو نه راډيو وه او نه ټلويزيون!! څنگه به خلك د يوه ناآشنا مسافر دا خبره مني چې په څلوېښتو ورځو کې به دا ښار وران شي او بيا به ټول د پاچا په شمول توبه کوي؟!! عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو د قرآن اسلوب او په دې اړه وضاحتونو ته پام نه دئ کړی او د قوم د شمېر په اړه ئې ارقام ورکړي، چا يو لك شل زره، چا يولك دېرش زره او چا تر دې څه کم يا څه زيات ښودلي!! او ځينې بيا د بايبل تر اغېز لاندې تللي او نينوا ئې د يونس عليه السلام د دعوت سيمه ښودلې!! حال دا چې په کار ده د قرآن په الفاظو اکتفاء وکړو او داسې څه له خپل لوري ونه وايو چې قرآن نه دي ويلي او نه ئې خوښوي. قرآن دا نه خوښوي چې مخاطب ئې د شمېرو او ارقامو په بې گټې بحثونو کې مصروف شي. له ما سره دا پوښتنه وه چې قرآن ولې د يونس عليه السلام د قوم د شمېر په اړه دا وينا کړې حال دا چې د نورو پيغمبرانو عليهم السلام د قومونو د شمېر په اړه ئې څه نه دي ويلي؟! د دې پوښتنې ځواب مې هغه مهال وموند چې په بايبل کې د تحقيق په

دوران کې مې د یونس علیه السلام د قوم د ډېروالي او د سیمې د پراخوالي په اړه د بایبل هغه له مبالغو ډك ارقام تر سترګو شول او متوجه شوم چې قرآن د دغو غلطو ارقامو د تردید لپاره دا خبره کړې.

قرآن فرمايي چې یونس علیه السلام په قوم کې مېشت وو، ډېره موده ئې خلك د الله تعالی لورې ته وبلل، هغوی پرې ایمان رانه ووړ، ستومانه او غصه شو، خپل مأموریت ئې نیمګړی پرېښود او له وخته مخکې له سنګر راکوز شو او د فرار لار ئې غوره کړه، الله تعالی د دغې تېښتې په سبب د سیند څپو ته وسپارو او د کب نس ته تېر شو، خو سیند ته د لوېدو په مهال ئې په خپلې غلطۍ اعتراف وکړ چې قرآن دا صحنه په دغو اغېزناکو الفاظو انځوروي:

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾ الانبیاء: ۸۷-۸۸

او هغه کب وال در په یاد کړه چې کله په غصې روان شو او ګمان ئې وکړ چې مونږ به هیڅکله تنګي پرې رانه ولو، نو په تیارو کې ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نشته، پاکې تا لره ده، یقیناً چې زه له ظالمانو یم!! نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسې ژغورو.

د یونس علیه السلام د وینا معنی دا ده: الهي! یوازینی معبود ته یې، زما په اړه ستا پرېکړه عادلانه ده، زه پرې قانع یم او اعتراض نه لرم، اعتراف کوم چې له ما تېرى شوی!!

الله تعالی ورته عفو وکړه، د کب له نسه روغ رمټ ووت، خپل قوم ته ستون شو، هغوی الهي عذاب د نازلېدو په حال کې لیدلی وو، ایمان ئې راوړ او الله تعالی هغه عذاب تم کړ او قرآن فرمايي چې دا یوازینی قوم دئ چې د عذاب پرېکړه ئې معطل او مسترده شوه او دا ځکه چې پیغمبر خپل مأموریت نه وو بشپړ کړی او اتمام حجت نه وو شوی، که نه نو د الله تعالی پرېکړې نه بدلېږي، دا پرېکړې هغسې نه دي لکه چې بایبل ئې د ژر ژر بدلېدو ادعاء کوي!!

راشئ وګورو چې بایبل په دې اړه څه ویلي؟ بایبل لیکي:

(خدای یونس ته دا پیغام ولېږو: د نینوا لوی ښار ته ولاړ شه او اوسېدونکو ته ئې ووایه چې خدای داسې فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه یم، ډېر ژر به مو هلاك کړم!! یونس چې نه ئې غوښتل نینوا ته ولاړ شي، فیصله ئې وکړه چې له خدای ترشیش ته وتښتي!!... په بېړۍ کې سور شو... طوفان راغی، نژدې وه بېړۍ غرقه شي... د دې لپاره پچه واچول شوه چې معلومه شي چا خدای غصه کړی... پچه د یونس په نامه وختله، یونس ئې سیند ته وغورځاوو... ماهي له کومې تېر کړ، درې ورځې د ماهي په نس کې پاته

شو، یونس اوږده دعاء وکړه، خدای ماهي ته امر وکړ چي یونس په ساحل کي وغورځوه او ماهي همداسي وکړل!! خدای بیا یونس ته وویل: نینوا ته ولاړ شه او هغوی ته ووایه چي بد برخلیك درته منتظر دئ!! یونس اطاعت وکړ، نینوا ته ولاړ، چي لوی ښار وو، له یوه سر تر بل سر ئي رسېدل درې ورځي مزل غوښت، موعظه ئې پیل کړه، وئې ویل چي له څلوېښتو ورځو وروسته به ښار وران شي!! پاچا او ټول خلك ووېرېدل، توبه ئې وکړه... خدای هم پر دوی رحم وکړ او هغه بلا ئې دفع کړه!! خو یونس په دې کار سخت ناراضه او غصه شو!!... خدای ته ئې وویل: ما ووژنه! تر دې ژوند مرگ راته غوره دئ!! خدای ورته وویل: آیا دا سم کار دئ چي ته د دې خلکو په ژغورني غصه شوی یې؟ یونس له ښاره ووت چي وگوري څه پرې راځي، ناست وو چي ناڅاپي خدای یو بوټی راشین کړ، په ده ئي خپلي پاڼي وغوړولې، له سیوري ئې خوښ شو، خو سبا دا بوټی وچ شو، یونس په دې کار ډېر خفه شو...خدای ورته وویل: آیا د دې بوټي په وچېدو خفه شوې؟ ده ځواب ورکړ: هو!... خدای ورته وویل: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږي چي په یوه شپه کي راپیدا شو او په بله شپه کي له منځه ولاړ، سره له دې چي تا ئې په راپیدا کېدو کي هیڅ زحمت نه وو ایستلی، نو آیا زما زړه دي د نینوا لپاره ونه سوزېږي چي په هغه کي یوسل شل زره بې گناه ماشومان او ډېر حیوانات اوسېږي)؟!!

په دې اړه څو خبرو ته پام وکړئ:

- د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوم: دلته چي تا خدای ته کومه وینا منسوب کړې، یونس ته ئې ځواب ورکړی او هغه ته ئې ویلي: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږي چي په یوه شپه کي راپیدا شو او په بله شپه کي له منځه ولاړ، سره له دې چي تا ئې په راپیدا کېدو کي هیڅ زحمت نه وو ایستلی، نو آیا زما زړه دي د نینوا لپاره ونه سوزېږي چي په هغه کي یوسل شل زره بې گناه ماشومان او ډېر حیوانات اوسېږي؟!! دا ولي دلته خدای د یونس غوښتنه نه مني، د بابل خلکو ته د سزا په ورکولو کي تلوار نه کوي، د دوی توبه ئې قبوله کړه او عذاب ئې تم کړ؟ سره له دې چي دوی اسرائیلیان نه دي او ستا په وینا د خدای زامن نه دي!! دا وینا ستا د ټولو مخکینیو ویناوو خلاف ده او په ټولو تېرو کتابونو کي دا لومړی او یوازینی وار دئ چي ته خپل خدای ته دا صفت منسوبوې، تر دې د مخه خو تا تل خپل خدای داسي انځور کړی چي د عذابونو له نازلولو خوند اخلي، له اسرائیلیانو پرته د نورو قومونو په وژلو، شړلو او د دوی د کورونو په ورانولو خوشحاله کېږي، هغه پاچایان ئې نه دي بخښلي چي پر نورو قومونو ئې رحم کړی او د دوی د اسیرانو په وژلو کي ئې لټي کړې؟!! د الله تعالی په اړه ستا دا وینا سمه ده که مخکینۍ؟ دا ولي دلته خدای د یوه مهربان ذات په توگه معرفي کوې او نبي د یوه سخت زړي انسان په توگه، خو تر دې د مخه دي خدای سخت زړی او غضبناك معرفي کاوو او نبي زړه سواند؟ فقط یوه وجه په نظر راځي او هغه دا چي نبي باید داسي انځور شي چي د خپل قوم په اړه تعصب لري،

که خدای د اسرائیلیانو په ضد د عذاب پرېکړه وکړي نو نبي ئې باید مخنیوی وکړي او که د اسرائیلیانو د دښمنانو په اړه د کومي پېرزویني پرېکړه کوي نو نبي باید داسي شدید اعتراض وکړي چي خدای ته ووایي: د دې حالت تر لیدو خو دا راته غوره ده چي زه مړ شم!!

- که د بایبل دا کتاب د پیغمبر علیه السلام له بعثت وروسته لیکل شوی وي نو په یقین سره ویلی شو چي دا قصه ئې له قرآن اخستې او په هغې کې ئې کرکجن تصرف او تحریف کړی او که تر دې د مخه لیکل شوی وي نو قرآن د هغې تصحیح کوي او حقیقت ئې په ګوته کوي. د بایبل د تدوین او په اوسنۍ بڼې کې د هغه د خپرولو واضح او یقیني تاریخ نه دئ معلوم، محققین وایي چي احتمالاً له شپږمي تر لسمي میلادي پېړۍ کې دا کار شوی.

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تُؤۡمِنَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَجۡعَلُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿١٠٠﴾

او که ستا رب غوښتي وی نو ټولو هغو (خلکو) به په ګډه ایمان راوړی وو چي په زمکي کي اوسېږي، نو آیا ته خلك دې ته اړباسي چي ایمان راوړونکي شي؟! او هیڅوك نشي کولی چي ایمان راوړي مګر د الله په إذن؛ او پلیتي ئې پر هغو تپلې چي تعقل نه کوي.

(۹۹-۱۰۰)- دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چي د الله تعالی سنت د خلکو د هدایت او لارښووني په اړه داسي نه دئ چي هغوی په ایمان راوړو اړ کړي، که داسي وی نو ټولو به ایمان راوړی وو، پیغمبران هم د دې لپاره نه لېږي چي خلك پر ایمان راوړو مجبور کړي، د دوی دنده دا ده چي خلکو ته د الله تعالی پیغام ورسوي، هغه څوك به ایمان راوړي چي وړتیا ئې لري، د الله تعالی د سننو له مخي د ایمان راوړو وړتیا او استعداد ولري، زړه او دماغ ئې داسي نه وي ګنده شوي چي د ایمان لپاره څه ځای نه وي په کې پاته، دا ځکه چي د الله تعالی د سنت له مخي پلیتي پلیتي ته بلنه ورکوي او په خپلي غېږ کې ئې مني، د پلیت زړه او دماغ دړه د پلیتي لپاره پرانیستل کېږي، څوك چي له تعقل کولو محروم وي د ایمان راوړلو توفیق نه تر لاسه کوي.

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا

**يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠١﴾**

**(ورته) ووایه: وګورئ چې په آسمانونو او زمکې کې څه دي؟ او هغه قوم چې ایمان نه راوړي آیتونه او انذارونه څه ګټه وررسولی شي؟!**

(۱۰۱)- آسمانونه او زمکه خو له بې شمېره لارښود آیتونو او نښو ډک دي، هري خوا ته چې سترګې واړوئ داسي آیتونه به مو تر سترګو شي چې د حقیقت په لوري ستاسو لارښوونه کوي، الله تعالی در په یادوي او د کفر، شرك، عصیان، ګناه او ظلم له بدو پایلو تاسو وېروي، خو دا آیتونه او انذارونه به هغه قوم ته څه ګټه ورسولی شي چې ایمان نه راوړي؟!

**فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ قُلۡ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾**

**نو آیا د هغو خلکو له (سختو) ورځو پرته د بل څه انتظار لري چې تر دوی مخکې تېر شوي؟ (ورته) ووایه: نو انتظار وکړئ چې موږ هم له تاسو سره د منتظرینو په لړ کې یو.**

(۱۰۲)- نو آیا دوی له هغو سختو او بدو ورځو پرته د بل څه انتظار لري چې تر دوی مخکیني ورسره مخامخ شوي؟ ورته ووایه: نو انتظار وکړئ چې موږ هم له تاسو سره د منتظرینو په ډله کې یو، وبه ګورو چې له تاسو سره څه کېږي او له موږ سره څه؟

**ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنجِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾**

**بیا به خپل رسولان او هغه چې ایمان ئې راوړی وژغورو، همداسې پر موږ د مؤمنانو ژغورنه لازمي حق دئ.**

(۱۰۳)- د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دا دئ چې خپل پیغمبران او مؤمنان به ژغوري، دا ئې پر ځان لازمه کړې ده، مؤمنان باید ډاډه او مطمئن وي چې الله تعالی ئې د ژغورنې او بریا ضامن او ذمه وار دئ.

**قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ**

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٥﴾
وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ
فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

**ووايه: اې خلكو! كه زما د دين په اړه په شك كې يئ نو زه د هغه څه عبادت نه كوم چې تاسو ئې له الله پرته عبادت كوئ، خو ليكن د هغه الله عبادت كوم چې ستاسو سا وباسي؛ او پر دې گمارل شوی يم چې له مؤمنانو وم؛ او پر دې چې خپل مخ د دين لوري ته په بشپړه توگه واړوه او له مشركينو مه اوسه؛ او له الله پرته داسي چا ته دعاء مه كوه چې نه گټه دررسولی شي او نه تاوان دررسولی شي؛ او كه دا كار وكړې نو ته به هغه مهال له ظالمانو وې؛ او كه الله كوم زيان درورسوي نو له ده پرته ئې بل لري كوونكی نشته؛ او كه د كومې ښېگڼې اراده درته وكړي نو د ده د فضل هيڅ ټمبوونكی نشته، له خپلو بندگانو ئې چې چا ته خوښه شي وررسوي ئې او هغه مهربان بخښونكی دئ.**

---

(١٠٤-١٠٧)- په دې مباركو آيتونو كې پيغمبر عليه السلام ته او د ده له لارې مؤمنانو ته ويل شوي چې خلكو ته ووايې:

- اې خلكو! كه زما د دين په اړه په شك كې يئ او ايمان نه راوړئ او دا دين نه منئ نو زه د هغه څه عبادت نه كوم چې تاسو ئې له الله پرته عبادت كوئ،
- زه د هغه الله عبادت كوم چې ستاسو سا وباسي، د مرگ او ژوند پرېكړه د ده له لوري كېږي،
- زه پر دې گمارل شوی يم چې له مؤمنانو وم،
- پر دې گمارل شوی يم چې په بشپړه توگه د الهي دين لوري ته مخه كړم او له هغو مشركينو نه وم چې د ژوند په ځينو برخو كې د الله دين ته مخه كوي او په ځينو كې نورو اديانو ته،
- ما ته امر شوی چې له الله تعالی پرته د هغه چا په وړاندې د دعاء لاسونه لوړ نه كړم چې نه گټه رارسولی شي او نه تاوان؛ او راته ويل شوي چې كه دا كار وكړم نو هغه مهال به له ظالمانو وم،

● راته ویل شوي چي كه الله کوم زیان درورسوي نو له ده پرته ئې بل لري کوونکی نشته او كه د كومي ښېګڼې اراده درته وكړي نو داسي څوك نشته چي د ده د فضل مخنیوی وكړي، دا پرېکړه د ده له لوري كېږي چي خپل فضل او رحمت د چا په برخه كړي. هغه مهربان بخښونکی دئ.

---

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

ووايه: اې خلكو! يقيناً چي ستاسو د رب له لوري حق (دين) درته راغی، نو څوك چي په سمه لار روان شي نو بې شكه چي د ځان لپاره په سمه لار درومي؛ او څوك چي بې لاري شي نو د خپل ځان په ضرر بې لاري كېږي؛ او زه پر تاسو څارندوی نه يم. او د هغه څه متابعت وكړه چي وحي ئې درته كېږي او تر هغه صبر وكړه چي الله (وروستۍ) پرېکړه وكړي؛ او هغه تر ټولو غوره پرېکړه كوونکی دئ.

---

(١٠٨-١٠٩)- دا مبارك آيتونه چي د دې سورې لپاره ډېره جامع تتمه او د سورې د ټولو مضامينو لپاره خلاصه ده، پيغمبر عليه السلام ته لاندي لارښووني كوي:

● خلكو ته ووايه: كوم دين چي تاسو ورته بلم د الله تعالى له لوري حق دين دئ.

● څوك چي په هغي سمي لاري روان شي چي دين ئې ورښيي نو ځان ته به ګټه رسوي؛ او څوك چي بې لاري شي نو خپل ځان ته به ضرر رسوي،

● زه پر تاسو څارندوی نه يم ګمارل شوی، زما دنده دا نه ده چي تاسو د دين منلو ته اړ كړم، دنده مي دا ده چي د الله تعالى دا پيغام تاسو ته دروررسوم،

● ما ته امر شوی چي د هغه څه متابعت وكړه چي وحي ئې درته كېږي،

● راته ويل شوي چي د الله تعالى تر وروستۍ پرېکړي پوري صبر وكړه، چي هغه تر ټولو غوره پرېکړه كوونکی دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحیم

## هود

### د سورې پېژندنه

د دې سورې نوم هود دئ، له پنځوسم آيت ئې اخيستل شوی، ۱۲۳ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې په يوه حساب دوه او په بل حساب څلور وزنه لري؛ ځيني ئې خبير او مبين ته ورته او ځيني ئې صدور او يستهزءون ته ورته، چې په دې کې خبير؛ مبين ته او صدور؛ يستهزءون ته نژدې وزن لري. په مکه مکرمه کې او هغه مهال نازله شوې چې د پيغمبر عليه السلام په خلاف د قريشو عداوت او مخالفت زور اخيستی وو؛ دومره چې ځينو ئې غوښتل هغه ووژني، خو د دې لپاره په دې اړه زړه نازړه ول چې وېرېدل د ده ټبر بني هاشم به غبرگون وښيي او دا کار به په اوږدې کورنۍ جگړې منتج شي، د همدې لپاره په دې سوره کې د شعيب عليه السلام د قوم هغه وينا راغلې چې ورته وئې ويل: که ستا ټبر نه وی نو حتماً به مو سنگسار کړی وې. د سورې له متنه دا هم معلومېږي چې دا مهال د قوم يو شمېر بې وزلو، کمزورو او ځلميانو پر پيغمبر عليه السلام ايمان راوړی وو او د قوم مشرانو د ده مخالفت ته کلکه ملا تړلې وه، ځکه په دې سوره کې د نوح عليه السلام د قوم دا وينا راغلې چې ورته وئې ويل: چا چې ستا متابعت کړی له هغو ئې پرته بل څوک نه وينو چې زموږ پرېوتي او بې وزلي دي، (هغه هم) بې سوچه.

که د دې سورې او د يونس د سورې مضامينو ته ځير شو نو راته جوته کېږي چې دا دواړه سورتونه يوه په بلې پسې؛ په ورته ظروفو او شرائطو که نازلې شوې دي. د يونس سوره د (الف لام را) په دريو حروفو پيل شوې او د سورې اساسي مطالب ئې دا دري دي:

- ... ستاسو د رب له لوري حق (دين) درته راغلی، نو څوک چې په سمه لار روان شي نو بې شکه چې د ځان لپاره په سمه لار درومي او څوک چې بې لارې شي نو د خپل ځان په ضرر بې لارې کېږي،...
- د هغه څه متابعت وکړه چې وحي ئې درته کېږي،
- او تر هغه صبر وکړه چې الله (وروستۍ) پرېکړه وکړي او هغه تر ټولو غوره پرېکړه کوونکی دئ.

د هود سوره هم په همدغو دريو حرفو (الف، لام، را) باندې پيل شوې او د سورې

محوري او اساسي مضامين ئې هم درې دي چې خلاصه ئې په آخري آيت کې په دې توګه راغلې:

وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾

- د هغه الله عبادت وکړئ چې په غيب پوه دئ او کارونه ده ته راجع کېږي،
- پر الله تعالی توکل وکړه،
- ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

دا مطالب لومړی د سورې په ابتداء کې په عامه صيغه او مجمله توګه راغلي او وروسته د نوح، هود، صالح، ابراهيم، لوط، شعيب؛ او موسی عليهم السلام په قصو کې انځور شوي، دا قصې په حقيقت کې د دغو اساسي مطالبو لپاره د تاريخي بېلګو په توګه وړاندې شوې. په ټولو کې به وګورئ چې هر پيغمبر خپل قوم ته ويلي:

- د الله تعالی عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نه لرئ،
- هر يوه د ځواکمنو دښمنانو په وړاندې پر الله توکل کړی،
- او الله تعالی د دوی او د دوی د دښمنانو کړنو ته په پام سره وروستۍ پرېکړه کړې، يو ئې ژغورلی او بريا ئې ورپه برخه کړې او بل ئې کلك نيولی، سخته سزا ئې ورکړې او ټغر ئې ورټول کړی.

---

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓر ۚ كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾

ا ل ر ؛ داسې کتاب چې آيتونه ئې د ډېر باخبره باحکمت ذات له لوري کوټلي او بيا سپړل شوي.

---

(١)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې:

● د قرآن آيتونه په سر کې په (محکمه) توګه او بيا په (مفصله) توګه بيان شوي، د (فصلت) له لفظ معلومېږي چې دلته (احکمت) د محدود او مختصر په معنی راغلی، يعني د قرآن آيتونه لومړی په مختصرو او محدودو الفاظو سره يو مطلب زموږ مخې ته ږدي او بيا ئې په بشپړ تفصيل او مزيد وضاحت سره بيانوي. د قرآن د نورو سورتونو په

څېر به په دې سوره کې هم وګورئ چې د سورې په سر کې راغلي اساسي مطالب په وروستيو آيتونو کې توضيح او تشريح شوي او د ګڼ شمېر تاريخي بېلګو او قصو په ترڅ کې ئې تفصيل راغلی.

● دلته د الله تعالی دوه صفات (حکيم) او (خبير) راغلي چې ارتباط ئې له مخکيني مطلب سره داسې د ئ: دا آيتونه په همدې توګه د هغه ذات له لوري نازل شوي چې هم د حکمت خاوند د ئ او هم له هر څه ښه خبر د ئ. نو که غواړئ په حکمت پوه شئ، هر کار او وينا مو حکيمانه وي او له حقائقو خبر شئ نو دا قرآن ځان ته لارښود کړئ.

---

أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ۝٢ وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٖ فَضْلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٖ كَبِيرٍ ۝٣ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٖ قَدِيرٌ ۝٤

دا چې له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، يقيناً چې زه د ده له لوري درته خبرداروونکی او زېری درکوونکی يم. او له خپل پالونکي رب بخښنه وغواړئ بيا د هغه لوري ته مخه کړئ چې تر ټاکلې نېټې غوره برخمن کېدا در په برخه کړي او هر فضلمن ته خپل خپل فضيلت ورکړي او که مخ واړوئ نو يقيناً چې زه د ستري ورځې له عذابه درباندې وېرېږم. بېرته ګرځېدا مو د الله په لوري ده او هغه په هر څه ښه قادر دئ.

---

(۲-٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

د دغو محکمو او مفصلو الهي آيتونو مهمې او اساسي غوښتنې دا دي چې: ۱- له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، ۲- زه د ده له لوري درته خبرداروونکی او زېری درکوونکی يم. ۳- له خپل پالونکي د مخکينيو ګناهونو بخښنه وغواړئ، ٤- له دې وروسته د هغه لوري ته مخه کړئ، ۵- که دا کارونه وکړئ نو تر ټاکلې نېټې به غوره برخمن کېدا در په برخه کړي، ٦- هر فضلمن ته به له هغه سره وړ فضيلت ورکړي، ۷- که مخ واړوئ نو يقيناً چې زه د ستري ورځې له عذابه درباندې وېرېږم، ۸- بېرته ګرځېدا مو د الله په لوري ده، ۹- او هغه په هر څه ښه قادر دئ.

---

أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُواْ مِنْهُۚ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ

مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝٥

پام چې دوی خپلې سينې تاووي چې ترې پټ ئې کړي، پام چې کله خپلې جامې واغوندي هم ئې په هر هغه څه پوهېږي چې دوی ئې پټوي او هم هغه څه چې څرګندوي ئې، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو پوه دئ.

---

(٥)- د دې مبارك آيت به اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- د آيت د لومړۍ فقرې له الفاظو او سياق و سباق معلومېږي چې خبره د هغو کافرانو په اړه ده چې په مخکيني آيت کې د دوی په اړه ويل شوي: فان تولوا: که اعراض وکړئ، دا فقره په همدې لړ کې راغلې او د همدغو اعراض کوونکو له کړنو سره ارتباط لري او ښيي چې دوی د سينې په تاوولو سره د څه پټولو هڅه کوله، غوښتل ئې له الله تعالی څه پټ کړي.
- دا فقره نه د مؤمنانو په اړه ده او نه د منافقينو، دا سوره په مکه کې نازله شوې او په مکي سورتونو کې د منافقينو په اړه هيڅ بحث نه کېږي.

بايد وګورو چې د (سينې تاوولو) او (له الله تعالی د څه پټولو) تر منځ څه تړاو دئ او څه معنی ورکوي. په لږ دقت سره داسې معلومېږي چې په دې سره د کافرانو هغه حالت انځور شوی چې د خپل زړه خبره څرګنده نه کړي، کومه خبره به ئې په زړه کې تاو راتاو کړه خو بيا به ئې له ويلو ډډه وکړه، چې دا به يا په خپله د دوی د غلط دين او مذهب په اړه وه او يا د اسلام د حق دين په اړه، يا به د زوړ دين او مذهب غلطې خبرې ورته معلومې شوې وې او يا به د اسلام په ځينو حقائقو پوه شوي وو خو له اعتراف به ئې ډډه کوله، د دوی دا کار داسې وو لکه چې له الله تعالی ئې څه پټول غوښتل، (لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ) همدا مطلب افاده کوي؛ او الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: که د پردو تر شا او د خپلو برستنو لاندې هم څه يوازې او په پټه يا د بل په شتون کې کوئ الله تعالی پرې پوهېږي، د سينو اسرار له هغه پټ نه پاته کېږي.

د ځينو درنو مفسرينو له لوري د دې آيت لاندې تعبيرونه شوي:

- کافرانو به د پيغمبر عليه السلام د ليدو پر مهال له ډېري غصې او د نفرت څرګندولو په توګه خپلې سينې تاوولې.
- منافقينو به د پيغمبر عليه السلام په ليدو سره سينې داسې تاوولې چې په پټه ترې تېر شي.
- ځينې مسلمانانو به له خبل رب د ډېري حياء په وجه د جماع او قضای حاجت په وخت کې سر او سينه داسې لاندې نيوله چې عورت ئې پټ پاته شي.

په دې اړه نه يوازې د دغو مفسرينو آراء متعارض دي او د آيت له الفاظو سره سمون نه خوري، بلكې روايات هم متعارض دي، حتى عبدالله بن عباس رضى الله عنه ته منسوب روايات هم په خپلو كې تعارض لري، حقيقت دا دئ چې نه دا تعبيرونه د آيت له الفاظو سره اړخ لګوي او نه دا متعارض روايات.

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ۝٦

او په زمكې كې هيڅ داسې خوځېدونكى نشته چې روزي ئې د الله پر ذمه نه وي او هم ئې د تقرر په نېټې پوه دئ او هم د پرېښودو په نېټې، ټول په يوه څرګند كتاب كې دي.

(٦)- كه څه هم ځينو درنو مفسرينو مستقر او مستودع د اسم مكان صيغې نيولې؛ او ليكي چې الله تعالى د ټولو ساكښو د اوسېدا او ستنېدا پر ځاى پوهېږي؛ او بيا د دوى تر منځ په دې اړه كافي اختلافات ګورو چې له دې ځايونو مراد كوم ځايونه دي؟ خو په لږ دقت سره معلومېږي چې دا دواړه صيغې د (مستقبل) په څېر زمان او نېټه افاده كوي، مستقر يعنى د استقرار نېټه او مستودع يعنى د وداع او پرېښودو نېټه، ټولو ژوو ته په دنيا كې د استقرار نېټه او له دنيا د تلو نېټه ټاكل شوې، د همدې دواړو نېټو تر منځ چې هغوى كوم رزق او روزي ته ضرورت لري الله تعالى ئې انتظام ورته كوي، په دې سره نه يوازې د آيت واضح مفهوم تر لاسه كېږي او د دواړو فقرو تر منځ څرګند او دقيق ارتباط جوت كېږي بلكې اختلاف رأى ته هم هيڅ مجال نه پاته كېږي. دا ځكه چې كله څوك د كوم ټولې د روزي او رزق ذمه وار شي نو بايد په دې پوه وي چې كله څوك پر دې ټولې اضافه كېږي او كله ترې كمېږي، همدې ته په پام سره به دوى ته د رزق او روزي انتظام كوي، كله چې د رزق او روزي په اړه بحث كېږي نو د روزي خوړونكو د راتګ او تګ نېټه په پام كې وي نه د دوى د اوسېدو او ستنېدو ځايونه، كه مستقر او مستودع د مكان صيغې ونيولى شي د فقرو تر منځ ارتباط او نظم كې خلل راپيدا كېږي.

دا آيت په اصل كې د همدې سورې د درېيم آيت تفصيل دئ، هلته ويل شوي: بيا د هغه لوري ته مخه كړئ چې تر ټاكلې نېټې (اجل مسمى) غوره برخمن كېدا در په برخه كړي؛ او دلته ويل شوي چې هر ساكښ ته د پيدايښت له هغې ورځې چې الله تعالى ته معلومه ده بيا تر هغې ورځې چې مري او الله تعالى پرې خبر دئ، د هغه لپاره د رزق او روزي انتظام كړى، پوهېږي چې په دې مودې كې هغه څومره رزق او روزي ته ضرورت لري، د همدغه كامل علم له مخې د زمكې د ټولو ژوو لپاره د روزي بند و بست كوي.

دلته بايد دې پوښتنې ته هم ځواب وويل شي چې كه الله تعالى د ټولو ژوو روزي په

خپله ذمه اخیستې ده نو ولې ځیني له لوږې مري؟ ولې ځینو ته زیات ځینو ته لږ؟ ولې د یوې سیمي ښارویو ته یو برابر او په ډېر لږ توپیر سره روزي ورکول کېږي خو د همدې سیمي د انسانانو په روزي کې دومره توپیر وي چې یو له اسرافه مري او بل له افلاسه؟!! آیا دا وېش د الله تعالی له لوري دئ؟ آیا دا وېش د عدالت خلاف نه دئ؟ او آیا دا الله تعالی ته منسوبول جائز دي؟! ځیني خو دې پوښتنو ته دا لنډ ځواب ووایي چې موږ د الله تعالی پر پرېکړو د اعتراض حق نه لرو!! هغه چې له خپل مخلوق سره هره معامله کوي حق ئې دئ؛ نه څوك د پوښتني حق لري او نه د اعتراض، په حکمت ئې یوازي هغه ښه پوهېږي!! که څه هم دا خبري سمي دي خو یوه ئې هم د دې پوښتني صحیح ځواب نه دئ! د صحیح ځواب لپاره باید دا خبري په پام کې ولرو:

الله تعالی د روزي وسائل او اسباب د ټولو ژوو لپاره پیدا کړي، که دا اوبه دي، هوا ده، دانه ده، مېوه ده یا واښه، په ټـر سره د هري سیمي ژوو ته برابره او د دوی د اړتیا وړ رڼا او تودوخه ورکوي، په واورو او باران سره هري سیمي ته د اوبو مناسبه برخه ورکوي، خو له دغو وسائلو د استفادې څرنګوالی ئې دوی ته پرېښی، انسان ته ئې دا واك او اختیار ورکړی چې په وېش کې ئې د عدالت طریقه غوره کوي که د ظلم او بې عدالتۍ!! په انسانانو کې دا د عدالت خلاف توپیرونه د دوی د ظالمانه وېش پایله ده، که هر چا ته د خپل کار او زیار متناسبه بدله ورکړی شي هیڅ عاقل انسان به ځان ته دا حق ورنه کړي چې له داسي وېش په راولاړ شوي توپیر اعتراض وکړي، اعتراض هغه مهال وارد دئ چې په وېش کې د چا زیار او کار ته اعتناء ونه شي، کمعقله خلك د هغې بې عدالتۍ اعتراض الله تعالی ته راجع کوي چې مسئولیت ئې د انسان په غاړه دئ!! د ده تصرفاتو او ظالمانه وېش توپیرونه زېږولي، یو ئې له داسي فقر او مسکنت سره مخامخ کړی چې یوه ګوله وچه مړۍ هم په آسانۍ نشي تر لاسه کولی، پښې ئې لوڅي، تن ئې بربنډ، له لوږې ئې شونډې چاودي او مخ ئې سپېره، اولاد ئې په دوبي کې له تودوخي او په ژمي کې له یخنۍ مري؛ او له بل ئې فرعون او قارون جوړ کړی، نه پوهېږي خپله شتمني څنګه او چیري مصرف کړي!!

دا اعتراض داسي دئ لکه چې څوك د غلا، شوکو، رشوت، ظلم، د بل په حق تېري او د بې وزلو د شتمنیو د غصبولو له لاري د دنګو دنګو مانیو، پراخو زمکو، باغونو؛ او بې شمېره شتمنیو خاوند شي او بل د همدې کس د ظلمونو او تېریو په سبب له خپل هر څه محروم او له فقر سره مخامخ شي نو کمعقله معترض دا ظالمانه وېش الله تعالی ته منسوب کړي او ووایي: الله تعالی ولې هغه دومره شتمن کړی او دا دومره نیستمن؟!! او د ده په ځواب کې کوم بې عقله او ناپوه مفتي ووایي: د الله تعالی په وېش د اعتراض حق نه لرو!! ځواب ئې دا دئ چې دا ستا د ظالمانه وېش نتیجه ده؛ نه د الله تعالی، تا له هغه واك او اختیار غلطه استفاده کړې چې الله تعالی په هغه سره تا ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت درکړی، دا ته یې چې د الله تعالی د حکم خلاف دي یا ظلم کړی یا ظلم ته تسلیم شوی یې، یا دې د ظالم مرسته کړې یا دې مظلوم تر ظلم لاندي یوازي پرېښی!!

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

**او دی هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل؛ او عرش ئې پر اوبو وو، چې تاسو وآزمويي چې کوم يو مو د عمل له مخې تر ټولو غوره دئ؛ او که ته ووايې چې تاسو به له خپلې مړيني وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چې کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له ځرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!**

(۷)- په دې مبارك آيت کې ويل شوي چې الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړل په داسې حال کې چې عرش ئې پر اوبو وو. د دې آيت په تفسير کې د درنو مفسرينو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کېږي، هم په دې اړه چې آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځې مراد دي او که شپږ تکويني مرحلې؟ او هم په دې اړه چې د دې فقرې معنی څه ده چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکې او آسمانونو له پيدايښته مخکې پيدا شوي؟ آيا عرش داسې شی دئ چې د بل څه پر سر ولاړ وي همغسې لکه د زمکې کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چې هغه مهال يوازې اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندې وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو مراد همدا زموږ اوسنۍ د څښلو اوبه دي که دا چې هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ويلې او مائع) وو؟

د دې مبارك آيت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځې) يادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شيانو لپاره وضع کړي، کله چې دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه معنی نه شو اخيستی چې انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسې شی دئ چې د زمکې کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چې زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آيتونو کې چې داسې الفاظ د غيبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آيتونه ويل کېږي، په هغوی کې داسې غيبي شيان چې انسان ورته نوم نه لري په داسې الفاظو ياد شوي چې انسان د ليدل کېدونکو شيانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غيبي شيانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې يو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چې قرآن ئې يو ځای د داسې مودې لپاره راوړې چې زموږ له زرو کلونو سره برابره ده؛ او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کارولې، نو دا شپږ ورځې هم دا زموږ شپږ ورځې نه دي چې نژدې دو اويا ساعتونه کېږي بلکې شپږ

تکويني مراحل دي چي اوړدوالی ئې يوازي الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصيل د الاعراف د سورې د ٥٤ آيت په تفسير کي ولولئ.

● د آيت د دې فقرې (وکان عرشه علی الماء) په اړه درنو مفسرينو بېل بېل آراء وړاندي کړي، د ځينو له تعبير داسي معلومېږي چي ګواکي د الله تعالی عرش د زمکي د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو باندي ئې اوسېدا همغسي وه لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسي حال کي چي نه د الله تعالی عرش د زمکي کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسي ده لکه پر اوبو د زمکي د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چي د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسي شی دئ چي د ودرېدو لپاره کومي آواري سطحي ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومي ستني پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسي څه ته اړ وي؟! دا غلطي انګېرني او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تياره ذهن زېږنده دي چي الله تعالی او عرش ئې د زمکي د سر له مخلوقاتو سره تشبيه کوي، د آيت معنی دا نه ده چي د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسي ولاړ وو لکه د زمکي کوم تخت چي پر اوبو ولاړ وي!! ځوك چي د دې آيت په تعبير کي دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسي پوښتنو سره مخامخ کېږي چي هيڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چي: عرش له اوبو مخکي چېري وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی له عرش مخکي چېري وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟

● د يوه آيت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چي وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکي او وروسته څه ويل شوي؟ که دلته لږ ځير شو نو راته جوته کېږي چي دا آيت له مخکيني آيت سره ژور ارتباط لري، په مخکيني کي ويل شوي چي د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چي د دوی د پيدايښت او مړيني له ټېټي خبر دئ، ورپسې ويل شوي چي الله همغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي، تاسو پوهېږئ چي د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چي له يوه باران راورېږي او لمر ئې زمکي ته رڼا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي؛ او بيا په آسمان او زمکي کي د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چي ورېدا، ذخيره کېدا، د زمکي پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي، چي خبره داسي ده نو بايد پوه شې چي واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ؛ او دا همغه مطلب دئ چي په همدې توګه د العنکبوت په سوره کي په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ

يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ
عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا
لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾ العنكبوت: ٦٠-٦٣

او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ؛ او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چي له خپلو بندګانو ئې چا ته چي ئې وغواړي روزي ورته پراخه کړي او يا ئې ورته محدوده او تنګه کړي، يقيناً چي هغه پر هر څه ښه پوه دئ؛ او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آيتونو کې هم ګورئ چي لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکي د پيدايښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخير (چي شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکي کې د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ويل شوي چي رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چي چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چي د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کې بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.

دې ته مو هم بايد پام وي چي لکه په (على الله رزقها) کې (على) د فوقيت او برواليي په معنی نه شو اخيستی او داسي نه شو ويلی چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکې وايو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (كان عرشه على الماء) کې نه شو ويلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکې بايد ووايو: اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د رزق او روزي وسائل د الله تعالی په واك کې دي.

دې ته مو هم بايد پام وي چي که دا آيت په بل ځای کې راغلی وی او هلته د بحث موضوع د عرش څرنګوالی وی نو قرآن موږ ته وايي چي د متشابه آيتونو د الفاظو داسي تأويل چي د مجازي معنی په ځای ئې په حقيقي معنی د پوهېدا هڅي او لټې ته ورته وي د هغه چا کار دئ چي زړونه ئې بيمار وي، د ايمان او علم خاوندان د دغو آيتونو د الفاظو له تأويل ډډه کوي او وايي چي په تأويل ئې له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، هيڅوك نه پوهېږي چي د عرش او پر اوبو ئې د ودرېدا کيفيت څنګه دئ، خو دلته په حقيقت کې په دې الفاظو سره موږ ته د هغه حالت کيفيت نه دئ انځور شوی بلکې دا مطلب ويل شوی چي د آسمانونو او زمکي له پيدايښته وروسته د الله تعالی په ملك کې او

د ده د واکمنۍ تر عرش لاندې لومړۍ پیدا شوې ماده هغه اوبه دي چې انسانان او نور ژوي ترې پیدا شوي (ځکه قرآن وايي چې هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی: و جعلنا من الماء کل شیء حی)، تر دې مخکینی آیت هم د ژوو د پیدایښت او مرګ او رزق په اړه بحث کوي او دا آیت هم د ټول عالم پیدایښت ته اشاره کوي؛ او تاسو پوهېږئ چې اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي، په دې آیت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالی د ژوو له پیدایښته مخکې د دوی روزي پیدا کړې، داسې لکه د ماشوم له پیدا کېدو مخکې چې د مور په تې کې شیدې ورته پیدا کوي.

ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دا عالم د آسمانونو او زمکې له پیدایښته مخکې د مائع (اوبو) په څېر وو، که څه هم دا تعبیر تر یوه حده د پام وړ دئ، خو دا تعبیر به یوازې په هغه صورت کې د منلو وړ وو چې د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنګوالي بیانول وی، نه ژوو ته روزي ورکول.

دا یو له هغو آیتونو دئ چې اهل ظاهر او هغه خلك ئې له فهم، تفسیر او واضح تعبیر عاجز دي چې په متشابه نصوصو کې راغلي الفاظ د مجازي معنی پر ځای په حقیقي معنی نیسي، د دوی د مسلك له مخې باید د دې آیت دا فقره (و کان عرشه علی الماء) داسې تعبیر کړی شي چې ګواکې د آسمانونو او زمکې له پیدا کېدو مخکې د الله تعالی عرش (تخت) د اوبو پر سر پروت وو!! که پوښتنه وشي چې آیا عرش او اوبه ازلي دي؟ دا عرش د اوبو تر پیدایښت د مخه چېرې او د څه د پاسه وو؟ آیا دلته له اوبو همدغه زموږ د څښلو اوبه مراد دي چې دا خو د آسمانونو او زمکې له پیدایښته ډېر وروسته پیدا شوې او که مراد ترې دا دئ چې دا عالم د مائع او اوبو په څېر ویلي وو؟ د دې الفاظو معنی څه ده چې عرش ئې پر اوبو وو؟!! دغو پوښتنو ته هیڅ ځواب نشي ویلی.

دا آیت موږ ته دا خبره هم کوي چې د ټول عالم د خلقت او پیدایښت اصلي او تر ټولو ستره موخه د انسان آزموینه او د دې آزمېښت له لارې د هغه انسان راڅرګندېدا ده چې د عمل له مخې تر ټولو مخلوقاتو غوره دئ. دا ښیي چې په الهي معیارونو کې د صالح انسان ارزښت څومر لوړ دئ، دا ټول عالم، آسمانونه او زمکه د همدې انسان د راڅرګندېدو لپاره پیدا شوي.

د آیت په پای کې ویل شوي چې له دې ستر حقیقت منکر انسان داسې دئ چې کله ورته ووایې: له خپلې مړینې وروسته به هرومرو راپاڅئ نو حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!! هغه په دې حقیقت له پوهېدو عاجز دئ او څوك چې دا خبره کوي یا ئې مني نو هغه ته داسې برېښي لکه چې کوډې پرې شوې وي.

---

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُۥٓ ۗ أَلَا يَوْمَ

يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٨ وَلَئِنۡ
أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ۝٩ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ
نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ۝١٠

او که عذاب تر يوې ټاکلې نېټې ترې وځنډوو حتماً وايي: څه ئې ځموي؟ پام چي په کومه ورځ ورته راشي په هيڅ توګه به ترې اوړېدونکی نه وي او هغه څه به پرې محقق شي چي ملنډې ئې پرې وهلې. او که انسان ته له خپلي خوا د کومي پېرزويني خوند وروڅکو بيا ئې ترې لري کړو، يقيناً چي (په دې صورت کې) دی حتماً ډېر مأيوس او ناشکره وي او که له هغه وروسته چي کړاو وررسېدلی؛ ده ته د نعمتونو خوند وروڅکو، حتماً وايي چي ستونزي رانه ولاړې، بې شکه چي هغه ډېر خوښي کوونکی او ډېر فخر کوونکی دئ.

---

(۸-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني شوې:

- که له کافرانو هغه عذاب تر يوې ټاکلې نېټې وځنډول شي چي الهي دين ئې د دوی د کفر پايله بولي نو حتماً وايي: دا عذاب ولي نه راځي؟ څه ئې مخه نيسي؟ که دا ګواښونه رښتيني وی تر اوسه به ئې څرك لګېدلی وو!!
- په کومه ورځ چي دا عذاب ورته راشي نو هيڅوك به ئې په هيڅ توګه ترې دفع کولی نشي.
- په کوم څه چي ملنډې وهي حتماً ئې پر سر راپرېوځي.
- انسان داسي دئ چي که الله تعالی له خپلي خوا د کومي پېرزويني خوند وروڅکي او بيا ئې ببرته ترې واخلي نو نه پر مخکيني نعمتونو شکر کوي او نه پر مصيبت او د نعمت په تلو صبر کوي، ژر مأيوسېدونکی او ډېر ناشکره دئ.
- او که له هغه وروسته چي کړاو وررسېدلی؛ ده ته د نعمتونو خوند وروڅکي، نو خپل حقيقي منعم هېر کړي او ګمان کوي چي د سختو ورځو دوران تېر شو، کړاوونه پای ته ورسېدل، بيا به نه راستنېږي او د سوکاليو ورځي به پای نه مومي!! بې شکه چي هغه ډېر کبرجن او په لږ څه ډېر خوشحالېدونکی دئ.

---

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ۝١١

مګر هغه چي صبر ئې وکړ او نېك عملونه ئې وکړل؛ دوی ته بخښنه ده او ستر اجر.

(۱۱)- له پورتنيو بدو خصلتونو هغه څوک خوندي پاته کېږي چي دوه صفتونه لري: صبر او نېك عملونه، چي دوی ته د دوو خبرو زېری ورکول کېږي: بخښنه او ستر اجر.

له دې معلومېږي چي مخکيني بد خصلتونه په هغو کې راولاړېږي چي کم ظرفه، بې صبره او بد عمله وي.

فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾

نو ښايي ته له هغه څه چي تا ته ئې وحي کېږي د ځينو پرېښودونکی يې يا دې سينه پر دې تنگېږي چي وايي: ولې کومه خزانه نه ده پرې نازله شوې يا کومه فرشته ورسره نه ده راغلې؟! ته خو يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې؛ او الله پر هر څه وکيل (څارندوی) دئ.

(۱۲)- د دې مبارك آيت په لارښوونو باندي د ښه پوهېدا لپاره لاندي خبري په پام کې ولرئ:

- د پيغمبر عليه السلام ناپوه مخاطبينو به کله کله داسي ښوده چي ستا له ډېرو خبرو سره موافق يو خو ځيني دي نه شو منلی، که دا خبري په منځ کې نه وی او ته ترې تېر شوی وی نو موږ به حتماً ستا ملگرتيا کړې وه او ستا د نورو خبرو منلو ته به چمتو شوي وو، دلته الله تعالی خپل پيغمبر ته فرمايي چي داسي غوښتنو ته هيڅ اعتناء مه کوه، څه چي درته وحي کېږي له هيڅ برخي ئې مه تېرېږه.
- د جاهلو قومونو يوه ځانگړتيا دا ده چي خپل مشران دوو خبرو ته په پام سره غوره کوي: چي شتمن او د خزانو خاوند وي او پياوړي ساتونکي، حاميان او پلويان ولري، نه ئې اهليت او کفائت ته اعتناء کوي، نه ئې پوهي او علم ته او نه ئې جسمي استعدادونو او توانمنيو ته، د پيغمبر په اړه به ئې ويل: څنگه ومنو چي دا د الله تعالی له لوري د پيغمبر په توگه لېږل شوی چي نه ئې خزانې په واك کې دي او نه ئې ځواکمني فرشتې په خوا کې چي له مخالفينو ئې وساتي او څوك پرېنږدي چي خوا ته ئې ورنژدې شي او تاوان ورورسوي!!

پيغمبر عليه السلام د دوی پر دغو جاهلانه غوښتنو او ويناوو ځورېدو، الله تعالی هغه ته فرمايي: پام چي د دوی غوښتنو او ويناوو ته اعتناء ونه کړې او داسي ونه شي چي د وحي له ځينو برخو تېر شې او د دوی ويناوي دي غمجن کړي، ته يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې، د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو ئې خبروې، نه ئې د ايمان راوړو ذمه وار يې او نه ئې کفيل او څارندوی، الله تعالی د دوی او د هر څه څارندوی دئ.

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ
ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ
أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٤﴾

يا وايي چي له ځانه ئې (په درواغو) جوړ کړی، (ورته) ووایه: د دې په څېر لس له ځانه جوړ شوي سورتونه راوړئ او له الله پرته چي هر څوك راوستی شئ (مرستي ته ئې) دروبلئ که رښتيني یاست. نو که ئې ستاسو بلني ته ځواب درنه کړ نو پوه شئ چي دا د الله په علم سره نازل شوی؛ او دا چي له ده پرته بل معبود نشته، نو آيا تاسو مسلمانېدونکي يئ؟

(١٣-١٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د پيغمبر عليه السلام ځيني ناپوه مخاطبين تر مخکينيو ډېر د شرك، کفر او جهل په ډنډ کي نښتي او له حق سره په مخالفت کي لجوج ول او د پيغمبر عليه السلام په اړه به ئې ويل چي نه دی د الله استازی او پيغمبر دئ او نه ئې وينا وحي او د الله تعالی پيغام، څه چي وايي له ځانه ئې جوړ کړي او خدای ته ئې منسوبوي!! دلته د دغو جاهلانو په ځواب کي ويل شوي: که تاسو په خپلي ادعاء کي رښتيني يئ نو د دې قرآن په څېر خو لس له ځانه جوړ شوي سورتونه راوړئ او له الله پرته چي هر څوك مرستي ته دربللی شئ دروئې بلئ، خو که هيڅا ستاسو مرسته ونه کړی شوه او ستاسو بلني ته ئې ځواب درنه کړی شو نو بايد پوه شئ چي دا کتاب د الهي علم حامل کتاب دئ، هر حکم او هره وينا ئې د عليم خدای له لوري ده، په هر آيت کي به ئې داسي حقائق وموځ چي ښيي دا له هغه الله تعالی پرته د بل چا نشي کېدی چي په هر څه پوه دئ. که نه تاسو د داسي کتاب د وړاندي کولو توان لرئ او نه ستاسو دروغجن معبودان نو بايد پوه شئ چي له الله تعالی پرته بل معبود نشته، نو آيا تاسو مسلمانېدونکي يئ او د دې حقائقو منلو ته غاړه ږدئ؟
- که څه هم ځينو درنو مفسرينو ويلي چي په (فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ) کي خطاب مسلمانانو ته متوجه دئ؛ ګواکي دوی ته ويل شوي چي که کافرانو ستاسو بلني ته ځواب درنه کړ نو پوه شئ چي دا د الله په علم سره نازل شوی، خو دا تعبير د آيت له الفاظو سره هيڅ اړخ نه لګوي، د (کم) ضمير همغو خلکو ته راجع دئ چي په مخکيني آيت کي په (کنتم صادقين) کي او په وروستني آيت کي په (اعلموا) او (انتم مسلمون) کي ورته اشاره شوې، د دې لپاره هيڅ دليل نه مومو چي دلته خطاب مسلمانانو ته راجع وګڼو!!

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چي دا ولي قرآن دلته مخالفينو ته ويلي چي د قرآن په څېر

لس سورتونه راوړئ، په بل ځای کې ئې ویلي چي یوه سوره او په بل ځای کې ئې ویلي چي قرآن ته ورته کتاب راوړئ؟ ځواب ئې دا دئ چي دا بېلې بېلې ویناوې د مسلمانانو حالت ته په پام سره شوې، هر څومره چي د قرآن په اړه د مسلمانانو پوهه او علم زیات شوی او د قرآن پر عظمت لازیات پوه شوي په همدې تناسب مخالفینو ته وینا بدله شوې، په لومړي سر کې ورته ویل شوي چي د قرآن په څېر کوم کتاب راوړئ، بیا ورته ویل شوي چي د قرآن د لسو سوتونو په څېر څه راوړئ او په پای کې ورته ویل شوي چي د قرآن د یوې وړې سورې په څېر څه وړاندې کړئ، دې ګواښ نه یوازې د مسلمانانو په زړونو کې کومه اندېښنه نه ده راولاړه کړې بلکې ډاډه ول چي هیڅوك نشي کولی د قرآن د یوې وړې سورې په څېر څه وړاندې کړي.

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾

څوك چي دنیایي ژوند او سینګار ئې غواړي په همدې کې ئې عملونه ورته بشپړوو؛ داسې چي دوی ته به په کې کمی نه کېږي، دوی هغه دي چي په آخرت کې به له اوره پرته بل څه ورته نه وي؛ او ټول هغه څه ئې حبط او هدر شوي چي په دنیا کې ئې جوړ کړي ول او هغه څه ئې باطل دي چي کول ئې.

(۱۵-۱۶)- دلته څو لارښوونې شوې:

- څوك چي یوازې په دنیایي ژوند باور لري، د دنیا زینت او سینګار ئې یوازینی هدف دئ او په آخرت باور نه لري، له دوی سره د الله تعالی معامله داسې ده چي هم موقع ورکوي خپل کار بشپړ او خپل عمل تر سره کړي او هم ئې د هلوځلو دنیایي نتیجه په بشپړه توګه او له څه کمښت پرته ورکوي. د آیت له الفاظو داسې معلومېږي چي دوی ته به خپل عملونه په بشپړه توګه ورکول کېږي او دا په دې معنی ده چي نه یوازې اجر به ئې عمل ته ورته وي بلکې همغه څه به تر لاسه کوي چي دوی کړي، کله چي د خپلو عملونو سزا وګوري پوه به شي چي دا خو همغه څه دي چي دوی په خپله تر سره کول.

- دوی ته به په آخرت کې له اوره پرته بل څه نه وي، دا فقره له مخکینۍ سره په ارتباط دا معنی ورکوي چي په آخرت کې به هغه اور د دوی په برخه کېږي چي په خپله ئې ځان ته تیار کړی وو، دوی په دنیا کې د فتنو اورونه بل کړي وو او دا دئ اوس به خپل عمل د اور په بڼه کې ګوري.

● په آخرت کې به دوی ته جوته شي او په خپلو سترګو به وګوري چي کارونه ئې بې ثمره او تګلاره ئې غلطه او باطله وه، ټول هغه څه ئې حبط او هدر شوي چي په دنیا کې ئې کول او کومه کړنلاره چي دوی غوره کړې وه د دوزخ په اور منتج او منتهي شوه. که څه هم ځینو مفسرینو (له ما صنعوا) نېك كارونه او له (ما یعملون) بد عملونه مراد کړي او ځینو لا ویلي چي په ما صنعوا کې منافقینو او ریاء کارو مؤمنانو ته اشاره شوې خو دا تعبیرونه نه د آیت له الفاظو سره اړخ لګوي او نه ئې له سیاق و سباق سره.

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ ۚ فَلَا تَكُ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾

نو آیا هغه څوك چي د خپل رب له لوري په څرګندي نښې (متکي) وي او د ده له لوري یو ګواه هم ورپسې شي او ترې وړاندي د موسی کتاب د لارښود او رحمت په توګه (شاهد) وي، دوی ایمان پرې راوړي؟ او له دغو ډلو چي څوك پرې کافر کېږي نو موعد (وعده ځای) ئې اور دئ، نو په اړه ئې په شك کې مه اوسه، یقیناً چي هغه ستا د رب له لوري حق دئ خو لیکن ډېری خلك ایمان نه راوړي.

(۱۷)- په دې مبارك آیت د ښه پوهېدا لپاره څو خبري په پام کې ولرئ:

● دلته خبره بېرته د قرآن په اړه هغه بحث ته ګرځېدلې چي په ۱۳ او ۱٤ آیت کې پیل شوی وو.

● په دې آیت کې پر قرآن د ایمان راوړونکو په اړه ویل شوي: هغه خلك پرې ایمان راوړي چي: ۱- الله تعالی پوهه او بصیرت ورپه برخه کړی، ۲- د الله تعالی له لوری راغلی ګواه او شاهد ئې هم مزید لارښوونه کړې، پیغمبر علیه السلام او د ده په لاس راغلی کتاب ئې لارښود شوی، ۳- او د موسی علیه السلام هغه کتاب ئې هم لارښود دئ چي د خلکو لپاره (امام) او (رحمت) وو.

نو دغه حقیقت ته پام سره باید د قرآن په اړه هیڅ شك ونه لرې او پر دې دي کلك باور وي چي هغه ستا د رب له لوري حق کتاب دئ.

څوك چي د دې کتاب په اړه د کفر او انکار لار غوره کوي دا همغه خلك دي چي موعد ئې دوزخ دئ، یعني دوزخیان له دې حقیقي الهي کتاب انکار کوي او ډېری خلك له همدغو ایمان نه راوړونکو دي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ
ٱلْأَشْهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمْۚ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٨ ٱلَّذِينَ
يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْأٓخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ١٩
أُوْلَٰٓئِكَ لَمْ يَكُونُواْ مُعْجِزِينَ فِي ٱلْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ
أَوْلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلْعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسْتَطِيعُونَ ٱلسَّمْعَ وَمَا كَانُواْ يُبْصِرُونَ
٢٠ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ٢١ لَا جَرَمَ
أَنَّهُمْ فِي ٱلْأٓخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ٢٢

او تر هغه چا به ډېر ظالم څوك وي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء كړې، دوی به د خپل رب په وړاندې حاضر كړی شي او گواهان به وواېي: دا همغه كسان دي چې د خپل رب په اړه ئې درواغ ويل، پام چې پر دغو ظالمانو د الله لعنت دئ، هغه چې د الله له لارې ډډه كوي او كوږوالی ورته غواړي او دوی له آخرت منكر دي، دوی نه په زمكې كې عاجزوونكي (برلاسي كېدونكي) ول او نه ئې له الله پرته هيڅ مرستيالان ول، عذاب به ورته دوه برابره شي، نه پر اورېدو توانېدل او نه ئې ليدنه كولی شوه، دوی همغه دي چې ځان ئې زيانمن كړ او هغه څه ترې ورك شول چې په درواغو ئې رامنځته كول، نو له شك پرته همدا دوی به په آخرت كې زيانمن وي.

---

(١٨-٢٢)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو كسانو ځانگړتياوې بيان شوې چې پر قرآن ايمان نه راوړي:

- تر ټولو ستر ظالم، چې حتی پر الله تعالی هم له دروغجني افتراء ډډه نه كوي.
- كله چې د قيامت په ورځ د خپل رب په وړاندې د محاكمې لپاره حاضر كړی شي نو ټول اړوند گواهان به د دوی په اړه واېي: دا همغه كسان دي چې د خپل رب په اړه ئې درواغ ويل! خو دا شاهدان څه او څوك دي؟ فرشتې، د عالم هر څه، د دوی د بدن غړي، د محشر په ميدان كې راغونډ شوي انسانان؟!! او كه همغه شاهدان چې په مخكيني آيت كې ورته اشاره شوې؟! د آيت له الفاظو معلومېږي چې دا گواهان همغه درې گواهان دي چې په مخكيني آيت كې په گوته شوي.
- دا هغه ظالمان دي چې د الله تعالی د لعنت وړ دي،

- نه يوازي د الله له لاري ډډه کوي بلکې کوږوالی ورته لټوي،
- له آخرت منکر دي،
- نه پر اورېدو توانېدل او نه ئې ليدنه کولی شوه، نه ئې د حق خبري د اورېدو استعداد او حوصله درلوده او نه ئې داسي روښانه سترګي وې چي د حقيقت په ليدو او پېژندو کې د دوی مرسته وکړی شي، په ټول عالم کې له خورو نښو پند واخلي، پر حقيقت پوه شي او د الله تعالی له لوري رالېږل شوي کتاب باندي ايمان راوړي.
- په خپل ژوند کې ئې داسي کړنلاره غوره کړي چي له تاوانه پرته څه په لاس نه ورکوي،
- داسي دروغجن افتراءات کوي چي د حقيقت په ميدان کې به ترې ورك وي،
- د آخرت په ورځ او په الهي محکمې کې به د واقعي زيانمنو په ډله کې ولاړ وي، عذاب به ورته دوه برابره شي،
- د برلاسي په طمع ئې داسي لار غوره کړې چي هيڅکله به ئې آرمان تر سره نه کړي،
- د همدغي غلطي لاري د انتخاب په سبب د عالم د هر څه له تأييد او ملاتړ محروم شوي، په ټول عالم کې له الله تعالی پرته داسي څوك نه مومي چي مرسته، ملګرتيا او ملاتړ ئې وکړی شي.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾

يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او د خپل رب په وړاندي ئې سر ټيټوي دوی جنتيان دي په هغه کې تلپاته.

---

(۲۳)- په دې مبارك آيت کې د جنتيانو څو ځانګړتياوي ښودل شوې: ايمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي او د خپل رب په وړاندي ئې تواضع کړې.

---

مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

د دغو دواړو ډلو مثال داسي دئ لکه ړوند او کوڼ او سترګه ور او اورېدونکی، آيا د مثال له پلوه سره برابر دي؟! نو آيا پند نه اخلئ؟

---

(۲٤)- په دې مبارك آيت کې مخکينۍ دوه ډلې چي د قرآن په اړه د دوی دريځ او غبرګون

په مخکينيو آيتونو کې وڅېړل شو، د يوه کښلي مثال په ترڅ کې داسي انځور شوې لکه يو چي هم ړوند وي او هم کوڼ او بل هم سترګه ور وي او هم ښه اورېدونکی، لکه چي دا دواړه سره برابر نه دي، دغه دواړه ډلي هم سره برابري نه دي، يوه ډله د پوهي، بصيرت او فهم خاوندان دي، دلائل اوري، حقائق درك کولی شي، د ګواهانو د ګواهي په څرنګوالي پوهېږي او د همدې په حکم او غوښتنه پر قرآن ايمان راوړي او پر حقانيت ئې باور کوي او بله ئې هغه ډله ده چي ړندو او کڼو ته ورته دي، نه د بل وينا اوري او نه په خپله لار موندی شي، پر سترګو ئې د جهل يا تعصب پرېږي پردې پرتې دي، زړونه ئې بيمار دي، د حق وينا پرې اغېز نشي کولی، طبيعي ده چي داسي خلك پر قرآن له ايمان راوړلو عاجز دي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ
إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن
قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ
ٱلرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ
أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتْ
عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَٰرِهُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ
مَالًاۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمْ
وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾ وَيَٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْۚ
أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ
أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِيٓ أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيْرًاۖ ٱللَّهُ
أَعْلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمْ إِنِّيٓ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

او يقيناً چي نوح مو د ده د قوم لوري ته ولېږو، (وينا ئې دا وه:) اې زما قومه! زه درته څرګند خبرداروونکې يم، په دې چي له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، زه د يوې دردوونکې ورځي له عذابه درباندي وېرېږم، نو د ده د قوم هغو مشرانو چي کفر ئې (غوره) کړی وو وويل: موږ خو تا يوازي د ځان په څېر يو بشر ګورو او چا چي ستا متابعت کړی له هغو ئې پرته بل څوك نه وينو چي زموږ پرېوتي او بې وزلي

دي، (هغه هم) بې سوچه؛ او پر موږ ستاسو کوم فضيلت مو هم نه ترسترګو کېږي، بلکې د دروغجنو ګمان درباندي کوو. وئې ويل: اې زما قومه! آيا دې ته مو پام دئ چي که زه د خپل رب له لوري په بيّن او روښانه دريځ وم؛ او ما ته ئې له خپل لوري پېرزوينه راپه برخه کړې وي او پر تاسو ئې ليدا ناشونې وي، آيا تاسو په داسي حال کې پرې اړ کولی شو چي کرکه کوونکي يئ؟ او اې زما قومه! له تاسو کوم مال هم نه پرې غواړم، زما اجر له الله پرته پر بل چا نه دئ؛ او زه د هغو ړټونکی هم نه يم چي ايمان ئې راوړی، يقيناً چي دوی له خپل رب سره مخامخېدونکي دي، خو زه تاسو داسي وګړي ګورم چي جهالت کوئ؛ او اې زما قومه! که ئې ورټم نو څوك به مي د الله په وړاندي مرسته وکولی شي؟ آيا پند نه اخلئ؟ او نه دا درته وايم چي د الله خزانې راسره دي او نه په غيب پوهېږم او نه د هغو خلکو په اړه چي تاسو په سپکه سترګه ورته ګورئ دا وايم چي الله به هيڅ خير ورپه برخه نه کړي، الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چي د دوی په سينو کې دي، (که دا خبري وکړم نو) په دې صورت کې به زه له ظالمانو وم.

(۲۵-۳۱)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکينيو اساسي مطالبو لپاره يوه تاريخي بېلګه وړاندي شوې، د نوح عليه السلام او د ده د قوم تر منځ هغه مناقشه د يوه تاريخي مثال په توګه زموږ مخې ته اېښودل شوې چي ښيي نوح عليه السلام خپل قوم ته همغه خبري کړې چي په مخکينيو آيتونو کې ئې پيغمبر عليه السلام ته د کولو امر شوی او د نوح قوم همغه دريځ غوره کړی وو چي قريشو د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت په وړاندي غوره کړی، د آيتونو لارښووني دا دي:

- نوح عليه السلام خپل قوم ته لېږل شوی وو، قوم ته ئې د وينا اساسي برخه دا وه: اې زما قومه! له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، زما دنده دا ده چي د کفر او شرك له بدو پايلو خبرداری درکړم، زه د يوې دردوونکې ورځي له عذابه درباندي وېرېږم.

- د ده د قوم کافرو مشرانو ورته وويل: ۱- موږ خو تا يوازې د ځان په څېر يو بشر ګورو، ۲- يوازې هغه څوك ستا متابعت کوي چي زموږ د قوم پرېوتي او بې وزلي دي، هغه هم بې سوچه او له غور او فکر پرته، ۳- په تاسو کې داسي څه هم نه ګورو چي زموږ په پرتله ستاسو کوم فضيلت او لوړوالی په ګوته کړي، ٤- بلکې د دروغجنو ګمان درباندي کوو.

- د نوح عليه السلام ځواب دا وو: اې زما قومه! آيا دې ته مو پام دئ چي که الله تعالی ما ته لارښوونه کړې وي، زما حالت تاسو ته ثابتوي چي په حقه يم، پر ما ئې دا پېرزوينه کړې وي چي د پيغمبر په توګه ئې غوره کړی يم، خو تاسو پر دغو حقائقو له پوهېدا عاجز

وئ، پر تاسو د دغو ليدا او پوهېدا ناشونې وي، آيا تاسو په داسي حال کې پرې اړ کولی شو چي کرکه کوونکي يئ، له حق ستاسو له کرکې او نفرت سره سره به څنگه دا خبري پر تاسو ومنلی شو؟ او اې زما قومه! له تاسو پر دې دعوت او د حق لوري ته پر بلني کوم مال هم نه غواړم، زما اجر له الله پرته پر بل چا نه دئ، زه د هغو خلکو رټونکی او له ځانه شړونکی هم نه يم چي ايمان ئې راوړی، يقيناً چي دوی له خپل رب سره مخامخېدونکي دي، هلته به څه ځواب وايم، ستاسو دا وينا او غوښتنه جاهلانه ده، چي دوی ته په سپکه سترگه گورئ او رانه غواړئ چي له خپل څنگ ئې وشړم، اې زما قومه! کې ئې ورټم نو څوك به مي د الله په وړاندي مرسته وکولی شي؟ څوك به مي د هغه له عذابه ژغوري، آيا پند نه اخلئ؟ او نه دا درته وايم چي د الله خزانې راسره دي او نه په غيب پوهېږم او نه د هغو خلکو په اړه چي تاسو په سپکه سترگه ورته گورئ دا وايم چي الله به هيڅ خير ورپه برخه نه کړي، الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چي د دوی په سينو کې دي، که دا خبري وکړم نو په دې صورت کې به زه له ظالمانو وم.

- که لږ ځير شئ نو دا به درته جوته شي چي دا خبري د مخکينيو آيتونو شرح او تفصيل دئ.

- دې ته مو هم بايد پام چي دلته د نوح عليه السلام له قوله دا خبره هم شوې چي قرآن ئې په وار وار او په مختلفو الفاظو سره کوي چي نه له الله تعالی پرته څوك په غيب پوهېږي او نه الله تعالی چا ته د خپلو خزانو کلياني ورکړې او د خپل فضل وېش ئې چا ته سپارلی، دلته د نوح عليه السلام له قوله ويل شوي چي خپل قوم ته ئې ويلي: نه دا درته وايم چي د الله خزانې راسره دي او نه په غيب پوهېږم. آيا د يوه مؤمن انسان لپاره دغه صريح او واضح آيتونه کافي نه دي چي هر هغه قول په دېوال ووهي چي کوم انسان ته د علم غيب ثابتولو ادعاء کوي يا څوك د الهي خزانو د تصرف واکمن گڼي؟!!

- دې ته مو هم بايد پام وي چي د قوم مشرانو ته د نوح عليه السلام دا وينا چي زه د هغو خلکو رټونکی او له ځانه شړونکی نه يم چي ايمان ئې راوړی، هغه چي تاسو په سپکه سترگه ورته گورئ، د قرآن د هغې وينا يوه بله بېلگه ده چي وايي د تاريخ په اوږدو کې تل د ټولني کمزورو او بې وزلو خلکو د پيغمبرانو عليهم السلام او خدای پالونکو دعوتگرانو ملگرتيا کړې او د زر او زور خاوندانو د دوی مخالفت ته ملاتړلې.

قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَٰلَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِىٓ إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ

**هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾**

وئې ويل: اې نوح! يقيناً چي له موږ سره دي شخړه وکړه او شخړه دي راسره ښه ډېره کړه، نو که له رښتينو يې هغه څه راوړه چي موږ ته ئې وعده راکوې. وئې ويل: يوازې الله به ئې درته راوړي که ئې وغوښتل او تاسو عاجزوونکي نه يئ؛ او زما خواخوږي به ګټه درونه رسوي که وغواړم چي نصيحت درته وکړم او الله دا وغواړي چي تاسو بې لاري کړي، هغه مو رب دئ او د ده په لوري به ورګرځول کېږئ.

(۳۲-۳٤)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي چي د نوح عليه السلام قوم هغه ته وويل: ستا له جدل او شخړي تنګ شوي يو، خبره ډېره اوږده شوه، نور نو بس ده، که رښتينی يې هغه څه راوړه چي موږ پرې وېروې، که ستا ګواښونه رښتيني وی او په رښتيا موږ د الهي عذاب وړ وی نو دا عذاب به دومره اوږده موده نه ځنډېدو، نوح عليه السلام په ځواب کې ورته وويل: د عذاب نازلېدو پرېکړه يوازې الله تعالی کوي، نېټه ئې هغه په خپله خوښه ټاکې، دا زما په واك کې نه دي، کله چي د عذاب پرېکړه وکړي بيا ئې نه تاسو مخه نيولی شئ او نه بل څوك. زه خو ستاسو خواخوږی يم، خو زما خواخوږي به تاسو ته څه ګټه درورسوي که الله تعالی ستاسو حالت ته په پام سره دا پرېکړه کړې وي چي بې لاري مو کړي، هغه مو رب دئ او د ده په لوري به ورګرځول کېږئ.

**أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴿٣٥﴾**

آيا وايي چي دا ئې له ځانه جوړ کړی؟ ووايه: که دا مي له ځانه جوړ کړی وي نو دا جرم به مي پر ما وي؛ او زه له هغه جرم بې زاره يم چي تاسو ئې کوئ.

(۳۵)- دلته دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا په دې آيت کې خبره د نوح عليه السلام د قوم په اړه ده که د قرآن د مخاطبينو په اړه، چا ويل چي دا ئې له ځانه جوړ کړی؟ که څه هم ځينو درنو مفسرينو دا د نوح عليه السلام قوم ته منسوب کړې خو د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دلته د قصې په منځ کې د معترضه جملې په توګه دا خبره شوې چي آيا د قرآن مخاطبين بيا هم وايي چي دا قرآن تا له خپل ځانه جوړ کړی، همغه خبره کوي چي د نوح عليه السلام لجوج قوم ورته کوله، دوی همغه غلطي تکراروي چي تر دوی مخکينيو کړې او د الله تعالی په عذاب اخته شوي، ته همغه خبره ورته کوې چي نوح عليه السلام خپل قوم ته کړې وه، دوی همغه څه وايي چي د نوح عليه السلام قوم ويل، د هغي شخړي له پايلي هم خبر دي؛ خو سره له دې ستا مخالفت کوي!! نو دوی ته ووايه: که دا مي له ځانه جوړ کړی وي د دې جرم سزا به راکول کېږي او تاسو چي په کوم جرم اخته يئ، د حق مخالفت ته مو همغسي ملا تړلې چي د نوح عليه السلام مجرم قوم

ورته ترلې وه؛ نو زه له هغه جرم بې زاره يم چې تاسو ئې کوئ.

د دې آيت د لومړۍ فقرې الفاظ همغه دي چې تر دې د مخه په ۱۳آيت کې راغلي، د آيت له سياق و سباق هم په څرګنده توګه معلومېږي او د (يقولون) له صيغې او د (قل) له امر هم په ډاګه معلومېږي چې دلته خبره د قريشو په اړه ده او امر پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ، په ډېر تکلف سره کولی شو دا وينا نوح عليه السلام او د هغه قوم ته راجع کړو او دې ته څه ضرورت هم نه تر سترګو کېږي چې د الفاظو واضح او څرګند مفهوم پرېږدو او په تکلف سره داسې معنی ترې واخلو چې له الفاظو سره اړخ نه لګوي!

---

وَأُوحِىَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾

او نوح ته وحي وشوه چې ستا د قوم له هغو (وګړو) پرته چې ايمان ئې راوړی؛ نور به هيڅکله ايمان رانه وړي، نو پر هغه څه مه نهيلی کېږه چې دوی ئې کوي. او زموږ تر نظر لاندې او زموږ د وحي (مطابق) هغه بېړۍ جوړه کړه او د هغو په اړه مه راسره ږغېږه چې ظلم ئې کړی، يقيناً چې دوی غرقېدونکي دي.

---

(۳٦-۳۷)- دا آيتونه د قصې څو برخې زموږ مخې ته ږدي:

- نوح عليه السلام ته وحي وشوه چې نور نو ستا په قوم کې داسې څوک نه دئ پاته چې د ايمان راوړو هيله ئې کېدی شي، په دوی کې د ايمان راوړو وړ کسان همغه وو چې تر اوسه ئې ايمان راوړی.

- د هغه چا له مخالفتونو او پر کفر او شرك د دوی له ټينګار مه مأيوس کېږه چې د ايمان راوړو استعداد ئې خپل شوی.

- زموږ تر نظر لاندې هغه بېړۍ جوړه کړه چې تا ته مو د هغې په اړه وحي کړې.

- د هغو وګړو په اړه مه راسره ږغېږه چې ظلم ئې کړی، مه ئې د بخښنې او مغفرت لپاره دعاء کوه او مه ئې د ژغورنې تلوسه، د دوی مهلت پای ته رسېدلی، غرقېدا ئې يقيني او حتمي ده.

- د آيت له دغو الفاظو (وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا: او زموږ تر نظر لاندې او زموږ د وحي (مطابق) هغه بېړۍ جوړه کړه) معلومېږي چې بېړۍ په لومړي ځل د نوح عليه السلام په لاس جوړه شوې، تر دې د مخه نه چا بېړۍ پېژنده، نه په دې پوهېدو چې کېدی

شي له لرګي داسي څه جوړ شي چي د اوبو پر سر درومي او نه ئې د جوړولو په طريقه پوهېدو.

لكه څنګه چي دلته د بېړۍ د څرنګوالي په اړه هيڅ نه دي ويل شوي؛ د قرآن په نورو آيتونو کي هم په دې اړه نه صريحاً څه ويل شوي او نه تلويحاً، دا ځکه چي له يوه لاړښود الهي کتاب سره دا نه ښايي چي په داسي بې ګټي خبرو خلك مصروف کړي، خو راشئ وګورو چي بايبل په دې اړه څه وايي؟ متأسفانه زموږ ځيني درانه مفسرين د بايبل تر اغېز لاندي تللي او د نوح عليه السلام د بېړۍ په اړه ئې هغه څه ويلي چي محرف بايبل ويلي!! بايبل ليکي: کله چي خدای د انسان فساد او شرارت وليد نو نوح ته ئې وويل: تصميم مي نيولی چي دا خلك هلاك کړم، ځکه چي زمکه ئې له شرارته ډکه کړې، زه به دوی له زمکي سره يو ځای له منځه وړم!! د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: خدای خو زمکه له منځه نه ده وړې، يوازي د وچي څه حيوانات ئې له منځه وړي، الله تعالی به څنګه داسي خبره کوي چي حقيقت ونه لري او عملي نه شي، يا خو د بايبل ليکوال د اصلي انجيل د مطلب په سم او دقيق بيانولو کي ستونزه لري، د دې په ځای چي ووايي: دا خلك او د زمکي پر وچي حيوانات له منځه وړم، غلط الفاظ کاروي او ليکي دا خلك سره له زمکي له منځه وړم!! او يا خو ئې دا هر څه له خپله ځانه ليکلي او دې ته ئې هم پام نه دئ شوی چي دا خبره سمه نه ده!!

ورپسې د نوح عليه السلام د بېړۍ طول، عرض او لوړوالی په ډېر دقت سره ۳۰۰، ۵۰ او ۳۰ ذراع ګڼي او ليکي چي کړکۍ ئې چېري او دروازه ئې چېري وه!! او ادعاء کوي چي دا درې پوړې بېړۍ وه!! معلومه نه ده چي د بايبل ليکوال دا ارقام له کومه تر لاسه کړي؟ او که لږ ځير شو نو ښايي داسي بېړۍ له نوح عليه السلام څو زره کاله وروسته جوړه شوې وي!!

په اووم فصل کي ليکي: بيا خدای نوح ته وفرمايل: ته او کورنۍ دي بېړۍ ته ننوځئ، دا ځکه چي د دې دور په ټولو خلکو کي مي يوازي ته رښتونی او صالح موندلې!! پوښتنه کوو: که د هغه دور په ټولو خلکو کي يوازي نوح عليه السلام رښتونی او صالح انسان وو او د همدې لپاره الله تعالی وژغورو نو زامن او کورنۍ ئې د څه لپاره وژغورل شول؟ آيا هغوی د نوح عليه السلام په خاطر وژغورل شول، که داسي وي نو دا خو له عدالت او انصافه ډېره لري خبره ده، موږ خو هر هغه قاضي ظالم او بې انصافه ګڼو چي د يوه په خاطر بل معاف يا مجازات کړي، مجرم د صالح دوست په خاطر معاف کړي او صالح د مجرم دوست په خاطر مجازات کړي، له عادل الله تعالی خو داسي بې انصافي او غيرعادلانه قضاوت ډېر ډېر لري دئ، موږ ته خو قرآن ويلي چي د نوح عليه السلام مېرمن او زوی هم د غرق شوو په ډله کي ول، دا ځکه چي د ده په څېر صالح نه ول؛ او که دوی هم د ژغورلو وړ او نېك انسانان ول بيا نو د بايبل ليکوال غلط شوی چي ليکي: خدای نوح ته

وويل ته او کورنۍ دې ببړۍ ته ننوځئ دا ځکه چې د دې دور په ټولو خلکو کې مې يوازې ته رښتونی او صالح وموندې!!

بيا ليکي چې خدای نوح ته وفرمايل: اُوه جوړې هغه ځاروي چې غوښه ئې حلاله ده، اُوه جوړې مرغان او يوه جوړه د نورو حيواناتو درسره واخله، چې له طوفانه وروسته د دوی نسل د زمکې پر سر پاته شي، خو په ۲۰ فقرې کې ليکي: له ببړۍ راکوزېدو سره سم نوح د خدای لپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ او د هر حلال حيوان او مرغه ئې يو يو هلته ذبح کړل او خدای د نوح په دې کار ډېر خوښ شو، پوښتنه راولاړېږي: چې يو يو ئې؛ نر يا ښځه ذبح شول نو بيا ئې نسل ځنګه دوام وکړ، دا قرباني خو بايد لږ تر لږه يو کال وروسته شوې وی او نوح عليه السلام تر هغه صبر کړی وی چې دغو حيواناتو او مرغانو بچيان زېږولي وی!! په ١٤ او ١٥ فقرې کې د مخکينۍ ادعاء برعکس ليکي: د هر ډول وحشي او اهلي حيواناتو، مرغانو او خزنده وو يوه يوه جوړه هم له دوی سره ول، په دې سره د بايبل ليکوال خپله مخکينۍ وينا ردوي، هلته د خدای امر داسې ګڼي: اُوه جوړې هغه ځاروي چې غوښه ئې حلاله ده، اُوه جوړې مرغان او يوه جوړه د نورو حيواناتو درسره واخله، دلته د هغې خبرې خلاف وايي: د هر ډول وحشي او اهلي حيواناتو، مرغانو او خزنده وو يوه يوه جوړه هم له دوی سره ول، که داسې وي نو دا مخکې د اُوه اُوه جوړو او يوې جوړې يادول د څه لپاره وو؟ دې ته ئې هم پام نه دئ چې د ټولو حيواناتو يوه يوه جوړه په يوې ببړۍ کې خو پرېږده په ستړې صحرا کې هم نه ځائېږي.

بيا ليکي: او ببړۍ ته د دوی له ننوتو وروسته خدای د ببړۍ دروازه په دوی پسې بنده کړه، ٤٠ شپې ورځې باران ووربدو، ببړۍ اوبو په سر واخيسته او وخوځېده، دومره باران ووربدو چې اوبه د جګو جګو غرونو تر څوکو هم اُوه ګزه واوښتې، د زمکې د سر ټول ژوي هلاك شول، يوازې د دې ببړۍ سورلۍ وژغورل شوې، ۱۵۰ ورځې همداسې زمکه تر اوبو لاندې وه، ۱۵۰ ورځې وروسته ببړۍ د ارارات د غرونو پر سر تم شوه، درې مياشتې وروسته د غرونو څوکې څرګندې شوې او بيا څلوېښت ورځې وروسته نوح د ببړۍ کړکۍ پرانيسته او يو کارغه ئې بهر خوشې کړ، خو کارغه بېرته ببړۍ ته راستون نه شو، بيا ئې يوه کوتره پرېښوده، چې وګوري آيا د کښېناستو لپاره کومه وچه زمکه پيدا کېږي، خو کوترې کوم ځای پيدا نه کړ، دا ځکه چې لا اوبه د زمکې پر سر وې، نوح اُوه ورځې نور صبر وکړ، بيا ئې همغه کوتره خوشې کړه، دا ځل د ماښام لوېدو په وخت کې په داسې حال کې د نوح خوا ته راستنه شوه چې په مښوکې کې ئې د زيتون شنه پاڼه وه، له دې نوح پوه شو چې د زمکې د اکثرو برخو اوبه ناستې دي، يوه اونۍ وروسته نوح بيا همغه کوتره پرېښوده، خو دا ځل هغه بېرته راستنه نه شوه!! د کوترې د خوشې کولو يوه مياشت وروسته نوح د ببړۍ سر لوځ کړ، بهر ئې وکتل او وئې ليدل چې د زمکې سطح وچه شوې، اته اونۍ نورې هم تېرې شوې او بالآخره ټوله زمکه وچه شوه، دا وخت خدای نوح ته وويل: اوس د دې وخت رارسېدلی چې ټول له ببړۍ ووځئ!!)

څوك چي په دې خبرو لږ هم غور وکړي په آسانۍ ورته جوتېږي چي ټولي بې بنسټه او له ځانه جوړي شوې خبري دي، په دې کي لاندي څو خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

که هغه وخت څلوېښت ورځي باران ورېدلی وي، نو د زمکي د بیا وچېدو لپاره حد اکثر څلوېښت ورځي په کار وي خو د بایبل لیکونکی وایي چي نوح علیه السلام نژدې دیارلس میاشتي وروسته د زمکي سطح وچه موندده.!!

که دا بېړۍ د ارارات د غرونو په سر تم شوې وي نو هغه ځای باید په لومړۍ اونۍ کي کاملاً وچ شوی وي، نوح علیه السلام دا دیارلس میاشتي د څه لپاره په بېړۍ کي داسي ایسار وو چي شاوخوا ته د کتلو لپاره ئې د بېړۍ له کړکۍ بهر هم ونه کتل او له کارغه او کوتري ئې کار اخیست چي وګوري چېري وچه زمکه شته که نه؟!! مګر د یوه جګ غره په سر ناست انسان ته د دې ضرورت وي چي د مرغانو په واسطه وچه زمکه معلومه کړي؟ له جګه ځایه خو هم اوبه معلومېږي او هم وچه زمکه!!

بایبل وایي چي نوح له بېړۍ راکوزېدو سره سم د هر ډول څاروي یو یو د قربانۍ لپاره ذبح کړ، حال دا چي ده ته ویل شوي وو چي د دغو څارویو یوه یوه جوړه د دې لپاره په بېړۍ کي درسره واخله چي نسل ئې دوام وکړي خو ده په همغه لومړۍ ورځ د دغو جوړو یو یو ذبح کړ!! د بایبل لیکوال دې ووایي چي په دغو خبرو کي کومه یوه رښتیا ده؟ د دغو حیواناتو نسل څنګه دوام وکړ؟ دا څاروي ئې په بېړۍ کي د ذبح کولو لپاره له ځان سره اخیستي وو که د نسل د دوام لپاره؟!

بیا لیکي: په دغي قربانۍ باندي خدای ډېر خوښ شو او له ځانه سره ئې وویل: زه به بیا د انسان په خاطر چي له ماشومتوبه ئې زړه د ګناه په لوري متمایل وي زمکه لعنت نه کړم او بیا به داسي ټول ژوي له منځه نه وړم!! بایبل مخکي ویلي وو چي الله تعالی د انسان په پیدا کولو پښېمانه شو او دلته ئې ویلي چي د دې طوفان په رالېږلو پښېمانه شو!! دا څکه چي د انسان د ګناهونو لپاره ئې ولي پر زمکي لعنت ولېږو او د زمکي د سر ټول ژوي ئې له منځه یووړل، له دې وروسته به تر قیامت پوري داسي کار بیا نه تکراروي!! او دا څکه چي د انسان ګناه یو طبیعي کار دئ، له ماشومتوبه د ګناه په لوري متمایل وي!! د الله تعالی په اړه دا خبره یوازي یو کافر او بې ایمانه انسان کولی شي او د انسان په اړه دا خبره یوازي هغه په ګناهونو کي تر ستوني غرق ګناهګار انسان کولی شي چي د ګناه لپاره توجیهات لټوي او هڅه ئې دا وي چي ثابته کړي د انسان ګناه کول یوه طبیعي مسئله ده، ګناه له ماشومتوبه ورسره ملګرې وي!! یو با ایمانه انسان به څنګه دا خبره کوي چي نعوذبالله خدای اشتباه کوي، په خپلو کړو پښېمانه کېږي!!

قرآن هم په ځای ځای کي د نوح علیه السلام د قصې څیني برخي رااخلي، خو نه د یوې تاریخي پېښې د بیانولو په منظور بلکي د پند او وعظ په موخه او په ډېري اغیزمني بڼې کي او هلته چي د یوه مطلب د اثبات لپاره د یوې تاریخي بېلګي وړاندي کول مفید

او مؤثر وي. کله چې غواړي دعوتگرانو او مبارزینو ته ووايي: داسې نه چې د خپلې مبارزې په اوږدېدو سره ستړي یا مأیوس شئ او مبارزه نیمگړې پرېږدئ، ستاسو جد نوح علیه السلام نه نیم سوه کاله مبارزه وکړه خو نه ستومانه شو او نه مأیوس او نه ئې له مبارزې لاس واخیست، کله چې غواړي مخاطبینو ته دا خبره وکړي چې د الله تعالی معامله له هر انسان سره د ده د ایمان او عمل له مخې وي نه د ده د نسب له مخې، نو ورته وايي: دا دئ د نوح علیه السلام مېرمن او زوی د خپل عمل په وجه له نورو سره یو ځای غرق شول، له نوح علیه السلام سره د دوی خپلوي ونه ژغورل، کله چې غواړي د حق لارې مجاهدینو ته ډاډ او اطمئنان ورکړي چې الله تعالی به باطل ځواکونه حتماً له ماتې او زوال سره مخامخ کوي که څه هم شمېر ئې زیات او ټوله نړۍ پرې ډکه وي او حق پالونکې به حتماً ژغوري او پر باطل پالونکو به حتماً بریا ورپه برخه کوي که څه هم شمېر ئې لږ وي، نو د نوح علیه السلام قصه ئې د یوې تاریخي بېلگې په توگه مخې ته ږدي.

بایبل تر دې عنوان لاندې (له نوح سره د خدای ژمنه) د ډېرو بې ربطه او رکیکو جملو په ترڅ کې لیکي: بیا خدای نوح او د ده زامنو ته وویل: زه له تاسو سره او ستاسو له راتلونکو نسلونو سره او حتی له ټولو حیواناتو، مرغانو او خزنده وو سره ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم او زمکه به هم بیا د طوفان په واسطه نه ویجاړوم، له تاسو سره زما د دې عهد نښه دا ده چې: خپل قوس قزح (د بوډۍ ټال، هغه لینده ته ورته رنگیني گارې چې د باران په وخت په آسمان کې راڅرگندې شي) په وریځو کې ږدم او دا به زما د هغې ژمنې نښه وي چې له نړۍ سره مې کړې، کله چې وریځې د زمکې پر سر خورې کړم او قوس قزح راڅرگند شي، هغه وخت به ما ته خپله هغه ژمنه رایادېږي چې له تاسو او نورو ژوو سره مې کړې، نو ځکه به بیا نړۍ په طوفان سره له منځه نه ځي!!

دا د بایبل یوه بله لویه بې باکي او جسارت دئ چې د الله تعالی په شأن کې ئې کوي او وايي چې نعوذبالله د خدای حافظه ضعیفه ده، په وریځو کې ئې خپله رنگینه لینده ایښې ده چې د وریځو خورېدو په وخت کې راڅرگنده شي او خدای ته خپله هغه ژمنه ورپه یاد کړي چې له نوح علیه السلام او د ده له زامنو سره ئې کړې وه، که دا نښه نه وی نو کېدی شو یو ځل بیا ئې په طوفان سره دا زمکه او ټول ژوي له منځه وړي وی!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: الله تعالی خو له دغې ژمنې وروسته هم ډېر ډېر ځلې په طوفانونو سره ډېر انسانان او نور ژوي له منځه وړي، کله کله خو ئې شمېر لکونو ته رسېدلی، بایبل خو د الله تعالی له قوله داسې لیکي: ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم!! د بایبل لیکنه ناقصه او غلطه ده که په دې وخت کې نعوذبالله خدای خپله ژمنه هېره کړې او یا قوس قزح نه دئ څرگند شوی؟!!

وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ
مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ
يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

او د بېړۍ په جوړولو لګيا وو؛ او کله چې به د ده د قوم د مشرانو کوم ټولګی پرې تېرېدو خندا به ئې پرې کوله، ده (به ورته) وويل: که تاسو پر موږ خاندئ نو موږ به داسې درباندې وخاندو لکه چې تاسو (نن) راباندې خاندئ. ژر به پوه شئ چې چا ته به داسې عذاب ورپه برخه شي چې سپك به ئې کړي او تلپاتی عذاب به پرې راپرېوځي.

---

(۳۸-۳۹)- دا مبارك آيتونه څو لارښووني موږ ته کوي:

- د الله تعالی له لوري نوح عليه السلام ته وحي شوې وه چې يوه بېړۍ جوړه کړي، د دې بېړۍ څرنګوالی ئې هم ورته ښودلی وو،
- د بېړۍ د جوړولو کار داسې وو چې خلکو به نوح عليه السلام ليدو چې پر جوړولو ئې لګيا دئ،
- کله به چې د قوم مشران له خپلو حاميانو او پلويانو سره پرې تېرېدل نو خندا به ئې پرې کوله، ښايي ويل به ئې چې په سپېره ډاګ او په داسې ځای کې بېړۍ جوړوي چې ترې لرې لرې هم د اوبو څرك نه ترسترګو کېږي،
- ده (به ورته) وويل: که تاسو نن پر موږ خاندئ هغه شېبه به راشي چې موږ به داسې درباندې وخاندو لکه چې تاسو (نن) راباندې خاندئ،
- قوم ته ئې ويلې: ژر به پوه شئ چې چا ته به داسې عذاب ورپه برخه شي چې سپك به ئې کړي او تلپاتی عذاب به پرې راپرېوځي. ښايي دا وينا به ئې د قوم د هغو ګواښونو په ځواب کې وه چې ده ته ئې ويلې: که له خپل دعوت او زموږ پر معبودانو او پلرني دين له نيوکو لاس وانه خلې؛ نو له سخت عذاب سره به مخامخ شې، سپك به شې، له قوم به ورټل شې او سنګسار به شې.

---

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ
وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾

تر هغه چې زموږ حکم راغی او تنور وخوټېدو ومو ويل: له هر يوه دوه ګونې جوړه

په کې سپاره کړه؛ او خپله کورنۍ هم خو له هغه پرته چې په اړه ئې لا دمخه وینا شوې او هغه هم چې ایمان ئې راوړی. او له لږو پرته چا پرې ایمان رانه وړ.

(٤٠)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

د آیت له لومړۍ فقرې دوه خبرې معلومېږي: یوه دا چې نوح علیه السلام ته ویل شوي وو چې تر هغه د بېړۍ په جوړولو او د حق لوري ته د قوم رابللو په کار کې لګیا اوسه چې د الله تعالی له لوري وروستۍ پرېکړه وشي او دوهمه دا چې دا نښه ورته ټاکل شوې وه چې له یوه تنور به اوبه راوخوټېږي، (حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ) همدا مطلب افاده کوي، که څه هم ځینو درنو مفسرینو د دې فقرې ځیني نور تعبیرونه کړي چې له بې ځایه او غیرضروري تکلف نه په کې کار اخیستل شوی، ځینو تنور د یوې چینې او ځینو د ټولې زمکې په معنی اخیستی او ځینو ویلي چې دا د قهر پارېدو لپاره یوه استعاره ده. دا تعبیر په دې دلیل د منلو وړ نه دئ چې (وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ) باید داسي څرګنده نښه وي چې نوح علیه السلام ئې په بېړۍ کې د سپرېدو علامه وګڼي او تیاری پیل کړي، همداسي لکه چې هغه مهال به ده ته د الله تعالی له لوري حکم کېږي چې اوس بېړۍ ته وخېژئ.

له دې وروسته ده ته ویل شوي چې له هر یوه دوه ګونې جوړه په کې سپاره کړه، خو دا نه دي ویل شوي چې له کومو څارویو، د زمکې د سر ټول ځناوران که یوازي هغه څاروي چې خلك ئې په کور کې ساتي؟ د نړۍ د سر ټول ځناوران خو دومره دي چې که یوه یوه جوړه ئې راغونډ کړو نو په یوې ستري بیدیا کې هم نه ځائېږي؛ یوه بېړۍ خو آخوا پرېږدئ او ډېر ئې داسي دي چې نیول او راغونډول ئې انسان ته ګران او حتی محال دي، دا هم نه دي ویل شوي چې په دې طوفان سره ټوله نړۍ داسي په اوبو کې غرقه شوې چې د زمکې د سر لوړ لوړ غرونه هم په اوبو کې پټ شوي او که یوازي هغه سیمه چې نوح علیه السلام او د هغه قوم په کې اوسېدو، په قرآن کې په دې اړه څه نه دي ویل شوي، کومو مفسرینو چې په دې اړه څه ویلي د بایبل له ویناوو متأثره شوي او تاسو ولیده چې د بایبل وینا څومره غلطه او بې بنسټه ده. دا هم باید په پام کې ولرو چې په زمکې کې موجود اوبه؛ که دا د ورېځو په بڼه کې دي، که په سیندونو او بحرونو کې دي او که د واورو په څېر په غرونو او شمالي او جنوبي قطبونو کې دي؛ دومره نه دي چې که راغونډې شي نو ټوله زمکه د لوړو غرونو د څوکو په شمول په کې غرقېدی شي؛ بلکي ارتفاع به ئې د زمکې له سر نژدې دوه نیم کیلومتره وي.

نوح علیه السلام ته دا هم ویل شوي وو چې خپله کورنۍ هم له ځان سره واخله خو له هغه پرته چې په اړه ئې لا دمخه وینا شوې (یعني زوی او مېرمن ئې) چې دوی دواړه به د نوح علیه السلام له ملګرتیا محرومېږي او له قوم سره به یو ځای غرقېږي.

له ده سره به یوازي د مؤمنانو یو وړوکی ټولګی ملګرتیا کوي، قرآن نه وایي چې شمېر

ئې څومره وو، چا چې په دې اړه څه ويلي وينا ئې بې بنسټه ده، قرآن وايي چې د دوی شمېر دومره وو چې په ډکې بېړۍ کې ځای شول، يعني بېړۍ په نورو شيانو ډکه وه، د ده د مؤمنو ملګرو شمېر دومره لږ وو چې په همدې ډکې بېړۍ کې ځای شول.

له دې آيت دا هم معلومېږي چې له نوح عليه السلام سره د ده له ټبر علاوه نور مؤمنان هم ول؛ او دا له يوې خوا د بايبل او اسرائيلي رواياتو دا ادعاء ردوي چې وايي د نوح له طوفان وروسته ټول انسانان د نوح عليه السلام له اولاده پيدا شوي؛ او له بلې خوا د هغو خلکو انګېرنه چې د دغو رواياتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن خلاف خبره کوي، د قرآن نور آيتونه هم دا ادعاء ردوي، لاندې دوه آيتونه دا خبره په ډېر صراحت سره کوي:

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿٣﴾ الاسراء: ۳

د هغو اولاد چې له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل،

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَٱجْتَبَيْنَآۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُ ٱلرَّحْمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدًا وَبُكِيًّا۩ ﴿٥٨﴾ مريم: ۵۸

دوی له هغو انبياءو دي چې الله پرې پېرزوينه کړې، د آدم او د هغو له اولاده چې له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل؛ او د ابراهيم او اسرائيل له اولاده؛ له هغو چې هدايت مو کړل او غوره مو کړل.

ګورئ چې په دغو آيتونو کې د نوح د ملګرو اولاد ويل شوي نه يوازې د نوح اولاد.

---

وَقَالَ ٱرْكَبُواْ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ مَجْر۪ىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾

او وئې ويل: په کې سپاره شئ، هم ئې روانېدا د الله په نامه ده او هم ئې تمېدا، يقيناً چې زما رب حتماً مهربان بخښونکی دئ.

---

(۴۱)- دلته د نوح عليه السلام دا وينا ذکر شوې چې د سفر ملګرو ته ئې وويل: په بېړۍ کې سپاره شئ، هم ئې روانېدا د الله په نامه ده او هم ئې تمېدا، د الله تعالی په حکم به درومي او د ده په حکم به په ټاکلي ځای کې تم کېږي، مه وېره لرئ او مه څه اندېښنه کوئ، که له موږ خطاګاني شوې او دا اندېښنه راسره وي چې الله تعالی مو پرې ونه نيسي، هيله ده زموږ مهربان بخښونکی رب بخښنه راته وکړي او د خپل رحمت او پېرزوينو سيوری پر موږ وغوړوي؛ يقيناً چې زما رب حتماً مهربان بخښونکی دئ. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د مؤمن وېره به له خپلو ګناهونو وي، نه به له طوفانونو وېرېږي او نه ئې له لويو لويو څپو.

وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ كَٱلۡجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي مَعۡزِلٖ يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٖ يَعۡصِمُنِي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيۡنَهُمَا ٱلۡمَوۡجُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ ﴿٤٣﴾

او هغې د غرونو په څېر څپو کې بېول او نوح خپل زوی ته په داسې حال کې بږغ کړ چې هغه گوښی (له نورو بېل) وو: اې زما زوی گیه! له موږ سره سپور شه او له کافرانو سره مه کېږه، وئې ویل: کوم غره ته به پناه یوسم چې له اوبو مې وساتي، وئې ویل: نن د الله له حکم هیڅ ساتونکی نشته مگر (هغه چا ته چې) رحم پرې وشي؛ او څپه ئې تر منځ حائل شوه او له غرقېدونکو شو.

(۴۲-۴۳)- دلته د نوح علیه السلام او د ده د هغه زوی تر منځ د خبرو څرنگوالی په ډېره عبرتناکه توگه انځور شوی چې د خپل زړه سواند پلار ملگرتیا ئې ونه کړه او غرق شو:

نوح علیه السلام او ملگري ئې په بېړۍ کې سپاره شول، د غرونو په څېر څپو کې وخوځېده، نوح علیه السلام خپل زوی ته په داسې حال کې بږغ کړ چې هغه له نورو گوښی او بېل ولاړ وو، هغه ته ئې وویل: اې زما زوی گیه! له موږ سره سپور شه او له کافرانو مه کېږه، خو هغه د دې په ځای چې د خپل زړه سواند پلار وینا ته اعتناء وکړي په ځواب کې ئې ورته وویل: کوم غره ته به پناه یوسم چې له اوبو مې وساتي، نوح علیه السلام ورته وویل: نن د الله له حکم هیڅ ساتونکی نشته، هیڅ څه چا ته پناه نشي ورکولی، یوازې هغه څوك به ساتونکی مومی چې الله تعالی پرې رحم وکړي، په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې مؤمن انسان د اسبابو عالم کې د نورو انسانانو په څېر ټول لازم او ممکن تدابیر نیسي، خو توکل او اعتماد ئې یوازې پر خپل مهربان رب وي او باور ئې دا چې اسباب نه بلکې د الله تعالی پېرزوینه ئې ژغوري.

په همدې خبرو کې بوخت ول چې ناڅاپې ستره څپه د دوی تر منځ حائل شوه او هغه له غرقېدونکو شو.

د (معزل) له لفظ معلومېږي چې نوح علیه السلام خپل زوی له نورو گوښی لیدلی نو ځکه ئې یوازې ده ته بلنه ورکړې، که د ده په خوا کې نور کسان هم وی نو نوح علیه السلام به ټولو ته په بېړۍ کې د سپرېدو بلنه ورکړې وه.

له دې آیت دا هم معلومېږي چې طوفان دومره ستر وو چې څپې ئې غرونو ته ورته وې او د سیمې غرونو ته په ختو سره هم څوك نه شو ترې ژغورل کېدی.

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

او وويل شول: اې زمکې! خپلې اوبه غورپ (تېرې) کړه او اې آسمانه! درتم شه؛ او اوبه کښېناستې او کار پای ته ورسېد او پر جودي کښېناسته او وويل شو: پر دې ظالم قوم دې ورکاوی (لعنت، رټنه او مرگ) وي.

(٤٤)- الله تعالی د نوح علیه السلام د قوم له غرقېدا او د طوفان له تم کېدا وروسته زمکې ته وفرمايل چې خپلې اوبه ببرته غورپ او تېرې کړه او آسمانه ته ئې امر وکړ چې د اوبو ورول بند کړه، د زمکې د سر اوبه کښېناستې او د دغه کافر او ظالم قوم په اړه د الله تعالی پرېکړه تر سره شوه، کار ئې پای ته ورسېد او بېړۍ د جودي پر غره کښېناسته او د هلاك شوو په اړه مناسبه وينا دا وه چې پر دې ظالم قوم دې ورکاوی او لعنت وي.

د عراق په شمال کې له موصل بر يو غر د جودي په نامه يادېږي چې ښايي دا همغه غر وي چې د نوح علیه السلام بېړۍ پرې ناسته وه، که دا صحيح وي نو بيا خو د نوح علیه السلام د دعوت سيمه همدا وه.

او ښايي قرآن د جودي غر يادونه په دې خاطر کړې وي چې د بايبل دا ادعاء تکذيب کړي چې وايي د نوح علیه السلام بېړۍ د ارارات پر غره کښېناسته.

وَنَادَىٰ نُوحٞ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾

او نوح خپل رب ته ږغ (لوږ) کړ او وئې ويل: اې زما ربه! زما زوی خو زما له کورنۍ وو؛ او ستا وعده رښتينې ده؛ او ته تر ټولو غوره حکم کوونکی يې، وئې فرمايل: اې نوح! هغه ستا له ټبره نه دئ، هغه يو ناصالح شی دئ، نو له ما د هغه څه په اړه مه پوښته چې نه پرې پوهېږې، زه د دې وعظ درته کوم چې (داسې نه چې) له جاهلانو شې! وئې ويل: اې زما ربه! زه له دې پناه دروړم چې د هغه څه غوښتنه درنه وکړم چې نه پرې پوهېږم؛ او که بخښنه راته ونه کړې او پېرزوينه راباندې ونه کړې له

زيانمنو به شم.

(۴۵-۴۷)- دلته د نوح علیه السلام هغه وينا زموږ مخې ته ایښودل شوې چې د خپل غرق شوي زوی په اړه ئې د الله تعالی په وړاندي کړې وه، د الله تعالی له لوري ځواب او د نوح علیه السلام د وينا الفاظ دومره اغېزناك دي چې د انسان زړه رېږدوي او په سترګو کې ئې اوښکې رغړوي:

نوح علیه السلام د الله تعالی هغې وعدې ته په پام سره چې د ده د ټبر او مؤمنو ملګرو د ژغورنې په اړه ئې ورسره کړې وه او ګمان ئې دا وه چې یوازي مېړمن به ئې شاته پاته کېږي او له قوم سره به يو ځای غرقېږي، کله چې د خپل زوی غرقېدا ګوري نو وايي: اې زما ربه! زما زوی خو زما له کورنۍ وو او ستا هغه وعده هم رښتينې ده چې زما د ټبر د ژغورنې په اړه دې راسره کړې وه، ستا پر پرېکړې هم اعتراض نه لرم، ته تر ټولو غوره حکم کوونکی یې، د ډېر ادب په وجه دا خبره هم نه کوي چې زما زوی ولې غرق شو، الله تعالی هغه ته په ځواب کې وفرمایل: اې نوح! هغه ستا له ټبره نه دئ، هغه يو ناصالح شی دئ، ستا د ټبر او کورنۍ اصلي غړي صالحان دي، د داسې چا په اړه له ما غوښتنه مه کوه چې له ورتیاوو ئې خبر نه یې، یعني له دې خبر نه یې چې ستا زوی د هلاکت وړ وو که د نجات، د یوه نااهله انسان په اړه سپارښتنه د ناپوهانو کار دئ، د ناصالح انسان په سزا خفګان ښودل د ناپوهۍ نښه ده، یوه ناصالح انسان ته د خپلوۍ په وجه د خپلې کورنۍ د غړي په سترګه کتل د پوهانو کار نه دئ، زه د دې وعظ درته کوم چې داسې نه چې له جاهلانو شې! وئې ویل: اې زما ربه! زه له دې پناه دروړم چې د هغه څه غوښتنه درنه وکړم چې نه پرې پوهېږم او که بخښنه راته ونه کړې او پېرزوینه راباندې ونه کړې له زيانمنو به شم.

دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې د مؤمنانو دوستي او دښمني، خواخوږي او بې زاري، زړه سوی او کرکه، ولایت او برائت؛ له خپل او پردي سره د ایمان له مخې وي، مؤمنان او صالحان ئې دوستان وي او خواخوږي ورسره لري که څه هم له نسبي پلوه پردي وي؛ او له ناصالح وګړو سره خپلې اړیکې شلوي که څه هم د ده نژدې خپلوان وي.

دا آيت دا لارښوونه هم موږ ته کوي چې مشرك، کافر او نااهله انسان ته حتی د پیغمبرانو علیهم السلام سپارښتنه او خواخوږي هم ګټه نه رسوي، الله تعالی له هر چا سره د ده د ایمان او عمل له مخې معامله کوي، نه ئې نسب ته ګوري او نه د چا د سپارښتينې او شفاعت په سبب د سزا وړ مجرم له مجازاته تېرېږي. نېکان او د الله تعالی نازولي دوستان نه یوازي د داسې مجرم له شفاعته ډډه کوي بلکې که دا اشتباه ترې وشي نو فوراً توبه کوي او له الله تعالی بخښنه او مغفرت غواړي.

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهْبِطْ بِسَلَٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ ۚ وَأُمَمٌ

سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾

وويل شول: اې نوح! زما له لوري له سلامتيا او هغو برکتونو سره کوز شه چې پر تا او هغه ډلو (نازل شوی) دئ چې له تاسره دي. او ځيني ډلې داسي دي چې (د دنيا له متاع به ئې) برخمن کړو بيا به زموږ په دردوونکي عذاب اخته شي.

(٤٨)- له بېړۍ د کوزېدو پر مهال؛ نوح عليه السلام ته د الله تعالی له لوري وويل شول چې اوس نو په داسي حال کې له بېړۍ يا له هغه لوړي کوز شه چې بېړۍ پرې ناسته ده، زما له لوري دي پر تا او ټولو هغو کسانو سلامتيا او برکتونه وي چې له تا سره ئې ملګرتيا وکړه. خو له تاسو علاوه ځيني نور وګړي داسي دي چې د دنيا له متاع به ئې تر يوې نېټې برخمن کړو بيا به زموږ په دردوونکي عذاب اخته شي.

د آيت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چې د نوح عليه السلام له غرق شوي قوم او ژغورل شوو ملګرو علاوه د زمکي پر سر داسي قومونه ول چې لا ئې د تعذيب پرېکړه نه وه شوې، دا فقره د هغو درنو مفسرينو رأيه تأييدوي چې وايي د نوح عليه السلام په طوفان کې نه ټوله نړۍ غرقه شوې او نه د زمکي د سر ټول انسانان.

تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾

دا هغه غيبي خبري دي چې تا ته مو وحي کړې، نه ته تر دې مخکي پرې پوهېدې او نه ستا قوم، نو صبر وکړه چې يقيناً نېکه پايله د متقيانو ده.

(٤٩)- دلته يو ځل بيا دا خبره تکرار شوې چې پيغمبر عليه السلام په غيب نه پوهېدو، د دغو آيتونو له راتلو مخکي له ټولو هغو خبرو بې خبره وو چې په مخکينيو آيتونو کې د نوح عليه السلام په اړه راغلې، په دې خبرو نه دی پوهېدو او نه د ده په قوم کې بل څوك، يعني په نړۍ کې بل داسي څوك هم نه وو چې له دې قصې په دې توګه خبر وو او ده ترې اورېدلې وي.

په دې مبارك آيت کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې د نوح عليه السلام دا قصه کافي ده چې ته هم د قريشو د مخالفتونو په وړاندي بې حوصلې نه شې، خپل صبر له لاسه ورنه کړې او ډاډه وې چې ستا او ستا د متقي ملګرو نېکه پايله به همغسي وي لکه د نوح عليه السلام او د ده د مؤمنو ملګرو.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ إِنۡ

أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ يَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى
فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُرْسِلِ
ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾

او د عاد په لوري (مو) د دوی ورور هود (ولېږو)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود درته نشته، تاسو یوازي افتراء کوونکي یئ، اې زما قومه! له تاسو هیڅ بدله پرې نه غواړم، زما بدله یوازي پر هغه ده چي زه ئې پیدا کړی یم، نو آیا تعقل نه کوئ؟ او اې زما قومه! له خپل رب بخښنه وغواړئ، بیا ورته مخه کړئ؛ چي آسمان درباندي په شېبو شېبو وربډونکی ولېږي (پرانیزي) او ځواك مو لازیات ځواکمن کړي؛ او جنایتکاران مه جوړېږئ.

---

(۵۰-۵۲)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي چي هود علیه السلام په خپل قوم کې مبعوث شوی وو، د دعوت اساسي ټکي ئې دا وو:

- د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود درته نشته،
- تاسو چي کوم معبودان ځان ته غوره کړي، ستاسو د لاس او ذهن زېږنده دي، د دوی په اړه چي څه وایئ له درواغو پرته بل څه نه دي،
- له تاسو د دعوت او نصیحت په مقابل کې هیڅ بدله نه غواړم، د هغو خلکو په څېر نه یم چي له دین دکان او له مذهب دام جوړوي او د دین او مذهب په نامه له خلکو څه غواړي، تاسو مي گورئ چي له الله تعالی پرته له هیچا طمع نه لرم او څه نه ترې غواړم،
- آیا د یوه عقلمن انسان لپاره دا کافي نه ده چي کله گوري یو انسان د حق لوري ته خلك بلي، خلك په ښېگڼو گماري او له بدو ئې منع کوي، د الله تعالی لپاره کړاوونه گالي، له الله پرته له هیچا څه طمع نه لري، له هیڅ انسان څه بدله نه غواړي، نو باور وکړي چي دا انسان په خپلي دعوی کې صادق او رښتینی دئ؟!
- له خپل رب د مخکینیو گناهونو بخښنه وغواړئ،
- له دې وروسته خپل رب ته مخه کړئ،
- که دا کارونه وکړئ نو الله تعالی به د آسمان د برکتونو دروازې ستاسو پر مخ پرانیزي؛ او لازیات به مو ځواکمن کړي، یعني د رزق د پراخوالي او د عزت او قوت د زیاتوالي لار دغه ده، له نورو لارو ئې نه شئ تر لاسه کولی.
- او جنایتکاران مه جوړېږئ.

دا اساسي خبري نه يوازي د هر پيغمبر د دعوت خلاصه دي بلكه د دې سورې د لومړۍ برخي لپاره د يوې بلې تاريخي بېلګې په معنى دي.

قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ
بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ
وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا
تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ
بِنَاصِيَتِهَآۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُم مَّآ
أُرۡسِلۡتُ بِهِۦٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ
رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴿٥٧﴾

وئې ويل: اې هوده! موږ ته دي كومه څرګنده نښه نه ده راوړې؛ او موږ ستا په وينا د خپلو معبودانو پرېښودونكي نه يو؛ او پر تا ايمان راوړونكي هم نه يو، له دې پرته بل څه نه وايو چي زموږ ځينو معبودانو وهلى او شويولى يې (تاوان ئې دررسولى)، وئې ويل: زه الله ګواه نيسم او تاسو هم ګواه اوسئ چي زه له ټولو هغو بې زار يم چي تاسو ئې (له الله سره) شريكوئ، له ده پرته، نو ټول په ګډه زما په ضد پټ تدبير وكړئ بيا مهلت مه راكوئ، يقيناً چي ما پر خپل رب او ستاسو رب الله باندي توكل كړى، هيڅ داسي خوځېدونكى نشته چي دى ئې د تندي د وېښتانو نيوونكى نه وي، يقيناً چي زما رب په سمي لاري دئ، نو كه مو مخ واړاوو (پوه شئ چي) ما هغه څه په يقيني توګه دررورسول چي ستاسو په لوري له هغه سره رالېږل شوى يم، زما رب به له تاسو پرته بل قوم ځاى ناستى كړي او هيڅ ضرر نه شئ وررسولى، يقيناً چي زما رب په هر څه ساتونكى دئ

(۵۳-۵۷)- دا مبارك آيتونه د هود عليه السلام او د هغه د قوم تر منځ د رد و بدل شوو خبر لاندي برخي زموږ مخي ته ږدي:

- هغوى ورته وويل: ۱- موږ ته دي داسي كومه څرګنده نښه نه ده راوړې چي ثابته كړي ته د الله تعالى له لوري د پيغمبر په توګه رالېږل شوى يې او خبري دي رښتيني دي، ۲- موږ ستا په وينا د خپلو معبودانو پرېښودو ته تيار نه يو، ۳- پر تا ايمان راوړونكي هم

نه یو، ٤- له دې پرته بل څه نه وایو چې زموږ ځینو معبودانو وهلی او شویولی یې او تاوان ئې دررسولی، یعني زموږ کوم معبود وهلی یې، د کوم پیر او فقیر آزار دررسېدلی، کوم زیارت شویولی یې، د کوم یوه په وړاندي دي بې ادبي کړې او هغه دربانديي غصه شوی او له عقله ئې بې برخي او بربنډ کړی یې.

- هود علیه السلام هغوی ته په ځواب کې وویل: ١- زه الله گواه نیسم او تاسو هم گواه اوسئ چي زه له ټولو هغو دروغجنو معبودانو بې زار یم چي تاسو ئې له الله تعالی سره شریکوئ، له ده پرته هیڅ معبود نه منم، دا د دوی د دې خبري ځواب وو چي ستا په وینا خپل معبودان نه پرېږدو، یعني تاسو هم گواه اوسئ چي زه له ټولو هغو دروغجنو معبودانو بې زار یم چي تاسو ئې له الله تعالی سره شریکوئ، ٢- ټول په گډه راغونډ شئ او زما په ضد خپل پټ تدبیر وکړئ او ما ته هیڅ مهلت مه راکوئ، ٣- ما پر هغه الله توکل کړی چه هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، ٤- په ټول عالم کي هیڅ داسي خوځېدونکی نشته چي واگي ئې د الله تعالی په لاس کي نه وي، داسي لکه چي د تندي له وېښتانو ئې نیولی وي او هري خوا ته چي وغواړي خوځوي ئې، تاسو به څنگه د الله تعالی د ارادې خلاف ما ته کوم تاوان ورسولی شئ؟ ٥- یقیناً چي زما رب په سمي لاري دئ، یعني د هغه هره پرېکړه سمه ده، هر څه چي کوي سم ئې کوي، په سمي لاري د تلونکو مل دئ، هغه څوك یوازي نه پرېږدي چي په سمي لاري روان وي، څنگه گمان کوئ چي ستاسو د کید او پټو تدبیرونو په وړاندي به مي یوازي پرېږدي؟ ٦- که مو مخ واړاوو نو پوه شئ چي ما هغه څه په یقیني توگه دررسول چي تاسو ته ئې د رسولو لپاره رالېږل شوی وم، ما خپله دنده سر ته ورسوله، د الله تعالی پیغام مي دررسولو، ٧- که مخالفت ته دوام ورکړئ نو زما رب به تاسو له منځه یوسي، ستاسو پرځای به بل قوم ځای ناستی کړي؛ او دا د دوی د هغي خبري ځواب دئ چي ویل ئې: پر تا ایمان راوړونکي نه یو، ٨- تاسو په خپل مخالفت سره الله تعالی او د هغه دین ته هیڅ ضرر نه شئ رسولی، ٩- یقیناً چي زما رب د هر څه ساتونکی دئ، هغه به هم زما ساتنه کوي او هم زما د مؤمنو ملگرو او هم د خپل دین.

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَٰهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

او کله چي زموږ حکم راغی (صادر شو)؛ په خپل رحمت سره مو هود او هغه کسان چي له ده سره ول او ایمان ئې راوړی وو وژغورل؛ او له سخت عذابه مو وژغورل.

(٥٨)- کله چي د هغه کار وخت راورسېد چي الله تعالی ئې د کېدو پرېکړه کړې وه، نو هود علیه السلام او د هغه مؤمن ملگري ئې وژغورل، خو دا له هغه سخت عذاب ژغورنه وه چي د ده د کافر قوم په برخه شو.

وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٥٩﴾ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ﴿٦٠﴾

او دا (همغه) عاد دئ چي د خپل رب له آيتونو ئې انکار وکړ او له خپلو پيغمبرانو ئې سرغړاوی وکړ او د هر جابر او سرکش متابعت ئې وکړ. هم په دې دنيا کې لعنت ورپسې شو او هم د قيامت په ورځ، پام چي عاديانو د خپل رب په اړه کفر وکړ، پام چي د هود قوم عاد ته ورکاوی او لري والی دئ.

(٥٩-٦٠)- دا آيتونه موږ ته وايي چي عاديان د دغو دريو کارونو په سبب له هغه دردناك برخليك سره مخامخ شول، په دنيا او آخرت کې لعنت؛ او د الله تعالى له رحمته لري والی ئې په برخه شو: ١- د خپل رب له آيتونو ئې انکار وکړ، ٢- له خپلو پيغمبرانو ئې سرغړاوی وکړ او ٣- د هر جابر او سرکش مشر متابعت ئې وکړ.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ﴿٦١﴾

د ثمودیانو لوري ته مو د دوی ورور صالح (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود نه لرئ، ده له زمکې راپاڅولئ او په همدې کې ئې آباد او استوګن کړئ، نو بخښنه ترې وغواړئ بيا د ده لوري ته مخه کړئ، يقيناً چي زما رب د دعاګانو منونکی نژدې دئ.

(٦١)- دلته د صالح عليه السلام قصه د يوې بلې تاريخي ببلګې په توګه زموږ مخې ته راځي، دا آيت د صالح عليه السلام دعوت په دغو څو خبرو کې خلاصه کوي:

١- د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود نه لرئ، ٢- ده له زمکې راپاڅولئ او په همدې کې ئې آباد او استوګن کړئ، يعني ستاسو پيدايښت له دې زمکې دئ، الله تعالى ستاسو جد آدم عليه السلام له دغې زمکې پيدا کړ، تاسو ئې هم له دغې زمکې پيدا کړي يئ؛ ځکه چي ستاسو د وجود ماده او ستاسو نطفه د دغې زمکې له توکو جوړېږي، ٣- له الله تعالى د خپلو مخکينيو ګناهونو بخښنه وغواړئ، ٤- له دې وروسته د ده لوري ته مخه

کړئ، ۵- یقیناً چې زما رب د دعاءګانو منونکی او خپلو بندګانو ته نژدې دئ. د الله په اړه ستاسو دا انګېرنه غلطه ده چې وایئ: دا بتان زموږ او الله تر منځ د وسیلې او واسطې لپاره دي، د دوی له لاري خپلې دعاءګانې او عرائض الله تعالی ته وړاندې کوو، صالح علیه السلام هغوی ته وایي: الله قریب او نژدې دئ، هر یو ئې په خپلې خوا کې موندلی شي، هر چا ته د غاړې تر رګ ورنژدې دئ، دعاءګانې اوري او قبلوي ئې، د بندګانو دعاءګانې په خپله مخامخ او بلاواسطې اوري او مني ئې. تاسو چې له الله تعالی پرته د کوم څه عبادت کوئ، که بت دئ او که قبر او زیارت؛ او د دوی د لمانځلو وجه دا ښیئ چې له دې لاري الله تعالی ته خپل عرائض وړاندې کوو، دوی د خدای او انسان تر منځ واسطه او وسیله ګڼئ؛ اشتباه کوئ، نه الله تعالی داسې واسطې ته اړ دئ او نه تاسو داسې وسیلې ته.

---

قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

وئې ویل: اې صالح! ته خو تر دې دمخه په موږ کې داسې وې چې هیله درته کېده، آیا له دې مو منع کوې چې د هغه څه عبادت وکړو چې زموږ پلرونو لمانځل؛ او موږ خو په یقیني توګه د هغه څه په اړه په شکمني بد ګمانۍ کې یو چې ته مو ورته بلې.

---

(٦٢)- دا آیت د صالح علیه السلام د قوم ځواب په څو ټکیو کې راخلاصه کوي:

۱-ته خو تر دې دمخه زموږ په ټولني کې داسې وې چې ډېرو ستا په اړه نېکې هیلې درلودې، ته چې څه وایې دا ستا په خبر له یوه انسانه ډېرې لرې دي ۲- آیا موږ د هغه څه له عبادته منع کوې چې زموږ پلرونو لمانځل، ۳- موږ خو په یقیني توګه ستا په ویناوو شك لرو، داسې شك چې موږ ته بد بد ګمانونه راولاړوي.

---

قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴿٦٣﴾ وَيَٰقَوْمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةًۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِيٓ أَرْضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾

وئې ویل: اې زما قومه! آیا پام مو دئ چې که زه د خپل رب له لوري په بین او روښانه دریځ وم؛ او ما ته ئې له خپل لوري پېرزوینه راپه برخه کړې وي، نو څوك به مې د الله په وړاندې مرسته وکړی شي که ئې سرغړاوی وکړم؟ نو ما ته له زیانمنولو

پرته بل څه نه شئ زیاتولی. اې زما قومه! دا اوښه د الله (له لوري) ده، تاسو ته د يوې نښې په توګه، نو پرې ئې ږدئ چې د الله په زمکې کې وڅرېږي؛ او هيڅ تاوان مه وررسوئ که نه نو په نژدې عذاب به اخته شئ.

(٦٣-٦٤)- قوم ته د صالح عليه السلام ځواب دا وو: آيا پام مو دئ چې که زه په حقه يم، تګلاره مې سمه او دريځ مې همغه وي چې الله تعالی راته غوره کړی او په دې باندې روښانه او ښرګند دليل ولرم او الله تعالی پر ما دا پېرزوينه کړې وي چې د پيغمبر په توګه ئې غوره کړی يم، نو که ستاسو د مخالفتونو او غلطو غوښتنو په سبب د خپل رب له لارښوونو سرغړاوی وکړم؛ څوك به مې د الله په وړاندې مرسته وکړی شي؟ تاسو مې داسې څه ته بلئ چې له زيانمنولو پرته بل څه نه شي راته زياتولی. اې زما قومه! تاسو د معجزې غوښتنه وکړه؛ دا ده الله تعالی دا اوښه د معجزې په توګه درته رالېږلې، نو پرې ئې ږدئ چې د الله په زمکې کې وڅرېږي او هيڅ تاوان مه وررسوئ که نه نو په نژدې عذاب به اخته شئ.

فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿٦٦﴾

نو ټپي ئې کړه، نو (ورته) وئې ويل: په خپل استوګنځي کې يوازې درې ورځې خوند واخلئ، دا داسې ژمنه ده چې دروغجنه کېدی نه شي. نو کله چې زموږ حکم راغی (صادر شو)؛ په خپل رحمت سره مو صالح او هغه کسان چې له ده سره ول او ايمان ئې راوړی وو وژغورل او د دې ورځې له سپکاوي هم؛ يقيناً چې ستا رب عزتمن ځواکمن دئ.

(٦٥-٦٦)- د دې مبارکو آيتونو په ترڅ کې موږ ته له يوې خوا د هغه چا حالت ډېر کښلی انځور شوی چې نه د حق منلو ته چمتو دئ او نه له خپل کفر او انکار لاس اخيستو ته تيار، نه د زړه سواندو داعيانو وعظ پرې اغېز کوي او نه عقلي دلائلو ته اعتناء کوي، حتی که د کوم پيغمبر په دعاء ډېره په اوښې بدله شي او دوی ته شيدې ورکړي بيا ئې هم د پيغمبر په توګه نه مني، دا دئ له صالح عليه السلام سره د ثموديانو چلند د دې لجاجت تاريخي بېلګه، د دې په ځای چې د داسې ستري او حيرانوونکې معجزې په ليدو سره پر هغه ايمان راوړي او هغه د الله تعالی له لوري لېږل شوی پيغمبر ومني، په عکس د دې نه يوازې له ده او د ده له رسالت انکار کوي او معجزه ئې نه مني بلکې د همدې معجزې

لاس پښې پرې کوي او وژني ئې!! خو بلې خوا ته گورئ چې مهربان رب داسي لجوج انسان ته هم مهلت ورکوي، پيغمبر ورلېږي، په سزا ورکولو کې عجله نه کوي، داسي غوښتنو ته ئې هم ځواب ويلی چې له کلکې ډبرې ئې ژوندی اوښه ورته رااېستلې؛ او هغه مهال ئې هم درې ورځې دوی ته مهلت ورکړ چې همدا اوښه ئې ټپي کړه او بيا ئې ووژله.

له بلې خوا د حقپالو د بريا او ژغورنې او د حق د دښمنانو د ماتې او ځپل کېدو يوه بله تاريخي بېلگه زموږ مخې ته ږدي: دا دئ گورئ چې صالح عليه السلام او هغه کسان وژغورل شول چې ايمان ئې راوړی وو او د ده ملگرتيا ئې وکړه او د دوی مخالفين له سپکوونکي عذاب سره مخامخ شول. آيا دا پېښې دا حقيقت نه ثابتوي چې ستا رب عزتمن ځواکمن دئ؟

---

وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾

او هغه چې ظلم ئې کړی وو لوړې چيغې ونيول نو په خپلو استوگنځيو کې پرمخې پرېوتل. داسي لکه چې له سره هلته نه وي اوسېدلي، واورئ چې ثموديانو د خپل رب په اړه کفر وکړ، واورئ چې ثموديانو ته ورکاوی دئ.

---

(٦٧-٦٨)- ثموديان د الله تعالی په عذاب اخته شول، هيبتناکې چيغې ونيول، دوی له قيامت د انکار په وجه بغاوت وکړ او الله تعالی د دې بغاوت او طغيان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسي لکه د دوی خپل طغيان، باغي او طغيانگر عذاب، چې قرآن ئې دلته د الصيحه (تونده او هيبتناکه چيغه) په نامه يادوي او د الاعراف سورې په ۷۸ آيت کې د الرجفة (زلزله او شديد ټکان) په نامه؛ او د حم سجده سورې په ۱۷ آيت کې ئې د الصاعقة (تندر) په نامه ياد کړی، يعني دا طاغي عذاب له سختې زلزلې، تندې او هيبتناکې چيغې او آسماني تندر سره توأم وو. داسي وځپل شول چې له ورانو ويجاړو کورونو پرته هيڅ نښه ترې پاته نه شوه.

---

وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۚ قَالُواْ لَا تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ﴿٧٠﴾ وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ﴿٧١﴾ قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠

عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓاْ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾

او يقيناً چي زمونږ استازو ابراهيم ته زېرى راوړ، سلام ئي پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووايو؛ او له څه ځنډه پرته ئي وريت شوى سخوندر راوړ، خو چي د دوى لاسونو ته ئي پام شو چي نه ورخوځي ناآشنا ئي وګڼل او ترې ووېرېدو، وئې ويل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي يو، مېرمن ئي ولاړه وه او وئې خندل، نو د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب زېرى مو ورکړ، وئې ويل: واى واى، آيا په داسي حال کې به زوى زېږوم چي په خپله بوډۍ او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجيبه خبره ده؟! وئې ويل: آيا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د دې کور اوسېدونکو! بې شکه چي هغه ستايل شوى د عظمت خاوند دئ.

---

(٦٩-٧٣)- په دې آيتونو کې د ابراهيم عليه السلام د قصې ځيني برخي د يوې بلي تاريخي بېلګي په توګه زمونږ مخي ته ايښودل شوې، چي مهمي او اساسي لارښوونې ئي دا دي:

● د الله تعالى له لوري لېږل شوو فرشتو ابراهيم عليه السلام ته زېرى راوړ، فرشتې د زلميو يوه ټولګي ته ورته وې، سلام ئي پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووايو، ابراهيم د مېلمنو ګمان پرې وکړ، له څه ځنډه پرته ئي وريت شوى سخوندر ورته راوړ، خو چي د دوى لاسونو ته ئي پام شو چي نه ورخوځي ناآشنا ئي وګڼل او ترې ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چي ښايي دا زلميان به په بنه نيت نه وي راغلي چي زما د ډوډۍ له خوړلو ډډه کوي، قرآن په دې سره موږ ته وايي چي د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر شخصيت؛ له هغه لوړ معنوي مقام سره په غيب له پوهېدا دومره عاجز وو چي کور ته ئي راغلې فرشتې ونه پېژندې، د زلميو ګمان ئي پرې وکړ، وريت شوى سخوندر ئې ورته راوړ، ترې ووېرېدو او ګمان ئې وکړ چي ښايي د دښمنۍ په نيت راغلي؛ او دا همغه مطلب دئ چي تر دې د مخه د دې سورې په ٣١ آيت کې د نوح عليه السلام په اړه او په ٤٩ آيت کې د پيغمبر عليه السلام په اړه راغلى، چي په غيب نه پوهېدل.

● فرشتو ورته وويل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي يو، دا فرشتې د لوط عليه السلام د هغې دعاء په ځواب کې او د ده مرستې ته لېږل شوې وې چي له الله تعالى ئي د خپل مفسد قوم په خلاف مرسته غوښتې وه، مأموريت ئي د ده او د ده د مؤمني کورنۍ ژغورنه او د ده پر مفسد قوم د عذاب نازلول او په ضمن کې ئې د ده تره ابراهيم عليه السلام ته زېرى ورکول وو، خو ابراهيم عليه السلام نه يوازي دوى ونه

پېژندې، بلکې د دوی له مأموریته هم خبر نه وو او پوښتنه ئې ترې وکړه چې د څه لپاره راغلې یئ؟ هغه مهال په دې پوه شو چې فرشتو په خپله ورته وویل: مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي یو.

- د ابراهیم علیه السلام مېرمن هملته ولاړه وه، دا هر څه ئې لیدل او د دوی تر منځ خبري ئې اورېدې، دا هم په لومړي سر کې پرېشانه وه، خو هغه مهال ئې تشویش رفع شو چې د فرشتو ځواب ئې واورېدو، د دغو آیتونو ترتیب داسي دئ چې ښیي د ابراهیم علیه السلام مېرمني د زېري له اورېدو د مخه او هغه مهال خندلي چې فرشتو خپل ځان معرفي کړی او په دې سره د دوی تشویش رفع شوی خو کله چې فرشتو د الله تعالی له لوري د اسحاق او تر اسحاق وروسته د یعقوب زېری ورکړ، وئې ویل: وای وای، آیا په داسي حال کې به زوی زېږوم چې په خپله بوډۍ او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجیبه خبره ده؟! فرشتو وویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د کور مېرمنې! بې شکه چې هغه ستایل شوی د عظمت خاوند دئ.

د الحجر د سورې په (۵۲-۶۰) آیتونو کې ویل شوي چې ابراهیم علیه السلام ته هم دا زېری عجیب غوندي برېښېدلی او ویلي ئې دي: آیا په داسي حال کې د زوی او لمسي زېری راکوئ چې زوړ شوی یم؟ بیا ئې له فرشتو پوښتلي چې ستاسو مأموریت څه دئ؟ هغوی ورته ویلي: د یوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي یو، د لوط له کورنۍ پرته به نور؛ د ده د مېرمني په شمول؛ د الله تعالی په عذاب اخته کېږي. او په دې سره قرآن موږ ته وایي چې ابراهیم علیه السلام او د ده مېرمني ته د غیب خبري د حیرت او تعجب وړ وې، حتی په دې هم نه پوهېدل چې الله تعالی به دوی ته زوی او لمسی ورکوي، په دې هم نه پوهېدل چې د لوط علیه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلېږي، د لوط علیه السلام کورنۍ به ژغورل کېږي او مېرمن به ئې د نورو په څېر په الهي عذاب اخته کېږي!!

که څه هم ځینو مفسرینو ویلي چې ښایي ابراهیم علیه السلام له دې امله د مېلمنو له لوري خوړو ته د لاس نه اوږدولو په سبب وېرېدلی چې په همدې سره پوه شوی چې دا انسانان نه بلکې فرشتې دي او ښایي د الهي عذاب نازلولو لپاره راغلې وي، خو دا تفسیر نه له الفاظو سره اړخ لګوي او نه له مضمون سره، په الفاظو کې (نکرهم) راغلي چې ښیي دا میلمانه له هغه وروسته ډېر ناآشنا په نظر ورغلي چې ډوډي ته ئې لاس نه دئ اوږد کړی؛ او مضمون خو له ابراهیم علیه السلام په غیب د پوهېدا نفي ده؛ او داسي تفسیر نه ورسره ښایي.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ
إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ

رَبِّكَۖ وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ عَذَابٌ غَيۡرُ مَرۡدُودٖ ﴿٧٦﴾

نو کله چې له ابراهیمه وېره وتښتېده او زېرى پرې وشو نو له مونږ سره ئې د لوط د قوم په اړه چېر چاړ پیل کړ، یقیناً چې ابراهیم د ډېر زغم خاوند، ډېر نرم زړى او انابت کوونکى وو، اې ابراهیمه! له دې تېر شه، خبره دا ده چې ستا د رب پرېکړه شوې او دوى ته داسې عذاب راتلونکى دئ چې نه رد کېږي.

(٧٤-٧٦)- کله چې د ابراهیم علیه السلام وېره وتښتېده او زېرى پرې وشو نو د دعاء لاسونه ئې لوړ کړل او له الله تعالى ئې وغوښتل چې دا عذاب وځنډوي او دې قوم ته مزید مهلت ورکړي، په دې اړه ئې ټینګار او اصرار دومره وو چې قرآن ئې په دې الفاظو انځوروي: له الله تعالى سره ئې د لوط د قوم په اړه چېر چاړ پیل کړ، یقیناً چې ابراهیم د ډېر زغم خاوند، ډېر نرم زړى او انابت کوونکى وو، خو کله چې د الله تعالى له لوري ورته وویل شول: ابراهیمه! له دې تېر شه، خبره دا ده چې ستا د رب پرېکړه شوې او دوى ته داسې عذاب راتلونکى دئ چې نه رد کېږي. نو بیا ئې د لوط علیه السلام په اړه وپوښتل چې له هغه سره به څه کېږي؟ آیا پر دې قوم به په داسې حال کې عذاب راځي چې دى به هم په دوى کې مېشت وي؟ خو فرشتو اطمئنان ورکړ چې هغه او کورنۍ به ئې له مېرمنې پرته ژغورل کېږي. په دې سره قرآن موږ ته څو لارښوونې کوي: ۱- د الله تعالى پرېکړې بدلېدونکې نه دي، د ابراهیم علیه السلام په څېر د ستر شخصیت دعاء، اصرار او ټینګار ئې هم نشي بدلولى، د چا په اړه چې الله تعالى د عذاب پرېکړه کړې وي هیڅوك او هیڅ څه ئې مخه نه شي بدلولى. ۲- ابراهیم علیه السلام په دې هم نه پوهېدو چې له لوط علیه السلام سره به څه معامله کېږي! ۳- د الله تعالى عذاب داسې نه وي چې ټول، ښه او بد، صالح او طالح، کافر او مؤمن به بلااستثناء نیسي، نه بلکې یوازې هغه څوك پرې اخته کېږي چې د عذاب وړ وي، مؤمنان او صالحان به ژغورل کېږي، که څه هم یو ځاى او په یوه سیمې کې اوسي او عذاب دومره ستر وي چې د دوى ګډ استوګنځى لاندې باندې کړي او د ډېرو باران پرې وورېږي.

ښه به وي چې دلته د بایبل وینا هم راواخلو او وګورو چې هغه د ابراهیم علیه السلام د قصې د دغې برخې په اړه څه وایي، وینا ئې څومره کچه، بې خونده او د عقل او علم خلاف؛ او د قرآن وینا څومره لوړه، خوندوره او اغېزناکه او د دواړو تر منځ څومره ژور توپیر؟!

بایبل تر دې عنوان (د اسحاق د تولد وعده) لاندې او په اتلسم فصل کې لیکي: هغه وخت چې ابراهیم د ممري د سیمې په څېړیو کې اوسېدو؛ خداى یو ځل بیا ورته راڅرګند شو، چې قصه ئې داسې وه: ابراهیم په غرمه کې د خپلې خیمې خوله کې ناست وو چې ناڅاپي ئې ولیدل درې کسان د ده خوا ته راروان دي، له ځایه پورته شو او د دوى

استقبال ته ورغی، ابراهیم تندی پر زمکه کښېښود او دوی ته ئې وویل: اې ښاغلو! هیله کوم چې لږ تم شئ، د دې ونې سیوري ته دمه شئ، زه ځم او ستاسو د پښو وینځلو لپاره اوبه راوړم، یوه مړۍ ډوډۍ به هم راوړم چې وئې خورئ او د سفر د دوام جوګه شئ، تاسو زما مېلمانه یئ، هغوی ورته وویل: څه چې دې وویل همغسې وکړه،... لازیات وخت نه وو تېر شوی چې ابراهیم څه کوچ، شیدې او کباب خپلو مېلمنو ته راوړل او د دوی تر مخ ئې کښېښودل او په داسې حال کې چې مېلمانه په خوراك لګیا ول دی ئې خوا ته د یوې ونې په څنګ کې ودرېدو، مېلمنو له ابراهیم وپوښتل: ساره چېرې ده، هغه وویل په خېمه کې، یوه کس ئې وویل: راتلونکی کال دا وخت به ستا خوا ته راشو او ساره به زوی وزېږوي، ساره د دوی خبرې اورېدې، په دې وخت کې ابراهیم او ساره ډېر عمر خوړلي ول، ساره د دې نه وه چې اولاد ئې په برخه شي، ساره په خپل زړه کې وخندل او وئې ویل: آیا کېدی شي زما په عمر ښځه له داسې بوډا مېړه سره د اولاد خاونده شي؟! خدای ابراهیم ته وویل: ساره ولې وخندل او وئې ویل: آیا کېدی شي زما په عمر ښځه د اولاد خاونده شي؟ مګر داسې کوم کار شته چې خدای ته ګران وي؟ لکه څنګه چې مې تا ته وویل راتلونکی کال به ستا خوا ته بیا راشو او ساره به د زوی خاونده شي، ساره چې وېرېدلې وه، انکار ئې وکړ او وئې ویل: ما نه دي خندلي، ورته وئې ویل: ولې نه؛ ودې خندل)!!

د دې خبرو په اړه لاندې عرائض لرم:

- ګورئ چې دلته هم بایبل خدای له یوې خوا د انسان په څېره کې انځور کړی، ابراهیم ئې پښې ورمنځلې، کوچ، شیدې او کباب ئې وخوړل او له بلې خوا ئې درې ګونی ګڼلی، درې کسان راغلل، ابراهیم ورته سجده وکړه، د دوی له منځه خدای ابراهیم ته وویل، د ساره د زړه خندا او وینا ئې له لرې اورېده، ساره انکار کوي او خدای ورته وایي: ولې نه، ودې خندل!!

- قرآن دا ټولې خبرې دروغجنې ګڼي او فرمایي چې د فرشتو یو ټولګی د ځوانانو په بڼه کې د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغی، مأموریت ئې دا وو چې د لوط علیه السلام مرستې ته ورشي، هغه وژغوري او مفسد قوم ئې هلاك او کلی پرې رانسکور کړي، هلته د تلو په دوران کې د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغلې، چې د ده په کورنۍ کې د دوو پیغمبرانو د پیدا کېدو زېری ورکړي، د اسحاق او د هغه د زوی یعقوب علیهما السلام د زېږېدو زېری، ابراهیم علیه السلام د ځوانانو ګمان پرې وکړ، قرآن دا خبره د دې لپاره کوي چې د بایبل دا ادعاء تکذیب کړي چې پیغمبران له غیبه خبر دي، دا دئ ګورئ چې ابراهیم علیه السلام فرشتې ونه پېژندې، وریته غوښه ئې د دوی مخې ته کښېښوده، کله چې هغوی د زوی او لمسي زېری ورکړ په دې خبرې د ده او د ده د مېرمنې باور نه راتلو، کله چې فرشتو ځان ورمعرفي کړ نه پوهېدو چې د څه لپاره راغلې دي!! پوښتنه ترې کوي چې د څه لپاره لېږل شوې یئ، ورته وئې ویل: د لوط په قوم باندې د دوی کلی رانسکوروو، ابراهیم علیه

السلام ورته وويل: هلته خو د لوط په څېر صالح انسان هم شته، په هغه به ئې هم رانسکوروئ؟ ورته وئې ویل: نه، هغه او کورنۍ به ئې ژغورو!! قرآن دا ټولي خبري د دې لړاره رااخلي چي د بایبل غلطه وینا تصحیح کړي او وښيي چي په غیب له الله تعالی پرته هیڅوك حتی پیغمبران هم نه پوهېږي.

- د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: که ابراهیم علیه السلام دا درې کسان انسانان ګڼل ولي ئې سجده ورته وکړه؟ او که ئې د خدای ګمان پرې کړی ولي ئې کوچ، شیدې او کباب مخي ته ایښي؟
- که خدای له خپلو دوو شریکانو سره یو ځای د ابراهیم علیه السلام خوا ته په خوراك بوخت وو، د عالم د سمبالولو کار ئې چا ته سپارلی وو؟ آیا ستاسو عقل دا خبره مني چي درې خدایان د څېرې د یوې وني تر سیوري لاندي ځائېږي، ستومانه کېږي، ډوډۍ خوري، ابراهیم ئې پښې ورمینځي؟ که داسي وي نو ستاسو پر عقل ژړا په کار ده.
- قرآن د بایبل د دغي خبري د تردید په اړه په دې قاطع دلیل او حجت استدلال کوي چي څوك خوراك ته اړ وي هغه خدای نه شي کېدی، په هغه د خدای ګمان مه کوئ، عیسی علیه السلام او مور ئې خوراك کاوو همدا کافي ده چي باور وکړئ هغوی انسانان وو نه خدایان، خوراك د عجز، ضعف او نقص نښه ده، همدا راز فرمایي: که په زمکي او آسمان کي له یوه خدای پرته نور خدایان وی نو حتماً به د زمکي او آسمان ټولي چاري مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چي په هغه صورت کي به هر خدای له خپلي خوښي سره سم د دې عالم اداره غوښتله، خپل واك او ځواك به ئې د خپلي خوښي مطابق کارولو، حتماً به د دوی تر منځ د آراوو اختلاف راولاړېدو، په اجراءاتو او تصرفاتو کي به د دوی بېلي بېلي ارادې حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدې او دا به په کائناتو کي د لویي تباهۍ سبب جوړېدو. په هستي او کائنات کي دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چي د مخلوقاتو د امورو د تدبیر واك او اختیار له یوه ذات سره دئ. په الانبیاء:۲۲ کي فرمایي:

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾

که په آسمان او زمکي کي له الله پرته نور خدایان وی؛ دواړه (زمکه او آسمان) حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستایلو د عرش پالونکي الله لره پاکي ده.

دا د توحید د اثبات او د متعددو خدایانو د غلطي انګېرني د تردید دومره مضبوط دلیل دئ چي هیڅ عاقل انسان ترې انکار نه شي کولی.

بایبل ورپسې لیکي: (په دې وخت کي دا درې کسان جګ شول چي سدوم ته ولاړ شي، ابراهیم هم جګ شو چي دوی بدرګه کړي، خو خدای وویل: آیا دا سمه ده چي خپله منصوبه له ابراهیمه پټه وساتم؟... نو خدای ابراهیم ته وفرمایل: د سدوم او عموره د خلکو چیغي د ظلم په ضد پورته شوې دي او ګناهونه ئې زیات شوي، نو ځکه لاندي ځم

چي هغي استغاثې ته ځواب ووایم چي زما تر غوږ شوې ده!! په دې وخت کې دوه کسان د سدوم په لوري وخوځېدل او خدای د ابراهیم خوا ته پاته شو!!)

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: خدای وایي زه لاندي ځم، خو بیا نه ځي او د ابراهیم خوا ته پاته کېږي، مګر کېدی شي خدای له خپلي خبري داسي ژر ژر واوړي؟!! که بایبل وایي چي دا دوه نور کسان هم خدایان او په خدایي کې شریك دي او د دوی تګ د خدای د تګ په معنی دئ، نو بیا ئې ولي د فرشتو په نامه یادوي؟ دا مغالطه او ضد او نقیض خبري د څه لپاره؟

## د سدوم ښار ورانېدا

بایبل تر دې عنوان لاندي لیکي: (کله چي دوه فرشتې د ماړ لوېدو په وخت کې د سدوم د ښار دروازې ته ورسېدلې، لوط هلته ناست وو، د دوی په لیدو سره پورته شو او د دوی استقبال ته ورغی او ورته وئې ویل: ښاغلیو! نن شپه له ما سره ولاړ شئ او زما مېلمانه شئ،... دوی په سر کې دا بلنه ونه منله، خو د لوط د اصرار او ټینګار په وجه ئې موافقه وکړه، هغه ورته پتیره مړی پخه کړه او مکلف ماښامنی ئې ورته تیار کړ، د ویدېدو په مهال د ښار خلکو، زړو او ځوانانو د لوط کور محاصره کړ او له ده ئې وغوښتل چي مېلمانه وروسپاري، چي بدکاري ورسره وکړي!! لوط له کوره ورووت او هغوی ته ئې وویل: دوستانو! هیله کوم له دې کرکجن کار لاس واخلئ، دا دي زما دوه لوڼي دي، چي څه مو زړه غواړي ورسره وئې کړئ، خو د دغو دوو کسانو چي ما ته ئې پناه راوړې مه مزاحم کېږئ!! هغوی ورته وویل: زموږ له مخي لري شه، موږ دلته پناه درکړې او اوس ته راته امر کوې چي څه وکړو او څه نه!! اوس به له تاسره هغه څه کوو چي غوښتل مو له دغو دوو کسانو سره ئې وکړو!! نو دغه وخت ئې پر لوط برید وکړ او د دروازې د ماتولو هڅه ئې وکړه، په دې وخت کې هغو دوو کسانو لاس وراوږد کړ، لوط ئې کور ته دننه کړ او دروازه ئې بنده کړه او د هغو کسانو سترګي ئې ورړندې کړې چي له کوره بهر ول، چي د کور دروازه ونه شي موندلی،... بیا ئې لوط ته وویل: زامن، لوڼي، زومان او ټول خپلوان دي له ښاره وباسه، موږ خدای رالېږلي یو چي دا ښار وران کړو،... د لوط زومانو د ده خبره ونه منله، نو فرشتو ورته وویل: مېرمن او دوه لوڼي دي له ځان سره رواني کړه... ده ځنډ وکړ، فرشتو څلور سره له لاسونو ونیول او له ښاره بهر ئې خوندي ځای ته ورسول، یوې ئې ورته وویل: د خپل ځان د ژغورلو لپاره وتښتئ، غره ته ولاړ شئ، شا ته مه ګورئ، که په دشته کې پاته شوئ هلاکت مو حتمي دئ!!.. لوط وویل: ټمنا کوم، موږ پرېږدئ چي په دغه واړه کلي کې پاته شو، غره ته نه شو رسېدلی،... هغې ورته وویل: ډېر ښه، ستا غوښتنه مو ومنله، دا کلی نه ورانوم،... ماړ لوېدو سره خدای په عموره او سدوم سکروټې وورولې، ټول ښارونه او کلي ئې له ټولو اوسېدونکو او نباتاتو سره له منځه یووړل، خو د لوط مېرمن شا ته وکتل او د مالګي په څلي بدله شوه!!)

که تاسو د دې قصې محتویاتو او هغو الفاظو ته چې لیکونکې کارولي لږ ځیر شئ او بیا دا له هغه څه سره مقایسه کړئ چې قرآن د دې قصې په اړه ویلي، نو په دې پوهېدل به درته ګران نه وي چې قرآن د الله تعالی کلام دئ او بایبل د یوه کمزوري انسان ګډې وډې خبرې. قرآن د لوط علیه السلام د ژوند دغه برخه په هغه ځای کې د یوې تاریخي بېلګې په توګه رااخلي چې غواړي د حق د لارې مبارزینو ته ووايي: الله تعالی مو هیڅکله یوازې نه پرېږدي، ستاسو د ژغورنې ذمه وار دئ، که خلك مو ملګرتیا ونه کړي او ستاسو د مخالفت لپاره په ګډه ملاوتړي نو ملائکې به ستاسو مرستې ته رالېږي، هغه ستاسو د دعاءګانو اورېدونکی او منونکی دئ، مګر د لوط علیه السلام له قصې خبر نه یئ چې په ځوانۍ کې ئې ایمان راوړ، له ټول قومه یوازې دی دې ته تیار شو چې د خپل تره ابراهیم علیه السلام سره د حق په لار کې د ملګرتیا لپاره ملا وتړي، له هغه سره ئې یو ځای هجرت وکړ، هغه په دغې سیمې کې د دعوت چلولو لپاره ګڼېښود، قوم ته ئې ویل: له الله تعالی ووېرېږئ، له بدکارۍ او بدلمنۍ لاس واخلئ، آیا هغه ښځې چې الله تعالی ستاسو لپاره پیدا کړې هغه پرېږدئ او د نارینه وو په لوري د شهوت لپاره درومئ؟!! دا هغه کرکجن کار دئ چې له تاسو مخکې هیچا نه دئ کړی، د بدکارۍ ځرګند محفلونه جوړوئ او لارې شکوئ، د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې لوط او ملګري ئې له خپله ملکه وشړئ، دا د پاکۍ او پاك لمنۍ د خبرو له مکرر اورېدو خپل غوږونه آرام کړئ، هغه ته ئې وویل: یا دې دا خبرې بندې کړه یا خو دې ته تیار شه چې له خپل ملکه دې وشړو!! هغه خپل رب ته دعاء وکړه: زما ربه! په دې مفسد قوم بریا راکړه!! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، فرشتې ئې د څو تنکیو ځوانانو په بڼه کې د ده مرستې ته راولېږلې، د فرشتو دغه ټولګی مخکې له دې چې د ده خوا ته راشي ابراهیم علیه السلام ته ورغلې، هغه د مېلمنو ګمان پرې وکړ، وریته غوښه ئې د دوی مخې ته کښېښوده، چې متوجه شو مېلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چې ښایي دا خلك د دښمنۍ په نیت راغلي چې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، فرشتو ئې پرېشاني رفع کړه او ورته وئې ویل: موږ فرشتې یو، الله تعالی رالېږلې یو چې د لوط قوم هلاك کړو، هغه وویل: هلته خو لوط هم اوسېږي!! وئې ویل: هغه او د ده مؤمن ملګري به ژغورو، هلته له یوې کورنۍ پرته بله ایمان لرونکې کورنۍ نشته، تا ته زېری درکوو چې په کورنۍ کې به دې د اسحاق او یعقوب علیهما السلام په څېر دوه پیغمبران پیدا شي، دی او ښځه ئې حیران شول، ښځې ئې له ډېره حیرته خپل تندی په څپېړه وواهو او وئې ویل: زه بوډۍ او خاوند مې بوډا! څنګه به د اولاد خاوند کېږو؟!! هغوی ورته وویل: آیا د الله تعالی په وعدې کې شك کوئ؟ ترې رخصت شوې، د لوط علیه السلام خوا ته راغلې، هغه هم د زلمو ګمان پرې وکړ، کورته ئې بوتلل، خو د دوی په راتلو سخت پرېشانه او غمجن شو، هومره چې سینه ئې پرې تنګه شوه، له کوره ایستل ئې د مروت خلاف کار ګاڼو او له ساتلو ئې ځان عاجز ګاڼو، قوم پرې خبر شو، د ده کور ئې محاصره کړ، مېلمانه ئې ترې غوښتل، ده ئې په یوازې سر مخنیوی کاوو او ورته ویل ئې:

ما ته سپکاوی مه رااړوئ، هغو ښځو ته مخه کړئ چي الله تعالی د همدې لپاره پيدا کړې، آيا په تاسو کې کوم هوښيار او عقلمن انسان نشته چي زما خبره واوري، کاش دلته يوازې نه وی او خپل قوم راسره وی چي ستاسو مخه مي نيولې وی!! په دغه وخت کې فرشتو ورته وويل: موږ فرشتې يو، ستا مرستې ته راغلي يو، سبا سحر به پر دوی دا کلی رانسکوروو، سبا خو به لرې نه وي؟!! دی او کورنۍ ئې وژغورله، ښځې ئې ورسره ملګرتيا ونه کړه، له قوم سره پاته شوه او له هغوی سره يو ځای هلاکه شوه، کلی پرې رانسکور شو او تيږې پرې ووربدې!!

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ
٧٧ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ
هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ
مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ٧٨ قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّٖ وَإِنَّكَ
لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ٧٩ قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ٨٠
قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا
يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ
ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ٨١ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا
وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ ٨٢ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ
مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ ٨٣

او کله چي زمونږ استازي لوط ته ورغلل، پرې غمجن شو او د دوی په راتلو ئې سينه تنګه شوه او وئې ويل: دا خو ډېره سخته ورځ ده. او قوم ئې په منډه منډه ورته راغی او تر دې مخکې ئې هم بدکارونه کول، وئې ويل: اې زما قومه! دا مي لوڼې دي، دوی درته پاکې او حلالې دي، له الله ووېرېږئ او د مېلمنو په اړه مي شرم او سپکاوی مه رااړوئ، آيا په تاسو کې کوم عقلمن کس نشته؟! وئې ويل: ښه پوهېږې چي ستا د لوڼو په اړه (د څه کولو) حق نه لرو او ته ښه پوهېږې چي مونږ څه غواړو! وئې ويل: کاش پر تاسو مي زور بر وی او يا مي د مضبوطې اسرې پناه تر لاسه وی! وئې

ویل: اې لوطه! مونږ ستا د رب استازي یو، هیڅکله لاس نه شي دروړی، د شپې په یوې برخې کې دې کورنۍ روانه کړه، هیڅوك مو شا ته ونه ګوري، مګر مېرمن دې، یقیناً چې دې ته به همغه څه رسي چې هغو (نورو) ته رسي، بې شکه چې د دوی لپاره ټاکل شوی مهال سباوون دئ، آیا سباوون نژدې نه دئ؟! نو کله چې زمونږ حکم صادر شو دا سیمه مو لاندې باندې کړه او د پخو ختېو هغه ډېرې مو پرله پسې پرې ووروله چې ستا د رب خوا ته په نښه شوې وې او همداسې ورځ له دغو ظالمانو هم لرې نه ده.

(۷۷-۸۳)- دلته د لوط علیه السلام د قصې دا برخې راغلې:

● کله چې د الله تعالی استازي فرښتې د لوط علیه السلام خوا ته ورغلې، پرې غمجن شو او د دوی په راتلو ئې سینه تنګه شوه او وئې ویل: دا خو ډېره سخته ورځ ده. دا ځکه چې پوهېدو قوم به ئې دا ځوانان ترې غواړي، پر کور به ئې راغونډ شي، دی به ئې له مخنیوي عاجز وي، نه دا زلمیان له کوره ایستی شي او نه ئې ساتی شي، له ډېرو اندېښنو او غمونو ئې سینه تنګه شوه، د ده له ګمان سره سم قوم ئې په منډه منډه ورته راغلل او پر کور ئې راغونډ شول، زلمیان ئې ترې غوښتل، تر دې مخکې ئې هم بدکارونه کول، لوط علیه السلام ورته وویل: اې زما قومه! دا مې لوڼې دي، دوی درته پاکې او حلالې دي، چې د دې الفاظو معنی یا دا ده چې که په تاسو کې څوك په شرعي نکاح سره د واده اراده لري زه تیار یم خپلې لوڼې ورکړم او یا ئې مراد دا دئ چې د قوم نجونې مې لوڼې دي، دوی په نکاح کړئ، خو د هغه مهال وضعیت ته په پام سره او دا چې ډېر خلك ئې پر کور راغونډ شوي، لومړی تعبیر سم نه برېښي، که څه هم ځینو مفسرینو غوره کړی. لوط علیه السلام هغوی ته وویل: له الله ووېرېږئ او د مېلمنو په اړه مې شرم او سپکاوی مه رااړوئ، آیا په تاسو کې کوم عقلمن کس نشته؟! داسې معلومېږي چې په دې قوم کې نه کوم مؤمن انسان تر سترګو کېدو، نه غیرتمن او نه عقلمن، قوم په ځواب کې ورته وویل: ښه پوهېږې چې ستا د لوڼو په اړه د څه کولو نه حق لرو او نه اراده، ته ښه پوهېږې چې مونږ څه غواړو! وئې ویل: کاش پر تاسو مې زور بر وی او یا مې د مضبوطې اسرې پناه تر لاسه وی! دی په دې قوم کې پردی وو، له بلې سیمې راغلی وو، داسې څوك ئې نه درلود چې د خپلوۍ په وجه له ده دفاع وکړي، داسې صالح کس هم په ټول قوم کې نه وو چې د ده ملاتړ وکړي، په دغه وخت کې چې سخت مأیوس، غمجن او پرېشانه وو فرښتو ورته وویل: اې لوطه! مونږ ستا د رب استازي یو، هیڅکله لاس نه شي دروړی، د شپې په یوې برخې کې دې کورنۍ روانه کړه، هیڅوك مو شا ته ونه ګوري، مګر مېرمن دې، یقیناً چې دې ته به همغه څه رسي چې هغو نورو ته رسي، بې شکه چې د دوی لپاره ټاکل شوی مهال سباوون دئ، آیا سباوون نژدې نه دئ؟! لوط علیه السلام ته ویل شوي چې له مېرمنې پرته دې

نوره کورنۍ درسره روانه کړه، د قوم په لوري هیڅ التفات او اعتناء مي کوئ، که څه هم ستا مېرمن او ستا د لوڼو مور په کې پاته شوې وي، نو کله چي د الله تعالی له لوري د عذاب نازلېدو حکم صادر شو دا سیمه ئې لاندي باندي کړه او د پخو ختو هغه ډبري پرله پسې پرې وورولې چي ستا د رب خوا ته په نښه شوې او د همدې قوم لپاره تیاري شوې وې.

- او اې زما پیغمبره! همداسي ورځ له دغو ظالمانو هم لري نه ده چي ستا مخالفت کوي.

- د لوط علیه السلام پر قوم باندي سخته زلزله راغله، زمکه کښېناسته، دوی لاندي او زمکه ورباندي، له لوړو ډبري پرې وورېدې؛ او شايي د پخو ختو له ډبرو مراد هغه ډبري وي چي د زمکي د چاودېدو له کبله د زمکي له زړه د اور سکروټو ته ورته ډبري راوتلې وي، لوړي تللې وي او بېرته پر دوی راپرېوتي وي، همغه څه چي د سترو سترو زلزلو او د زمکي د چاودېدو پر مهال تر سترګو کېږي.

- ګورئ چي قرآن دا قصه په څومره عبرتناکې او اغېزمني بڼې کې وړاندي کړې، په هري برخي کې ئې ستر ستر درسونه پراته، هر څه ئې طبیعي، الفاظ ئې ښکلي، بیان ئې دقیق، د حق د لاري مجاهد ته د صبر او نه مأیوسه کېدو درس ورکوي او ورته وایي: شايي داسي حالت درباندې راشي چي ستا او د بري تر منځ هیڅ واټن نه وي، د نصرت فرشتې دي خوا ته رسېدلې وي خو ته پرې نه پوهېږې او په همدغه حالت کې هم الله تعالی غواړي تا وآزمویي؛ که دي صبر وکړ، بری دي حتمي دئ، مه د دښمن له زیاتوالي وېرېږه او مه د خپلو ملګرو او ملاتړو د لږوالي پروا کوه، د لوط علیه السلام په څېر به دي الله تعالی مرسته کوي او د دښمنانو په وړاندي به دي یوازي نه پرېږدي.

- د دې قصې په ترڅ کې موږ ته دا هم ویل شوي چي ګورئ لوط علیه السلام هم له غیبه بې خبره وو، فرشتې د ده په دعاء او د ده د مرستي لپاره راغلې، په خوا کې ئې ولاړې، خو دی ئې نه پېژني، پر راتلو ئې غمجن شوی، دومره چي سینه ئې پرې تنګه شوې، که په غیب پوهېدی نو نه به غمجن کېدو، نه به مأیوس کېدو او نه به ئې ځان یوازي او بې اسرې او د قوم له مقابلې عاجز ګاڼو!!

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ﴿٨٤﴾ وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ

ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ﴿٨٦﴾

او د مدين (والو) په لوري مو د دوی ورور شعيب (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته؛ او په پيمانې او تلې کې کمی مه کوئ، زه خو تاسو په ښه حالت کې ګورم؛ او زه د راتاوېدونکي عذاب له ورځې دربانديې وېرېږم. او اې زما قومه! پيمانه او تله په انصاف سره بشپړوئ او د خلکو شيان مه کموئ او په زمکې کې فساد خوروونکي مه کېږئ. د الله له لوري پاته شوې (جائز برخه) درته غوره ده که مؤمنان يئ؛ او زه دربانديې څارندوی نه يم.

(٨٤-٨٦)- دا مبارك آيتونه مونږ ته لارښوونه کوي چې الله تعالی د مدين د اوسېدونکو په لوري د دوی ورور شعيب ولېږو، قوم ته د ده د پيغام خلاصه دا وه:

- اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته،

- په پيمانې او تلې کې کمی مه کوئ، که څه هم پيمانه او تله د پېر پلور پر مهال د توکو د تللو او پيمانه کولو په ارتباط راځي، خو کله چې نه د پېر پلور خبره مطرح وي او نه ئې په خوا کې د جنس او توکي يادونه شوې وي نو په مجازي معنی نيول کېږي او د نورو په اړه د قضاوت معنی هم ورکوي، د چا په اړه دا ويل چې هغه دروند سړی دئ، په حقيقت کې په مجازي معنی تلل شوی، وقار، هيبت او متانت ئې تلل شوی او دروند ګڼل شوی، د چا په اړه دا ويل چې مخور دئ، په ولس کې منلی او د نوم خاوند دئ؛ په حقيقت کې هغه په مجازي معنی پيمانه شوی، په داسې مواردو کې په پيمانې او تلې کې له کمولو د چا په اړه ناروا قضاوت، د هغه له ښېګڼو سترګې پټول، د هغه له ورتياوو او ځانګړتياوو انکار او د هغه د ستاينې او توصيف په ځای هغه ته عيبونه منسوبول مراد دي، په ورپسې آيت کې د پيمانې او تلې بيا يادول او په څنګ کې ئې دا خبره کول چې د خلکو شيان مه کموئ ښيي چې دلته پيمانه او تله په يوه معنی او هلته په بلې معنی راوړل شوې.

- اوس خو ستاسو حالت ښه برېښي او هوسا ژوند لرئ؛ خو ستاسو کفر، شرك او ظلم ته په پام سره وېرېږم چې دا حالت به ډېر دوام ونه کړي او هغه ورځ به راشي چې الهي عذاب دربانديې راتاو شي او د وټلو ټولي لارې دربانديې وتړل شي.

- اې زما قومه! په پېر پلور کې پيمانه او تله په انصاف سره بشپړوئ؛ او د خلکو شيان مه کموئ،

- په زمکې کې فساد مه خوروئ، له هغو کړنو ډډه وکړئ چې په زمکې کې د فساد خورېدو

او بې امنيو باعث کېږي، که څه هم په دې فقرې کې په عامه توګه ويل شوي چې په ځمکې کې فساد خوروونکي مه کېږئ، خو تر دې مخکې او وروسته فقرو ته په پام سره ئې معنی دا ده چې په تلې او پيمانې کې خيانت په ټولنې کې د ډېرو مفاسدو لپاره لار آواروي، شخړې او منازعات راولاړوي، د خلکو تر منځ باور او اعتماد له منځه وړي، په دوی کې کرکه او نفرت زېږوي، په داسې جګړو منتج کېږي چې پيل ئې په تلې او پيمانې کې له خيانت نه وي.

- په خپلې هغې برخې قناعت وکړئ چې د الله تعالی له لورې درته جائز ګڼل شوې، له جائزو لارو چې څه الله تعالی درپه برخه کوي دا درته غوره ده که مؤمنان يئ،

- زه درباندې څارندوی نه يم، له ګناه د چا د مخنيوي وس او توان نه لرم، زه فقط ستاسو خواخوږی يم، زما کار يوازې دا دئ چې تاسو ته سمه لار وښيم، باقې دا ستاسو کار دئ چې په سمه لار درومئ که په غلطه، د سعادت په لور که د شقاوت.

دلته دا خبره هم په کولو ارزي چې ايرانې شيعه ګان د علي رضی الله عنه اولاد د (بقيت الله) په نامه يادوي!! نه پوهېږو دا مسخره او د خندا وړ خبره ئې له کومه رايستلې او څنګه ئې د علي رضی الله عنه پر اولاد تطبيقوي؟! نه خو قرآن دا اصطلاح د کوم انسان لپاره کارولې او نه د علي او د ده د اولاد لپاره، د شعيب عليه السلام دا وينا چې د ډېر پلور او تللو او پيمانه کولو په اړه ئې کړې او مراد ئې کاملاً څرګند دئ، په نورو ځايونو کې د (باقيات الصلحت) صيغه راغلې چې مراد ئې پاته کېدونکې او دوام موندونکې صالح اعمال دي، د همدې سورې په ۱۱٦آيت کې (اولوا بقية) الفاظ راغلي چې مراد ئې دا دئ: ولې په مخکينيو قومونو کې داسې عقلمن خلك نه وو چې د فساد مخنيوی ئې کړی وی، نه پوهېږو شيعه څنګه دا الفاظ د علي رضی الله عنه د اهل بيت لپاره کاروي؟! ستونزه دا ده چې ايرانې آخوندانو شيعه وو ته ويلي چې د قرآن په حقيقي معنی له اهل بيت پرته بل څوك نه پوهېږي، هر لفظ ئې ظاهر او باطن لري او هر باطن ئې بطون، له بطونو يوازې اهل بيت خبر دي، له دوی مونږ ته دا روايت رارسېدلی چې له بقيت الله مراد اهل بيت دي!! او هغو هم په پټو سترګو دا مسخره خبره منلې ده!!

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

وئې ويل: اې شعيبه! آيا ستا لمونځ دې په دې ګماري چې موږ د هغه څه لمانځنه پرېږدو چې زموږ پلرونو لمانځل، يا په خپلو مالونو کې داسې تصرف پرېږدو چې په خپله ئې غواړو، يقيناً چې ته خو ډېر هوښيار او په سمه لار روان انسان يې.

(۸۷)- قوم په ځواب کې ورته وويل: ستا په څېر له يوه هوښيار او په سمه لار روان انسان سره خو دا نه ښايي چې له موږ وغواړي چې د هغه څه لمانځنه پرېږدو چې زموږ پلرونو لمانځل، يا په خپلو مالونو کې له داسې تصرف لاس واخلو چې زموږ زړه ئې غواړي، نه پوهېږو ولې داسې ناسمې او د عقل او پوهې خلاف خبرې له تا اورو؟ آيا ستا لمونځ د دې باعث شوی چې داسې څه دې له خولې وځي چې له تاسره نه ښايي؟

که څه هم ځينو درنو مفسرينو شعيب عليه السلام ته د قوم دا وينا چې ته حليم او رشيد يې داسې تعبير کړې چې ګواکې هغوی ملنډې پرې وهلې، خو دا تعبير ډېر کمزوری دئ، په حقيقت کې شعيب عليه السلام ته د دوی دا وينا داسې وه لکه د صالح عليه السلام قوم چې هغه ته ويلي وو: قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ: وئې ويل: اې صالح! ته خو تر دې دمخه په موږ کې داسې وې چې هيله درته کېده، څنګه مو د هغو معبودانو له لمانځلو منع کوې چې زموږ پلرونو لمانځل؟! دوی هم شعيب عليه السلام ته ويلي چې ستا غوندې له هوښيار، عقلمن او نېک سړي سره دا نه ښايي چې موږ ته داسې خبرې وکړې.

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾ وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ نُوحٍ أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ﴿٨٩﴾ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ وَدُودٞ ﴿٩٠﴾

وئې ويل: اې زما قومه! پام مو دئ چې که زه د خپل رب له لوري په روښانه دريځ وم او له خپل لوري ئې غوره رزق راپه برخه کړی وي؛ او زه نه غواړم په هغه څه کې ستاسو مخالفت وکړم چې زه مو ترې منع کوم، زه خو تر هغه چې توانېږم له اصلاح پرته بل څه نه غواړم، توفيق (بريا) مې يوازې د الله په مرستې (پوري تړلی) دئ، پر هغه مې توکل دئ او د ده په لوري مې رجوع ده. او اې زما قومه! زما مخالفت دې تاسو دې پړاو ته ونه رسوي چې په داسې څه اخته شئ چې د نوح قوم پرې اخته شو، يا د هود قوم، يا د صالح قوم؛ او د لوط قوم خو ډېر درنه لرې نه دئ. او له خپل رب بخښنه وغواړئ بيا د ده لوري ته مخه کړئ، يقيناً چې زما رب مهربان محبت کوونکی

دئ.

(۸۸-۹۰)- شعيب عليه السلام د دوی په ځواب کې ويلي:

اې زما قومه! آيا د دې پروا نه لرئ چې په داسې حال کې زما مخالفت کوئ چې زما رب زما لارښوونه کړې، په سمه لار ئې د تلو توفيق راکړی، تګلاره مې روښانه او پيغام مې څرګند دئ، پر ما ئې پيرزوينه کړې، هم ئې سم فکر، سمه عقيده او نېك اخلاق راپه برخه کړي او هم غوره او پاکيزه رزق، له بدو اخلاقو او له حرام رزق ئې ساتلی يم. آيا دې ته پام نه کوئ چې زه هغه څه ته تاسو رابلم چې په خپله پرې عمل کوم، داسې خو مې نه دي غوښتي چې په هغه څه کې ستاسو مخالفت وکړم چې زه مو ترې منع کوم، زه خو د هغو خلکو په څېر نه يم چې نور له بدو منع کوي خو په خپله ځان نه ترې ساتي، ګورئ چې زه خو تر هغه چې توانېږم له اصلاح پرته بل څه نه غواړم، توفيق (بريا) مې يوازې د الله په مرستې (پوري تړلې) دئ، نه له ده پرته بل مرستندوی لرم او نه له بل؛ څه هيله، پر هغه مې توکل دئ او د ده په لوري مې رجوع ده. او اې زما قومه! زما مخالفت دې تاسو دې پړاو ته ونه رسوي چې په همغه برخليك اخته شئ چې د نوح قوم، يا د هود قوم، يا د صالح قوم پرې اخته شو، لږ تر لږه له هغه څه خو پند واخلئ چې د لوط قوم ورسره مخامخ شو، دا خو نه د زمانې له پلوه درنه لرې دئ او نه د موقعيت له پلوه. له خپل رب د تېرو ګناهونو بخښنه وغواړئ او له دې وروسته د الله تعالی لوري ته مخه کړئ، يقيناً چې زما رب مهربان محبت کوونکی دئ.

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفٗاۖ وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ﴿٩١﴾

وئې ويل: اې شعيبه! په ډېرو هغو خبرو نه پوهېږو چې ته ئې کوې او موږ خو تا په خپلو منځو کې کمزوری مومو او که ستا ټبر نه وی نو حتماً به مو سنګسار کړی وې او ته راباندې ګران نه يې.

(۹۱)- د قوم ځواب دا وو:

- اې شعيبه! په ډېرو هغو خبرو نه پوهېږو چې ته ئې کوې، ستا ډېرې وېناوې نه د فهم وړ دي او نه د منلو وړ،

- څه شې دا جرأت درکړی چې لويې لويې خبرې کوې، زموږ پر پلرني دين نيوکې کوې، پر موږ د الهي عذاب د راپرېوتو ګواښونه راکوې، د خپلو پلويانو د بريا ادعاء کوې، ته خو زموږ منځ کې تر ټولو کمزوری يې، نه زورور پلويان لرې او نه ځواکمن خواخوږي، د ولس څو کمزورو پر تا ايمان راوړی، که ستا د ټبر خاطر نه وی ډېر د مخه به مو سنګسار کړی

وې، په دې کې د ځنډ وجه دا نه ده چې تا ته درناوی لرو، یا دې سنگسارول راته گران کار دئ.

● دلته د دې قصې له راوړلو معلومېږي چې د دغې سورې د نزول پر مهال پیغمبر علیه السلام دې ته له ورته حالت سره مخامخ وو، قریشو د ده د وژلو پرېکړه کړې وه، خو د پیغمبر علیه السلام د خپل ټبر بنوهاشم په خاطر ئې د ده له وژلو ډډه کوله او مناسب فرصت ته منتظر ول، د دې قصې په راوړو سره قریشو ته ویل شوي چې تاسو له خپل پیغمبر سره همغه څه کوئ چې مدین والو له شعیب علیه السلام سره کول، ستاسو برخلیك به همغسې وي لکه د دوی.

قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَهْطِىٓ أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذْتُمُوهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّاۖ إِنَّ رَبِّى بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَٰذِبٌۖ وَٱرْتَقِبُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُمْ رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾

وئې ویل: اې زما قومه! آیا زما ټبر تر الله هم درته ډېر گران او مهم دئ؛ او هغه مو د شا ته غورځولی په څېر گرځولی، یقیناً چې زما رب په هغه څه احاطه لري چې تاسو ئې کوئ. او اې زما قومه! تاسو په خپلې خپلې کړنلارې عمل وکړئ او زه هم عمل کوونکی یم، ډېر ژر به پوه شئ چې څوك په داسې عذاب اخته کېږي چې سپك به ئې کړي او څوك دروغجن دئ؟ او انتظار وکړئ چې زه هم له تاسو سره انتظار کوونکی یم.

(۹۲-۹۳)- شعیب علیه السلام هغوی ته وویل:

● آیا زما ټبر تر الله تعالی ډېر مهم او د پام وړ درته برېښي، زما د ټبر پروا کوئ او د الله تعالی پروا نه کوئ، دومره د الله تعالی په اړه بې اعتناء شوي یئ چې په بشپړه توگه مو هېر کړی، داسې لکه چې شا ته مو غورځولی وي؟!!

● په دې پوه شئ چې زما رب ستاسو په ټولو کړنو او هلو ځلو حاوي دئ او هیڅ څه مو د هغه له واکه او د قدرت او سیطرې له دائرې وتلی نه دئ، ستاسو په پټو تدبیرونو پوه دئ، ستاسو له هلو ځلو خبر دئ او پایلې ئې د ده له لورې ټاکل کېږي،

● تاسو په خپلې خپلې کړنلارې عمل وکړئ او خپلو هڅو او هلو ځلو ته دوام ورکړئ او زه هم په خپلې کړنلارې عمل کوم، ډېر ژر به درته معلومه شي چې څوك به په داسې

عذاب اخته کېږي چې سپك به ئې کړي او څوك دروغجن دئ؟ تاسو هم انتظار وکړئ او زه هم ستاسو په څېر انتظار کوونکی یم.

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دِيَـٰرِهِمْ جَـٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَآ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾

او کله چې زموږ امر راورسېد، په خپل رحمت سره مو شعیب او هغه مؤمنان وژغورل چې له ده سره ول او ظالمان یوې اوچتې چیغې ونیول، نو په خپلو استوګنځیو کې پرمخې مړه پرېوتل. داسې لکه چې (له سره) هلته نه وو اوسېدلې، واوره چې مدین والو ته همغسې ورکوالی ورپه برخه شو لکه چې ثمودیان ورك شول.

(۹٤-۹۵)- یعنی هغه مهال چې د الله تعالی د پرېکړې نېټه راورسېده، شعیب علیه السلام او هغه مؤمنان ئې په خپل رحمت سره وژغورل چې له ده سره ول او ظالمان یوې هیبتناکې لوړې چیغې ونیول، په مرګ محکوم شول او پرمخې پرېوتل.

دا آیت ښیې چې شعیب علیه السلام او د ده مؤمنو ملګرو ته نجات ورکول، ظالمان مؤاخذه کول او د عالم له صفحې د دوی ړنګېدل د الله د رحمت له آثارو او علائمو دي، همدا چې تاسو ګورئ مظلومان چې د خپل حق لپاره د ظالمانو په ضد پاڅېږي، فتح او بری تر لاسه کوي، حالت داسې برابرېږي چې بالآخره د ظالمانو سلطه پای ته ورسي او د اقتدار کرسۍ ئې رانسکوره شي، دا په خپله د دې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې دلته یو حکیم ذات د دې عالم په پېښو او حوادثو کې تصرف کوي، هغه ذات چې د انسان په نسبت رحمت او پېرزوینه لري، که دا حوادث طبیعي حوادث وی او یوه حکیم رحمان رب د عالم د حالت په بدلېدو رابدلېدو کې تصرف نه کولی او د حوادثو په تلو راتلو کې ئې لاس نه درلودی، نو مظلوم به د تل لپاره مظلوم پاته وی او هیڅ کله به د ظالمانو د هلاکت او د دوی د اقتدار د ختمېدو او نسکورېدو انتظام نه وی شوی، بس په طبیعي ډول به ظالم تل ظالم او په اوضاع مسلط او مظلوم به تل مظلوم وو. خو دا چې الله جل شأنه حالات داسې برابروي چې ضعیف او مظلوم انسان، د ظالمانو او باغیانو په مقابل کې فتح او بری تر لاسه کړي او د ظالمانو له منګولو ئې وژغوري، دا په خپله ثابتوي چې دلته رحمن الله د رب په توګه تصرف کوي، هغه د مظلوم ملګرتیا کوي او ظالم په مرګ محکوموي، دا راز حوادث دا حقیقت ثابتوي چې دلته یو داسې ذات شته چې د خپلو بندګانو په اړه رحمان او مهربان دئ او د همدې رحمن رب په اراده دا غیرطبیعي حوادث تر سره کېږي.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ وَمَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ ﴿٩٧﴾ يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِۦ لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ بِئۡسَ ٱلرِّفۡدُ ٱلۡمَرۡفُودُ ﴿٩٩﴾

او يقيناً چې موسی مو له خپلو آيتونو او څرګند حجت سره ولېږو، د فرعون او د ده د درباريانو په لوري، چې هغوی د فرعون د حکم متابعت وکړ، په داسې حال کې چې د فرعون حکم سم او صحيح نه وو، د قيامت په ورځ به د خپل قوم مخکښې کوي او په اور کې به ئې ننباسي، د ننوتو ځومره بد ننوتځی؛ او په دې دنيا کې هم لعنت ورپسې کړی شو او د قيامت په ورځ هم، د ځومره بد انعام انعام ورکوونه!

(۹۶-۹۹)- دلته د موسی عليه السلام قصه په لنډه توګه او د وروستۍ تاريخي ښېګې په توګه داسې راغلې: موسی عليه السلام د الله تعالی له لوري له آيتونو او څرګند حجت سره؛ د فرعون او د ده د درباريانو په لوري ولېږل شو، هم معجزې ورکړی شوې وې، هم د ده د رسالت د اثبات لپاره څرګند حجت او هم لارښود کتاب، هغوی په داسې حال کې د فرعون حکم ته غاړه کښېښوده او د هغه متابعت ئې وکړ چې نه ئې حکم سم او صحيح وو او نه ئې د دوی سمه لارښوونه کوله، هغه فرعون چې د قيامت په ورځ به د خپل قوم او پلويانو مخکښ شي او په اور کې به ئې ننباسي، نه ګورې چې دوی په داسې مخکښ پسې روان شول چې ډېر بد ننوتځي ته به ډېره بده ننوتا ورپه برخه کړي؟ پايله ئې دا چې هم به په دې دنيا کې لعنت پرې ورېږي او هم د قيامت په ورځ، د فرعون د متابعت صله او انعام به ئې د دوزخ اور او تلپاتې لعنت وي، څومره بد انعام! دوی خو په دې هيله د فرعون متابعت کولو چې شاهي انعامونه به ئې په برخه شي خو ومو ليدل چې پايله ئې څه شوه؟!

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡۖ فَمَآ أَغۡنَتۡ عَنۡهُمۡ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ لَّمَّا جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَمَا زَادُوهُمۡ غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ ﴿١٠١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾

دا د دغو کليو (اړوند) خبري دي چي قصه ئې درته کوو، ځيني ئې ولاړ دي او ځيني ئې رېبل شوي؛ او موږ ظلم نه دئ پرې کړی، ليکن دوی په خپله پر خپل ځان ظلم وکړ، نو کله چي ستا د رب حکم راغی نو خپلو هغو معبودانو هيڅ گټه ورونه رسوله چي له الله پرته ئې مرستي ته وربلل؛ او له تباهۍ پرته ئې بل څه ورته زيات نه کړل؛ او ستا د رب نيونه همداسي وي کله چي کلي په داسي حال کې نيسي چي ظالمان وي، بې شکه چي د ده عذاب سخت دردوونکی دئ.

(۱۰۰-۱۰۲)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکينيو قصو په پای کې څو مهمي لارښووني شوې:

- دا د دغو کليو اړوند خبري دي چي قصه ئې درته کوو، ځيني ئې لا ولاړ دي، نه دي نسکور شوي، اوسېدونکي ئې هلاك شوي خو کلي ئې نورو ته په ميراث پاته شوي؛ او ځيني ئې داسي نسکور شوي چي نښي ئې هم له منځه تللې، لکه رېبل شوی فصل،
- د الله تعالی له لوري دا سخت سخت عذابونه د دوی د عملونو عادلانه بدله او سزا وه، الله وربانديي ظلم نه دئ کړی، دوی په خپله پر خپل ځان ظلم وکړ،
- کله چي ستا د رب له لوري وروستۍ پرېکړه وشوه نو خپلو هغو دروغجنو معبودانو هيڅ گټه ورونه رسوله چي له الله پرته ئې لمانځل او مرسته ئې ترې غوښتله، چا بتان لمانځل، چا قبرونه، چا قصرونه، چا پيران او چا فرعونان، خو دغو دروغجنو معبودانو له تباهۍ پرته بل څه ورته زيات نه کړل.
- ستا د رب نيونه همداسي وي؛ کله چي خلك د ظلم لار غوره کړي او الله تعالی ئې د تعذيب پرکړه وکړي نو له داسي برخليك سره ئې مخامخ کړي، بې شکه چي د ده عذاب سخت دردوونکی دئ. قريش او ټول هغه خلك چي د مخکينيو کافرانو، مشرکانو او ظالمانو په لار درومي بايد پوه شي چي د الله تعالی سخت دردوونکی عذاب ورته منتظر دئ.

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ ٱلْءَاخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ
وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾

يقيناً چي په دې کې هغه چا ته څرگنده نښه ده چي د آخرت له عذابه وېرېږي، دا هغه ورځ ده چي خلك به ورته راغونډ کړی شي؛ او دا ورځ ليدل کېدونکې ده. او نه ئې ځنډوو مگر تر شمېرلې (لنډې) نېټې.

(۱۰۳-۱۰٤)- په دغو تاريخي پېښو کې د هغه چا لپاره څرگنده نښه ده چي د آخرت له عذابه وېرېږي، د دنيا دا عذابونه ښيي چي د آخرت عذاب حق دئ، ظالمانو ته يو په بل

پسي سزا ورکول ښيي چي الله تعالی له هر چا سره محاسبه کوي، ظالم ته سزا ورکوي، د ظالمانو د اقتدار مانۍ نسکورووي، مظلوم ژغوري، حقپالو ته بريا ورپه برخه کوي او له عذابونو ئې خوندي ساتي، دغه الله به هرومرو د قيامت هغه ورځ راولي چي له ټولو سره بشپړه محاسبه وشي او هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه بدله ورکړی شي، هغه ورځ هرو مرو راتلونکې ده چي خلك به ورته راغونډ کړی شي، ټول به دا ورځ په خپلو سترگو وگوري، ځنډېدا ئې تر شمېرلې لنډي مودې پوري ده.

يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ﴿١٠٨﴾

کله چي (دا ورځ) راشي نو هيڅوك به د ده له اجازې پرته خبري نشي کولی، نو ځيني به ئې بد بخته وي او ځيني ئې بختور، نو هغه چي بدبخت شوي په اور کې به وي چي په هغه کې به ئې چيغي او ځگېروي وي (داسي لکه د خرو هنگېدا او کورېدا)، تلپاته په هغه کې، تر هغه چي آسمانونه او زمکه دوام کوي، مگر کله چي ستا رب ئې وغواړي، يقيناً چي ستا رب د هغه کار ښه تر سره کوونکی دئ چي اراده ئې وکړي. او هغه چي بختور شوي نو په جنت کې به وي؛ تلپاته په هغه کې، تر هغه چي آسمانونه او زمکه دوام کوي، مگر کله چي ستا رب ئې وغواړي، داسي ورکړه چي (لړۍ ئې) نه پرې کېدونکې ده.

(۱۰۵-۱۰۸)- دلته د قيامت په ورځ د دوو ډلو حالت او وضعيت انځور شوی، يوه ئې د بختورو ډله او بله ئې د بدبختانو، يوه به ئې په دوزخ کې وي، کله به له تندي چيغي وهي او کله به د سوزېدو له درده کوکاري، څه به ويلی نشي، چيغي به ئې د بوده وو هنگېدا او کورېدا ته ورته وي، تل به په همدې حالت کې وي، بله ډله به د تل لپاره په جنت کې وي.

دلته په جنت او دوزخ کې تل پاته کېدا داسي ښودل شوې لکه د آسمانونو او زمکې دوام، تاسو پوهېږئ چي دلته له آسمان او زمکې د دنيا آسمان او زمکه مراد نه دي، بلکې د آخرت آسمان او زمکه مراد دي؛ او په دې سره ويل شوي چي په جنت او دوزخ کې به خلود داسي وي لکه د آخرت د آسمان او زمکې خلود، خو دا چي تر دې وروسته ويل شوي:

الا ما شاء الله: مگر دا چې ستا رب ئې وغواړي؛ د دې استثناء معنی د خلود نفي نه ده، بلکې مراد ئې دا دئ چې الله تعالی (فعال ما یرید) دئ، هیڅ قید او بند ئې د ارادې مخه نشي نیولی؛ او د خاص کار په کولو ئې نشي اړ کولی. د دواړو آیتونو په پای کې د (فعال لما یرید) او (عطاء غیرمجذوذ) شیې چې مقصد ئې همدا دئ.

دې ته مو هم باید پام وي چې دلته سعید او شقي انسان راپېژندل شوي، سعید هغه دئ چې تل به په جنت کې وي او شقي هغه چې تل به په دوزخ کې وي، د هغو خلکو په اړه څه نه دي ویل شوي چې څه موده به په دوزخ کې پاته کېږي او بیا به جنت ته درومي، الا ماشاء ربك په دې اړه نه دئ راغلی، بلکې د همدغو اشقیاءو په اړه راغلی خو معنی ئې همغه ده چې پورته تشریح شوه، یعني دا قید د خلود د نفي لپاره نه دئ.

---

فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن قَبْلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ نَصِيبَهُمْ غَيْرَ مَنقُوصٍ ﴿١٠٩﴾

نو د هغه څه په اړه په شك کې مه پرېوځه چې دا خلك ئې لمانځي، لمانځنه ئې فقط همغسې ده لکه چې د دوی پلرونو تر دې د مخه لمانځنه کوله؛ او موږ دوی ته خپله برخه بشپړه له کمښت پرته ورکوو.

---

(۱۰۹)- دوی چې کوم دین غوره کړی او د کومو معبودانو عبادت کوي، د دې د پایلو په اړه هیڅ شك مه کوه، د دوی عبادت همغسې دئ لکه د دوی د مخکینیو پلرونو، پایله او برخلیك به ئې هرومرو همغسې وي لکه د دوی د پلرونو، دوی به همغه څه تر لاسه کوي چې مخکینیو ئې تر لاسه کړ، له هیڅ کمښت پرته.

---

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾ وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَٰلَهُمْۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١١﴾

او یقیناً چې موسی ته مو کتاب ورکړ چې په هغه کې اختلاف وکړی شو؛ او که ستا د رب مخکینۍ وینا نه وی نو هرومرو به د دوی تر منځ پرېکړه شوې وه؛ او یقیناً چې دوی په دې اړه په دوکه کوونکی شك کې دي؛ او یقیناً چې ستا رب به د دوی هر یوه ته د دوی عملونه په بشپړه توگه ورکړي، یقیناً چې هغه د دوی په کړنو ښه خبر دئ.

---

(۱۱۰-۱۱۱)- موسی علیه السلام له الهي کتاب سره راغی، په لوحو کې لیکل شوی کتاب،

خو تاسو وليدل چې له هغه الهي كتاب سره هم ډېرو مخالفت وكړ؛ او الله تعالی هغو مخالفت كوونكو ته د خپل سنت مطابق مهلت وركړ، كه دا الهي سنت نه وی نو د موسی عليه السلام او د الهي كتاب د مخالفت په سبب به ئې فوراً او له ځنډه پرته پرېكړه كوله او دوی ته به ئې د خپل مخالفت سزا وركوله، د پيغمبر عليه السلام او د قرآن مخالفين هم بايد په دې دوكه نشي چې ولې له مخالفت سره سره په الهي عذاب نه اخته كېږي، يقيناً چې دوی په دې اړه دوكه شوي، خپلو غلطو گمانونو او شكونو غولولي، ستا رب به د دوی هر يوه ته د خپلو عملونو بشپړه سزا وركوي، هيڅ عمل به ئې بې سزا نه پاته كېږي، يقيناً چې هغه د دوی په كړنو ښه خبر دئ.

---

فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿١١٢﴾ وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

نو هم ته همغسې استقامت وكړه لكه چې گمارل شوی يې او هم هغه چې له تا سره ئې يو ځای (خپل رب ته) مخه كړې؛ او سرغړاوی مه كوئ، يقيناً چې دی د هغه څه ښه ليدونكی دئ چې تاسو ئې كوئ؛ او د ظالمانو په لوري تمايل مه كوئ كه نه نو په اور به اخته شئ، په داسې حال كې چې له الله پرته هيڅ اولياء نه لرئ، بيا به مو هيڅوك مرسته ونه كړی شي.

---

(۱۱۲-۱۱۳)- نو هم ته (اې پيغمبره) همغسې استقامت وكړه لكه چې گمارل شوی يې او هم هغه چې له تا سره ئې يو ځای (خپل رب ته) مخه كړې؛ او سرغړاوی مه كوئ؛ يقيناً چې دی د هغه څه ښه ليدونكی دئ چې تاسو ئې كوئ؛ او د ظالمانو په لوري تمايل مه كوئ كه نه نو په اور به اخته شئ؛ په داسې حال كې چې له الله پرته هيڅ اولياء نه لرئ؛ بيا به مو هيڅوك مرسته ونه كړی شي.

دلته پيغمبر عليه السلام او مؤمنانو ته ويل شوي چې:

- له الهي لارښوونو سره سم داسې استقامت وكړئ لكه چې پرې گمارل شوي يئ، له هر راز سرغړاوي او انحراف پرته؛ دې ته مو بايد پام وي چې معامله مو له هغه ذات سره ده چې ستاسو پر ټولو پټو او ښرگندو كړنو ښه پوه او د هر څه ښه ليدونكی دئ.د دې مزيد شرح د همدې سورې د ۱۲۰آيت په تفسير كې وگورئ.
- د ظالمانو په لوري تمايل مه كوئ كه نه نو د دوزخ اور به مو په برخه شي او د الله تعالی له تأييد او ملاتړ به محروم شئ او داسې څوك به ونه مومئ چې ستاسو مرسته وكړی

شي. دلته مؤمنانو ته ویل شوي چې نه یوازې د ظالمانو ملګرتیا ونه کړي او له دوی سره له دوستۍ ډډه وکړي بلکې د دوی په لوري له میلان او پر دوی له باور او اعتماد هم ځان لرې وساتي، د کافرانو او مشرکانو په ځای د ظالمانو صیغه راوړل ښیي چې له هر ظالم سره له تمایل ښودو ممانعت مراد دئ.

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ وَٱصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١١٥﴾

او د ورځې په دواړو خواوو کې او (ورپسې نژدې) د شپې ځینې برخې کې لمونځ کوه، یقیناً چې ښېګڼې بدې له منځه وړي، دا د پند اخیستونکو لپاره پند دئ او صبر وکړه چې یقیناً الله د نېکانو اجر نه ضائع کوي.

(۱۱٤-۱۱۵)- دلته د مخالفتونو په وړاندې پیغمبر علیه السلام او مؤمنانو ته دوه مهمې توصیې شوې:

- د ورځې دواړو خواوو کې او ورپسې نژدې د شپې ځینې برخې کې لمونځ کوه، لمونځ هغه ښېګڼه ده چې له معنوي پلوه د انسان روزنه کوي او بد بد خصلتونه ئې له منځه وړي، که څه هم ځینو مفسرینو سیئات د ګناهونو په معنی تعبیر کړي خو دا تعبیر په دې دلیل کمزوری دئ چې دلته د بحث موضوع د ګناهونو بخښنه نه بلکې د مخالفتونو په وړاندې د استقامت موضوع ده، په سیئات سره بې صبرۍ، وېرې، ضعف، دښمن ته تسلیمېدا، ظالمانو ته تمایل او نورو ناوړو کارونو ته اشاره شوې او ویل شوي چې لمونځ دا ناوړه خصلتونه له منځه وړي، لمونځ د انسان اړیکې له خپل رب سره ټینګوي، ثبات او استقامت ورپه برخه کوي، قرآن معمولاً د ګناهونو لپاره (ذنب) او د بخښنې لپاره ئې د (غفران) صیغه کاروي، لکه (یغفر الذنوب او غافر الذنب...) او د بدو خصلتونو لپاره سیئات او د محوه کېدو لپاره ئې د (تکفیر) صیغه راوړي لکه (یکفر عنکم سیئاتکم، کفر عنهم سیئاتهم)، څوک چې وایې دا دواړه مترادف الفاظ دي او معنی ئې یوه ده رأیه ئې په دې دلیل صحیح نه ده چې قرآن ئې کله کله په یوه آیت کې او یو په بل پسې راوړي چې ښیي معنی ئې یوه نه ده لکه په دې آیت کې:
- يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانًا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ هود: ۲۹

د هود د سورې په دې آیت کې په (یذهبن السیئات) سره د سیئاتو او بدو خصلتونو محو او له منځه وړل افاده شوي. د آیت په پای کې ویل شوي چې دا د پند اخیستونکو لپاره

پند دئ او په ورپسې آيت کې د صبر سپارښتنه شوې دا دواړه هم ښيي چې دلته همدا خصلتونه مراد دي.

د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چې له (طرفي النهار) مراد د ورځې دواړه خواوې دي، له غرمې مخکې او وروسته برخې ئې، چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځې ته نژدې وي، چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

صبر وکړه چې يقيناً الله د نېکانو اجر نه ضائع کوي. د خپلو هڅو، جهاد او دعوت د نتائجو او پايلو په اړه تشويش مه لره او هيڅکله دا ګمان مه کوه چې ستا هڅې به بې نتيجې پاته شي، دښمنان به په خپلو مخالفتونو سره ستا د بريا مخه ونيسي او وروستي منزل ته د رسېدو په وړاندې به خنډ شي، ډاډه اوسه چې الله د نېکانو اجر نه ضائع کوي، نه پرېږدي چې د نېکانو قربانۍ ضائع شي.

---

فَلَوۡلَا كَانَ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِن قَبۡلِكُمۡ أُوْلُواْ بَقِيَّةٖ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡفَسَادِ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّنۡ أَنجَيۡنَا مِنۡهُمۡۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتۡرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا مُصۡلِحُونَ ﴿١١٧﴾

نو ولې تر تاسو مخکينيو پېړيو کې داسي عقلمن نه ول چې په زمکې کې ئې د فساد مخنيوی کولی، مګر ډېر لږ ئې چې ومو ژغورل؛ او هغو چې ظلم ئې کولو د هغه څه متابعت ئې وکړ چې په هغه کې ئې عيش عشرت په برخه کېدو؛ او جنايتکاران ول. او ستا رب داسي نه دئ چې کلي په داسي حال کې تباه کړي چې استوګن ئې مصلحين وي.

---

(۱۱٦-۱۱۷)- دلته د مخکينيو قومونو د دې حالت په اړه حيرانتيا ښودل شوې چې ولې په دوی کې له لږو کسانو پرته داسي صالح او عقلمن خلك نه وو چې په زمکې کې ئې د فساد مخنيوی کولی، دغه عقلمن او صالح ټولګی وژغورل شو او نور هلاك شول!! هلاك شوي هغه ظالمان ول چې په خپل عيش عشرت پسې شول، داسي ظالمانه تګلاره او کړنلاره ئې غوره کړې وه چې دوی ته عيش عشرت ورپه برخه کړي. دلته قرآن د دغو هلاك شوو څو ځانګړتياوو ته ګوته نيسي: ظالمان ول، د عيش عشرت په لټه کې ول، جنايتکاران ول او په زمکې کې ئې فساد خور کړی وو. يعني دوی د خپلې هوساينې او ترفه لپاره د ظلم او جنايت لار غوره کړې وه، د دغو ظالمانو او مترفينو د عيش عشرت لپاره ډېرو خپل هر څه له لاسه ورکول او د دوی د هوس قرباني کېدل، دوی په ټولنې کې د فساد خورولو، جناياتو او د نورو په حق د تېرې له لارې ځان ته هوسا او مرفه ژوند برابرولو، په ټولنې کې د هغو

عقلمنو او صالح کسانو شمېر ډېر لږ وو چې د فساد مقابله ئې کوله، الله تعالی همدا لږکی وژغورو او د مفسدینو، ظالمانو، مترفینو او جنایتکارانو د عیش عشرت ټغر ئې ټول کړ. دا ستا د رب نه بدلېدونکی سنت دئ چې د یوې سیمې په اوسېدونکو تر هغه عذاب نه رالېږي چې استوګن ئې صالحان وي، د عذاب لېږلو پرېکړه هغه مهال کوي چې د ټولنې غالب اکثریت د ترفه او عیش عشرت لپاره د فساد، ظلم او جنایت لار غوره کړي، د زړه سواندو دعوتګرانو وړوکی صالح ټولی په خپلې خوا کې ونه زغمي او د دوی مخالفت ته ملا وتړي، الله تعالی یوازې دغه مهال د صالح ټولې د ژغورنې او د ظالمانو د کلکې مؤاخذې او نیونې پرېکړه کوي.

---

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ ١١٨ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١١٩

او که ستا رب غوښتی نو (له ټولو) خلکو به ئې یو (متحد) امت جوړ کړی وو، خو تل به په خپلو کې سره مختلف وي، مګر هغه چې ستا رب پرې رحم کړی؛ او د همدې لپاره ئې پیدا کړي؛ او ستا د رب وینا پای ته رسېدلې چې دوزخ به هرومرو له پېریانو او خلکو ګډ ډکوم.

---

(۱۱۸-۱۱۹)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- الله تعالی انسانان داسې نه دي پیدا کړي چې د (انتخاب) او (اختیار) واک ورسره نه وي، په یوې ټاکلې لار تلو ته اړ او ټول د عقیدې او عمل له مخې سره ورته وي، بلکې دوی ته ئې دا ځانګړتیا ورکړې چې خپله تګلاره او کړنلاره په خپله خوښه او اراده انتخاب کړي؛ او له بل په خپل انتخاب کې توپیر ولري، که ستا رب غوښتی نو له ټولو خلکو به ئې یو متحد امت جوړ کړی وو، نه به په دوی کې څه اختلاف وو او نه د ښه او بد په اړه شخړه او نزاع، هم به د عقیدې له مخې سره ورته ول او هم د عمل له مخې، خو دوی ئې داسې پیدا کړي چې یو له بل سره اختلاف ئې یوه فطري او طبیعي ځانګړتیا ده، له دې اختلاف هغه څوک ژغورل کېږي چې د الله تعالی پېرزوینه ئې په برخه شي، الهي لارښوونه ئې لارښود شي او په هغې لار د تلو توفیق ئې په نصیب شي چې د الله تعالی د رحمت نښه او د خلکو د یووالي او وحدت ضامنه ده.

- ځینو درنو مفسرینو دا فقره (وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ) داسې تعبیر کړې چې ښيي الله تعالی انسانان د اختلاف لپاره پیدا کړي؛ خو دا تعبیر یوازې په هغه صورت کې صحیح ګڼل کېدی

شو چې تر دې فقرې (وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ) وروسته او متصل راغلې وی او تر دې مخکې (إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ) نه وی راغلې؛ حال دا چې د فقرو ترتیب داسې دئ چې شیې د (وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ) تړاو مخامخ له (من رحم) سره دئ؛ یعني انسانان به تل سره مختلف وي؛ یوازې هغه به له دې اختلاف ژغورل کېږي او متحد به وي چې د الله تعالی رحم او پېرزوینه ئې په برخه شوې وي؛ او الله تعالی دوی د همدغه یووالي لپاره پیدا کړي، کله چې دوی د اختلاف لار غوره کړي نو د خپل خلقت له اصلي مقصد سره ئې د تصادم لار غوره کړې، بیا نو د ځمکې پر سر د ژوند کولو حق نه لري، باید ټغر ئې ټول شي. او دا دئ ګورئ چې الله تعالی له ټولو مخکینیو امتونو سره همداسې کړي، متحده مؤمنه ډله ئې ژغورلې او په اختلاف کې نښتي د مشرکانو، کافرانو، ظالمانو او مفسدینو ډلې ئې له منځه وړې دي.

- یوازې دا نه چې په دنیا کې به په الهي عذاب اخته او ټغر به ئې ټولېږي بلکې د دوی په اړه ستا د رب وروستۍ او پرېکنده وینا دا ده چې ټول به په دوزخ کې راغونډوي، پېریان ئې هم او انسانان ئې هم؛ او دوزخ به په دوی ټولو ډکوي. د ډکولو معنی دا ده چې که د دوی شمېر هر څومره زیات شي نو دوزخ ئې نه یوازې په خپلې غېږ کې ځایولی شي بلکې د قرآن د وینا له مخې به هغه د الله تعالی د دې پوښتنې: (هل امتلئت: آیاډك شوې؟)، په ځواب کې ووایي: (هل من مزید: آیا مزید نور هم شته؟)

وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٢٠﴾

او د پیغمبرانو له (اړوند) خبرو چې د هرې یوې قصه درته کوو په دې سره ستا زړه مضبوطوو؛ او په دې کې تا ته حق راغلی او د مؤمنانو لپاره موعظه او پند.

(۱۲۰)- په دې مبارك آیت کې دا لارښووني شوې:

- دا د پیغمبرانو علیهم السلام اړوند خبرې چې تا ته ئې بیانوو؛ د دې لپاره دي چې ستا زړه پرې مضبوط کړو،
- په دې قصو کې چې تا ته څه ویل شوي ټول ئې حق دي،
- او په دې کې د مؤمنانو لپاره موعظې او پندونه دي.
- د دې آیت په اړه دوه خبرې ضروري برېښي:
- ځینو درنو مفسرینو د آیت وروستۍ فقره کې د (هذه) مشار الیه دا سوره ګڼې خو دا تعبیر څکه غوره نه برېښي چې دلته نژدې او څرګند مشار الیه (انباء الرسل) په مخکیني آیت کې راغلی، له ځانه ورته بل مشار الیه جوړول صحیح نه دي.

- د دې مباركې سورې په اړه ترمذي او د احايثو ځينو نورو كتابونو كې په دې مضمون يو روايت راغلى چې وايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ شِبْتَ. قَالَ « شَيَّبَتْنِى هُودٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلاَتُ وَ (عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ) وَ (إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ) ».

له عبدالله بن عباس رضى الله عنه روايت دئ چې ابوبكر رضى الله عنه وويل: اې د الله رسوله! وېښتان دې سپين شول!! وئې فرمايل: د هود، المرسلات، عم يتسائلون او إذا الشمس سورتونو وېښتان راسپين كړل.

دې ته مو پام وي چې په دې اړه راغلي روايات هم د متن له پلوه په خپلو كې متعارض دي او هم د سند له پلوه غريب او متعارض؛ او څو بې ځوابه پوښتني راولاړوي:

۱- د دې سورې د نزول په وخت كې د پيغمبر عليه السلام عمر د پنځوسو كلونو شاوخوا كې او په غالب گمان تر دې څه كم وو او روايات وايي چې دا مهال د پيغمبر عليه السلام په سر او ږيرې كې هيڅ سپين وېښته نه ترسترگو كېدو.

۲- دغه تر بحث لاندې آيت وايي چې د هود د سورې مضامين او په هغې كې راغلې د پيغمبرانو عليهم السلام اړوند قصې داسي دي چې د پيغمبر عليه السلام زړه پرې مضبوط كړى شوى، (...نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ): ستا زړه پرې مضبوطوو)، په دې سوره كې داسې څه نه تر سترگو كېږي چې د پرېشانۍ او تشويش باعث وي، بلكې له سره تر پايه د ډاډ او اطمئنان له زېرو ډكه ده، كه احياناً دا روايات صحيح وي نو بيا يوازې يوه توجيه ورته موندلى شو او هغه دا چې په دې سوره كې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې: (فاستقم كما امرت: داسې استقامت وكړه چې پرې مأمور شوى يې)، خو دلته هم دا پوښتنه بې ځوابه پاته كېږي چې دې ته ورته وينا خو د قرآن په ډېرو سورتونو كې په بېلو بېلو الفاظو راغلې، لكه:

فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾ الشورى: ١٥

ٱتَّبِعۡ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ الانعام: ١٠٦

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾ يونس: ١٠٩

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ﴿٢﴾ الاحزاب: ٢

---

وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنَّا عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا

مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾

او هغو ته چې ایمان نه راوړي ووایه: تاسو په خپلې کړنلارې عمل وکړئ؛ موږ هم عمل کوونکي یو؛ او انتظار وکړئ چې موږ هم منتظر یو.

---

(۱۲۱-۱۲۲)- نو اوس او له ټولو دغو دلائلو وروسته هغو مخاطبینو ته چې ایمان نه راوړي ووایه: تاسو په خپلې کړنلارې عمل وکړئ؛ موږ هم په خپلې تګلارې درومو او په خپل دین عمل کوو، تاسو هم راتلونکې ته انتظار وکړئ او وګورئ چې ستاسو دا کړنلاره څه درپه برخه کوي او موږ هم منتظر یو؛ وبه ګورو چې الله تعالی له موږ او له تاسو سره کوي.

---

وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾

او د آسمانونو او زمکې غیب الله لره دی او ټول کارونه ده ته راجع کېږي، نو عبادت ئې وکړه او توکل پرې وکړه او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

(۱۲۳)- دا آیت چې د سورې تتمه او پای دئ او له ټولو آیتونو سره ئې ژوره رابطه لري، د سورې د ټولو مضامینو خلاصه په دریو فقرو کې زموږ په وړاندې ږدي؛

- د هغه الله عبادت وکړه چې په غیب پوه دئ او ټول غیبي امور او هغه شیان چې ستاسو له سترګو پټ دي د ده په واک کې دي او ټول کارونه ده ته راجع کېږي، پای او پایله ئې د ده له لوري ټاکل کېږي.
- پر الله تعالی توکل وکړه، د څواکمنو دښمنانو په وړاندې الله تعالی ځان ته کافي وګڼه،
- ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ، ستا او ستا د دښمنانو کړنو ته په پام سره به وروستۍ پرېکړه کوي، ډاډه اوسه چې الله تعالی به مؤمنان او صالحان ژغوري او بریا به ورپه برخه کوي او د حق دښمنان به کلك نیسي او سخته سزا به ورکوي. دا همغه څه دي چې د تاریخ په اوږدو کې په وار وار تکرار شوي، د نوح، هود، صالح، ابراهیم، لوط، شعیب او موسی علیهم السلام په قصو کې ئې څرنګوالی ستاسو په وړاندې څلېږي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## د یوسف له سورې ئې زده کړو

**یادونه:**

د یوسف د سورې دا تفسیر تر دې د مخه د بېل کتاب په بڼه کې دوه ځلې چاپ شوی؛ له یوې سریزې سره؛ دا دئ اوس ئې د قرآن پلوشې په دریېیم جلد کې له خپلې سریزې سره وړاندې کوو.

**پلورل شوی صحرایي زلمی!**

**څنګه له زندان قصر ته ورسېد**

**او د نړۍ تر ټولو د ستر او متمدن ملك پاچا شو؟**

**راشئ د یوسف له سورې ئې زده کړو!**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## سريزه

که تاريخي پېښو ته په عاميانه سترګه وکتل شي نو دا ګمان په انسان کې راولاړوي چې اقتدار به تل په واکمني طبقې کې له يوه بل ته انتقالېږي او له واکمنانو به د دوی اولاد ته په ميراث پاته کېږي، دا ورته ګران او حتی محال برېښي چې په لاندي طبقې کې چا ته اقتدار په لاس ورشي. د عاميانه ذهن خاوندان دا د تاريخ پرېکنده حکم ګڼي چې واکمنه طبقه به تل حکومت کوي او محکومه طيقه به تل د دوی واکمنۍ ته غاړه ږدي. د پيغمبرانو عليهم السلام او د مصلح دعوتګرانو او انقلابيونو يوه لويه ستونزه تل دا وه چې څنګه خلك په دې قانع کړي چې دا يو غلط ذهنيت دئ، دا ذهنيت د ټولني روان وضعيت په دوی کې راپيدا کړی، دوی کولی شي دا حالت بدل کړي، د ظالمو واکمنانو تخت او تاج رانسکور کړي او اقتدار ئې پای ته ورسوي، خو عام ولس يوازي په استدلال سره په دې خبري نه شو قانع کولی چې په دوی کې د دې حالت د بدلولو او د يوه انقلاب راوستو توان شته، که دوی همت وکړي، ملا وتړي، د ظلم په خلاف پاڅي نو الله تعالی به ئې مرسته کوی، په دې وينا د باور کولو لپاره بايد داسې تاريخي واقعيتونه د دوی مخې ته کښېښودل شي چې دا حقيقت ثابتوي، دلته ده چې په مخکينيو تاريخي پېښو د استناد ضرورت مخې ته راځي او همدا سبب دئ چې قرآن د تېرو امتونو قصې زموږ مخې ته ږدي، قرآن د همدې لپاره د يوسف عليه السلام او موسی عليه السلام قصه په ډېر تفصيل سره رااخلي او په ترڅ کې ئې همدا حقيقت موږ ته ثابتوي، موږ ته وايي: وګورئ څنګه يو پلورل شوی صحرايي زلمی له زندانه قصر ته ورسېدو او د نړۍ تر ټولو د ستر او متمدن ملك پاچا شو؟ وګورئ د فرعون د غلامانو له ډلي څنګه يو فراري زلمی په دې موفق شو چې مظلومان د ظالمانو په ضد متحد او پاڅون ته چمتو کړي، بري ته ورسېږي او فرعون او لښکري ئې د سيند په څپو کې غرق شي؟!!

د يوسف سوره په مکه مکرمه کې هغه وخت نازله شوې چې پيغمبر عليه السلام د قريشو له سخت مخالفت سره مخامخ وو، د دغو مخالفتونو لارښوونه د قريشو هغو مذهبي او قومي مشرانو کوله چې پيغمبر عليه السلام او د هغه دعوت ئې د خپل زعامت لپاره ستر ګواښ بالو، هغوی د رسول الله صلي الله عليه وسلم د فکري او اخلاقي عظمت په وړاندي ځان وړوکی احساساوو او داسې ئې انګېرله چې د ده سپېڅلی شخصيت، لوړ اخلاق، اوچت افکار، عدالت غوښتنه، د مظلومانو ملګرتيا او له ظلم، فساد او بې عدالتۍ

سره ئې نه پخلا کېدونکې مبارزه به د دې سبب شي چې د قريشو مذهبي او قبيلوي زعماء او مشران له زعامته خلع شي او ټول خلك به پيغمبر عليه السلام د زعيم او مشر په توگه غوره کړي، د همدې لپاره ئې د پيغمبر عليه السلام په ضد مخالفتونو ته لمن وهله او د لازياتولو لپاره ئې هلي ځلي کولې

دغو مخالفتونو هغه وخت زور واخيست چې د قريشو مشرانو وليدل چې د قوم ځوانان او د ټولني صالح او نېك شخصيتونه د پيغمبرعليه السلام دعوت ته په پراخه پيمانه لبيك وايي، د غورځنگ لمنه په چټکۍ سره پراختيا مومي او د مؤمنو ځوانانو گواښل، تعذيب او فشار هم د دغه دعوت د مخ په زياتېدونکي خپرېدو مخه نه شي نيولی، له همدې امله د دوی يوې ډلې هڅه کوله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم له مکې تبعيد کړي، بله ډله ئې د ده په وژلو پسې وه او نورو د ده په بندي کولو ټينگار کاوو.

په دې مبارکې سورې کې د انسان څو اساسي پوښتنو ته ځواب ويل شوی:

- په فکري او سياسي مبارزاتو کې وروستۍ بريا د چا په برخه کېږي؟ هغه چې په وسلو سمبال وي، تر خپل حريف او رقيب ئې مادي او مالي امکانات زيات او وسائل ئې مخکې تللي؟ او که هغه چې له فکري او اخلاقي پلوه پر خپل حريف برلاسی وي؟

- آيا صالح او نېك شخصيتونه به هيڅکله له کړاوونو سره نه مخامخ کېږي، تل او د ژوند په هر پړاو کې به بريالي وي؟ د دوی ملگري او د دوی په لار تلونکي به هم له ستونزو سره نه مخامخ کېږي، څوك به ئې مخالفت نه کوي، د دوی د دښمنۍ لپاره به ملا نه تړي؟ او که څوك د دوی دښمنۍ ته ملا وتړي نو تل به ناکام او نامراده وي؟

- آيا له کړاوونو، ستونزو او آزمېښتونو سره مخامخېدا د يوه شخصيت يا يوې ډلي د اشتباهاتو، غلطيو، تېروتنو او ناسموالي نښه وگڼو؟ او داسي وانگېرو چې د الله تعالی له لوري په عذاب اخته شوي، د خپلو گناهونو سزا ورکړی شوې او د الله تعالی له تأييد او حمايت محروم شوي؟

- که داسي نه وي نو له مصيبتونو سره د دوی د مخامخېدو لپاره څه توجيه لرو؟ آيا دا يو طبيعي بهير دئ؟ د الله تعالی سنت داسي دئ چې هم نېکان له آزمېښتونو سره مخامخ کوي او هم بدان؟ آيا د چا لپاره ستونزي او کړاوونه د بدو عملونو سزا وي او چا ته د درجو د لوړولو، کمال ته د رسولو او د فکري او عملي ودې ورکولو ذريعه؟

دې پوښتنو ته د سم او دقيق ځواب نه موندل او په دې اړه ناسم او غلط قضاوت د دې باعث شي چې انسان د پېښو په اړه په خپلو قضاوتونو کې اشتباه وکړي، غلط دريځ غوره کړي، ناکام ته د کامياب په سترگه او بريالي ته د نامراد په سترگه وگوري!!

دا يوازي قرآن نه دئ چې دې اساسي پوښتنو ته ئې دقيق او علمي ځوابونه ورکړي، بايبل د نړۍ بل ستر مذهبي کتاب هم د دې هڅه کړې چې دغو پوښتنو ته ځواب ووايي،

خو داسې ناقص ځواب چې خپل هيڅ مخاطب نشي قانع کولی، بايبل د ايوب عليه السلام د قصې په ترڅ کې دې پوښتنو ته د ځواب ويلو هڅه کړې، خو ناکامه هڅه، که څه هم په بايبل کې تر ټولو غوره برخه چې په ويلو ارزي همدا د ايوب عليه السلام قصه ده، بايبل د يوسف عليه السلام قصه هم په ډېر تفصيل سره رااخيستې، خو داسې لکه څوك چې د يوه قوم شجره بيانوي، يا د پېښو تاريخ ليکي، نه مخاطب ته کوم پند او نصيحت په کې نغښتی، نه د ادب مينه وال خوند ترې اخلي او نه د عقل او پوهې خاوندانو زړه ته لار مومي، خو په مقابل کې ئې قرآن له يوې خوا د بايبل غلطي تاريخي څېړنې تصحيح کوي، د پېښو حقيقي انځور وړاندې کوي، له بلې خوا دا قصه د څو ډېرو اساسي او مهمو پوښتنو په ځواب کې وړاندې کوي او د قصې په هرې برخې کې يوې پوښتنې ته ځواب وايي او د يوه ستر حقيقت تاريخي بېلګه زموږ مخې ته ږدي، له بله پلوه ئې بيان هومره جالب او زړه راښکونکی چې په يو ځل اورېدو سره د انسان د زړه تل ته رسي او په حافظې کې ځای نيسي، د قصو په اړه د بايبل او قرآن تر منځ نه يوازې له دې پلوه ژور توپيرونه شته چې د قرآن وينا، د بيان اسلوب، الفاظ او جوړښت ئې ډېر دقيق، خوندور او اغېزناك دي، هر لفظ ئې په ډېر دقت سره غوره شوی او په خپل مناسب او ښايسته ځای کې کارول شوی او هر يو خاص مطلب افاده کوي، خو د بايبل داسې چې يوه برخه ئې د بلې برخې متناقض، الفاظ او د جملو ترکيب ئې له رکاکتونو ډك، نه ئې عقلمن انسان منلی شي او نه د ادبي سليقې خاوند ترې خوند اخيستی شي، بلکې له دې پلوه به هم د دواړو تر منځ ژور توپير وګورئ چې د قرآن قصې ځانګړې موخې او اهداف تعقيبوي، هره قصه د يوه ستر مطلب د ښه توضيح لپاره وړاندې کوي، په هرې قصې کې لارښوونې او درسونه لري، خو د بايبل قصې فقط قصې او شجرې دي، د يوسف عليه السلام قصه ئې يوه ښه بېلګه ده، دا قصه په قرآن کې په دومره ښايسته او خوندورې بڼې کې راغلې چې د قرآن هر مينه وال ئې په ډېرې آسانۍ سره حفظ کولی شي، په عربي هېوادونو کې خو وضعيت داسې دئ چې اکثر امامان په دې خاطر په لمانځه کې د دې سورې له قرائته ډډه کوي چې که احياناً په کې غلط شي نو له ډېرو خواوو به فتح ورکول کېږي. په همدغې خوندورې او آسانې سورې کې د الله د لارې مجاهدينو ته هومره ژورې او پراخې توصيې او لارښوونې شوې چې هر مجاهد ته ئې يادول ضروري برېښي.

دا هم د قرآن يو ستر اعجاز دئ چې د نزول له نېټې تر ننه په مليونهاوو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او ټول بشري تاريخ کې هيڅ داسې مذهبي او غير مذهبي، د شعر يا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چې د قرآن په اندازه حافظان ولري!! د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: دا ولې تاسو په خپل اوږده تاريخ کې د بايبل محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! ځواب ئې څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چې د زړه دړه ئې ورته پرانيستلې شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکيب ئې خوندور وي، باور وکړئ چې ما په ټول بايبل کې يوازې د داؤد مزامير داسې ومونډل چې

څه نا څه د انسان د زړه دروازه ورته خلاصه شي او په هغه کې معنوي او ادبي خوند او ښکلا احساس کړي، له دغو څو پاڼو پرته نور په ټول بايبل کې څوك دا خوند او ښکلا نه شي موندلی.

د نړۍ د يوه داسې ستر او متمدن ملك پاچايي چې سيال ئې نه درلود، د يوه داسې صحرايي زلمي په لاس کې پرېوتل چې خپلو وروڼو په څاه کې وغورځاوو، د يوه مربي په توګه په لړه بيع خرڅ شو، د پاك لمنۍ په جرم زندان ته ولاړ او نژدې لس کاله ئې د زندان په تورو خونو کې تېر کړل، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړوي چې آيا دا يو تصادف وو؟ او که د الله تعالی يو ثابت او نه بدلېدونکی سنت؟ څوك چې په خدای او په دنيا او آخرت کې په الهي مکافات او مجازات باور لري نه داسې پېښو ته د يوه تصادف په سترګه ګوري او نه د نړۍ نورو پېښو او حوادثو ته، که دا په عالم کې طبيعي پېښې دي او که د انسان په ژوند کې لوړې ژورې، که دا د ښه او نېك انسان له ستونزو او کړاوونو سره مخامخېدل دي او که د شرير او بد انسان سوکاله، مرفه او آرام ژوند، که دا د مستحق ماته ده او که د نامستحق بريا، خو هغه چې په الله تعالی باور لري او هغه د عالم او د عالم د ټولو پېښو پالونکی او سمبالوونکی ګڼي، د پېښو په اړه نه داسې باور ساتلی شي او نه داسې قضاوت کولی شي، هغه د ښه، نېك عمله او صالح انسان د مکافات او د بد عمله او طالح انسان د مجازات کېدو لپاره مضبوط دليل لري او دا د عادل الله تعالی له لوري مکافات او مجازات ګڼي او همدا د الله تعالی د شته والي په اړه د دليل په توګه وړاندې کوي، خو د دې عکس حالت او هلته چې نېکان له کړاوونو سره مخامخ وي، زندانونو ته ځي، له هېواده شړل کېږي او پر له پسې ستونزې ګالي او مفسدين او ظالمان د اقتدار پر ګدۍ ناست او مرفه او سوکاله ژوند لري، ناچار بايد د دې لپاره د منلو وړ توجيه وړاندې کړي چې هم خپل تشويشونه او اندېښنې رفع کړي او هم د مخالفينو پوښتنو ته ځواب ووايي.

د پيغمبرانو عليهم السلام په شمول د ټولو مصلحينو په اړه د دوی مخالفينو ويلي چې که دوی په حقه وی نو د ولس له مخالفت سره به نه مخامخ کېدل او په هر ګام کې به له کړاوونو او ستونزو سره لاس او ګرېوان نه ول، هغو خلکو چې د پيغمبر عليه السلام او د ده له دعوت سره مخالفت ته ئې ملاتړلې وه، خپل ټول وسائل او امکانات ئې د دې الهي نهضت د مقابلې لپاره کارول او د پيغمبر عليه السلام ياران ئې د مکې په مبارکې وادي، دا د الله د کور حرم کې، ترشديد تعذيب لاندې نيولي وو، ويل به ئې: په دې خبرې څنګه باور وکړو چې محمدعليه السلام د خدای پيغمبر دئ، د ټولو ملائکو مطاع جبرئيل د الله له لوري ده ته د الهي وحي قاصد دئ، دا ادعاء کوي چې لار ئې حقه او الله ئې مل دئ!! په داسې حال کې چې دی او ياران ئې له دغو سختو کړاوونو او ستونزو سره مخامخ دي، په هرګام کې مصيبتونه او ابتلاءات ورته منتظر، تعذيب کېږي، له ملك شړل کېږي او وژل کېږي!! دا ولې د ده خدای د ده مرسته نه کوي؟ ولې ملائکې د ده مرستې ته نه راځي؟ ولې د ده مخالفين د الله په عذاب نه اخته کېږي؟ قرآن د يوسف په سورې کې دې پوښتنو ته

ځواب ورکوي او وايي: له کړاوونو او ستونزو سره مخامخېدل يو داسي الهي سنت دئ چي پيغمبران هم ورسره مخامخ شوي. الله تعالی انسان داسي پيدا کړی چي هرو مرو به د راز راز محنتونو او مشقتونو له کړلېچونو تېرېږي، لوړي ژوري به ګوري او کړاوونه به ګالي، له مصيبتونو سره د چا د مخامخ کېدو معنی دا نه ده چي هغه د الله له تأييد محروم او لاره ئې ناسمه ده!! تاسو سخته اشتباه کړې چي دا انګېرنه مو د خپلو قضاوتونو لپاره ملاك او معيار ګرځولې، مګر يوسف عليه السلام هم د خپلو ورونو په وړاندي او هم د عزيز مصر او د ده د مېرمني په وړاندي په حقه نه وو؟ آيا خپلو جفاکارو ورونو په دې خاطر په کوهي کي وانه چاوو چي پر پلار ګران وو؟ مګر د مصر واکمنانو د پاك لمنی په جرم زنداني نه کړ؟ خو پايله څه وه؟ د ده او د ده د ورونو؟ آيا دغه مظلوم انسان، دا پلورل شوی، صحرايي زلمی! د زندان له توري خوني د پاچايی قصر ته ونه ورسېدو او د نړی د هغه مهال ترټولو د ستر او متمدن ملك پاچا نه شو؟

د هر انسان د ژوند بهير ته پام وکړئ، د هرچا ژوند له لوړو ژورو ډك، کمزوری، ضعيف او محتاج دنيا ته راشي، بل ته په هر څه کي اړ، لاس پښې وهي، له يوه بل اړخ ته نه شي اوښتی، بل څوك بايد د ده مرسته وکړي، خپله غذا په اوښکو، ژړا او چيغو تر لاسه کوي، چي له زمکي د پورته کېدو شي نو هرګام په ډېر زحمت پورته کوي، په هر قدم کي پر مخ لوېږي، له راز راز بيماريو سره د دوامداري مقابلې لړی ئې په مخ کي، دردونه او رنځونه، تر هغه چي ځوان شي، د ژوند بهير ئې نوی پړاو پيل کړي او ستونزي ئې نوې بڼه او پېچلي ابعاد، له يوې نزاع لا نه وي فارغ شوی چي په بلي سر شي، يو مشکل ئې لا نه وي حل چي له بل سره مخامخ شي، له يوې بيماری روغ شي په بلي اخته، دغه دئ د انسان د ژوند حقيقي انځور، له ستونزو سره مخامخ کېدل ئې د ژوند طبيعي بهير، د الهي سننو مطابق او د ژوند لازمه. خدای جل شأنه انسان داسي نه دئ پيدا کړی چي تل به د ګلانو د پاڼو په بستر څملي، الله د ګلانو تر څنګ اغزي پيدا کړي، د خندا تر څنګ ژړا، د خوشحالی تر څنګ غم، د سوکالی تر څنګ ستونزي.

قرآن فرمايي چي الله تعالی د زمکي اقتدار صالحانو ته سپاري نه ګناهګارانو ته، که چېري ګناهګاران اقتدار تر لاسه کړي نو دا د الله تعالی د مرضي خلاف حالت دئ، دا حالت د انسانانو د خپلو غلطو تصرفاتو او ګناهونو نتيجه ده، الله تعالی انسان آزاد او د اختيار خاوند پيدا کړی، ده له خپل اختيار غلطه استفاده کړې او دا حالت ئې راپيدا کړی، يوه د ظلم لار غوره کړې او بل ظلم ته تسليم شوی، الله تعالی نه په دې راضي کېږي چي څوك ظلم وکړي او نه په دې چي څوك ظلم ته تسليم شي او د ظالم ملګرتيا وکړي. الله تعالی په دې نه راضي کېږي چي څوك په مصيبتونو اخته شي، برعکس له مصيبتونو د انسان ژغورل خوښوي او خپلو صالح بندګانو ته امر کوي چي په مصيبتونو د اخته انسانانو مرسته وکړي، دوی ته فرمايي: وږي، تږي او لوڅ ته خوراك، څښاك او جامه ورکول داسي وګڼئ لکه چي ما ته مو راکړي وي، د مظلوم ملګرتيا داسي وشمېرئ لکه چي زما مرسته مو کړې وي،

قاضي ته د عدالت کولو امر کوي، د ده بې عدالتي د دې لپاره نه ده چې خدای غواړي همداسي وشي، يوه مظلوم ته د ظالم قاضي په لاس سزا ورکړي او په دې سزا خوشحاله کېږي، ظالم قاضي د الله تعالى د حکم او رضاء خلاف عمل کړی، له هغه اختياره ئې غلطه استفاده کړې چې الله تعالى هغه ته د نورو انسانانو په څېر ورکړی، که له ظالم او مظلوم دا اختيار سلب شي بيا خو انسان د تيږي او وني په څېر په يوه محکوم او مجبور مخلوق بدلېږي!! څوك چې د انسان د بدو کارونو په وجه په هغه خدای اعتراض کوي چې انسان ئې پيدا کړی!! او هغه ته ئې اختيار او د ښه او بد له منځه د يوه د غوره کولو واك ورکړی، هغه د سطحي نظر خاوند دئ، د قضيې يوه اړخ ته ئې کتلي او بل اړخ ئې له پامه غورځولی، دې ته ئې پام نه دئ کړی چې دا د انسان د هغه اختيار نتيجه ده چې په سبب ئې انسان ته پر ټولو مخلوقاتو شرف او غوره والی ورپه برخه شوی، د همدې اختيار په سبب هغه ترملائکو هم غوره ګڼل شوی. ځا چې يو ډېر حساس کمپيوټر، داسي چې بېلګه ئې نه موندل کېږي او تر نورو زيات کارونه کولی شي، په دې موخه جوړ کړی چې د انسان کارونه ورته آسانه کړي، که اوس اتيا په سلو کې خلك له دې حساس کمپيوټر د نېکو مقاصدو لپاره استفاده کوي او شل ئې د غلطو مقاصد لپاره کاروي، آيا سمه ده چې د کمپيوټر جوړوونکی ملامت کړو او د اعتراض وړ ئې وګڼو؟!!

کله چې د يوسف سوره نازلېده نو پيغمبر عليه السلام او د ده ياران او ملګري له داسي سختو ستونزو سره مخامخ ول چې له لږو کسانو پرته نه چا دا ګمان کولو چې دوی به مقاومت ته دوام ورکړی شي او پر خپلو زورورو دښمنانو به غالب شي او نه ئې دا جرأت کولو چې د دوی په څنګ کې ودرېږي او د هغو ملا ماتوونکو کړاوونو زغملو ته چمتو شي چې دوی ورسره مخامخ ول.

د ابو لهب په څېر د رسول الله صلي الله عليه وسلم نژدې خپلوان هم د دې په ځای چې د ده ملګرتيا او ملاتړ وکړي، د ده د خورا بدو دښمنانو په قطار کې ودرېدل؛ د همدغو مخالفتونو او دښمنيو په طوفان کې د يوسف سوره نازلېږي او د يوسف عليه السلام د قصې په ترڅ کې له يوې خوا د ده مخالفينو ته وايي چې ستاسو برخليك به هم د يوسف عليه السلام د مخالفينو په څېر وي، هغوی هم د يوسف عليه السلام پرضد د رخې او کينې لاره ونيوله او د هغه په حق کې ئې له هيڅ ډول ظلم او جفا ډډه ونه کړه، د هغه د وژلو او شړلو توطئه ئې جوړه کړه، کوهي ته ئې واچاوو، پرې ئې ښود چې د مريي په شان په لږه بيع وپلورل شي، زندان ته ئې کش کړ او پرله پسې کلونه ئې په زندان کې وساتو؛ مګر په دې بريالي نه شول چې الهي مقدرات بدل کړي او هغه مقام ته د يوسف عليه السلام د رسېدو مخه ونيسي چې له ده سره وړ وو.

د يوسف سوره هغه وخت ښه جاجولی شو او د هر آيت په مفهوم او د مضامينو په پراخو ابعادو ئې هغه وخت ښه پوهېدلی شو چې د دې سورې د نزول په وخت کې د مکې

حاکمه فضا او هغه پيغام چې د غورځنګ موافقينو او مخالفينو د دې سورې له هر آيت اخيستلی، په نظر کې ولرو.

دا مبارکه سوره د هغو کسانو پوښتنو ته دقيق ځوابونه ورکوي چې غواړي پوه شي له مصلح او زړه سواندو دعوتګرانو سره د شديد مخالفت وجه څه وي؟ څوك ئې مخالفت کوي او ولې؟ او د دې مخالفت پايله به څه وي؟ هغه چې غواړي پوه شي صالح قيادتونه کوم او مواصفات ئې څه دي او د ناصالح سياسي او اجتماعي زعامتونو ځانګړتياوي کومي دي؟ د دې مبارکې سورې په ترڅ کې د جاهلي ټولني د سياسي او اجتماعي زعامت اخلاقي ځانګړتياوي په ډېره دقيقه او حکيمانه توګه انځور شوې، خدای خبر چې د قريشو مفسد مشران به د دې سورې په اورېدو سره څومره غصه شوي وي؟ دوی ته د دې سورې په هغي برخي کې چې د عزيز مصر او د مصر د نورو مشرانو د کورنيو اخلاقي حالت په کې انځور شوی، د خپلو کورنيو بد حالت ترسترګو کېدو او له همدې سورې پيغمبر عليه السلام دا درس اخيستی وو چې کله د يوه سرلوړي فاتح په توګه مکې ته داخل شو، ټول قريش د ده د سختو کينه کښو دښمنانو په شمول د کعبې خوا ته راغونډ وو او دې ته منتظر چې وګوري پيغمبر عليه السلام به د دوی د ټېرو دښمنيو څه سزا ورکوي، سرونه ئې له شرمه ټيټ او وېري اخيستي، کله چې پيغمبر عليه السلام ترې پوښتنه وکړه: له ما څه انتظار لرئ؟ له عذر، خجالت، عجز او انکسار په ډك غږ ئې ځواب ورکړ: هماغه انتظار چې له يوه مهربان او کريم مشر وروره کېدی شي!! او هغه په ځواب کې ورته وويل: زما ځواب همغه دئ چې زما ورور يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته ورکړی وو، اذهبوا و انتم الطلقاء: ځئ تاسو آزاد يئ!!

د دې سورې روښانه او مدلل آيتونه د هغو ډېرو کسانو پوښتنو ته دقيق ځوابونه ورکوي چې دسياسي ډلبنديو او رقابتونو په فضا کې ژوند کوي او د خلکو د قيادت او زعامت تر لاسه کولو لپاره د سياسي مشرانو او زعامتونو تر منځ د ټکر او رقابتونو شاهد دي او غواړي چې د دې شخړو او رقابتونو عوامل، محرکات، پايلي او عواقب وپېژني.

حکمتيار

## يوسف

### د سورې پېژندنه:

د يوسف سوره ۱۱۱ آيتونه لري چي د سريزي له دريو او د سورې د تتمې له اتو آيتونو پرته نور ټول ئې د يوسف عليه السلام هغي قصې ته ځانګړي شوي چي له بې شمېره ژورو لارښوونو او پراخو او اغېزناکو عبرتونو ډکه ده، د سر او پای آيتونه هم د قصې لپاره د مقدمې او تتمې حيثيت لري، ټول آيتونه ئې د لومړيو دوو آيتونو په څېر يا (مبين) ته په ورته صيغو پای ته رسېدلي او يا (تعقلون) ته په ورته صيغو، خو دې ته مو پام وي چي په (ن) او (م) پای ته رسېدلې ورته صيغې د وزن له پلوه شبيه او يو شان ګڼل کېږي، لکه (مبين) او (حکيم)، د همدې لپاره په ټول قرآن کې دا صيغې د هموزنو صيغو په توګه راوړل شوې، نه دېرشم او يو څلوېښتم آيتونه په داسي صيغو پای ته رسېدلي چي د بِرغ وزن ئې له دغو دواړو اوزانو سره توپير لري، يو ئې د (تستفتيان) بل ئې د (قهار) په صيغې پای ته رسېدلی، خو دا دواړه آيتونه داسي دي چي له ورپسې آيتونو سره تړلي دي او د وروستي آيت په پای کې بايد توقف وشي. همدا راز پنځه شپېتم او شپږشپېتم آيتونه په (يسير) او (وکيل) سره پای ته رسېدلي، چي د مبين هموزنه ګڼل شوي.

لکه څنګه چي دغه سوره په دريو تورو (ا، ل، ر) سره پيل شوې، همدا رنګه د دې سورې محوري مضامين چي ټول آيتونه ئې پر مدار څرخي، هم درې دي، په بل عبارت دا درې حروف دې ته اشاره کوي چي په دې سورې کې درې اساسي موضوعات څېړل شوي، که تاسو د سورې ټول مطالب په غور سره له نظره تېر کړئ نو ډېر ژر به متوجه شئ چي دلته د لاندي دريو مطالبو لپاره تاريخي بېلګې او مثالونه وړاندي شوي او د يوې ښکلې او زړه راښکونکې قصې په ترڅ کې د مخاطب مخي ته اېښودل شوي:

الف: خدای پالونکي او د الله د لاري لاروي، حتماً له سختو آزمېښتونو او کړاوونو سره مخامخ کېږي، دا آزمېښتونه کله هومره سخت وي چي د پيغمبرانو عليهم السلام په څېر اولواالعزمه شخصيتونه هم د يأس او ناهيلۍ پړاو ته رسېږي او داسي انګېري چي د الهي حتمي مرستي او پر دښمن باندي د حتمي بري او برلاسي په اړه د دوی هيلي، انتظارات او باورونه بې ځايه وو، هسي ئې ګمان کړی وو چي د خپلي مبارزې د عاجل او حتمي بريا شاهد به وي او د دښمن ماته به په خپلو سترګو وګوري. خو دا دئ له اوږدې مبارزې وروسته نه يوازي د دې انتظار د تحقق هيڅ نښې نه تر سترګو کېږي بلکي برعکس له داسي

پرله پسې کړاوونو سره مخامخ يو چې ترې وتل محال برېښي!

ب:- خو د همدغو سختو آزمېښتونو په پای کې او هغه مهال چې دوی له خپلې حتمي بريا او پر دښمن له برلاسۍ ناهيلي او مأيوس شوي، ناڅاپه ئې الهي مرسته په برخه شوې، له کړاوونو ژغورل شوي او بري ته رسېدلي.

ج:- د شر او فساد هغه ځواکونه چې د پيغمبرانو د دعوت او بلنې په وړاندې درېدلي له خدای پالونکو سره د پرله پسې ټکرونو په پای کې، د دوی د انګېرنو، انتظاراتو او باورونو په خلاف او ناڅاپي د الله تعالی له کلکې مؤاخذې سره مخامخ شوي او په شديد او دردوونکي الهي عذاب اخته شوي، نه خپلو پراخو وسائلو او امکاناتو له دې عذابه ژغورلي او نه خپلو پلويانو او مرستندويانو.

دا درې مهم مبحثونه د سورې له وروستي آيت مخکې په ايجاز او لنډيز سره داسې راغلي:

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١١٠﴾

تر هغه چې پيغمبران نهيلي شول او ګمان ئې وکړ چې کاذب (انتظار او هيلي) تېر ايستي دي، نابېره زموږ مرسته ئې په برخه شوې او هغه څوك ژغورل شوی چې موږ غوښتلي او زموږ عذاب به له مجرمانو دفع نه کړی شي (په هيڅ ځواك او هيڅ تدبير سره الهي عذاب له ظالمانو نه شي دفع کېدی).

او د سورې په وروستي آيت کې راغلي: قرآن چې کومې تاريخي قصې زموږ مخې ته ايښې دي، د تاريخ په لوړو ژورو کې د حق او باطل تر منځ د تصادم او نښتو کومې پېښې ئې بيان کړې دي، په دې کې د عقل خاوندانو ته عبرتناك درسونه دي، دا د نورو کتابونو د هغو قصو په څېر مه ګڼئ چې قصه خوښو له ځانه جوړې کړې، قرآن د تاريخ د ټولو دردمنو، زړه سواندو او صالحو بلونکو او دعوتګرانو او د دوی د رښتيني الهي دعوت تصديق کوي، هر څه ئې په ډېر دقت او تفصيل سره بيان کړي، څوك چې د حق په لټه کې وي او پر حقائقو د ايمان راوړلو تلوسه او اراده لري، دا کتاب به ئې لارښود وي او د ده لپاره د الله تعالی د رحمت او پېرزويني ډالۍ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝١ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ
تَعۡقِلُونَ ۝٢ نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا
ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ۝٣

**ا، ل، ر؛ دا د دې روښانوونکي او څرګند کتاب آیتونه دي. موږ هغه د عربي قرآن په توګه نازل کړی (په عربي ژبه د لوستلو لپاره آسان کتاب)، چې تاسو په ښه شان پرې پوه شئ. او ستا په لور د دې قرآن په وحي سره، موږ ترټولو غوره قصې درته کوو، په داسي حال کې چې تر دې مخکې (د نورو په شان له هغو) بې خبره وې**

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه څو مهمو خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

- له اسلام مخکې (په جاهلي) ادبیاتو کې وینو چې ډېرو لیکوالانو خپلې لیکنې په مقطعاتو تورو پیل کړې دي، په لیکنو کې دغه کړنلاره، د جاهلیت په زمانه کې مروج اومعمول دود وو او ټول پرې پوهېدل؛ (داسي لکه نن چې په انګلیسي او نورو ډېرو ژبو کې د کلماتو د سر توري د مخفف په توګه کاروي)، نو ځکه د قرآن د ځینو سورتونو په سر کې د دې تورو راتلل له هیچا سره کومه پوښتنه راولاړه نه کړه او په صحابه وو کې هیچا هم د دغو تورو په اړه له رسول الله صلي الله علیه وسلم پوښتنه ونه کړه، همدا وجه ده چې په دې اړه هیڅ روایت نه لرو، د وخت په تېرېدو سره دا لیکدود ورو ورو پرېښودل شوی او خبره هغه ځای ته رسېدلې چې خلك هغه رمز هېر کړي چې په دغو تورو سره افاده کېدو، د نومړو تورو په باب د مفسرینو اختلافات له همدغه ځایه را پورته کېږي.
- که چېري هغه سورتونه چې په دغه ډول حروفو پیل شوي په غور سره مطالعه کړئ، په واضح توګه به درته څرګند شي چې نومړي توري د سورې له محوري مضامینو سره خورا نژدې اړیکي لري: هغه سوره چې په یوه حرف پیل شوې، وینو چې د یوې مهمي او محوري موضوع په ارتباط ئې بحث کړی او که په دوه، درې یا له دې په زیاتو تورو پیل شوې، نو د هماغو تورو له شمېر سره سمي موضوعګانې په کې تر بحث او څېړنې لاندي نیول شوې.
- د دې سورې په دغو دریو لومړیو آیتونو کې د قرآن کریم شپږو مهمو صفتونو ته اشاره

شوې:

الف_ قرآن "مبین" کتاب دئ، خپل مطالب په روښانه ډول وړاندې کوي؛ داسې چې په هغو کې اغماض، ابهام، پېچلتوب او کږکېچ له سره نشته او ټول آیتونه ئې روښانه او واضح دي، دا کتاب بیانوونکی او روښانوونکی دئ، پټ حقائق ښکاره کوي، د انسان له نظره پټې او تروږمۍ زاویې ورته روښانه کوي او هر هغه څه ورته بیانوي او حقیقت ئې ورته واضح کوي چې په هغه پوهېدل او د حقیقت درك کول ئې انسان ته ضروري دي.

ب_ دا کتاب د الله تعالی له لوري یو داسې پیغام دئ چې له آسمانه نازل شوی او زموږ مستوی ته چې د زمکې اوسېدونکې یو راښکته شوی، هغه حد ته چې اخیستونکی او حامل ئې یو "امي" او لومړنی مخاطب ئې هم یو "امي قوم" وو، وګورئ چې د الله جلت عظمته لطف او عنایت څومره عام، لوی او پراخ دئ چې موږ ته ئې زموږ په خپله ژبه پیغام رالیږلی، د خلکو په ژبه، هغوی ئې په مروجو کلماتو او لغاتو مخاطب ګرځولي، داسې پیغام چې ټولو ته د فهم وړ دئ، روښانه او واضح.

د تأسف خبره دا ده چې ځینې حرفوي دینداران؛ دا آسان، واضح او ټولو ته د فهم وړ قرآن؛ پیچلی او ګران معرفي کوي، په داسې حال کې چې قرآن له "آسمانه" زمکې ته راغلی دئ او لارښووني ئې د زمکې پر مخ د انسانانو دچارو د تنظیم لپاره ځانګړې دي؛ مګر هغوی په خپلو پیچلو تعبیرونو او تفسیرونو سره دغه کتاب له زمکې آسمان ته پورته کوي، هغه ځای ته چې د چا لاس ور ونه رسیږي او د پیغامونو پوهه او درك ئې هیچا ته ممکن ونه برېښي.

ج- د دې کتاب په نامه کې د "لوست" او "په لوستلو کې د آسانتیا" صفت پټ دئ، کولای شئ چې د هغه ښکاره پیغامونه د هغه په روښانو الفاظو او کلماتو کې په ښه شان ولولئ او مفاهیم ئې درك کړئ، د هغه په الفاظو کې اغماض، پېچلتوب او تعقید له سره نشته.

د_ د هغه قوم په ژبه نازل شوی دئ چې د دې کتاب لومړنی مخاطب وو؛ په عربي ژبه.

هـ_ قرآن د انسان عقل مخاطبوي، هغه ویښوي، فکر او تعقل ته ئې اړباسي، هیڅ داسې څیز چې د انسان له عقل پورته وي او یا ئې له عقل سره مغایر وي په کې نشته.

و- د قرآن قصې د پخوانیو خلکو قصې (اساطیر الاولین) مه ګڼئ، دا تر ټولو غوره قصې "احسن القصص" دي چې په هغو کې ستر حقائق، پراخ او ژور مفاهیم راغونډ شوي او د تاریخي پېښو په ترڅ کې د دغو حقائقو عملي بېلګې نندارې ته اېښودل شوې او په دې سره مهمو فکري اساساتو ته عیني تجسم ورکړی شوی. دا قصې د خلکو په منځ کې د مروجو تاریخي قصو په شان مه ګڼئ؛ بلکې د غیب د نړۍ اسرار ئې وګڼئ، هغه اسرار چې یوازې د وحې له لارې پرې پوهېدی شو، عام خلك خو پر ځای پرېږدئ حتی پیغمبران علیهم السلام هم د وحې له نزول مخکې له دې غیبي اسرارو بې خبر وو.

إِذۡ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ رَأَيۡتُهُمۡ لِي سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾ قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقۡصُصۡ رُءۡيَاكَ عَلَىٰٓ إِخۡوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيۡدًاۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٥﴾

**كله چې يوسف خپل پلار ته وويل: پلار جانه! يولس ستوري او لمر او سپوږمۍ (مې په خوب کې) ځان ته د سجدې په حال کې وليدل. وئې ويل: زويکه! خپل خوب دې وروڼو ته مه تېروه، داسې نه چې ستا په ضد کوم پټ تدبير ونيسي، يقيناً چې شيطان د انسان ښکاره دښمن دئ.**

---

(٤-٥)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- بايبل هم د يوسف عليه السلام قصه په ډېر تفصيل سره رااخيستې ده، په ځينو برخو کې ئې وينا قرآن ته ورته ده، خو هغه ئې د يوې بې محتوى او بې مقصده قصې په توګه وړاندې کړې، په داسې حال کې چې قرآن دا د يوې ډېرې عبرتناکې او روزونکې قصې په ضمن کې بيانوي او په هرې برخې کې ئې په لسهاوو درسونه مخاطب ته ورکوي، قرآن د دغې قصې په ترڅ کې د حق د لارې مبارزينو ته دا ډاډينه ورکوي چې الله تعالی د حقپالو مل او د دوی د بريا ذمه وار دئ. دا قصه په حقيقت کې د داسې چا حالت انځوروي چې د زندان له يوې تيارې خونې پاچايۍ ته رسېدلی، هغه څوك چې خپلو وروڼو ورسره مخالفت ته ملاوتړله، په کوهي کې ئې واچاوو، د يوه غلام په توګه په ارزانه بيع خرڅ شو، د پاك لمنۍ په جرم زندان ته ولاړ... خو لا څو کاله نه وو تېر شوي چې له همدې زندانه قصر ته ورسېدو او د هغه وخت تر ټولو د ستر هېواد د پاچايۍ پر تخت کښېناستو!! په دې قصې کې د دې حقيقت لپاره تاريخي بېلګې وړاندې شوې چې د باطل په مقابل کې حق، د دروغو، چل او دوکې په خلاف رښتينولې او صداقت او د اخلاقي فساد په وړاندې پاك لمني هرو مرو غلبه مومي.

بايبل ليکي چې يوسف عليه السلام خوب وليد او وروڼو ته ئې تېر کړ او په همدې سره د هغوی حسادت راوپارېدو!! خو قرآن د بايبل خبره تصحيح کوي او فرمايي چې ده خپل خوب وروڼو ته نه بلکې خپل پلار ته تېر کړ او ورته ئې وويل: پلار جانه! په خوب کې يولس ستورې او لمر او سپوږمۍ ګورم چې راته سجده وکړې! پلار ورته وويل: ګرانه زويه! خوب دې وروڼو ته مه تېروه، داسې نه چې شيطان ئې ستا خلاف کوم خطرناك تدبير ته وهڅوي، د خوب تعبير دې دا دئ چې الله تعالی به تا غوره کړي، د خبرو په حقيقت او د خوبونو په تعبير د پوهېدو علم به درکړي او خپل نعمتونه به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ بشپړ کړي، هغسې لکه چې ستا پرپلار او نيکه، ابراهيم او اسحاق ئې بشپړ کړي وو. د

قرآن له وينا معلومېږي چي له يوسف عليه السلام سره د ده د وروڼو د مخالفت سبب د ده خوب نه بلکې د ده هغه لوړ شخصيت وو چي پلار د همدې په وجه په درنه سترګه ورته کتل او د ده راتلونکې ورته روښان او ځلاند معلومېدو.

دا آيتونه څو اساسي مطالب زموږ مخې ته ږدي:

الف: د يوسف عليه السلام په "رؤيا" کې يولس ستوري د هغه د يولسو وروڼو لپاره او لمر او سپوږمۍ د ده د پلار او مور لپاره د رمز په توګه راغلي او دا ښيي چي د "رؤيا" او خوب ژبه رمزي ده، ځانګړی قاموس لري، ټول شيان په کې د رموزو او سمبولونو په بڼه نندارې ته ايښودل کېږي.

ب: يوسف عليه السلام ته د ستورو، لمر او سپوږمۍ انقياد چي د ده په وړاندي د هغوی د سجدې په لفظ سره تعبير شوی دئ، هغه ته د وروڼو انقياد او د هغه پر لويوالي او اوچتوالي د کورنۍ د ټولو غړو اعتراف افاده کوي.

ج: کله داسي وي چي په يوه صالح انسان کې ښېګڼې او لوړ لوړ نېك صفات د کينه ګرو او حسودو انسانانو کينه راپاروي او همدغه کينه او حسد ئې د لوړو شخصيتونو دښمنۍ ته هڅوي. تل به ګورئ چي فاسق او مفسد انسانان له صالح او نېکو انسانانو سره دښمني کوي.

د: داسي مه انګېرئ چي په انسان کې حسادت يو طبيعي او فطري خصلت دئ، نه داسي نه ده؛ بلکې دا شيطان دئ چي په انسان کې د دې ناروغۍ سبب ګرځي، که چېري په نورو کې ښېګڼې او اوچت خصلتونه؛ په تا کې هم دغو ارزښتونو ته د رسېدو تلوسه راولاړه کړي او تا هم ښېګڼې او لوړو خصلتونو ته وهڅوي او په تا کې نوې ولولې، شوق، تلوسه او هيلي راوپاروي، دا يو طبيعي امر دئ؛ مګر که د دې پر عکس تا د فضل او ښېګڼې له خاوندانو سره عداوت، دښمنۍ او کينې ته وهڅوي او د دې بد کړچار سبب شي، نو پام کوه چي شيطان ستا پر زړه او دماغ سيوری غوړولی او دغه منفي احساسات ئې در کې راپارولي دي.

هـ: خپل رازونه او اسرار له ځان سره وساته او له افشاء کولو ئې، په خاصه توګه نژدې ملګرو، سيالانو او هغو کسانو ته چي له تا سره د تنافس او رقابت قصد لري، ډډه وکړه.

و: يعقوب عليه السلام چي يو حساس او پوه شخصيت او د درايت خاوند دئ له يوه پلوه د خپل زوی خوب په دقيقه توګه تعبيروي او له بله پلوه ورته توصيه کوي چي خپلو وروڼو ته ئې افشاء نه کړي، داسي نه چي شيطان د دوی کينه راوپاروي او د ده په خلاف ئې کوم ناوړه پټ تدبير ته وهڅوي.

---

وَكَذَٰلِكَ يَجۡتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ

وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعۡقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ۝٦

او همداسي به ستا پالونکی رب تا غوره کړي او د احاديثو (خبرو) تأويل (ښه او دقيق تعبير) به درزده کړي او خپلي پېرزويني به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ داسي بشپړي کړي لکه چي پخوا ئې ستا پر نيکونو ابراهيم او اسحاق بشپړي کړې، بې شکه چي ستا رب باحکمت پوه دئ.

---

(٦)- د يعقوب عليه السلام په دې دقيق تعبير کې يولس ستوري د يوسف د يولسو ورونو، لمر او سپوږمۍ د ده د پلار او مور رؤيائي رموز گڼل شوي او سجده ئې د ده په وړاندي د دوی انقياد او د دې نښه ښودل شوې چي الله تعالی به ده ته ستر او لوړ مقام ورپه برخه کړي، هغه ته به پر نورو فضيلت وروبخښي او د يعقوب عليه السلام د کورنۍ قيادت او مشري به ئې په برخه شي. د تأويل الاحاديث (د خبرو په کنه او حقيقت د پوهېدو) او د خوبونو د سم او دقيق تعبير پوهه به ئې په برخه شي، يعني له يوه پلوه به د خوبونو د تعبير علم ورکړی شي او له بله پلوه به د هري خبري تل ته د رسېدو استعداد او توانمني تر لاسه کړي او دا د يوه انسان د پوهي او علم تر ټولو لوړ پوړ دئ. يعقوب عليه السلام له دې "رؤيا" پوه شو چي دی او اولاد ئې د خپل وخت د ځلاندو ستورو په شان دي. له همدې امله يوسف عليه السلام ته فرمايي چي الله تعالی به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ باندي خپله پېرزوينه بشپړه کړي، هغسي لکه چي ستا پر نيکونو ابراهيم او اسحاق عليهما السلام باندي ئې بشپړه کړې وه، لکه څنگه چي هغوي د الهي انعام مستحق وگرځېدل او د خلکو د هدايت وسيله شول، تاسي به هم د خلکو د لاري د ځلاندو مشالونو حيثيت غوره کوئ او له تروږميو به د هغوی د ايستلو باعث وگرځئ. يعقوب عليه السلام ته له دې خوبه معلومه شوه چي په تأويل الاحاديث کې به يوسف عليه السلام تر ده هم مخکې وي، د ده په وړاندي خپله سجده ئې همداسي تعبير کړه، نو ځکه ئې هغه ته وويل: الله تعالی به د تأويل الاحاديث علم درکړي.

د آيت له دې برخي په ښه توگه څرگندېږي چي د يعقوب عليه السلام نور زامن سره له دې چي د خپل ورور يوسف عليه السلام په حق کې ئې ستره جفا وکړه، د الهي بخښنې وړ گرځېدلي او د معنويت لوړو پوړو ته رسېدلي.

د يوسف عليه السلام د قصې په ترڅ کې به وگورئ چي د يعقوب عليه السلام تعبير صحيح ثابت شو او ټولي برخي ئې يوه په بلي پسې تر سره شوې.

بايد و گورو چي "رؤيا" څه ده او حقيقت ئې څه؟ څنگه موږ د زمان او مکان له قيده باسي، راتلونکو زمانو ته مو بيايي او له راتلونکو حوادثو او پېښو مو خبروي؟ په

"رؤيا" کې کوم څيز د دې باعث کېږي چي موږ د مکان او زمان له حجاب آخوا پر هغو حقائقو پوه شو چي په خپلو پنځګونو حواسو ئې نه شو درك کولی؟ آيا موږ شپږم حس هم لرو؟ چي د خوب په حالت کې راويښېږي؟ آيا دا حس کولی شي چي د زمان او مکان له محدودې پښه آخوا کښېږدي، له حجابونو تېر شي او د پردو تر شا وقايع او حقائق درك کړي؟ او يا دا چي "رؤيا" د يوه بل حقيقت نښه ده؛ د يوه داسي ذات له شته والي مو خبروي چي د انسان د "رؤيا" او خوبونو د الهام سرچينه ده؟ که چېري د "رؤيا" په باب دا تعبيرونه او توجيهات ونه منو، نو څنګه کولی شو د دې لپاره کومه بله توجيه وړاندي کړو؟ څوك چي د الله تعالی له شته والي انکار کوي او انسان محض يو مادي توکی ګڼي او د روح په نامه کوم څه نه مني، د دغو خوبونو لپاره څه توجيه لري؟ د ټولو په ژوند کې، لږ تر لږه د يو شمېر انسانانو په ژوند کې زېری ورکوونکي خوبونه ترسترګو کېږي، د ټولو داسي خوبونه خو پرېږدئ آيا فقط يو ئې کافي نه دئ چي حساس محققين او منصف پوهان وهڅوي چي د دغو خوبونو په اړه خلکو ته دقيق او د منلو وړ ځواب ورکړي او سرچينه ئې په ګوته کړي؟ زه به د خپلو خوبونو له منځه دوه د دغو محققينو مخي ته کښېږدم او ځواب به ترې وغواړم، زه د دغه ډول "خوبونو" له پلوه ډېر غني وم، که ټول ئې وليکم نو يو کتاب ترې جوړيږي، دلته ئې دوه بېلګي د مثال په توګه رااخلم:

هغه مهال چي د ظاهر شاه د واکمنۍ په دوران کې بندي او په توقيف کې د محکمې ته حکم ته منتظر وم؛ يوه شپه مي خوب وليد چي زما مشر ورور اختر محمد (چي د کمونستانو د اقتدار په لومړيو کې زما له پلار او کوچني ورور نورالدين سره په شهادت ورسېدو) زما د توقيف خوني ته راننوت او له روغبړ وروسته زما د زندان د ملګري شهيد ډاکټر عمر پر اوسپنيز کټ کښېناست، د سرو زرو ګوتې ئې چي د فيروزې غمی په کې لګېدلی وو په ګوته وه، له څو دقيقو خبرو وروسته ئې دا ګوتې راوايستله او ما ته ئې راکړه، د ملاقات په پاي کې کله چي روانېدو؛ جيب ته ئې لاس کړ او درې سليز افغاني نوټونه ئې له جيبه راوايستل او ما ته ئې راکړل؛ خوب مي په دغه ځای کې پاي ته ورسېد، د هغي شپې په سبا؛ زما همدا مشر ورور ناڅاپي او پرته له دې چي کابل ته د ده له راتګ خبر وم؛ زموږ ليدو ته راغی، پوليسو هماغه اطاق ته راوست، په هماغه کټ کښېناست، هماغه ګوتې ئې په ګوته، له څو شېبو خبرو وروسته ئې خپله ګوتې راوايستله او ما ته ئې راکړه؛ د تلو په وخت کې ئې جيب ته لاس کړ او هماغه درې نوټونه ئې راوايستل او ما ته ئې راکړل؛ ما تر لاس ونيو او ورته ومي ويل: په خدای قسم چي ستا دغه راتګ او د هغه ټولي صحنی مي تېره شپه په خوب کې ليدلې وې، دې ته منتظر وم چي دا آخري برخه ئې هم وګورم او بيا ئې تا ته ووايم.

زما د "رؤيا" بله بېلګه د يوسف عليه السلام صادقه "رؤيا" ته ورته ده: (ما ته خپل شهيد پلار په نوې ځوانۍ کې واده وکړ، په لسم ټولګي کې زه د واده خاوند وم، د واده په شپه مي فقط څو شېبې د سحر له لمانځه مخکې خوب کړی، چي سترګي مي سره ورغلې په

خوب کې ګورم چې: د تره له يوه زوی سره مې چې سپين رېرى وو او محمد نذير نومېدو؛ يوځای د آسمان په لورى اوچت ولاړو، د ستورو ځای ته ورسېدو، ستوري راکد او ولاړ ول، خو زما په رسېدو سره وخوځېدل، له شرق د غرب په لوري روان شول، ناڅاپي داسي زرينه ټوټه ترې جوړه شوه چې د اوږدو او سارو تارونه ئې ټول ستوري ول، دا زرينه تکه په خپله په زرينو خوليو بدله شوه، له ما څو ګامه آخوا د دغه زرينو خوليو يوه وړه کوټه جوړه شوه، هغې خوا ته ورروان شوم چې وګورم دا څنګه خولۍ دي، ناڅاپي څه نور ناپيژانده کسان چې شمېر ئې تر څلورو پنځو زيات نه وو؛ را پيدا او له يوې بلې خوا د خوليو په لور راروان شول، هر يوه له دې خوليو يوه په لاس کې واخيسته پرته له دې چې په خپل سر ئې کښېږدي، ما هم يوه خولۍ را واخيسته او په خپل سر مې کښېښوده او په همدې سره له خوبه راويښ شوم. په ابتداء کې مې ګمان کولو چې د دې خوب به زما له واده سره ارتباط وي، شايي الله تعالى به ما ته نېك اولاد راکړي چې سر مې ورباندي لوړ وي، د دې خوب له ليدلو دوه کاله وروسته په پوهنتون کې شامل شوم او په پوهنتون کې زما له شمول سره جوخت اسلامي خوځښت پيل شو، د الله تعالى لطف او مهرباني وه چې د يو شمېر محصلينو ورونو په ملګرتيا د اسلامي نهضت په تأسيس کې لږ يا ډېره ونډه را په برخه شوه، د سردار داؤد د واکمنۍ په مهال او هغه وخت چې زموږ ډېر ورونه د رژيم له لوري د پاڅون په تور ونيول شول، ما له يو شمېر نورو ورونو سره پاکستان ته هجرت وکړ، لنډه موده وروسته مو له همغه ځايه د نهضت د بيا منظمولو لړۍ پيل کړه، د غړو په روزنه او تنظيم مو لاس پوري کړ، چا چې به له موږ سره يوه روزنيزه دوره پای ته رسوله، بېرته به خپلو سيمو ته ستنېدل، له لوړو غرونو او ژورو درو اوښتل او له کړو وړو ستونزمنو لارو به ټاکليو سيمو ته تلل او له رسېدو سره سم به ئې د افرادو په روزني او انسجام لاس پوري کاوو، په همدغه دوران کې وو چې ټول مشران ورونه راغونډ شول او د يوې غونډې په ترڅ کې ئې د اسلامي نهضت مشري ما ته تفويض کړه، ګمان مې وکړ چې زما د هغه خوب تأويل همدا وو.

خو ډېر وروسته کله چې د جهاد لمن خوره شوه، ډېر خلك حتى هغه هم د مجاهدينو له ليکو سره يو ځای شول چې له فکري او اخلاقي پلوه ئې د دې صف وړتيا نه درلوده خو شرائطو په نهضت تحميل کړل، په پاکستان او ايران کې ګڼ شمېر ډلي جوړې شوې، ډېر کسان د مشرۍ لپاره کانديد شول او غوښتل ئې د قيادت پګړۍ په سر وتړی، په دې وخت کې پوه شوم چې زما د هغه خوب تعبير څه وو.

که دېرش کاله مخکې مې دغه "رؤيا" له چا سره مطرح کړې وی؛ نو له تعبيره به ئې حتماً ځان عاجز ګڼلو خو که نن همدغه "خوب" د هر هغه چا په وړاندي تېر کړم چې د افغانستان له جرياناتو او د نهضت د تأسيس له څرنګوالي او د ډلو او ګوندونو د جوړېدو له بهير خبر دي؛ نو په آسانۍ سره کولی شي د دې خوب ټولي برخي تعبير کړي.

زه د داسي خوبونو پراخه تجربه لرم، همدغو تجربو دې نتيجې ته رسولی يم چي باور وکړم د انسان د روحي جوړښت او د دماغ هغه برخي چي په ويښه کي ډېر ځله د زمان او مکان له قيد وځي، وړاندوينه کوي، ابتکار کوي، د راتلونکي په اړه حدس وهي او ډېر ځله ئې حدسونه دقيق او صحيح ثابتېږي، له مقدماتو نتائجو ته ځان رسوي او د پېښو پايلي او پيلامې په ګوته کوي، دا برخي د "خوب" په حالت کي هم فعاله وي. داسي نه ده چي د خوب په حالت کي د انسان د روحي جوړښت ټولي حساسي برخي خپل فعاليت متوقف کوي. په خوب کي د دماغ ځيني برخي له فعاليت لاس واخلي، ځيني نيمه فعاله شي، ځيني د انتظار حالت غوره کړي، خو ځيني نوري برخي ئې داسي دي چي د خوب حالت هغوی ته د لا ښه فعاليت کولو موقع په لاس ورکړي. د خوب په حالت کي د انسان دماغ له ورځنيو پراخو مصروفيتونو فارغ وي، د ده پنځګوني حواس چي هر يو ئې د ورځي له لوري پراخ فعاليتونه لري او د دماغ لويه برخه مصروفوي، د خوب په وخت کي خپل کار متوقف کړي، دماغ آرام پرېږدي او هغه ته دا موقع ورکړي چي په پوره انهماك سره په هغو قضاياءو غور وکړي چي ده ته مهمي برېښي، هغه چي د ورځي له لوري، د پراخو مصروفيتونو له کبله نه توانېدو ورباندي غور وکړي. دا داسي وګڼئ لکه يو متفکر، عالم، شاعر، ليکوال چي د يوې مهمي څېړني، ليکني او شعر لپاره له خلکو ګوښه شي او ځانته د ښه فکر کولو او په خپل کار د ښه ترکيز لپاره مناسب شرائط برابر کړي. خوب همدا شرائط د دماغ لپاره برابروي.

انسان د خپل پيچلي دماغ د پراخو فعاليتونو يوه وړوکې برخه په خپل واك کي لري، داسي چي د ده له ارادې سره سم کار کوي، دا برخه په خوب کي خپل فعاليت متوقف کړي، خو د دماغ هغه لويه برخه چي د انسان تر واك لاندي عمل نه کوي بلکي خپلواکه ده او خپل ټول فعاليتونه په اتوماتيکه توګه تر سره کوي، دا برخه تل فعاله وي او د يوې شېبې لپاره خپل فعاليت متوقف کوي. د خوب په حالت کي د انسان د دماغ دا برخه د لا ښه فعاليت فرصت تر لاسه کوي. که انسان په ويښه کي وړاندوينه کولی شي، د راتلونکې په اړه حدس وهي، اختراعات کوي، نوي نوي ابتکارات کوي، څو مقدماتي خبري يوه د بلي خوا ته کښېږدي او له همدې د راتلونکو نتائجو په اړه قضاوت کوي. هيڅ دليل نه لرو چي همدا کار دي د خوب په حالت کي ونه شي کولی، د اکثرو انسانانو ذاتي تجربو دا خبره ثابته کړې.

له باانصافه محققينو او له حساسو څېړونکو پوښتنه کوم: که د نړۍ د ټولو خلکو داسي خوبونه يوې خوا ته پرېږدو، يوه دوه بېلګي ئې راواخلو او وغواړو چي د خوب منشأ او حقيقت معلوم کړو، نو ځواب به مو څه وي؟ زه څنګه له راتلونکو پېښو خبر شوم؟ چا خبر کړم؟ دا اطلاع چا راکړه؟ د دې الهام سرچينه چېري ده؟

دغه "خوبونه" سر بېره پر دې چي د انسان د روحي ابعادو څرګندوونکي او مظاهر

دي د الهام د سر چينې وجود چې د مادې له محدودې بهر دي هم په اثبات رسوي او يو بل حقيقت د "تقدير او برخليك" په نامه منعکس کوي، ته په خپله رؤياء کې د يوې داسي پېښې په جريان کې لوېږې چې ډېره موده وروسته تر سره کېږي او مصداق ئې په ويښه کې وينې؛ او د دې معنی دا ده چې انسان د هغې تگلورې لاروی دئ چې لوړي ژوري ئې پخوا ټاکل شوې دي او هرو مرو دی ترې تېرېږي. دتگلورې غوره کول د ده کار دئ؛ خو هغه لوړي ژوري چې دی د لارې په اوږدو کې بايد ترې تېر شي له پخوا مقدر شوې دي، واك او اختيار ئې د انسان په لاس کې نه دئ، دا موضوع د ديني مباحثو يوه ډېره مهمه قضيه ده، هغه کسان چې په دې موضوع د ښه پوهېدو تلوسه او شوق لري بلنه ورکوم چې (په قضاء او قدر ايمان او مقتضيات ئې) او د التکوير دسورې د وروستي آيت تفسير دي په "د قرآن پلوشې) کې مطالعه کړي.

قرآن د يوسف عليه السلام د ورونو منفي احساسات، له خپل ورور سره ناروا سيالي او رقابت او د ده د وژلو او له منځه وړلو لپاره د دوی غلطه اراده د دې لپاره زموږ مخي ته ږدي چې له داسي کارونو ځان وساتو، د دوی احساسات په دې توگه انځوروي:

لَّقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٌ لِّلسَّآئِلِينَ ۝٧ إِذْ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝٨

د يوسف او د ده د ورونو په قصې کې پوښتونکو ته روښانه نښې دي. کله چې دوی وويل: يقيناً چې يوسف او ورور ئې زموږ پلار ته تر موږ ډېر گران او محبوب دي، په داسي حال کې چې موږ (ډېر او پياوړي) ډله يو، په دې کې شك نشته چې پلار مو په ښکاره اشتباه کې دئ.

(۷-۸)- د يوسف عليه السلام او د هغه د ورونو تر منځ د نزاع او شخړې قصه ډېرو هغه پلټونکو او پوښتونکو ته چې د دغه ډول شخړو د املونو په لټه کې دي او غواړي پوه شي چې عوامل او محرکات ئې څه دي او پايلې ئې څه، مدلل ځواب وايي او هره اندېښنه ئې په دقيقه توگه رفع کوي، په دې آيتونو کې د يوسف عليه السلام د ورونو داسي څو خبرې په گوته شوې چې په ترڅ کې ئې د شخړو د ناسم او متجاوز لوري وينا او دريځ موږ ته توضيح کوي او هغه دا چې:

- دی په ناحقه سره زموږ پر پلار تر موږ ډېر گران دئ.
- په داسي حال کې چې زموږ شمېر زيات دئ او د پلار د حمايې، ساتنې او دفاع درونده پېټی زموږ پر اوږو دئ.
- په دې کار سره يقيناً چې زموږ پلار لويه اشتباه کوي.

- په دې څرګندونو کې څو مهم ټکي د څېړنې وړ دي:

- په داسې حال کې چې یعقوب علیه السلام له خپل زوی یوسف علیه السلام سره د هغه د ځانګړتیاوو په خاطر مینه لري، په ده کې هغه څه ګوري چې په نورو کې ئې نه لیدل، د ده لوړ استعدادونه، ښه اخلاق او هوښیاري ئې خوښېده، د هغه په څېړې او کړنو کې ئې د یوه لوی شخصیت نښې لیدې او د همدې لپاره ئې خاصه اعتناء ورته کوله، داسې نه وه چې د خپلو زامنو تر منځ غیرعادلانه توپیر وکړي او بې موجبه یوه ته پر بل ترجیح ورکړي، د ده په څېر له یوه حساس او عادل پیغمبره داسې بې عدالتي ډېره لرې ده، خو نور زامن ئې چې د یوسف علیه السلام ځانګړتیاوو او لوړ شخصیت د دوی حسادت پارولی، یوسف ته د پلار خاصه پاملرنه بې عدالتي ګڼې او د تبعیض او توپیر په سترګه ورته ګوري.

- له یوسف علیه السلام سره د وروڼو د مخالفت اصلي وجه دا وه چې د ده د لوړ شخصیت په وړاندې ئې د حقارت احساس کاوو، د ده اخلاقي لوړتیا او عظمت ئې نه شو زغملی، د ده هغه صفتونه چې د پلار مینه، احترام او درناوی ئې راپارولو؛ د ده د وروڼو کینه او حسادت ئې هڅولو. له لوړو شخصیتونو سره تل او د زمانې په هر پړاو کې همداسې کېږي، د دوی لوړو ځانګړتیاوو ته په پام سره د ټولنې صالح او هوښیار خلك د دوی درناوی کوي خو د پرېوتي شخصیت خاوندان او مفسدین ئې د همدغو خصلتونو په وجه مخالفت ته ملا تړي.

- هغه کسان چې د ذاتي مواصفاتو له مخې د لوړ تلو وړ نه دي، د لوړ الوت لپاره پیاوړي وزرونه نه لري، له لویو لویو شخصیتونو سره د سیالۍ اهلیت نه لري، خو حرص پرې غالب دئ، جاه طلبه دي، حقائقو ته د تسلیمېدو او د لوړو شخصیتونو پر عظمت د اعتراف پر ځای او له هغوی سره په نېکو کارونو کې د مرستې او ملګرتیا په ځای د ناروا رقابت لار غوره کوي، د ځان د غوره والي د ثابتولو لپاره د یوسف علیه السلام د وروڼو په څېر غلطو توجیهاتو ته پناه وړي او وایي: موږ په دې خاطر غوره او د احترام او توجه مستحق یو چې شمېر مو زیات دئ!! څواکمن یو!! د دوی په څېر په عصبیتونو تکیه کوي او د تعصباتو اور ته لمن وهي. په واقعیت کې دغه وګړي د کمزورو شخصیتونو خاوندان دي، د زعامت او مشرۍ وړتیاوي او ځانګړتیاوي نه لري؛ مګر جاه طلبه او د قدرت وږي دي، غواړي دا حرص او اقتدار ته د رسېدو دا وږونکې تنده له نارواوو لارو اشباع کړي، د قومي او نژادي تعصباتو په پارولو سره غواړي قدرت ته ورسېږي او په دې توګه د قدرت په مسابقه کې پر خپلو رقیبانو برې ومومي. هغه چې د امت او ملت په شامله او پراخه مستوی کې د منل کېدو جوګه نه دئ او دا کفایت او اهلیت په کې نشته چې د یوه پراخ ملت په کچه د مشرۍ مقام تر لاسه کړي نو د دې هڅه کوي چې لږ تر لږه د قوم، قبیلې او عشیرې په سطح د زعامت مقام ته ځان ورسوي، خو دا مقام هم د حسادتونو او د نورو په ضد د کرکې او نفرت راپارولو له لارې تر لاسه کوي!!

● قرآن په دې قصې کې موږ ته وايي: هغه کسان چې عصبيتونه عنوانوي، د ځان لپاره د قوم او قبيلې په نامه امتيازات غواړي او تل د قومونو تر منځ د امتيازاتو پر وېش اعتراض کوي، دوی د ځان او خپلو رقيبانو په اړه د خورا عادلې مرجع قضاوت هم نه مني، داسې لکه چې د يوسف عليه السلام وروڼو د خپل حکيم، پوه، حساس او عادل پلار قضاوت هم ناعادلانه ګاڼو او ويل ئې: موږ ته په پام نه کولو سره زموږ پلار ستره اشتباه کوي؛ ان ابانا لفي ضلال مبين!!

● تاريخي تجربې ښيي چې د قومي عصبيت بېرغچيان سره له دې چې د هغوی قضاوت او دريځ د خلکو په ګڼه او شمېر باندې ولاړ وي او د هر قوم نفوس د ملاك او معيار په توګه مني، مګر تل د اکثريت قضاوت ته غاړه نه ږدي او مخالفت ترې کوي، د اکثريت له لارې خپله لاره بېلوي، د امت په وړاندې ملت، د ملت په وړاندې مليت او قوم او د قوم او قبيلې په منځ کې کورنۍ او عشيره ئې حدونه عنوانوي. قرآن فرمايي چې دا شعارونه شيطاني املونه لري او د شيطان په تحريك او لمسونه رامنځ ته کېږي، شيطان وو چې په لومړي ځل ئې نژادي توپير عنوان کړ او وئې ويل: أَنَا خَيرٌ مِنه، خَلَقتَني مِن نار و خَلَقتَه مِن طِين: زه تر ده غوره يم، زه دې له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خاورې پيدا کړی دئ.

● که چېرې د يوسف عليه السلام په څېر له يوه ستر پيغمبر سره د خپلو ډېرو نژدې خپلوانو او دوستانو لخوا، له کومې ګناه پرته او بې موجبه، داسې جفا او ظلم کېږي، نو ته اې د الله د لارې مجاهده! بايد د الله تعالی په لار کې او د پيغمبرانو د کړنلارو او تګلارو په تعقيب کې، دغسې جفاګانو ته منتظر واوسې او په ځان کې د هغوی د زغملو ځواك او زغم راپيدا کړې، داسې نه چې د آزمېښتونو او ستونزو پروخت بې حوصلې شې، نااميده شې او مبارزه په نيمه لاره کې ناتمامه پرېږدې او تا ته: اې د دغو صحنو تماشاچي! اې د عافيت پر غونډۍ ناست د مبارزو پايلو ته منتظره! تا ته ويل شوي: داسې ونه انګېرې چې دا د الله د لارې سرتېري مجاهدين په دې خاطر له کړاوونو سره مخامخ دي چې د الله تعالی د عنايت او رعايت وړ نه دي او له الهي عنايت او پېرزوينو محروم کړی شوي!! او په دې سبب له دې برخليك سره مخامخ شوي چې غلطي او اشتباه ترې شوې!! داسې نه ده؛ دوی نه؛ بلکې تا اشتباه کړې، دا لوړې ژورې او دا آزمېښتونه د دې لارې طبيعت او د الله تعالی د نه بدلېدونکو سننو يو سنت دئ. د خدای د لارې مجاهدين به د آزمېښت په دې لوړو ژورو او د کړاوونو او ستونزو په دې پېچومو او کړلېچونو کې روزل کېږي، د دوی صبر او استقامت به مضبوطېږي، د دوی استعدادونو ته به وده ورکول کېږي او د کمال او پوخوالي هغه پړاو ته به رسېږي چې د الله تعالی د نصرت وړ وګرځي او د بريا پرېکړه ئې وکړي.

بايبل ليکي چې د يوسف وروڼو خپلې رمې شکيم ته د څرولو لپاره بېولې وې... پلار

ئې يوسف ورپسي وروليږو چې احوال ئې واخلي،... کله چې هلته ورنږدې شو، وروڼو ئې وويل: دا دئ لوی خوب ليدونکی راغی، راځئ چې وئې وژنو او په يوه کوهي کې ئې واچوو، پلار ته به ووايو چې کوم ځناور خوړلی دئ... يوه ئې وويل: د وژلو په ځای ئې ژوندی په څاه کې واچوئ... په خپله به په کې مړ شي... له وررسېدو سره سم ئې بريد پرې وکړ... جامې ئې ترې وايستلې او په څاه کې ئې واچاوو... ناڅاپه ئې يو کاروان وليد چې د دوی خوا ته راروان دئ... فيصله ئې وکړه چې پر دغه کاروان ئې وپلوري... له کوهي ئې راوايست او خرڅ ئې کړ... او کاروانيانو له ځان سره مصر ته روان کړ...)

قرآن فرمايي چې د يوسف وروڼو په خپلو کې مشوره وکړه چې يوسف په کوهي کې اچوو، پرېږدو ئې چې کوم کاروان ئې له ځان سره کوم لرې ملك ته بوځي او د مريي په توگه ئې وپلوري، په کار ده چې پلار موږ ته تر ده زيات په درنه سترگه کتلی، زموږ شمېر زيات دئ، هم دکور ټول کارونه کوو او هم ئې حفاظت کوو، خپل پلار ته راغلل او ورته ئې وويل: پرېږده چې يوسف له موږ سره د لوبو او مېوو خوړلو لپاره صحرا ته ولاړ شي، پلار ئې وويل: تاسو پوهېږئ چې زه ورپسې خفه کېږم او وېرېږم چې تاسو به ترې غافله شئ او لېوه به ئې وخوري، دوی بيا خپل شمېر ته گوته ونيوله او وئې ويل: که لېوه ئې له موږ وخوړی شي په داسې حال کې چې موږ کافي ډېر يو نو موږ به بلا وهلي يو!!

ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ وَتَكُونُواْ مِنۢ
بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ٩ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ
ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ١٠ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَالَكَ لَا تَأۡمَ۫نَّا
عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ١١ أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ
لَحَٰفِظُونَ ١٢ قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ
وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ١٣ قَالُواْ لَئِنۡ أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا
لَّخَٰسِرُونَ ١٤

يوسف ووژنئ او يا ئې په کومې زمکې کې وغورځوئ چې د خپل پلار پاملرنه درته وزگاره شي او تر دې وروسته صالح ټولی شئ؛ يوه ويونکي وويل: يوسف مه وژنئ، که (د ده په ضد څه) کوونکي يئ نو د يوه کوهي په تياره سوړي کې ئې وغورځوئ، چې کوم کاروان ئې تر لاسه کړي، وئې ويل: پلاره! ولې د يوسف په اړه پر موږ باور نه کوې، حال دا چې موږ ئې خواخوږي يو؟ سبا ئې له موږ سره ولېږه چې (د مېوو په

ونو کې) وڅري او لوبې وکړي او موږ ئې حتماً ښه ساتونکي يو، وئې ويل: که ئې درسره بوځئ دا مې غمجن کوي او وېرېږم چې لېوه به ئې وخوري او تاسو به ترې غافله وئ، وئې ويل: که لېوه ئې په داسي حال کې وخوري چې موږ يوه (پياوړې) ډله يو، نو موږ به په دې صورت کې تاواني (بلا وهلي) يو.

---

(۹-۱٤)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمي لارښووني ترسترگو کېږي:

- په سياسي مبارزاتو کې تل کمزوري، خو متعصب حريف دئ چې د سالم او رغنده رقابت او سيالۍ پر ځاى پر پټو توطئو لاس پوري کوي، چې له دې لاري خپل رقيبان ترور کړي او د مبارزې له ډگره ئې وباسي.

- ځيني بيا داسي دي چې که څه هم هدف ته درسېدو لپاره ناروا لاري غوره کوي؛ مگر ادعاء ئې داسي وي چې گواکې د دوى هدف نېك دئ او هدف ته له رسېدو وروسته به د خدمت مصدر گرځي او د صالحو افرادو په څېر به ښو عملونو ته ملا تړي، د دوى په نظر نېك هدف ته د رسېدو لپاره هره لاره غوره کول جائز دي، د هدف نېك والى نامشروع او ناروا تگلارو ته مشروعيت ورکوي، په داسي حال کې چې نه د هدف تقدس کولاى شي چې نامقدسه وسيله توجيه کړي او نه له هغه چا چې د کمزورۍ په پړاو کې په غلطو لارو درومي، د خپلو رقيبانو د پرځولو لپاره نارواوو وسېلو ته لاس کوي، دا توقع کېدى شي چې د ځواکمنۍ او قدرت پر مهال دې د صالح انسان په څېر عمل وکړي؛ بلکې د دې په خلاف، اقتدار به د ده د لا زيات انحراف سبب شي او د نورو په خلاف به د ده کړچار تر مخکې هم لازيات کرکجن او د غندلو وړ کړي.

- د يوسف عليه السلام د ورونړو دا وينا چې په تکرار سره ئې کړې: (نحن عصبة: موږ خو يوه پياوړې ډله يو)، ښيي چې دوى پر شمېر او عدد ترکيز کوي او په همدې سره غواړي ځان تر يوسف عليه السلام غوره او د خپل پلار د التفات او اعتناء مستحق ثابت کړي!! مخکې ئې وويل: موږ د يوسف په نسبت غوره يو، ځکه چې هغه يوازې دئ او موږ يوه ډله يو او بيا وايي: څنگه به ئې لېوه رانه وخوري په داسي حال کې چې زموږ په څېر ځواکمنه ډله ئې په څنگ کې او ساتنه ئې کوي!! الله تعالى پر شمېر او "عدة او عتاد" باندې د خپل بنده تکيه کول نه خوښوي، څوك چې پر ماسوى الله باندې تکيه او اعتماد وکړي يوازې ئې پرېږدي او له خپلې مرستي ئې محروموي، له خپلو بندگانو غواړي چې يوازې د ده عبادت وکړي، يوازې ده ته د دعاء او احتياج لاسونه اوچت کړي، يوازې له ده مرسته وغواړي او يوازې پر ده باندې تکيه او اعتماد وکړي.

که تاسو په دې اړه د بايبل وينا ته ځير شئ نو وبه گورئ چې بايبل دوکه، چل ول، غولول او په خپلو ژمنو نه ودرېدل د خپل داستان د اتل په څېره کې انځوروي خو قرآن کريم ئې د مجرمينو ځانگړتياوي گڼي، بايبل ئې يعقوب عليه السلام ته منسوبوي او کله

چې د یوسف علیه السلام د وروڼو وار رارسي د دوی هغې دوکې ته ګوته نه نیسي چې قرآن ورته اشاره کړې، ګمان نه کوم چې د بایبل لیکونکي دې دا کار اشتباهاً کړی وي، باور مې دا دئ چې دا کار ئې عمداً کړی، د ده له نظره خدعه او دوکه یو هنر او کمال دئ، باید اتلانو ته منسوب شي، نه عادي خلکو او مجرمینو ته!!

بایبل لیکي چې د یوسف وروڼو د ده جامې د یوې وزې په وینو سرې کړې... پلار ته راغلل او وئې ویل: آیا دا د یوسف جامې نه دي؟... هغه جامې وپېژندې او وئې ویل: حتماً کوم ځناور خوړلی دئ... نو له ویره ئې خپلې جامې څیرې کړې، زړې جامې ئې واغوستې... ډېرې ورځې ئې په ماتم تېرې کړې... د کورنۍ غړو هڅه وکړه چې هغه ته تسلی ورکړي خو ګټه ئې ونه کړه... وئې ویل: تر مرګ به د یوسف غم هېر نه کړم!! خو قرآن د بایبل دا وینا غلطه ګڼي او فرمایي:

فَلَمَّا ذَهَبُوا۟ بِهِۦ وَأَجْمَعُوٓا۟ أَن يَجْعَلُوهُ فِى غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم
بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٥﴾ وَجَآءُوٓ أَبَاهُمْ عِشَآءً يَبْكُونَ ﴿١٦﴾ قَالُوا۟
يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئْبُ ۖ وَمَآ أَنتَ
بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ
سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَٱللَّهُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ
﴿١٨﴾

نو کله چې ئې له ځان سره بوت او په دې سلا شول چې د یوه کوهي په تیارې سوړې کې ئې واچوي او ده ته مو وحي وکړه چې په داسې حال کې به ئې په خپل دې کار خبر کړې چې دوی به ئې احساس هم نه کوي. او ماښام په ژړا خپل پلار ته راغلل، وئې ویل: اې زموږ پلاره! موږ لاړو چې یو له بله د مخکې کېدو زغاسته وکړو او یوسف مو له خپلو شیانو سره پرېښود، نو لېوه وخوړ؛ او ته به راباندې باور کوونکی نه یې که څه هم موږ رښتیني یو؛ او کمیس ئې په دروغجنې وینې لړلی راوړ، وئې ویل: داسې نه ده؛ خپلو نفسونو کوم کار درته ښایسته کړی، نو (زما دې) ښکلی صبر وي او په هغه څه کې خو له الله مرسته غوښتل کېږي چې تاسو ئې بیانوئ.

(۱۵-۱۸)- په دغو مبارکو آیتونو کې له یوې خوا د یوسف علیه السلام د وروڼو حالت داسې

انځور شوی چې د خپل تصميم د بدو پايلو او عواقبو له پوهېدو عاجز دي، نه پوهېدل چې په دې سره خپلو موخو ته نه شي رسېدی او داسې گمان ئې نه کاوو چې يوه ورځ به بيا له يوسف عليه السلام سره مخامخ شي او دا ټوله ماجرا به د دوی مخې ته کښېږدي، له بلې خوا ښيي چې په همدې سخت او نازك حالت کې يوسف عليه السلام ته الهام وشو چې انديښنې مه کوه، په کوهي کې له لوېدو مه وېرېږه، ډاډه اوسه چې له دې ځايه به حتماً ژغورل کېږې.

د يوسف عليه السلام د ورونړو طمع دا وه چې په دې سره به له خپلې مخې يو ستر خنډ لرې کړي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره به لار آواره کړي، خو نه پوهېدل چې د دې کار پايله به څه وي!! د خپل دغه شرمناك کار په عواقبو له پوهېدو عاجز وو او داسې گمان ئې نه کاوو چې يوه ورځ به بيا له يوسف عليه السلام سره مخامخ کېږي او دا ټوله ماجرا به د دوی مخې ته کښېښودی شي!! همدا راز فرمايي چې په کوهي کې د لوېدو په مهال يوسف عليه السلام ته الهام وشو چې پروا مه کوه، له دې ځايه به ووځې، داسې ورځ به راشي چې دوی به ستا مخې ته سرټيټي او شرمنده ولاړ وي او دا کار به ورپه يادوې!! او دا هغه څه دي چې د حق د لارې مبارزينو ته د ستونزو او کړاوونو پر مهال الهام کېږي، الله تعالی ئې له ناهيلۍ ساتي او په زړونو کې ئې هيلې او امېدونه راپيدا کوي. د يوسف عليه السلام د قصې په بيانولو سره قرآن د دغو دريو اساسي موضوعگانو د اثبات لپاره تاريخي بېلگې زموږ مخې تهږدي: د ورونړو مخالفت او د دوی په لاس کوهي ته لوېدل، د نامعلوم برخليك په لورې خوځېدل، په ارزانه بيع خرڅېدل؛ د ستونزو او کړاونو بېلگه، په څاه کې د لوېدو په وخت کې دا الهام چې له دې ځايه به حتماً ژغورل کېږې او له کوهي وتل؛ د نجات بېلگه او په پای کې له خپلو ورونړو سره په داسې حال کې مخامخېدل چې هغوی به په خپلو نادودو او جفاگانو شرمنده وي د برې او د دښمن د ماتې تاريخي بېلگه. تاسو به د بايبل په هيڅ برخې کې او د هيڅ قصې په ترڅ کې ونه مومئ چې له کومې قصې ئې داسې کوم ستر مطلب ثابتول او يوه مهمه لارښوونه کول په نظر کې وي.

د يوسف عليه السلام ورونړه ماخستن په اوښلنو سترگو خپل پلار ته ورغلل او وئې ويل: پلاره! موږ له يوه بله د مخکې کېدو لوبه کوله، يوسف مو د خپلو شيانو خوا ته پرېښود، په همدې کې لېوه راغی او هغه ئې وخوړ، ته به حتماً زموږ په خبرې باور نه کوې که څه هم موږ په يقين سره رښتيني وو، هغه ورته وويل: داسې نه ده، خپلو نفسونو غولولي يئ او کوم غلط کار ئې درباندې کړی، زما لپاره له ښه صبره پرته بل څه نه دي پاته، ستاسو د دې خبرو په وړاندې به له الله تعالی مرسته غواړم، يوازې الله تعالی هغه ذات دئ چې په داسې حالاتو کې ترې مرسته غوښتی شي!!

گورئ چې د بايبل او قرآن د ويناوو تر منځ څومره ژور توپير دئ، يو د قصې اتل صابر، حساس او په حالاتو پوه انځوروي، د خپلو زامنو له وينا، خبرې او حرکاتو پوهېږي

چې دروغ ورته وايي، نه ئې په خبرو باور کوي، نه ئې په اوښلنو سترګو غولېږي او نه ئې د يوسف عليه السلام هغه جامې دوکه کولی شي چې په نورو وينو ئې سرې کړې. صبر کوي او په غمونو کې خپل رب ته پناه وړي. خو بل ئې د داسي بې صبره انسان په څېر انځوروي چې له ډېره ويره خپلي جامې څيري، زړې جامې پر تن کوي او ژمنه کوي چې تر مرګ به دا غم هېر نه کړي!!

قرآن د دې قصې په ترڅ کې مور ته څو مهمي لارښووني کوي:

- بايد په خپلو قضاوتونو کې تلوار او عجله ونه کړو، بايد محتاط واوسو، يوازي د متهم ظاهري بڼه، اوښلني سترګي، غولوونکې ادعاءګاني او هغه شواهد چې د خپلي ادعاء د ثبوت لپاره ئې وړاندي کوي کافي ونه ګڼو، د متهم سوابق بايد په پام کې ولرو.

- يعقوب عليه السلام حساس او پوه انسان وو، د يوسف عليه السلام د ورونو په تصنعي ژړا، د قضيې په باب د دوی د خبرو له څرنګوالي، د يوسف عليه السلام د کميس له وضعي او له يوسف عليه السلام سره د ورونو مخکينيو حسادتونو ته په پام سره پوه شو چې زامنو ئې رښتيا نه دي ورته ويلي او اصله قضيه ئې ترې پټه کړې ده.

- د مصيبتونو په وړاندي صبر کول د پيغمبرانو طريقه ده.

- ښايي يعقوب عليه السلام ته د خپل زوی يوسف عليه السلام تر ورکېدو دا غم او انديښنه لازياته درنه وه چې زامن ئې داسي دي، له ده او له خپل ورور سره ئې داسي څه کړي، بې شکه چې د يعقوب عليه السلام لپاره به د داسي زامنو زغمل او تحمل تر دې هم دروند پېښی او له زغم او حوصلې اوچت وو چې يو زوی ترې ورك شوی، د يوه شريف او بااحساسه انسان لپاره دا ډېر دروند پېښی وي چې خپل زامن د خپل اوچت انتظار خلاف ګوري او له داسي کسانو سره په يو ځای ژوند کولو مجبور شوی وي!!

- يعقوب عليه السلام چې په خپله جليل القدره پيغمبر او د يوه ستر او اولوالعزمه پيغمبر ابراهيم عليه السلام لمسی دئ او الله تعالی ته د نژدېتوب او د معنوي مقام په لحاظ خورا اوچت مقام لري، خو سره له دې ستر او اوچت معنوي مقامه، له غيبه بې خبره دئ، له دې عاجز دئ چې پوه شي زامنو ئې له يوسف عليه السلام سره څه کړي دي؟!! څو کيلو متره لري د ده نازولی او ګران زوی په کوهي کې پروت دئ، خو دی ئې نه له حاله خبر دئ او نه ئې مرسته کولی شي!! خپل عجز او ناتواني په دې الفاظو بيانوي: يوازينی مستعان او مرستندوی الله تعالی دئ، فقط له هماغه ذات بايد مرسته وغوښتلی شي. په دې بيان سره د هغو ناپوه خلکو خولو ته سخت ګوزار ورکړی شوی چې په غيب باندي له الله تعالی پرته د بل چا د پوهېدا دعوی کوي!! د قصې دغه برخه مور ته د قرآن عظيم الشان له اساسي مطالبو يو مطلب په ګوته کوي، هغه دا چې په زمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته نه څوك په غيبو علم لري او نه د چارو د سمبالولو واك او اختيار لري، هر څوك

چي له خدايه پرته بل چا ته د غيبو د علم نسبت وكړي او هغه د چارو متصرف وګڼي نو يقيناً چي قرآن ئې تكذيب كړی دئ.

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ۝١٩ وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ۝٢٠

او يو كاروان راغی او خپل اوبه راوړونكی ئې ولېږو او هغه هم خپله بوكه (په څاه كې) كښته كړه، وئې ويل: اې! زېرى زېرى، دا دئ يو زلمی او هغه ئې د مال متاع په توګه پټ كړ، په داسي حال كې چي الله د دوی په كړو وړو ښه پوه دئ او په ناڅيزه بيع څو درهمو ئې وپلورو او د ده په اړه زاهدان ول.

(۱۹-۲۰)- ناڅاپه يو كاروان راغی، د كوهي خوا ته ئې واړول، يو كس ئې د اوبو راايستلو لپاره ولېږو، د بوكې راايستلو پر مهال متوجه شو چي يو تنكی زلمی ورسره راپورته شو، چيغي ئې كړې: زېرى زېرى دا دئ يو تنكی زلمی!! د كاروان مشر امر وكړ چي په يوه خوندي ځای كې ئې پټ كړي، ښه سلوك ئې ورسره كاوو، پرې مهربانه ول، مصر ته ئې له ځان سره بوت، هلته ئې په ارزانه بيع وپلورو.

بايبل ليكي چي د يوسف عليه السلام وروڼو د كاروان له ليدو سره هغه بېرته له كوهي راوايست او په كاروانيانو ئې وپلورو، دا خبره هم قرآن ردوي او هم ئې عقل نه مني، كه دوی په كاروانيانو د پلورلو اراده درلودی نو ولي به ئې په كوهي كې اچاوو؟ يوسف عليه السلام د پلورلو په وخت كې كاروانيانو ته ويلی شو چي زه مريی نه يم، دا مي وروڼه دي، پلار مي خبر نه دئ... هيڅوك نه غواړي په داسي لانجې كې ښكېل شي او آزاد انسان د مريي په نامه واخلي!! قرآن فرمايي چي يوسف عليه السلام په مصر كې خرڅ شو.

قرآن د بايبل دا ادعاء ردوي چي كاروانيانو يوسف عليه السلام له خپلو وروڼو وپېرېدو، د دې ادعاء برعكس وايي چي كاروانيانو له څاه راوايست او د موندل شوې قيمتي متاع په څېر ئې پټ كړ، د قرآن په دغو مختصرو الفاظو كې هومره ژور مطالب پراته دي چي د هغه مهال د ټولني د دردونكي وضعيت د دقيق توضيح لپاره كفايت كوي، د كاروان د سالار يو غلام هغه ته د يوه تنكي ځوان د موندلو زېرى وركوي، هغه ئې د قيمتي متاع په څېر پټ ساتي او دا ځكه چي دی به څو ورځې وروسته د مصر په بازار كې په ګرانه بيع پلوري، يعني هغه مهال نه يوازې د غلامانو د پېر پلور بازار ګرم وو بلكې دومره بې امنيتي خوره وه چي چا ته به كوم ماشوم او تنكی زلمی په لاس ورغی، كه څه هم د كومي آزادي او عزتمني كورنۍ غړی به وو، بس د غلامانو په ډلې كې به شامل شو، له

خپلي کورنۍ سره به ئې روابط د تل لپاره وشلېدل، د بېرته ستنېدو مجال ئې نه شو تر لاسه کولی، د مجهول برخليك په لوري به يووړل شو، لاس په لاس به شو، په يوه بل به خرڅ شو، په دې سره قرآن حکيم د هغه مهال اجتماعي وضعيت په دقيقه توګه انځور کړی.

د قرآن له وينا معلومېږي چې يوسف عليه السلام د کاروان سردار ته د خپلو ورونړو د جفا قصه اورولې، د هغه عاطفه او زړه سوی راپارېدلی او دې نتيجې ته رسېدلی چې يوسف عليه السلام خپلي کورنۍ ته له ستنېدو منع کړي، له ځان سره ئې بوځي، چې د خپلو ځواکمنو او حسودو ورونړو لخوا ونه وژل شي، دا ئې غوره ګڼلې چې يو ښه ځای ورته پيدا کړي، د مصر په کوم معزز شخصيت باندې ئې په لړه بيع وپلوري، دا ئې هم نه دي غوښتي چې په ګرانه بيع ئې وپلوري، د زياتو پيسو تر لاسه کولو په ځای ئې د دې ښکلي او بااستعداده زلمي راتلونکې ته زياته توجه کړې.

قرآن د قصې د دغې برخې په ترڅ کې موږ ته لارښوونه کوي چې کله کله ستر ستر شخصيتونه په ډېره لږه بيع خرڅ کړی شي!! هو په خدای قسم همداسې ده، ډېر ځله ستر ستر شخصيتونه، د خپلوانو په لاس او حتی د خپلو ضعيف النفسه ملګرو په لاس دښمنانو ته په لاس ورکړی شوي او وژل شوي!!

په نولسم آيت کې ويل شوي چې کاروانيانو يوسف عليه السلام لکه مال او متاع پټ کړ، له دې په ځرګنده معلومېږي چې نه ئې ورونړه له دې ماجرا خبر شوي او نه له کاروانيانو پرته بل څوك. عجيبه ده چې زموږ ځيني مفسرين هم د بايبل د دغې غلطې وينا تر اغېز لاندې راغلي او ادعاء ئې کړې چې ورونړو ئې هغه له څاه راوايست او په دې کاروان ئې وپلورو!!

وَقَالَ ٱلَّذِى ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ أَكۡرِمِى مَثۡوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِى ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٢٢﴾

او هغه چا چې دی ئې د مصر (له بازاره) وپېرلو خپلي مېرمني ته وويل: مېشت ځای ئې ورته عزتمن کړه (په عزت او درناوي سره ئې وساته)، يا به ګټه راورسوي او يا به ئې خپل زوی وګڼو، په دې توګه مو يوسف ته په زمکې کې تمکين ورکړ او چې تأويل الاحاديث ورزده کړو؛ او الله په خپل کار برلاسی دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي او کله چې پوخوالي ته ورسېد حکم او علم مو ورکړ او (ټولو) نېکانو ته همداسې بدله

ورکوو.

---

(۲۱-۲۲)- د قرآن له وينا معلومېږي چې د مصر عزيز د يوسف عليه السلام له ليدو سره سم د هغه له څېرې، خبرو، ناستې ولاړې، هوښيارتيا او زيرکتيا پوه شوی چې هغه يو غلام نه؛ بلکې له يوې شريفې کورنۍ سره تعلق لري چې د حوادثو او پېښو طوفانونو له دې برخليك سره مخامخ کړی، نو ځکه ئې خپلې ښځې ته وويل: نه ښايي له هغه سره د مريي په څېر چارچلند وشي، بلکې په کار ده ښه ئې وپالې، هيله ده چې په دې کور کې د هغه شته والی موږ ته گټور ثابت شي، که مو په هغه کې نوري ښېگڼې او وړتياوې وموندې په زويولۍ به ئې ونيسو او د خپلو ټولو شتمنيو امين او وارث به ئې کړو.

قرآن دې کور ته د يوسف عليه السلام د راوستو دوه اساسي موخې په گوته کوي، يو دا چې په دې توگه به ده ته په زمکې کې تمکين ورپه برخه شي او بل دا چې الله تعالی به ده ته د تأويل الاحاديث علم او پوهه ورکړي، له دې معلومېږي چې اقتدار ته د رسېدو لړۍ ئې له دې ځايه پيل شوې، د عزيز مصر په کور کې د ده ځای په ځای کېدا باعث شوه چې قدرت ته د رسېدو دروازې ئې پر مخ پرانيستل شي او همدا راز دا ښيي چې دلته او د عزيز مصر په کور کې د پاته کېدو له لارې هغه ته ډېرې خبرې معلومې شوې، دلته پوه شوی چې د مصر په ټولنې کې څه تېرېږي، اقتدار د څنگه خلکو په لاس کې دئ، د واکمنانو شخصي ژوند څنگه دئ، په قصرونو کې څوك ناست دي او په زندانونو کې څوك پراته، د دې ټولنې قاضي د چا په گټه او د چا په ضد پرېکړې کوي، ده په کنعان کې کوچياني او صحرانی ژوند وليدو او په مصر کې د ښاريانو حالت او د دوی تر منځ ژور توپيرونه، ټول هغه څه چې د ټولنې د صالح مشرانو لپاره ئې زده کول ضروري دي په همدې توگه ده ته ورزده شول.

حکيم خدای غوښتل چې يوسف عليه السلام د مصر د ټولنې د مشرتابه لپاره تيار کړي، د سختو آزموينو په لوړو ژورو کې وده ورکړي، هغه وړتياوې، ځواکونه او استعدادونه ئې راويښ کړي او ځلا ورکړي چې يوازې په سختو شرائطو کې راويښېږي او ځلا مومي، د يوه حکيم، مدبر او زړه سواند قيادت وړتياوې په کې راپيدا کړي، پوره فهم او بصيرت ئې په برخه کړي، د کنعان په نيمه بدوي ټولنې کې ممکنه نه وه هغه استعدادونه په ده کې راپيدا شوي وی چې د مصر د واکمنۍ لپاره ضروري ول، کنعان د مصر له مدني ټولنې خورا زيات توپيرونه درلودل، څوك چې په هغه محيط کې ستر شوی په دې نه توانېدو چې د مصر د محيط غوښتنې درك کړي او د هغه ستر هېواد د خلکو د قيادت له عهدې ووځي، د دې لپاره چې يوسف عليه السلام د مصر د ټولنې نبض ښه درك کړي، په ټولو اسرارو ئې دقيقاً پوه شي، د سياسي او اجتماعي اړيکو او مناسباتو په ماهيت ئې ښه پوه شي او په هغه کې د مصر د متمدنې ټولنې د زعامت وړتوب او لياقت راپيدا شي، نو ښايي چې د کنعان له نيمه بدوي ټولنې مصر ته لاړ شي او هلته تر يوې مودې د

مصر د زمامدارانو د ډلې د یوې مرفه کورنۍ په غېږې کې پاته شي، هماغسې لکه چې الله تعالی موسی علیه السلام د یوې اسرائیلي مظلومي کورنۍ له غېږې بیل کړ او د سیند د څپو پر اوږو ئې د فرعون کور ته ورساوو، د هغه جلاد له تیغه ئې وژغورو چې د بني اسرائیلو د بچیانو د وژلو او حلالولو لپاره ګمارل شوی وو، د دښمن ماڼۍ ئې ورته مدرسه وګرځوله او په همدغې مدرسې کې ئې هغه علم او حکمت په برخه شو چې د دغې ټولنې د لارښوونې او قیادت لپاره ئې ورته ضرورت درلود، له ده مخکې ئې یوسف علیه السلام هم له کنعانه مصر ته ورساوو، د مصر د عزیز کور ئې ورته مدرسه کړ، دلته ئې د تأویل الاحادیث علم په برخه شو، دلته د مصر د ټولنې په نبض پوه شو او دلته د دې ټولنې د زعامت وړتیاوې او ځانګړتیاوې په کې وپاللې شوې. ده دیانت او خدای لمانځنه د ابراهیمي کورنۍ په غېږ کې زده کړې وه، مینه، سادګي، مروت، زړورتیا، صداقت، صبر، قناعت او ټولې هغه ښېګنې چې د نیمه بدوي ژوند ځانګړتیاوې دي، دا ئې په کنعان کې تر لاسه کړل، هغه درایت او فراست چې د مصر د ټولنې د مشرتابه لپاره ضروري وو دا ئې باید په خپله په مصر کې، د عزیز مصر په کور او په زندان کې تر لاسه کړي وی، د کنعان په چاپېریال کې دا زده کړه ورته ممکنه نه وه، نو ځکه حکیم خدای په خپل خاص الهي تدبیر سره هغه مصر ته وروست او د مصر په یوې واکمنې او حکمرانې کورنۍ کې ئې مېشت کړ او په دې سره ئې په ده کې د دغو استعدادونو د ودې شرائط برابر کړل.

په دې قصې سره قرآن موږ ته دا ستر درس راکوي چې هیڅوك، که هر څومره ځواکمن وي، په هیڅ تدبیر او حیلې سره نه شي کولی د الله تعالی پرېکړې وځنډوي او د تحقق مخه ئې ونیسي، الله تعالی چې څوك د یوې ټولنې او ملت د زعامت لپاره غوره کړی او هغه ته ئې د مشرتابه وړتیاوې ورکړې وي، کوم قدرت کولی شي د هغه په مخ کې خنډ شي؟! او دغه مقام ته د رسېدو مخه ئې ونیسي؟! مګر د یوسف علیه السلام له عبرت او پنده ډکه قصه دا نه ثابتوي چې خدای په خپل کار کې برلاسی او غالب دئ، خو ډېر خلك پرې نه پوهېږي؟

قرآن فرمایي چې کله یوسف علیه السلام د پوخوالي او رشد مرحلې ته ورسېد، نو حکم او علم ورکړ شو، په قرآن کې اکثراً د پیغمبرانو د بعثت د بیانولو لپاره دا الفاظ کارول شوي چې حکم او علم ورکړی شو او په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې پیغمبرانو علیهم السلام ته هم علم ورکړی شوی او هم د حکم او فیصلې قوت، هغوی هم فکري امامان دي او هم سیاسي مشران او د پرېکړو او حکم کولو مرجع، دلته د یوسف علیه السلام په اړه ویل شوي چې (حکم) او (علم) ورکړی شو، له (علم) مخکې د (حکم) یادښت دا مطلب په ګوته کوي چې یوسف علیه السلام لومړی قدرت ته رسېدلی او د مصر واکمن شوی او بیا په پیغمبرۍ مبعوث شوی. خو دلته دا هم ویل شوي چې الله تعالی له ټولو محسنینو او نېکانو سره همداسې معامله کوي، دا الهي معامله یوازې پیغمبرانو ته نه ده مختصه شوې، بلکې ټول نېکان هم په کې شاملېږي، د هغوی هڅې به هم هرو مرو ثمر ته

رسوي او نېکه بدله به ورکوي، د پېښو او حوادثو په لوړو ژورو او پېچومو کې به هغوی ته رشد او وده ورکوي او د دښمن د توطئو په وړاندې به ئې ساتنه او حفاظت کوي او د دوی د بريا او برلاسۍ لاره به آواروي.

بايبل تر دې عنوان لاندې (يوسف او د فوطيفار مېرمن) ليکي: په مصر کې د فرعون د ساتونکو مشر فوطيفار، يوسف په بيع واخيست... څه موده وروسته ئې دی د خپل کور او تجارت ناظر وټاکو... يوسف ښايسته ځوان وو، د فوطيفار مېرمنې زړه پرې بايلو... له هغه ئې د مباشرت غوښتنه وکړه... هغه ونه منله او وئې ويل: بادار مي پر ما دومره اعتماد کړی، د خپلو ټولو شتمنيو اختيار ئې راسپارلی... څنګه به دا کرکجن کار کوم... دا د خدای په وړاندې لويه ګناه ده... خو هغې لاس نه اخيست... يوه ورځ يوسف د کور په کارونو لګيا وو... له دوی دواړو پرته بل څوك په کور کې نه وو... هغې مېرمنې لاس ورواچاوو چې له ما سره څمله... يوسف ترې وتښتېدو او له کوره ووت، خو جامه ئې د هغې ښځې په منګولو کې پاته شوه... ښځې خدمتګارانو ته چيغې کړې او هغوی ته ئې وويل: خاوند مي يو عبراني نوکر کور ته راوستی، دا دئ ما ته ئې سپکاوی راواړولو... زما خونې ته راغی... لاس ئې راواچاوو... ما چيغې کړې او دی وتښتېدو او دا دئ جامه ئې زما په لاس کې پاته شوه... کله چې فوطيفار د خپلې مېرمنې خبرې واورېدې ډېر په غصه شو او يوسف ئې په هغه زندان کې واچاوو چې د پاچا نور بنديان په کې اچول شوي وو!!! )

د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو: تا خو څو سطره مخکې ليکلي چې په کور کې بل څوك نه وو، نو د فوطيفار مېرمنې چا ته غږ کړ او دا خدمتګاران په يوې چيغې څنګه او له کومه راورسېدل؟!! راشه د قرآن وينا واوره چې څومره دقيقه او له ژورو لارښونو ډکه ده: قرآن د قصې دا برخه د يوسف عليه السلام د ابتلاء او آزمويني د يوه بل، خو ډېر حساس او خطرناك پړاو په توګه رااخلي، تر دې مخکې د ورونو له مخالفت او حسادت سره مخامخ شو، په کوهي کې واچول شو، په ارزانه بيع خرڅ شو، بل ملك ته يووړل شو، آزاد ژوند ئې د غلامۍ په ژوند بدل شو، په پای کې د يوې مفسدې مصري کورنۍ نوکرۍ ته اړ شو او دا د ده د ژوند تر ټولو حساسه مرحله او ترټولو خطرناکه آزموينه، اوس له يوه بل دښمن سره مخامخ دئ، مخکيني دښمن په زړه کې ورته کينه او حسادت درلود، خو دا دښمن په زړه کې ورته هوس او شهوت لري، هغه په کوهي کې وغورځاوو او دا ئې د ګناه په ډنډ کې غورځول غواړي، د دې دښمن دام ډېر غولوونکی او جالب دئ او ځان ترې ساتل ډېر ګران.

قرآن نه د دې مصري نوم اخلي او نه ئې د مېرمنې، دا ځکه چې قرآن د تاريخ کتاب نه دئ، د نومونو يادول نه مفيد دي او نه ضروري، د عزيز مصر په نامه ئې يادوي او دا د دې لپاره چې وښيي د مصر ټول هغه شخصيتونه چې دا ئې يو وو، د ده په څېر ول، په خپلو کورونو کې ئې زلمي خدمتګاران او پېغلې خدمتګارانې ساتلې، د دې پروا ئې نه وه چې له دې څه فتنې راولاړېږي، داسې پېښو ته ئې د ګناه په سترګه نه کتل، خاص اهميت ئې

نه ورکاوو، دا اختلاط او حتی په جنسي روابطو کې آزادي د هغو کورنيو يوه عادي او عامه معامله وه او د هر اشرافي ژوند يوه لازمي ځانګړتيا ده.

قرآن فرمايي چې د عزيز مصر مېرمنې يوسف خپلې خونې ته وروغوښت، دروازې ئې کلکې وتړلې، بيا ئې يوسف ته بلنه ورکړه، هغه انکار وکړ، وئې ويل: الله تعالی مې رب دئ، دغه ځای ته ئې راورسولم، دومره پېرزويني ئې راباندې وکړې، دا کار لوی ظلم دئ، ظالمان نه ژغورل کېږي او نه برياليي کېږي!! د قرآن الفاظ دا دي:

وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٢٤﴾ وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن نَّفۡسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ ﴿٢٩﴾

هغې مېرمنې چې دی ئې په کور کې اوسېدو، نفسي غوښتنه ئې ترې وکړه، دروازې ئې وتړلې او وئې ويل: ژر شه، درته تياره يم، هغه وويل: پناه خدای ته، هغه مې رب دئ، زما مېشت ځای ئې راته ښه او ښايسته کړ، يقيناً چې ظالمان نه ژغورل کېږي، يقيناً چې هم هغې د ده تلوسه وکړه او که ده د خپل رب برهان نه وی ليدلی حتماً ئې د هغې تلوسه کوله، په دې توګه مو فحشاء او بدکاري ترې وګرځوله، بې شکه چې هغه زموږ له مخلصو بندګانو وو، (هغې غوښتل لاس ورواچوي، دی ترې وتښتېدو)، دواړو د دروازې په لوري منډې کړې، له شا (ئې تر لمنې ونيولو او د) کميس (لمنه ئې) وروشکوله، (له پرانستلو سره سم ئې) په دروازې کې د ښځې خاوند

(په خپلې مخې کې) ومومند، (مېرمنې ئې) وويل: د هغه چا سزا به له دې پرته بل څه وي چې بندي شي او يا دردناك عذاب (ئې په برخه شي) چې غوښتل ئې ستا مېرمنې ته سپکاوی ورواړوي؟! ده وويل: دې له ما نفساني غوښتنه درلوده، د کورنۍ له غړو يوه شاهد داسې شهادت ورکړ: که ئې کميس له مخې غوځ شوی وي، نو دې رښتيا ويلي او دی دروغجن دئ خو که کميس ئې له شا غوځ شوی وي نو بيا خو دې دروغ ويلي او دی رښتينی دئ، چې وئې ليدل کميس ئې له شا غوځ شوی، نو خاوند ئې مېرمنې ته وويل: دا ستاسو ښځو مکرونه دي، ستاسو مکرونه ډېر ستر ستر دي، يوسفه! له دې تېر شه او ته اې ښځې! د خپلې گناه معافي وغواړه، يقيناً چې خطاء شوې يې!!

---

(٢٣-٢٩)- د قرآن دا برخه څو لارښوونې او ظريف ټکې زموږ مخې ته ږدي:

- الله تعالی يوسف عليه السلام د خورا ستر مأموريت او لويې دندې لپاره غوره کړی وو، د يوه ستر انقلاب لپاره، د يوه سياسي، اجتماعي، فکري او اخلاقي انقلاب لپاره، د مصر په څېر په يوې داسې ټولنې کې چې له مدني لحاظه ډېره مخکې تللې خو له فکري او اخلاقي لحاظه ډېره وروسته پاته، ظلم، فساد او بې عدالتې خپل تور وزر پرې غوړولی، واکمنان ئې په فساد کې تر ستونې غرق، مظلومان له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم، د واکمنانو د هوسونو قرباني، په نه گناه زندان ته درومي او د اربابانو د مزاج خلاف په يوه معمولي کار په دار ځړول کېږي، دا ستر مأموريت سپېڅلی، مهذب، مدبر او د ډسپلين خاوند قيادت او زعامت ايجابوي، هغه کسان چې د اسلامي ټولنې د جوړولو په لاره کې مبارزه کوي، (هغه ټولنه چې پيغمبران عليهم السلام ئې پر جوړولو مأمور شوي)، بايد دغسې لوړ شخصيت ولري او د مبارزې په لوړو ژورو کې د دوی دا وړتياوې راڅرگندې شي.
- که چېرې ظروف او شرائط په گناه کې د انسان د پرېوتو مشوق وي او هغه گناه ته وهڅوي، نو د ډېرو سترو شخصيتونو د لوېدو او سقوط احتمال هم شته، له هغو ظروفو او شرائطو چې انسان گناه ته رابولي يا ئې ورته را کاږي بايد ځان وساتو.
- که چېرې يوسف عليه السلام د خپل رب برهان نه وی ليدلی، د هغې مېرمنې په لوري به ښويېدلی وو، راشئ وگورو چې دا الهي برهان څه وو؟ د آيت له فحوی معلومېږي چې دا برهان د يوسف عليه السلام هغه احساس وو چې په دغو الفاظو سره ئې بيان کړ: الله تعالی مې رب او پالونکی دئ، دې غوره مقام ته ئې راورسولم، ظالمان نه ژغورل کېږي، همدغه احساس د دې باعث شو چې د ځوانۍ په هغه طوفاني دوره کې د شيطان او نفس له وسوسو خوندي پاته شي. که څه هم ځينې مفسرين په دې اړه نور تعبيرونه لري خو د هيڅ يوه لپاره ئې معقول دليل نه دئ وړاندې کړی او د آيت له الفاظو سره اړخ نه لگوي.

• قرآن فرمايي چې په دې کار سره يوازې دا نه چې دی له دغې گناه وژغورل شو بلکې په همدې سره بې حيايي او بدکارۍ له ده په شا وڅمبول شوه!! د قرآن دا وينا په سطحي نظر سره انسان ته عجيبه برېښي، خو په لږ دقت سره پوهېدی شې چې په دې الفاظو کې ډېر ژور او ظريف مطالب پراته دي، څوک چې په لومړي ځل د خپل نفس ناروا غوښتنې او د خپل هوس د هڅونې په وړاندې صبر وکړي، تسليم نه شي او پښې ئې له ښويېدو وژغورل شي، دغه کار په ده کې د ځان ساتنې هغه ځواک او احساس کمال او قوت ته ورسوي چې په راتلونکې کې د داسې هڅونو په وړاندې ئې پښې ونه ښويېږي، چا چې په لومړۍ مقابلې کې د بديو په وړاندې ماته ونه خوړله، د بديو د مقابلې ځواک ئې لازيات پياوړی او مضبوط شي او چا چې په لومړۍ مقابلې کې ماته وخوړه، بيا بيا به تر بريدونو لاندې راځي او ماته به خوري، څوک چې د بدکاريو دروازه پرانيزي تړل ئې ورته گران شي او څوک چې په لومړي ځل د هغې له پرانستلو ډډه وکړي د تل لپاره ترې خوندي پاته شي، يوه گناه نورو گناهونو ته لار پرانيزي، يوې گناه ته په منفي ځواب ويلو سره د نورو مخه نيول کېږي، يوسف عليه السلام هغې لومړۍ بلنې ته په منفي ځواب ويلو سره ټولو هغو کسانو ته ځواب ورکړی چې د ده د بې لارې کولو طمع ئې کوله، ټول په دې پوهېدلي چې دا هوښيار ښکار په لومې کې نه نښلي، چې د عزيز مصر مېرمن په دې ونه توانېده نور به څنگه هغه ښکار کړی شي او څنگه به د هغه د ښکار کولو جسارت او طمع کوي؟!! هو؛ په دې سره الله تعالی له يوې خوا دی د ځوانۍ په هغو شېبو کې چې احساسات ښه په ځوښ کې وي او هوس ډېر ځپانده؛ په گناه کې له پرېوتو وساتو او له بلې خوا ئې بد کارۍ ته بلونکې ځواکونه په فرسخونو له ده لرې کړل.

• الله تعالی هغه د مصر د ټولنې د زعامت لپاره غوره کړی وو، د مصر د هغه وخت پر ټولنې د فحشاء، اخلاقي فساد او جنسي آزادۍ تور وزر غوړېدلی وو، په خاصه توگه د ټولنې په لوړ پوړيو او اشرافي کورنيو کې دا بيماري په پراخه پيمانه خوره وه، له دې پلوه ئې حالت داسې وو لکه د نن ورځې د لوېديزې نړۍ د گنده ټولنو حالت، جنسي بې لاريتوب ته نه يوازې د گناه په سترگه نه کتل کېدل بلکې يو عادي کار گڼل کېدو، د يوسف عليه السلام دا کار د دې باعث شو چې د مصر ټولې هغه مېرمنې چې په خپلو نخرو سره ئې د مصر هر واکمن په آسانۍ سره ښکار کاوو له ده ناهيلې شي او د ده د بې لارې کولو طمع ونه کړي، که د عزيز مېرمن ونه توانېده چې يوسف عليه السلام د خپلې ځوانۍ په موسم کې دوکه کړي، هغه وخت چې احساسات ځپانده وي او په داسې حالت کې چې دی ئې مربي او خدمتگار وو، نو له هغه وروسته چې د عمر پوخوالي ته ورسېږي او د مصر واکمن شي، نو څنگه به هغوی وکولای شي چې دی ښکار کړي!! د قرآن دا الفاظ څومره دقيق دي: لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَ: چې په دې توگه بدکارۍ او بې حيائۍ ترې ايساره کړو!!، داسې ئې نه دي ويلي چې هغه مو له بدکارۍ او بې حيايۍ راايسار کړ؛ نه بلکې

بدکارۍ او فحشاء ترې ايساره شوه، يعني هغه کار ئې وکړ چې نور بدکارۍ او بې حيائۍ ورته نژدې نه شي.

د هغو ټولو آزموينو له جملې چې يوسف عليه السلام ورسره مخامخ شوی، خورا لوی او خطرناک ئې همدغه آزمېښت وو، د ورونو مخالفت، کينه او حسادت، په څاه کې لوېدل، مريېتوب ته لېږدېدا او بندي کېدا... دا ټول تر دې آزمېښت ډېر ډېر آسانه ول.

گورئ چې د قرآن د وينا په لفظ لفظ کې څومره ژوري لارښووني او ظريف ټکي مخې ته راځي، دوه څېرې ئې په ډېره دقيقه او اغېزمنه توگه انځور کړې: يو د خدای بنده او بل د نفس بنده، يو له گناه تښتي او بل په گناه پسې زغلي، يو د ځوانۍ په جذباتي موسم کې له گناه ځان ساتي او بل په داسي حال کې د گناه هڅه کوي چې ټولې جسمي او جنسي اړتياوې ئې رفع شوې، دواړه د دروازې په لوري منډې وهي خو يو ئې د پرانستلو او له گناه د ځان ژغورلو په نيت او بل ئې د دې لپاره چې خلاصه نه شي او ښکار ئې له منگولو ونه وځي، دواړو د دروازې په لوري وځغاستل، يو ئې له گناه د تېښتې لپاره او بل ئې د بې لاري نفس د اشباع لپاره، يو ئې له خدايه ويرې تېښتې ته اړ کړی او بل ئې د زړه له مراد د محرومېدو ويرې، عجيبه صحنه ده، دوه متضادې څېرې په يوه تگلورې کې، د يوه منزل په لور په منډو، مگر له بېلا بېلو موخو سره، څه عجيبه صحنه ننداري ته اېښودل شوې، هغه صحنه چې زړه په لړزا او درزا راولي، مشاعر هڅوي، په انسان کې وجد راپاروي. ډېر داسي کسان مومې چې دوی او هڅې ئې د دې صحنې له څېرو سره ورته دي، ټول په يوه تگلورې کې، د يوه هدف او مقصد په لور تلوار کې، کله نا کله له ورتو شعارونو او ادعاءگانو سره، خو يو ئې د رحمن خدای لپاره او بل ئې د نفس او شيطان په حکم، يو ئې په پاک لمنتوب سره او بل ئې له لړلو او ملوثو لاسونو سره، يو ئې له الله تعالی د ويرې په ډک زړه سره او بل ئې له خيرن، خچن او گنده ضمير سره.

دواړه د خپل محسن په وړاندې ودرېږي، د يوه د ژوند ملگری او د بل آقا، يوه ته دې محسن هر څه ورکړي او د خپل ژوند شريکه ئې گرځولې، خو له بل سره ئې يوازې دومره کړي چې په نوکرۍ ئې نيولی، يو خپل محسن ته صادق او وفادار او بل ورته خائن او بې وفا، مجرم تر بې گناه مخکې د ځان د برائت ادعاء کوي او بې گناه تورنوي او د هغه لپاره د سزا غوښتنه کوي!! پاک لمنی بېگناه له دې ډېره کوي چې بل تورن کړي، له ځانه دفاع ته اړ کېږي.

لکه څنگه چې مو د يوسف او د هغه د ورونو په قصې کې ولوستل چې تېری د يوسف عليه السلام د ورونو لخوا شوی، هغه ئې څاه ته وغورځاوو او بيا ئې د ده کميس د دې لپاره په "کاذبه وينه" سور کړ چې پلار پرې وغولوي، دلته هم وينئ چې تېری د بدکار او مجرم له پلوه دئ او د صالح مظلوم کميس په کې څيري شوی، هغه تورن شوی او هغه په زندان او دردناک عذاب گواښل شوی!! که تاريخ ته يو ځغلند نظر واچوو نو وبه

ګورو د دغو دوو انساني لوريو ترمينځ د تاريخ د ټولو ټکرونو ماهيت همدغسې دئ.

کله چې دوی دواړه د مصر عزيز د وره خوله کې ويني؛ نو مجرمه ښځه ئې په جګ غږ وايي: يوسف ستا پر عزت او ناموس د تېري او لاس اچولو نيت درلود، د داسې تېري کوونکي سزا له دې پرته بل څه کېدی شي چې يا بندي شي او يا سخت تعذيب شي!! په دې صحنه کې هم ګورئ چې د شر او فساد سمبول يرغلګر دئ، تبليغات او افتراءات د هغه له لوري دي او د پاك لمنتوب او تقوی لوری تر تهاجم لاندې او دفاع ته اړ شوی!! تل همداسې وي، د چا لمن چې په ګناهونو لړلې وي هغه څوك په ګناه تورنوي چې له ګناه د تېښتې په وخت ئې لمن څيرې شوې. اکثراً داسې کېږي چې سپين‌څلې خلك د خپل سپېڅلتوب د دفاع لپاره د تبليغ ډېر لږ احساس کوي او دا ضرورت لږ احساسوي چې د خپل پاك لمنتوب لپاره دلائل وړاندې کړي، دا مجرمان او ګناه ګاران دي چې د خپل جرم د پټولو او سپېڅلتيا د اثبات لپاره تبليغاتو ته ضرورت لري، دوی د ځان د تبرئې لپاره نور خلك تورنوي.

الله تعالی په خپله له مخلصو بندګانو دفاع کوي، هغه تل له متقيانو او پرهېزګارانو سره دئ، يوازې ئې نه پرېږدي، آزمېښتونه پرې راولي، په لوړو ژورو سره ئې آزمويي، دا ځکه چې ابتلاء او آزمېښت د الله تعالی سنت دئ او دا ځکه چې د آزمېښتونو په ترځ کې د متقيانو روزنه کوي، په دې سره د دوی شخصيت ته مزيده ځلا ورکوي، خو هيڅکله ئې د دښمنانو په وړاندې يوازې او بې اسرې نه پرېږدي، چا چې د آزمېښتونو په دوران کې تر پايه پوره صبر وکړ، الهي مرسته به ئې هرو مرو خوا ته رارسي، د باطل د پلويانو او ملګرو له منځه به داسې څوك راولاړوي چې له حق پالونکو دفاع وکړي، د مخالف لوري تورونه رد کړي او د دوی پر پاکۍ او پاك لمنۍ شهادت ورکړي!! د يوسف عليه السلام لمن داسې څيرې شوې چې د يوسف عليه السلام پر پاکۍ او د عزيز د ښځې په بدلمنتوب شاهدي ورکوي، هماغسې چې په وينو لړلی کميس ئې يعقوب وپوهاوو چې لېوه نه دئ داړلی، بلکې وروڼو ئې کوم بل کار پرې کړی.

د عزيز مصر غبرګون ډېر سوړ وو، له دې هم ډډه کوي چې خپلې مېرمنې ته کومه سخته خبره وکړي، دا خو پرېږده چې طلاقه ئې کړي، سزا ورکړي، يا دا له يوسفه لرې کړي او يا يوسف ترې لرې کړي، له خپله کوره ئې وباسي او بل ځای ته ئې ولېږي، چې د دې فاجعې له بيا تکراره مخنيوی وکړي، فقط دومره ورته وايي: د ښځو مکرونه همداسې وي!! په مکرونو کې ډېر مهارت لري!! د عام خطاب په ډول، داسې چې نورې ښځې ئې هم په کې شاملې کړې دي: د ښځو مکرونه همداسې وي!!! د دې دا کار خطاء او غلطي ګڼي خو په دې معنی چې ولې ئې خپل حيثيت او مقام ته پام نه دئ کړی، دا خو ستا نوکر دئ نه سيال!! يعني دا کار په خپل ذات کې د اعتراض وړ نه ګڼي، يوازې په هغه صورت کې ئې د اعتراض وړ شمېري چې له خپل سيال سره نه وي!! يوسف ته ئې وويل: له دې خبرې تېر

شه، څه چې درسره شوي هغه هېر کړه او سترګي پرې پټي کړه!! او خپلي ښځي ته ئې وويل: د خپلي ګناه لپاره بخښنه وغواړه، اشتباه دي کړې ده!! خو د ده په الفاظو کې دا وضاحت نشته چې له چا بخښنه وغواړي، له الله تعالی که له خپل مېړه؟! د ده الفاظ دا وو: إنك كنت من الخاطئين : يقيناً چې ته له خطاء شوو يې!! آيا له دې خبري د ده مقصد دا دئ چې ګناه دي کړې، دا عمل خو ذاتاً يوه ګناه ده او يا دا چې دا ګناه نه بلکي يوه اشتباه ګڼي او معنی ئې دا ده چې ولې ئې په يو مريي او غلام باندي زړه بايللی او له هغه ئې د زړه مراد غوښتی؟! د آيت الفاظ ډېر صريح دي، ده د ذنب، جرم او اثم پر ځاي د "خطا" لفظ کارولی چې مطلب ئې دا دئ: د يوې شريفي کورنۍ عزتمنه مېرمن چې په خپل مريي زړه بايلي لويه اشتباه کوي!!

د مصر د عزيز له خبرو داسي معلومېږي چې د ده قصد دا دئ چې مېرمن ئې بايد په خپله له ده بخښنه وغواړي، بايد له خپل دغه مېړه بخښنه وغواړي چې دا ټول آرام او له عيش او عشرته ډك ژوند ئې ورته مهيا کړی، دومره پراخ او زيات نعمتونه ئې تر پښو لاندي ورته غوړولي، خو له دې سره سره دا بل چا ته زړه ورکوي او يوه مريي ته پر ده ترجيح ورکوي!!

ګورئ چې يوسف عليه السلام د دغو ټولو نعمتونو پر يوې وړې برخي لاس موندلی، له دې ټولو نعمتونو ډېر لږ څه د ده هم په برخه شوي، خو دئ ئې په مقابل کې د الله تعالی پاس ساتي او ګناه کول د نعمت کفران ګڼي او ترې ځان ساتي، مګر د مصر د عزيز ښځه څومره ناشکره ده چې د دغو ټولو نعمتونو په وړاندي د خپل مېړه پاس نه ساتي؟! د نعمتونو وفرت او ډېروالی غالباً د هغه کفران ته لاره وباسي او انسان د منعم په وړاندي ناشکرۍ ته هڅوي او په انسان کې د عصيان او طغيان سبب ګرځي.

بايبل دلته د دې قصې له يوې ډېري مهمي او حساسي برخي هسي تېرېږي، خو قرآن ئې په تفصيل سره بيانوي او فرمايي: د ښار ځينو ښځو په خپلو غونډو او مجلسونو کې دا تبصرې پيل کړې چې د عزيز مصر مېرمني په خپل نوکر زړه بايللی، دا خو ئې څرګنده غلطي کړې ده!! (د دې له شأن سره خو دا نه ښايي چې له خپل غلام سره مينه وکړي، دا چېري او غلام ئې چېري!!)، قرآن فرمايي چې دا هسي د دوی مکر وو، ټولي په همدې مرض اخته وې، هسي ئې خپلو خاوندانو ته داسي ښوده چې دوی د عزيز مصر د مېرمني په څېر نه دي، په دوی دي دا بد ګمان نه کوي!! کله چې د عزيز مصر مېرمن د دوی له دې مکره خبره شوه نو د مېلمستيا بند وبست ئې ورته وکړ، د يوې صفې پر سر ئې ورته ځاى برابر کړ، د هري يوې مخي ته ئې د مېوې لوښی او چاړه کښېښودل، کله چې دوی په خوراك لګيا وې يوسف ته ئې د دوی خوا ته د څه ورووړلو امر وکړ، کله چې د مصر د واکمنو مېرمنو وليد، حسن ته ئې هك پك او مجذوبې شوې، بې اختياره ئې خپل لاسونه غوڅ کړل، د عزيز مېرمني پرې غږ کړ: دا هماغه کس دئ چې تاسو پرې ملامتولم، هو! ما

ترې د زړه مراد وغوښتو مګر هغه ډډه وکړه او که غوښتنه مې ونه منې او اوامرو ته مې غاړه کښېنږدې ځای به ئې زندان وي، خوار او ذلیل به شي، یوسف (چې د دوی خبرې اورېدلې او متوجه شوی چې اوس نو وضعیت لا ډېر خطرناك شو، دلته راغونډې شوې مېرمنې ټولې د دې په خبر دي اوس به هغوی هم د ده د بې لارې کولو هڅه کوي، نو الله تعالی ته ئې د دعاء لاسونه اوچت کړل او وئې ویل: زما ربه! زندان تر هغه څه راته غوره دئ چې دوی مې وربولې! که ته مې د دوی له مکره ونه ساتې، دوی ته به مایل شم او د نورو جاهلانو په خبر به شم!! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، له دې ګنده محیطه ئې د ده د لرې کولو پرېکړه وکړه، عزیز مصر سره له هغه چې حقائق ورته څرګند شوي وو دا فیصله وکړه چې تر یوې مودې ئې زندان ته ولېږي. د قرآن الفاظ دا دي:

وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا
حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ
وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا وَءَاتَتۡ كُلَّ وَٰحِدَةٖ مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا وَقَالَتِ ٱخۡرُجۡ عَلَيۡهِنَّۖ
فَلَمَّا رَأَيۡنَهُۥٓ أَكۡبَرۡنَهُۥ وَقَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّ وَقُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنۡ
هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٞ كَرِيمٞ ﴿٣١﴾ قَالَتۡ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي لُمۡتُنَّنِي فِيهِۖ وَلَقَدۡ رَٰوَدتُّهُۥ عَن
نَّفۡسِهِۦ فَٱسۡتَعۡصَمَۖ وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُونٗا مِّنَ
ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ
عَنِّي كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ
فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا
رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٣٥﴾

او د ښار ځینو ښځو وویل: د عزیز مېرمنې له خپل مریي نفسي غوښتنه کړې، یقیناً چې مینې لېواله کړې، موږ ئې په څرګندې غلطۍ کې ګڼو، نو کله چې ئې د دوی مکرجنې خبرې واورېدې پیغام ئې ورولېږو او د تکیې ځای ئې ورته برابر کړ او د دوی هرې یوې ته ئې چاړه (په لاس کې) ورکړه او (یوسف ته ئې) وویل: د دوی مخې ته رووځه، نو کله چې ئې هغه ولید، تر خپل ګمان ئې لوړ وموند او خپل لاسونه ئې غوځ کړل او وئې ویل: پاکي الله لره ده، دا خو انسان نه بلکې له یوې

قدرمني او درنې فرشتې پرته بل څه نه دئ، (د عزيز مصر مېرمني) وويل: دا همغه ځوك دئ چي تاسو پرې ملامتولم، هو؛ ما ترې د زړه مراد وغوښتو او ده ځان لري وساتو، كه هغه څه ونه كړي چي زه ئې پرې گمارم، نو هرو مرو به زنداني شي او حتماً به خوار او سپك شي، (يوسف) وويل: زما ربه! تر هغه څه چي دوى مي وربولي زندان راته غوره دئ او كه ته د دوى مكرونه رانه وانه ړوې دوى ته به مايل او د جاهلانو له ډلي به شم، نو رب ئې دعاء قبوله كړه او د دوى مكر ئې ترې وگرځاوو، بې شكه چي هغه پوه اورېدونكى دئ، بيا د ځرگندو نښو له ليدو وروسته (دا ورته غوره) وبرېښېده چي څه موده ئې بندي كړي.

---

(٣٠-٣٥)- دلته څو خبري د ځانگړې توجه وړ دي:

● د ښار د ښځو يوې ډلي، نه ټولو ښځو، فقط د درباريانو او رئيسانو ښځو، هغه چي په خپل چاپېريال كي د نورو اشرافي مېرمنو له ټولو اسرارو خبرېږي، وويل: د عزيز ښځي لويه غلطي كړې ده!! خپل غلام ته ئې زړه وركړى او له هغه ئې د زړه مراد غوښتى، د هغې په شان شريفه او لوړ نسبه ښځه وگوره او مريي ته زړه بايلل وگوره! هيڅوك داسي نه كوي لكه چي هغې كړي دي!! قرآن كريم د دوى دا خبري هسي مكر او حيله گڼي او دا په گوته كوي چي دوى ټولي په دې ناروغۍ اخته وې، ټولي د عزيز مصر د مېرمني په څېر وې، دا خبري ئې د خپل پاك لمنتوب د اثبات لپاره كړې او په دې سره ئې خپلو مېړونو ته ښودله چي دوى دا كار اشتباه گڼي او هيڅ كله به ئې مرتكبې نه شي!!

● قرآن فرمايي: كله چي دې د دوى مكرجني خبري واورېدې نو په هغوى پسي ئې استازى ولېږو او د دوى لپاره ئې مجلس جوړ كړ، بالښتونه ئې ورته كښېښودل او ( د غذا او مېوو پر دستر خان باندي ئې ) هري يوې ته چاړه كښېښوده او (يوسف عليه السلام ته ئې ) وويل: د دوى مخي ته ورووځه! كله چي د هغوى نظر پرې ولگيدو، نو هغه ئې ( له خپل گمان او تصور ) ډېر لوړ وموندو ( د ټولو سترگي پرې ښخي پاته شوې او د مېوو پرځاي ئې) خپلي گوتي پرې كړې او وئې ويل: خداي ته پناه! دا خو بشر نه دئ، دا خو له يوې قدرمني فرشتې پرته بل څه نه دئ!! د عزيز مصر مېرمن (له كوم شرم او حياء پرته د خپل راز او د عياشۍ د مجلسونو سيالو او هم مسلكو ملگرو ته) وايي: زه مو په دې ملامتولم چي خپل مريي ته مي زړه وركړى، دا دئ هغه غلام! هو ما ترې د زړه مراد وغوښتو خو هغه ډډه وكړه، لوړه كوم چي يا به مي مراد پوره كوي او يا به زندان ته درومي، له ذلت او سپكاوي سره به مخامخېږي او له دې ټولو نعمتونو به محرومېږي!!

● گورئ چي قرآن د مصر د اشرافي كورنيو اخلاقي وضعيت څنگه انځور كړى: د عزيز مصر د مېرمني د عياشۍ په محفل كي مېلمنې، آزاد خيالي، د مصر د اشرافو په كورنيو پوري

مربوطي بدلمني ښځې چې كله يوسف عليه السلام ويني، خپل حواس بايلي، خپل كنټرول له لاسه وركوي، ټول د هغه د جمال په ننداره كې ډوبيږي او له ډيري وارخطايۍ د مېوو پر ځاى خپلې گوتې پرې كوي، بې له دې چې د شرم او حياء احساس وكړي د ده د حسن ستاينه كوي، د عزيز مېرمني ته برائت وركوي او دې ته دا مجال برابريږي چې په پوره جسارت سره پر خپل كار اعتراف وكړي!!

● قرآن په دغو څو لنډو جملو سره د مصر د درباريانو او زعيمانو د كورنيو د بداخلاقيو وضعيت او د هغوي د شخصي ژوندانه ټول اړخونه، پټې او ښكاره زاويې او گوښې په ډير دقت سره انځوروي او دا ښيي چې په غير اسلامي ټولنو كې او د هغو خلكو په منځ كې چې پر خداى او آخرت ايمان نه لري، زعماء او مشران ئې له اخلاقي لحاظه تر دې حده په فساد كې غرق وي، دومره سپك او ذليل وي چې آزاد جنسي روابط په هغوى كې عادي كار گڼل كيږي او هيڅوك هم پرې اعتراض نه كوي.

● دې ټكي ته مو بايد پام وي چې له دې قصې او له هغو تبصرو او تحليلونو چې د مصر د مشرانو اخلاقي وضعيت په كې څيړل شوى، د قريشو د سردارانو انتباه به څه وه؟ له دې به ئې څه پيغام اخيستو؟ آيا د دې قصې حرف حرف به ئې ځان ته متوجه نه گاڼو او هغه به ئې په ټولني كې پر خپل اعتبار، رسوخ او عزت يو خطرناك بريد او تيرى نه بالو؟ آيا د مكې عامو خلكو به د دې قصې په هينداري كې د خپلو سردارانو او د دوى د كورنيو څيره نه ليدله؟ او هر آيت به ئې د دوى پر بدي وضعي نه تطبيقولو؟

● په دې آيتونو كې د يوسف عليه السلام هغه وضعيت چې ورسره مخامخ وو په ډير زړه راښكونكې، جالبي او ښوونكې بڼې كې انځور شوى، هغه چې تازه رسيدلى ١٨_١٩ كلن ځوان دئ، د صحرا په ويړه غيږه او د هغې په صافه او شفافه هوا كې دنيا ته راغلى او د ځوانۍ پړاو ته رسيدلى، الله تعالى ورته ښكلى صورت وركړى، د ورونو جفا ئې ليدلې، په څاه كې د لوېدلو بده ورځ ئې گاللې، د غلامۍ شپې او ورځې ئې ليدلې او اوس د نړۍ په خورا متمدنه سيمه كې (د مصر په پلازمېنه كې) د مصر د عزيز په كور كې ژوند كوي، په هغه كې د بدوي او مدني ژوند آثار او نښې له ورايه ښكاريدې، د هغه راښكونكې څيره د جلال او جمال، ښايست او تقوى، وقار او مهرباني، متانت او ساده توب ښكلى امتزاج وو، هر ليدونكى به ئې ځان ته راښكو او د ځان مجذوب به ئې گرځاوو، د يوسف عليه السلام ذاتي ښېگڼې ورته حادثې او پيښې رامنځته كړې، لومړى ئې د ورونو له كينې سره مخامخ كړ او دا دئ اوس د عزيز په كور كې له هغه لوي آزمېښت سره مخامخ شو، د عزيز ښځه ورپسې شوه، هره شېبه ئې د گناه په ناولي ډنډ كې د لوېدو وېره وه، په هرگام كې ئې مخې ته دام، له هغه محفل وروسته خو د مصر د سردارانو ټولې مېرمني پرې ميني او د هغه د اغوا لپاره ئې پايڅې رابډوهلې وې، د هغه ستونزه ئې لازياته كړې وه، هري خوا ته چې گوري، گناه ورته خپله غولوونكې غېږه پرانستې ده او په هر گام كې د شر داعي او بلونكى

ورته په کمين کې دئ، په ناز او نخرو ئې ځان ته رابلي، که نور خلك په ګناه پسي منډې وهي، دلته ګناه په ده پسي ځغلي او هره شېبه د دې انتظار کوي چې هغه غافل ومومي او ګوزار پرې وکړي، غافل ئې کړي، اراده ئې کمزورې ووينې، ګناه ته تمايل په کې راڅوندی کړي او ډېر ژر ئې ښکار کړي، څومره خطرناکه صحنه ده او څومره ارواح سوزوونکې آزموينه؟ هغه په دې سخته مبارزه کې ثابت قدمه او کوټلی دئ، له هر پړاو په بري سره سر لوړی او فاتح تېرېږي، د عزيز د ښځې ګواښونه ئې اورېدلي او ليدلي، چې يوسف بايد له دغو دوو يو غوره کړي، يا په ګناه کې سقوط او د دې غوښتنو ته تسليمېدا، يا زندان ته تګ او د خواريو او ذلتونو منل، خو هغه د دغو دوو بديلونو د يوه په انتخاب کې ځنډ ونه کړ، بې له ځنډه ئې زندان غوره کړ، په پوره اشتياق سره هغه بديل انتخابوي چې پرې وېراوو ئې، په پوره سوز او د زړه له تله خپل رب ته دعاء کوي او وايي: زما پالونکې خدايه! زندان له هغه څه ډېر راته محبوب دئ چې دوی مې وربلي!!

● دا برخه له يوې خوا مورږ ته دا راښيي چې له دې محفل وروسته د عزيز مصر مېرمن د يوسف عليه السلام په ښکارولو کې يوازې نه وه، د مصر د سردارانو ډېرې مېرمنې ورسره شريکې شوې وې او له بله پلوه يوسف عليه السلام دغه صحنه دومره خطرناکه ګڼلې چې د الله تعالی له لطف او مرحمت پرته ئې په بل څه خلاصون ترې ګران ليدلی، د همدې لپاره ئې خپل رب ته په دې الفاظو دعاء کړې: که د دوی مکر له ما دفع نه کړې، نو د دوی په دام کې به ولوېږم.

● د قرآن دا وينا هم خاصه توجه غواړي چې فرمايي: يوسف عليه السلام جنسي بې لاريتوب او شذوذ د جاهليت له مظاهرو ګڼي، د قرآن له نظره په هرې ټولنې کې چې د دې ګنده او ناولې عمل مظاهر راڅرګند شي نو هغه ټولنه له تمدن وروسته پاته او جهل وهلې ټولنه ده. علم او تمدن انسان د قانونمندۍ خوا ته کاږي او ټولې اړيکې د همدغې قانونمندۍ په سيورې کې تنظيموي او ټولنه له دې ژغورې چې قانون ترپښو لاندې شي، له حدودو تېری وشي، نظم له منځه ولاړ شي، يو د بل په حق او حد تېری وکړي، د انسان په ژوند کې تر ټولو مهمه او اساسي قضيه د ده جنسي اړيکې دي چې د ده او د ده د نسل ژوند او دوام ورپورې تړلی دئ. د انسان د ژوند د دغه اساسي اړخ روغوالی، د قانون په چوکاټ کې د هغه تنظيمول او په دې برخه کې د پولو او حدودو د تر پښو لاندې کېدو مخنيوی د علم او تمدن له لومړنيو غوښتنو ده. جهل او د انسان له فطرت او د هغه د جسم د سلامتيا او روغتيا له غوښتنو او د هغه د روح او بدن له صحي اړتياوو بې خبري د دې سبب کېږي چې د انسان د ژوند دغه اړخ ته لازمه اعتناء ونه شي، ضوابط ئې تر پښو لاندې شي او له حدودو ئې تېری وشي، مګر دا نه ګورئ چې د لوېديځې نړۍ بې مهاره ټولنه له دې جهته څومره رنځ وړې او له څومره خطرناکو ناروغيو سره مخامخ ده؟ د ايډز وژونکې ناروغي د دې ټولنې له مظاهرو يوه ده، د لوېديزې نړۍ زړه سوانده پوهان په

چيغو چيغو د خطر اعلان کوي چي يا آزادي جنسي اړيکي کنټرول کړئ او يا د هغه د بدو او تباه کوونکو عواقبو انتظار وکړئ.

● الله تعالی د يوسف عليه السلام دعاء قبوله کړه، ده زندان تر دې لړلي چاپېريال غوره وګاڼه، زندان ورته خوندي پناځی ښکاره شو، د مصر د واکمنانو له مکرجنو او نخره ګرو ښځو ئي الله تعالی ته پناه يووړه، د دعاءګانو اورېدونکي عليم خداي د ده دعاء اجابت کړه، له هغه چټل او لړلي چاپيريال او په ګناه کې له سقوط او لوېدو ئې وژغورو، الله تعالی د خپل مخلص بنده دعاءګاني اوري او قبلوي ئې، هغه د خپل بنده له هر حالته خبر دئ، په دې پوهېږي چي د څه ډول معاملې وړ او مستحق دئ؟

● قرآن فرمايي چي درباريانو ته دا غوره وبرېښېده چي يوسف عليه السلام د څه مودې لپاره زندان ته ولېږي، په داسي حال کې چي حقائق ورته څرګند شوي او د يوسف عليه السلام په پاك لمنی پوه شوي ول. په دې اړه د قرآن له الفاظو معلومېږي چي يوازي د مصر عزيز نه؛ بلکي د مصر نورو درباريانو هم مصلحت په دې کې ليدلی چي د يوې مودې لپاره يوسف عليه السلام په زندان کې وساتي، دوی دغه تصميم د ځينو نښو نښانو له ليدو وروسته ونيولو!! خو دا نښې نښانې کومي وې، هغه چي د يوسف عليه السلام په پاك لمنی ئې دلالت کاوو او که هغه اطلاعات چي د هغي مېلمستيا له وضعيته دوی ته رسېدلي وو؟ د قرآن له دغو الفاظو (من بعد ما رأوا الايات) او (ثم بدا لهم) چي په دواړو کې د جمعي صيغې راغلې ښيي چي زندان ته د يوسف عليه السلام په لېږلو کې نور درباريان هم شريك ول او دا ځکه چي دوی ته دا اطلاع رسېدلې وه چي په هغي مېلمستيا کې د دوی مېرمنو هم په يوسف عليه السلام زړه بايللی او د همغه څه کولو هڅه ئې کړې چي څو ورځې مخکي ئې د عزيز مصر مېرمن پرې ملامتوله!! دا بهير موږ ته د هغي جاهلي ټولني يوه بله توره زاويه هم په ګوته کوي او هغه دا چي په دغو ټولنو کې فيصلې او پرېکړې د مصلحتونو له مخي کېږي، نه د عدالت له مخي، د غېراسلامي ټولنو په محاکمو کې د واکمنانو هوی او هوس واکمني او حکومت کوي نه (قانون او قضاء)، حاکم او واکمن کولی شي يو بې ګناه انسان د خپلي خوښي تر مودې پوري په زندان کې وساتي، همغسي لکه د مصر واکمنانو او درباريانو چي د خپلو مېرمنو د اداره کولو او له فساده د راګرځولو پر ځای يوسف عليه السلام د نامعلومي مودې لپاره زندان ته ولېږو!!

● هغه شخصيت ته چي الهي تقدير د مصر په ټولنه کې د يوه ژور بدلون راوستو لپاره غوره کړی او د دې ټولني قيادت او زعامت به ده ته سپارل کېږي، ضروري ده چي د بدوي ژوندانه د وضعيت له مشاهدې او د مصر د حکامو د وضعي له ژوري مطالعې وروسته، د مصر د محاکمو د پرېکړو په څرنګوالي او ماهيت پوه شي او د زندان او زندانيانو له حال او احواله پوره خبر شي؛ او دا ځکه چي عوام د حاکمو نظامونو د پراخو تبليغاتو له مخي داسي ګمان کوي چي (محاکم) آزاد او مستقل دي او قاضي د قانون او

مقرراتو په حکم قضاوت کوي او د عدالت له تأمین پرته هیڅ څیز ته ارزښت نه ورکوي، د دې غلط ذهنیت تصحیح نه یوازې د عامه خلکو او طبقاتو تر منځ ضروري دئ؛ بلکې د خواصو او د ټولنیزو انقلابونو د زعامت او مشرتابه په کچه هم ضروري دئ، د زندان وضع او د زندانیانو حالت، د دې ټولنو د محاکمو او قاضیانو ماهیت په ښه توګه څرګندوي، د انقلاب مشران باید زندان ته لاړ شي چې په جاهلي ټولنه کې د عدالت او قانون ماهیت په خپلو ټولو غړیو او روح سره احساس کړي او په دې پوه شي چې په دې مجال کې کومې تبدیلي او انقلاب ته ضرورت شته!!

● قرآن په دې قصې سره موږ ته دا درس راکوي چې که چېرې د الله تعالی کوم صالح بنده د ده په لار کې زندان ته درومي، باید ډاډه او مطمئن وي او د پایلو په اړه دې هیڅ تشویش نه کوي، دا او هره پرېکړه دې د الله تعالی له لوري وګڼي او په دې باور دې وي چې په دې کې ئې حتماً حکمتونه او مصلحتونه ایښي دي، که نن نه پرې پوهېږي، ژر به پرې پوه شي، مګر نه ګورئ چې زندان ته د یوسف علیه السلام تګ نه یوازې د ده له غوښتنې سره سم وو؛ بلکې الله تعالی په دې سره دی په ګناه کې له پرېوتو وژغورو، زندان ئې ورته یوه مدرسه کړه او د هغې په غېږه کې ئې له لا ډېرې فکري او اخلاقي ودې برخمن کړ او هلته ئې د مصر د ټولنې یوه بله تیاره زاویه له نژدې وکتله... او په پای کې له همدې زندانه د مصر واکمنۍ ته ورسېدو.

وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجْنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعْصِرُ خَمْرًاۖ وَقَالَ ٱلْءَاخَرُ
إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ مِنْهُۖ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا
نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ٣٦ قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا
بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَاۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا
يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ٣٧ وَٱتَّبَعْتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبْرَٰهِيمَ
وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشْرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيْءٍۚ ذَٰلِكَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ
عَلَيْنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ٣٨ يَٰصَٰحِبَيِ
ٱلسِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ٣٩ مَا تَعْبُدُونَ مِن
دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍۚ إِنِ

ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٠﴾

او له ده سره (په يو وخت) دوه زلمي غلامان هم زندان ته ننوتل (بنديان شول)، (هر يوه ئې يو خوب بيا بيا ليدلی وو، يوسف ته راغلل)، يوه ئې وويل: زه په خوب کې ځان داسي گورم چي انگور زبېښم او بل (ورته) وويل: زه په خوب کې ځان داسي گورم چي پر خپل سر ډوډۍ وړم او مارغان ئې خوري، موږ د دې خوبونو په تعبير پوه کړه، ته راته د نېکانو له ډلي معلومېږې، هغه وويل: لابه هغه خواړه چي (معمولاً هره ورځ) درکول کېږي درته نه وي راغلی چي تعبير به ئې درته ووايم، دا د هغه علم يوه برخه ده چي زما پالونکي رب راښودلی، ما د هغه قوم دين پرېښود چي پر الله ايمان نه لري او پر آخرت کافران شوي. او د خپلو نيکونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب د دين متابعت مي وکړ، موږ ته نه ښايي چي له الله سره کوم څه شريك کړو، دا پر موږ او پر ټولو خلکو د خدای يو فضل او پېرزوينه ده؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي، (يعني دا د الله تعالی لويه پېرزوينه ده چي موږ ته ئې فرمايلي: له الله پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ او بل ته لاس لمن مه اوږدوئ)، د زندان ملگرو! آيا ډول، ډول اربابان غوره دي او که يو غالب خدای چي (پر ټولو کائناتو) مسلط دئ؟ له ده پرته خو تاسو د داسي څه عبادت کوئ چي هسي څو نومونه دي چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی، حکم (صادرول) خو يوازي الله ته مختص دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ، سم او سيده دين همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي.

---

(٣٦-٤٠)- بايبل تر دې عنوان لاندي (يوسف د بنديانو خوبونه تعبيروي) ليکي: (فرعون د دربار د ساقيانو او نانوايانو په رئيسانو غصه شوی وو... دواړه ئې په هغه زندان کې واچول چي يوسف هم په کې وو... دوی زياته موده هلته پاته شول... فوطيفار يوسف د دوی د خدمت لپاره گمارلی وو...يوه شپه دواړو خوب وليد... سهار يوسف متوجه شو چي دواړه خفه دي... پوښتنه ئې ترې وکړه... وئې ويل: موږ خوب ليدلی خو څوك نشته چي موږ ته ئې تعبير کړي... يوسف ورته وويل: د خوبونو تعبيرول د خدای کار دئ!! ما ته ووايئ څنگه خوبونه مو ليدلي... د ساقيانو رئيس وويل: د انگورو داسي تاك مي وليد چي درې څانگي ئې وې...ناڅاپه څانگي وغوړېدې او زيات انگور په کې وټوکېدل... له ما سره د فرعون د شرابو جام وو، انگور مي په کې وزبېښل او فرعون ته مي ورکړل او هغه وڅښل، يوسف ورته وويل: ستا د خوب تعبير دا دئ: درې څانگي يعني درې ورځې، تر دريو

ورځو پوري به فرعون تا له زندانه آزاد کړي او بیا به د ده ساقي شې... هیله مې دا ده چې ما هېر نه کړې، فرعون ته زما قصه وکړه او ترې وغواړه چې ما له دې زندانه آزاد کړي... کله چې د نانوایانو رئیس دا تعبیر واورېدو او هغه ئې ښه وموند نو هغه هم خپل خوب داسي ورته تېر کړ: په خوب کې په خپل سر باندي له ډوډۍ ډك درې شکورونه ګورم... مرغان راغلل او هغه ئې وخوړې، یوسف ورته وویل: درې ټوکرۍ یعني درې ورځې، درې ورځې وروسته به فرعون ستا سر له تنه بېل کړي او بدن به دې په دار وځړوي، مرغان به راشي او ستا د بدن غوښي به وخوري... درې ورځې وروسته د فرعون د زېږېدو کلیزه وه... دا دواړه بندیان ئې خپل حضور ته وروغوښتل... د ساقیانو رئیس ئې په خپلې مخکینۍ دندې وګمارو او بل ئې په دار وځړاوو)

قرآن د بایبل د دغو خبرو اکثري برخې ردوي او په ځای ئې د قصې اصلي بهیر په داسي بڼې کې بیانوي چې نه یوازې هر څه ئې طبیعي او د واقعیتونو مطابق دي بلکې ډېر ظریف نقاط او مفیدي لارښووني زموږ مخې ته ږدي، قرآن فرمایي چې د یوسف علیه السلام په څېر دوه نور بې ګناه کسان هم له ده سره په یوه وخت زنداني شول، دواړو یوسف علیه السلام ته د یوه دروند او نېك انسان په سترګه کتل، د همدې لپاره ده ته راغلل او د خپلو خوبونو تعبیر ئې ترې وغوښت او یوسف علیه السلام چې له خپل زندانه د دعوت او مبارزې سنګر جوړ کړی، له هره فرصته په استفادې سره خلك د الله تعالی عبادت ته رابلي، له شرك او د ګڼ شمېر اربابانو له بندګۍ بغاوت ته بلنه ورکوي، مخکې له دې چې د خپل زنداني ملګرو خوبونه تعبیر کړي، مهلت ترې غواړي او ورته وایي چې د راتلونکې وخت د ورځني خوراك له راتلو مخکې به ستاسو د خوبونو تعبیر درته ووایم، له دې فرصته په استفادې سره هغوی توحید، معاد، رسالت، له شرك برائت او د الله تعالی عبادت ته رابلي، خو تر هر څه مخکې لازم بولي چې د هغوی اعتماد جلب کړي؛ ځان داسي معرفي کوي: ما د هغه قوم دین پرېښی چې پر خدای ایمان نه لري، له آخرته منکر دي، د دې په ځای مې د خپلو نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام د دین متابعت ته ملا تړلې او ورته وایي: له ذلت او سپکاوي د خلاصون یوازینۍ لار دا ده چې له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټیټ نه کړو، له شرك ډډه وکړو، یوازې په همدې سره د الله تعالی عنایت او فضل زموږ او د ټولو انسانانو په برخه کېدی شي، الله تعالی په خپل دې پرېکنده او قاطع حکم او امر سره چې له ده پرته هیچا ته د بندګۍ سر ټیټ نه کړو او هیچا ته د احتیاج او نیازمندۍ لاس اوږد نه کړو، پر موږ لویه پیرزوینه کړې ده، خپل خاص احسان او فضل ئې زموږ په برخه کړی او زموږ سر لوړي او عزت ئې غوښتی دئ. خو ډېر انسانان د دې الهي احسان او ستر نعمت پاس نه ساتي، د شرك په ګنده ډنډ کې لوېږي او په همدې سره ئې ذلت او سپکاوی په برخه کېږي، یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته وایي:

- څوك چې د زمکې او آسمانونو د یوازیني پالونکې رب له عبادته ډډه وکړي؛ د ډول ډول

اربابانو او دروغجنو خدايانو د بندګۍ په دام کې پرېوځي، د هغه چا په څېر شي چې د کومي رسۍ په وسيله پورته تللی خو د لاري په نيمايي کې نابېره رسۍ شلېدلې، له بره سره ئې اړيکي غوځي شوې، راپرېوتی، يا د ښکاري مرغانو منګولو کې ګېر شوی او يا توندو سيليو پر سر اخيستی او په کومي ژوري کندي کې ئې غورځولی، آيا نه وينئ چې زموږ پر دې شرك وهلې او له الله تعالی بې خبري ټولني څومره ډول ډول اربابان حکومت کوي؟!! آيا غوره نه ده چې د دوی له ظالمانه واکمنۍ د نجات او خلاصون لپاره يوه خدای ته پناه يوسو او يوازې د هغه عبادت وکړو؟ له الله تعالی پرته ټول معبودان او هر هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ، مرسته ترې غواړئ او پناه وروړئ؛ تش په نامه معبودان دي، هسې خوشي نومونه دي، هيڅ حيثيت نه لري، هيڅ نه شي کولی، په حقيقت کې دا تاسو او ستاسو پلرونه دي چې دوی مو په خاصو نومونو او القابو نومولي، داسي کرامات، ځانګړتياوې او خصوصيات مو ورته منسوب کړي چې په کې نشته، هسې ګمان کوئ چې ستاسو دعاګاني اوري، ستاسي مرسته کولی شي، ستاسي حاجتونه پوره کوي او دعاګاني مو قبلوي؛ په داسي حال کې چې نه د دې پراخي هستۍ په غبرګې داسي دليل تر سترګو کېږي چې الله تعالی شريك لري او نه په کوم الهي کتاب کې ويل شوي چې له الله تعالی پرته د بل عبادت، هغه ته سر ټيټول او له هغه مرسته غوښتل جائز دي؛ هغه څوك چې دا ادعاء او ګمان ئې کړی چې د دې عالم کوم څيز يا کوم څوك په الوهيت او ربوبيت کې د الله تعالی سيال او شريك دئ او الله تعالی هغه د هستي په اداره او د چارو په سمبالولو کې له ځان سره شريك کړی؛ ادعاء ئې پوچه او ګمان ئې بې بنسټه دئ؛ داسي چې په ټولۍ هستۍ کې به د دې ادعاء د اثبات لپاره کوم دليل وړاندي نه کړی شي!! هغه دين په دېوال ووهئ او هيڅکله د الهي دين په سترګه مه ورته ګورئ چې شرك ته بلنه ورکوي.

● الله تعالی ټولواك دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واك ئې په لاس کې دئ، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول ده ته مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کې هيڅوك ورسره شريك نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو کولو صلاحيت او اختيار هيچا ته نه دئ ورکړی، بايد د ژوند په ټولو چارو کې له الله تعالی او د هغه له دين هدايت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو.

● ستاسي د ټولني مطلق العنان حاکمان ظالمان دي، له خپل حد او حق ئې تېری کړی او په خپلي دې ادعاء سره د شرك مرتکب شوي چې د قانون جوړول د دوی حق دئ.

● د الله تعالی دائمي او پرېکنده حکم دا دئ چې له ده پرته د بل څيز او بل چا عبادت مه کوئ، د بل چا له درشل او درباره وېره او طمع مه لرئ، له الله تعالی پرته هيچا ته د بندګۍ سر مه ټيټوئ او د فرمان او حکم اطاعت ئې مه کوئ، کوم مذهب او دين چې تا ته وايي: له غير الله مرسته غوښتل جائز دي؛ نو پوه شه چې دا دروغجن دين او کوږ اوږ

مذهب دئ، داسې دين او مذهب چې فقط جاهل وګړي ئې په دام کې ښکار کېږي!!

له دې اغېزمن دعوت وروسته يوسف عليه السلام د زندان ملګرو ته د دوی د خوبونو په اړه وايي:

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾

د زندان ملګرو! ستاسو يو تن به (آزاد شي او بيا به) د خپل بادار د شرابو ساقي شي او بل به په دار وځړول شي او مرغان به ئې د سر غوښې شکوي، دا دئ هغه کار تر سره شو چې تاسو ئې پوښتنه کوله.

(٤١)- دلته څو ظريف ټکي زموږ توجه جلبوي:

● ګورئ چې يوسف عليه السلام ته وروڼو په يوه سترګه کتل، د ده وړتياوو د هغوی حسادت راپاراوو او د مصر د درباريانو عياشو او بدکارو ښځو په بله سترګه ورته کتل، د ده حسن د دوی هوس او شهوت راپاراوو، خو د دوی دواړو په خلاف د دې دوو ستم ځپلو غلامانو تأثر د ده په باب بل شان دئ، د يوسف عليه السلام په خبرې، خبرو، حرکاتو او ناستې پاستې کې د يوه صالح، محسن او پرهېزګار انسان نښې او آثار د دوی توجه جلبوي او د خپلو خوبونو د تعبير لپاره ورته رجوع کوي، هغه ته د محسن او نېکوکار خطاب کوي.

● د بايبل دا خبره هم هيڅ وزن او ارزښت نه لري چې وايي: يوه شپه دواړو خوب وليد... سهار يوسف متوجه شو چې دواړه خفه دي... پوښتنه ئې ترې وکړه... وئې ويل: موږ خوب ليدلی خو څوك نشته چې موږ ته ئې تعبير کړي!!! دا څکه چې نه خو دوی داسې څه په خوب کې ليدلي وو چې پرې پرېشانه شوي وی او نه د خوب په تعبير پوهېدل!! د بايبل د دې وينا په خلاف قرآن فرمايي چې دوی يوسف عليه السلام ته راغلي، صالح، نېك او پوه انسان ورته معلوم شوی، ګمان ئې کړی چې دی کولی شي زموږ خوبونه تعبير کړي.

● لکه چې ګورئ قرآن نه دا خبره کوي چې دوی درې ځانګې او درې شکورونه په خوب کې ليدلي او نه دا خبره چې يوسف عليه السلام دوی ته وويل چې درې ورځې وروسته به ستاسو خوبونه په دې توګه رښتيا کېږي، د بايبل دا وينا هيڅ وزن نه لري چې د دريو ځانګو او دريو شکورونو تعبير درې ورځې دئ، يوسف عليه السلام د يوه له خوبه پوهېدلی چې آزاد به شي او بېرته به په خپلې مخکينۍ دندې وګمارل شي، قرآن فرمايي چې د يوسف ګمان همدا وو، د ده له خوبه ئې انتباه همدا وه، د دوهم کس خوب دوه برخې

درلودې: پر خپل سر د ډوډۍ وړل او د ده پر سر باندې د مرغانو خوراك، له لومړۍ برخې ئې دا انتباه اخیستې چې د هغې ډوډۍ د پخولو مسئولیت به د ده پر سر پرېوځې چې پاچا پرې غصه شوی وو او دی ئې د همدې لپاره زندان ته لېږلی وو او له دوهمې برخې ئې دا انګېرلې چې پر دار به وځړول شي او مارغان به ئې د سر پوستکی او ماغزه خورې.

● د قرآن له وینا معلومېږي چې دا دواړه زلمیان هم د یوسف علیه السلام په څېر بې ګناه ول، د قرآن له الفاظو او د یوسف علیه السلام له تعبیر معلومېږي چې یو ئې د دربار ساقي او بل ئې نانوای وو، ویل شوي چې په دې خاطر زندان ته لېږل شوي ول چې د دربار په یوې میلمستیا کې یوه داسې شراب مېلمنو ته وړاندې کړې وو چې مچ په کې لوېدلی وو او بل ئې داسې ډوډۍ پخه کړې وه چې شګې په کې وې، د آیت له الفاظو او د هغو دواړو له خوبونو دا جوتېږي چې نومورې وینا صحیح او د بایبل خبره غلطه ده چې دوی د دربار د چارو مشران وو، قرآن دوی دواړه د زلمیانو په نامه یادوي او په دې سره موږ ته د مصر د هغه مهال وضعیت دقیقاً انځوروي، دا یوازې یوسف علیه السلام نه وو چې د حاکم نظام د عیاشو او ظالمو واکمنانو د هوسونو قرباني شوی وو؛ بلکې د ده په څېر ګڼ شمېر کسان هره ورځ د دې مفسد نظام د مفسدو واکدارانو د هوسونو قرباني کېدل، دا یوازې دی نه وو چې له کومې ګناه او جرم پرته زنداني شوی او د دې ټولنې د ظالمو واکمنانو د غضب او قهر تر متروکې لاندې راغلی؛ بلکې د ده په څېر ډېر نور هم له کومې ګناه پرته د دوی په لاس تعذیب کېږي، رنګ رنګ عذابونه ګالي او هیڅ په هیڅ ځورول کېږي.

● د قرآن له الفاظو معلومېږي چې یوسف علیه السلام د زندان دغو دوو ملګرو ته وویل: کوم خواړه چې هره ورځ په معین وخت درکول کېږي، د هغه وخت تر رارسېدو مخکې به ستاسې د خوب تعبیر درته ووایم، یعني دا چې له دوی ئې وخت غوښتی، چې د دوی د خوبونو په باب فکر وکړي او صحیح او دقیق تعبیر ئې ورته ووایي. د اټکل له مخې دغو ملګرو ئې سهار له ویښېدو وروسته ده ته خپل خوبونه تېر کړي او ده د غرمې تر ډوډۍ پورې مهلت غوښتی، د دې وینا په اهمیت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې په راتلونکې کې د پاچا د خوب د تعبیر په اړه د یوسف علیه السلام فوري ځواب او له څه ځنډه پرته تعبیر ته ځیر شو، دلته ئې وخت غوښتی او هلته ئې له ځنډه پرته ځواب ویلی او د دې معنی دا ده چې د یوسف علیه السلام بصیرت او پوهه ورځ په ورځ زیاته شوې، زندان د ده لپاره که له یوې خوا د مبارزې او دعوت سنګر وو له بلې خوا یوه مدرسه وه، الله تعالی تر هغه مهاله په زندان کې پرېښود چې ښه روزنه ئې وشي او د هغه ستر او تاریخي مأموریت لپاره جوګه شي چې څه موده وروسته به ورسپارل کېږي، د مصر د هغه مهال د لوی ملك زعامت او قیادت ده ته سپارل کېدو، الله تعالی د همدې لپاره دی له کنعانه راروان کړی وو، د ستونزو، کړاوونو او آزموینو په لوړو ژورو کې ئې وروزو او ورو

ورو ئې د هغه استعدادونو او وړتیاوو ته وده ورکړه او دا شرائط ئې ورته برابر کړل چې له زندان قصر ته ورسېږي او له غلامۍ پاچاهۍ ته. متأسفانه زموږ ځیني مفسرین هم د اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن دا برخه ئې داسې تعبیر کړې چې ګواکې یوسف علیه السلام په غیب پوهېدو او د زندان ملګرو ته ئې ویلي چې زه مو په دې خبرولی شم چې نن به کوم خواړه درته راځي او سبا کوم او ځینو داسې تعبیر کړی چې په خوب کې هر خواړه وګورئ زه ئې تعبیر درته ښیم!! دا دواړه تعبیرونه کمزوري دي او د قرآن له الفاظو سره اړخ نه لګوي، قرآن د یوسف علیه السلام قول په دې الفاظو رانقلوي: نبأتكما بتأويله (تاسې دواړه به د هغه په تعبیر خبر کړم)، دا الفاظ صریحاً ښیي چې مراد ئې د خوب تأویل او تعبیر دئ؛ د خوراك لپاره د تأويل کلمه نه استعمالېږي او صحیح نه ده چې ووایو: نبأتكما بتأويل الطعام!! سر بېره پر دې دلته زندانیانو له یوسف علیه السلام د خپلو خوبونو تعبیر غوښتی او دا صحیح نه ده چې د خوبونو د تعبیر پر ځای هغوی ته ووایي چې د هغه خوړو ځرنګوالی به درته وښیم چې په راتلونکي کې درکول کېږي!!

د قرآن دا دقیق او له معانیو ډك الفاظ هم د غور او دقت غوښتنه کوي چې فرمایي:

وَقَالَ لِلَّذِى ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ مِّنْهُمَا ٱذْكُرْنِى عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِى ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

بیا ئې د دوی دواړو هغه یوه ته چې ګمان ئې کاوو آزاد به شي؛ داسې وویل: خپل بادار (د مصر پاچا) ته زما یادونه وکړه، خو شیطان د ده وریادول ترې هېر کړل، نو تر څو کلونو په زندان کې پاته شو.

(٤٢)- دا آیت په ډېر صراحت سره ښیي چې:

- یوسف علیه السلام نه د ځان په اړه له الهي قضاء خبر وو او نه د خپلو دوو زنداني ملګرو له مقدراتو، بلکې د دوی له خوبونو ئې اټکل کړی، د یوه خوب ته په پام سره ئې ګمان کړی، حدس ئې وهلی او اټکل ئې کړی چې له زندانه به آزاد شي، د "ظن" لفظ کارول همدا مطلب افاده کوي. او په دې سره قرآن د بایبل دا وینا یو ځل بیا رد کړې چې پیغمبران علیهم السلام په غیب پوهېږي، که تاسو بایبل ته لږ ځیر شئ په ځای ځای او نژدې د ټولو پیغمبرانو په اړه به وګورئ چې په غیب پوهېدا ورته منسوب شوې او قرآن همدومره په دې خبرې تأکید کوي چې نه پیغمبران په غیب خبر دي او نه پر زمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوك په غیب پوهېږي.
- یوسف علیه السلام خپل دغه ملګري ته چې د ده په ګمان به له زندانه خوشې کېږي او بیا به د دربار ساقي شي، وویل: ما په یاد لره، هېر مې نه کړې، خپل بادار ته دې زما

احوال واوروه؛ خو هغه چې د شیطان په لار تللی وو، د خپل زندان یار ئې هېر کړ، دربار ته نژدېوالی د دې سبب شو چې د سختو ورځو یاران هېر کړي، وئې نه غوښتل او یا ئې ونه شو کړی چې د یوسف احوال خپل بادار ته واوروي.

● د قرآن له دغو الفاظو (فلبث في السجن بضع سنين: نو د څو کلونو لپاره په زندان کې پاته شو)، داسې معلومېږي چې یوسف علیه السلام د خوبونو د تعبیر په دوران کې کوم داسې کار کړی چې له امله ئې څو کاله په زندان کې پاته شو، دا کوم کار وو؟ کوم داسې الفاظ د ده له خولې وتلي چې له امله ئې د زندان موده د څو نورو کلونو لپاره اوږده شوې؟ که څه هم ځیني مفسرین وايي چې د قرآن په دې الفاظو کې چې وايي: (فانساه الشیطان ذکر ربه)، یوسف علیه السلام ته اشاره شوې، خو دا ډېره کمزورې خبره ده، ځکه له دې دوه آیته وروسته وضاحت شوی چې دغه هېروونکی یوسف علیه السلام نه؛ بلکې د هغه د زندان ملګری وو چې څه موده وروسته ئې خبره ورپه یاد شوه، دا هېرېدا د یوسف علیه السلام د ملګري کار وو نه د یوسف علیه السلام کار. د دوی تعبیر د قرآن له الفاظو سره قطعاً اړخ نه لګوي، هغه یوسف چې د الله تعالی لپاره ئې زندان ته پر دربار ترجیح ورکړه اوس به په زندان کې ځنګه خپل رب هېروي، انسان خو معمولاً په سختیو کې نسبت آسانیو ته لازیات خدای یادوي. د آیتونو ترکیب داسې دئ چې هېرېدا د آزاد شوي ملګري کار دئ، ځکه له ده غوښتل شوي وو چې د خپل بادار خوا ته ما یاد کړه، نسیان او هېرېدا له دې سره جوخت راغلې او له همدې ساقي پرته بل چا ته نشي منسوبېدی.

● د قرآن الفاظ په دې اړه ډېر صریح دي چې په زندان کې د یوسف علیه السلام د پاته کېدو دلیل دا وو چې له خپل زنداني ملګري ئې دا مطالبه وکړه چې د ده احوال خپل بادار ته ووايي او په دې توګه له زندان د خلاصون په لټه کې شو، په داسې حال کې چې څه موده مخکې ئې ویلي وو؛ زندان ته پر هغه څه ترجیح ورکوم چې دوی مې وربلي! ولې ئې عجله وکړه، ولې بې حوصلې شو، ولې د یوه غلام په وسیله له ظالم حاکم استرحام کوي؟!! حکیم خدای د هغه دا کار غوره ونه بالو؛ نو ځکه څو کاله نور هم په زندان کې پاته شو او دا ځکه چې هغه لا مزید روزنې ته ضرورت درلود، د هغه د معنوي ودې او ارتقاء لپاره څه نوره موده په زندان کې پاته کېدل ضروري وو. دا مطلب هغه وخت مونږ ته لازیات جوت کېږي چې ګورو قرآن په همدې سورې کې او څو آیتونه وروسته، د یوسف علیه السلام لوړ عزم او متین صبر او زغم داسې انځوروي: څو کاله وروسته، همدا زنداني ملګری، په داسې حال کې د ده خوا ته راځي چې د مصر د پاچا پیغام ورسره دئ، دی ئې دربار ته ورغوښتی، خو دی پاچا ته له ورتلو ډډه کوي، له زندان د خلاصون په باب عجله نه لري، په ډېره استغنی او متانت سره وايي: اول باید زما د زنداني کېدو وجه معلومه شي، له هغو دې پلټنه او تحقیق وشي چې زه ئې زندان ته لېږلی وم، کله چې زما برائت اعلان شو هله به دا بلنه ومنم!!

● ګورئ چې قرآن په څومره حکيمانه توګه د هغه الهي نظام د مشرانو او واکمنانو ځانګړتياوې زموږ مخې ته ږدي چې الله تعالی ئې د انسانانو لپاره غوره ګڼي، د دې ټولنې د زعامت يوه بېلګه د يوسف عليه السلام په څېره کې انځوروي او زموږ ننداري ته ئې ږدي او موږ ته ښيي چې په دې نظام کې د چارو واګې د هغو شخصيتونو په لاس کې وي چې په پټه او ښکاره له الله تعالی وېرېږي، د خلکو د سر، مال، عزت او ناموس ساتونکي وي، حرام ته له نژدې کېدو او د الهي حدودو له تېري په کلکه ځان ساتي، د دې پر ځای چې په زمکه کې تمکين او قدرت ته رسېدل په دوی کې طغيان او سرکښي راوپاروي، د دې اپوټه په دوی کې انکسار او تواضع زياتوي، پر خدای ايمان او دا باور او اعتقاد چې هر څه ئې د الله تعالی پېرزوينه، احسان او عنايت دئ، نه د دوی د ذاتي کمال او هنر نتيجه، دغه احساس، باور او اعتقاد له ګناهونو هم او د اقتدار په وخت کې له غرور او تکبر هم د ځان ساتلو سبب ګرځي.

● دا خبره هم وضاحت ايجابوي چې يوسف عليه السلام ولې زنداني ملګري ته وويل: خپل رب ته دې زما يادونه وکړه؟ له الله تعالی پرته بل ته رب ويل جائز نه دي؛ دوه توجيه درلودی شو: ۱- زنداني ملګري ئې ملك په همدې نامه يادولو؛ يوسف عليه السلام د هغه خبره کړې؛ نه دا چې له دې توصيف او ستاينې سره موافق وو؛ دا داسې ده لکه چې د کوم مشرك نوم عبدالشمس (د لمر بنده) وي؛ او ته ئې په همدې نامه ياد کړې. ۲- د رب ظاهري معنی ئې مراد وه؛ چې پالونکی دئ. لومړی توجيه او تعبير غوره دئ.

بايبل تر دې عنوان لاندې (د فرعون خوبونه)، ليکي: (له دې دوه کاله وروسته، يوه شپه فرعون خوب وليد چې د نيل خوا ته ولاړ دئ، ناڅاپه له روده اُوه څورب غويي راووتل... ورپسې اُوه ډنګر غويي راووتل... بيا دغو ډنګرو غويانو هغه مزي غويان له ستونې تېر کړل... فرعون راويښ شو... خو بيا ويده شو او دا ځل ئې وليدل چې له يوې ځانګې اُوه ډك وږي راوټوکېدل... ورپسې ئې اُوه نازك وږي وليدل چې شرقي بادونو وچ کړي ول، وچو او نازکو وږيو ډك وږي وخوړل،... فرعون له خوبه راويښ شو، سهار ئې فکر پرېشانه وو، د مصر ټول جادوګران او پوهان ئې راوبلل... خپل خوب ئې ورته تېر کړ خو څوك نه وو چې دا خوبونه ورته تعبير کړي... د ساقيانو رئيس راوړاندې شو او وئې ويل: اوس را په ياد شول چې... زموږ خوبونه يوه عبراني ځوان تعبير کړل او تعبيرونه ئې رښتيا وختل... فرعون فوراً څوك ولېږو چې يوسف حاضر کړي... يوسف سر او صورت برابر او جامې ئې بدلې کړې... او د فوعون حضور ته ورغی... فرعون خپل خوب ورته تېر کړ... يوسف وويل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبيرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبير کړي... فرعون خپل خوبونه ورته تېر کړل... او يوسف ورته وويل: ستا د دواړو خوبونو معنی يوه ده... اُوه مزي غويي او اُوه ډك وږي د پرېمانې اُوه کلونه په ګوته کوي... او اُوه ډنګر غويي او اُوه وچ وږې د وچ کالی د اُوه کلونو نښه ده چې ورپسې به راځي، په دې

توګه خدای ته له هغه څه خبر کړې چې په مصر کې به ئې تر سره کوي... اُوه کاله به پرېماني وي او بیا سخته وچ کالي او قحطي،... زه وړاندیز کوم چې یو پوه او هوښیار کس د کر کښت په دنده وګمارې او هغه باید د پرېمانۍ په کلونو کې د محصولاتو پنځمه برخه په شاهي انبارونو کې ذخیره کړي... فرعون او ټولو درباریانو د ده وړاندیز خوښ کړ او فرعون وویل: تر یوسفه به غوره کس څوك وي چې د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کې د خدای روح دی!! یوسف ته ئې وویل: همدا اوس تا په دغه دنده ګمارم، ته به د مصر دوهم لوړ پوړی کس وې او فرمان به دې په هر ځای کې چلېږي!! بیا فرعون د پاچایۍ ګوتې ورپه ګوته کړه، فاخره لباس ئې ورواغوست، د طلا زنځیر ئې ورپه غاړه کړ، په دوهمې معتبرې سلطنتي ګاډۍ کې ئې سپور کړ... چې چېرې به تلو دا اعلان به ئې تر مخ کېدو: په ګونډه شئ (د تعظیم لپاره)!!

لکه چې ګورئ د بایبل په وینا کې کافي غیرضروري تفصیل، بې ځایه تکرار، نامناسب او ګونګ الفاظ او نامعقولې څرګندوني شته، دغو څو ویناګانو ته ئې لږ ځیر شئ: یوسف وویل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبیرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبیر کړي!!!... دا په داسې حال کې چې څو شېبې وروسته یوسف په خپله د ده خوب تعبیروي!! فرعون وویل: تر یوسفه به غوره کس څوك وي چې د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کې د خدای روح دی!! د یوسف علیه السلام په اړه دا خبره کول چې ده ته ئې د سرو زرو زنځیر ورپه غاړه کړ!! دا د هغه چا خبره کېدی شي چې پیغمبران علیهم السلام نه پېژني او په دې نه پوهېږي چې دوی د داسې جاهلانه دودونو په خلاف د مبارزې لپاره لېږل شوي، ښایي د بایبل لیکونکي دلته د یوسف علیه السلام د هغو مخالفینو وینا کټ مټ رانقل کړې وي چې د مصر د دوهم لوړ پوړي شخصیت په توګه ئې د ده له ټاکلو سره مخالفت کاوو او دا ئې نه شوی زغملی چې د دوی په اصطلاح یو کنعاني غلام پر مصریانو حکومت وکړي، دا کار داسې ورته برېښېدو لکه څوك چې د غلام په غاړه کې د سرو زرو زنځیر واچوي، بایبل دغه استعاره په حقیقي معنی رااخیستې!! په ډېرو نورو ځایونو کې به هم وګورئ چې د بایبل لیکونکی همدا غلطي کوي. د بایبل د اظهاراتو په رکاکت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د قرآن د وینا په رڼا کې ورته ځیر شو، قرآن د بایبل دا وینا تصحیح کوي او دا جریان په ډېرو محدودو جملو کې په ډېره معقوله توګه او ښکلو الفاظو کې بیانوي او فرمایي:

وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّىٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِى فِى رُءْيَٰىَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ

ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ
أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِى سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ
سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ لَّعَلِّىٓ أَرْجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ
تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِى سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا
تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا
قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ
يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

او پا چا وويل: زه په خوب کې اُوه ځوربې غواوې ګورم چې اُوه ډنګرې غواوې ئې وخورې او اُوه شنه وږې او اُوه نور وچ، درباريانو! ما د خپل خوب په تعبير خبر کړئ که د خوبونو په تعبير پوهېږئ. هغوی (په ځواب کې) وويل: دا هسې د خيالاتو ګېډۍ ده (ګډ وډ خوبونه دي) او موږ د دغو خيالي خوبونو په تعبير نه پوهېږو. او له هغو دوو يوه ژغورل شوي کس، چې له څه مودې وروسته خبره ورپه ياد شوې وه، وويل: زه به مو پرې خبر کړم، ما (زندان ته د يوسف عليه السلام د ليدو لپاره) ولېږئ!، (هغه وويل): اې رښتينې يوسفه! د اُوه ځوربو غواوو چې اُوه ډنګرې غواګانې ئې وخورې او اُوه شنو وږيو او اُوه وچو وږيو په تعبير مو خبر کړه، ښايي (د مجلس له پورته کېدو د مخه) ورستون شم، هيله ده چې پرې پوه شي. (يوسف عليه السلام) وويل: تر اووو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې تر لاسه کوئ په خپلو وږيو کې ئې پرېږدئ مګر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، بيا به له دې وروسته اُوه نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخيره کړې مو وي، مګر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. بيا به له دې وروسته داسې کال راشي چې په هغه کې به پر خلکو بارانونه ووربېږي او په هغه کې به (خلك د مېوو) عصاره وباسي.

---

(۴۳-۴۹)- په دغو مختصرو آيتونو کې لاندې مهم مطالب زموږ مخې ته راځي:

● دا څلورم خوب (رؤيا) ده چې په دې سوره کې ئې يادونه کېږي او ښيي چې کافر او مسلمان، ظالم او مظلوم، ښه او بد انسانان، ټول خلك له خوبونو سره مخامخ کېږي، ځينې ئې جدي انګېرې او د تعبير هڅه ئې کوي، غواړي پوه شي چې خوب ئې څه پيغام ورته

لري، ځيني ئې جدي نه نيسي، يا ئې د ورځنيو فعاليتونو تسلسل ګڼي، يا هسې ګډ وډ خيالات او يا ئې د هغو هيلو او آرزوګانو انعكاس چې نه دي تر سره شوې، په شا تمبول شوې هيلي ئې ګڼي چې په خوب کې ځان ښيي، د همدې لپاره د خوبونو له څنګه په بې پروايۍ تېرېږي او دا زحمت ځان ته نه ورکوي چې تعبير ئې کړي او په هغه پيغام د پوهېدو هڅه وکړي چې خوبونه ئې له ځان سره لري. د انسان ((رؤيا)) ښيي چې انسان له محسوس او ملموس برخو علاوه هم ډېر څه لري، د فهم او درك دنيا ئې يوازې په محسوساتو کې نه راخلاصه کېږي، د ده د فهم او درك دنيا ډېر نور پراخ او پېچلي ابعاد او اړخونه هم لري، كه هغه په خپلو ظاهري حواسو سره مشهود او ملموس شيان او تر سترګو کېدونکې نړۍ درك کوي؛ په لا شعور کې د زمان او مكان له پولو اوړي، له غيبي نړۍ، د پردو او حجابونو له ماوراء پيغامونه تر لاسه کوي، دا پيغامونه څه ډول ور رسېږي، سرچينه ئې چېري ده، څوك دئ؟ څه دئ؟ څنګه په خوب کې په هغه څه پوهېدی شي چې په ويښه نه شي پرې پوهېدی؟ دا پوښتنې ځواب غواړي، منصف څېړونکي نه شي کولای چې له څنګه ئې په بې پروايۍ تېر شي. كه موږ په خپل ژوند کې د تخمينونو او انګېرنو په مرسته وړاندويني كوو او ډېر ځله مو وړاندويني سمې خېژي، كه په خوب کې داسې څه ګورو چې څه موده وروسته تحقق مومي، د دې لپاره څه توجيه وړاندې کولی شو؟ مګر كولی شو د يوه كس داسې په لسګونو خوبونه او په ټولې نړۍ کې د لكونو خلكو داسې خوبونه عادي او بې اهميته خبره وګڼو او د تصادف نوم ورکړو؟ آيا لږ تر لږه د دې خبرې په كولو مجبور نه يو چې زموږ مغز د خوب په حالت کې همغسې وړاندويني كولی شي چې په ويښه ئې کوي؟ آيا دا خبره ډېره بېهوده او خوشې خبره نه ده چې څوك ووايي: زموږ مغز په ويښه کې سم او په غور او دقت سره كار کوي خو د خوب په حالت کې ئې هر تحليل ناسم او له غور او دقته پرته او ګډ وډ خيالات وي؟!! ډېر نامعقول انسان به د داسې خبرې كولو جرأت کوي، ډېر ناپوه انسان به دا ګمان کوي چې د خوب په حالت کې دماغ خپل كار پرېږدي، نه په قضاياوو غور كولی شي او نه ئې د غور او تفكر نتائج او لاسته راوړنې د اهميت وړ دي!! حال دا چې په خوب کې د انسان يوازې د څو حواسو سويچونه بند او د انتظار (standby) په حالت کې شي، نور دماغ د مخکې په څېر خپل كار ته دوام ورکوي، ښايي د ځينو برخو توقف مغز ته د ښه غور او فكر كولو لا ښه موقع او فرصت په لاس ورکړي. په هر صورت؛ خوب يو حقيقت دئ، رښتيا ختل ئې داسې څه چې انكار ترې ګران دئ. د هغو خوبونو لپاره څه توجيه وړاندې کولی شو چې د راتلونكو پېښو خبر راکوي او خبر ئې هم ډېر دقيق؟ آيا پر عالم الغيب خدای باندې له ايمان پرته بل تفسير او تعبير ورته درلودی شو؟ د الله تعالی د اثبات لپاره له خورا كوټلو دلائلو يو دليل همدغه د انسان خوبونه دي.

- له الفاظو جوتېږي چې د مصر پاچا پرله پسې يو خوب ويني، بالآخره خپل خوب ځينو

درباريانو ته تېروي او ترې غواړي چې تعبير ئې ورته ووايي، د بيان انداز داسي دئ چې پاچا هسي په کوم مجلس کې ځينو درباريانو ته خپل خوب تېر کړی او ورته ويلي ئې دي: که د خوبونو په تعبير پوهېږئ نو زما دا خوب تعبير کړئ، د بابيل دا وينا هيڅ وزن نه لري چې پاچا سهار وختي ټول درباريان، نجوميان او جادوگران راوغوښتل چې د ده خوب ورته تعبير کړي!! نه خو دا خوب د دومره سټر او عاجل اقدام غوښتنه کوي او نه هيڅ هوښيار انسان د يوه خوب لپاره دومره ستره غونډه جوړوي!! د درباريانو له دې ځواب چې پاچا ته ئې وويل: دا کوم معنی لرونکی خوب نه دئ، موږ ئې په تعبير نه پوهېږو؛ معلومېږي چې نه پاچا خپل خوب جدي گڼلی او نه ئې درباريانو.

● دا خبره هم د خاصي پاملرني وړ ده چې قرآن دا پاچا د فرعون په نامه نه يادوي، بلکې د ملك (پاچا) په نامه ئې يادوي، د وروستيو علمي تحقيقاتو په ترڅ کې دا خبره معلومه شوې چې د يوسف عليه السلام په دور کې د مصر پاچايان د فرعون په نامه نه يادېدل، ډېر وروسته د فرعون نوم ورته غوره شوی، تحقيقات ښيي چې د هغه وخت پاچايان د هکسوس په نامه يادېدل چې له ۱۷۳۰تر ۱۵۸۰مخکې له مېلاده ئې پر مصر حکومت کړی، له دغو تحقيقاتو هم معلومېږي چې د بابيل دا وينا غلطه ده چې نوموړی پاچا د فرعون په نامه يادوي.

● د دربار ساقي، د يوسف عليه السلام د زندان ملگري ته د دې خوب له اورېدلو سره سم، يوسف عليه السلام ورپه ياد شو او وئې ويل: زه کولای شم دا خوب تعبير کړم، په دې شرط چې ما زندان ته ولېږئ، هلته يو څوك راسره وو چې خوبونه ئې په ډېر دقت سره تعبيرول، د ساقي له دې خبري چې (ما ولېږئ) په ډاگه معلومېږي چې دی يو غلام دئ نه کوم مشر او د بابيل د وينا له مخي رئيس!! هغه يوسف عليه السلام ته ورغی، خوب ئې ورته تېر کړ، تعبير ئې ترې وغوښت او ټينگار ئې وکړ چې د درباريانو د مجلس له پورته کېدو مخکې د خوب تعبير ورته ووايي او يوسف عليه السلام بې له څه ځنډه د پاچا خوب داسي تعبير کړ: اُوه څوربي غواوي د اُوه برکتي کلونو نښه ده او اُوه ډنگري غواوي د اُوه وچ کاليو او قحطي کلونو څرگندونه کوي، اُوه شنه وږي اُوه حاصل لرونکي فصلونه په گوته کوي او اُوه وچ وږي د ذکر شويو اُوه فصلونو هغه وچ شوي حاصلات په گوته کوي چې په وږو کې به ساتل کېږي او د قحط په کلونو کې به استفاده ترې کېږي، د اُوه برکتي کلونو حاصلات به د قحط په اُوه کلونو کې مصرف شي، خو په دې شرط چې په وچو وږو کې وساتل شي، قحط اُوه کاله دوام کوي، له هغه وروسته عادي حالت رامنځ ته کېږي، بارانونه به پيل شي او مصر ته به بيا پرېماني او سمسورتيا راوگرځي او خلك به د مېوو عصارې زبېښي. د مصر وگړي ښايي محتاط وي او د قحط په کلونو کې د ټولو غلو دانو له مصرفولو ډډه وکړي، هغوی بايد يوه اندازه غله دانه د تخم په توگه د راتلونکي کال لپاره وساتي، همدارنگه متوجه وي چې د غلو دانو د ساتلو او ذخيره کولو غوره طريقه دا ده

چې په خپلو ورو کې وساتل شي.

له زندانه د يوسف عليه السلام د وتلو په اړه د بايبل وينا داسې ده چې د هغه د ستر شخصيت له شانه سره هيڅ اړخ نه لګوي، هغه ئې داسې معرفي کړی لکه چې ډېر بې حوصلې شوی وو، فقط يوې اشارې ته منتظر وو، د پاچا د پيغام له اورېدو سره سم ئې ځان تيار کړی، خپل سر او صورت ئې برابر کړی او نوې جامې ئې اغوستې دي او په تلوار سره د پاچا حضور ته حاضر شوی!! خو قرآن بيا وايي:

---

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾

پاچا وويل: ما ته ئې راولئ؛ خو کله چې (د پاچا) قاصد ورغی، وئې ويل: بادار ته دې بېرته ورشه او وئې پوښته چې د هغو ښځو حال به څنګه وي چې خپل لاسونه ئې پرې کړل (څه به ورسره کېږي)؟ که څه هم زما پالونکی رب د دوی په هغه مکر ډېر ښه پوهېږي، (پاچا هغه ښځې راوبللې) وئې ويل: هغه وخت چې تاسو له يوسف د زړه مراد غوښتی وو، خبره مو څنګه وه؟! هغوی وويل: خدای ته پناه وړو! موږ په هغه کې هيڅ بدي نه ده ليدلې، د مصر د عزيز ښځې وويل: اوس حقيقت څرګند شو، ما ترې د زړه مراد وغوښت او هغه يقيناً چې له رښتينو انسانانو دئ، (زما دا اعتراف) د دې لپاره دئ چې پوه شي په غياب کې مې خيانت ورسره نه دئ کړی او د دې لپاره چې (پوهېږم) خدای د خائنانو تدبيرونه نه هدايتوي (نه پرېږدي د خائنانو تدبيرونه دوی خپل مقصد ته ورسوي) او زه خپل ځان نه سپينوم، په دې کې شك نشته چې نفس د بدۍ په لور ډېر هڅوونکی دئ، مګر هغه چې زما پالونکی خدای پرې ورحمېږي، بې شکه چې زما پالونکی رب ډېر مهربان بخښونکی دئ.

(۵۰-۵۳)- د یوسف علیه السلام د زندان ملګری بېرته وګرځېدو، د خوب تعبیر ئې واوراوو، پاچا امر وکړ چې یوسف علیه السلام راولئ، د پاچا قاصد د ده له پیغام سره زندان ته ورغې او یوسف علیه السلام ته وایي: د مصر پاچا غوښتی یې، ستا تعبیر ئې خوښ کړی اوس ستا لیدو ته منتظر دئ!! خو یوسف علیه السلام؛ هغه د زندان د اولو ورځو یوسف نه دئ، له زندانه د وتلو په اړه څه تلوار او عجله نه لري؛ بلکې زندان ئې د خپلې مبارزې لپاره د سنګر په توګه غوره کړی؛ له خپل مولا پرته بل ته طمع او هیله نه لري، باور ئې دا دئ چې له زندانه د وتلو پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نو ځکه په ډېر متانت سره قاصد ته وایي: بېرته وګرځه او خپل بادار ته دې وواېه: د هغو ښځو برخلیك به څنګه وي چې ده ته ئې هغه توطئه جوړه کړه او زندان ته ئې ولېږو؟ باید لومړی د هغې خبرې سپیناوی وشي، زما (برائت) اعلان شي، که څه هم الله تعالی راته کافي دئ، هغه د دوی له توطئو ښه خبر دئ. ګورئ چې د یوسف علیه السلام متانت، صبر او زغم ټوله وضع داسې بدله کړې چې اوس پاچا تلوار لري، هغه غواړي چې له یوسف علیه السلام سره ژر تر ژره ملاقات وکړي، د ده شرط مني، هغه ښځې راغواړي چې د عزیز مصر د مېرمني په محفل کې راغونډې شوې وې او پوښتنه ترې کوي: په کومه ورځ چې تاسو له یوسف علیه السلام د زړه مراد غوښتی وو، خبره څنګه وه، د پېښې جریان څنګه وو؟ ولې مو دا کار وکړ؟ د پاچا وینا او دریځ داسې دئ لکه چې د یوسف علیه السلام مدافع وکیل وي، له تحقیق او پلټنې مخکې د هغه خبرې تصدیقوي او له ښځو داسې استفسار کوي چې ګواکې د دوی جرم په بشپړه توګه ثابت او څرګند دئ او د شك او شبهې هیڅ مجال په کې نشته، ټولې ښځې وضع داسې ګڼي چې له اعترافه پرته بله چاره نه لري؛ نو ځکه وایي: خدای ته پناه وړو! موږ په هغه کې هیڅ بدي نه ده لیدلې، اصلي مجرم وروړاندې کېږي او په ټول صراحت سره اعتراف کوي او وایي: اوس حقیقت څرګند شو، ما له هغه د زړه مراد وغوښت او هغه رښتینی او صادق دئ، په دوه دلیلونو اعتراف کوم: یو دا چې غواړم هغه په دې پوه شي چې په غیاب کې مې خیانت ورسره نه دئ کړی او تور مې نه دئ ورپوري کړی او بل دا چې اوس په دې باور یم چې الله تعالی نه پرېږدي خائنان په مکر او چل ول سره خپلو موخو ته ورسېږي، نه غواړم چې ځان سپین او تبرئه کړم، د انسان نفس تل هغه بدو کړو وړو ته هڅوي، له شره ئې یوازې هغه څوك ژغورل کېږي چې زما د مهربان رب پېرزوینه او رحم ئې په برخه شي، یقیناً چې زما پالونکی رب مهربان بخښونکی دئ.

که څه هم ځینو مفسرینو دا ګمان کړی چې وروستنۍ څو خبرې د یوسف علیه السلام خبرې دي؛ نه د هغې مېرمنې، د دوی دلیل دا دئ چې دغه خبرې د هغې مېرمنې له شأن ډېرې اوچتې دي؛ خو دا توجیه په څو دلائلو کمزورې ده:

- د بیان په هیڅ برخې کې داسې کومه نښه یا قرینه نه مومو چې ثابته کړي دا د یوسف علیه السلام خبرې دي.

- د آيتونو سياق او سباق او د كلام لړۍ له دې توجيه سره اړخ نه لګوي، برعكس په ټول صراحت سره ښيي چې دا د هغې مېرمنې د خبرو دوام دئ.

- د دغو خبرو په دوران كې يوسف عليه السلام لا په زندان كې دئ او له پاچا سره نه دئ مخامخ شوی او مجلس ته نه دئ حاضر شوی، وروستی آيت همدغه راپه ګوته كوي.

- د دې خبرې لپاره هيڅ دليل نه شو موندلی چې يوسف عليه السلام ووايي: غواړم چې د مصر عزيز پوه شي چې د هغه په غياب كې مې له هغه سره هيڅ خيانت نه دئ كړی، ځكه چې د مصر عزيز د پېښې په ورځ له حقيقت خبر شو او د يوسف عليه السلام پر پاك لمنتوب او سپېڅلتيا ئې باور راغی.

- د آيت دا برخه (إن الله لا يهدي كيدالخائنين)، په هيڅ شان نه شو كولی د يوسف عليه السلام قول وګڼو، دا كلام فقط له هغې مېرمنې سره ښايي، هغه بايد ووايي: كه څېړې دا ځل هم له يوسف عليه السلام سره خيانت وكړم او په كوم تور ئې تورن كړم او د دې پر ځای چې پر خپل جرم اعتراف وكړم هغه متهم كړم، نو د پخوانۍ پېښې په څېر به حقيقت څرګند شي، خدای د خائنانو توطئې، حيلې او بهانې رسوا او خنثی كوي او نه پرېږدي چې د توطئو په مرسته خپلو ناولو موخو ته ورسېږي.

- د هغې مېرمنې مؤمنانه څرګندونې په واقع كې دا حقيقت ثابتوي چې د يوسف عليه السلام كړو وړو او د زندان له سنګر د ده مبارزې او جهاد د مصر په ټولنې باندې ژورې اغېزې كړې دي، ژوره تبديلي په كې راغلې، دومره چې د پرون ورځې هغه مېرمن نن داسې مؤمنانه څرګندونې كوي، له دوو زنداني ملګرو سره د يوسف عليه السلام بحث او د خوبونو له تعبيرولو مخكې دوی د الله لارې ته بلل، هغه هم په دومره تفصيل او په دومره مضبوط استدلال سره، دا ښيي چې هغه په زندان كې آرام نه دئ ناست، په جدي، پرله پسې او نه ستړې كېدونكې توګه ئې دعوت چلولی او په دې بريالی شوی چې د مصر په ټولنې كې له فكري او اخلاقي لحاظه پراخه او ژوره تبديلي راولي، يوه ستر بدلون او انقلاب ته لار آواره كړې او له همدغه زندانه د يوه سياسي او اجتماعي انقلاب او بدلون راوستو لپاره شرائط برابر كړي.

- متأسفانه لكه څنګه چې د مسيحيانو او يهودانو علماءو او مشائخو (احبار او رهبان) د الله تعالی له مقدس او لارښود كتاب قصې او شجرې جوړې كړې، داسې چې نن د دوی په مذهبي كتابونو كې د الله تعالی د مقدس كتاب وړه برخه هم نه تر سترګو كېږي، زموږ قصه خوښي هم د دوی تر اغېز لاندې راغلي او د يوسف عليه السلام له دغې عبرتناكې او لارښوونكې قصې ئې د يوې داسې بدكارې ښځې د ميني داستان جوړ كړی چې غوښتل ئې يو ښايسته ځوان په دام كې واچوي او له هغه د زړه مراد تر لاسه كړي، تر دې پورې چې د دغو قصه خوښو ځينو ادعاء كړې چې يوسف عليه السلام د ژوند په وروستيو كې

همدغه پر ده مینه مېرمن په نکاح کړه!!! دا په داسي حال کې چي نه په قرآن کې داسي کومه اشاره مومو او نه په روایاتو کې. له دې ارزښتناکې تاریخي قصې داسي نکل جوړول او پایله ئې داسي راایستل نه یوازې د ناروغو اذهانو د بیمارو سلیقو زېږنده ده، بلکې د دوی تعبیر سل په سلو کې د دې قصې له روح او بنسټیزو موخو سره تصادم کوي، قصه اصلاً په دې بنسټ ولاړه ده چي دوه مخالف او متضاد شخصیتونه یو د بل په څنگ کې کښېږدي او توپیرونه ئې په گوته کړي، راوښیي چي یو ځومره لوړ دئ او بل ځومره ټیټ، یو ځومره پاکیزه، امین او صادق دئ او بل ځومره ناولی، خائن او بې وفا، یو د خدای مخلص بنده او بل د شیطان او نفس مطیع بنده، عجیبه ده چي دغه بیمار کسان داسي غلط او معکوس نتائج ترې اخلي او دا متضادې بېلگې او متفاوت شخصیتونه سره پخلا کوي!! آیا دا شوني ده چي یو پیغمبر له هغه جلال او عظمت سره داسي ښځه په نکاح کړي؟ بایبل هم د خپلو شجرو په ترڅ کې لیکلي چي فرعون یوسف په یوه مصري نوم، صفنات فعنیح، ونوماوو او د فوطي فارع کاهن لور اسنات ئې ورته راواده کړه!!!

قرآن دربار ته د یوسف علیه السلام د ورتلو په اړه داسي فرمایي:

---

وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِى بِهِۦٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِى ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴿٥٤﴾ قَالَ ٱجْعَلْنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ ۖ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجْرُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾

او پاچا وویل: هغه ما ته راولئ چي د ځان لپاره ئې خاص (مشاور) وټاکم، خو له هغه وروسته چي خبري ئې ورسره وکړې وئې ویل: ته (له همدې) نننۍ ورځې زموږ په دربار کې واکمن امین یې (د پاچا معتمد با صلاحیته چارواکی او د ټولو دولتي شتمنیو امین)!! ده وویل: ما (یوازې) د دولت د خزانو پر چارو وگماره، باور وکړه چي ښه او پوه ساتونکی به وم (هم ئې د ساتني له عهدې وتلی شم او هم ئې د سم مصرف او په خپل مناسب ځای د لگولو بصیرت او پوهه لرم) او په دې توگه مو یوسف په هغه ملك کې متمکن کړ، چي هر ځای او په هر ډول ئې غوښتل مېشت کېدی شو، چا ته چي مو خوښه شي خپل رحمت او پېرزوینه ورپه برخه کوو او موږ د نېکانو اجر او بدله نه ضائع کوو. او د هغو لپاره چي ایمان ئې راوړی او پرهیزگاري ئې کوله، اخروي اجر او بدله تر دې هم ډېره غوره ده.

(۵٤-۵۷)- پاچا له یوسف علیه السلام سره تر ملاقات مخکې تصمیم درلود چې هغه د خپل خاص مشاور په توګه وټاکي؛ خو له هغه سره له خبرو وروسته ئې تصمیم بدل شو او هغه ئې د دربار د معتبر او باصلاحیته وزیر او د ځان د معتمد په توګه وټاکو او خپله فیصله ئې ورته ابلاغ کړه، مګر یوسف علیه السلام د دې پرېکړې او منصب له منلو انکار وکړ او وئې ویل: ما د دې منصب پر ځای یوازې د مصر پر خزانو وګماره، زه به په پوره احتیاط او امانتدارۍ سره د هغو ساتنه وکړم، زه په ځان کې د دې ځانګې د اداره کولو صلاحیت او توان وینم، پاچا له خپل نظره تېرېږي او د یوسف علیه السلام له رأیې سره توافق ښیي او د دولت د دغې ځانګې بشپړ صلاحیت ورسپاري.

د آیت له دې برخې (یتبوأ منها حیث یشاء) دوه مطلبونه اخیستل کېږي:

الف_ د مصر ټول هېواد د ده د صلاحیت او واکمنۍ په کړۍ کې شامل وو، چېرې چې ئې غوښتل اوسېدلی شو، د مصر هیڅ سیمه د ده د واکمنۍ او اختیار له ساحې بهر نه وه.

ب_ په هغه نظام کې ئې چې هره وظیفه او هر مقام غوښتی وی، بې له ځنډه ئې تر لاسه کولی شو، هیڅوك او هیڅ څه ئې په مخ کې خنډ کېدی نه شو.

● حکیم خدای جل شأنه په تدریج سره یوسف علیه السلام هغه مقام ته ورساوو چې په مصر کې متمکن شي، د ده پر مخ د واکمنۍ ټولې لارې پرانیستی شي، قدرت ته د رسېدو ټول اسباب ورته برابر شي، د هغه د ستر او لوړ شخصیت ټولې جلبوونکې برخې د هغې ټولنې د مختلفو طبقو او اصنافو لپاره رابرسېره شي، د خلکو اعتماد او باور، احترام او محبت ورته راجلب شي، پس له هغه چې د مصر ولس د ده له اوچتو استعدادونو، صداقت، امانت، پاك لمنتوب او نفس او هوس ته نه تسلیمېدا خبر شول، په زندان کې د ده صبر، زغم، مقاومت، ثبات او متانت ټولو ته څرګند شو، خلکو ولیدل چې د مصر پاچا د ملاقات بلنه ورکړه؛ خو ده ونه منله او تر هغه ئې دربار ته له تلو انکار وکړ چې د ده برائت اعلان شي، له پاچاهۍ رالاندې د هېواد تر ټولو لوړه عهده ورته سپارل کېده خو ده ونه منله او د دې پر ځای ئې داسې دندې ته ملا وتړله چې د هغې له لارې د خپل مظلوم ولس خدمت وکړی شي، د ده پوهه، بصیرت او درایت ټولو ته ثابت او څرګند شو، د ده لوړ او پیاوړی شخصیت او فکري او اخلاقي عظمت داسې وو چې هیچا ورسره رقابت او سیالي نه شوی کولی، د مصر ټوله واکمني ئې عملاً په لاس کې پرېوته، پاچا تر یوه سمبول زیات حیثیت نه درلود، د قحط په کلونو کې د اقتصادي چارو په اداره او سمون کې او له هغه ستر بحران د خلکو په ایستلو کې د ده درایت، وړتیا او اهلیت په بشپړ ډول راڅرګند شو، هغه نور عملاً د پاچا ولیعهد وو، د پاچا له مرګ وروسته ده ته د قدرت په لېږد کې هیڅ خنډ نه وو پاته، په دې توګه مالك الملك خدای جل شأنه د هغه وخت د لوی هېواد واکمني یوسف علیه السلام ته وسپارله او د ده بلامنازع واکمني ئې پر هغه پراخ او ستر ملك محققه کړه.

• هو! دا الله تعالی جل شأنه دئ چې د خپل رحمت او پېرزوینو سیوری پر هغه چا غوړوي چې دی ئې په خپله خوښ کړي او د دې لپاره ئې اهل او وړ وموميي، هغه نه یوازې د خپلو صالحو بندگانو اجر نه ضائع کوي؛ بلکې دنیوي او اخروي بدله ئې تر خپل حق څو برابره زیاته ورکوي، نه یوازې په دنیا کې د دوی پر نېکو او غوره کړنو باندې مثبت نتائج مرتب کوي، بلکې په آخرت کې تر دنیا غوره بدله ورکوي، د دوی تقوی او ځان ساتنه د دې باعث شي چې په دنیا او آخرت کې غوره بدلې تر لاسه کړي، هر څوك چې د ایمان په لار کې ثابت پاته شو او د مبارزې په لوړو ژورو کې مأیوس نه شو، یوې بلې خوا ته ونه ښویېد، ښي او کیڼ لوري ته منحرف نه شو او په اراده او عزم کې ئې تزلزل رانغی، هغه دې مطمئن اوسي چې عزیز خدای ئې د برې ضامن دئ، نه پرېږدي چې قربانۍ ئې ضائع شي او هڅې ئې بې نتیجې پاته شي.

• بایبل تر دې عنوان لاندې چې (د یوسف وروڼه مصر ته ځي)، لیکي: (یعقوب خپلو زامنو ته وویل: ولې ناست یئ او هسې یوه بل ته گورئ... اورېدلي مي دي چې په مصر کې غله ډېره ده... مخکې له دې چې له لوږې ومرو؛ ولاړ شئ او له هغه ځایه غله راوړئ... لس زامن ئې وخوځېدل... یعقوب بنیامین ورسره ونه لېږو... دوی د یوسف خوا ته ورغلل... سجده ئې ورته وکړه... یوسف وپېژندل... خو په غصې سره ئې دوی ته وویل: له کوم ځایه راغلي یئ؟ دوی ورته وویل: له کنعانه د غلې اخیستلو لپاره راغلي یو... یوسف ته خپل خوبونه ورپه یاد شول.. ورته ئې وویل: تاسو جاسوسان یئ او د احوال معلوملو لپاره راغلي یئ... هغوی وویل: سالاره! موږ د غلې اخیستلو لپاره راغلي یو، جاسوسان نه یو، یوسف ورته وویل: نه تاسو جاسوسان یئ!! هغوی وویل: باداره! موږ ټول دولس وروڼه وو، پلار مو په کنعان کې دئ، یو هلته پاته شو، بل مړ شوی... یوسف ورته وویل: څنگه به دا معلوموو چې تاسو رښتیا وایئ؟ یوازې په هغه صورت کې به ستاسو خبره ومنم چې کشر ورور مو هم راولئ... که داسې ونه کړئ د فرعون په سر مي قسم چې له مصره د وتلو اجازه به درنه کړم... یو کس دې ولاړ شي او خپل ورور دې راولي، نور به دلته په زندان کې وي... بیا ئې ټول تر دریو ورځو بندیان کړل،... په درېیمه ورځ ئې ورته وویل: زه له خدایه وېرېدونکی انسان یم... تاسو ټول خوشې کوم... یو کس به په زندان کې پاته وي، نور مو غله کور ته ورسوئ، خو خپل کشر ورور به راولئ او په دې سره به ما ته ثابته شي چې تاسو صادق یئ او زه به ستاسو له وژلو تېر شم!! دوی دا شرط ومنلو!! بیا ئې سره وویل: له دې ستونزو سره په دې خاطر مخامخ شوي یو چې له یوسف سره مو بد وکړل... یوسف د دوی خبرې اورېدې او دوی نه پوهېدل چې یوسف پرې پوهېږي!!... بیا یوسف په پټه خپلو نوکرانو ته وویل: جوالونه ئې له غلو ورډك کړئ او د دوی خپلې پیسې هم د غلې په منځ کې پټې کښېږدئ... غله ئې پر خرو بار کړه... د ملر لوېدو پر مهال یو ځای تم شول... یوه ورور ئې د خپل جوال خوله پرانستله چې خره ته دانه ترې ورکړي... ناڅاپه ئې

وليدل چي پيسې ئې د جوال په خوله کې پرتې دي... ورونو ته ئې وويل... هغوی له وېرې لړزېدل چي دا لا خدای څه بلا راباندي راوستله!!... کنعان ته ورسېدل... ټوله قصه ئې پلار ته تېره کړه... کله چي ئې بارونه پرانستل خپلي پيسې ئې وموندلې... پلار هم ډېر وار خطاء شو او وئې ويل: ولې دا مصيبتونه راباندي راځي... )

د بايبل په دې برخي کې هم له ادبي لحاظه ډېر رکاکت شته او هم يوسف عليه السلام او د ده پلار ته داسي نامناسب حرکات او نامناسبي خبري منسوب شوې چي د دوی له شأنه ډېري لري دي!! ورونه په مرگ گواښل، زندان ته ئې لېږل، د يوسف په شته والي کې دا خبري کول چي له يوسف سره مو بد کړي ول څکه له دې مصيبت سره مخامخ شوو، د فرعون په سر لوړه کول... دا ټولي خبري نه يوازي نامعقولي دي بلکي ښيي چي دا قصه له ځانه جوړه شوې. راشئ وگورو چي قرآن په دې اړه څومره په زړه پوري او درنه وينا لري او د بايبل دا ټولي خبري ردوي:

وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا
جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ أُوفِي
ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِن لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا
تَقۡرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُواْ
بِضَٰعَتَهُمۡ فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ
﴿٦٢﴾

د يوسف ورونه راغلل او د هغه محضر ته ننوتل، داسي چي ده وپېژندل خو دوی ونه پېژاندو او چي کله ئې په خپلو بارونو سمبال کړل ورته ئې وويل: خپل هغه ورور هم راولئ چي له پلاره مو (ورور) دئ، نه گورئ چي زه ډکې ډکې پيمانې ورکوم او ښه مېلمه پال يم؟ خو که ئې ما ته را نه ولئ؛ نو نه به له ما سره تاسو ته کومه پيمانه وي او نه به ما ته رانژدې کېږئ. هغوی وويل: له پلاره به ئې حتماً د ده (د لېږلو) غوښتنه وکړو او موږ هرومرو د دې کار کوونکي يو. خپلو (مؤظفو) زلميانو ته ئې وويل: د دوی هغه مال چي (د غلې په بدل کې ئې ورکړی)، (په پټه) د دوی په پېټو کې کښېږدئ، داسي چي کور ته د ستنېدو پر مهال پرې پوه شي، د دې لپاره چي بېرته راوگرځي.

(۵۸-٦۲)- گورئ چي په دغو لنډو آيتونو او مختصرو الفاظو سره؛ عظيم الشأن قرآن څومره حقائق بيان کړي او څومره ژوري لارښووني ئې زموږ مخي ته ايښې او څنگه ئې د

بايبل غلطي ويناوي تصحيح کړې؟! لکه څنګه چې د يوه جامع او بليغ کلام تقاضا ده قرآن پرته له دې چې ووايي يوسف عليه السلام خپل کار څنګه پيل کړ، د ښېرازه کالونو په دوران کې ئې څه وکړل او د وچ کاليو لپاره ئې څه تياری ونيو؟ سره له دې چې په دې اړه ئې هيڅ نه دي ويلي او خبره ئې له هغه ځايه پيل کړې چې د ده ورونه د غلې اخيستلو لپاره مصر ته راغلي او د ده په حضور کې ودرېدلي، له همدې د قرآن هر هوښيار لوستونکی په دې پوهېږي چې يوسف عليه السلام په دې موده کې کوم کوم کارونه کړي، له دې آيتونو معلومېږي چې:

- يوسف عليه السلام په خپلو لوړو قائدانه استعدادونو سره په کار پيل کړی، د مصر د زمکو ښېرازه کولو او د کر کښت وضعيت ښه کولو ته ئې خاصه پاملرنه کړې، د پاچا د خوب تعبير ته په پام سره ئې په لومړيو اُوه کلونو کې پرېمانه غله اخيستلې او په ګودامونو کې ئې ذخيره کړې، د قحط د کلونو لپاره ئې پوره تياری نيولی، د قحطي په رارسېدو سره ئې دا کارونه کړي: د غلو دانو لپاره ئې مناسبه بيع ټاکلې، د هغي غلې مقدار ئې ټاکلی چې ښايي يوه يوه کس ته د مناسبي دولتي بيعي په مقابل کې ورکړی شي، هر څوك بايد په خپله د غلې اخيستلو لپاره حاضر شي، د غلې پلورلو لړۍ ئې تر خپل نظارت او څارني لاندي پيل کړې، په داسي حال کې چې د مصر په نورو سيمو کې خلك له سختي قحطۍ سره مخامخ ول، په مصر کې د غلې د زياتوالي او ارزانۍ انګازې هري خوا ته رسېدې او خلك له لريو لريو سيمو، ډله ډله د غلو اخيستلو لپاره مصر ته راتلل او د ضرورت وړ غله ئې په ډېره ارزانه بيع تر لاسه کوله او د مصر د چارواکو د ښه نظم، ښو اخلاقو او ښې مېلمه پالني ښې خاطرې ئې له ځانه سره وړلې.

- د يوسف عليه السلام ورونه هم د غلې د پېرلو لپاره مصر ته ورځي، په خپل نوبت سره د يوسف عليه السلام حضور ته منل کېږي، يوسف عليه السلام هغوي وپېژندل، خو دوی د هغه په پېژندلو کې ځکه پاته راغلل چې په کوهي کې د ده له غورځولو تر دغه دمه نژدې شل کلونه تېر شوي وو، په هغه وخت کې يوسف عليه السلام تنکی ځوان وو، څه موده ئې د عزيز مصر په کور کې تېره کړه، نژدې لس کلونه ئې په زندان کې تېر کړل، له واکمنۍ ئې تر اوو کلونو زياته موده تېره شوې وه، دغي اوږدې مودې له خپلو لوړو ژورو سره د يوسف عليه السلام په څېرې کې ډېر بدلون راوستی وو، په ځانګړې توګه، هغوي دا تصور هم نه شو کولی چې ښايي د دوی جفا سپزلی ورور به داسي ستر مقام ته رسېدلی وي، د حضور هيبت او د احتياج او ضرورت احساس هم نه پرېښودې چې انسان تر ځان لوړ لوري ته ځير شي او د څېرې خطونه ئې په دقت سره وارزوي او وئې پېژني.

- د غذائي موادو د تجارت او احتکار د مخنيوي لپاره د هري کورنۍ پر هر وګړي به په ټاکلي اندازه غله خرڅېدله، هر بالغ نارينه بايد په خپله د خپلي ټاکلي غلې د پېرلو لپاره حاضر شوی وی، د يوسف وروڼو د خپل معذور او په سترګو ړوند پلار او ناسکه ورور لپاره

هم غله وغوښته، د پلار عذر ئې ومنل شو؛ خو د ورور په اړه ورته وویل شو: په وروستي ځل باید هغه هم دلته راولئ، که چېرې مو دروغ ویلي وو او هغه مو حاضر نه کړ، نو زموږ خوا ته نور مه راځئ او د غلې تر لاسه کولو طمع هم مه کوئ!! ګورئ چې د بایبل او قرآن د ویناوو تر منځ څومره ژور توپیرونه شته، بایبل د یوسف علیه السلام چلند داسې انځور کړی لکه د یوه کم ظرفه انسان چلند، داسې الفاظ او کارونه ئې هغه ته منسوب کړي چې د یوه ستر شخصیت له شأنه ډېر لرې دي، خو د قرآن عظیم الشأن څرګندوني داسې دي چې د یوسف علیه السلام ستر شخصیت، صبر، زغم او تدبر په کې له ورایه ښکاري، د قرآن له وینا معلومېږي چې یوسف علیه السلام له خپلو وروڼو سره په معامله کې ډېر محتاط دئ، هڅه کوي چې د ده له کومې وینا او حرکت د ده د وروڼو حساسیت او حسادت راونه پارېږي او مصر ته له راتلو او د ده په خوا کې له مېشتېدو ډډه ونه کړي، دا اندیښنه هم ورسره ده چې داسې نه ورور ته ئې کوم ضرر ورسوي. هغو کسانو ته چې د بدوي او صحرایي ژوند په باب پوره او دقیق معلومات نه لري، په دې مطلب پوهېدل لږ ګران دئ چې یوسف علیه السلام ولې په هماغه لومړنې ملاقات کې خپلو وروڼو ته ځان معرفي نه کړ؟ د هغه وخت د نیمه بدوي ژوند غوښتنه او تقاضا دا وه چې یوسف علیه السلام له خپلو وروڼو سره په ډېر احتیاط چلند وکړي، د دوی اعتماد جلب کړي، له داسې تدبیره کار واخلي چې لومړی د ده سکه ورور روغ رمټ ورته راورسوي، مصر ته په مکررو تلو راتلو او د وړیا مرستو په تر لاسه کولو سره او د ده د ډېر ښه سلوك په لیدو سره ډاډه او مطمئن شي چې یوسف علیه السلام هغوی ته د ضرر رسولو او انتقام نیت نه لري او کولی شي په بشپړ ډاډ، اطمئنان او درناوي سره د ده په څنګ کې ژوند وکړي او د ورور ګلوی له معاملې ئې مطمئن او ډاډه وي.

- په نیمه بدوي کورنیو کې کله کله یو ناسنجول شوی او بې احتیاطه حرکت د یوې لویې کورنۍ د بشپړې تباهۍ باعث شي، یوسف علیه السلام یوه ترخه تجربه درلوده، ښایي محتاطانه عمل ئې کړی وی، ښایي هغه وخت ئې ځان خپلو وروڼو ته معرفي کړی وی چې له یوه پلوه ئې خپل ورور په لاس ورغلی او له بله پلوه ئې پر خپلو کینه کښو او حسودو وروڼو باندې د هر ډول شاته تګ لارې بندې کړې وې، غوښتل ئې وروڼو ته ثابته کړي چې د ده په اړه ئې اشتباه کړې، بې موجبه ئې حسادت ورسره کړی، دا ورور دوی ته مینه او درناوی په زړه کې لري، غواړي د تل لپاره د ده په خوا کې په عزت او درناوي سره ژوند وکړي، نه ښایي له داسې مهربان ورور سره د دښمنۍ لار غوره کړي، دوی ته ئې تر هغه ځان معرفي نه کړ چې پر خپلو اشتباهاتو او قصور پوه شي، له دې پرته بله لاره ورته پاته نه وي چې د دښمنۍ پر ځای وروري ورسره وپالي، کله چې هغوي هر یو د دې ناپېژندوی سړي د شرافت، مېلمه پالنې، فضیلت او احسان په اړه په خپلو منځونو کې هم او د خپلې کورنۍ په وړاندې هم په مکرر ډول یادونه کړې او په وار وار ئې ستاینې، پس

له هغه چې دوی پوه شي دا همغه کس دئ چې دوی ورسره حسادت کاوو او په څاه کې ئې وغورځاوو، همغه چې دوی په بده سترګه ورته کتل، د دښمنۍ وړ ئې ګاڼو، دا یو مهربان ورور دئ، د ستایلو وړ شخصیت، دا دئ په نه پیژندل شوې څېرې کې ئې د ده ډومره ستاینه کړې، هر ځای او د هر چا په وړاندې ئې دی ستایلی؛ مګر دا له عقل او انصاف لرې خبره نه ده چې له همدې شخصیت سره د یوسف علیه السلام په څېره کې حسد وکړي؟! په دې توګه به دوی په خپلې اشتباه پوه شي او په خپل دریځ کې به بدلون راولي.

● یوسف علیه السلام نه یوازې دا چې له دوی د خپل ورور د راوستلو کلك تعهد اخلې بلکې داسې تدبیر کاروي چې ټوله کورنۍ د ده د ورور په لېږلو توافق وکړي، دا ترتیب ئې ونیولو چې د دوی راوړې بضاعه (هغه جنس چې د غلې د پېرلو لپاره ئې له ځان سره راوړې وو) بېرته کورنۍ ته مسترد شي، خو له دې وېرې چې که ئې خپلو وروڼو ته وسپاري ښایي ضائع شي او خپل پلار ته ووایي چې غله ئې د همغه جنس په بدل کې اخیستې ده، د خپلو وروڼو په امانتدارۍ بې باوره وو، نو ځکه ئې خپلو معتمدو زلمیانو ته وویل: د دوی راوړې توکې د غلو په پېټو کې داسې ځای په ځای کړئ چې فقط کور ته له رسېدو وروسته او هغه وخت پرې پوه شي چې خپل پېټې پرانیزي، چې په دې سره به ټوله کورنۍ تشویق شي او مصر ته د ده د سکني ورور له لېږلو سره به توافق وکړي.

● د (درهم) او (دینار) پر ځای د ((بضاعه)) د کلمې استعمال دا ښیي چې هغه مهال پېر پلور جنس د جنس په بدل کې وو او لا سِکه نه وه رائج شوې، د بابیل دا وینا هیڅ وزن او اعتبار نه لري چې د یوسف علیه السلام وروڼو سکې له ځان سره وړې وې، له دې خبرې دا هم معلومېږي چې د دوی د راوړو توکیو حجم هومره وو چې د غلې په پېټو کې ئې پټول ګران کار نه وو، له دې ټولو خبرو دا جوتېږي چې د دوی (بضاعه) باید ګاڼې وي چې د مجبوریت له مخې ئې د غلې په بدل کې ورکړې وې، احتمالاً د دې صحنې لیدل یوسف علیه السلام سخت ځورولی او تصمیم ئې نیولی چې دا ګاڼې سلامت او په بشپړه توګه د ده کورنۍ ته ورسېږي او په دې سره هم د وروڼو او هم د کورنۍ د نورو غړو باور او اعتماد تر لاسه کړي.

قرآن ورپسې فرمایي:

فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ
وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ أَخِيهِ
مِن قَبۡلُ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمۡ

وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِيۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَاۖ
وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ
أُرْسِلَهُۥ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمْۖ
فَلَمَّآ ءَاتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُواْ
مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُواْ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍۖ وَمَآ أُغْنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن
شَيْءٍۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾

نو کله چې خپل پلار ته ورستانه شول؛ وئې ويل: پلاره! له موږ ئې يوه پيمانه وسپموله، نو خپل ورور مو راسره ولېږه چې (بشپړې) پيمانې تر لاسه کړو، موږ به ئې هرو مرو ساتونکي يو. پلار ورته وويل: آيا د ده په اړه داسې باور درباندې وکړم لکه مخکې چې مې د ده د ورور په اړه باور درباندې کړی وو؟ (همدا او بل څه نه؟) خدای خورا ښه ساتونکی دئ او هغه تر هر رحم کوونکي زيات مهربانه دئ. خو کله چې دوی خپل پېټي پرانيستل؛ نو خپله بضاعه (جنس) ئې وموندو چې ورگرځول شوی، وئې ويل: اې پلاره! نور نو څه غواړو؟ دا هم زموږ بضاعه (جنس) چې بېرته راکړی شوی، (پرېږده چې بيا ولاړ شو) او خپله کورنۍ له لوږې وژغورو، د خپل ورور ساتنه وکړو او د يوه اوښ (بار) پيمانه رازياته کړو، دا خو يوه آسانه پيمانه تر لاسه کول دي!! وئې ويل: تر هغه به ئې درسره ونه لېږم چې کلکه الهي ژمنه راسره وکړئ چې بېرته به ئې رارسوئ مگر دا چې محاصره او ايسار کړی شئ او چې کله ئې کلك قول ورکړ، وئې ويل: پر هغه څه چې موږ ئې وايو الله وکيل او ذمه وار دئ. وئې ويل: زامنو! له يوې دروازې (ښار ته) مه ننوځئ، له مختلفو دروازو ورننوځئ او زه (په دې وينا سره) د الله کومه پرېکړه له تاسو نه شم دفع کولی، د پرېکړو واك خو يوازې له الله سره دئ، پر هغه مې توکل دئ او هر توکل کوونکی بايد پر هغه توکل وکړي.

(٦٣-٦٧)- د يوسف عليه السلام ورونه خپلې کورنۍ ته وگرځېدل، دومره غله ئې له ځان سره وړې وه چې د اوږدې مودې لپاره ټولې کورنۍ ته کافي نه وه، خپل پلار ته ئې وويل: په کار ده چې ډېر ژر بيا مصر ته ولاړ شو، نوره غله راوړو، زموږ کشرى ورور هم راسره ولېږه چې د هغه برخه هم تر لاسه کړو، ډاډ درکوو چې په ښه توگه به ئې ساتنه کوو. پلار چې د يوسف عليه السلام د بيلتون داغ پر زړه لري او پر خپلو زامنو باور نه شي کولی

او د اعتماد وړ ئې نه بولې؛ په ځواب کې وايي: آيا له ما دا توقع لرئ چې د ده په اړه هم پر تاسو همغسې اعتماد وکړم چې د ده د ورور په اړه مې پر تاسو وکړ، همدا او بل څه نه؟ دا خو عجيبه توقع او بې ځايه انتظار دئ! الله تعالی به مو په خپله وساتي هغه تر هر چا ښه ساتونکی دئ، ما ته د مصر د هغه مهربان او مېلمه پال کس نوم ډېر مه اخلئ، الله تعالی تر هر رحم کوونکي زيات مهربان دئ، هغه به مو په دې قحطي کې وساتي، هغه به پر موږ مهربانه شي، د خپل رحمت له بې پايه سمندر به مو خړوبه کړي او زموږ مشکل او ربړه به له بلې لارې حل کړي. خو کله چې دوی خپل پېټي پرانستل او ناڅاپه ئې خپل مال په کې وموندو، نو د هغه چا په څېر چې خپل ستر هدف ته رسېدلی وي او يا مضبوط او پياوړی دليل په لاس ورغلی وي، خپل پلار ته ئې وويل: نور نو تر دې زيات څه غواړو؟ دا دئ مال او متاع مو هم رامسترد شوې، پربېږده چې لاړ شو، خپل ورور هم له ځان سره بوځو، کورنۍ له لوږې وژغورو، موجوده غله مو لږه ده او ټولې کورنۍ ته کفايت نه کوي! يعقوب عليه السلام مجبور شو، له خپل دريځ کوز شو او مصر ته د خپل کشر زوی له لېږلو سره ئې په نه زړه توافق وکړ او خپلو زامنو ته ئې وويل: په دې شرط ئې درسره لېږم چې د الله تعالی په نامه راسره ژمنه وکړئ چې هرو مرو به ئې روغ رمټ رارسوئ، مګر دا چې له کومې پېښې سره مخامخ شئ، څوك مو په زور ايسار کړي، محاصره شئ او له محاصرې د وتلو لار ونه مومئ. يعقوب عليه السلام مصر ته د خپل کشر زوی له لېږلو سره توافق وکړ، خو له ډېرو انديښنو سره، د يوسف عليه السلام د هجران او بېلتون درد ئې لا نه وو هېر کړی چې اوس په دې ناموافقو حالاتو کې خپل ټول زامن په ګډه او يو ځای د سختو مجبوريتونو په وجه ناچار سفر ته لېږي، له دې پرته بله چاره نه لري، خپلو زامنو ته توصيه کوي چې کله مصر ته ننوتئ نو ټول له يوې دروازې مه ننوځئ، بلکې بېل، بېل له مختلفو دروازو او لوريو ننوځئ، نه ويل کېږي ستاسي ډله ييز ورتګ د شريرو خلکو توجه ځان ته جلب کړي او داسي وانګېري چې دا لويه ډله به هرو مرو د ډېرو غلو د پېرلو لپاره له اطرافه ښار ته راغلې وي او ښايي پرېمانه مال ئې هم له ځان سره راوړی وي، داسي نه چې د همدې لپاره ستاسو په ضد په کومې خطرناکې توطئې لاس پورې کړي او ضرر درورسوي، په دې پسې نه يم چې په خپلې دغې توصيې سره به الهي تقدير بدل کړم او هغه څه چې خدای تاسي ته غوښتي دي له تاسي به ئې دفع کړم، الله تعالی چې کومه پرېکړه کړې هغه هرو مرو تر سره کېږي، دی يوازينی واکمن دئ او پرېکړې د ده له لورې کېږي، د هستۍ په ادارې کې او د حکمونو او پرېکړو په صادرولو کې هيڅوك ورسره شريك نه دئ، ما پر خدای توکل کړی، څوك چې غواړي پر چا او څه توکل وکړي نو يوازې پر الله تعالی دې توکل وکړي.

دلته ګورئ چې يعقوب عليه السلام له هغه ستر معنوي شخصيت او لوړ پيغمبرانه مقام او منزلت سره او له هغه قرب او نژدې والي سره چې د الله تعالی په دربار کې ئې لري، په دنيوي چارو کې، د نورو عادي خلکو په څېر خپل انساني تدابير په کار وړي، نه له

غیب خبر دئ او نه په چارو کې د تصرف ادعاء لري او نه د دې مدعي دئ چې الهي تقدیر بدلولی شي، پر خپل خدای توکل کوي او ټول خلك پر خدای باندې توکل او اعتماد ته رابلي.

همدارنګه ګورئ چې د پیغمبرانو په مکتب کې د تدابیرو غوره کول نه پر الهي مقدراتو د اعتقاد منافي دئ او نه پر خدای جل شانه د توکل منافي، د دې مکتب پلویان په داسې حال کې چې پر نه بدلېدونکو الهي مقدراتو کلکه عقیده لري، خدای خپل وکیل او چاره ګر بولي او پر هغه توکل کوي؛ له دې سره سره په چارو کې انساني تدابیر په کار اچوي، نه ئې پر الله تعالی باندې توکل او اعتماد له دې ایساروي چې په خپلو چارو کې له تدبیره کار واخلي او نه ئې پر قضاء او قدر باندې اعتقاد او باور.

همدا شان ګورئ چې قرآن په دغه تاریخي درس او د یوه ستر پیغمبر په عملي ژوند کې موږ ته دا رازده کوي چې د (توکل) ځای له (تدبیر) وروسته دئ اول باید (تدبیر) خپل کړې او بیا پر الله تعالی توکل وکړې.

بایبل لیکي چې (یعقوب علیه السلام د کشر زوی له لېږلو سره موافقه وکړه او وئې ویل: که خدای غواړي چې زه بې اولاده شم نو پرېږده چې بې اولاده شم... زامنو ته ئې وویل: مخکینۍ پیسې هم درسره واخلئ او همدومره نوري هم... شهد، بادام، پستې، عطر لرونکي بوټي او نوري تحفې ئې ورکړې چې د مصر حاکم ته ئې وروړي... کله چې له یوسف سره مخامخ شول هغه وویل: دوی به نن غرمه له ما سره ډوډۍ خوري... ناظر دوی د یوسف قصر ته وروستل... قصر ته د تلو په وخت کې ډېر وېرېدل... ګمان ئې کاوو چې ښایي د هغو پیسو په وجه به مو بندیان کړي چې زموږ په پېټو کې اېښودل شوې وې... نو ځکه ئې د قصر په دروازه کې ناظر ته وویل: مخکې چې موږ کومې پیسې درکړې وې هغه مو په خپلو پېټو کې وموندلې... بېرته مو له ځانه سره راوړې... هغه ورته وویل: اندیښنه مه کوئ، ښایي ستاسو او ستاسو د نیکونو خدای به دا پیسې ستاسو په پېټو کې ایښې وې، ځکه چې ما خپلې پیسې تر لاسه کړې دي... یوسف ته ئې هدیې ورکړې... د پلار او د کورنۍ د احوال پوښتنه ئې ترې وکړه... خپل کشر ورور ته ئې ګوته ونیوله چې آیا دی همغه ستاسو کشر ورور دئ؟ یوسف دوی د عمر په حساب یو تر بل مخکې پر دسترخان کښېنول...دوی په دې کار ډېر حیران شول... یوسف خپل سکه ورور ته تر نورو پنځه برابره زیات خوراك کښېښود...له ډوډۍ وروسته یوسف خپل ناظر ته وویل چې ډك ډك پېټي ورته بار کړئ... پیسې ئې هم د پېټو په خوله کې ورته کښېږدئ... او زما جام د بنیامین په پېټي کې پټ کښېږدئ... ناظر همداسې وکړل... سهار وختي وروڼو خپل پېټي پر خرو بار کړل او وخوځېدل، خو لاډېر لري نه وو تللي چې ناظر ورپسې ورغی او د یوسف دا خبري ئې ورته وکړې: ولې مو د ښېګڼو په بدل کې بدي راسره وکړه؟ ولې مو زما د بادار هغه مخصوص جام چې شراب په کې څښي او فال پرې ګوري غلا کړی؟ دوی ورته وویل: لوړه کوو چې موږ دا کار نه دئ کړی... له چا سره چې تا دا جام وموندو هغه ووژنه او

موږ به هم د خپل بادار غلامان وو...هغه ورته وویل: صحیح ده خو یوازې غل به زما غلام وي نور به درومي... تلاشي ئې د مشر ورور له پېټي پیل کړه... د بنیامین په پېټي کې ئې وموند... بېرته ښار ته راوګرځېدل... د یوسف په وړاندې ئې سجده وکړه... هغه ورته وویل: ولې مو دا کار راسره وکړ؟ مګر نه پوهېدئ چې زه د فال له لارې په دې پوهېدی شم چې زما جام چا غلا کړی...وئې ویل: اوس به هغه څوك زما غلام وي چې جام ئې غلا کړی... وروڼو ورته ویل: سالاره! پوهېږو چې ته د فرعون په څېر ځواکمن یې... که موږ له بنیامین پرته خپل کور ته ولاړ شو پلار به مو له ډېره غمه ومري... نو یوسف ونتوانېدو چې نور صبر وکړي... خپل ځان ئې وروڼو ته معرفي کړ... ورته ئې وویل چې ژر ولاړ شئ او پلار ما ته راورسوئ. فرعون له دې پېښې خبر شو... یوسف ته ئې وویل: وروڼو ته دې ووایه چې کنعان ته ولاړ شي، خپله کورنۍ دلته راولي، زه به ښېرازه زمکه ورکړم... څو ګاډۍ هم ورسره ولېږه چې ښځې او ماشومان په کې راولي... دوی د خپل پلار خوا ته ورسېدل... ورته وئې ویل: یوسف ژوندی دئ او د ټول مصر حاکم دئ... پلار ئې په دې خبرو باور نه کاوو خو چې سترګې ئې پر ګاډیو ولګېدې... وئې ویل: اوس مې باور راغی چې یوسف ژوندی دئ، ځم چې له مرګ مخکې ئې ووینم!!)

د بایبل په دې ویناوو کې زیاتې غلطې او بې بنسټه خبرې شته چې څو بېلګې ئې دا دي:

- یعقوب خو دغه وخت هم په خپل کور کې یولس زامن درلودل، څنګه به ئې د یوه بنیامین د لېږلو په وخت کې دا خبره کوله چې که خدای غوارې بې اولاده شم پرېږده چې بې اولاده شم؟
- دوی د فقر او لوږې له داسې حالت سره مخامخ ول چې په خپل مرګ وېرېدل، د ښځو ګاڼې ئې د غلو لپاره پلورلې، دومره شهد، بادام، پستې، عطر او نورې هدیې ئې له کومه کړې چې پر خرو ئې بار کړې؟
- د یوسف ناظر ورته دروغ وویل چې دا پیسې به ستاسو خدای ستاسو په پېټو کې اېښې وې!!
- یوسف دوی د عمر په حساب مشر تر کشره مخکې پر دسترخان کښېنول او دې کار ته دوی حیران پاته شول. خپل سکه ورور ته ئې د نورو په پرتله پنځه برابره زیات خواړه مخې ته کښېښودل!! آیا کوم شریف انسان به داسې کار وکړي چې په یوه دسترخان باندې د خپل یوه مېلمه تر مخ د نورو په پرتله پنځه برابره خواړه کښېږدي؟ که داسې کار شوی وی نو د یوسف د وروڼو لپاره همدا کافي وو چې د ده خوا ته هیڅکله رانه شي!!
- ولې به بیا هم د دوی پیسې د پېټو په خوله کې پټې ږدي؟
- دوی د یوسف د شرابو جام پټ کړی، په دې جام سره به یوسف فالونه نیول!! په

داسې حال کې چې نه خو پیغمبران علیهم السلام شراب څښي او نه فالونه ګوري، د بايبل له دې وينا معلومېږي چې ليکونکی ئې هغه څوك دئ چې خلك په دروغجنو او غولوونکو فالونو غولوي او شکرانې ترې شکوي. یوسف علیه السلام ته دا خبره منسوبول چې وروڼو ته ئې وويل، مګر په دې نه وئ خبر چې زه په فال سره هغه څوك پېژندی شم چې زما جام ئې غلا کړی، يوازې د داسې چا کار کېدی شي چې پيغمبران علیهم السلام او د دوی له تګلارو خبر نه وي.

- په داسې حال کې چې مخکې ئې په مکرره توګه ليکلي دي چې يعقوب علیه السلام په سترګو ړوند شوی وو، خو دلته ليکي چې کله يعقوب علیه السلام ګاډی په خپلو سترګو وليدې نو باور ئې راغی چې یوسف علیه السلام ژوندی دئ!!

قرآن د بايبل دا ټولې غلطې خبرې تصحيح کوي او په ډېرو موجزو او بليغو الفاظو سره فرمايي:

وَلَمَّا دَخَلُوا۟ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِى عَنْهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ
إِلَّا حَاجَةً فِى نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَا ۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَٰهُ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ ۖ قَالَ
إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ
ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا۟
وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ
حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى
ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا۟
جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾

او کله چې (مصر ته) هماغسې ننوتل چې خپل پلار ورته ويلي وو، هغه د الله هيڅ پرېکړه نه ترې دفع کوله، دا خو د يعقوب علیه السلام په زړه کې هسې له يوې هيلې پرته بل څه نه وو چې تر سره ئې کړه او يقيناً چې دی د هغه علم خاوند وو چې موږ ورښودلی وو، خو ډېر خلك نه پوهېږي. او کله چې د یوسف محضر ته ننوتل؛ خپل سکه ورور ئې په خپل څنګ کې کښېناوو او وئې ويل: زه ستا هماغه (ورك

شوی) ورور یم، پر هغه څه چې دوی کول مه مأیوسه کېږه! او چې کله ئې دوی په سامان سمبال کړل، نو د اوبو لوښی ئې د خپل ورور په پېټي کې کښېښود، بیا جارچي غږ کړ: کاروانیانو! تاسي حتماً غله یاست! دوی مخ ورواړاوو او وئې ویل: څه شی لټوئ؟ ورته وئې ویل: شاهي پیمانه لټوو، هر څوك چې هغه راوړي د یوه اوښ بار د هغه شو او زه د دې ذمه وار یم. دوی وویل: په خدای قسم، تاسي پوهېږئ چې موږ د دې لپاره نه یو راغلي چې په زمکه کې فساد وکړو او موږ غله نه یو. ورته وئې ویل: که چېرې دروغجن وئ نو جزاء به ئې څه وي؟ هغوی وویل: جزاء به ئې دا وي چې د چا په پېټي کې پیدا شو هغه به په بدل کې اخیستل کېږي، موږ ظالمانو ته داسي سزا ورکوو.

(٦٨-٧٥)- یعني د یعقوب علیه السلام زامن د پلار له توصیې سره سم ښار ته ننوتل، پلار په خپلي دې توصیې سره نه شو کولای له دوی څه دفع کړي، فقط د دې توصیې حاجت ئې په خپل زړه کې احساس کړ، چې تر سره ئې کړ، د ده توصیې او ویناوي د هغه علم له مخي وې چې الله تعالی ورپه برخه کړی وو، ټولي خبري ئې عالمانه وې، ډېر خلك په دې حقائقو نه پوهېږي، کله تدبیر د توکل منافي ګڼي، کله احتیاط په الهي مقدراتو او په قضاء او قدر د ایمان مغایر بولي او کله پر خدای ایمان او پر الله تعالی توکل په دې معنی نیسي چې ځان تقدیر ته وسپاري او له هر ډول تدبیر لاس په سر شي.

د قرآن له وینا معلومېږي چې یوسف علیه السلام خپل سکه ورور په مناسب وخت کې خپلي خوا ته غوښتی، د احوال پوښتنه ئې ترې کړې، ده د نورو خبرو په ضمن کې د خپل ورور د ورکېدو قصه ورته کړې او یوسف علیه السلام ورته ویلي: زه ستا هماغه ورك شوی ورور یم، د خپلو ورونو په ناروااوو کړو وړو مه مأیوسه کېږه، داسي څه ترتیب نیسم چې ته له ما سره پاته شې او ورونه دي کور ته ولاړ شي او غله له ځانه سره یوسي. د همدې لپاره ئې خپلو موظفو کسانو ته لارښوونه کړې چې د (غلې او اوبو پیمانه) د ده د سکه ورور په پېټي کې په پټه کښېږدي او بیا اعلان وکړئ چې شاهي پیمانه ورکه شوې ده او حتماً کاروانیانو غلا کړې ده، چا چې راوړه او یا ئې وښودله د یوه اوښ بار غله به ورته انعام ورکوو، د یوسف علیه السلام ورونو وویل: موږ نه غله یو او نه د فساد لپاره راغلي یو، دلته مجبوریت راوستي یو، که چېرې په موږ کې هر څوك غل وخوت، سزا به ئې دا وي چې د همدې غلا په بدل کې به ئې تاسو ته سپارو...

قرآن دلته څو خبري لري چې زیاته توجه غواړي: فرمايي:

فَبَدَأَ بِأَوۡعِيَتِهِمۡ قَبۡلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسۡتَخۡرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِۚ كَذَٰلِكَ كِدۡنَا

لِيُوسُفَۖ مَا كَانَ لِيَأۡخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلۡمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ وَفَوۡقَ كُلِّ ذِي عِلۡمٍ عَلِيمٞ ﴿٧٦﴾

نو د خپل ورور له پېټي مخکې ئې (دنورو) له پېټو پیل کړه، بیا ئې د ورور له پېټي راوایسته، داسې مو یوسف ته تدبیر وروښود، خپل ورور ئې د پاچا د دین له مخې نه شو نیولی، مګر دا چې الله غوښتې وی، د هغه چا درجې لوړوو چې موږ ئې غواړو او د هر پوهندوی پر سر بل ښه پوه شته.

---

(٧٦)- د دې آیتونو خلاصه دا ده: تلاشي پیل شوې، لومړی د نورو پېټي پلټل شوي او په پای کې د ده د سکه ورور او د هغه له پېټي ئې پیمانه راایستلې، دا یو الهي تدبیر وو چې یوسف علیه السلام ته ښودل شوی، د مصر د قوانینو له مخې ده خپل ورور نه شو راګرځولی، الله تعالی چې چا ته وغواړي پوهه او حکمت ورپه برخه کوي او په همدې حکمت سره د هغه مقام او منزلت لوړوي، خو هیڅوك دې په خپل علم او حکمت نه غره کېږي، په دې دې خبر وي چې تر هر پوه لوړ بل پوه شته.

د دې وینا په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن د بایبل د وینا برعکس دا ورك شوی شی کله د سقایة (د اوبو څښلو لوښی) او کله ئې صواع (پیمانه) بولي، له دې معلومېږي چې دا لوښی سطل یا لویې کاسې ته ورته لوښی وو چې هم د اوبو لپاره کارېدو او هم د پیمانې لپاره، د بایبل دا ادعاء غلطه ده چې دا د یوسف علیه السلام د شرابو جام ګڼي، د پاچا د شرابو جام داسې په میدان نه وي پروت چې د غلو دانو پېرلو لپاره راغلي خلك ئې غلا کړی شي!!

- له دې دا هم معلومېږي چې دغه مهال د مصر ټولنه په یوې مدنې ټولنې بدله شوې وه، نظم او قانون په کې حاکم شوی وو او اوس نو چارواکو او څواکمنو واکدارانو هم د قانون خلاف کار نه شو کولی، د یوسف علیه السلام په څېر څواکمن کس هم نه شو کولی خپل ورور بې دلیله بندي کړي او یا ئې له ځان سره تم کړي، دې ته اړ وو چې څه قانوني چاره ورته ولټوي. که د یوسف علیه السلام او هغو دوو زلمیانو د بندي کېدا قصه په پام کې ولرو نو ویلی شو چې د مصر په نظام کې دغه بدلون هم د یوسف علیه السلام په وجه راغلی وو، مخکې چارواکو کولی شو بې وزلي په نه ګناه زندان ته ولېږي خو اوس د یوسف علیه السلام په څېر څواکمن شخصیت هم داسې کار نشي کولی.

- یوسف علیه السلام غواړي چې خپل سکه ورور له ځان سره وساتي، دا موضوع ورته خاص اهمیت لري؛ خو د مصر د حاکم نظام او موجوده قوانینو له مخې نه شي کولی هغه په اسارت ونیسي او له ځان سره ئې وساتي، د ده د وروڼو دې وینا ورته کار آسانه او

ستونزه ئې ورته حل کړه چې وئې ويل: له هر چا سره چې پیمانه پیدا شوه د غلا په جرم دې زنداني شي، الهي تدبیر د ده مرسته وکړه، الهي تدبیر داسې دئ چې د دښمن خبره په خپله د دښمن د غاړې غړوندی شي، په خپل ایښې دام کې ئې پښه ونښلي، تېشه د بل لپاره پورته کړي خو خپله پښه پرې ووهي او هره تيره چې پورته کوي پر خپل سر ئې لګېږي.

• له دې وینا معلومېږي چې د مصر پاچا لا ژوندی دئ او د هغه قوانین په ټولنې کې نافذ دي، یوسف علیه السلام په پیغمبرۍ نه دئ مبعوث شوی او د مصر په نظام کې د پیغمبرۍ له حیثیت سره وظیفه نه تر سره کوي، د هغو خلکو رأيه سمه نه ده چې په دې نظام کې د یوسف علیه السلام د کار په استناد غواړي په غیر اسلامي نظامونو کې کار کول توجیه کړي، ځکه دا د ده له بعثت مخکې حالت وو.

• یوسف علیه السلام د خپلو وروڼو د ځواب له اورېدلو وروسته، ساتونکو ته هدایت ورکوي چې بارونه وپلټئ، د پلټنې کار باید داسې وي چې هيڅا ته شك راپیدا نه کړي، نو ځکه ئې پلټنه د یوسف علیه السلام د نورو وروڼو له پېټو پیل کړه او په پای کې د ده د سکه ورور وار راغی او ورکه شوې پیمانه ئې ترې وښکله او د وروڼو له ژمنې سره سم ئې په اسارت ونیو.

• په دې آیت کې د دین لفظ داسې کارول شوی چې د دین حقیقت په ډېره واضح توګه بیانوي، (فی دین الملك) فقره ښیي چې د اسلام له نظره دین یعني پر ټولنې حاکم نظام، یعني هغه نظام چې د انسان فردي او ټولنیز مناسبات او اړیکې تنظیموي او مشاجرې ئې حل و فصل کوي. دا سمه نه ده چې څوك دین خاص مذهبي مراسم وګڼي او په عباداتو، اورادو او اذکارو کې ئې خلاصه کړي.

• د ژوند په هرې برخې کې چې چا ته پر نورو خلکو فضیلت او لوړوالی ورپه برخه شي، نو دې ته دې متوجه وي چې دا فضیلت خپل ذاتي کار ونه ګڼي او پرې مغرور نه شي؛ بلکې باید په دې باور وي چې د دې برلاسي او فضیلت منشأ او سرچینه الهي عنایت او پېرزوینه ده، باید باور ولري چې الله تعالی د هر سر د پاسه سر پیدا کړی او له هر پوه او عالم بر؛ بل عالم، دا باور په انسان کې د غرور او تکبر احساس له منځه وړي او نه پرېږدي چې په ټولنه کې د ځان لاندې خلك تحقیر کړي او په سپکه سترګه ورته وګوري.

• د یوسف علیه السلام وروڼو چې لا ئې د یوسف علیه السلام په باب په زړه کې کینه درلوده او د ده سکه ورور ئې ښه نه ایسېدو، د دې صحنې په لیدو سره د خپل زړه براسې داسې وایستې: ورور ئې هم د ده په څېر وو، هغه هم غل وو!! د دې پر ځای چې له خپل ورور دفاع وکړي اپوټه د هغه په ضد شهادت ورکوي، د دې پر ځای چې د پېښې په اړه د شك او شبهې څرګندونه وکړي او په دې کار کې د خپل ورور لاس لرل رد کړي، پر هغه باندې وارد شوی اتهام تصدیقوي او صحیح ئې ګڼي او ادعاء کوي چې دا کار د هغه

له شأنه لرې نه دئ، ورور ئې هم غل وو، د هيڅ شك ځاى نه دئ پاته، په كار ده چې مجازات شي او په اسارت ونيول شي!! يوسف عليه السلام ځواب نه وركوي، د هغه څه له ويلو ډېره كوي چې زړه ئې غوښتل، له ځان سره وايي: لا مو هغه مخكينى بد خوى نه دئ بدل شوى، لا له خپله ناروا دريځه نه يئ راكوز شوي، الله تعالى ستاسو د خبرو په حقيقت ښه پوهېږي.

دلته قرآن يوه عجيبه صحنه انځوروي؛ له يوې خوا د يوسف عليه السلام لوى زغم او صبر او له بلې خوا د ده په ضد د ورونو زړه او ژوره كينه په كې انځور شوې، فرمايي:

قَالُوٓاْ إِن يَسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ مِن قَبۡلُۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفۡسِهِۦ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡۚ قَالَ أَنتُمۡ شَرّٞ مَّكَانٗاۖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾

(ورونو) ئې وويل: كه ده (نن) غلا كړې، نو سكه ورور ئې تر ده د مخه غلا كړې!! (يوسف عليه السلام) دا خبره په خپل زړه كې وساتله (د دوى د دې تور او اتهام په ځواب كې ئې څه ونه ويل) او هغوى ته ئې (په خپل زړه) وويل: تاسو په ډېر بد مقام او حالت كې يئ او الله تعالى ستاسو د وينا په حقيقت ښه پوه دئ.

(۷۷)- ګورئ چې له يوې خوا ئې ورونو لا خپله ژوره كينه نه ده هېره كړې او اوس هم د ده په ضد د زړه براسي په داسې ناروا تورونو سره راباسي او له بلې خوا يوسف عليه السلام لا پرې مهربانه دئ، نه غواړي ځواب وركړي او له ځانه دفاع وكړي، د دوى په حال افسوس كوي، بيا ئې هم تصميم دا دئ چې دغه حسود او كينه كښ وروڼه ئې خوا ته راشي او د ده په څنګ كې ژوند وكړي!! قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه كوي چې د پيغمبرانو عليهم السلام شأن داسې وي، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونكي مشران بايد داسې وي، د يوه صالح مشر ځانګړتيا دغه ده، بايد داسې لوى زغم او لوى زړه ولري او له خپل قدرت په استفادې سره له چا خپل غچ او انتقام وانخلي.

قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٧٨﴾ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾

(د يوسف ورونو) وويل: عاليقدره! رښتيا درته وايو چې دى ډېر عمر خوړلى سپين ږيرى پلار لري (د ده بېلوالى نه شي زغملى)، د ده په ځاى له موږ يو تن په اسارت ونيسه، موږ دې له نېكانو بولو. وئې ويل: خداى ته پناه (وړم) چې له هغه چا پرته

بل څوك په اسارت ونیسو چې خپله متاع مو ورسره موندلې، په هغه صورت کې خو به د ظالمانو له ډلې وو.

---

(۷۸-۷۹)- په دې آیتونو کې څو اساسي مطالب د غور وړ دي:

د ورونړو حالت ډېر عجیب انځور شوی؛ چا ته چې یوه شبهه مخکې ئې غل ګڼي؛ وايي: د قدر وړه! د هغه پر ځای زموږ یو تن په اسارت ونیسئ، هغه سپین ږیری پلار لري، موږ له تا ډېري ښېګڼې لیدلې دي، په دې باب هم له موږ سره احسان وکړه، ستا په څېر له یوه محسن د احسان طمع لرو!! یوسف علیه السلام په ځواب کې ورته وايي: الله تعالی ته پناه وړم چې یو بې ګناه سړی د یوه مجرم پر ځای مؤاخذه کړو، په هغه صورت کې خو به موږ ظالمان یو!! قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې یو د بل په بدل کې مجازات کول ظلم دئ، پیغمبران علیهم السلام راغلي چې د داسي ظلم ټغر ټول کړي او دا هغه ستره خبره ده چې له یوې اسلامي ټولني پرته ئې په بل ځای کې مثال نه شو موندلی، دا اوس په یوویشتمې پېړۍ کې د مجرم پر ځای د ده پلار، زوی او ورور ځورول کېږي، د قاتل په بدل کې د ده پلار، زوی او ورور وژل کېږي، د یوه کس د جرم په مقابل کې په کلي، قوم او حتی ملت برید کېږي، په لسهاوو او سلهاوو کسان وژل کېږي.

---

فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ
أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبۡلُ مَا فَرَّطتُمۡ فِي يُوسُفَۖ فَلَنۡ أَبۡرَحَ
ٱلۡأَرۡضَ حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ أَبِيٓ أَوۡ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ۝٨٠ ٱرۡجِعُوٓاْ
إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ فَقُولُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدۡنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا وَمَا كُنَّا
لِلۡغَيۡبِ حَٰفِظِينَ ۝٨١ وَسۡـَٔلِ ٱلۡقَرۡيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا وَٱلۡعِيرَ ٱلَّتِيٓ أَقۡبَلۡنَا فِيهَاۖ
وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ۝٨٢ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٌۖ عَسَى
ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَنِي بِهِمۡ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٨٣

نو کله چې ترې ناهیلي شول، د پټو خبرو لپاره ګوښې ته (له خلکو بېل) شول، مشر ئې وويل: مګر دې ته مو پام نه دئ چې خپل پلار مو د الله په نامه ژمنه درنه اخیستې؟ او تر دې د مخه مو چې د یوسف په اړه تېری کړی وو؟ زه خو به تر هغه دا زمکه هیڅکله پرې نږدم چې یا مې پلار اجازه راکړي او یا الله تعالی زما په اړه کومه پرېکړه وکړي او هغه تر ټولو غوره حکم کوونکی دئ. پلار ته مو ورشئ او ورته

ووایئ: زوی دې غلا وکړه، دا شهادت مو له هغه پرته په بل څه نه دئ ولاړ چې موږ په خپله پرې پوه شوي یو (په خپلو سترګو مو ولیدل چې غلا شوی مال د ده له پېټي راووت، دا کار ئې زموږ په غیاب کې کړی) او موږ خو په غیاب کې (د ده) څارونکي نه وو. له هغه کلي چې په کې وو او له هغه کاروانه چې په کې راغلو پوښتنه وکړه، ډاډه اوسه چې موږ رښتیني یو. وئې ویل: داسې نه ده؛ بلکې ستاسو نفسونو کوم کار درته ښایسته کړی، نو (زما دې) غوره صبر وي، هیله ده چې الله تعالی ټول راته راولي، بې شکه چې هغه باحکمت پوه دئ.

(۸۰-۸۳)- د دې مبارکو آیتونو خلاصه دا ده:

- کله چې د ورونو ټینګار بې نتیجې پاته کېږي او د خپل ورور له خوشي کېدو ناهیلي کېږي، نو له خلکو بېلېږي او په یوې ګوښې کې په ټیټ غږ په خبرو لګیا کېږي، مشر ورور ئې ورته وایي: آیا له پلار سره مو خپله کلکه ژمنه هېره کړې؟ تر دې د مخه مو د یوسف په اړه هم تېری وکړ؟ ما هوډ کړی چې تر هغه پورې به دا ځای نه پرېږدم چې یا مې پلار هدایت راکړي او یا الله تعالی خپله فیصله صادره کړي، زه د الهي فیصلې انتظار کوم، تاسې پلار ته ورشئ او ورته ووایئ چې زوی دې په غلا نیول شوی، ښه پوهېږو چې دا کار ئې کړی، صحیح ده چې موږ باید د ده څارنه او ساتنه کړې وی، خو هغه دا کار پټ او زموږ له نظره لرې تر سره کړی، موږ څرنګه په غیاب کې د ده ساتنه کولی شوی؟ ته د هغه کلي له خلکو پوښتنه وکړه چې موږ په کې اوسېدو او دا پېښه په کې وشوه، له هغه کاروان وپوښته چې موږ ورسره یو ځای راغلو، د دې لپاره چې حقیقت درته څرګند شي او زموږ رښتینولي درته ثابته شي. له دې وینا څو خبرې جوتېږي: لومړی دا چې د بایبل دا وینا غلطه ده چې ورونو ئې د یوسف علیه السلام په وړاندې یوه بل ته ویلي چې موږ په دې خاطر له دغو مصیبتونو سره مخامخ شوي یو چې له یوسف سره مو بد وکړل، داسې خبره هیڅ مجرم د نورو په وړاندې نه کوي، که څه هم ګمان ئې دا وي چې نور د دوی په خبرو نه پوهېږي، که ئې ویلو ته اړ شي نو په پټو غونډو کې او په ټیټ غږ ئې کوي، هغسې لکه چې قرآن د یوسف علیه السلام د ورونو په اړه فرمايي. او دوهمه خبره دا چې مشر ورور ئې د دوی پر هغه فوري شهادت اعتراض کړی او دا ئې یوه غلطي ګڼلې چې خپل کشر ورور او یوسف علیه السلام ئې په غلا تورن کړل!!
- که څه هم ځینو درنو مفسرینو (و ما شهدنا إلا بما علمنا و ما کنا للغیب حفظین) داسې تفسیروي: موږ د هغه څه په اړه شهادت ورکوو چې علم پرې لرو او په خپلو سترګو مو لیدلي، خو له هغه څه خبر نه یو چې د پردې تر شا شوي، موږ د خپل ورور له پېټي د پیمانې د وتلو صحنه ولیدله، نو ځکه وایو چې هغه غلا کړې ده؛ خو دا چې د پردې شاته څه شوي او چا دا کار کړی، له دې راز خبر نه یو. دا تعبیر د قصې له روح سره اړخ نه

لګوي او څو اعتراضونه پرې کېږي:

الف: د (إن ابنك سرق) له فقرې په ډېر وضاحت سره څرګندېږي چي دوی د خپل ورور پر غلا تأکيد لري او په هغه کې د شك او ترديد ځای نه ويني.

ب_ دوی داسي نه دي ويلي چي (وما شهدنا الا بما رأينا): او موږ خو يوازي د هغه څه شهادت ورکوو چي په سترګو مو ليدلي، بلکې داسي ئې ويلي: (و ما شهدنا الا بما علمنا)) يعني زموږ شهادت د هغې غلا په اړه د پوهي له مخي دئ، پوهېږو چي دا کار شوی، په حقيقت ئې باور لرو.

ج_ همدارنګه؛ نه دي ويل شوي چي: (و ما كنا للغيب عالمين) يعني موږ له غيبه خبر نه يو، بلکې ويل شوي چي (و ما كنا للغيب حافظين) يعني موږ څه ډول کولی شوی چي د ده ساتنه وکړو په داسي حال کې چي دا کار ئې زموږ په غياب کې او په پټه تر سره کړی؟

● بيا هم ګورئ چي حساس او هوښيار پلار د دوی خبرو ته د شك په سترګه ګوري، باور پرې نه کوي دا ځکه چي هم خپل کشر زوی ښه پېژني او هم دوی، حدس وهي چي خبره داسي نه ده، حقيقت بل څه دئ، د دوی شهادت د عقدو او نفساني اغراضو محصول ګني او ورته وايي: داسي نه ده؛ بلکې ستاسو نفسونو کوم کار درته ښايسته کړی، نو (زما دي) غوره صبر وي، هيله ده چي الله تعالی ټول راته راولي، بې شکه چي هغه باحکمت پوه دئ. يعني الله تعالی په ټولو رازونو خبر دئ او د هغه په هر کار کې حکمتونه نغښتي دي، هيله ده هغه مي په دې مصيبت کې مرسته وکړي او ټول روغ رمټ راته راولي.

● دلته يعقوب عليه السلام د الله تعالی دوه صفات يادوي او وايي: هغه (باحکمت) (پوه) دئ، په دې سره د يعقوب عليه السلام د زړه دوې خبري افاده شوې: ۱- الله تعالی ښه پوهېږي چي دا پېښه ولي او څنګه رامنځ ته شوې؟! ۲- د الله تعالی هيڅ کار بې حکمته نه وي، هيله ده په دې کې هم موږ ته کوم خير او مصلحت مضمر وي. او دا هغه څه دي چي هر مسلمان ئې بايد له مصيبتونو سره د مخامخ کېدو په مهال ووايي.

قرآن د بايبل د وينا خلاف د يعقوب عليه السلام حالت داسي انځوروي:

---

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٨٤﴾ قَالُواْ تَٱللَّهِ تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوۡ تَكُونَ مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾

---

او له دوی ئې مخ واړاوو او وئې ویل: وای افسوس د یوسف په حال! له غمه ئې د سترګو تور سپین شو (سترګې ئې بې نوره شوې) او هغه د غمونو زغمونکی وو (خپل غمونه ئې زغمل)، (زامنو) ورته ویل: په خدای قسم؛ تل یوسف دومره یادوې چې غم ځپلی (او له ډېرو اندېښنو به ویلې) شې او یا به هلاك شې. وئې ویل: زه خو خپل غم او خفګان خدای ته ژاړم او له الهي علومو په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ (زه له الله تعالی شکایت نه کوم بلکې الله تعالی ته شکایت کوم)، زما زامنو! لاړشئ! یوسف او د هغه ورور ولټوئ او د خدای له رحمته مه ناهیله کېږئ، دخدای له رحمته له کافري ډلې پرته بل څوك نه ناهیله کېږي.

---

(۸٤-۸۷)- یعنې نوي داغ زوړ داغ تازه کړ، د کشر زوی نیوني د یعقوب علیه السلام د زړه زخمونه نورهم ژور کړل او د خپل زړه ژور او سوزند درد ئې په دې الفاظو بیان کړ: (یا اسفی علی یوسف)، خو دا د زړه چیغه ئې په ګوښه کې، له خپلو زامنو لرې او له الله تعالی سره د راز او نیاز پر وخت، د زړه له تله وایسته، په داسې حال کې چې د یوسف له غمه ئې دومره ژړلي وو چې د سترګو لید ئې کم شوی او ړوندېدو ته نژدې شوی وو، هره اندېښنه به ئې په خپل زړه کې زغمله او نه ئې پرېښوده چې غم او خفګان ئې نورو ته څرګند شي. خو دا ئې نه شوی کولی چې د سترګو اوښکې ئې ټمې کړي، د خدای پیغمبران او اولیاء همدغسې دي، له سختو آزموینو سره مخامخ کېږي، د خدای په لار کې دردونه او رنځونه ویني، خو له صبر او زغم کار اخلي، تل صابر او شاکر وي، د خپل غم او غصې په باب یوه خبره هم پر ژبه نه راوړي، شکوه او شکایت نه کوي، څومره چې له ډېر غم او درد سره مخامخ کېږي، همدومره ئې خپل رب ته تضرع او زاري زیاتېږي او الله تعالی د خپل صالح او مخلص بنده دغه حالت خوښوي، الله تعالی د خپل بنده قرب خوښوي، آزمېښتونه، کړاوونه او ستونزي انسان خپل رب ته ورنژدې کوي او اړیکې ئې له الله تعالی سره مزید ټینګوي او مزید قوت وربخښي، له دردونو او کړاوونو سره د مخامخ کېدو پر وخت د هغو مؤمنو مبارزینو تګلاره همدا ده چې د انبیاوو علیهم السلام خط تعقیبوي، صبر کوي، خپل غمونه زغمي، جزع و فزع نه کوي، چیغې نه وهي، خپل سر او مخ په څپېړو نه وهي، خپلې جامې نه شلوي، خپل غم او خفګان زغمي او له څرګندولو ئې ډډه کوي، په خلوت کې خپل رب ته خپل شکایتونه وړاندې کوي او د خپل درد علاج ترې غواړي، یوازې د اوښکو په بهېدو بسنه او اکتفاء کوي، هغه اوښکې چې بې اختیاره بهېږي. الله تعالی ته اوښکې تویول او په خلوت کې د غم او خفګان څرګندونه د ایمان نخښه ده او له الله تعالی شکایت او په ریا سره اوښکې تویول د نفاق علامه ده.

حسود او کینه کښ زامن، د پلار له خولې، په وار وار د یوسف علیه السلام د نوم له اورېدو او د ده له غمه د اوښکو په تویولو لازیات عقده من کېږي او ورته وایې: دا د

يوسف (عليه السلام) ډېره يادونه پرېږده، دې حالت ته ئې ورسولې، پر ځان رحم وکړه، آيا تر هغه به ئې وير کوې چې له پښو ولوېږې او ومرې؟ ستا دا بې صبري به ستا د هلاکت سبب شي او هغه ځای ته به دې ورسوي چې انسان پر الهي قضاء باندې اعتراض کوي او همدا ئې د هلاکت باعث شي! پلار په ځواب کې ورته وايي: زه له الله تعالی شکايت نه کوم؛ بلکې خپل شکايتونه الله تعالی ته وړاندې کوم، د خپلو دردونو د علاج درمل ترې غواړم، هغه ته زاري کوم، پر دين او غوښتنو ئې او پر ايمان او لوازمو ئې تر تاسو ډېر ښه پوهېږم. زامنو! ولاړ شئ، يوسف (عليه السلام) او ورور ئې ولټوئ او د الله تعالی له رحمته مه مأيوسه کېږئ؛ ځکه چې يوازې کافر د الله تعالی له رحمته نااميده کېږي.

قرآن د بايبل د وينا په خلاف فرمايي چې د يوسف ورونه درې ځلي مصر ته د غلې لپاره تللي او په همدې درېيم ځل يوسف عليه السلام ځان ورمعرفي کړی او جريان داسې معرفي کوي:

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيْهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَٰعَةٍ
مُّزْجَىٰةٍ فَأَوْفِ لَنَا ٱلْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجْزِى ٱلْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾ قَالَ
هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾ قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ
يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِى ۖ قَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ
فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن
كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾ ٱذْهَبُواْ بِقَمِيصِى هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِى يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِى
بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾

کله چې د ده محضر ته ننوتل؛ نو وئې ويل: عاليقدره! موږ او زموږ کورنۍ کړاوونو ځپلي يو، له ناڅيزې متاع سره راغلي يو، (زموږ ستونزو ته په پام سره او پرته له دې چې زموږ د متاع مقدار او ارزښت ته نظر وکړې) پوره پيمانه را او (څه) د صدقې په توګه راکړه، بې شکه چې خدای صدقه ورکوونکو ته اجر او بدله ورکوي. وئې ويل: آيا پوهېږئ چې تاسو له يوسف او ورور سره ئې په ناپوهۍ کې څه وکړل؟ هغوی وويل: آيا په رښتيا ته يوسف يې؟ وئې ويل: هو! زه يوسف يم او دا مې ورور دئ، يقيناً

چې خدای پر موږ احسان وکړ، څوك چې تقوی غوره کړي او (د مصائبو په وړاندې) صبر وکړي، نو خدای هیڅکله د دغو نېکانو اجر نه ضائع کوي. هغوی وویل: پر خدای قسم چې الله تا ته پر موږ غوره والی درکړی او یقیناً چې موږ خطاء کوونکي وو. وئې ویل: نن هیڅ پړه درباندې نشته، خدای دې بخښنه درته وکړي او هغه تر هر رحم کوونکي زیات رحم کوونکی او مهربان دئ. زما دا کمیس یوسئ او زما د پلار پرمخ ئې وغورځوئ، لیدونکی به شي او خپله ټوله کورنۍ ما ته راولئ.

---

(۸۸-۹۳)- د یوسف علیه السلام وروڼه د پلار په وینا بیا د مصر په لوري خوځېږي، خپله پاته ناڅیزه شتمني هم له ځانه سره اخلي چې نوره غله پرې واخلي، لوږې او فقر ځپلي، په ډېره پرېشانه وضع مصر ته ننوتل او د یوسف علیه السلام په حضور کې حاضر شول او هغه ته ئې وویل: عالي قدره! پر موږ ډېره بده ورځ راغلې، څه مو چې کور کې درلودل ټول خلاص شوي، له لږې شتمنۍ سره درته راغلي یو، هیله من یو چې زموږ ناڅیزې پانګې ته له پامه پرته هماغه پخوانی مقدار غله راکړې، له تا د صدقې طمع لرو، یوسف علیه السلام د خپلو وروڼو خوار و زار حالت، د صدقې او خیرات غوښتلو په وړاندې خپل سیك له لاسه ورکړ، د هغوی له دردو ډکو خبرو بې تابه کړ اوښکې ئې له سترګو وخوټېدې او له دې پرته ئې بله چاره نه موندله چې ځان ورمعرفي کړي او ورته وواېي: آیا پوهېږئ چې د ناپوهۍ پر مهال مو له یوسف او د هغه له ورور سره څه وکړل؟ وروڼو ئې دا تصور نه شو کولی چې دا اوس یوسف علیه السلام ته مخامخ ولاړ دي، په حیرت سره ئې وپوښتل: آیا په رښتیا ته یوسف یې؟!! هغه په ځواب کې وویل: هو! زه یوسف یم او دا مې ورور دئ! خدای پر موږ احسان وکړ او دا د الله تعالی نه بدلېدونکی او ثابت سنت دئ چې څوك د تقوی لار غوره کړي او د ستونزو په وړاندې صابر وي، نو اجر ئې د ده په خوا کې خوندي او محفوظ دئ، حتماً به ئې تر لاسه کوي، الله تعالی ئې هڅې هیڅکله نه عبث کوي او اجر ئې نه ضائع کوي.

قرآن د یوسف علیه السلام قصه، له دې ټول تفصیل سره د دغو څو خبرو د اثبات لپاره کوي چې یوسف علیه السلام خپلو وروڼو ته وکړې: الله تعالی د متقیانو او صابرانو اجر نه ضائع کوي، چا چې له دوی سره جفا کړې ټیټ سر به ئې په وړاندې ودرېږي، په خپلې خطاء او د دوی په حقانیت به اعتراف کوي. دا دئ ګورئ چې د تقدیر ځواکمنو لاسونو د یوسف علیه السلام وروڼه هغه ځای ته نابېره، بې خبره او د خپلو عزائمو او ارادو خلاف رسولي او د هغه حقیقت په اعتراف ئې اړ کړي چې له هغه د تېښتې لپاره ئې کومې جفا ګانې نه وې چې له یوسف علیه السلام سره ئې ونه کړې، کومې هڅې نه وې چې وئې نه کړې او کوم تدبیرونه نه وو چې وئې نه سنجول... خو دا دئ نن د تقدیر مضبوطو او ځواکمنو لاسونو د هغه چا په وړاندې ودرولي چې دوی ئې پر ښېګڼو له اعتراف تېښته کوله او دې ته حاضر نه وو چې ومني الله تعالی یوسف علیه السلام ته پر دوی غوره والی

ورکړي، له څا سره چې دوی ناروا رقابت او سیالي کوله، هغه ئې د وږلو وږ ګاڼو، نن د هماغه چا د صدقې طمع لري، د ده احسان ته ئې سترګې نیولې دي، هغه په پرله پسې ډول خپل محسن ګڼي او غوره شخصیت ئې بولي او هر ځل د خپلو خبرو په پیل کې هغه ته عزیز او عالي قدر وايي. دا هماغه یوسف دئ چې دوی ورسره کینه او حسد کاوو، هماغه شخص چې دوی په کوهي کې واچاوو او کلونه، کلونه ئې د هغه کینه په زړه کې وپالـه او فقط څو ورځې مخکې او له شلو کلونو وروسته ئې هغه ته (غل) وویل!! عجیبه له عبرتونو ډکه صحنه ده!! د تقدیر لاسونه څومره ځواکمن دي! څنګه مغرور، متعصب او کینه ور غاړه غړوونکي په ګونډو کوي! څنګه ئې د حقیقت اعتراف ته اړ کوي؟!!

خو راشئ وګورئ چې د قرآن د دې قصې اتل، یوسف علیه السلام د بریا او فتحې په وخت د خپل مغلوب سیال او رقیب سره څنګه چلند کوي او قرآن په دې سره موږ ته څه لارښوونه کوي او کوم درسونه راکوي؟!!

د یوسف علیه السلام کریمانه او له عظمته ډك ځواب د ده د شخصیت جلال او عظمت په ډېره ښه توګه نندارې ته ږدي او دا ښیي چې د خپلو وروڼو ټولې جفا ګاڼي ئې هېرې کړې دي او په لطف، مهربانۍ او زړه سوي سره چلند کوي، فرمايي: ډاډه اوسئ چې نه مو ملامتوم او نه کوم اعتراض درباندې لرم، ما بخښلي یاست، الله تعالی دې هم تاسو ته بخښنه وکړي، په دې باور ولرئ چې الله تعالی ډېر او تر هر چا زیات مهربانه دئ. دا چې قرآن ولې دا قصه په دومره تفصیل سره رااخیستې او په دې کې خپل مخاطب ته څه پیغامونه لري، په دې هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه وینا خپلې مخې ته کښېږدو چې د مکې له فتحې وروسته ئې خپلو زړو دښمنانو ته وکړه، کله چې له لس زره فاتح فوځ سره په داسې حال کې مکې ته ننوت چې هیڅا ئې د مقابلې توان په خپلو متو کې نه لیدو، دښمنان ئې یا وتښتېدل او یا ئې د ځان د ژغورلو لپاره هغو پناه ځایونو ته پناه یوووړه چې پیغمبر علیه السلام ټاکلي وو، الهي وعدې تر سره شوې، د یوسف د سورې په ترڅ کې چې کومې وړاندوینې شوې وې او پیغمبر علیه السلام ته دا ډاډ او اطمئنان ورکړی شوی وو چې ستا مخالفین به هم د یوسف علیه السلام د وروڼو په څېر ستا په وړاندې ټیټ سر ودرېږي، همداسې وشول، رسول الله صلي الله علیه وسلم د فتحې په دوهمه ورځ، په داسې حال کې چې د قریشو ټول مغرور سرداران د ده په وړاندې د مغلوبو اسیرانو په څېر، په یوه لیکه، له شرم او خجالت ځوړند سرونه ولاړ وو، ده د یوه مهربان او دروند ورور په توګه ورته وویل: له ما د کومې معاملې توقع کوئ؟ هغوی په ځواب کې وویل: له خپل کریم ورور چې زموږ د کریم ورور زوی دئ، د عفوې او بخښنې انتظار لرو! له خندا پرته ئې وفرمایل: هغه څه در ته وایم چې زما ورور یوسف علیه السلام خپلو وروڼو ته ویلي وو:

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ، اذهبوا وانتم الطلقاء

نن هيڅ ملامتيا درباندي نشته؛ درومئ تاسو آزاد ياست!

د قصو په اړه د بايبل او قرآن تر منځ نه يوازې له دې پلوه ژور توپيرونه شته چې د قرآن وينا، د بيان اسلوب، الفاظ او جوړښت ئې ډېر دقيق، خوندور او اغېزناك دي، هر لفظ ئې په ډېر دقت سره غوره شوی او په خپل مناسب او ښايسته ځای کې کارول شوی او هر يو خاص مطلب افاده کوي، خو د بايبل داسې چې يوه برخه ئې د بلې برخې متناقض، الفاظ او د جملو ترکيب ئې له رکاکتونو ډك، نه ئې عقلمن انسان منلی شي او نه د ادبي سليقې خاوند ترې خوند اخيستی شي، بلکې له دې پلوه به هم د دواړو تر منځ ژور توپير وګورئ چې د قرآن قصې ځانګړې موخې او اهداف تعقيبوي، هره قصه د يوه ستر مطلب د ښه توضيح لپاره وړاندې کوي، په هرې قصې کې لارښووني او درسونه لري، خو د بايبل قصې فقط قصې او شجرې دي، د يوسف عليه السلام قصه ئې يوه ښه بېلګه ده، دا قصه په قرآن کې په دومره ښايسته او خوندورې بڼې کې راغلې چې د قرآن هر مينه وال ئې په ډېرې آسانۍ سره حفظ کولی شي، په عربي هېوادونو کې خو وضعيت داسې دئ چې اکثر امامان په دې خاطر په لمانځه کې د دې سورې له قرائته ډډه کوي چې که احياناً په کې غلط شي نو له ډېرو خواوو به فتح ورکول کېږي. په همدغې خوندورې او آسانې سورې کې د الله د لارې مجاهدينو ته هومره ژورې او پراخې توصيې او لارښوونې شوې چې هر مجاهد ته ئې يادول ضروري دي.

دا هم د قرآن يو ستر اعجاز دئ چې د نزول له نېټې تر ننه په مليونهاوو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او ټول بشري تاريخ کې هيڅ داسې مذهبي او غير مذهبي، د شعر يا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چې د قرآن په اندازه حافظان ولري!! د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: دا ولې تاسو په خپل اوږده تاريخ کې د بايبل محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! ځواب ئې څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چې د زړه دړه ئې ورته پرانيستلې شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکيب ئې خوندور وي، باور وکړئ چې ما په ټول بايبل کې يوازې د داؤد مزامير داسې وموندل چې څه نا څه د انسان د زړه دروازه ورته خلاصه شي او په هغه کې معنوي او ادبي خوند او ښکلا احساس کړي، له دغو څو پاڼو پرته نور په ټول بايبل کې څوك دا خوند او ښکلا نه شي موندلی.

يوسف عليه السلام د خپلو ورونو له خبرو پوه شوی وو چې عزتمن پلار ئې د ده په فراق کې ړوند شوی، خو دی په داسې موقعيت کې نه وو چې مصر پرېږدي او د خپل ګران پلار ليدو ته ورشي، د قرآن له وينا معلومېږي چې په دې وخت کې دی د مصر د واکمنۍ پر تخت ناست وو، خو د بايبل وينا دلته هم د نورو مواردو په څېر له تناقضاتو ډکه ده، يوې خوا ته د يوسف عليه السلام د ورونو له قوله داسې حکايت کوي: پلار ته ئې وويل: يوسف ژوندی دئ او د ټول مصر حاکم دئ، خو له بلې خوا وروسته ليکي چې يوسف د فرعون حضور ته ورغی او ورته ئې وويل: زما پلار او وروڼه له خپلو رمو، ګلو او هر څه

سره چې درلودل ئې له کنعانه دلته راغلي او په جوشن کې ځای په ځای شوي، خپل هغه پنځه ورونه ئې هم ورمعرفي کړل چې له ځان سره ئې راوستي وو!! د بایبل په وینا کې نه یوازي له دې پلوه تناقض شته چې ورونو ته ئې هغه خبره منسوبوي او بیا دا خبره کوي؛ بلکي له دې پلوه هم چې وایي: پلار او ورونه له رمو، گلو او هر څه سره راغلي، په داسي حال کې چې له دې د مخه ئې په وار وار لیکلي چې له ډېري لوږي او فقره ئې د مرگ وېره وه!! څوك چې گلې او رمې لري ولي به د غلو دانو لپاره خپلي گاڼې خرڅوي، قحطي خو تر انسانانو مخکې څاروي ځپي، مالداران هغه وخت له ستونزو، لوږي او فقر سره مخامخ کېږي چې خپل څاروي له لاسه ورکړي. د مصر د پاچا لپاره د فرعون نوم راوړل په خپله یوه غلطي ده ځکه د غرب د دائرة المعارف له مخي هم په دې وخت کې د مصر پاچایان د فرعون په نامه نه یادېدل.

یوسف علیه السلام خپلو ورونو ته وویل: زما دا کمیس له ځان سره یوسئ او د پلار پر مخ ئې وغورځوئ، چې سترگي ئې روښانه شي، بیا ټوله کورنۍ زما خوا ته راولئ. د ده احساس دا وو چې پلار ئې له دې امله د خپلو سترگو نور له لاسه ورکړی چې د گران زوی د مرگ خبر ئې په داسي حال کې اورېدلی چې په وینو سور خیري کمیس ئې مخي ته پروت وو، دا د ده مهربان بوډا پلار ته درنه ناڅاپي صدمه وه، د ده پر زړه او دماغ دا سخت گوزار د دې باعث شوی چې له امله ئې د سترگو نور له لاسه ورکړي، یوسف علیه السلام په خپل پیغمبرانه فراست سره وانگېرله چې د زوی د ژوند زېری او هغه کمیس چې د زوی بوی ترې احساسېږي، دا به هغه لویه صدمه جبران کړي چې له امله ئې د پلار سترگي بې نوره شوې. نو ځکه ئې په اطمئنان سره وویل: یأت بصیراً: سترگي به ئې روغې او روښانه شي.

دلته قرآن د یعقوب علیه السلام په اړه یوې داسي خبري ته اشاره کوي چې خاصه توجه غواړي، قرآن کریم یعقوب علیه السلام د یوه دراك او حساس شخصیت په توگه معرفي کوي، داسي چې له مصره کاروان د ده د ورك شوي زوی له کمیس سره راخوځېږي، لا له مصره ډېر نه دئ لري شوی چې دی په کنعان کې د خپل زوی د کمیس بوی احساسوي، خو بایبل بیا د ده په اړه داسي وایي: زامنو ئې ورته وویل: یوسف ژوندی او د ټول مصر حاکم دئ!! خو ده تر هغه په دې خبري باور نه کاوو چې گاډۍ ئې ولیدې!! قرآن داسي فرمایي:

وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾
قَالُواْ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ أَلْقَىٰهُ عَلَىٰ
وَجْهِهِۦ فَٱرْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ

﴿٩٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

**کله چې کاروان له (مصره) لرې شو؛ نو پلار ئې وويل: که مې بې عقله ونه گڼئ زه خو (نن) د يوسف (خوږ) بوی احساسوم! ورته وئې ويل: په خدای قسم چې ته په خپلې پخوانۍ اشتباه کې يې (زاړه خيالونه دې غلطوي)!! نو کله چې زېری ورکوونکی قاصد راورسېد او (د يوسف) کميس ئې د ده پر مخ وغوړاوو ناڅاپه ئې سترگې رڼې شوې، وئې ويل: نه مې وو درته ويلې چې د الله تعالی له لوري د راکړل شوي علم په وجه په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ. دوی وويل: پلاره! زموږ (د گناهونو لپاره له الله تعالی) بخښنه وغواړه، يقيناً چې موږ خطا کاران وو. وئې ويل: ژر به له خپل رب بخښنه درته وغواړم، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ.**

---

(۹٤-۹۸)- کله چې کاروان له مصر د کنعان په لور وخوځېد او له ښار لږ څه لرې شو، د يوسف عليه السلام پلار وويل: نن مې د يوسف عليه السلام بوي ترسپږمو کېږي، هيله من يم چې د ډېر سپين ږيرتوب له امله مې په کمعقلۍ متهم نه کړئ، د کورنۍ غړو ته په دې خبرې پوهېدل او باور کول گران کار وو، په ډېر تأکيد سره ئې ورته وويل: اشتباه کوې، تېر وختونه درياديږي، ستا د خيال په فضا کې د تېرو وختونو يادونه، د کوم غولوونکې بوی احساس درکوي، ته ئې د يوسف عليه السلام خوږ بوی گڼې!! لازيات وخت نه وو تېر شوی چې ناڅاپه زېری ورکوونکی را ورسېد او د يوسف عليه السلام کميس ئې د پلار پر مخ وغوړاوو او په همدې سره د زوی له بېلتونه راټوکېدلی د ځگر داغ جوړ او ړندې سترگې روښانه شوې، نو د کورنۍ غړو ته ئې مخ کړ او وئې ويل: ما درته نه وو ويلي چې زه له الهي علم په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ، ما دا احساسوله چې يوسف عليه السلام ژوندی دئ او آخر به ئې وگورم، درته ويل مې چې ولاړ شئ او دواړه ولټوئ او له الهي رحمته مه نااميده کېږئ، درته ومې ويل چې د يوسف عليه السلام عطر مې تر سپږمو کېږي، تاسي نه منله، دا دئ ټولې خبرې رښتيا وختې او حقيقت ئې درته ځرگند او ښکاره شو!!

دا جريان د هغه فراست او پوهې حقيقت په واضح توگه څرگندوي چې الله تعالی ئې خپلو پيغمبرانو او اولياوو ته ورکوي او ښيي چې هغوی پر غيب علم نه لري، خو د غيب له عالمه داسې ورېمې احساسوي چې سرچينه او لوری ئې ورته څرگند نه وي، کله دا ورېمې په ويښه احساسوي او کله په خپلو خوبونو کې د غيب له عالمه پيغامونه تر لاسه کوي، خو دا (علم) نه بلکې (احساس) وي، دا احساس د ظاهري پنځگونو حواسو کار نه دئ، مرجع او سرچينه ئې څرگنده نه وي، بنده پرې هيڅ تسلط نه لري، د پټو حقائقو ورېمې ئې په

خپلو څپو سره احساس راوپاروي، نه پوهېږي دا احساس څنګه ورسره راپيدا شوی؟!! د دې احساس واګي د انسان په اختيار کې نه وي، نور هم په دې نه شي قانع کولی چې په دې احساس کې ورسره شريك شي، هماغسې لکه چې يعقوب عليه السلام يو وخت نه شو کولی څو متره آخوا په کوهي کې د يوسف عليه السلام له لوېدو خبر شي؛ خو بل وخت په ډېر لرې واټن کې، له مصر د کنعان په لور د کاروان له خوځېدو سره سم د خپل زوی د کميس بوی احساسوي، خو نه په دې باندې پوهېږي چې دا بوی له کومه راځي او نه په دې چې ولې نن دا احساس ورسره راپيدا شوی، منبع ئې کومه او لوری ئې کوم دئ او نه نورو ته په پوره ډاډ او اطمئنان سره کومه خبره کولی شي، کله چې غواړي د خپلې کورنۍ له غړو سره خپل ننني احساس شريك کړي، زړه نا زړه ورته وايي: که مې په کمعقلۍ متهم نه کړئ زه نن د يوسف بوی احساسوم!! ګورئ چې دکورنۍ غړي ورسره توافق نه کوي او په ښکاره ډول او په پوره تأکيد سره ورته وايي: اشتباه کوې، تېر وختونه درياديږي!!

ښايي ستاسو د هر يوه په ژوند کې به کله داسې واقع شوي وي چې زړه مو ناڅاپه د يوې پېښې د رامنځ ته کېدو خبر درکوي او تاسو له کوم خاص دليل پرته د کومې پېښې انتظار کوئ، ناڅاپه وينئ چې ستاسي د زړه احساس رښتيا ثابت شو او ستاسو انتظار پر ځای وخوت، مثلاً دخپلې کورنۍ له غړو سره ناست يئ، يو تن وايي: ګمان کوم چې ورور جان به مې نن يا سبا له سفره راشي، د کورنۍ نور غړي وايي: نه، هغه لا د راتګ نيت نه لري، دی ورته وايي: هو! زه هم همداسې انګېرم، خو نه پوهېږم چې ولې مې زړه راته وايي چې هغه له سفره راځي!! ناڅاپه وينې چې حدس ئې صحيح وخوت، ورور ئې د محاسباتو او انګېرنو خلاف او د ده له احساس سره سم راغی!! ممکن نه دئ چې دا احساس دې محض يو تصادف وي، ښايي د هغو کسانو شمېر لږ نه وي چې دې ته د تصادف په سترګه ګوري، خو د قرآن له دغو ويناوو معلومېږي چې دا تصادف نه دئ، دا چې په څو پر له پسې مواردو کې د يعقوب عليه السلام (احساس) سم او د حقيقت مطابق خېژي، دا ښيي چې په انسان کې د ده له پنځو حواسو علاوه د احساس داسې يوه (ملَکه) شته چې د راتلونکو پېښو اطلاع تر لاسه کوي، خو په داسې توګه چې نه د دې پيغامونو له لوري او منبع خبر وي، نه کوم سلطه پرې لري او نه د ده په امر او هغه وخت چې دی ئې غواړي ورته راځي.

دا احساس او اړوند ملکه ئې په تقوی سره وده کوي، په صالح انسانانو، پرهېزګارانو او پيغمبرانو کې کمال ته رسېږي، دوی ته داسې فراست ورپه برخه شي چې نه يوازې د ملمع، ګرانو، پېچلو او مبهمو خبرو په حقيقت پوهېدل ورته آسانوي بلکې د ملمع او غولونکو څېرو تر شا پټ زړونه او د هغوی موخې پېژندی شي، د يعقوب عليه السلام په قصې کې موږ ته د دغه حساس لرې ليد څو ښېلګې مخې ته راغلې.

زامن ئې ډېر وروسته پوه شول چې دوی هم د يوسف عليه السلام په اړه اشتباه کوله

او هم د خپل پلار په اړه، د پلار په وړاندې پر خپلو غلطيو اعتراف کوي او ترې غواړي چې له الله تعالى ورته بخښنه وغواړي. پلار ئې ورته وايي: ژر به له خپل رب بخښنه درته وغواړم، دلته ځيني مفسرين وايي چې ولې يعقوب عليه السلام همغه مهال بخښنه ورته ونه غوښته، ولې ئې نژدې راتلونکې ته محول کړه؟ آيا وجه ئې دا وه چې ډېر ترې ځورېدلى وو او په دې سره ئې غوښتل چې دوى تأديب کړي؟ او که د دې لپاره چې له زېرې ورکوونکې نه ئې د نورو خبرو اورېدو ته تلوار درلود؟ داسې معلومېږي چې وجه ئې همدا دوهمه وه، ځکه سوف کله د نژدې مستقبل په ارتباط راځي او کله يوازې د تأکيد لپاره، که ئې مطلب تأخير او تأديب وى نو دا الفاظ ورسره مناسبت نه لري.

د قرآن له وينا معلومېږي چې يوسف عليه السلام له ښاره بهر، د خپلې کورنۍ د استقبال لپاره منتظر ولاړ وو چې راورسېدل، مور او پلار ئې په خپلې ګاډۍ کې، خپلې خوا ته کښېنول او د ښار په لورې وخوځېدل، د قرآن وينا داسې ده:

---

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ
ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدٗاۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا
تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا رَبِّي حَقّٗاۖ وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ
ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ مِنۢ بَعۡدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بَيۡنِي وَبَيۡنَ إِخۡوَتِيٓۚ
إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾ رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ
ٱلۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ
فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾

نو کله چې د يوسف محضر ته ننوتل، مور او پلار ئې په خپلې خوا کې کښېنول او وئې ويل: که خداى کول په ډاډ او امن سره مصر ته داخل شئ. او خپل مور او پلار ئې تخت ته لوړ کړل او ورته په سجده شول او وئې ويل: مهربانه پلاره! دا هماغه زما د پخوانې خوب تعبير دئ چې پالونکې رب رښتينى کړ او له ما سره ئې هغه وخت هم احسان وکړ چې له زندانه ئې وايستم او تاسو ئې له بېديا دلته راوستلئ، وروسته له هغه چې شيطان زما او زما د ورونړو تر منځ شخړه راولاړه کړه، بې شکه چې زما پالونکى رب د هر څه لپاره چې وغواړي لطيف دئ، (په لطافت او دقت سره ورته رسي هيڅ څه ئې مخې ته نه شي خنډ کېدى) يقيناً چې هغه باحکمت پوه دئ. زما

پالونکیه! پاچاهي دې راکړه او تأویل الاحادیث دې رازده کړ، د آسمانونو او زمکې خالقه! ته مې په دنیا او آخرت کې مولا او کار جوړوونکی یې، ما مسلمان وفات کړه او له صالحانو سره مې یو ځای کړه.

---

(۹۹-۱۰۱)- په دې آیتونو کې په لږ دقت سره څو اساسي مطالب تر سترګو کېږي:

الف: یوسف علیه السلام د خپلې کورنۍ د استقبال لپاره له ښاره بهر ورووتلی.

ب: پلار او مور ئې په خپلې خوا کې په داسې وسیلې کې کښېنولې چې د لارې په اوږدو کې ورسره یو ځای وي.

ج: په ټولې لارې کې هم او په ټول مصر کې هم داسې خاص امنیتي تدابیر نیول شوي چې آثار او نښې نښانې ئې له ورایه ښکارې او یوسف علیه السلام هغه ته په اشارې سره خپل مور او پلار ته وایي: د خدای له غوښتنې سره سم په امن او امان سره ښار ته ننوځئ.

د: د دې آیتونو له الفاظو او په خاصه توګه د (العرش) او (الملك) له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چې یوسف علیه السلام اوس د مصر پاچا دئ او د مصر اقتدار په بشپړه توګه د ده په واك کې دئ. ځکه هغه څه ته چې موږ کټ وایو؛ په عربي کې دا په درې نومونو یادېږي: العرش، النعش او السریر، په کوم تخت چې پاچا کښېني هغه ته عرش وایي، کوم تخت چې انسان پرې پرېوځي هغه ته سریر وایي او کوم تخت چې مړی پرې وړل کېږي هغه ته نعش وایي.

هـ: مخامخ شاهي ماڼۍ ته تللې او هلته یوسف علیه السلام خپل مور او پلار پرشاهي تخت کښېنولې او په خپله له تخت لاندې ودرېدلی او د هغوی احترام ئې پر ځای کړی، خو مور، پلار او ورونو ئې دی د دې درناوي وړ او مستحق ګڼلی او هغه ته ئې د تعظیم مراسم په ځای کړي. مفسرین د (خروا له سجداً) په تفسیر کې لاندې مختلف نظریات لري:

- ځیني په دې باور دي چې د یوسف مور، پلار او ورونو ئې د شکرانې سجده وکړه او الله جل جلاله ته په سجده شول، خو د یوسف لپاره او د هغه نعمت په خاطر چې الله جل جلاله د یوسف په وجه پر دوی پېرزو کړ.

- ځیني په دې عقیده دي چې له اسلام په مخکې شرایعو کې د تعظیم سجده د غیر الله لپاره روا ګڼل کېده، خو اسلام د غیر الله لپاره هم د عبادت او هم د تعظیم سجده حرام وګرځوله او فقط د خدای جل شانه لپاره ئې ځانګړې کړه؛ ګواکې د یوسف مور، پلار او ورونو یوسف علیه السلام ته د تعظیم سجده کړې نه د عبادت سجده.

- د مفسرینو یوه بله ډله په دې عقیده ده چې سجده؛ پر زمکې باندې د تندي اېښودلو او د چا په پښو کې د لوېدلو په معنی، په هیڅ آسماني شریعت کې غیر الله ته جائز نه وه، په مخکینیو شرایعو کې هم د هغې د جواز هیڅ سند نه شو موندلی، هغوی وایي چې نه

ښايي په هر ځای کې سجده پر زمکې باندي د تندي اېښودلو په معنی تعبير کړو؛ لکه چي په قرآن کې د لمر، سپوږمۍ، ستورو، ونو، غرونو او... سجده په مکرر ډول راغلې؛ خو د نوموړو موجوداتو دا سجده په هغې معنی نه شو اخيستی چي ګواکې دوی سر پر زمکې باندي ايښی، ځکه دا موجودات نه شمزۍ لري، نه ملا او نه هم زنګنونه چي د دغو غړو په وسيله رکوع ته لاړ شي او بيا سجده وکړي او نه وچولی لري چي پر زمکه ئې کښېږدي، د هغوی د سجدې معنی الله ته له کامل انقياده پرته بل مفهوم نشي درلودی، همدارنګه يوسف عليه السلام ته د مور، پلار او ورونو سجده د تعظيم او انقياد اظهار وو نه د عبادت سجده او نه د هغه پښو ته د پرېوتلو سجده، که تېرو بحثونو ته لږ ځير شو او د يوسف عليه السلام هغه (رؤيا) په پام کې ونيسو چي لمر، سپوږمۍ او يولس ستوري ئې د ځان په وړاندي د سجدې په حالت کې ليدلي وو او نن د دغې صحنې د مشاهدې پر وخت وايي: ګرانه پلاره! دا زما د هغه پخواني خوب تعبير دئ چي زما پالونکي رب رښتينی کړ، دا ښيي چي د ويښې سجده به د خوب (رؤيا) سجدې ته ورته وه، حتماً به د دواړو تر منځ څه شباهت وو، نه هغه تندی پر زمکې اېښودل وو او نه دا.

- يوسف عليه السلام د دې حالت په ليدو سره فرمايي: پالونکي خدای مي پر ما احسان وکړ (پر خپلو ښېګڼو ئې ونازولم)، زه ئې له زندان بهر کړم او دغه مقام ته ئې ورسولم، تاسي ئې له صحرا دلته راوستلئ، وروسته له هغه چي شيطان زما او زما د ورونو تر منځ نزاع را منځته کړه، زما رب جل شأنه چي دکوم کار اراده وکړي په لطافت او دقت ئې تر سره کوي، هغه باحکمت پوه دئ. په دې ځرګندونو کې هم څو ټکي د غور وړ دي:

الف: د خپل پالونکي خدای په نعمتونو، احسان او عنايت اعتراف کوي او د دې پر ځای چي قدرت ته رسېدل او نعمتونه تر لاسه کول د خپلو هڅو، کمال او لياقت نتيجه وګڼي، برعکس هغه الهي احسان بولي.

ب: د ده خوا ته د ورونو په شمول د ټولي کورنۍ راتګ لوی نعمت انګېري، يعني دا چي هغه نه يوازي ټولي جفاګاني هېري کړې دي، بلکي دا الهي پېرزوينه او احسان ګڼي چي نن ئې ورونه په څنګ کې دي، له همدغه ځای کولی شو په دې پوه شو چي يوسف عليه السلام ولي له خپلو ورونو سره هغه چلند کاوو، په ډېر احتياط سره خوځېدو، نه ئې غوښتل چي ژر او له وخت مخکې ځان دوی ته معرفي کړي؛ ځکه هغه داسي انګېرله چي ښايي له مقدماتي کارونو مخکې ځان معرفي کول به د ورونو د حسادت او کينې د راپارېدو سبب شي او د ده خوا ته له راتلو به ډډه وکړي.

ج_ هغه د خپلو ورونو او ځان تر منځ د منازعې او شخړې عامل شيطاني لمسوني او تحرکات ګڼي او په دې اړه د بحث په دوران کې اول ځان ته ګوته نيسي او وروسته د ورونو نوم اخلي؛ دا په خپله يوه ظريفه نکته او حساس ټکی افاده کوي او ښيي چي له ورونو سره په معامله کې څومره محتاط دئ او څنګه له هر هغه عادي حرکت اومعمولي

اشارې چې د دوی د احساساتو په ژوبلېدو منتج شي، ځان ساتي.

د_ وايي: په دې ټولو پېښو کې الهي حکمت مضمر وو، حکيم خدای غوښتل چې په دې توگه ما له بېديا مصر ته راولي او د مصر واکمني راوسپاري. يعني هغه نه يوازي دا چې تېر هېر کړي او د خپلو ورونو جفاگاني ئې په بشپړه توگه له پامه غورځولې او هيڅکله هم د غچ په فکر کې نه دئ؛ بلکې نوموړې پېښې او لوړې ژورې، داسې عادي او طبيعي پېښې گڼي چې مخکې له مخکې مقدر شوې او له الهي مقدراتو سره سم د ده مخې ته راغلې، د الله تعالی په لطف او توفيق ترې تېر شوی او دغه اوسني مقام ته رسېدلی دئ.

- عظيم الشأن قرآن د يوسف عليه السلام دا له عبرتونو، پندونو او لارښوونو ډکه قصه د ده په جامع دعاء پای ته رسوي: د دعاء په پيل کې د الله جل جلاله پر دوو نعمتونو چې دی ئې پرې نازولی اعتراف کوي: (زما ربه! پاچاهي دې راکړه او تأويل الاحاديث دې راوښود) او دا همغه (حکم) او (علم) دئ چې الله جل شأنه ئې له انبياوو او د دوی له صادقو پلويانو سره د ورکړې ژمنه او وعده کړې ده، بيا الله جل جلاله په دنيا او آخرت کې خپل مولا او کار جوړوونکی بولي او ورپسې له الله جل شأنه غواړي چې د ژوند تر پايه پوري همدغسې مطيع او منقاد پاته شي او مرگ هغه وخت او په هغه حالت کې ورته راشي چې په بشپړه توگه خپل رب ته تسليم، فرمان وړونکی او منقاد وي او په پای کې ئې د الله د صالحو بنده گانو په قطار کې د ودرېدو او د هغوی مقام او منزلت ته د رسېدو افتخار په برخه شي.

- په دې سره قرآن موږ ته د صالح مشرانو ځانگړتياوې راښيي او د دوی او د فاسدو واکمنانو تر منځ ژور توپيرونه راپه گوته کوي، دا د دوی لومړۍ ځانگړتيا گڼي چې اقتدار ته رسېدا ئې له خپل رب بغاوت ته نه شي هڅولی، اقتدار غرور او مستي نه په کې راولاړوي او د دې سبب نه گرځي چې د خپل رب له اوامرو سرغړاوی وکړي، ځان له قانون اوچت وگڼي، ضوابطو او مقرراتو ته التزام ونه لري او په خپله د قانون او شريعت ځای ونيسي؛ بلکې دوی داسې دي چې د قدرت په لوړو پوړو کې له نورو او تر مخکيني وخت لازيات شريعت او قانون ته التزام لري او ورته غاړه ږدي، دوهمه ځانگړتيا ئې هغه تل پاته تمنا وي چې دوی د صالح کسانو په قطار کې وي او صالح کسان د دوی په خوا کې. هر مشر له خپلو ملگرو او د ملگرو د ځرنگوالي په اړه د ده له هيلو او تمنياتو پېژندی شئ، د کوم مشر چې ملگري او مشاورين نېك او صالح وي او غواړي چې صالح ملگري او نېك مشاورين ئې په څنگ کې وي، هغه صالح مشر دئ، نېك کسان به په چارو گماري، له دې به ځان ساتي چې ظالم چارواکي پر خلکو مسلط کړي، نه پرېږدي چې هغه خائني او مکاري څېرې ئې په (بطانه) کې شامل شي او د ده شا و خوا ونيسي، چې دربارونو او واکمنانو ته د تقرب او نژدې کېدو په لارو چارو پوه دي او په غوړه مالۍ، چاپلوسۍ او چالاکۍ سره ځان دربار ته رسوي، لوړو مقاماتو ته د رسېدو په سوړو بلد دي او په دې لار کې له هيڅ

ذلت او رذالت ډېره نه کوي. د بد مشر خوا کې به بده (بطانه) او ناصالح ملګري او مشاورين وګورئ، هغه چې له ناروااوو لارو مخکې تللي، تر دربار پورې رسېدلي، د مشرانو شا وخوا ئې نيولې، د دربار قرب او نژدې والي شهرت او قدرت ورپه برخه کړی او په همدې سره ئې د ناروا ګټو تر لاسه کولو لارې څان ته پرانيستې دي.

- قرآن چې په کومې موخې دا قصه رااخيستې او د کومو مهمو مطالبو د اثبات او ښه توضيح او د يوه تاريخي مثال په ترڅ کې ئې د بيانولو لپاره زموږ مخې ته ايښې، د قصې په پای کې ئې داسې بيانوي:

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ﴿١٠٢﴾ وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾

دا د غيب خبرې دي چې په وحي سره ئې تا ته درښيو او ته هغه مهال د دوی په څنګ کې نه وې چې په خپل کار متفق شول په داسې حال کې چې پټ تدبير او توطئه ئې جوړوله. ډېری خلك داسې دي چې که ته هر څومره (د دوی پر هدايت باندې) حريص وې ايمان نه راوړي. او ته ( د دعوت په عوض کې) کومه بدله نه ترې غواړې، دا خو عالميانو ته له پنده پرته بل څه نه دئ.

(۱۰۲-۱۰٤)- د يوسف عليه السلام د قصې له راوړلو د قرآن موخه دا وه چې د پورتنيو مهمو مطالبو تاريخي ښېلګې زموږ مخې ته کښېږدي، د دغو مطالبو شرح او تفصيل دا دئ: د دغو آيتونو د نازلېدو پر مهال او هغه وخت چې رسول الله صلي الله عليه وسلم د يوسف عليه السلام د قصې مختلفې او حساسې برخې او لوړې ژورې خلکو ته بيانولې؛ نو د دې قصې د اتلانو له پيدايښت او وفاته نژدې ۲۵۰۰ کلونه تېر شوي وو، دا قصه له ټولو دغو تفصيلاتو سره او هغسې چې پيغمبر عليه السلام خلکو ته بيانوله نه په کوم کتاب کې موندل کېده او نه په خلکو کې له يوه بل ته ويل کېده، پيغمبر عليه السلام په ليك لوست بلد نه وو چې له کوم کتابه ئې اقتباس کړې وی، مخکينيو مسخ شوو مذهبي کتابونو په ډېرې غلطې بڼې کې وړاندې کړې وه، پوښتنه دا ده چې پيغمبر عليه السلام څرنګه دا له عبرتونو ډکه تاريخي قصه په دومره دقت او تفصيل سره او په داسې اغېزناکې بڼې کې وړاندې کړه؟ څنګه وتوانېدو چې د دې قصې په ترڅ کې له يوې خوا د مکې د هغه مهال وضعيت انځور کړي، له بلې خوا هغه څه په اغېزناکه توګه بيان کړي چې د ده او مخالفينو تر منځ تېرېدل او له بلې خوا د دعوت مخالفين د دې عبرتناکې قصې په هينداري کې خپله څېره او راتلونکې وګوري او خپلې پايلې او محتوم برخليك درك کړي، متوجه شي او عبرت

واخلي؟ او څنګه د دې قصې ټولې برخې يوه په بلې پسې رښتيانۍ شوې؟ د قريشو مشرانو هم د يوسف عليه السلام د ورونو په څېر له رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د رخې او کينې لاره ونيوله، د هغه پر ضد ئې د عناد او دښمنۍ لپاره ملاوې وتړلې، په خپلو منځونو کې ئې وويل: يا هغه ووژنئ يا ئې زندان ته کښېنوئ او يا ئې له مکې تبعيد کړئ، هغه او ياران ئې له مکې مکرمې هجرت ته اړ کړل؛ خو لا زيات کلونه نه وو تېر شوي چې ټول د يوسف عليه السلام د ورونو په شان، د رسول الله صلي الله عليه وسلم مخې ته ټيټ سر او شرمېدلي ودرېدل او عذر ئې ترې وغوښت او ده هم دوی ته د يوسف عليه السلام وينا تکرار کړه: (لاتثريب عليکم اليوم)؟!!

پيغمبر عليه السلام په دې ټولو خبرو باندې څنګه او له کوم ځای پوه شو؟ قرآن فرمايي: دا غيبي اخبار دي چې الله تعالی ئې د وحې په وسيله درښيي، دا قصه ښيي چې ته په رښتيا د الله رسول يې او الهي وحي ستا لاره ښوونه کوي، ځکه چې له وحې پرته څوك په غيبو باندې نه شي پوهېدی.

تا د دې قصې په ترڅ کې ستر ستر انکار نه منونکي حقائق د خلکو مخې ته ايښي، خو ډېری خلك داسې وي چې يوازې د حقائقو په ليدو او اورېدو سره ايمان نه راوړي، برهان او استدلال ئې نه شي قانع کولی، د زړه سواندو بلونکو او داعيانو هغه سخت حرص او تلوسه چې د دوی د هدايت په اړه ئې لري، دا هم د دوی د هدايت لپاره کفايت نه کوي او داسې نتيجه نه ورکوي چې د حقائقو په محض ليدلو سره ايمان راوړي او خپل زاړه او غلط افکار او عقائد شا ته وغورځوي، ډېری خلك له حاکمې وضعې سره جوړ جاړی کوي، د خپلې ټولنې له روان بهير سره خوځي، دې ته ترجيح ورکوي چې له نورو سره اوږه په اوږه پر مخ ولاړ شي که څه هم هغوی په غلطو لارو روان وي، د خپلې زمانې له غوښتنو سره ځان عادې کړي، دا نه خوښوي چې په دوی، د دوی د ټولنې په حالت او په حاکمې وضعې کې بدلون راشي، دعوتګران بايد د دې وضعې په ليدو ناهيله نه شي، هغه لږ شمېر خلك چې له حاکمې وضعې سره د ټکر جرأت، همت او شهامت لري او غواړي له روانې بدې وضعې سره مقابله وکړي، د خپلې ټولنې د ځواکمنو جاذبو له اغېز د وتلو ځواك په ځان کې ويني او د حاکم نظام په جوړښت کې او د حاکم او محکوم په وضعې کې د بدلون راوستلو ضرورت احساسوي، همدغه خلك د اسلامي نهضتونو د مشرانو او د مصلحو دعوتګرانو لپاره کافي دي، همدوی دي چې په وضعې کې بدلون راولي، د ټولنې د خوځښت مسير بدلوي او بيا هغه مخالف اکثريت هم په دوی پسې روانېږي او د دوی لار تعقيبوي.

ستا د حقانيت د اثبات لپاره دا هم کافي ده چې ته د دعوت په عوض کې له خلکو د بدلې او عوض غوښتنه نه لرې او دا د پيغمبرانو عليهم السلام او د صالحو او رښتينو بلونکو يوه ستره نښه ده، په همدې سره يو صالح او حقيقي دعوتګر له يوه ټګمار بلونکي بېلولی شو، قرآن کريم له ټولو پيغمبرانو دا قول رانقلوي چې خپلو قومونو ته ئې ويلې: له

تاسو څه طمع نه لرو، اجر او بدله نه درنه غواړو، موږ د عالميانو له پالونکي رب د اجر طمع لرو، د پيغمبرانو عليهم السلام د مواصفاتو او ځانګړتياوو د بيانولو په ترڅ کې په دې صفت ترکيز او په مکرره توګه د هغه يادونه ښيي چې دا صفت او ځانګړتيا خاص اهميت لري؛ او موږ دې ته متوجه کوي چې د مشر او لارښود په انتخاب کې بايد دې ته په جدي توګه پاملرنه وکړو او يوازې هغه څوك د مشر او د ټولنې د لارښود په توګه غوره کړو چې نه له خلکو مادي طمع لري او نه معنوي، نه دا هيله ترې لري چې وئې ستايي او مداحي ئې وکړي او نه د ځان او د خپلو خپلوانو لپاره د مادي امتيازاتو په فکر کې وي، هغه څوك چې د خلکو لارښوونه خپل ديني مسئوليت او شرعي تکليف ګڼي، اجر ئې له الله تعالی غواړي، د حق په لار کې تر نورو زياته قرباني ورکوي، نه دا چې نور خلك قربانۍ ته دعوتوي خو په خپله د نورو د خولو او وينو په بيع له جوړ شوي رنګين دسترخانه تغذيه کېږي، نه هغه چې غواړي خلك د دوی د چرچو او عياشيو په پښو کې ذبح شي، د دې لپاره قرباني ورکړي چې دوی جاه او جلال ته ورسېږي، نه هغه چې غواړي په جامو او خوړو کې تر نورو امتيازات ولري او د اوسېدو ځای ئې تر نورو غوره او مرفه وي.

وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ
﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ أَفَأَمِنُوٓا۟ أَن تَأْتِيَهُمْ
غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾

او په آسمانونو او زمکې کې څومره داسې نښې، نښانې شته چې دوی پرې تېرېږي (ويني ئې او احساسوي ئې) خو دوی (له اعتناء او تأمل پرته) مخ ترې اړوي. او ډېری ئې پر الله ايمان نه راوړي؛ مګر دا چې شرك کوونکي وي. آيا له دې ځان خوندي ګڼي چې د کوم الهي عذاب سيوری پرې وغوړېږي او يا قيامت په داسې حال کې ناڅاپه پرې راشي چې بې خبره وي.

(۱۰۵-۱۰۷)- په آسمانونو او زمکې کې ډېرې داسې خورې نښې نښانې تر سترګو کېږي چې د زمانې په اوږدو کې په وار وار ځان ښيي، راښکاره کېږي او اوړي رااوړي چې انسان د الله تعالی په لورې بلي، حق ته بلنه ورکوي، د کفر له بدو پايلو وېرول کوي او عبرتناکې پايلې ئې انسان ته انځوروي؛ خو ډېری خلك د دغو نښو نښانو تر څنګ په بې پروايۍ او بې باکۍ سره تېرېږي، نه فکر په کې کوي او نه عبرت ترې اخلي.

که چېرې انسان د خپل چاپېريال ښکارندو مظاهرو ته لږ ځير شي او د خپلو کړنو په تاريخي ښېلګو لږ غور او فکر وکړي، په زرګونو بلونکې او داعيان به په کې مومي چې دی د الله تعالی لورې او لارې ته دعوتوي او د سمې لارې په تشخيص او ټاکنې کې ئې مرستې ته

ورځي. خو ډېر لږ کسان دا کفائت او اهليت تر لاسه کوي، د دغو محدودو وګړو له جملې چې ايمان راوړي، ډېرى ئې مشرك شي او خپل ايمان د شرك په ګندګيو لړي، ځيني ئې داسي وي چې د الله تعالى په څنګ کې له غير الله هم طمع لري، مرسته ترې غواړي او د هغوى کورګي ته پناه وړي، ځيني ئې له غير الله داسي وېرېږي لکه له الله تعالى، ځيني ئې له غير الله سره داسي مينه کوي چې داسي مينه او محبت يوازې له الله تعالى سره ښايي، يوه ډله ئې د غير الله په وړاندې داسي منقاد او فرمان وړونکي وي چې داسي انقياد له الله تعالى پرته بل چا ته جواز نه لري... د مشرکو وګړو په پرتله د هغو سوچه او مخلصو مسلمانانو شمېر چې ايمان ئې په شرك نه دئ لړل شوى، دومره دئ لکه د دنګو دنګو غرونو په ډېرو بې ارزښتو ډېرو کې د قيمتي کاڼو شمېر!!

دغه کافر او مشرك عناصر چې د پيغمبرانو عليهم السلام له دعوت سره مخالفت ته ملا ترې او له حق دين سره جنګېږي، څه شي له الهي عذابه ډاډه کړي؟ ولې د قيامت له ناڅاپي راتګ د امنيت احساس کوي؟ آيا دې خبرې بې باکه کړي او د ګناه کولو جسارت ئې ورکړى چې له الهي عذابه وېره نه لري او ځان خوندي ګڼي او د قيامت په ناڅاپي راتلو باور نه لري؟! دا څومره بې بنياده ډاډ دئ او دا څومره جاهلانه بې باکي!!

---

قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ
وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِم مِّنْ
أَهْلِ ٱلْقُرَىٰٓ ۗ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن
قَبْلِهِمْ ۗ وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠٩﴾

ورته ووايه: همدا مي لاره ده، د الله لور ته په بصيرت سره بلنه ورکوم، زه هم او هغه هم چې زما متابعت کوي؛ او زه له مشرکانو نه يم. او له تا مخکې مو چې له کليوالو څوك لېږلي او وحي مو ورته کړې له سړو پرته بل څوك (فرشتې) نه ول؛ آيا د زمکې پر مخ نه دي ګرځېدلي او نه ئې دي ليدلي چې تر دوى د مخکينيو پايله څنګه وه؟ او د استوګني اخروي ځاى خو د هغو لپاره ډېر غوره دئ چې تقوى ئې کوله، آيا تعقل نه کوئ؟

---

(۱۰۸-۱۰۹)- دوى ته ووايه: موږ له تاسو خپله لار بېله کړې، زه او زما پلويان په بصيرت او پوهي سره د الله لوري ته بلنه ورکوو، الله تعالى له هر عيب او نقص پاك ګڼو او له شرك ځان ساتو، موږ په کائناتو کې د ژور غور او د تاريخ د دقيقي څېړني او مطالعې په نتيجه کې خپله لار ټاکلې ده، د الله تعالى د قدرت له نښو نښانو د ړندو په څېر سطحي نه

تېرېږو، د دغو ښو نښانو پیغامونه په غور او تعمق سره اورو او د هغوی په رڼا کې خپله لار ټاکو.

دا دعوت او بلنه نوې نه ده، له دې مخکې هم ډېر ستر ستر شخصیتونه تېر شوي چې په وحي سره به ئې لارښوونه کېده، آیا ستا مخالفین او هغه څواکونه چې ستا دعوت دروغ گڼي او ستا پر ضد د جنگ جبهه پرانیزي، له تاریخي حوادثو او د خپلو پخوانیو کافرو او مشرکو ملگرو له بدو پایلو عبرت نه اخلي؟!! آیا په دې نه پوهېږي چې وروستی بری به هرو مرو د حقپالو په برخه کېږي، په دنیا کې هم او په آخرت کې هم او اخروي اجر خو به ئې د دنیا په پرتله ډېر ډېر غوره وي؟!!

---

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١١٠﴾ لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١١١﴾

تر هغه چې پیغمبران ناهیلي شوي او انگېرلې ئې ده چې درواغجن انتظار تېر ایستي دي، ناڅاپه زموږ نصرت او مرسته وررسېدلې او هغه څوك ژغورل شوی چې موږ غوښتل او زموږ عذاب له مجرمینو نه شي ایسارېدی. یقیناً چې د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانگړی پند او عبرت (پروت) دئ، دا هسې له ځانه جوړه شوې وینا نه ده، بلکې تر ځان د مخکینیو تصدیق او تأیید دئ او د هر څه تفصیل او د ایمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

---

(۱۱۰-۱۱۱)- دا یوازې ته نه یې چې له ستونزو، کړاوونو او مخالفتونو سره مخامخ یې، په ډېرو پیغمبرانو باندې داسې سخت او له زغملو اوچت کړاوونه راغلي او د مخالفینو له داسې شدید مخالفت سره مخامخ شوي چې د اولواالعزمه پیغمبرانو علیهم السلام د یأس او ناامېدۍ اسباب ئې برابر کړي، هغوې له داسې وضعې سره مخامخ شوي چې گمان ئې کړی د دعوت د بریا په اړه د دوی باور له گمان او غولوونکو هیلو پرته بل څه نه وو، ځان ئې په کلکې محاصرې کې موندلی، ټولې لارې ئې پر خپلې مخې بندې لیدلې او د بري امکان او احتمال ورته په نشت برابر او محال معلوم شوی. په همدغسې یوې ستونزمنې او له کړاوونو ډکې مرحلې کې الهي مرسته وررسېدلې، یأس او ناامېدي ئې ختمه شوې او مخکینۍ هیلې ئې رښتینې ختلې، د نجات بېړۍ ئې له طوفانونو تېره شوې او د نجات او بریا ساحل ته رسېدلې او په همدغې مرحلې کې د دوی پر دښمنانو او مخالفینو باندې

الهي عذاب نازل شوی او په کلکه مؤاخذه شوي. تر هغه چې پیغمبران نه دي مأیوس شوي، د دعوت کار ئې پر مخ بوولی؛ او د خپل قوم له هدایت ئې طمع نه ده شکېدلې، الله تعالی د دوی پر مخالفینو د عذاب لېږل ځنډولی، خو کله چې قوم دوی ته د رد ځواب ورکړی، دوی ئې رټلي، شړلي او د دوی په خلاف ئې د جنګ جبهه پرانیستې، الهي عذاب پرې نازل شوی، مهلت ئې پای ته رسېدلی او ټغر ئې ټول شوی.

قرآن چې کومې تاریخي قصې زموږ مخې ته ایښې دي، د تاریخ په لوړو ژورو کې د حق او باطل تر منځ د تصادم او نښتو کومې پېښې ئې بیان کړې دي، په دې کې د عقل خاوندانو ته عبرتناك درسونه دي، دا د نورو کتابونو د هغو قصو په څېر مه ګڼئ چې قصه خوښو له ځانه جوړې کړې، قرآن د تاریخ د ټولو دردمنو، زړه سواندو او صالحو بلونکو او دعوتګرانو او د دوی د رښتیني الهي دعوت تصدیق کوي، هر څه ئې په ډېر دقت او تفصیل سره بیان کړي، ځوك چې د حق په لټه کې وي او پر حقائقو د ایمان راوړلو اراده لري، دا کتاب به ئې لارښود وي او د ده لپاره د الله تعالی د رحمت او پېرزوینې ډالۍ.

بایبل د دې قصې په پای کې لیکي: (یوسف د کورنۍ غړو ته وویل: زه فرعون ته وایم چې تاسو شپني کوله، دا دنده له نیکونو په میراث درته پاته ده... اوس له خپلو رمو سره مصر ته راغلي یئ... تاسو به هم فرعون ته همدا خبره وکړئ... که دا ځواب ورکړئ نو هغه به اجازه درکړي چې په جوشن کې پاته شئ... د نورو سیمو خلك له شپنو کرکه لري... فرعون دوی ته په جوشن کې د پاته کېدو اجازه ورکړه...یوسف خپل پلار هم فرعون ته راوست او هغه فرعون ته برکت ورکړ!!... قحطي ورځ په ورځ زیاتېده... یوسف د مصر او کنعان د خلکو ټولې پیسې د غلې په بدل کې تر لاسه او د فرعون په خزانه کې ئې جمع کړې... کله چې د خلکو پیسې ختمې شوې، یوسف ورته وویل: څاروي مو راکړئ چې په بدل کې ئې غله درکړم...دوی مجبور وو... د یوه کال غلې په بدل کې د ولس ټول څاروي د فرعون په واك کې شول... خلك بیا راغلل، غله ئې وغوښته او وئې ویل چې اوس خو نه پیسې لرو او نه څاروي، له ځان او زمکو پرته بل څه نه دي راته پاته... یوسف د دوی ټولې زمکې د فرعون لپاره ترې واخیستې... او په دې توګه ټول مصریان د فرعون غلامان شول...یوسف یوازې د کاهنانو زمکې ترې وانخیستې، دا ځکه چې هغوی ته ئې وړیا خواړه ورکول نو د خپلو زمکو پلورلو ته اړ نه ول...نو یوسف خلکو ته وویل: ما تاسې او ستاسو زمکې د فرعون لپاره پېرلې اوس به تاسو ته تخم درکوم چې وئې کرئ او د لو په مهال به پنځمه برخه فرعون ته ورکوئ او پاته به ئې ستاسو او ستاسو د څارویو خوراك او د راتلونکي کال د تخم لپاره وي... دوی ورته وویل: تا راسره ښېګڼه کړې ده، موږ راضي یو چې له دې وروسته د فرعون غلامان وو!! )

ګورئ چې بایبل یوسف علیه السلام د یوه داسې انسان په څېره کې انځور کړی چې د فرعون خادم دئ، د ولس له مجبوریتونو ئې د فرعون په ګټه استفاده وکړه، د ولس هر

ځه ئې ترې واخیستل او د فرعون په واك کې ئې ورکړل او ټول مصریان ئې د ده غلامان کړل!! آیا تر دې د ستر ظلم او تېرې تصور کېدی شي؟ آیا داسې انسان تر فرعون هم لوی ظالم نه دئ؟ آیا دا ممکنه ده چې عادل او مهربان خدای داسې څوك په پیغمبرۍ غوره کړي؟!! له دې دروغجنې وینا د بایبل د لیکونکي موخه دا ده چې خپلو پلویانو ته ووایي: مهمه دا ده چې اسرائیلیان وژغورل شي، که په هره بیع وي، حتی د فرعون د ملگرتیا په بیع او حتی د فرعون پښو ته د یوه لوی ولس د غورځولو او د دوی په غاړه کې د غلامۍ د کړۍ اچولو په بیع!! ځکه چې ستاسو جد یوسف علیه السلام همداسې کړي وو!! ښایي یهودي مارکس او هیگل د زمکو د دولتي کولو نظریه د بایبل له دغې برخې اخیستې وي!! خو تاسو د بایبل دا نظر له اسلام سره مقایسه کړئ چې وایي، زمکه د هغه چا ده چې کري ئې!! واکمن د خلکو له شتمنیو یوازې عشر او زکات تر لاسه کولی شي، خو دا د واکمن حق نه بلکې د (فقیر او مسکین) حق دئ چې حکومت ئې له شتمنو اخلي او په نېستمنو ئې وېشي. قرآن دا د یوه ظالم او فرعوني نظام ځانگړتیا گڼي چې واکمن ئې ځان ته ټولواك وایي او د ملك او ولس ټولې شتمنۍ د ځان بولي، قرآن پیغمبران علیهم السلام او د دوی تگلاره د موسی علیه السلام په څېره کې داسې انځوروي چې هم د ظالم فرعون، هم د ټگمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، یو ئې د ظالمانه اقتدار بېلگه، بل ئې د ټگمارو مذهبي مشرانو بېلگه او دریم ئې د حریصو شتمنو او بډایانو بېلگه. قرآن وایي چې د تاریخ په اوږدو کې تل دغو دریو طبقو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې، خو بایبل یوسف علیه السلام د فرعون او کاهنانو ملگری معرفي کوي، د فرعون په گټه د عام ولس شتمنۍ مصادره کوي او کاهنانو ته امتیازات ورکوي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته او نه د دوی لپاره ځانگړي امتیازات، اسلام فرعوني نظام په دې خاطر محکوموي چې خلك ئې په ډلو ډلو وېشلي وو، طبقاتي نظام ئې رامنځته کړی وو، چارواکو ځان ټولواك گاڼو او د ولس په شتمنیو کې ئې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکاوو.

بایبل دا قصه او د (پیداېښت) کتاب په دې بېهوده خبرو پای ته رسوي:

(یعقوب له مرگ مخکې یوسف ته وویل: لوړه وکړه چې ما به په کنعان کې ښخوې... د ده دوو زامنو ته ئې برکت ورکړ... د کشر پر سر ئې ښی لاس او د مشر پر سر ئې کیڼ لاس ایښی وو... یوسف وویل: پلاره تا اشتباه کړې... ښی لاس د مشر پر سره کښېږده... هغه ورته وویل: زه پوهېږم چې څه کوم... کشر به تر ده مخور او ستر وي او د ډېرو ولسونو پلار به وي... یوسف ته ئې وویل: زه خپله ټوله زمکه هم تا ته سپارم... زامنو ته ئې وویل: زما خوا ته راغونډ شئ چې درته ووایم پر تاسو به څه حالت راشي!!... رؤبې ته ئې وویل: ته د سیند د څپو په څېر څپانده یې... خو په دې خاطر چې زما پر یوې مېرمنې دې جنسي تېری کړی له دې وروسته به په خپلو وروڼو برلاسی نه یې... شمعون او لاوي ته ئې وویل: تاسو بې رحمه او بې انصافه یئ... یهودا د زمري د هغه بچي په څېر دئ چې له ښکاره وروسته وېده شوی وي، څوك دا جرأت کولی شي چې هغه راویښ کړي... د

سلطنت او پاچایۍ عصا به تل د ده په لاس کې وي... بولون به د دریا ساحل کې مېشت شي...یساکار د بار وړونکي حیوان په څېر دئ...دان د هغه مار په څېر دئ چې په لارې کې د آسونو پښې چیچي... په جاد باندې به بریدونه وشي... اشې به ښېرازه زمکې لري...نفتالي هغه غرڅه دئ چې ښکلي بچیان زېږوي...یوسف هغه مېوه لرونکې ونه ده چې د ویالې پر غاړه ئې څانگو سیورى غوړولى وي... بنیامین د څیرونکي لېوه په څېر دئ چې په سباوون کې خپل دښمنان داړي او ماښام هغه څه وېشي چې تر لاسه کړي ئې دي!!! بیا د یعقوب علیه السلام او یوسف علیه السلام د مړینې خبره کوي او په همدې سره دا قصه او دا کتاب پای ته رسوي.

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: که دا د برکت ورکولو خبره رښتیا وى او یعقوب علیه السلام د دې واك او اختیار درلودى چې چا ته برکت ورکړي او بختور ئې کړي، نو آیا ده به د خپلې کورنۍ له کوم غړي سپمولى وو؟ آیا دا مجال به پاته وو چې ځیني ترې محروم شي؟ ولې به ئې د ځینو په اړه هغه خبرې کولې چې بایبل ئې ادعاء کوي؟ هیڅ پلار نه غواړي چې ځیني زامن ئې ښه او ځیني بد وي، پلار د خپل هیڅ زوى بدبختي او له سعادت محرومیت نه خوښوي!! د بایبل دا خبره بې بنسټه او واهي ده چې د ښه پلار ټول اولاد به ښه وي او د بد پلار نسل به ټول بد وي، که داسې وى نو د یعقوب علیه السلام په ټول اولاد کې به یو هم داسې نه پیدا کېدو چې د بایبل په وینا ئې ورته ښېرا کړې او بد ئې گڼلى!! د انسان ښه والى او بد والى د ده په تربیې او روزنې پورې تړلى دئ، هیڅوك له خپلې مور شریر او بد دنیا ته نه راځي او هیڅوك په دې وجه له نورو غوره نه شي کېدى چې په ځانگړې کورنۍ کې پیدا شوى، د آذر په کور کې ابراهیم پیدا کېږي او د نوح په کور کې داسې زوى او مېرمن چې د ده په ځاى د کافرانو ملگرتیا کوي.

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: آیا ممکنه ده چې د یعقوب علیه السلام په څېر ستر شخصیت دې د خپلو زامنو په وړاندې یوه زوى ته گوته ونیسي او ودې وایې: ده زما په مېرمنې تېرى کړى؟!! آیا کوم شریف انسان به داسې بد زوى له ځان سره وساتي؟ آیا کوم غیرتي ورور به داسې بدکار ورور په خپلې خوا کې ومني او له هغه سره به گډ ژوند ته تیار شي؟!! تاسو به په بایبل کې دا وگورئ چې د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام په ضد ئې ډېرې کرکجنې خبرې کړې دي او هر یو ئې په یوې او بلې گناه متهم کړى، دا ښیې چې بایبل د کوم مسیحي لخوا نه بلکې د مسیحیت د ستر دښمن له لورې لیکل شوى، زه په ډېر ډاډ او یقین سره ویلى شم چې بایبل د رومیانو په لارښوونه او لگښت او د پولس په څېر د داسې خلکو په لاس لیکل شوى چې د رومیانو له لورې د همدې کار لپاره گمارل شوي او وظیفه ورکړى شوې چې د مسیحیانو ټول پیغمبران او لوړ لوړ شخصیتونه په سترو سترو گناهونو متهم کړي، ما په ټول بایبل کې له آدم علیه السلام تر ابراهیم علیه السلام او عیسى علیه السلام پورې داسې کوم پیغمبر ونه موندو چې بایبل دې روغ پرېښى وي او هغه دې په کومې سترې گناه او غلطۍ نه وي متهم کړى!! څنگه ممکنه ده چې یو خداى پال انسان

به د الله تعالی د پاك لمنو او معصومو رسولانو په اړه داسې جسارت كوي او دوی به په داسې لويو لويو گناهونو تورنوي؟!! ستونزه دا ده چې بني اسرائيل په وار وار له داسې پېښو او بدو ورځو سره مخامخ شوي چې ټول مذهبي كتابونه ئې د دښمنانو په لاس سوزېدلي، معابد ئې وران شوي، د خپل ملك پرېښودو ته اړ شوي؛ او دښمن توانېدلی چې د دوی د مخكينيو مذهبي كتابونو په ځای د بايبل په څېر كتابونه په دوی كې رائج كړي، د بايبل اصلي عبري نسخه نشته، دا اوسنۍ عبري نسخه ئې له يوناني ژباړل شوې، نو ځكه گورو چې په دې كتاب كې د اصلي بايبل ډېره لږه برخه هم نه موندل كېږي، له بې شمېره خرافاتو او د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه له كركجنو تورونو ډك دئ.

قرآن د بايبل د دې بېهوده ويناوو او يعقوب عليه السلام ته د داسې پوچو او سپكو خبرو او بې بنسټو وړاندوينو د منسوبولو په خلاف فرمايي چې يعقوب عليه السلام له مرگ مخكې خپل زامن راغونډ كړل او ورته ئې وويل: له ما وروسته به د چا عبادت كوئ؟ هغوی په ځواب كې وويل: د هغه يوازيني رب عبادت به كوو چې ستا او ستا د پلرونو ابراهيم، اسمعيل او اسحاق رب دئ او موږ ورته منقاد يو. او بيا د مخكينيو شخصيتونو په اړه د بحث په اړه يوه ډېره جامع لارښوونه كوي او د هغو خلكو غلطي انگېرنې تصحيح كوي چې نېكو شخصيتونو ته د ځان منسوبولو له لارې د امتيازاتو تر لاسه كول او ځان تر نورو غوره ثابتول غواړي، دغه غلطه انگېرنه ده چې قومي او نژادي تعصبات زېږوي او د سترو سترو فتنو او لويو لويو جگړو باعث گرځي، قرآن فرمايي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلاَ تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾ البقرة: ٢٨٦

دا يوه ډله وه چې تېره شوه، دوی ته خپلې لاسته راوړنې دي او تاسو ته خپلې (دوی به د خپلو كړو وړو بدله تر لاسه كوي او تاسو د خپلو كړو وړو)، له تاسو دا پوښتنه نه كېږي چې هغوی څه كول؟!!

يعني هر څوك به د خپلو عملونو په اړه پوښتل كېږي، نه يو د بل ځواب وركولی شي او نه يو د بل د كړو وړو په وجه مكافات او مجازات كېږي!! او دا د بايبل د ليكونكي او د بايبل د منونكو او د ټولو هغو خلكو په خولې ستر او سخت گوزار دئ چې په نسلي امتيازاتو باور لري او گمان كوي چې معنوي او مذهبي مقام او منزلت يو داسې موروثي توكی دئ چې له پلاره اولاد ته انتقالېږي، لكه څنگه چې د بايبل بنسټ په همدې غلطي انگېرنې اېښودل شوی، په ټولو جاهلانه او محرفو مذهبونو كې به وگورئ چې دا انگېرنه ئې بنسټ دئ، مذهبي او معنوي مقام موروثي توكی گڼي، په نسلي امتيازاتو باور لري، يوه خاص ټبر ته پر نورو ترجيح وركوي، د عمل او عقيدې پر ځای نژادي اړيكي او معروفو شخصيتونو ته انتساب خدای ته د تقرب وسيله بولي، په ټولو دغو محرفو مذاهبو كې دا

خبره شریکه ده چې خدای له یوه خاص توکم سره خاص تعلقات لري، هغه ورته تر نورو نازولی دئ، خدای ټول خلك یو برابرنه دي پیدا کړي، ټول توکمونه یو شانته نه دي، د دغو مذهبونو توپیر یوازې په دې کې دئ چې هر یو خپل خاص او ځانګړی توکم د خدای نازولی توکم ګڼي.

د سم او ناسم مذهب، صحیح او ناصحیح مسلك، اصلي او جعلي دین تر منځ د قضاوت په اړه دا د یوه ستر اصل په توګه په پام کې ولرئ چې: کوم یو ئې په توکمیز توپیر باور لري او خاص توکم ته پر نورو ترجیح ورکوي او کوم یو ټول انسانان برابر او د یوه پلار اولاد ګڼي، کوم یو مذهبي مقام موروثي توکی ګڼي او کوم یو ئې د انسان عمل او عقیده د ده د معنوي مقام او منزلت معیار ګڼي، ناسم مذهب هغه دئ چې د معنوي مقام په اړه د بابیل په څېر قضاوت کوي او سالم مذهب هغه دئ چې قضاوت ئې قرآن ته ورته وي او وایي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلاَ تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الرعد

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم الرعد دئ چې د سورې له ۱۳ آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، دري څلوېښت آیتونه لري، د سورې له مضامینو معلومېږي چې د مکي دور په هغو وروستیو کلونو کې نازله شوې چې د الاعراف، یونس او هود سورتونه په کې نازل شوي. د آیتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: یؤمنون او عقاب ته ورته؛ لومړي پنځه آیتونه ئې د لومړي آیت په څېر یؤمنون ته په ورته او هموزنه صیغو پای ته رسېدلي او پاته اته دېرش ئې د شپږم آیت په څېر عقاب ته ورته وزن لري. یوازې ۲۸ آیت ئې په قلوب پای ته رسېدلی خو دا له ورپسې آیت سره تړلی دئ او په ګډه په مَـَٔابٍ پای ته رسي.

لکه چې دا سوره په څلورو حروفو (ا، ل، م، ر) پیل شوې د سورې محوري او اساسي مضامین هم څلور دي چې دا اساسي مضامین د سورې په لومړیو آیتونو کې په دې توګه راغلي:

دا د همغه کتاب آیتونه دي؛ او څه چې ستا د رب له لوري درته نازل شوي رښتیني دي.

خو ډېری وګړي ايمان نه راوړي.

هغه الله چي آسمانونه ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړل چي تاسو ئې وينئ؛ بيا پر عرش برابر شو او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړل، هر يو له ټاکلې نېټې سره سم درومي؛ کارونه سمبالوي.

آيتونه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چي د خپل رب په ملاقات يقين وکړئ. د سورې تر پای پوري به وګورئ چي د بحث اساسي موضوعات ئې همدا دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ۝٢

ا، ل، م، ر، دا د همغه کتاب آيتونه دي؛ او څه چي ستا د رب له لوري درته نازل شوي رښتيني دي؛ خو ډېری وګړي ايمان نه راوړي. هغه الله چي آسمانونه ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړل چي تاسو ئې وينئ، بيا پر عرش برابر شو او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړل، هر يو له ټاکلې نېټې سره سم درومي؛ کارونه سمبالوي، آيتونه په تفصيل سره بيانوي؛ د دې لپاره چي د خپل رب په ملاقات يقين وکړئ.

(۱-۲)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمي لارښووني شوې:

- دا د هغه کتاب آيتونه دي چي ستا د رب له لوري درباندي نازل شوی؛ له متن، محتوی او الفاظو ئې معلومېږي چي دا ستا د رب له لوري نازل شوی. رښتينی کتاب چي حقائق ستا مخي ته ږدي.

- ډېری انسانان داسي دي چي د حقيقت منلو ته چمتو نه دي، له يوې خوا ئې جني او انسي شيطانان د حق منلو ته نه پرېږدي او له بلې خوا ئې د دوی هوی او هوس.

- دا کتاب د هغه الله له لوري نازل شوی چي دا لوړ آسمان ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړی چي ليدی شي، په (ترونها) کې ضمير (عمد) ته راجع دئ؛ يعني ستني شته خو تاسو ئې نه وينئ؛ تَرَوْنَهَا رَاجِعَةٌ إِلَى الْعُمُدِ، مَعْنَاهُ: لَهَا عُمُدٌ وَلَكِنْ لَا تَرَوْنَهَا، او دا هغه علمي

حقيقت دئ چې د قرآن بل علمي ستر اعجاز زموږ مخې ته ږدي؛ انسان نن په دې حقيقت پوه شوی چې د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسې نامرئي ځواك شته چې كه دا نه وی او يا له اوسني حالت څواكمن او يا كمزوری وی نو د عالم دا موجود نظام پايښت نه شو موندلی، يا به يوه بل جذبولو او يا به داسې خواره واره كېدل چې ټول نظام به له منځه تلو. كه تاسو يوه ساينسپوه ته ووايئ چې زموږ په هغه مذهبي كتاب كې چې څوارلس پېړۍ وړاندې نازل شوی راغلي چې آسمان پر داسې ستنو لوړ ساتل شوی چې نه ليدل كېږي، نو يقيناً هغه به له ځنډه پرته تاسو ته ووايي: پر دې حقيقت انسانان په نولسمې پېړۍ كې پوه شول، تر دې وړاندې هيڅوك نه پرې پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسې ځواك د شته والي تصور ئې هم نه شو كولی.

- الله تعالی نه يوازې خالق دئ او دا آسمانونه ئې پيدا او لوړ كړي؛ بلكې د دې پراخ عالم ټولواك، مالك او حاكم هم دئ، د دې عالم د واكمنۍ او سمبالولو چارې د ده په واك كې دي، د عالم له پيدا كولو وروسته ئې ټولې چارې په خپل لاس كې ونيولې، د لمر او سپوږمۍ تسخير، په خاص خاص مدار كې د هغوی خوځېدا او په خپل حركت كې د ټاكلو نېټو التزام؛ د الله تعالی د واكمنۍ او د عالم د چارو د سمبالولو ښېلگې دي. د عالم له پيدايښت وروسته د ټولواكۍ پر عرش د الله تعالی د استوی معنی همدا ده.

- دا آيتونه د دې لپاره ستاسو مخې ته ږدي چې له الله تعالی سره په مخامخېدو باور وكړئ، داسې ونه انگېرئ چې تاسو او ستاسو دا پراخ عالم نه كوم خالق لري، نه كوم ټولواك او نه كوم سمبالوونكی؛ هر څه په خپله پيدا شوي، خپلې مخې ته پرېښودل شوي، نه پوښتنه ترې كېږي، نه محاسبه ورسره كېږي، نه ئې د ښه عمل بدله وركول كېږي او نه ئې د بد عمل سزا، دا كچه او غلطه انگېرنه له هغه څه سره اړخ نه لگوي چې هر عاقل انسان ئې په دې پراخ عالم كې هر لورې ته په خپلو سترگو گوري. كه د عالم هر څه د يوه ځانگړي هدف لپاره پيدا شوي، په دې پراخ عالم كې نه اضافي شیء موندی شو، نه د كوم ضروري شي تشه او خلاء په گوته كوی شو او نه كوم بې هدف او خوشې شیء ښودی شو، لمر او سپوږمۍ چې د آسمان د بې شمېره اجرامو دوه څرگندې ښېلگې دي په منظمه توگه او د خاصې نېټې په مراعات سره خوځي، طلوع او غروب ئې د دقيق نظم مطابق او د يوه ستر مقصد لپاره تر سره كېږي، كوم عقل به دا چټې او غلطه خبره ومني چې دا عالم په خپله پيدا شوی، خپلې مخې ته پرېښودی شوی، نه حكيم او عليم خالق لري او نه څواكمن پالونكی او ساتونكی، نه پوښتنه كوي او نه مكافات او مجازات!!

---

وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۡهَٰرًاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِى ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ

﴿٣﴾

او دى همغه ذات دئ چي زمكه ئې خوره كړه او په هغې كې ئې لنگرونه (غرونه) او نهرونه جوړ كړل؛ او په هغې كې ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا كړه، شپه پر ورځ راكاږي، يقيناً چي په دې كې د تفكر كوونكو وگړو لپاره نښې دي.

(٣)- د الله تعالى د ټولواكۍ او چارو سمبالولو نوري بېلگي دا دي چي زمكه ئې خوره كړه، په هغې كې ئې غرونه او نهرونه جوړ كړل، په هغې كې ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا كړه او شپه پر ورځ راكاږي. زمكه داسي جوړه شوې چي ځيني برخي ئې آواري دي او ځيني لوړي او غرونه، د زمكي دا جوړښت د دې سبب شوى چي هم نهرونه، چينې او كاريزونه په كې وبهېږي او آواري زمكي خړوبي كړي او هم داسي بېلي بېلي سيمي او موسمي حالت په كې راپيدا شي چي د راز راز بوټو او ونو د ټوكېدو او ودي لپاره ضروري دي، كه زمكه داسي نه وى نو نه به نهرونه بهېدل او نه به بېل بېل موسمونه ول او نه رنگ رنگ بوټي او وني.

په دې مبارك آيت كې د قرآن د يوه بل ستر علمي اعجاز شاهد يو، قرآن وايي چي د هري مېوې دوه گونې جوړه ئې راپيدا كړه؛ تر دې وروستيو پوري هيڅوك په دې نه پوهېدو چي د ژوو او حيواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) كې هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځي د نطفو له يو ځاى كېدو پيدا كېږي، د دوى إلقاح يا د بادونو په واسطه تر سره كېږي او يا د موچيو په څېر حشراتو په واسطه. كه تاسو د قرآن دا وينا هم د كوم ساينس پوه مخي ته كښېږدئ نو يقيناً چي دا به د قرآن يو ستر علمي اعجاز گڼي.

قرآن دلته د جوړه جوړه مېوو راپيدا كولو تر څنگ د شپې او ورځي تلو راتلو ته اشاره كوي او ښيي چي دا هم د مېوو په پيدا كېدو كې يو مهم عنصر دئ؛ او دا يو بل ستر علمي حقيقت دئ چي انسان ډېر وروسته پرې پوه شوى، كه د شپې او ورځي دا خاص نظام نه وى نو د زمكي پر سر به نه يو بوټى راټوكېدلى وو او نه يو ژوى، د شپې او ورځي دغه نظام د زمكي پر سر هغه شرائط برابر كړي چي بوټي او ژوي ورته ضرورت لري. كه ورځ نه وى، يا لنډه يا اوږده وى؛ نو د زمكي پر سر نه ژوند ممكن وو او نه د ژوو پيدا كېدا، كه شپه نه وى يا لنډه يا اوږده وى نو زمكه به تر ضروري حد يا ډېره توده يا ډېره سړه وه چي نه به حيوانات په كې پيدا كېدل او نه نباتات، همغسي لكه چي د آسمان په نورو ستورو كې د شپې او ورځي تر منځ د خاص او ضروري تناسب د نشتوالي له كبله هلته د ژوند شرائط مساعد نه دي.

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ

صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٤﴾

او په زمكې كې څنگ په څنگ پرتې ټوټې دي او د انگورو باغونه او كښتونه او د كجورو گڼ بنستي او بېل بنستي وني چې په يو ډول اوبو خړوبېږي، په داسې حال كې چې ځينو ته پر ځينو نورو د خوراك (مېوو) له پلوه فضيلت وركوو، يقيناً چې په دې كې د تعقل كوونكو وگړو لپاره څرگندې نښې دي.

---

(٤)- د دې مبارك آيت مهمې لارښوونې دا دي:

● ښوك چې په سطحي نظر د زمكې مخ ته گوري داسې انگېرې چې ټوله زمكه به د جوړښت او تركيب له پلوه سره ورته وي، خو كه په علمي نظر او دقت سره د زمكې د بېلو بېلو برخو تركيب ته ځير شو نو دا حقيقت راته جوت كېږي چې د زمكې برنۍ سطحه له داسې بېلو بېلو ټوټو جوړه شوې چې د تركيب له پلوه يوه له بلې سره ژور توپيرونه لري، دا هغه حقيقت دئ چې قرآن په پورتني آيت كې ورته اشاره كړې او انسان هغه مهال پرې پوه شو چې د خاورې د تركيب معلومولو مخكې تللي وسائل او پوهه په لاس ورغله؛ او يقيناً چې دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ. په نولسمې پېړۍ كې انسان له علمي پلوه هغه پوړ ته ورسېد چې په دې حقيقت پوه شي؛ اوس ورته جوته شوې چې د زمكې ځيني برخې داسې دي چې په تركيب كې ئې يو عنصر زيات دئ او د بلې په تركيب كې بل عنصر، په ځينو كې مس زيات دي، په ځينو كې اوسپنه زياته ده او په ځينو كې سره او سپين زر؛ او دې ته ورته د نورو عناصرو د تناسب له پلوه توپيرونه، همدغه توپيرونه د دې باعث شوي چې په يوې سيمې كې يو ډول بوټي او وني راټوكېږي او وده كوي او په بلې كې بل ډول، د يو ډول ونو مېوې به په يوې سيمې كې يو ډول خوند لري او په بلې كې بل ډول، نه يوازې د خوند له پلوه به يوه له بلې توپير لري بلكې د گټې له پلوه يوه پر بلې فضيلت لري. د خوند په توپير هر ښوك پوهېدی شي خو د گټې له پلوه د دوی تر منځ پر توپيرونو پوهېدا نه يوازې گران كار دئ بلكې له نولسمې پېړۍ مخكې انسان ته قطعاً ممكنه نه وه، د قرآن دا وينا له شك پرته يو بل ستر علمي اعجاز دئ چې وايي: ځينو مېوو ته پر نورو د خوراك له پلوه فضيلت وركوو او يقيناً چې د عقل خاوندانو ته په دې وينا او دې حقيقت كې ډېرې نښې دي.

● د دې لپاره چې دا موضوع لا زياته واضح شي دوه مثالونه ئې وړاندې كوم: د كابل په جنوب كې د عينك په نامه د زمكې يوه ټوټه ده چې په تركيب كې ئې د مسو كچه ډېره لوړه ده، د دې ټوټې طول، عرض او ضخامت معلوم دئ، د ټولو موادو او په هغوی كې د مسو تخميني اندازه هم معلومه شوې، د همدې معلوماتو له مخې يوې چينايي كمپنۍ د مسو

د رایستلو معاهده امضاء او عملاً ئې کار پیل کړ. بل مثال ئې د کابل په شمال غرب کې د حاجي ګك سیمه ده چې د اوسپنې ستر کان په کې موندل شوی، د دې سیمې اوږدوالی، سور او پرېړوالی هم معلوم شوی او د اوسپنې تخمیني اندازه هم معلومه شوې، دا معلومات د نړۍ سترو سترو شرکتونو ته وړاندې شوی، چې له مخې به ئې د اوسپنې د استخراج معاهده لاسلیك کېږي، د دې دواړو ټوټو تر منځ د زمکې نورې ټوټې دي چې ترکیب ئې له دوی دواړو ځانګړې توپیرونه لري. خو دا چې دا بېلې بېلې ټوټې د زمکې د لومړني پیدایښت په وخت کې رامنځته شوې که وروسته، باید ووایو چې په لومړي سر کې د زمکې برنۍ سطحه یو ډول وه، ورو ورو په هغې کې تغییرات راغلي، دا بېلې بېلې ټوټې د هغو چاودنو په لړ کې رامنځه شوې چې د زمکې برنۍ قشر ئې مات کړی، د زمکې د زړه ویلې مواد بهر راوتلي، د زمکې پر سر خواره شوي او یوه خاصه سیمه ئې لاندې کړې، په دې ویلې موادو کې کله د یوه عنصر کچه زیاته وه او کله د بل، له همدې کبله یوه سیمه او د موادو ترکیب ئې له بلې توپیر لري.

- که څوك ووایي: دا مېوه تر بلې غوره ده؛ د ده دا وینا ناقصه ده، ځکه دا ئې نه دي ویلي چې له کومه پلوه غوره ده، د غوره والي وجه ئې نه ده په ګوته کړې، یو شيء پر بل له ځانګړې پلوه فضیلت درلودی شي نه په عام او کلي توګه، بشپړه او صحیح وینا دا ده چې ووایو: دا مېوه تر هغې بلې انسان ته د ګټې له پلوه غوره والی لري. دلته ګورئ چې د قرآن الفاظ څومره په دقت سره غوره شوي، وایي: ځینو مېوو ته پر نورو د (خوراك) له پلوه فضیلت ورکوو!!

- د (فضیلت ورکوو) په صیغه کې هم خاص رمز او حکمت مضمر دئ؛ او هغه دا چې دا ځانګړی فضیلت ئې مخکینی او دائمي نه وي؛ بلکې د موقعیت، ظروفو او شرائطو له کبله ئې په برخه کېږي؛ که الله تعالی سمسوره او له مختلفو ګټه ورو عناصرو غني زمکه، کافي اوبه او ښه موسم ئې ورپه برخه کړ نو مېوه به ئې تر نورو غوره او افضل وي.

---

وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٥

او که ته تعجب کوې نو عجیبه خو د دوی وینا ده چې (وایي:) که خاوري شوي وو نو آیا په نوي پیدایښت کې به (بیا راپیدا) کېږو؟ دوی همغه دي چې د خپل رب په اړه ئې کفر کړی؛ او دوی همغه وګړي دي چې زنځیرونه ئې په غاړو کې دي؛ او دوی دوزخیان دي، تلپاته په هغه کې.

(۵)- که څه هم د دې آيت لومړنی مخاطب رسول الله صلی الله عليه و سلم دئ، خو په عامه توګه د قرآن هر مخاطب ته متوجه دئ او مطلب ئې دا دئ چي که ته تعجب کوې نو د دوی دا وينا تر ټولو زياته د حيرت او تعجب وړ ده چي وايي: که ومرو او خاوري شو نو آيا بيا به راژوندي کېږو؟! څنګه به زموږ وراسته شوي هډوکي او خاوري شوي بدنونه بيا په روغ رمټ ژوندي انسان بدلېږي؟ له بيا ژوندون د دوی د انکار اصلي وجوهات دا دي:

- دوی پر خپل رب باور او ايمان نه لري، همغه د دوی پالونکی رب چي په مخکينيو آيتونو کي د هغه د قدرت او انسان پالني ګڼ شمېر نښي زموږ مخي ته کښېښودی شوې.
- د دوی زړه او دماغ د جهل، تعصب، پلرني غلط مذهب ړوند تقليد او هوی او هوس په زنځيرونو تړل شوي، پر سترګو ئې پرېړي پردې غوړېدلې، له آزاد او شفاف فکر کولو عاجز دي.
- دوزخيان دي، عملونه ئې داسي دي چي دوزخ ته ئې بيايي، هغه لار او کار نشي غوره کولی چي جنت ته ئې بيايي.

يقيناً چي دا ډېره د حيرانتيا او تعجب وړ خبره ده چي څوك له هغه رب انکار کوي چي د قدرت نښي ئې هر لوري ته او په هر ګام کي د انسان مخي ته ځلېږي، آيا عجيبه نه ده چي څوك هغه الله تعالی د انسان له بيا پيدايښت عاجز ګڼي چي دی ئې پيدا کړی، دا له مليباردونو ستورو ډك آسمان ئې پيدا کړی، هره شېبه د زمکي له سپېره ډاګ ډول ډول بوټي او مېوې راپيدا کوي، له آسمان باران وروي او مړه زمکه پرې ژوندۍ کوي او د انسان لپاره ئې د زمکي پر سر د ژوند مساعد شرائط برابر کړي.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ ٱلْمَثُلَٰتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ۝٦

او له تا په تلوار سره تر ښېګڼي وړاندي بدي (عذاب) غواړي، په داسي حال کي چي تر دوی وړاندي د عذابونو بېلګي تېري شوې؛ او يقيناً چي ستا رب د خلکو په اړه د بخښني خاوند دئ؛ د دوی له ظلمونو سره سره؛ او يقيناً چي رب دي حتماً کلك تعذيبوونکی دئ.

(٦)- په مخکيني آيت کي د قيامت او بيا ژوندون په اړه د کافرانو د انکار يوه اړخ ته ګوته نيول شوې چي هغه د دوی دا وينا ده: څنګه به له هغه وروسته بيا راژوندي کېږو چي بدنونه مو خاوري شوي وي؟ د دوی د دې غلطي او بې بنسټي اندېښني په ځواب کي وويل شول: د دوی د انکار وجه دا ده چي پر هغه رب العالمين ايمان نه لري چي آسمان

ئې لوړ کړی او زمکه ئې غوړولې، غرونه او نهرونه او ډول ډول مېوې ئې په کې پيدا کړې، په دې آيت کې د دوی د انکار بل اړخ څېړل شوی او هغه دا چې وايي: که الله تعالی واقعاً له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي، نېکان پالي او بدکارو ته سزا ورکوي، مؤمنانو ته د دوی د ايمان او صالح عمل غوره بدله ورکوي او کافرانو ته د دوی د کفر، شرك او بدو عملونو سخته سزا ورکوي، که دا د الهي مکافات او مجازات عقيده صحيح وي نو ولې پر موږ هغه عذابونه نه نازلېږي چې تاسو مو ترې وېروئ؟! د دوی په ځواب کې څو خبرې شوې:

- دا عذابونه عملاً نازل شوي، تر تاسو مخکې ډېر پرې اخته شوي، د تاريخ پاڼو ته ځير شئ، وګورئ چې ستاسو سلف له کومو بدو پايلو سره مخامخ شوي او څومره سخت سخت عذابونه پرې نازل شوي.
- د عذاب په راتلو کې د ځنډ او ګنهګارانو ته د فرصت ورکولو وجه دا ده چې ستا رب بخښونکی دئ، خپل ګنهګار بنده ته د توبې فرصت ورکوي، په مؤاخذه او نيولو او سزا ورکولو کې تلوار نه کوي.
- د دنيوي او اخروي محاسبې او عذاب لپاره ئې خاصه نېټه ټاکلې، کله چې دا نېټه راورسېږي په خپلو سترګو به وګورئ چې ستاسو رب کلك تعذيبوونکی دئ.

---

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ۝٧

او هغه چې کفر ئې کړی وايي: ولې د ده د رب له لوري کومه څرګنده نښه نه پرې نازلېږي؟! يقيناً چې ته خو يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې او هر قوم ته يو لارښود وي.

---

(٧)- دلته د معانديو يو بل اعتراض څېړل شوی، هغه دا چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه به ئې ويل: که دی په رښتيا د الله تعالی له لوري غوره شوی پيغمبر وی نو داسې څرګنده نښه به ورسره وه چې هيڅوا ترې انکار نه شو کولی؛ د قرآن په نورو آيتونو کې د دوی د دې اعتراض تفصيلات راغلي، د الإسراء په سورې کې داسې لولو:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ۝٩٠ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ۝٩١ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ۝٩٢ أَوۡ يَكُونَ لَكَ

بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾

الاسرا:٩٠-٩٤

او وئې ويل: تر هغه به هيڅکله دربانديي باور ونه کړو چې له زمکې يوه چينه راته جاري نه کړې، يا د کجورو او انګورو داسې باغ دې وي چې هرې خوا ته ويالې په کې وبهوې او يا لکه څنګه چې ګمان کوې د آسمان يوه ټوټه پر موږ راپرې باسې، يا خدای او فرشتې مخامخ راولې، يا د سرو سپينو زرو کور ولرې، يا آسمان ته لوړ ولاړ شې او پورته تګ دې هم تر هغه نه منو چې داسې کتاب درسره راوړې چې موږ ئې ولولو، ورته ووايه: پاکي زما رب لره ده، آيا زه له يوه داسې انسان پرته بل څه يم چې د پيغمبر په توګه لېږل شوی؟ او خلکو ته د هدايت له راتلو وروسته يوازې دې خبري دوی له ايمان راوړو منع کړل چې ويل ئې: آيا خدای يو انسان د پيغمبر په توګه رالېږلی؟!!

ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ايمان راوړلو منع کړي چې پيغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر يو انسان موندلی، داسې چې حيرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولی، د ده په خوا کې نه څوك خدای په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښکرې، آسمان ته نشي ختلی، له زمکې چينې نشي راخوټولی، سره او سپين زر ئې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!!

د يهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پيغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ويلي وو چې دوی دغه ټول کارونه کولی شو، نو ځکه ئې د عيسی عليه السلام په څېر په هغه پيغمبر هم ايمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پيغمبرانو زياتې وې!!

قريشو هم له رسول الله صلی الله عليه و سلم دې ته ورته معجزې غوښتې، د دوی د غوښتنو په ځواب کې ويل شوي: يقيناً چې ته خو يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې او دا يوازې ته نه يې چې خپل قوم ته د لارښود په توګه لېږل شوی يې تر تا وړاندې نورو قومونو ته ستا په څېر لارښود پيغمبران لېږل شوي.

له دې او دې ته ورته آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم دغه معجزې چې قريشو او اهل کتاب ترې غوښتې او هغه چې مخکينيو پيغمبرانو ته ورکړی شوې وې؛ ده ته نه وې ورکړی شوې؛ د ده ستره معجزه په خپله دغه قرآن وو.

ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۚ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ۝٨

الله په هغه څه پوهېږي چې هره ښځينه ئې (په خپل رَحِم کې) وړي؛ او په هغه څه هم چې رَحِمُونه ئې کموي او په هغه څه هم چې زياتوي ئې؛ او هر څه د ده خوا ته په يوه (خاص) مقدار کې دي.

---

(۸)- دا مبارك آيت له دوو پلوو غور او دقت غواړي: لومړی دا چې ارتباط ئې له مخکينيو آيتونو سره څنګه دئ؟ او دوهم دا چې په رحم کې د نطفې ورو ورو او مسلسل وده او د ماشوم په قوتونو او استعدادونو کې پر له پسې زياتوالی خو واضح او د فهم وړ حقيقت دئ خو دا چې رحم څه کموي او د دې کمولو حقيقت او معنی څه ده؟ دا مطلب لږ وضاحت غواړي.

د لومړۍ پوښتني په ځواب کې بايد ووايو چې تر دې وړاندې په شپږم آيت کې د کافرانو په اړه ويل شوي چې دوی په تلوار سره د عذاب راتلو غوښتنه کوي او په دې کې څنډ داسې تعبيروي چې ګواکې د عذاب ګواښونه حقيقت نه لري، نه الله تعالی له خپل بنده سره حساب کوي او نه هغه ته د ګناهونو سزا ورکوي، د پيغمبرانو له لوري چې د عذاب راتلو کوم ګواښونه شوي حقيقت نه لري. دوی ته د مخکينيو ځوابونو تر څنګ په دې آيت کې ويل شوي چې الله تعالی د هر څه او هر کار لپاره ځانګړی مقدار او حد ټاکلی، لکه چې د مور په رحم کې د ماشوم د پيدايښت، ودې او زېږېدا لپاره حد او موده ټاکل شوې، تر خاصې نېټې ئې د مور په رحم کې پرېږدي او په ټاکلې نېټې ئې له يوې نړۍ بلې ته بيايي همدا راز کافرانو ته تر خاصې نېټې مهلت ورکوي، د مهلت په پای کې او هغه مهال د عذاب پرېکړه کوي چې دوی له دې مهلت ګټه وانخلي او پر خپل کفر او انکار ټينګار وکړي.

او د دوهمې پوښتني په ځواب کې بايد ووايو چې د مفسرينو تر منځ د دې زياتوالي او کموالي په اړه کافي اختلاف شته، ځيني ئې په رحم کې د ماشوم د پاته کېدا د مودې کموالی او زياتوالی ګڼي، ځيني ئې د ماشوم د بشپړ او ناقص پيدا کېدو په معنی تعبيروي، ځيني ئې د حيض د ويني وروسته او مخکې کېدا بولي، خو په رحم کې د جذب او دفع، زياتولو او کمولو يوه بله عمليه په مسلسله توګه تر سره کېږي چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی؛ او هغه دا چې ماشوم د مور په رحم کې مخامخ د مور له وينې تغذيه کېږي او د ده د بدن فضله مواد هم بېرته د هغه رګ له لارې د مور بدن ته انتقالېږي چې د ماشوم له نامه سره وصل دئ، د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې پر له پسې او مسلسل زياتوالي او کموالي ته اشاره لري او دا مسلسل زياتونه او کمونه يوازې همدا د تغذيې له لارې د

ماشوم بدن ته وده ورکول او اضافي، غیر ضروري او فضله مواد ترې ایستل دي نه بل څه. تر دې وړاندې ځینو داسې انګېرله چې ښايي ماشوم به د مور په رحم کې هغه وینه خوري چې د حیض په بڼې کې د مور له رحم وځي، دلیل ئې دا وو چې د حمل په موده کې د حیض وینه بنده شي، خو اوس انسان په دې پوه شوی چې ماشوم د مور په رحم کې نه خوراك کوي او نه ئې د بدن له مخصوصو لارو فضله مواد وځي، بلکي دا عملیه د هغو رګونو له لارې تر سره کېږي چې ماشوم ئې له مور سره وصل کړی، له همدې لارې غذايي مواد د ده د بدن هر سلول ته رسي او له همدې لارې فضله مواد د مور بدن ته انتقالېږي.

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ﴿٩﴾

په ناڅرګند او څرګند پوه، ستر د لوړ شأن خاوند ذات.

(٩)- په دې مبارك آیت کې د الله تعالی دغو صفاتو ته اشاره شوې: په ناڅرګند او څرګند پوه دئ، ستر دئ او د لوړ شأن خاوند دئ. په مخکینیو آیتونو کې د الله تعالی د دغو صفاتو څرګند مظاهر زموږ مخې ته کښېښودل شول، دا لوړ آسمان او په هغه کې لمر، سپوږمۍ او بې شمېره ستوري ښيي چې د دې عالم خالق او ساتونکی رب ستر ذات او د لوړ شان خاوند دئ، په دې عالم کې موږ د داسې علیم ذات د پراخ علم مظاهر په خپلو سترګو ګورو چې ښيي الله تعالی په څرګندو او ناڅرګندو شیانو پوه دئ، بېلګي ئې په مخکینیو آیتونو کې وړاندې شوې. غائب او شاهد د انساني معیارونو مفاهیم دي، د الله تعالی په وړاندې غائب نشته، هر څه ورته څرګند او معلوم دي، انسان په دې نه پوهېږي چې د زمکې سر له بېلو بېلو ټوټو جوړ شوی، انسان په دې نه پوهېږي چې د میندو په رحم کې څه تېرېږي، څه کمېږي او څه زیاتېږي، په دې اړه د قرآن وینا ښيي چې الله تعالی په څرګندو او ناڅرګندو پوه دئ.

سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ
وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ
أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ
بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾

که ستاسو څوك خبره پټوي او څوك ئې څرګندوي؛ او که څوك په شپه کې ځان پټوي او په ورځې کې (څرګند) درومي یو برابر دي. ده ته په مخکې او تر شا ئې پرله پسې راتلونکي ټولګي دي چې د الله په حکم ئې ساتنه او څارنه کوي، یقیناً چې الله هغه

څه نه بدلوي چې د يوه قوم په برخه شوي تر هغه چې دوی خپل ځاني حالت بدل کړي؛ او کله چې الله د کوم ولس په اړه د مصيبت اراده وکړي نو هيڅ ستنېدا ئې نشته او له ده پرته هيڅ مرستندوی نه لري.

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمي لارښووني شوې:

- ستاسو هيڅ څه له الله تعالی پټ نه پاته کېږي، نه مو قول او نه عمل، که له تاسو څوك خپله خبره په زړه کې پټه ساتي يا ئې څرګندوي، که څوك په شپه کې ځان پټوي او په ورځې کې څرګند درومي؛ ټول د الله تعالی په وړاندي برابر دي.
- هر انسان ته د فرشتو داسي څارونکي او ساتونکي ټولګي ټاکل شوي چې په مخکي او تر شا ئې پرله پسې راځي او د الله تعالی له حکم سره سم د ده ساتنه او څارنه کوي.
- له بنده سره د الله تعالی معامله داسي ده چې حالت ئې يوازي هغه مهال بدلوي چې هغه خپل ځاني حالت بدل کړي، له خپلو نعمتونو ئې هغه مهال محروموي چې د نعمتونو ضروري وړتيا او استحقاق له لاسه ورکړي، له مصيبتونو ئې هغه مهال ژغوري چې اړوند وړتيا په ځان کې پيدا کړي.
- کله چې الله تعالی د کوم ولس په اړه د مصيبت اراده وکړي نه ئې څوك څنډولی شي او نه ټمولی او ستنولی.
- له الله تعالی پرته هيڅ مرستندوی نشي موندلی.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴿١٣﴾

دی همغه ذات دئ چې برېښنا د وېرې او طمعي په توګه درښيي او درنې ورېځې پيدا کوي. او تالنده ئې له ستايني سره تسبيح وايي او فرشتې ئې له وېرې؛ او تندرونه (ټکه) رالېږي او هغه څوك پرې اخته کوي چې دی ئې غواړي، په داسي حال کې چې دوی د الله په اړه جدل کوي او هغه د نيوني او عذاب له پلوه ډېر شديد دئ.

(۱۲-۱۳)- په دې مبارکو آيتونو کې څو ستر ستر مطالب زموږ مخي ته ايښودل شوي:

هغه ذات چې موږ ته په مکرره توګه په آسمان کې برېښنا راښيي؛ الله تعالی دئ، دا برېښنا په چا کې وېره او په چا کې طمع راولاړوي، په چا کې دا هيله راوپاروي چې ښکلی او بختور

باران به ورېږېږي او په چا کې د درنو سيلابونو بهېدو او له هغه د راولاړ شوو تاوانونو وېره راولاړه شي، هيڅوك نه پوهېږي چې دا برېښنا به د کومو پېښو پېلامه شي.

له برېښنا سره سم په آسمان کې درنې او پرېړې ورېځې راځرګندي شي. هغه ذات چې دا ورېځې زموږ پر سر راپيدا کوي؛ الله تعالی دئ، هيڅوك ئې نه د راپيدا کولو توان لري او نه ئې د سمت او لوري ټاکلو وس او قدرت، د ده په اراده رامنځته کېږي او د ده په اراده په خپل ټاکلي لوري درومي.

له برېښنا سره سم د تالندي درانه غړونه واورو، چې موږ ته د باران ورېدو زېرى راکړي، دا غړ د ژوند پيغام له ځان سره لري، له همدې غړ سره له يوې خوا د اوبو پيدا کېدو او باران ورېدو لړۍ پيل شي چې د ژوو تر ټولو ستره اړتيا پرې رفع شي او له بلې خوا مړه زمکه پرې راژوندۍ شي او ډول ډول بوټي ترې راوټوکېږي. خو دا چې تالنده څنګه له ستاينې سره د الله تعالی تسبيح وايي، د حال په ژبه الله تعالی ستايي او تسبيح وايي که د قال په ژبه؟! د تالندي غږ زموږ د آذان او لوړ ذکر په څېر تسبيح او ذکر دئ که دا غږ شهادت ورکوي چې الله تعالی له هر عيب او نقص لوړ او د ټولو ستاينو وړ دئ؟!! دواړه تعبيرونه صحيح دي، د قرآن د وينا له مخې د دې پراخ عالم هر څه د حال او قال په ژبه د الله تعالی تسبيح وايي او خپل رب ستايي، خو موږ ئې په تسبيح نه پوهېږو.

فرښتې هم د خپل رب تسبيح وايي؛ په داسي حال کې چې وېرېږي؛ هغه فرښتې چې د ګناه، عصيان او انحراف ماده او استعداد په کې نشته، تل او په هر حال کې د الله تعالی په عبادت بوختي وي، خو سره له دې وېرېږي، خپل ضعف او د الله تعالی عظمت ته په پام سره په عبادت کې د قصور احساس کوي او دا احساس په دوی کې وېره راولاړوي. قرآن پورتنيو مطالبو ته په اشارې سره کافرانو ته وايي: که تاسو له خپل رب انکار کوئ ستاسو دا انکار نه د الله تعالی عظمت او واکمني ته څه زيان رسوي او نه ئې د تسبيح ويونکو بندګانو په شمېر کې کمی راولي، د دې پراخ عالم هر څه د هغه په عبادت او تسبيح بوخت دي، همغه څه کوي چې خپل رب پرې ګمارلي، رعد او برېښنا هم او د آسمانونو فرښتې هم. فرښتې په داسي حال کې تسبيح وايي چې زړه ئې له وېرې رېږدي؛ او دا په داسي حال کې چې يوه شېبه او يوه ذره نه له تسبيح او عبادت غافله کېږي، نه په خپل ټاکلي مأموريت کې قصور او نه له خپل ثابت مسير انحراف کوي، آيا عجيبه نه ده چې تاسو خپل رب هېر کړی او د کفر لار مو غوره کړې؟!!

آيا له دې نه وېرېږئ چې له آسمان تندر درباندي راپرې باسي؟ مګر نه پوهېږئ چې دا تندرونه د ده په اراده پر زمکه راپرېوځي او هغه څوك پرې اخته کوي چې دی ئې غواړي؟ آيا خبر نه يئ چې د څومره هغو خلکو پر سر راپرېوتي چې د الله په اړه په جدل بوخت ول؟

تاسو له هغه رب انکار کوئ چې د نيوني او عذاب له پلوه ډېر شديد دئ، چا چې د کفر او

انكار لار غوره كړې په شديد الهي عذاب اخته شوی.

لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۚ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿١٤﴾

رښتينې بلنه د ده ده؛ او هغه چې له ده پرته نور وربلې په هيڅ څه سره به اجابت ورته ونه كړي، مگر (حال ئې) هغه چا ته ورته دئ چې د اوبو لوري ته لاسونه غزوي چې (په خپله ئې) خولې ته ورسېږي، خو هغه وررسېدونكې نه دي؛ او د كافرانو دعاء خو هسي بې نتيجې دعاء ده.

(١٤)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

الله تعالى مرستي ته رابلل رښتينې بلنه ده، هغه څوك چې ده ته مخه كړي او د ده په وړاندي د دعاء لاسونه لوړ كړي؛ په رښتينې او حقيقي توگه ئې هغه چا ته دعاء كړې چې د دې دعاء وړ دئ او دعاء بايد د ده په درشل كي وي، هغه چې د خپل بنده دعاء اوري او حاجت ئې تر سره كوي.

او هغه څوك چې له ده پرته نور وربلي، له بل چا مرسته غواړي، د مرستي تر لاسه كولو لپاره په بل درشل كي لمن غوړوي او د خپلو حاجتونو پوره كېدا ترې غواړي؛ هيڅ دعاء به ئې ونه منل شي او هيڅ حاجت به ئې تر سره نشي، حال ئې هغه چا ته ورته دئ چې د اوبو لوري ته لاس غزوي چې په خپله ئې خولې ته ورسېږي؛ خو هغه وررسېدونكې نه دي.

د كافرانو دعاء خو هسي د تېروتني دعاء ده، دوی غولېدلي، اصلي ملجأ او مرجع ئې غلطه كړې، داسي دروازې ته ودرېدلي چې هيڅكله نه پرانيستل كېږي، داسي چا ته ږغ كوي چې نه څه اوري او نه چا ته ځواب وركولی شي.

په دې مثال كي هغه كافر انسان چې له الله تعالى پرته بل چا ته دعاء كوي له هغه تږي انسان سره تشبيه شوی چې د ژورو اوبو خوا ته ولاړ دئ، لاس د اوبو لوري ته غزوي چې خولې ته ئې راشي، خو نه د ده لاس اوبو ته رسي او نه اوبه د ده خولې ته. په دې مثال كي دا كافر انسان له تږي سره، له الله تعالى پرته بل چا ته دعاء ئې د اوبو لوري ته د تږي انسان له لاس غزولو سره؛ او د ده حاجت له اوبو سره تشبيه شوي. خو هغه مرجع او د ده د هيلي ځای چې دعاء ئې ورته كړې او مرسته ئې ترې غوښتې هيڅ گڼل شوی او په مثال كي له هيڅ سره تشبيه شوی؛ او د دې معنی دا ده چې د ده او د ده د حاجت تر منځ له الله تعالى پرته بل څوك نشته چې مرسته ئې وكړي او حاجت ئې تر سره كړي، له

چا چې ده مرسته غوښتې هغه په حقيقت کې د ده د ذهن زېږنده واهمه ده چې نه شتون لري، نه د ده او د ده د حاجت تر منځ وسيله او واسطه دئ؛ او نه د ده دعاء قبلولی او حاجت رفع کولی شي.

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ ۩ ﴿١٥﴾

او الله ته هر هغه څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي او د دوی سيوري هم؛ په خوښه او ناخوښه؛ سبا او ماښام سجده کوي.

(۱۵)- د دې مبارك آيت په وړاندې لږ توقف په کار دئ، په مطلب ئې سم پوهېدا دقت او غور غواړي، بايد وگورو چې څنگه د آسمانونو او زمکې هر څه او د دوی سيوري د الله تعالی په وړاندې په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي؟ په دې اړه څو خبري بايد په پام کې ولرو:

دا مطلب د آل عمران د سورې په ۸۳ آيت کې په دې توگه راغلی:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي؟ حال دا چې د آسمانونو او زمکې هر څه؛ طوعاً اوکرهاً، (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ايښې او د ده لوري ته ورگرځول کېږي.

يعني د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې گمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې؛ لمر، سپوږمی، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لگيا دي؛ په ټولو مخلوقاتو کې يوازې کافر او عاصي انسان داسي دئ چې د الله له دين پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت؛ دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دين دئ.

په دې آيت کې د سجدې معنی همغه ده چې د آل عمران د سورې په آيت کې د (اسلم) په لفظ سره بيان شوې، چې مراد ئې د الله تعالی حکم ته انقياد او تسليمېدا ده، که سجده له دې پرته په بله معنی او تندی پر زمکه ايښودل تعبير شي نو نه يوازې د هغو مخلوقاتو په اړه صدق نه کوي چې نه تندی لري، نه ملا، نه کوزېدی شي او نه تندی پر زمکه ايښودی شي، بلکې د هغو انسانانو په اړه هم صدق نه کوي چې پر الله تعالی ايمان نه لري

او سجده نه کوي. د دغو مخلوقاتو د سیورې په اړه هم صدق نه کوي.

نه یوازې ټول مخلوقات د الله تعالی تکویني حکم ته منقاد دي او د عالم هیڅ څه له هغو ثابتو الهي سننو او تکویني احکامو سرغړاوی نشي کولی چې الله تعالی وضع کړي، بلکې د دوی سیورې هم د دغو الهي سننو او تکویني احکامو مطابق په داسې دقیقه توګه رامنځته کېږي، لوېږي، وړېږي او له سترګو پټېږي چې موږ کولی شو د یوه شي د سیورې له مخې دا وټاکو چې د دې شي او د نور د منبع تر منځ څومره واټن دئ، سیورې ته په پام سره ویلی شو چې اوس غرمه، که ماپښین که مازدیګر؛ او څو بجې دي، د سیورې له مخې د لمر او زمکې تر منځ فاصله معلومولی شو.

دا یقیناً چې د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چې وایي د عالم هر څه او سیورې ئې هم د خاصو تکویني ضوابطو تابع دي. د دې علمي اعجاز په اهمیت او ارزښت هغه څوك پوهېږي چې په طبیعي علومو کې په تحقیق بوخت وي.

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾

ورته ووایه: د آسمانونو او زمکې پالونکی څوك دئ؟ ووایه: الله؛ ووایه: نو بیا له ده پرته مو داسې اولیاء نیولي چې نه ځان ته د ګټې (رسولو) خاوند دي او نه د ضرر؟ ورته ووایه: آیا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آیا تیاره او رڼا سره برابره ده؟ آیا الله ته ئې داسې شریکان (په خپل ذهن کې) جوړ کړي چې (داسې څه ئې) پیدا کړي وي چې ده (الله) پیدا کړي؟ نو (په دې توګه) پیدایښت پرې مشتبه او شکمن شوی؟ ووایه: الله د هر څه خالق دئ او دی یوازینی قهار رب دئ.

(١٦)- په دې مبارك آیت کې څو مهمې لارښوونې زموږ په وړاندې ځلېږي:

آیا له الله جل شأنه پرته داسې څوك موندلی شئ چې د زمکې او آسمانونو په پیدایښت او پالنې کې څه برخه او ونډه ولري؟

هغه څوك چې له الله تعالی پرته بل څه یا بل څوك مرستې ته وربلي او د ګټې طمعې یا د زیان او ضرر وېرې د دروغجنو معبودانو او اولیاءو درشل ته ودرولی؛ په حقیقت کې هغه ړانده ته ورته دئ چې د خپل ماحول له پېژندو عاجز دئ، چې هر قدم اخلې پښه ئې له مانع او خنډ سره لګېږي او یا هغه چا ته چې په سختو تیارو کې وي، نه خپل موقعیت او

تم ځای پېژني او نه د بل، هر څه ورته نا آشنا وي؛ مسلماً داسي څوك له هغه بصير او پوه انسان سره برابر نه دئ چي په رڼا کي وي او قضاوت ئې د هر څه په اړه او معامله ئې له هغه سره د پوهي په رڼا کي او له پېژندو وروسته وي، مشرك ړوند ته ورته دئ چي شرك د هر څه حقيقت ورته مغشوش کړی، په داسي حال کي چي په څرګنده ګوري په دې خور او پراخ عالم کي داسي يوه وړه بېلګه هم نشته چي له رب العالمين پرته بل چا پيدا کړې وي او بل څوك د هغې ساتنه او پالنه کوي، خو سره له دې له الله سره بل څه په الوهيت او ربوبيت کي شريکوي!!

دا عالم په خپله د دې خبري شهادت ورکوي چي خالق او پالونکی ئې يو دئ او هغه واکمن او څواکمن دئ، د ټول عالم د ټولو توکيو د پيدايښت اصلي ماده يوه ده، پر ټول عالم واحد نظم مسلط دئ، په دې خور او پراخ عالم کي داسي شيء نه مومو چي د پيدايښت اصلي ماده ئې له نورو توپير ولري، په خلقت کي ئې د دوهم او دريم خالق او پيدا کوونکي د لاس آثار او نښې ومومو، داسي چي يو د يوه نظم تابع وي او بل د بل نظم.

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًاۖ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى ٱلنَّارِ ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءًۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمْكُثُ فِى ٱلْأَرْضِۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

له آسمان ئې اوبه راکوزي کړې؛ نو خوړونه په خپلي خپلي اندازې وبهېدل، بيا سېل لوړ شوي ځګونه پر سر واخيستل؛ او پر هغه څه هم دې ته ورته ځګ وي چي د ګاڼو او سامان (جوړولو) په لټه کي اور پرې بلوي؛ الله د حق او باطل (مثالونه) همدا رنګه بيانوي؛ نو دا ځګ خو په وچېدو سره له منځه ځي؛ او هغه چي خلکو ته ګټه رسوي په زمکي کي پاته کېږي؛ الله په دې توګه متلونه تېروي.

(۱۷)- دلته د مؤمن او کافر او د ايمان او کفر لپاره ښکلی او په زړه پوري مثال بيان شوی؛ ايمان له اوبو او سرو او سپينو زرو سره او کفر د اوبو د سر او فلزاتو له ځګ سره، د مؤمن زړه له ژور نهر سره او د کافر سينه له شګو ډك خوړ سره تشبيه شوي، په دې توګه چي فرمايي: الله تعالی له آسمان اوبه ووروي، هر خوړ په خپلي خپلي اندازې اوبه تر لاسه کړي، ژور نهرونه ډېري او له شګو او ډبرو ډك خوړونه لږ يا هيڅ، له دې روان سېل سره ځګونه پيدا او د اوبو پر سر روان شي، دې ته ورته ځك د هغه څه پر سر هم راپيدا کېږي چي د ګاڼو او سامان جوړولو لپاره ئې ويلي کوي، دا ځګونه وپړسي او وچوي، وچ شي او

له منځه ولاړ شي؛ او هغه څه چي خلکو ته ګټه رسوي په زمکې کي پاته کېږي. کله کله باطل او د باطل په ګټه غلط تبليغات د ځګونو په څېر د حقيقت مخ مغشوش او پټ کړي، کمعقله او د کمزوري بصيرت خاوندان د حقيقت له پېژندو محروم کړي، خو د ځګ په څېر ژر او له لنډې مودې وروسته له منځه ولاړ شي.

---

لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٨﴾

هغو ته چي د خپل رب بلنه ئې ومنله ښکلې (پايله او بدله) ده؛ او هغه چي د ده ئې ونه منل؛ (داسي حالت به ئې وي چي) که په زمکې کي ټول څه او همدومره نور ورسره يو ځای د دوی په برخه وي؛ په بدل کي به ئې ورکړي، دا همغه ډله ده چي بده محاسبه به ئې په برخه وي او هستوګنځی ئې دوزخ دئ؛ او څومره بد ځمځی.

---

(۱۸)- دلته د دوو ډلو عاقبت او پايله ښودل شوې: د هغې ډلې چي د خپل رب بلنه ئې ومنله، د الله تعالی حکم ته ئې غاړه کښېښوده؛ او په دې توګه ئې په دنيا او آخرت کي ښکلې پايله او بدله په برخه شوه او هغه چي د خپل رب بلنه ئې ونه منله، د پيغمبر بلنې ته ئې د رد ځواب ورکړ او له دې کبله په دنيا او آخرت کي له داسي بدو پايلو سره مخامخ شو چي د ځان ژغورني لپاره به غواړي خپل هر څه په بدل کي ورکړي، حتی که د زمکې ټول شته او همدومره نور ورسره يوځای د دوی په برخه وي؛ ټول به په بدل کي ورکړي، دا همغه ډله ده چي بده محاسبه به ئې په برخه وي او هستوګنځی ئې دوزخ دئ؛ او څومره بد ځمځی.

---

أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ
أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ
يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ
﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ
سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ

عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى
ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ
بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾

آيا هغه څوك چې پوهېږي هغه څه حق دي چې ستا د رب له لوري درته نازل شوي؛ د هغه چا په څېر دئ چې ړوند وي؟ يقيناً چې يوازې عقلمن پند اخلي؛ هغه چې په الهي ژمني وفا كوي او دا تړون نه ماتوي. او هغه چې (ټولې) هغه اړيكې وصلوي چې الله ئې د وصلولو امر كړى او له خپل رب وېرېږي او له بد حساب ترهه لري. او هغه چې د خپل رب د رضاء په لټه كې ئې صبر وكړ او لمونځ ئې قائم كړ او په پټه او ښكاره توگه ئې هغه څه انفاق كړل چې موږ ورروزي كړي او په ښېگڼې سره بدي دفع كوي، دوى همغه دي چې د آخرت (غوره) تمځى به ئې پايله وي، داسې تلپاته جنتونه چې دوى به ورننوځي او د دوى صالح پلرونه، مېرمنې او اولاد هم؛ او ملائكې به له هرې دروازې پرې ورننوځي (او وايي به) پر تاسو دې د هغه صبر له امله سلام وي چې ومو كړ؛ نو څومره غوره دئ دا وروستنى تمځى. او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې كړې او هغه څه قطع كوي چې الله ئې د وصلولو امر كړى او په زمكې كې فساد كوي؛ دوى ته لعنت دئ او دوى ته بد ټاټوبى دئ.

(۱۹-۲۵)- په دې مباركو آيتونو كې دا ستر حقيقت بيان شوى چې د الله تعالى د كتاب په اړه خلك په دوو ډلو وېشل شوي:

۱- عقلمن او د بصيرت خاوندان چې د دوى مواصفات دا دي:

- د دې كتاب په حقانيت پوهېږي، په دې باور كوي چې دا كتاب د الله تعالى له لوري نازل شوى، نو ايمان پرې راوړي او پند ترې اخلي.
- له خپل رب سره د اطاعت او منني ژمنه كوي او خپلې ژمنې نه ماتوي.
- ټولې هغه اړيكې وصلوي چې الله ئې د وصلولو امر كړى. د هغو اړيكو په ټينګ ساتلو باور لري چې د ده انساني فطرت ئې غوښتنه كوي، كه دا له خپل خالق سره وي او كه له خپل همنوع سره؛ د هغو په څېر نه وي چې الله تعالى په همدې سوره كې داسې معرفي كړي: وَ يَقطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصلَ و يُفسِدُون فِي الأَرض.

- له خپل رب او له بد حساب او بدي پايلي وېره او ترهه لري.
- د خپل رب د رضاء په لټه کې صبر کوي.
- لمونځ کوي.
- په پټه او ښکاره توګه هغه څه د الله تعالى په لار کې لګوي چې الله تعالى ورروزي کړي.
- او په ښېګڼې سره بدي دفع کوي.

د دوی مکافات دا دي: د آخرت غوره ځمځی به ئې پايله وي، داسې تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي او د دوی صالح پلرونه، مېرمنې او اولاد هم؛ او ملائکې به له هرې دروازې پرې ورننوځي او ورته وايي به: پر تاسو دې د هغه صبر له امله سلام وي چې وموکړ؛ نو څومره غوره دئ دا وروستنی ځمځی.

٢- دوهمه ډله د لومړۍ ډلې په مقابل کې ده، چې د ړندو په څېر دي، تعقل نه کوي، ايمان نه راوړي، پند نه اخلي، له الله تعالى سره په وار وار ژمنې کوي خو هر ځل خپلې ژمنې ماتوي، هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په ځمکې کې فساد کوي.

د دوی سزا دا ده چې لعنت به ئې په برخه وي، له هر لوري به رټل کېږي، هر څه به لعنت پرې وايي او د دوزخ بد ځاتوبی به ئې ځمځی وي.

---

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ﴿٢٦﴾

دا الله دئ چې چا ته وغواړي روزي ورته پراخوي او تنګوي ئې؛ او (دوی) په دنيايي ژوند ښاد شول، حال دا چې دنيايي ژوند د آخرت په پرتله له (ناڅيزي) متاع پرته بل څه نه دئ.

---

(٢٦)- په دې مبارك آيت کې د مخکينې بحث په ارتباط د هغو خلکو غلطه انګېرنه ترديد او تصحيح شوې چې د دنيا مال او متاع، دولت او ثروت د ښه او بد، بختور او بې بخت لپاره معيار او ملاك ګڼي، ګمان کوي چې شتمن بختور دئ او د الله تعالى د پېرزوينو وړ او نيستمن سپېره او بدبخت دئ او د الله تعالى له رعايت او عنايت محروم!! قرآن د دوی په ځواب کې فرمايي: د رزق او روزي د پراخوالي او تنګوالي په اړه د الله تعالى خاص سنن دي، د دې الهي مشيت مطابق ئې چا ته زياتوي او چا ته ئې محدودوي، نه کافر د کفر له کبله له خپل رزق او روزي محروموي او نه هر مؤمن ته د ايمان له مخې د رزق او روزي ټولې کنجياني ورکوي، کېدی شي کله هغه مؤمن چې الله تعالى د ځمکې هر څه د هغه لپاره

پیدا کړي؛ د هغه ظالمانه وېش له کبله له خپل جائز حق محروم شي چي ظالمانو پر ټولني مسلط کړی او کېدی شي د همدې ظالمانه نظام له وجهې هغه کافر د ډېر څه خاوند شي چي د الله تعالی د رزق وړتیا نه لري او که الله تعالی د رزق وېش د استحقاق له مخي او د چا د کفر او ایمان پر بنسټ کولی نو کافر ته به ئې یو غوړپ اوبه هم نه وې ورکړې. دا د هغو وګړو قضاوت دئ چي دنیایي ژوند ئې د قضاوت معیار او ملاك دئ، په همدې ښاد شوي، نه دې ته ګوري چي دا متاع ئې له کومي لاري تر لاسه کړې او نه دې ته چي څنګه کارول کېږي او خاوند ئې له کومي پایلي سره مخامخ کوي، دوی په دې نه پوهېږي چي دنیایي ژوند د آخرت په پرتله له (ناڅیزي) متاع پرته بل څه نه دئ.

---

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِيٓ إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

او هغه چي کفر ئې کړی؛ وایي: ولې د خپل رب له لوري کوم آیت (معجزه) نه دئ پرې نازل شوی؟ ووایه: یقیناً چي الله هغه څوك بې لاري کوي چي دی ئې وغواړي او هغه څوك د ځان لوري ته هدایت کوي چي (ده ته) ورګرځېدلی. هغه چي ایمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه مطمئن کېږي؛ خبر دار چي د الله په ذکر او یادولو سره زړونه مطمئن کېږي.

---

(۲۷-۲۸)- دا مبارك آیتونه موږ ته څو مهمي لارښووني کوي:

- څوك چي د کفر لار غوره کړي؛ نه د خپل ضمیر ږغ ته غوږ نیسي او نه عقلي او علمي دلائلو ته اعتناء کوي، دوی تل د پیغمبرانو علیهم السلام په څېر د لوړو لوړو شخصیتونو له حق او رښتیني دعوت سره د مخالفت لار نیولې، نه ئې د دوی سپېڅلی دعوت منلی، نه ئې د دوی لوړ شخصیت او اوچت اخلاق ته کتلي او نه د دوی په دلائلو قانع شوي، له دوی ئې داسي خارق العاده او عجیبي معجزې غوښتې چي نه ئې هیڅ انسان د وړاندي کولو توان ولري او نه ئې هیڅوك مخالفت وکړی شي، سره له هغو ټولو څرګندو نښو چي د پیغمبر علیه السلام د الهي دعوت په هر پیغام کې او د ده د لوړ شخصیت په هر اړخ کې د دوی مخي ته ځلېدل او په جګ ږغ ئې دا ثابتوله چي دی له شك پرته رښتینی پیغمبر دئ، د الله تعالی له لوري غوره شوی چي د ده پیغام خلکو ته ورسوي؛ خو سره له دې ئې خارق العاده معجزې ترې غوښتلې. دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چي ستاسو ځیني مخاطبین داسي دي چي په هیڅ توګه ستاسو دعوت نه مني او ستاسو ملګرتیا نه کوي، دا هیله مه لرئ او دا تلوسه مه کوئ چي ټول مخاطبین به ستاسو دعوت هرومرو مني،

يوازې د هغو کسانو په لټه کې اوسئ او د دوی د ملګرتيا هڅه وکړئ چې د حق پېژندلو او منلو تلوسه لري او د حق په لار کې ستاسو ملګرتيا کولی شي. الله تعالی د خلکو د هدايت په اړه خاص سنن لري، ځيني داسي دي چې په دوی کې د حق پېژندلو او منلو استعداد ځپل شوی، د هدايت دروازه ئې هيڅکله نه ورته پرانيستل کېږي، خپل ګران وخت له دوی سره په بې ګټې جدل او د دوی پر اقناع مه ضائع کوئ.

- الهي هدايت او لارښوونه د هغه چا په برخه کېږي چې د خپل رب د ښه پېژندو او د ده لوري ته د تلو تلوسه لري، هغه چې ايمان راوړي او د الله تعالی په ذکر او يادولو سره ئې زړونه مطمئن کېږي.

- پر الله تعالی ايمان او د ده ذکر او يادونه انسان ته د زړه هغه ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کوي چې د انسان لپاره تر ټولو ستر نعمت دئ او له هغه اضطراب، پرېشانۍ او تشويش ئې ژغوري چې د انسان لپاره تر ټولو ستر عذاب دئ، د الله تعالی ذکر انسان د ډاډ او اطمئنان هغه پوړ ته رسوي چې قرآن د (مطمئن نفس) ښکلی لقب ورته غوره کړی، مطمئن نفس همغه دئ چې رابطه ئې له خپل رب سره ټينګه ساتي، زړه ئې د الله په ياد سره ډاډه کېږي، د الله تعالی په پرېکړو راضي او قانع وي او خپل خير په هغه کې لټوي، څوک چې خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېري، اضطراب او پريشانۍ کې ژوند کوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه؛ اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چې خپل رب ئې هېر کړی. دا اوس تاسو په غربي ټولنو کې ګورئ چې هري خوا ته او د هر چا په څېره کې د ژور اضطراب او ناآرامۍ نښې له ورايه برېښي، د غربي ټولني اکثر وګړي له خوب راوړونکو او مسکن دوا پرته خوب نه شي کولی، غواړي په شراب، چرس، سګريټ، هيروئين، موروفين او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج کړي او څو شېبې خپل ناآرامه زړه ته کاذب ډاډ او سکون ورپه برخه کړي، ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې له سخت روحي اضطراب د نجات لپاره ځان وژني ته ملا تړي، دا پراخي ځان وژني چې په هر غربي هېواد کې ئې ګورو او حکومتونه ئې له مخنيوي عاجز او راتلونکي ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړيکو د شلولو نتيجه ده، دا ځان وژني ښيي چې غربي تمدن، افکار، عقائد، د ژوند طريقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لګوي، نه شي کولی انسان ته روحي آرامي او د زړه سکون ورپه برخه کړي، په دې غير فطري او په الحاد او بې دينۍ ولاړ تمدن کې انسان د اضطراب او پرېشانۍ احساس کوي، روح ئې ناآرامه، هيڅ څه ئې نه شي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نه شي ورکولی، د معمولي کړاو په نتيجه کې له ژوند بې زار شي، يا مخدره موادو ته پناه وړي او يا ځان وژني ته. دا ولې آسيايي او افريقايي انسان په سختو سختو ستونزو او کړاونو کې، په فقر او لوږي کې؛ په ژوند راضي وي او له کړاوونو د نجات لپاره ځان وژني ته پناه نه وړي،

په یوه ستر آسیایي هېواد کې په یو کال کې دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چې د غربي هېوادونو په یوه یوه ښار کې تر دې په کمه موده کې ځان وژنې کېږي، دا ولې؟ آیا د دې لپاره کومه بله توجیه موندلی شو؟ آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چې هلته زړونه له ایمان تش شوي او دلته پر خدای باور په یوه او بله بڼه کې شته!! مخدره او نشه ئې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنیادي وجه روحي اضطراب دئ، په دې خطرناکې بیمارۍ هغه څوك اخته کېږي چې له روحي سکونه محروم وي، د دې بیمارۍ علاج له دې پرته په بل څه نه شي کېدی چې انسان بېرته الله ته راوګرځي، له الله تعالی سره خپلې شلېدلې اړیکې ټینګې کړي. عظیم الشأن قرآن د جنت مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه یادوي او په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې فقط ایمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ایمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو ته ئې ځواب وایي، په ټولني کې ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانۍ ئې ژغوري.

- هغه چې ایمان لري، د الله د نوم په اخیستلو او د الله په ذکر سره او چې کله الله ور په یاد شي؛ په دې سره ئې زړه مطمئن شي. دا ځکه چې کله شیطان درته وسوسې تلقین کړي او خوف دې په زړه کې راپیدا کړي؛ خو چې کله ته دې خبري ته متوجه شې چې ستا مرګ ژوند د الله په اختیار کې دئ او دلته هر څه د الله په اراده تر سره کېږي، هغه لکه چې ستا پیدا کوونکی دئ همدا راز ستا پالونکی او ساتونکی هم دئ، د هغه رحمت او پېرزوینه بې انتهاء ده او هغه د دې ملك مالك دئ، په دې زمکه کې د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هر څه د ده ارادې ته منقاد دي، دا اعتقاد او دا ایمان پخپله د دې باعث شي چې ته ډاډه او مطمئن وې او متیقن وې چې له تصادفي حوادثو او پېښو سره نه مخامخ کېږې، بلکې دلته چې هر څه کېږي د یوه مالك الملك الله په اراده کېږي، له همدې امله ته مطمئن او ډاډه وې.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَـَٔابٖ ﴿٢٩﴾

**هغه چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي؛ دوی ته پاکیزه (ژوند او رزق) دئ او غوره مېشتځی.**

(۲۹)- د دغو مؤمنانو بله ځانګړتیا دا ده چې عملونه ئې سم او صالح وي، یعني ایمان نه یوازې دوی ته د زړه ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کوي بلکې عملونو ته ئې ښکلا ورکوي، ایمان ئې د صالح عمل په توګه راڅرګندېږي. د دغه ایمان او صالح عمل له امله به الله تعالی دوی ته سپېڅلی ژوند او رزق او غوره مېشتځی ورپه برخه کړي.

كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

همداسي مو په هغه امت کې استازی (پیغمبر) کړې چې یقیناً تر دوی وړاندې نور امتونه تېر شوي وو، د دې لپاره چې هغه څه پرې ولولې چې تا ته مو وحي کړي، په داسې حال کې چې د رحمن ذات په اړه کفر کوي. ووایه: هغه مې رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، پر ده مې توکل کړی او د ده لوري ته مې ورتګ دئ.

(۳۰)- په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څو مهمې سپارښتنې شوې:

- ته مو له همداسې یوه پیغام سره هغه قوم ته لېږلی یې چې تر دوی مخکې ډېر ولسونه تېر شوي، نه ته لومړی پیغمبر یې او نه ستا قوم لومړی قوم دئ چې پیغمبر په کې مبعوث کېږي.
- ستا دنده دا ده چې خلکو ته د وحي پیغام ورسوې، که څه هم دوی په دې سختې بېمارۍ اخته دي چې د رحمن رب په اړه ئې د کفر او انکار لار غوره کړې.
- دوی ته ووایه: همدا رحمن خدای زما رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، پر ده مې توکل کړی او د ده لوري ته مې ورتګ دئ.

وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿٣١﴾

او که څه هم داسې کوم قرآن وی چې غرونه پرې خوځېدی شوی، زمکه پرې ټوټې ټوټې کېدی شوی او مړي پرې په خبرو راتلی شوی، (بیا به هم دوی د رحمن ذات په اړه انکار کاوو)، بلکې ټولې چارې د الله په واك کې دي؛ آیا هغه چې ایمان ئې راوړی له دې نه دي ناهیلي شوي چې که الله غوښتی نو حتماً به ئې ټول خلك هدایت کړي ول؟ کافران به تل داسې وي چې یا به د خپلو کړنو له کبله مخامخ په پرېکنده عذاب

اخته کېږي او يا به ئې کورونو ته څېرمه راپرېوځي، تر هغه چې د الله د وعدې نېټه راورسي. يقيناً چې الله له (خپلې) وعدې نه په شا کېږي.

(۳۱)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې قرآن د لارښود په توگه کافي دئ، ټول ضروري او قانع کوونکي دلائل د مخاطب مخې ته ږدي، داسې دليل نه دئ پاته چې د کومې مدعاء د اثبات لپاره استدلال پرې ضروري وي خو په قرآن کې هغه نه وي وړاندې شوی، که څوك د عقلي او علمي دلائلو له مخې کومه بلنه او مدعاء مني نو هرو مرو به د قرآن په مضبوطو دلائلو قانع کېږي او بلنه به ئې مني، خو د قرآن ځيني مخاطبين داسې دي چې په هيڅ دليل نه قانع کېږي، حتی که قرآن داسې وی چې غرونه پرې خوځېدی شوی، زمکه پرې ټوټې ټوټې کېدی شوی او مړي پرې په خبرو راتلی شوی، بيا به هم دوی د رحمن ذات په اړه انکار کاوو او په دې اړه به ئې د قرآن وينا نه منله، الله تعالی کولی شي دا ټول خارق العاده کارونه تر سره کړي، ټولې چارې د الله په واك کې دي او هر څه کولی شي، خو د الله تعالی سنت دا نه دئ چې د منکرينو د اقناع لپاره دا لار غوره کړي او داسې خارق العاده معجزې وړاندې کړي. مؤمنانو ته په کار ده چې د قرآن بلنه او دلائل کافي او شافي وگڼي او د هغو متعنتو منکرينو د هدايت بې ځايه طمع ونه لري چې د قرآن بشپړ او کامل پيغام او دلائل ئې کافي نه گڼي او د خارق العاده معجزو غوښتنې کوي. دا بې ځايه هيله او طمع پرېږدئ، که الله غوښتی چې ټول خلك په خپل قاهره قوت سره ايمان راوړو ته اړ کړي نو حتماً به ئې ټول خلك هدايت کړي ول. خو الله تعالی د پيغمبرانو عليهم السلام د بعثت او لارښود کتاب د لېږلو تر څنگ، د کافرانو د تنبيه لپاره؛ او د دوی د غلطو کړنو له کبله تل يا دا پرېکړه کوي چې مخامخ ئې په پرېکنده عذاب اخته کړي او يا ئې کورونو ته څېرمه د عذاب ټکه راپرېوځي، دا لړۍ تر هغه دوام کوي چې د الله د وعدې نېټه راورسي، هغه نېټه چې د کافرانو د مهلت پای او پر کافرانو د الهي عذاب د راپرېوتو وروستۍ او نه بدلېدونکې نېټه ده. يقيناً چې الله له خپلې وعدې نه په شا کېږي.

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾

او يقيناً چې تر تا مخکې پيغمبرانو باندې استهزاء شوې؛ نو موږ هغو ته چې کافران شوي وو مهلت ورکړ، بيا مو ونيول، نو وگوره چې عذاب مې څنگه وو.

(۳۲)- چا چې پر پيغمبرانو استهزاء کړې؛ الله جل شأنه مؤاخذه کړي او خپل عذاب ئې پرې نازل کړی. نو وگوره چې دا عقاب او نيونه څنگه وه؟ وگوره چا چې پر مخکينيو

پیغمبرانو استهزاء او ټمسخر کړی، د هغوی احترام او توقیر ئې نه دی ساتلی او د دوی بلنې ته ئې د رد ځواب ورکړی؛ پایله ئې څنګه وه او الله تعالی څنګه تعذیب کړل.

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوهُمْۚ أَمْ
تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلْأَرْضِ أَم بِظَٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ
كَفَرُواْ مَكْرُهُمْ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

نو آیا هغه چې پر هر ساکښ چې څه ئې تر سره کړي (د څارونکي په توګه) ولاړ دئ (د هغه په وړاندې د هغه پر پیغمبرانو ملنډې وهې؟!!) او (همدغه) الله ته ئې شریکان جوړ کړي!! ووایه: وئې نُومَوئ؛ آیا پر هغه څه ئې خبروئ چې دی ئې په زمکې کې نه پېژني؛ او که هسې دا وینا د یوې سطحي خبرې په توګه کوئ؟ بلکې کافرانو ته خپل مکر ښایسته کړی شوی او له لارې اړول شوي؛ او الله چې څوك بې لارې کړي نو هیڅ لارښود ئې نشته.

(٣٣)- دوی هغه الله او د ده رسولان نه مني چې د ټول عالَم او د ټولو ساکښو پالونکی او څارونکی دئ، د همدې مهربان رب په وړاندې د هغه پر پیغمبرانو ملنډې وهې؟!! او همدغه د ټول عالَم پیدا کوونکي او پالونکي رب ته ئې شریکان جوړ کړي!! دا شریکان نه دي، الله تعالی په هیڅ څه کې شریك نه لري، دا دوی دي چې یوه او بل څه ته ئې په یوه او بل کار کې د الله تعالی د شریك نوم ورکړی، یو د یوه حاجت په تر سره کولو کې د الله تعالی شریك ګڼې او بل په بل څه کې، دا هسې بې مسمی نومونه دي چې د دوی د وهم زېږنده دي، دوی ته ویل شوي چې څنګه مو خوښه وي همغسې نومونه ورته غوره کړئ. هغه څوك په خپلو چارو کې شریك ته اړ وي چې یا په خپله او د بل له مرستې پرته ټولې چارې نشي تر سره کولی او یا هغه چې پوهه او علم ئې محدود وي او د بل له مرستې پرته له ټولو چارو نشي خبرېدی؛ آیا تاسو الله تعالی ته د شریکانو په غوره کولو سره غواړئ له هغه څه ئې خبر کړئ چې دی ئې په زمکې کې نه پېژني؟! ټولو پیغمبرانو خلکو ته د الله تعالی دا پیغام رسولی چې الله تعالی هیڅ شریك نه لري، آیا تاسو د زمکې پر سر داسې کوم معبود نومول غواړئ چې الله تعالی ترې خبر نه دئ؟ خپل شریکان معرفي کړئ، په څه کې له الله تعالی سره شریك دي، الله تعالی خو فرمایي چې زه شریك نه لرم، آیا کوم پیغمبر تاسو ته ویلي چې الله تعالی شریکان لري او که دا هسې ستاسو د خولې خوشې او تشې خبرې دي؟! الله تعالی ته دا دروغجن شریکان هغو مکارو او ټګمارو مذهبي مشرانو جوړ کړي چې خلك غولوي، شکرانې او نذرانې تر لاسه کوي او د غولېدلو شتمنې لوټوي؛ دوی ته دا مکر او ټګماري ښایسته کړی شوې او له سمې لارې اړول شوي؛ او الله چې څوك بې

لاري كړي نو هيڅ لارښود ئې نشته.

لَّهُمْ عَذَابٌ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْأٓخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾

دوی ته په دنيا کې عذاب دئ او د آخرت عذاب تر ټولو سخت دئ؛ او د الله په وړاندي ئې هيڅ ساتونکی نشته.

(٣٤)- دوی به په دنيا کې د خپل انکار او شرك سزا ګوري، په دنيوي عذابونو به اخته کېږي او په آخرت کې به له ډېر سخت عذاب سره مخامخ کېږي او د الله په وړاندي ئې هيڅ ساتونکی او له عذابونو ژغورونکی نشته.

مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ۖ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ ۖ وَّعُقْبَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾

د هغه جنت مثال چي متقيانو ته ئې وعده ورکړی شوې (داسي دئ چي) لاندي ئې ويالې بهېږي، خواړه (مېوې) ئې تلپاته دي او سيوری ئې هم؛ دا د هغو پايله ده چي تقوی ئې وکړه؛ او د کافرانو پايله اور دئ.

(٣٥)- دا مبارك آيت موږ ته د متقيانو د هغه جنت مثال چي له دوی سره ئې ژمنه شوې داسي راپېژني: ترې لاندي ويالې بهېږي، مېوې ئې تلپاته دي او سيوری ئې هم ثابت او تلپاتی، دا د هغو وګړو پايله ده چي تقوی ئې وکړه؛ او د کافرانو پايله اور دئ.

وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ ٱلْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُۥ ۚ قُلْ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشْرِكَ بِهِۦٓ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُوا۟ وَإِلَيْهِ مَـَٔابِ ﴿٣٦﴾

او هغه چي کتاب مو ورکړی؛ پر هغه څه خوښي کوي چي تا ته نازل کړی شوي؛ او د دغو ډلو ځيني داسي دي چي ځيني برخي ئې نه خوښوي؛ ووايه: ما ته امر شوی چي د الله عبادت وکړم او څوك ورسره شريك نه کړم، د ده لوري ته بلنه کوم او د ده لوري ته مي ورګرځېدا ده.

(۳٦)- په دې مبارك آيت كې د قرآن په اړه د ځينو نورو ډلو دريځ څرګند شوى؛ د اهل كتاب هغه ډله چې په واقعي معنى په مخكينيو الهي كتابونو ايمان لري؛ دوى قرآن خوښوي، ځيني نور داسي دي چې د قرآن ځيني برخي نه خوښوي. د دې آيت له وروستۍ برخي معلومېږي چې دا هغه خلك دي چې د شرك مرتكب شوي، د الله تعالى تر څنګ د نورو معبودانو عبادت كوي، بل ته د دعاء لاسونه اوچتوي او د قيامت په اړه ئې عقائد مغشوش دي؛ د همدې لپاره د آيت په پاى كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې دوى ته ووايه: ما ته امر شوى چې د الله عبادت وكړم او څوك ورسره شريك نه كړم، د ده لوري ته بلنه كوم او د ده لوري ته مي ورګرځېدا ده.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ ۝٣٧

او همداسي مو د عربي حكم په توګه نازل كړ؛ او كه له هغه وروسته چې څه علم په لاس درغلى د دوى د هوى او هوس متابعت وكړې نو نه به د الله له عذاب كوم حامي وموميې او نه كوم ساتونكى.

(۳۷)- قرآن د الله تعالى هغه احكام زموږ مخي ته ږدي چې په مخكينيو كتابونو كې هم راغلي، توپير ئې له مخكينيو كتابونو سره په دې كې دئ چې هغه په نورو ژبو كې وو او دا په عربي ژبي كې، له همدې امله رښتيني اهل كتاب هغه خوښوي، احكام ئې د مخكينيو كتابونو په خبر مومي او ايمان پرې راوړي؛ د مخالفينو اعتراضاتو، مخالفتونو او چټي پوښتنو او غوښتنو ته هيڅ اعتناء مه كوه، د دوى غوښتنو او پوښتنو ته اعتناء او ارزښت وركول بدې پايلي لري، كه له هغه وروسته چې څه علم په لاس درغلى د دوى د هوى او هوس متابعت وكړې نو نه به د الله له عذاب كوم حامي وموميې او نه كوم ساتونكى.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ لِكُلِّ أَجَلٖ كِتَابٞ ۝٣٨

او يقيناً چې تر تا وړاندې مو پيغمبران لېږلي او مېرمني او اولاد مو ورپه برخه كړي ول؛ او هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چې كومه نښه (معجزه) راوړي مګر د الله په إذن، د هري نېټي لپاره يوه ځانګړې ليكنه ده.

(۳۸)- په دې مبارك آيت كې د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوى د دعوت د مخالفينو څو اعتراضاتو ته ځوابونه ويل شوي، په دې توګه:

- دوی وايي: څنګه ومنو چې دا د الله تعالی له لوري غوره شوی پیغمبر دئ؛ په داسي حال کې چې هر څه ئې زموږ په څېر دي، په هیڅ څه کې له نورو انسانانو څه توپیر نه لري، مور او پلار لري، مېرمن او اولاد لري؛ د خدای پیغمبر خو باید په هیڅ څه کې انسانانو ته ورته نه وي، نه په دنیایي چارو کې بوخت وي او نه ئې د دنیا له نعمتونو او لذتونو سره تړاو؛ د دوی په ځواب کې ویل شوي: یقیناً چې تر تا وړاندي مو داسي پیغمبران لېږلي چې مېرمني او اولاد مو ورپه برخه کړي ول، تر تا وړاندي ډېر پیغمبران تېر شوي چې هم ئې مېرمني درلودې او هم اولاد، که دوی هغه پیغمبران مني نو تا ولې نه مني؟!! تر تا وړاندي عیسی علیه السلام مبعوث شوی وو، نه ئې مېرمن وه او نه اولاد، خو یهودو نه یوازي ونه منلو بلکې د هغه د وژلو لپاره ئې ملا وتړله.
- دوی له رسول الله صلی الله علیه و سلم خارق العاده معجزې غوښتې، ادعاء ئې دا وه چې پیغمبر باید دا توان ولري چې د مخالفینو د اقناع او د دوی اعتراضاتو ته د ځواب ویلو په موخه هر وخت، په هر ځای کې او د مخالفینو له غوښتنو سره سم معجزې وښیي، څنګه ومنو چې ته د الله تعالی له لوري د پیغمبر په توګه لېږل شوی یې خو هغه معجزې نشې وړاندي کولی چې موږ ئې غواړو؟!! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: هیڅ پیغمبر ته نه ښايي چې کومه نښه راوړي مګر د الله په إذن، معجزه د پیغمبر ذاتي کار نه دئ، هم معجزه د الله تعالی په حکم ښودل کېږي، هم ئې کیفیت او څرنګوالی د الله تعالی له لوري ټاکل کېږي او هم ئې وخت او ځای.
- دوی ویل: که دا ګواښونه چې ستا له لوري ئې اورو رښتیني وي نو موږ باغیان یو او د الهي عذاب وړ او زموږ عقائد او اعمال د الهي عذاب سبب، نو دا عذاب ولې تم شوی او چا ئې د راتلو مخه نیولې، دا قیامت به کله راځي، ولې تر اوسه رانه غی؟!! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: د هري نېټې لپاره یوه ځانګړې لیکنه ده. د هر څه لپاره یوه نېټه ټاکل شوې، دا نېټه په هغه الهي کتاب کې ثبت شوې چې نه ئې څوك حذفولی شي او نه څه تغییر په کې راتلی شي.

---

يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴿٣٩﴾

الله چې څه وغواړي له منځه ئې وړي او ثابتوي ئې؛ او اصلي کتاب د ده په خوا کې دئ.

---

(٣٩)- په دې مبارك آیت کې د مخالفینو یوه بل اعتراض ته ځواب ویل شوی او هغه دا چې دوی به ویل: څنګه ومنو چې دا قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی، حال دا چې تر دې وړاندي نور کتابونه، په نورو ژبو کې نازل شوي، خدای خو یو دئ، کتاب ئې باید یو وي، د کتاب ژبه باید یوه وي، د کتاب وینا، احکام او لارښووني باید په بشپړه توګه سره ورته

وي!! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: الله چې څه وغواړي له منځه ئې وړي او چه څه وغواړي په خپل مخکیني حال ئې ثابت پرېږدي؛ اصلي کتاب د ده په خوا کې دئ، څه چې له دې اصلي کتاب سره توپیر لري هغه له منځه وړي او څه چې د دې اصلي کتاب مطابق وي او څه تغییر په کې نه وي راغلی، هغه پر خپل حال پرېږدي. الله تعالی د قرآن په رالېږلو سره د مخکینیو کتابونو هغه څه له منځه وړي چې د ام الکتاب خلاف وو او د اهل کتاب د لاسوهنو او تحریفاتو په نتیجه کې تغییر په کې راغلی وو؛ او د مخکینیو کتابونو هغه برخې ئې تثبیت کړې چې د ام الکتاب مطابق وې او له تحریف او تغییر خوندي پاته شوې وې.

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ وَعَلَيْنَا ٱلْحِسَابُ ﴿٤٠﴾

او که تا ته ځیني هغه څه (عذاب) حتماً دروښیو چې وعده ئې ورسره کوو او یا دې حتماً وفات کړو، نو یقیناً چې ابلاغ ستا پر ذمه دئ او حساب زموږ پر ذمه.

(٤٠)- په دې مبارك آیت کې د مخکینۍ موضوع په تړاو پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي: له دوی سره چې د کومو عذابونو وعده شوې او دوی انکار ترې کوي او هسې ګواښونه ئې ګڼي که دا په داسې حال کې پرې راشي چې ته لاژوندی وې او د دوی پر سر د دغو عذابونو د راپرېوتو شاهد؛ او یا له هغه وروسته راشي چې ته وفات شوی وې؛ نو یقیناً چې ابلاغ ستا پر ذمه دئ او حساب زموږ پر ذمه، ستا ذمه واري یوازې دا ده چې د خپل رب پیغام په امانت سره تر خلکو ورسوې، نه د عذاب نازلېدو پرېکړه ستا په واك کې ده او نه ئې د نېټې ټاکل او وروسته مخکې کول؛ حساب او کتاب، مکافات او مجازات د الله تعالی پر ذمه دي، دا پرېکړه دی کوي چې چا ته څنګه سزا ورکړي او کله ئې ورکړي.

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَأْتِى ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَٱللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤١﴾

آیا وئې نه لیدل چې موږ دې زمکې ته وردرومو؛ له ژیو ئې راکموو؛ او دا خو الله دئ چې پرېکړې کوي؛ (داسې چې) حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته او هغه سریع حساب کوونکی دئ.

(٤١)- د دې مبارك آیت اساسي مطالب دا دي:

- آیا کافران دې ته نه ګوري چې د حق رڼا په خورېدو ده، لمن ئې ورځ په ورځ

پراخېږي، د کفر او شرك پر ځواکونو زمکه راتنگېږي، الله تعالی او هغه ته بلونکي د دوی لوري ته ورروان دي او سنگرونه ئې ترې نيول کېږي.

- آيا نه گوري چې ټولې پرېکړې د الله تعالی له لوري کېږي، هم د چا د ماتې او هم د بريا، هم د کوم دين د غلبې او هم د کوم مذهب د زوال، هم د کومې ډلې اقتدار او عزت ته د رسېدا او هم د بلې د سپکاوي او له اقتدار او عزت د محرومېدا پرېکړې؛ په داسې حال کې چې حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته.

- دا ځکه چې الله تعالی سريع حساب کوونکی دئ. دا تاسو او ستاسو ناقص معيارونه دي چې په الهي پرېکنده او تغيير نه منونکو پرېکړو کې معمولي ځنډ اوږده موده گڼئ او د خپل انکار بنسټ ترې جوړوئ، دا په داسې حال کې چې ډېر مو په خپلو سترگو ليدلي چې ډېر ژر په الهي عذاب اخته شوي!!

وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾

او يقيناً چې هغو پټ تدبيرونه وکړل چې تر دوی مخکې ول؛ نو پټ تدبيرونه خو ټول له الله سره دي، په هغه څه پوهېږي چې هر ساکښ ئې تر سره کوي؛ او کافران به ډېر ژر پوه شي چې د هستوگنځي غوره پايله د چا په برخه ده.

(٤٢)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شوی چې د حق په خلاف د کافرانو پټ تدبيرونه څه نوې خبره نه ده، د تاريخ په اوږدو کې ډېرو نورو کفري ځواکونو د حقپالو په ضد خپل ټول وس کارولی او له ډول ډول پټو تدبيرونو ئې کار اخيستی؛ خو نه ئې زور او ځواك گټه وررسولې او نه ئې پټو تدبيرونو، د الله تعالی د تدبير په وړاندې هم د دوی تدبيرونه شنډ شوي او هم ئې زور او ځواك ويلي شوی. پټ تدبيرونه خو يوازې هغه مهال څه گټه لري چې له مقابل لوري پټ پاته شي، د کافرانو پټ تدبيرونه به څنگه کومه گټوره پايله لري چې نه له الله تعالی پټ پاته کېږي او نه د الله تعالی د تدبير مخې ته ودرېدی شي؟ د تدبيرونو د پايلو د ټاکلو واك خو ټول له الله تعالی سره دئ؛ الله تعالی په هر هغه څه ښه پوهېږي چې هر ساکښ ئې تر سره کوي؛ کافران دې لږ نور انتظار وکړي، ډېر ژر به پوه شي چې غوره پايله به د چا په برخه شي.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

**او هغه چې کفر ئې کړی وايي: ته پيغمبر نه يې! ووايه: زما او ستاسو تر منځ الله د گواه په توگه کافي دئ او هغه چې د کتاب علم ورکړی شوی.**

(٤٣)- کافرانو به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه ويل چې هغه د الله تعالی له لوري لېږل شوی استازی او پيغمبر نه دئ، د دې مبارك آيت په ترڅ کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې د دوی په ځواب کې ووايه: زما او ستاسو تر منځ الله د گواه په توگه کافي دئ او هغه چې د کتاب علم ورکړی شوی. دلته څو خبري بايد په پام کې ولرو:

- د دې خبري معنی چې الله تعالی زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توگه کافي دئ دا ده چې هغه په خپلو ټولو مخکينيو کتابونو کې همغه خبري کړې چې په قرآن کې راغلې او زه همغه څه درته وايم چې د الله تعالی مخکينيو پيغمبرانو تاسو ته کړې، زه تاسو ته وايم چې الله تعالی شريك نه لري او يوازينی معبود دئ او دا همغه وينا ده چې الله تعالی هم په خپلو ټولو مخکينيو کتابونو کې کړې ده او هم په دغه قرآن کې چې پر ما ئې نازل کړی؟ په داسي حال کې چې الله تعالی په خپله په دې خبري شهادت ورکوي آيا بل شاهد ته ضرورت شته؟!
- او د دې خبري چې زما او ستاسو تر منځ هغه خلك د شاهد په توگه بس دي چې د کتاب علم ورکړی شوی؛ معنی دا ده چې ټول عالمان او په الهي کتابونو پوه کسان زما د رسالت تصديق کوي، د اهل کتاب صالح او واقعي علماء هم او په قرآن پوه کسان هم. او دا همغه خبره ده چې د آل عمران د سورې په ۱۸ آيت کې په دې توگه راغلې:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٨﴾ آل عمران: ۱۸

**الله په دې شهادت ورکړی چې له ده پرته بل معبود نشته، ملائکو او په عدل ولاړو د علم خاوندانو هم؛ له عزيز حکيم خدای پرته بل معبود نشته.**

الله تعالی په خپل کتاب کې د دې خبري شهادت ورکړی چې له ده پرته بل معبود نشته، ملائکي هم په دې خبري شهادت ورکوي او هر باانصاف د علم خاوند هم دا شهادت ورکوي؛ ځوك چې له الله پرته بل د لمانځني وړ گڼي، په الوهيت او ربوبيت کې بل ته برخه ورکوي، بل ته عبادت او دعاء جائز گڼي؛ د هغه خبره هم د الله د شهادت خلاف ده او هم د ملائکو او هم د با انصاف علماءو؛ زه هم دغه خبره تاسو ته کوم.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# ابراهیم

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم ابراهیم دئ چې د سورې له ۳۵ آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، ۵۲ آیتونه لري، د سورې له مضامینو معلومېږي چې د مکې دور په هغو وروستیو کلونو کې نازله شوې چې د الرعد، الاعراف، یونس او هود سورتونه په کې نازل شوي. له ۱۳آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې قریشو د مسلمانانو په ضد خپل تشدد او زور زیاتی انتهاء ته رسولی وو او دا پرېکړه ئې کړې وه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یا بندي کړي، یا ئې تبعید کړي او یا ئې ووژني؛ آیت داسي دئ:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٣

او کافرانو خپلو پیغمبرانو ته وویل: یا به مو هرو مرو له خپلې زمکې باسو او یا به حتماً زموږ ملت او مذهب ته راګرځئ؛ نو د دوی رب وحي ورته وکړه چې دا ظالمان به حتماً هلاك کړو.

د دې سورې د ډېری آیتونو فواصل د لومړي آیت (حمید) ته ورته وزن لري، لکه شدید، بعید، عنید، سدید، ... ځیني ئې د غړ له پلوه دې ته نژدې وزن لري خو حروف ئې توپیر لري لکه حکیم، عظیم، مبین او مریب، ځیني ئې د یولسم آیت د مؤمنون په څېر وزن لري لکه متوکلون، یتذکرون، یشکرون، ځیني ئې د ۲۶ آیت د قرار په څېر دي لکه البوار، النهار، النار، القهار، کفار، ځیني ئې دې ته نژدې وزن لري خو په حروفو کې ئې توپیر شته لکه السماء، الدعاء، هواء، ځیني ئې د زوال، جبال او امثال په څېر وزن لري.

لکه چې دا سوره په دریو حروفو (ا، ل، ر) پیل شوې؛ د سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي چې دا اساسي مضامین د سورې په لومړیو آیتونو کې په دې توګه راغلي:

- دا هغه کتاب دئ چې ستا په لوري مو نازل کړ چې د دوی د رب په حکم سره خلك له تیارو د نور طرف ته وباسې؛ د ستایل شوي عزتمن ذات لاري ته؛ هغه الله چې د آسمانونو او زمکې هر څه د ده دي.
- افسوس د کافرانو پر حال د شدید عذاب له کبله؛ هغه چې له دنیوي ژوند سره د آخرت په پرتله زیاته مینه کوي؛ او د الله له لاري ډډه کوي او کوږوالي ورته لټوي؛ دوی

(له حق ) په لرې واټن کې لار ورکې دي.

- او هیڅ رسول مو د خپل قوم له ژبې پرته په بله ژبه نه دئ لېږلی؛ د دې لپاره چې دوی ته ئې (په واضح توګه) بیان کړي؛ نو الله چې چا ته خوښه وي بې لارې کوي ئې او د هغه چا لارښوونه کوي چې غواړي ئې؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝١ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ ۝٢ ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ۝٣

الف لام را، دا هغه کتاب دئ چې ستا په لورې مو نازل کړ چې د دوی د رب په حکم سره خلك له تیارو د نور لورې ته وباسې؛ د ستایل شوي عزتمن ذات لارې ته؛ هغه الله چې د آسمانونو او زمکې هر څه د ده دي. افسوس د کافرانو پر حال د شدید عذاب له کبله؛ هغه چې له دنیوي ژوند سره د آخرت په پرتله زیاته مینه کوي؛ او د الله له لارې ډډه کوي او کوږوالي ورته لټوي، دوی (له حق ) په لرې واټن بې لارۍ کې دي.

---

(١-٣)- په دې مبارکو آیتونو کې څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- دا کتاب د الله تعالی له لورې راغلی.
- له تیارو د نور لورې ته د خلکو د ایستلو یوازینۍ وسیله ده، یوازې په دې سره خلك له تیارو د نور طرف ته وتلی شي، له دې رڼا پرته انسان ته خپل ځان، فضاء، ماحول، هستي، عالم او کائنات مجهول، تك تور او تیاره برېښي، پېژندلی ئې نشي او په هغه کې خپله لار موندلی نشي؛ الله تعالی دا کتاب نازل کړی چې ته اې پیغمبره دا خلك له تیارو د نور لورې ته بوځې.
- دا د هغه الله له لورې راغلی چې یو صفت ئې (عزیز) دئ او بل (حمید)؛ یعني دا د

عزيز رب له لوري راغلی او عزت ته د رسېدو لار درښيي، دا د هغه رب له لوري راغلی چي له هر عيب منزه او د ټولو ستاينو خاوند دئ؛ د ده کتاب تاسو ته کمال ته د رسېدو لار درښيي، د دې کتاب محتويات خپل مخاطب ته ښيي چي رالېږونکی ئې عزيز او حميد دئ، لکه څنگه چي د هر چا کتاب د هغه شخصيت د لوستونکي مخي ته انځوروي؛ همدا راز د عزيز او حميد رب کتاب موږ ته د هغه صفات ځلوي.

- دا د هغه الله له لوري راغلی چي د ټول عالم ځواکمن ټولواك دئ او د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي؛ څوك چي دا کتاب ځان ته لارښود کړي نو د دغه ټولواك رب عنايت او رعايت به ئې په برخه کېږي او هغه چي له دې کتاب سره د مخالفت لار غوره کړي له سختو بدو پايلو سره به مخامخ کېږي. افسوس د دغو کافرانو پر بد حال د شديد عذاب له کبله چي دا کفر او انکار ئې د دوی په برخه کوي؛ د دغو کافرانو خصلتونه دا دي: له دنيوي ژوند سره د آخرت په پرتله زياته مينه کوي، د الله له لاري ډډه کوي او کوږوالي ورته لټوي؛ او له حقيقت او حق لاري په لري واټن ضلالت او بې لارۍ کي پراته دي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٤

او هيڅ رسول مو د خپل قوم له ژبي پرته په بله توگه نه دئ لېږلی؛ د دې لپاره چي دوی ته ئې (په واضح توگه) بيان کړي؛ نو د الله چي چا ته خوښه وي بې لاري کوي ئې او د هغه چا لارښوونه کوي چي غواړي ئې؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ.

(٤)- د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه ځينو دا اعتراض کړی چي دا خو زموږ په څېر انسان دئ، زموږ په ژبه خبري کوي، هر څه ئې زموږ په څېر دي؛ د خدای پيغمبر خو بايد په هر څه کي له عادي انسانانو توپير درلودی. ځينو ويلي: دا د خپل قوم او ولس لارښود او مشر دئ؛ د هغه قوم او ولس چي دی په نسبي توگه ورپوري تړلی دئ او د هغوی په ژبه خبري کوي؛ د ده په ضد ئې د نورو ولسونو قومي او ژبني تعصبات راپارولي. په دې مبارك آيت کي د دغو معترضينو په ځواب کي ويل شوي: هر پيغمبر له خپل قوم او ولس غوره شوی، هم د ده ژبه د خپل قوم ژبه وه او هم ئې پيغام د خپل قوم په ژبه، دا د دې لپاره چي لومړي مخاطبين ئې د پيغام په محتوی او مطلب په سمه توگه او آسانۍ سره پوه شي. اې نصرانيانو او اې يهودانو! آيا موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام د خپل خپل قوم په ژبه خبري نه کولې، آيا تورات او انجيل د دوی د قومونو په ژبه نه دي نازل شوي؟ څنگه پر دې اعتراض کوئ چي محمد صلی الله عليه و سلم عرب دئ او قرآن په عربي ژبي کي، نه دا پيغمبر د نورو قومونو لپاره پيغمبر گڼئ او نه قرآن د نورو قومونو لپاره لارښود کتاب؟

ولې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ضد د یهودو او نصرانیانو قومي او ژبني تعصبات پاروئ؟!! اصلي خبره دا ده چې څوك له الهي هدایت محروم شي او دا سعادت او استعداد له لاسه ورکړي چې په حق پوه شي او ایمان پرې راوړي نو یو او بل څه ئې د لارې خنډ شي، کله ئې شیطان یوه لورې ته کوږ کړي او کله بل لورې ته، کله یو څه ورته پلمه شي او کله بل څه، دا پریکړه د الله تعالی له لورې کیږي چې څوك د هدایت مستحق دئ او څوك نه، په چا کې د هدایت کېدو وړتیاوې شته او په چا کې نه، یوه ته دروازې پرانستل کیږي او د بل په وړاندې تړلې پاته کیږي.

د آیت په پای کې د الله تعالی دوه صفتونه بیان شوي: (عزیز) او (حکیم) چې ارتباط ئې له مخکینیو مطالبو سره په دې توګه دئ: هر قوم ته د دوی له منځه او د دوی په ژبه د پیغمبر لیږل حکیمانه کار دئ نه د اعتراض وړ کار، په دې کې ستر الهي حکمت مضمر دئ، ستاسو اعتراض بې بنسټه دئ؛ الله تعالی عزیز او عزتمن او ځواکمن دئ، کولی شي ټول خلك په خپل قاهره قوت سره په دې اړ کړي چې ایمان راوړي او د پیغمبر مخالفت ونه کړی شي؛ خو د حکیم خدای سنت دا نه دئ چې خلك د هدایت په لارې تلو ته مجبور کړي، د خلکو د لارښوونې په اړه خاص حکیمانه سنن لري؛ د هغوی له مخې ځینو ته د هدایت توفیق ورکوي او ځینې ترې محروموي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرْهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝٥

او یقیناً چې موسی مو له خپلو آیتونو سره ولیږو چې خپل قوم دې له تیارو د نور لورې ته وباسه او (د پند په توګه) د الهي ورځو یادونه ورته وکړه؛ یقیناً چې په دې کې حتماً د هر تکړه صبر کوونکي شاکر لپاره ښکاره نښې دي.

(۵)- د لته د موسی علیه السلام د بعثت یادونه د سورې د لومړۍ محوري موضوع لپاره د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې شوې؛ موسی علیه السلام په خپل قوم کې په پیغمبرۍ مبعوث شو، د تورات کتاب ورکړی شو چې د ده د قوم په ژبه وو، مأموریت ئې دا وو چې خلك د کفر، شرك، جهل، ظلم او فساد له تیارو وباسي او د ایمان، صالح عمل، عدالت او ښایسته ژوند روڼ سباوون پرې وګوري، ورته ویل شوي وو چې د قوم په وړاندې د هغو سترو الهي ورځو یادونه وکړه چې د لویو لویو ظالمانو د واکمنۍ ماڼۍ په کې نسکورې شوې او مظلومان په کې ژغورل شوي او د زمکې خلافت او وراثت ئې په برخه شوی. په دې تاریخي ورځو کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې (صبر) او (شکر) ئې دوه څرګندې ځانګړتیاوې دي؛ هغه چې د ستونزو او کړاوونو په وړاندې په مېړانه صبر کوي، نه مأیوس کیږي او نه په نیمې لارې کې ښې او کیڼ لورې ته منحرف کیږي؛ هغه چې

د حق په لار کې پر خپل هر حالت راضي وي او د خپل رب د پېرزوینو قدر کوي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَىٰكُم مِّنْ ءَالِ
فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ
نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن
شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِى لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾

**او هغه مهال چې موسی خپل قوم ته وویل: د الله پېرزوینه دربانديې درياده کړئ چې له فرعونيانو ئې وژغورلئ؛ بد بد عذابونه ئې درکول؛ او ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې؛ او په دې کې مو د خپل رب لويه آزموينه وه. او هغه مهال چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زيات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو يقيناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ.**

(٦-٧)- د دې مبارکو آيتونو په اړه بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

- موسی عليه السلام خپل قوم ته د الله تعالی هغه پېرزوينه وريادوي چې دوی ئې د فرعونيانو له بدو بدو عذابونو وژغورل؛ د الله تعالی له پېرزويني پرته هيچا او هيڅ څه له هغه دردناك عذاب نه شو ژغورلی.

- د ژغورني دغه ورځ او پېښه ئې له هغو الهي ورځو ده چې په مخکيني آيت کې ورته اشاره شوې.

- دا آيت ښيي چې د بني اسرائيلو زامن حلالول او ښځې ئې د وينځو په توگه ساتل د نورو بدو بدو عذابونو يوه بېلگه وه؛ خو د عذابونو تر ټولو ستره بېلگه؛ دوی ئې په غلامۍ، ذلت، فقر، لوږې او وېرې کې ساتل، سخت سخت او شاقه کارونه ئې پرې کول، نه يوازې هر قبطي په شخصي توگه له هر مظلوم بني اسرائيلي سره د هر څه کولو حق درلود؛ وهل، سپکول، وژل، مال او عزت ئې لوټل ورته جائز وو؛ بلکې حاکم نظام په رسمي توگه او د دې لپاره د دوی زامن ذبح کول چې د دوی شمېر زيات نشي او د فرعون واکمنۍ ته گواښ متوجه نه کړي؛ او د دوی لوڼې او ښځې ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېښودې چې د وينځو په توگه د دوی خدمت وکړي.

- دلته ويل شوي چې (په دې کې مو د خپل رب لويه آزموينه وه)، که څه هم ځينو درنو مفسرينو ويلي چې په دې کې هغو مصيبتونو ته هم گوته نيول شوې چې بني اسرائيل ورسره مخامخ ول؛ خو د آيت له فحوی او له مخکې او ورسته سره د دې فقرې تړاو ښيي

چې مراد ئې هغه الهي پېرزوینه او د فرعون له عذابونو د دوی ژغورنه ده چې د دوی په برخه شوه؛ او دا ځکه د بلاء او امتحان په نامه یاده شوې چې الله تعالی خپل بندګان هم په مصیبتونو سره ابتلاء او امتحانوي او هم په خپلو پېرزوینو او نعمتونو سره. د شپږم آیت په پیل کې له عذابونو د نجات او ژغورنې یادونه شوې او په اُوم آیت کې ویل شوي: (او هغه مهال درياد کړئ چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زیات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو یقیناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ) دا دواړه په ډېر وضاحت او صراحت سره ښیي چې دلته د بلاء مراد پېرزوینه او نعمت او له عذابونو ژغورنه ده.

- شکر دې ته وایي چې څوك د نعمت قدر وکړي، په همغه توګه ئې وکاروي چې منعم ئې خوښوي او د داسې موخو لپاره ئې وکاروي چې منعم پرې راضي کېږي؛ که نعمتونو ته ارزښت ورکړی شي او سمه استفاده ترې وشي نو الله تعالی ئې زیاتوي او که ئې څوك په غلطه او ناسمه توګه وکاروي؛ نه یوازې ګټه به ورونه رسوي بلکې همدا نعمت به ئې د الله تعالی له شدید عذاب سره مخ کړي.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ٨

او موسی وویل: که تاسو او ټول هغه چې په زمکې کې دي؛ کفر وکړئ نو یقیناً چې الله ستایل شوی بې نیاز دئ.

(٨)- موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: که تاسو او د زمکې ټول هستوګن؛ د کفر او انکار لار غوره کړئ؛ نو نه الله تعالی او د ده دین ته تاوان رسولی شئ او نه ئې ټولواکې او سیطرې ته ګواښ متوجه کولی شئ؛ الله تعالی نه ستاسو عبادت ته اړ دئ او نه ستاسو له مرستې پرته د کوم کار له تر سره کولو عاجز او ناتوان؛ الله تعالی غني دئ د هیڅا مرستې او ملتیا ته اړ نه دئ، الله تعالی حمید دئ له هر عیب، نقص او عجز منزه دئ. الله تعالی ستایل شوی بې نیاز دئ.

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ
بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ
أَفۡوَٰهِهِمۡ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ
مُرِيبٖ ٩ قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَدۡعُوكُمۡ
لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ

مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾

آيا د هغو خبر نه دئ دررسېدلی چې تر تاسو مخکې ول؛ د نوح قوم، عاد او ثمود او هغه چې تر دوی وروسته ول؛ چې له الله پرته ئې هیڅوك نه پېژني؛ پيغمبرانو ئې ځرګندي نښې ورته وروړې، نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او وئې ويل: موږ له هغه څه انکار کړی چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ؛ او موږ د هغه څه په اړه په بدګمانوونکې شك کې يو چې تاسو مو وربلئ؛ پيغمبرانو ئې وويل: آيا د الله په اړه شك کوئ چې د آسمانونو او زمکې پيدا کوونکی دئ؟ تاسو دې ته بلې چې ځيني ګناهونه مو درته وبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي؟! وئې ويل: تاسو يوازې زموږ په څېر انسانان يئ، غواړئ له هغه څه مو واړوئ چې زموږ پلرونو لمانځل؛ نو ځرګند دليل راته راوړئ.

---

(۹-۱۰)- دلته څو وضاحتونه ضروري دي:

● ډېرو ګمان کړی چې دا هم د موسی عليه السلام د مخکينۍ وينا ادامه ده؛ خو يقيناً چې دا يوه اشتباه ده، د موسی عليه السلام وينا د مخکيني آيت په (إن الله لغنى حميد) پای ته رسېدلې؛ دا ځکه چې له دې ځای تر دېرشم آيت پورې ټول آيتونه سره تړلې دي او يو بشپړ مضمون ئې جوړ کړی؛ که ټول مضمون ته ځير شو نو په واضح توګه راته جوته کېږي چې مخکيني آيتونه د سورې د دې برخې لپاره د مقدمې حيثيت لري؛ دلته قرآن په عامه توګه خپلو مخاطبينو ته ويلي چې آيا د مخکينيو قومونو د کفر، بغاوت او له پيغمبرانو عليهم السلام سره د دوی د مخالفت له بدو پايلو خبر شوي نه يئ؛ د نوح عليه السلام د قوم، د عاد او ثمود او د هغو چې تر دوی وروسته ول؛ چې له الله پرته ئې هيڅوك نه پېژني؟ پيغمبرانو ئې ځرګندي نښې ورته وروړې؛ نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او وئې ويل: موږ له هغه څه انکار کړی چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ؛ او موږ د هغه څه په اړه په شك کې يو چې تاسو مو وربلئ؛ داسې شك چې موږ ته ستاسو او ستاسو د دعوت په اړه ډول ډول ګمانونه راولاړوي.

● د آيت د دغې فِقرې (فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ: نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول) په اړه هم بېل بېل تعبيرونه وړاندې شوي چې تر ټولو دقيق ئې دا دئ: دوی خپل لاسونه خولو ته کړل او له ډېرې غصې ئې وچيچل، دا تعبير ځکه تر ټولو غوره دئ چې هم د فقرې له الفاظو سره اړخ لګوي او هم په قرآن کې ورته شاهد مومو؛ لکه دا (وَ إِذَا خَلَوْا عَضوا عَلَيْكُمُ الأَنَامِلَ مِنَ الغَيْظِ)؛ عبدالله بن عمر رضى الله عنه دغه تفسير او تعبير ته ترجيح ورکړې:

عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، {فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ}؛ قَالَ: «عَضُّوهَا» (عضوا

عليها تغيُّظًا) المعجم الكبير للطبرانی

له أبي الأحوص روايت دئ چي عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وويل: فردوا أيديهم في أفواههم يعني خپل لاسونه ئې وچيچل (د غصې له کبله).

ځينو ويلي چي د تعجب په توګه ئې خپلي ګوتي چيچلې، خو دا تعبير ځکه صحيح نه دئ چي د آيت په وروستۍ برخي کي د دوی انکار او ګواښ ته اشاره شوې او د دوی غيظ او مخالفت په ګوته کوي؛ نه تعجب او حيرانتيا. ځيني وايي چي پر خپلو خولو ئې لاس ايښی او په دې سره ئې پيغمبرانو عليهم السلام ته اشاره کړې چي خوله پټه کړئ؛ دا تعبير ځکه صحيح نه دئ چي د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي، په آيت کي داسي نه دي ويل شوي چي خپل لاس ئې پر خپلو خولو ايښی، بلکي ويل شوي چي دوی خپل لاسونه خولو ته کړل (في افواههم) راغلي نه (على افواههم).

له دې آيت معلوميږي چي هغه خلك دروغجن دي چي تر آدم عليه السلام پوري شجرې او نسبونه په ګوته کوي؛ ځکه قرآن وايي چي له نوح عليه السلام وروسته او مخکي ډير داسي قومونه تير شوي چي له الله تعالى پرته ئې هيڅوك نه پيژني.

دوی خپلو پيغمبرانو ته د رد ځواب ورکړی او ورته ويلي ئې دي: موږ له هغه څه انکار کړی چي تاسو راوړی او د الله تعالى له لوري ئې ګڼئ؛ موږ د هغه څه په اړه په شك کي يو چي تاسو مو وربلئ؛ داسي شك چي موږ ته ستاسو او ستاسو د دعوت په اړه ډول ډول ګمانونه راولاړووي.

پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته په ځواب کي ويلي: آيا د هغه الله په اړه شك کوئ چي د آسمانونو او زمکي پيدا کوونکی دئ؟ موږ خو تاسو د دغه الله لوري ته بلو؛ د الله تعالى دا پيغام تاسو ته رسوو چي له ګناهونو لاس واخلئ، خپل رب ته مخه کړئ چي ګناهونه مو درته وبخښي او تر ټاکلې نيټې مو وځنډوي؟! که نه نو ستاسي ځيني ګناهونه داسي دي چي له کبله به ئې د الله تعالى ستر عذاب درباندي نازل شي، يوازي ستاسو توبه او د الله تعالى لوري ته ګرځيدا دا عذاب ځنډولی شي.

دوی همغه د مخکينيو کافرانو خبره تکرار کړې او دا درې ځوابونه ئې ورکړي: ١- تاسو خو زموږ په څير انسانان يئ، ٢- غواړئ له هغه څه مو واړوئ چي زموږ پلرونو لمانځل، ٣- څرګند دليل راته راوړئ.

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ

وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾

خپلو پيغمبرانو ئې ورته وويل: موږ نه يو مگر ستاسو په څېر بشر؛ خو الله له خپلو بندگانو پر هغه چا پېرزوينه کوي چې دی ئې غواړي؛ او موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له اجازې پرته تاسو ته کوم دليل او نښه راوړو؛ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي. او ولې به موږ پر الله توکل نه کوو حال دا چې موږ ته ئې خپلې لارې راوښودې؛ او هرومرو به په هغه څه صبر کوو چې موږ پرې ځوروئ؛ او توکل کوونکې بايد پر الله توکل وکړي.

(١١-١٢)- پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته په ځواب کې ويلې: هو موږ ستاسو په څېر انسانان يو، له نورو انسانانو يوازې په دې کې توپير لرو چې الله تعالی پر موږ د وحې پېرزوينه کړې، زموږ په لاس ئې تاسو ته خپل پيغام لېږلی، دا پرېکړه الله تعالی کوي چې له خپلو بندگانو پر چا دا پېرزوينه وکړي، کومې معجزې چې تاسو غواړئ زموږ په واك کې نه دي، موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له حکم او اجازې پرته تاسو ته داسې دليل او نښه راوړو چې تاسو ئې غواړئ او قناعت پرې کوئ، ستاسو د گواښونو په وړاندې موږ خپل ځان الله ته سپارو، له مؤمنانو سره دا ښايي چې پر خپل رب توکل وکړي. ولې به پر الله تعالی توکل نه کوو په داسې حال کې چې موږ ته ئې د ژوندانه ټولې سمې لارې راوښودې، ستاسو د مخالفتونو او ځورونو په وړاندې به هرو مرو صبر کوو، له توکل کوونکو سره ښايي چې يوازې پر الله تعالی توکل وکړي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ
فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ
بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

او کافر شوو خپلو پيغمبرانو ته وويل: يا به مو هرو مرو تاسو له خپلې زمکې باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او مذهب ته راگرځئ، نو رب ئې دوی ته وحې وکړه چې دا ظالمان به هرو مرو هلاك کړو؛ او له دوی وروسته به تاسو په همدې زمکې کې حتماً مېشت کوو، دا د هغه چا لپاره دي چې زما له مقام ووېرېدو او زما له وعيد او گواښ ووېرېدو.

(١٣-١٤)- د کافرانو وروستی ځواب خپلو پيغمبرانو ته دا وو: له دغو دوو بديلونو يو غوره کړئ: يا به مو هرو مرو له خپلې زمکې او وطنه باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او

مذهب ته راگرځئ. د دوی د دې گواښ په ځواب کې الله تعالی خپلو پیغمبرانو ته دا ډاډېینه ورکړې چې مطمئن اوسئ دا ظالمان به هرو مرو هلاکوو؛ او له دوی وروسته به همدا زمکه ستاسو ډاډمن هستوگنځی گرځوو، دا الهي ژمنه د هغه چا لپاره ده چې زما په وړاندې له ودرېدو وېرېږي او زما له وعید او گواښ وېرېږي. د الله تعالی له لوري دا ژمنه یوازې له پیغمبرانو علیهم السلام سره نه ده بلکې تر قیامت پورې له هر هغه مؤمن بنده سره ده چې دغه دوه ځانگړتیاوې ولري: د الله تعالی په وړاندې له ودرېدو او له الهي وعید او گواښ وېرېږي. الله تعالی به د دوی دښمنان له منځه وړي او زمکه به دوی ته په میراث ورکوي.

---

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ﴿١٧﴾

او د فتح او پرېکړې غوښتنه ئې وکړه او هر سرکښ دښمن تباه شو. تر شا ئې دوزخ دئ او د نو په اوبو به خړوبه کړی شي، غوړپوي به ئې خو داسې به نه وي چې په آسانۍ ئې له ستوني تېرې کړي، له هر لوري به مرگ وردرومي خو دی به مړ کېدونکی نه وي؛ او تر شا به ئې پرېړ (سخت) عذاب وي.

---

(١٥-١٧)- د دښمنانو شرارتونه، مخالفتونه او گواښونه هغه پړاو ته رسېدلي چې پیغمبرانو علیهم السلام خپل رب ته د دعاء لاسونه لوړ کړي او د وروستۍ پرېکړې او بریا غوښتنه ئې کړې؛ الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړې، د کافرانو د تعذیب پرېکړه ئې صادره کړې او هر سرکښ دښمن ئې له تباهۍ سره مخ کړی. دا د حق سرکښ دښمنان نه یوازې په دنیا کې په الهي عذاب اخته او نامراده شوي بلکې د دوزخ سخت عذاب ورته منتظر دئ، هلته به د پرهارونو نو او زوې په تریو تندې او له کرکې سره له خپل ستوني تېروي، غوړپ غوړپ به په کړاو کړاو تېروي، مرگ به له هر لوري خپل کومی ورته پرانیستلی وي خو د مرگ آرامتیا به ئې نه په برخه کېږي، له کړاوونو به ئې نه ژغوري، نور سخت سخت عذابونه به ورته انتظار کوي او یو په بل پسې به ئې په خپلو کلکو منگولو کې نیسي.

---

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ لَّا يَقۡدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ﴿١٨﴾

د هغو مثال چې د خپل رب په اړه ئې کفر کړی؛ عملونه ئې د داسې ایرو په څېر دي

چې د بادرېږ په ورځ سخته سيلۍ پرې راشي، د خپلو لاسته راوړنو په هيڅ څه به برلاسي نشي، همدا ژور لار ورکتوب دئ.

(۱۸)- په دې مبارك آيت کې د هغه چا د کړنو، لاسته راوړنو، هلو، ځلو، وسائلو او امکاناتو ماهيت د يوه ښکلي مثال په ترڅ کې انځور شوی چې د خپل رب په اړه ئې د کفر لار غوره کړې، د ايرو له داسي کوټې سره تشبيه شوي چې پر له پسې تونده سيلۍ پرې راشي او داسي ئې خورې ورې کړې چې هيڅ اثر ئې پر ځای پاته نشي؛ د کافرانو کړني، لاسته راوړني او هلي ځلي دې ته ورته دي؛ نه ګټه لري، نه اغېز او نه بقاء، نه به دوی ته هيڅ ګټه ورسوي او نه به د حق د بري لاره خنډ کړی شي. دوی داسي دي لکه په لويه وچه بېديا کې چې لار ترې ورکه شوې وي، په تيارې کې درومي، په هر لوري چې ګام اخلي د سمي لارې په موندلو نه توانېږي او څه په لاس نه ورځي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾

آيا نه ګورې چې الله آسمانونه او زمکه په حقه پيدا کړي، که وغواړي له منځه به مو يوسي او نوي خلك به راپيدا کړي. او دا الله ته ګران او درونډ کار نه دئ.

(۱۹-۲۰)- دلته څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي:

- الله تعالی آسمانونه او زمکه په حقه او سمه توګه پيدا کړي، نه ناکاره، عبث، باطل او خوشی شیء په کې موندی شي او نه اضافي او بې حاجته شی، نه کومه تشه او خلاء تر سترګو کېږي او نه کوږوالی. د الله تعالی په دې ملك کې به کافران څنګه خپلو موخو ته رسي؟ څه او څوك به ئې په باطل کې مرسته او ملګرتيا کوي؟ آيا په دې پراخ عالم کې داسي څه په نظر ورځي چې د باطل ملاتړ او تأييد وکړي؟!!
- الله تعالی ته ګرانه نه ده چې د زمکې د سر ټول خلك له منځه يوسي او نوی مخلوق راپيدا کړي، که وغواړي چې دا کار وکړي څوك ئې مخنيوی کولی شي؟

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ قَالُواْ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾

او ټول به الله ته ښکاره (غونډ) شي، نو کمزوري به هغو ته چې لويي ئې غوښته

ووايي: يقيناً موږ ستاسو اتباع وو، نو آيا تاسو د الله له عذاب کوم څه رانه دفع کوونکي یئ؟ وبه وايي: که الله موږ هدايت کړي وی نو حتماً به مو تاسو ته لارښوونه کړې وه، موږ ته برابره ده چي که زګېروی وکړو او يا صبر وکړو هيڅ خلاصی راته نشته.

(۲۱)- د دې مبارك آيت اساسي لارښووني دا دي:

- د قيامت په ورځ به ټول خلك له قبرونو راووځي، د الله تعالی په وړاندي به په ځرګنده توګه ودرېږي، د هر چا هر څه به ځرګند او ښکاره وي، نه به څوك پټنځی موندی شي او نه به څه له الله تعالی پټولی شي.

- هغه چي په دنيا کي په ضعف او کمزورۍ کي ساتل شوي وو؛ هغو ته به ووايي چي لويي ئې غوښته: موږ خو ستاسو اتباع او پلويان وو، نو اوس خو به د الله له عذاب کوم څه رانه دفع کوونکي یئ؟ مستکبرين به ورته ووايي: موږ پرون له الهي هدايت محروم وو او نن له الهي عذاب د ژغورني لار رانه ورکه ده، که الله موږ ته هدايت کړی وی نو حتماً به مو تاسو ته لارښوونه کړې وه، نه ځان ژغورلی شو او نه ستاسو مرسته کولی شو، نن موږ ټولو ته برابره ده چي که زګېروی وکړو او يا صبر وکړو هيڅ خلاصی راته نشته.

وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٢﴾

او کله چي د دې کار د پای ته رسېدو پرېکړه وشي شيطان به ووايي: يقيناً چي الله له تاسو سره رښتينې ژمنه کړې وه او ما چي ژمنه درسره کړې وه درنه په شا شوم؛ او پر تاسو مي هيڅ زاز واکمني نه وه؛ مګر دومره چي تاسو ته بلنه درکړم او راسره ومو منله، نو ما مه ملامتوئ؛ او خپل ځان ملامت کړئ، نه زه ستاسو د چيغو اورېدونکی یم او نه تاسو زما د چيغو اورېدونکي، يقيناً چي زه ستاسو له هغه مخکيني شرك منکر یم چي (له الله) سره مو شريکولم. يقيناً چي دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ.

(۲۲)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- کله چې د الله تعالی له لوري د ټولو خلکو د برخليك وروستۍ پرېکړه وشي، جنتيان جنت ته ولاړ شي او دوزخيان دوزخ ته؛ نو شيطان به خپلو اتباعو ته مخ کړي او وبه وايي: يقيناً چې الله له تاسو سره رښتينې ژمنه کړې وه، همغه څه ئې وکړل چې د پيغمبرانو په واسطه ئې له تاسو سره وعده کړې وه، مؤمنانو ته ئې جنت ورپه برخه کړ او کافران ئې په دوزخ کې واچول، د ايمان او کفر پايلې همغسې وختې چې الله تعالی ويلې وو؛ او ما چې کومې ژمنې درسره کړې وې، د شرك، کفر، ظلم، گناه، عصيان او فساد پايلې مې درته ښايسته ښودلې وې؛ دا دئ گورئ چې خپله هيڅ وعده مې تر سره نه کړی شوه، له ټولو ژمنو تر شا شوم، پر تاسو مې هيڅ راز واکمني او برلاسي نه وه، نه مې شرك ته اړ کړي يئ او نه مې د گناه په کولو مجبور کړي، فقط دومره مې کړي چې تاسو ته بلنه درکړم او تاسو راسره منلې ده، نو ما مه ملامتوئ، خپل ځان ملامت کړئ؛ اوس زما او ستاسو حالت داسي دئ چې نه زه ستاسو د چيغو اورېدونکی يم او نه تاسو زما د چيغو اورېدونکي، نه زه کومه مرسته درسره کولی شم او نه تاسو زما مرسته کولی شئ، زه ستاسو له هغه مخکيني شرك منکر يم چې (له الله) سره مو شريکولم.
- د شيطان د وينا د دغې برخې په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او وگورو چې معنی ئې څه ده او د شيطان اتباع څنگه دی له الله تعالی سره شريك کړی؟ آيا له الله تعالی پرته د بل چا اطاعت شرك دئ؟ آيا د شيطان وسوسو ته تسليمېدل او خبره ئې منل داسي دي لکه چې دی له الله تعالی سره شريك کړی شي؟ د قرآن له وينا معلومېږي چې د الله تعالی مختص او ځانگړي حقوق دي؛ که څوك په دغو ځانگړو او اختصاصي حقوقو کې بل څوك له الله تعالی سره شريك کړي؛ نو د شرك مرتکب شوی، دا عمل ئې شرك دئ او دی مشرك، يوازې د الله تعالی عبادت، يوازې له ده استعانت او يوازې ده ته دعاء، د حلال او حرام په اړه يوازې د ده د حکم اطاعت، د شخړو د حل و فصل لپاره يوازې د ده شريعت ته رجوع، له ده سره دومره مينه چې پر هرې بلې مينې غالبه وي، له ده داسې وېره چې هيڅ وېره ورسره برابري ونه کړی شي او ده ته داسې طمع چې يوازې له ده سره ښايي؛ څوك چې په دغو برخو کې بل څه او بل څوك له الله تعالی سره شريك کړي؛ مشرك دئ. لکه چې دلته د شيطان له خولې د ده اطاعت او متابعت ته شرك ويل شوي، همدا راز قرآن وايي چې چا د خپل نفس او هوی او هوس متابعت وکړ په حقيقت کې ئې خپل نفس (اله او معبود) گرځولی:

أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ الفرقان: ٤٣

آيا هغه ته دې پام نه دئ کړی چې خپله هوی او هوس ئې ځان ته اله گرځولی؛ نو آيا ته پرې وکيل يې؟

- هغه ظالمان به په دردناك عذاب اخته کېږي چې د شرك لار ئې غوره کړه او د شيطان

متابعت ئې وکړ.

وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ﴿٢٣﴾

او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ د الله په حکم سره به داسې جنتونو ته ننایستی شي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، هلته به ئې هر کلی په سلام سره وي.

(۲۳)- دا آیت وایي: چا چې ایمان راوړی او نېك عملونه ئې کړي د الله په حکم سره به داسې جنتونو ته ننایستی شي چې د ونو او بنګلو لاندې ئې ویالې بهېږي، هلته به ئې تلپاتې ژوند په برخه وي، د دوی هر کلی به په سلام سره کېږي او یو به بل ته په سلام سره هرکلی وایي. هر څه به له هر لوري هغوی ته د سلامتیا زېرې ورکوي او مبارکي به ئې ورته وایي.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٞ
وَفَرْعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذْنِ رَبِّهَاۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ
ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ
ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ
ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا
يَشَآءُ ﴿٢٧﴾

آیا پام دې نه دئ چې الله د سپېڅلې کلمې مثال څنګه بیان کړی؟ د هغې پاکې ونې په څېر چې جرړې ئې مضبوطې دي او څانګې ئې د آسمان (په غېږ) کې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي. الله خلکو ته دا مثالونه بیانوي چې پند واخلي؛ او ناپاکه کلمه هغه پلیت بوټي ته ورته ده چې د زمکې له سره ایستل شوی، هېڅ ټیکاو ئې نشته، الله مؤمنان په دنیوي ژوند کې هم په مضبوطې وینا سره ټینګ او ثابت ساتي او په آخرت کې هم؛ او ظالمان بې لارې کوي او همغه څه کوي چې غواړي ئې.

(۲۴-۲۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د پاکې او ناپاکې کلمې مثالونه په ډېرې ښکلې او زړه راکښونکې بڼې کې وړاندې شوي؛ یوې خوا ته د هغې وینا مثال انځوروي چې د ایمان له سمسورې زمکې راټوکېدلې او بلې خوا ته د هغې وینا مثال چې د کفر او شرك له گنده ډنډ خړوبه شوې؛ په دې توگه:

- ایمان د هغې پاکې ونې په څېر دئ چې جرړې ئې مضبوطې دي او څانگې ئې د آسمان په غېږ کې، زمکې په خپل زړه کې ځای ورکړی او جرړې ئې په هغې کې ژورې ننوتې او څانگې ئې آسمان ته لوړې شوې او آسمان په خپلې غېږ کې نیولې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي؛ یعني ایمان داسې ونه ده چې جرړې ئې مضبوطې دي، د عالَم هر څه ئې ملاتړ او تأیید کوي، پر مضبوطو بنسټونو ولاړه ده، څانگې ئې هر لوري ته لوړې ځي، تل او په خپل وخت خپله مېوه ورکوي، مؤمن ته ثبات او دوام ورپه برخه کوي، مېوه ئې د مؤمن د نېك او صالح عمل په توگه راڅرگندېږي.

- او کفر د هغه پلیت بوټي په څېر دئ چې نه ئې جرړې په زمکې کې ننوځي او نه ئې څانگې د آسمان په لور لوړېږي، نه ئې زمکه جرړې په خپلې سینې کې قبلوي او نه ئې آسمان څانگې په خپلې غېږ کې نیسي، د هر څه له تأیید او ملاتړ محرومه، د یوې سپکې او آرامې سیلۍ په وړاندې هم مقاومت نشي کولی، په معمولي باد سره ئې جرړې وځي او د زمکې پر سر رغړي.

- تر دې وړاندې په (۱۸) آیت کې الله تعالی د کافرانو عمل د ایرو له داسې کوټې سره تشبیه کړ چې توند باد پرې راشي او خورې ورې ئې کړي، دلته ئې کفر له داسې پلیت بوټي سره تشبیه کړی چې جرړې ئې په زمکې کې نه ننوځي او څانگې ئې آسمان ته نه لوړېږي.

- الله دا مثالونه خلکو ته د دې لپاره بیانوي چې پند واخلي.

- الله تعالی مؤمنان هم په دنیوي ژوند کې په مضبوطې وینا سره مضبوطوي او هم په آخرت کې، په دنیوي ژوند کې به ئې هم وینا درنه، پر مضبوطو دلائلو ولاړه او اغېزمنه وي او په آخرت کې هم د الله تعالی په وړاندې له قدر او اعتبار برخمنه.

- خو هغه ظالمان چې د کفر او شرك لار ئې غوره کړې نه به په دنیا کې په سم لوري د تلو توفیق تر لاسه کړي او نه به په آخرت کې داسې څه د ویلو لپاره موندلی شي چې خپل کفر او شرك پرې توجیه کړي او له عذاب ځان وژغوري.

- الله تعالی له هر بنده سره د خپل مشیت او ثابتو سننو مطابق معامله کوي، یوه ته د همدې سننو مطابق لارښوونه کوي او بل ترې محروموي.

د قرآن دا مثال په یوه روایت کې په دې توگه تشریح شوی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَرضى الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ مَثَلُهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا، وَلاَ تَحُتُّ وَرَقَهَا". فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ وَثَمَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَلَمَّا لَمْ يَتَكَلَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "هِيَ النَّخْلَةُ". فَلَمَّا خَرَجْتُ مَعَ أَبِي قُلْتُ يَا أَبَتَاهْ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ. قَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَهَا لَوْ كُنْتَ قُلْتَهَا كَانَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا. قَالَ مَا مَنَعَنِي إِلاَّ أَنِّي لَمْ أَرَكَ وَلاَ أَبَا بَكْرٍ تَكَلَّمْتُمَا، فَكَرِهْتُ.

له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: "هغه ونه راوښيئ چي مسلمان ته ورته ده، د الله په حکم سره په هر موسم کې خپله مېوه ورکوي، پاڼي ئې نه رژېږي"؛ عبدالله بن عمر وايي: زما په زړه کې راولوېدل چي ښايي دا به د خرما ونه وي خو دا راته بده وبرېښېده چي په داسي حال کې څه ووايم چي هلته ابوبکر او عمر وي خو څه نه وايي؛ کله چي دوی څه ونه ويل نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: "دا د خرما ونه ده"؛ کله چي له خپل پلار سره ووتم ومي ويل: گرانه پلاره! زما په زړه کې راولوېدل چي ښايي دا به د خرما ونه وي؛ راته وئې ويل: څه شي د دې خبري له کولو منع کړې؟ که دي دا خبره کړې وی نو ستا دا خبره به تر هغه او هغه هم راته غوره وه. ومي ويل يوازي دې خبري منع کړم چي ته او ابوبکر څه نه وايئ نو بده راته وبرېښېده (چي زه څه ووايم).

---

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّواْ قَوْمَهُمْ دَارَ ٱلْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَاۖ وَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴿٢٩﴾

آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي د الله نعمت ئې په کفر بدل کړ او خپل قوم ئې د هلاکت ټاټوبي ته کوز کړ؛ دوزخ ته چي ورننوځي به؛ او څومره بد قرارځی!

---

(٢٨-٢٩)- په دې مبارك آيت کې د کفر د جبهې هغو قومي سردارانو او صناديدو او مذهبي مشرانو ته اشاره شوې چي خپل قوم او اتباع ئې د کفر په لور بېولي او دوزخ ته ئې رسولی، الله تعالی چي دوی ته کوم نعمتونه ورکړي وو؛ يا مال او دولت، يا اقتدار او زعامت، يا اعتبار او وجاهت؛ د دې پر ځای چي د الله تعالی دا پېرزويني او نعمتونه په دوی کې د منني او سپاس احساس راوپاروي او د الله تعالی شاکر بنده شي؛ په خلاف ئې دا نعمتونه د کفر او بغاوت په لار کې کارولي، په خپله بې لاري شوي او نور ئې بې لاري کړي.

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٣٠﴾

او الله ته ئې سيالان جوړ كړل د دې لپاره چې د ده له لارې (خلك) منحرف كړي؛ ووايه: متمتع شئ چې گرځېدا مو د اور په لوري ده.

(۳۰)- دا مبارك آيت څو ډېرې مهمې لارښوونې او حقائق زموږ مخې ته بږدي:

- الله تعالى ته سيالان جوړول د هغه چا كار دئ چې غواړي خلك دوكه او د الله تعالى له لارې ئې منحرف كړي. شرك هغه بوټى نه دئ چې په خپله راټوكېږي، دا گنده بوټى د هغو ټگمارانو په لاس كرل شوى چې غواړي ناپوهان د الله تعالى له لارې منحرف كړي. پر قبرونو لوړ لوړ او ښايسته او مزين زيارتونه جوړول، خلك دې ته رابلل چې د دې زيارتونو په درشل كې نذرانې وړاندې او مجاورينو ته ئې شكرانې وركړي، دې او هغه ته د ولي الله نوم وركول، كرامتونه ورته ثابتول او په غيب پوهېدا ورته منسوبول؛ د هغو ټگمارانو دنده ده چې له همدې ئې ځان ته دام او دكان جوړ كړى، جاهلان غولوي او له حق لارې ئې تېرباسي.
- دوى له دې كار خپلې گټې تر لاسه كوي، دا ئې د تمتع او گټې وسيله ده؛ د همدې لپاره هغوى ته ووايه: متمتع شئ خو په دې دې پوه وئ چې دا گټه به تاسو د دوزخ اور ته رسوي.

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ﴿٣١﴾

زما هغو بندگانو ته چې ايمان ئې راوړى ووايه: (د لمانځه) اړيكه ټينگه كړي؛ او له هغو څه په پټه او ښكاره انفاق كړي چې ورروزي كړي مو دي؛ تر دې وړاندې چې داسې ورځ راشي چې نه پېر پلور په كې شته او نه دوستي.

(۳۱)- دلته څو خبرې په پام كې ولرئ: په مخكينيو آيتونو كې د كافرانو دريو خصلتونو ته اشاره شوې: كفر او شرك، له آخرت انكار، د دنيوي اغراضو لپاره د شرك ځلې جوړول او جاهلان پرې غولول؛ په دې آيت كې د دوى مقابله ډله معرفي شوې چې ځانگړتياوې ئې دا دي: د الله تعالى عبادت كوي، په لمانځه سره خپلې اړيكې هم له الله تعالى سره او هم د ده له بندگانو سره ټينگوي، كوم نعمتونه چې الله تعالى وركړي د ده په لار كې ئې په پټه او ښكاره لگوي؛ دا ځكه چې دوى په هغې ورځې باور لري چې نه پېر پلور په كې شته او نه

خپلوي چا ته ګټه رسولی شي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ
ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ
لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ
وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ
إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

الله هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل، له آسمان ئې اوبه رانازلې کړې او په دې سره ئې دا مېوې راوايستې؛ تاسو ته د روزي په توګه، کشتۍ ئې درته مسخره کړې چې د ده په حکم سره په بحر کې درومي؛ او نهرونه ئې درته مسخر کړل. او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړل؛ د دوو تلونکو په توګه؛ او شپه او ورځ ئې درته مسخر کړې؛ او هر هغه څه ئې درکړل چې ترې ومو غوښتل؛ او که د الله نعمتونه وشمېرئ نو شمېرلی ئې نشئ؛ يقيناً چې انسان ډېر ظالم او ډېر ناسپاس دئ.

(۳۲-۳٤)- دلته د الله تعالی د سترو سترو پېرزوينو څو بېلګې زموږ مخې ته ځلېږي:

- الله هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل، يو ئې زموږ د کور چت او بله ئې غولی؛ او د دوی دواړو هر څه داسې چې زموږ اړتياوو ته ځواب وايي. چا چې آسمانونه او زمکه په دې توګه پيدا کړي، هغه الله تعالی دئ.

- له آسمان ئې اوبه رانازلې کړې او په دې سره ئې دا مېوې راوايستې؛ تاسو ته د روزي په توګه؛ د دواړو تر منځ ئې دا تنسيق، يووالی او ګډ کار رامنځته کړی چې له يوه باران وروي او له بلې موږ ته مېوې راباسي، يو موږ ته اوبه راکوي او بله ئې دانه او مېوه، دواړه په ګډه موږ ته د رزق او روزي انتظام کوي؛ چا چې د آسمان او زمکې تر منځ دا تنسيق راوستی او دواړه ئې پر دې ګمارلي چې موږ ته خوراك او څښاك برابر کړي؛ هغه الله تعالی دئ.

- کشتۍ ئې درته مسخري کړې چې د ده په حکم سره په بحر کې درومي؛ او نهرونه ئې درته مسخر کړل. الله تعالی په طبيعت کې د کشتۍ جوړولو او د اوبو پر سر د هغوی د تلو امکانات کښېښودل او انسان ته ئې دا استعداد او توفيق ورکړ چې له دغو امکاناتو په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي.

● په طبیعت کې ئې د نهرونو بهېدو شرائط برابر کړل، زمکه ئې داسي جوړه کړې چې لوړې، ژورې او آوارې برخې لري، پر لوړو ئې واوره او باران وورويي، د واورو او باران اوبه ورو ورو د ژورو او آوارو سیمو په لور وبهېږي، واوري ورو ورو ویلې کېږي او نهرونو ته راکوزېږي، د خلکو د کورونو خوا ته تېرېږي، دوی ته صفا او خوندوري اوبه ورکوي، څاروي او کروندې ئې خړوبه کوي.

● لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړل چې په منظمه او دقیقه توګه درومي، لمر ستاسو ورځ رڼا کوي، ستاسو کور ته رڼا او تودوخه درکوي، سپوږمۍ ستاسو تیارې شپې رڼا کوي، لمر، سپوږمۍ، ورځ او شپه ئې د داسي قواعدو تابع کړي چې ستاسو اړتیاوو ته ځواب ووايي، پرېنږدي چې زمکه دومره سړه یا سره شي چې ژوند په کې ممکن نه وي، د شپې او ورځي پر له پسې تګ راتګ د دې باعث شي چې د زمکې په تودوخي کې تعادل رامنځته شي، د ډېر تودوالي او سوړوالي مخه ئې ونیسي، که د لمر او سپوږمي دا منظم خوځښت نه وي، که د شپې او ورځي تګ راتګ نه وی، که شپه او ورځ تر اوسني حالت اوږده یا لنډه وی نو د زمکې پر سر نه انسان ژوند کولی شو، نه حیواناتو او نه نباتاتو. چا چې لمر او سپوږمۍ پیدا کړي، د دوی د تلو راتلو لپاره ئې ثابت او دقیق مدار او مسیر ټاکلی، شپه او ورځ ئې پیدا کړي، د هرې یوې عمر ئې تعیین کړی او په دې سره ئې ټولو ژوو ته د ژوند مجال او شرائط برابر کړي؛ هغه الله تعالی دئ.

● انسان ته ئې هر هغه څه ورکړل چې د حال او قال په ژبه ئې ترې غوښتي، هغه څه هم چې د ده فطرت ورته اړ وو او د ده د وجود سلول سلول ئې ترې غواړي او ډېر هغه څه هم چې ده په خپله ژبه ترې غوښتي؛ هغه ذات چې زموږ غوښتنو ته ئې ځواب ویلی او زموږ حاجتونه ئې تر سره کړي؛ هغه الله تعالی دئ.

● او اې انسانه! الله تعالی دومره پېرزویني پر تا کړې او دومره نعمتونه ئې درکړي چې که وغواړې هغه حساب ئې کړې نو هیڅکله به ئې په شمېرلو موفق نشې.

● د الله تعالی د دغو ټولو بې شمېره پېرزوینو او نعمتونو په وړاندې؛ انسان له خپل رب سره هغه څه کوي چې یوازې ډېر ظالم او ډېر ناسپاس مخلوق ئې کولی شي، یقیناً چې انسان ډېر ظالم او ډېر ناسپاس دئ.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ
ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ
عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيْرِ ذِى

زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ
تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا
نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾
ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ
ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا
ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ﴿٤١﴾

او هغه مهال چي ابراهيم وويل: اې زما ربه! دا ښار خوندي كړې؛ او ما او زما اولاد له دې په ډډه كړې چي بتان ولمانځو؛ اې زما ربه! يقيناً چي دوى ډېرى وگړي بې لاري كړل؛ نو چا چي زما متابعت وكړ هغه زما له ډلي دئ او چا چي زما سرغړاوى وكړ نو بې شكه چي ته مهربان بخښونكى يې. اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني؛ ستا د محترم كور خوا ته په داسي بېديا كي مېشت كړل چي بې بوټي ده؛ اې زموږ ربه! د دې لپاره چي لمونځ اقامه كړى شي؛ د خلكو زړونه د دوى لوري ته رامات كړه او له مېوو روزي وركړه چي شكر پر ځاى كړي. اې زموږ ربه! يقيناً چي ته په هر هغه څه پوهېږې چي موږ ئې پټوو يا ئې ښكاره كوو او پر الله خو نه څه په آسمان كي پټ پاته كېږي او نه په زمكي كي، ستاينه هغه الله ته ده چي ما ته ئې په زړښت كي اسمعيل او اسحاق راپه برخه كړل، بې شكه چي زما رب د دعاءگانو اورېدونكى دئ. اې زما ربه! لمونځ كوونكى مي كړې او اولاد مي هم. اې زموږ ربه! او دعاء مي قبوله كړې!! باري خدايه! ما ته بخښنه وكړې؛ او زما مور پلار ته او مؤمنانو ته د حساب قائمېدو په ورځ.

(۳۵-٤۱)- په دې مباركو آيتونو كي د مخكيني موضوع په ارتباط؛ د مؤمنانو د ستر سالار او د موحدينو د نوميالي مخكښ مشر ابراهيم عليه السلام قصه زموږ مخي ته ايښودل شوې؛ د دې لپاره چي وگورو ايمان انسان كوم مقام ته رسوي، څومره ئې لوړ بيايي، څنگه ئې د عالمونو رب دعاءگاني مني؛ يو سپېره وچ خوړ د ده په دعاء په داسي خوندي او له امن او بركتونو ډك ښار بدلېږي چي د نړۍ د ټولو موحدينو او مؤمنانو قبله گرځي، په دې كي د ابراهيم عليه السلام په لاس بيت الله، د خداى كور او د خداى پالو مطاف جوړېږي، هر كال په لكونو خداى پال، پر الله تعالى مين؛ له محبت او اخلاص ډك زړونو سره دې ښار ته د الله تعالى د كور د طواف او د ابراهيم عليه السلام پر پل د پل ايښودو لپاره درومي او

همغه ځه کوي چې ابراهیم علیه السلام، د ده زوی اسمعیل علیه السلام او د ده مېرمنې هاجر علیها السلام کړي ول؛ او دا دئ تر نن پورې په تېرو نژدې څلورو زرو کلونو کې په سلګونو ملیونو خلکو د ابراهیم علیه السلام په دعاء آباد شوې ښار ته تللي او د ده په لاس جوړې شوې کعبې طواف ئې کړی. دا لړۍ به همداسې تر قیامت دوام کوي؛ دا په داسې حال کې چې څلور زره کاله مخکې؛ دلته په دې وچ ناو کې؛ له ابراهیم علیه السلام او د ده له مېرمنې او تې خور زوی پرته نه بل انسان وو او نه بل ژوی، نه اوبه، نه بوټی او نه حیوان. دا دئ ستاسو په وړاندې د پاکې کلمې د اغېز او مېوو همغه تاریخي بېلګه چې د ابراهیم علیه السلام په قصې کې انځور شوې، همغه کلمه چې جرړې ئې د زمکې په زړه کې ژورې درومې، څانګې ئې د آسمان په لورې لوړېږي او تل خپله مېوه ورکوي.

له بلې خوا د دې قصې په ترڅ کې قریشو ته خپل جد ورپه یاد شوی او ورته ویل شوي: ستاسو دا خوندي او باامنه ټاټوبی او همغه پرېمانه رزق چې له هر لورې دې مبارك ښار ته رادرومي؛ ستاسو د همغه جد د دعاء مظهر دئ چې موحد وو، د ځان او خپل اولاد لپاره ئې د الله تعالی په وړاندې دا دعاء کړې وه چې له شرك او د بتانو له لمانځنې ئې لرې وساتي او د (اقامة الصلوة) او (شکر) توفیق ئې په برخه کړي؛ خو نن ستاسو هر څه د همغه د هیلو او آرمانونو خلاف دي، ستاسو ټغر به ټولېږي، الله تعالی به له ابراهیم علیه السلام سره خپله وعده تر سره کوي، د ده د دعاء مصداق به یو ځل بیا راڅرګندېږي، الله تعالی به دا ښار هغو خلکو ته سپاري چې ابراهیم علیه السلام ئې د پیدا کېدو هیله او دعاء کړې وه.

د قرآن له دغو آیتونو چې د ابراهیم علیه السلام دعاء ئې په ډېرې اغېزمنې او زړه راښکونکې بڼې کې انځور کړې؛ څو خبرې په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعیل علیهما السلام د مکې په بېدیا کې همغه مهال پرېښودل چې همغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کې نه راټوکېدو؛ نه په کې بل انسان وو او نه هیڅ حیوان.

- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چې دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بیت الله) جوړوي. په دې سره د بایبل همغه ادعاء تکذیب شوې چې وایي: سارا د ابراهیم علیه السلام بلې مېرمنې؛ له ده وغوښتل چې هاجر او زوی ئې له کوره وشړي او ده هم دا کار وکړ!! تفصیل ئې په (بایبل د قرآن په رڼا کې) ولولئ.

- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لورې د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چې په هغې وچې بېدیا کې نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.

- مطمئن وو چې الله تعالی به دا دعاء داسې قبلوي لکه ده ته چې ئې په زړښت کې اولاد ورکړ.

- د دعاء له الفاظو معلومېږي چې اسمعیل علیه السلام تر اسحق علیه السلام مشر وو، لومړی ئې د اسمعیل او وروسته ئې د اسحاق نوم اخیستی؛ او په دې سره ئې د بایبل هغه ادعاء رد کړې چې وایي: اسحاق د ابراهیم یوازینی مشر زوی وو. د بایبل دا ادعاء هم په خپله د بایبل خلاف ده او هم د قرآن.

- د دعاء په الفاظو کې د ده قوي عاطفه او د مېرمنې، زوی او ټولو مؤمنانو په اړه د ده ژور زړه سوی او قوي مینه د ځپاند سیند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار او هر زړه سواند داعي له سترګو اوښکې بهېږي؛ ابراهیم علیه السلام هغه څوك د خپلې ډلې غړی او د خپل کاروان همسفر بولي چې د ده متابعت کوي، له ده سره په فکري او اخلاقي لحاظ ورته والی لري، د نسبي اړیکو پر ځای فکري او اخلاقي اړیکې د اعتبار وړ ګڼي، هغه چا ته د مهربان بخښونکي رب بخښنه او مغفرت غواړي چې د الله په لوري تګ کې د ده ملګرتیا نه کوي.

ښه به وي چې دلته د بایبل هغه برخه هم راواخلو چې د هاجر او اسمعیل تر عنوان لاندې ئې لیکلې او ډېرې سپکې سپورې او غلطې ویناوې په کې ګورو، بایبل لیکي:

"سارای ابرام (ابراهیم) ته وویل: زه اولاد نه لرم، ته زما دا وینځه په نکاح کړه چې زما لپاره اولاد ترې پیدا شي، ابرام موافقه وکړه، خو کله چې هاجر حامله (امیندواره) شوه، نو مغروره شوه او سارای ته ئې د حقارت په سترګه کتل، سارای ابرام ته شکایت وکړ، هغه په ځواب کې ورته وویل: دا ستا وینځه ده، چې څنګه دې زړه غواړي همغسې ورسره وکړه!! نو سارای له هاجر سره بدسلوکي پیل کړه او هغه وتښتېده!! خو په بېدیا کې یوې فرشتې د هغې چینې خوا ته ولیده چې د شور په لارې کې پرته ده، ورته وئې ویل: بېرته خپلې باداري ته ستنه شه او اطاعت ئې کوه، زه به ستا نسل زیات کړم، ته حامله یې، زوی به وزېږوې، د اسمعیل نوم پرې کښېږده... ستا زوی به وحشي وي، دی به له ټولو سره او ټول به له ده سره جنګېږي!! ... هاجر له ځان سره وویل: آیا په رښتیا ما خدای لیدلی!! ... هاجر کور ته ستنه شوه او زوی ئې پیدا شو او ابرام؛ اسمعیل ونومولو"!!

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن د بایبل د دغو غلطو خبرو د تصحیح لپاره فرمایي: هاجر تښتېدلې نه ده بلکې ابراهیم علیه السلام د الله تعالی په امر له خپل زوی اسمعیل علیه السلام سره یو ځای د مکې په وادي کې پرېښوده، په دې موخه او په دې هیله چې دلته به د موحدینو ستر مرکز جوړوي.

- دا چینه هغه نه ده چې بایبل ئې ادعاء کوي؛ بلکې دا د زمزم چینه ده چې تر ننه پاته ده، د زمزم اوبه ترې بهېږي او په خوا کې ئې بنو اسمعیل (د اسمعیل علیه السلام اولاد) مېشت دي.

- بابيل دلته هم او په ډېرو نورو ځايونو کې هم خدای او فرشته سره خلطوي، دلته وايي چې يوې فرشتې هاجر وليده خو وروسته د همدغې فرشتې له خولې وايي: زه به ستا اولاد زيات کړم، د هاجر وينا هم داسې ليکي: آيا په رښتيا سره ما خدای ليدلی!! له دې وروسته د ابراهيم عليه السلام په اړه ليکي چې درې فرشتې ورته راغلې او ورپسې ليکي چې له دغو دريو يو ئې خدای وو!! د بابيل ليکوال هڅه کوي چې د دريو خدايانو (خدای، زوی ئې او روح القدس) غلط او بې معنی تصور سم ثابت کړي!! دا د فرشتې او خدای نومونه يو د بل په ځای کارول د همدې لپاره دي!!

- هاجر ته الله تعالی هومره لوړ مقام ورکړ چې د صفا او مروې تر منځ د دې هڅه ئې د حج په څېر د يوه ستر عبادت په مناسکو کې ونيوله او وئې فرمايل: څوك چې د خدای د کور طواف ته راځي د هاجر په څېر به د دغو دواړو غونډيو تر منځ منډه وهي او د هري غونډۍ پر سر به د دې په څېر کعبې ته مخ اړوي او دعاء به کوي!!

- د اسمعيل عليه السلام په اړه د بابيل د ليکوال کچه او بده ژبه خوځول د قومي او مذهبي تعصب زېږنده ده، تاسو به دې ته ورته يناوې د بابيل په ډېرو ځايونو کې وګورئ چې د دوی کاهنانو د نورو قومونو په اړه کړې دي، پر هغوی ئې لعنت ويلی او د مرګ او له منځه وړلو مستحق ئې ګڼلي!!

دا مطلب هم د يادولو دئ چې په ټولې مکې کې ډېري کيندنې شوې، خاوره ئې په لابراتوارونو کې څېړل شوې؛ نه تر زمکې لاندې د کوم زوړ کور او تعمير آثار ليدل شوي او نه د بوټو او ونو پاته شونې او بقايا؛ او دا هر څه پر دې شهادت ورکوي چې دا ښار په يوې داسې بېديا او صحرا کې جوړ شوی چې تر دې وړاندې نه په کې اوبه وې، نه ونې او بوټي او نه حيوان او انسان؛ او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي إعجاز دئ؛ علمي څېړنې نن همغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې وه.

---

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعۡمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ لِيَوۡمٖ تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٤٢﴾ مُهۡطِعِينَ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٞ ﴿٤٣﴾

او د الله په اړه دا ګمان مه کوه چې له هغه څه به غافل وي چې دا ظالمان ئې کوي؛ يقيناً چې (په دې مهلت سره ئې) يوازې هغې ورځې ته ځنډوي چې سترګې په کې (له ډېره هيبته) ټېغې او رډې شي، داسې ځغاستونکي به وي چې سرونه به ئې هسك پاته وي، نظر به ئې نه ورته راګرځي، زړونه به ئې په وتو (او له سينې په ټښتېدو) وي.

(۴۲-۴۳)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمې لارښوونې شوې:

- داسې مه انګېره چې ظالمانو ته مهلت ورکول يا له دې کبله دي چې د سزا وړ نه دي او يا له دې کبله چې الله تعالی ترې غافل دئ؛ دا مهلت پای لري. هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده چې الله تعالی به له دوی سره محاسبه کوي او په الهي عذاب به اخته کېږي.
- دا ځنډ به دوی له هغې سختې ورځې سره مخامخ کړي چې له هيبته به ئې د دوی سترګې رډې رډې راختلې وي، لاندې او پورې خوا بلې خوا ته به کتلی نشي، يوه او بل لوري ته به تښتي، سترګې به ئې نه رپېږي، بانوګان به ئې نه سره ورځي، زړونه به ئې له ډېرې وېرې په وتو وي.

---

وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوۡمَ يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رَبَّنَآ أَخِّرۡنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَۗ أَوَلَمۡ تَكُونُوٓاْ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٖ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمۡ فِي مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾

او خلك له هغې ورځې ووېروه چې عذاب به ورته راشي؛ نو هغه چې ظلم ئې کړی؛ وايي به: اې زموږ ربه! تر يوې ټاکلې نږدې نېټې مو وځنډوه چې ستا بلنه ومنو او د پيغمبرانو متابعت وکړو؛ آيا تاسو هغه نه يئ چې تر دې وړاندې مو لوړه کړې وه چې هيڅ زوال به مو په برخه نشي؟! او د هغو په هستوګنځيو کې مېشت شوئ چې پر ځان ئې ظلم کړی وو؛ او درته معلومه شوه چې څه چلن مو ورسره وکړ او (ګڼ شمېر تاريخي) مثالونه مو درته بيان کړل؛ او يقيناً چې دوی خپل پټ تدبيرونه وکارول؛ او دا په داسې حال کې چې د دوی مکر (او پايلې ئې) د الله په خوا او واك کې دي؛ که څه هم د دوی تدبيرونه داسې وي چې غرونه پرې له منځه ځي.

---

(۴۴-۴۶)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې مومو:

خلك د هغې ورځې له راتلو ووېروه چې له الهي عذاب سره به مخامخ شي، ظالمان به ئې وايي: اې زموږ ربه! لږ دې دا عذاب وځنډوه، لږ نور مهلت را، يوه بله نېټه راته وټاکه، تر بلې ټاکلې نږدې نېټې مهلت راکړه، ژمنه کوو چې ستا بلنه به منو او د پيغمبرانو متابعت به کوو. دوی ته به په ځواب کې وويل شي: آيا تاسو هغه نه يئ چې تر دې

وړاندي مو په ډېر غرور او تأکيد سره ويل چي هيڅکله به مو زوال په برخه نشي او له الهي عذاب سره به مخامخ نشئ؟!! او آيا د خپل سلف د کفر، شرك او ظلم بدي پايلي مو په خپلو سترګو نه وې ليدلې؟ آيا تاسو د مخکينيو ظالمانو په هستوګنځيو کې مېشت شوي نه وئ او درته معلومه شوې نه وه چي الله تعالی له دوی سره څه وکړل؟ آيا د ظالمانو د هلاکت ګڼ شمېر تاريخي مثالونه ستاسو مخي ته نه وو ايښودل شوي؟ هغوی هم د حق خلاف او د باطل په دفاع کې ډېر پټ تدبيرونه وکارول، خو ومو ليدل چي دغو پټو تدبيرونو هيڅ ګټه ورونه رسوله، ټول شنډ او بې اغېز شول؛ دا ځکه چي هر څه د دوی د پټو تدبيرونو په شمول د الله تعالی په واك کې دي، پايلي ئې هغه ټاکي، هيڅ تدبير د الله تعالی له إذن پرته ګټه او اغېز نه لري که څه هم دا تدبيرونه داسي وي چي ستر ستر غرونه ئې په وړاندي تم کېدی نشي.

فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤٧﴾

نو د الله په اړه دا ګمان مه کوه چي له خپلو پيغمبرانو سره له خپلو وعدو تر شا کېدونکی دئ؛ يقيناً چي الله غچ اخيستونکی عزتمن دئ.

(٤٧)- په ٤٢ آيت کې ويل شوي چي د الله په اړه داسي مه انګېره چي ظالمانو ته مهلت ورکول يا له دې کبله دي چي د سزا وړ نه دي او يا له دې کبله چي الله تعالی ترې غافل دئ؛ دا مهلت پای لري. هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده چي الله تعالی به له دوی سره محاسبه کوي او په الهي عذاب به اخته کېږي. په دې مبارك آيت کې د همدې موضوع بل اړخ ته ګوته نيول شوې او ويل شوي: که د بريا او پر کافرانو د غلبې او فتحي هغو الهي وعدو په تحقق کې څه ځنډ راغی چي الله تعالی له خپلو پيغمبرانو سره او د دوی له لاري له مؤمنانو سره کړې دي نو دا ګمان مه کوه چي الله تعالی له خپلو وعدو تر شا کېدونکی دئ، الله تعالی به هرو مرو خپلې وعدې تر سره کوي، هيڅوك او هيڅ ځواك د ده د وعدو په وړاندي خنډ کېدی نشي، دا ځکه چي الله تعالی هم عزيز او ځواکمن دئ او هم له ظالمانو او د حق له دښمنانو غچ اخيستونکی دئ.

يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ ۖ وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾
وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ
وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِىَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ
ٱلْحِسَابِ ﴿٥١﴾

هغه ورځ چې دا ځمکه به له دې پرته په بلې ځمکې بدله شي او آسمانونه هم؛ او (ټول به) د يوازيني ډېر برلاسي الله په وړاندې راڅرګند شي. او په دې ورځ به مجرمين ګورې چې په زولنو کې يو له بل سره تړل شوي دي. کميسونه ئې د زرنېو (نانزرو) او اور به ئې پر مخونو غوړېږي، د دې لپاره چې هر ساکښ ته د خپلو لاسته راوړنو بدله ورکړی شي؛ يقيناً چې الله ژر حساب کوونکی دئ.

(٤٨-٥١)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې ګورو:

- دا آسمانونه او ځمکه به په بشپړه توګه له منځه ځي، الله تعالی به نوې ځمکه او نوي آسمانونه پيدا کړي، چې له اوسنۍ ځمکې او اوسني آسمانونو سره به توپير لري، نوی عالم به وي له نوي نظم سره، ټول انسانان به بېرته راژوندي شي، د يوازيني ډېر برلاسي الله په وړاندې به راڅرګند او په ښکاره ميدان کې راغونډ کړی شي.
- په دې ورځ به مجرمين ګورې چې په زولنو کې يو له بل سره تړل شوي دي، کميسونه ئې د زرنېو (نانزرو)، داسې تور تېل چې بد بوی لري او ژر اور اخلي، پر مخونو به ئې د دوزخ د اور لمبې راتاوي وي.
- دا هر څه به د دې لپاره وي چې هر چا ته د خپلو کړنو سزا او بدله ورکړی شي.
- يقيناً چې الله ژر حساب کوونکی دئ.

هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ وَلِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٥٢﴾

دا د خلکو لپاره يو ابلاغ دئ او دا د دې لپاره چې په دې سره خبرداری ورکړی شي؛ او د دې لپاره چې پوه شي هغه له شك پرته يوازينی معبود دئ او د دې لپاره چې عقلمن وګړي پند واخلي.

(٥٢)- دا مبارك آيت چې د سورې وروستی آيت دئ او د سورې د مضامينو لپاره ښايسته او په زړه پورې تتمه ده؛ موږ ته وايي:

- دا قرآن او د دې سورې مضامين د خلکو لپاره الهي پيغام دئ.
- د دې لپاره راغلی چې خلکو ته خبرداری ورکړی شي، د کفر، شرك او ظلم له بدو پايلو او د ايمان او صالح عمل له غوره نتائجو خبر کړی شي.
- او د دې لپاره راغلی چې خلك په دې حقيقت پوه شي چې الله تعالی يوازينی معبود

دئ.

- او د دې لپاره چې د عقل خاوندان راوېښ کړي او د عبرت سترګي ئې پرانیزي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الحجر

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم الحجر دئ چې د سورې د ۸۰ آیت له دې فقرې (وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ) اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ. نه نوي آیتونه لري، د سورې له مضامینو معلومېږي چې ښایي د مکې دور په هغو وروستیو کلونو کې نازله شوې چې د ابراهیم سوره په کې نازله شوې، ښایي د ابراهیم له سورې وروسته او متصل نازله شوې وي، ځیني وایي چې د یوسف له سورې وروسته نازله شوې. د آیتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: ځیني ئې د لومړي آیت مبين ته ورته او ځیني ئې د درېیم آیت یعلمون ته ورته.

لکه چې دا سوره په درېو حروفو (ا، ل، ر) پیل شوې د سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي چې دا اساسي مضامین د سورې په لومړیو آیتونو کې په دې توګه راغلي:

دا د کتاب او څرګند قرآن آیتونه دي.

هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. پرې ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هیلي ئې مشغول کړي؛ ژر به پوه شي.

او هیڅ کلی مو نه دئ تباه کړی مګر په داسي حال کې چې معلومه (لیکلې) نېټه ئې وه. نه هیڅ ولس له خپلې نېټې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ۝١

الف، لام، را، دا د کتاب او څرګند قرآن آيتونه دي.

(۱)- دا د الهي کتاب او د څرګند قرآن آيتونه دي، هغه قرآن چې په خپله څرګند او روښانه دئ، هيڅ ابهام او اغماض په کې نشته او هر څه په واضح او څرګنده توګه خپل مخاطب ته ښيي.

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ۝٢ ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ۝٣

هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. پرېږ ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هيلي ئې مشغول کړي؛ ژر به پوه شي.

(۲-۳)- هغه مخالفين چې نن ئې د حق دښمنۍ ته ملا تړلې، تا ګواښي، بلنه دي نه مني او ستا د دعوت په وړاندي خنډ کېږي؛ هغه ورځ لري نه ده چې دوی به له خپل مخالفت او دښمنۍ نادم وي او دا ارمان او هيله به کوي چې کاش لا وړاندي ئې ايمان راوړی وی او مسلمان شوي وی. پرېږ ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هيلي ئې مشغول کړي؛ ژر به پوه شي. دوی له خوراك، څښاك او د دنيا له مال او متاع خوند اخيستو پرته نه بله مشغولتيا لري او نه کوم سپېڅلی هدف، د بې ځايه او غير واقعي هيلو په خيالي بڼ کې مشغول وي او په هوا کې ځان ته قصرونه جوړوي.

نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته د دغه مبارك آيت په اړه د ځوانۍ د ورځو يوه رؤيا هم ستاسو مخي ته کښېږدم؛ هغه مهال چې لا پوهنتون ته نه وم تللی، لا اسلامي نهضت نه وو پيل شوی، يوه شپه مي خوب ليدو چې د سرور پوپل په نامه له يوه پرچمي سره مناقشه لرم، تر دې خوب وړاندي مي هم څه موده مخکي له هغه سره په ويښه يوه مناقشه درلوده، د خوب د مناقشې په پای کې مي دغه آيت ده ته واوراوو؛ او دا په داسي حال کې چې نه مي دا آيت حفظ وو او نه ئې په معنی سم پوهېدم؛ په همدې له خوبه راويښ شوم؛ نه پوهېږم چې دا آيت څنګه زما په ژبه راغی؛ خو نن پوهېږم چې په دې آيت کې څومره ستره وړاندوينه او په دې خوب کې څومره ستر بشارت مضمر وو!! ما هغه ورځ په خپلو سترګو وليده چې ډېرو کمونيستانو دا هيله کوله چې کاش مسلمان وی.

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ۝٤ مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا

يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ۝٥

او هيڅ کلی مو نه دئ تباه کړی مگر په داسي حال کې چي معلومه (ليکلې) نېټه ئې وه. نه هيڅ ولس له خپلي نېټې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی.

(٤-٥)- دا مبارك آيت د الله تعالی هغه ثابت سنت زموږ مخي ته ږدي چي له مخي ئې د عذاب مستحق ولسونه په خپل خپل ټاکلي وخت په الهي عذاب اخته کېږي، دوی ته چي کوم مهلت ورکوي پای ئې ثابت دئ، نه بدلېږي، نه مخکې کېږي او نه وروسته کېږي، هغه مغرور ځواکونه چي سره له کفر، عصيان، ظلم او فساد د خپل اقتدار د دوام خوشې او پوچي هيلي په سر کې لري؛ او مؤمنانو ته ئې په کبر او غرور سره ويلي چي که موږ په حقه نه وی، که الله تعالی ته زموږ کړني منظور نه وی، که لار مو سمه نه وی، که الله تعالی له بنده سره محاسبه کولی او گنهگاران ئې مواخذه کولی، که موږ د عذاب مستحق وی او تاسو د الهي پېرزوينو وړ؛ نو الهي عذاب به لا ډېر وړاندي پر موږ نازل شوی وو، تاسو به له دغو بدو ورځو سره مخامخ نه وئ، دا ولي موږ سوکاله يو او تاسو له کړاوونو سره مخامخ، زندانونو ته درومئ، له وطن شړل کېږئ، نه مو سر خوندي دئ او نه عزت؟!! په دې آيت کې دوی ته ويل شوي چي الهي عذاب هرو مرو راتلونکی دئ خو په خپل ټاکلي وخت، تاسو ته درکړی شوی مهلت پای لري، د پای نېټه ئې هيڅوك نشي بدلولی، تر تاسو وړاندي ډېرو همدا ستاسو خبري کړې وې او په پای کې په الهي عذاب اخته شول، نه ئې تدبيرونو دا ثابته نېټه بدله کړی شوه او نه ئې زور او ځواك.

وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ۝٦ لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ
إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٧ مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا
مُّنظَرِينَ ۝٨

او وئې ويل: اې هغه چي دا ذکر (د پند کتاب) پرې نازل شوی! يقيناً چي ته مجنون يې، ولي موږ ته فرشتې نشې راوستی که له رښتينو يې؟ ملائکې نه لېږو مگر په حقه سره او هغه مهال به دوی له مهلت برخمن نه وي.

(٦-٨)- د حق دښمنانو به رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل: تا ته وايو چي ادعاء کوې د الله تعالی له لوري دا د پند کتاب دربانديي نازل شوی، ته يقيناً چي مجنون يې، پېريان دربانديي ناست دي او داسي نادري خبري دربانديي کوي، که ته په رښتيا د الله تعالی له لوري رالېږل شوی يې نو هغه فرشته موږ ته راوښيه چي دا الهي پيغام ئې تا ته رارسولی، په کار ده چي په خوا کې دي د فرشتو ټولگي وی، ستا ساتنه او حفاظت ئې کولی

او هيڅوك پر دې نه توانېدی چي تا ته په كږه سترګه وګوري او ضرر دررسوي. الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: ملائکي په حقه سره لېږو، له يوې دقيقي او رښتيني منصوبې سره سم، د هر چا په خوښې غوښتنه او غلطي مطالبې نه لېږل کېږي، د عذاب فرشتې هغه مهال لېږل کېږي چي د الله تعالی له لوري ورکړی شوی مهلت پای ته رسېدلی وي، تاسو چي غواړئ د عذاب فرشتې په خپلو سترګو وګورئ نو پوه شئ چي خپلې تباهۍ ته بلنه ورکوئ، که دا فرشتې درغلې بيا به مزيد مهلت نه درکول کېږي او له الهي عذاب د نجات ټول امکانات او فرصتونه به مو له لاسه ورکړي وي.

---

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾

**يقيناً دا موږ يو چي دا د پند کتاب مو نازل کړی او موږ ئې هرو مرو ساتونکي يو.**

---

(۹)- په دې آيت کې د مخکينۍ موضوع په ارتباط مخالفينو ته ويل شوي: دا د پند کتاب موږ نازل کړی او موږ ئې هرو مرو ساتونکي يو. دلته د کتاب د ساتني مراد دا دئ چي وعدې او وعيدونه به ئې تر سره کېږي، موږ ئې د تحقق ذمه وار يو، نه پرېږدو چي څوك ئې د پرېکړو، وړاندوينو، وعدو او وعيدونو د تحقق مخه ونيسي. لکه څنګه چي څوك نشي کولی په خپل زور ځواك سره د دې کتاب پرېکړې تکذيب کړي او د تحقق مخه ئې ونيسي؛ همداسي نشي کولی په دې کتاب کې لاسوهنه وکړي او مطالب ئې تحريف کړي. او دا يقيناً چي د قرآن ستر اعجاز دئ، په مليونو کتابونو او مليونو سينو کې حفظ شوی، هيڅوك نشي کولی په هغه کې لاسوهنه وکړي؛ حتی څوك ئې د زور او زبر بدلولو توان هم نه لري، د نړۍ هيڅ کتاب دومره حافظان نه لري، يقيناً چي دا د قرآن کمال دئ او د الهي حفاظت مظهر. د قرآن د نزول له نېټې تر ننه په مليونو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او ټول بشري تاريخ کې هيڅ داسي مذهبي او غير مذهبي، د شعر يا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چي د قرآن په اندازه حافظان ولري!! مسيحيان د نړۍ ستره مذهبي فرقه ده خو هغوی په خپل اوږده تاريخ کې د بايبل محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! دا ولې؟ ځواب ئې څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چي د زړه دړه ئې ورته پرانيستل شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکيب ئې خوندور وي.

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾

**او يقيناً چي تر تا وړاندي مو په لومړنيو ډلو کې پيغمبران لېږلي؛ او هيڅ پيغمبر نه دئ**

ورغلی مگر دا چې استهزاء ئې پرې کوله.

(١٠-١١)- دا آيتونه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وايي: نه ته لومړنی پيغمبر يې او نه دا قوم لومړی قوم دئ چې پيغمبر په کې مبعوث شوی، تر تا وړاندې مو په ډېرو مخکينيو ډلو کې پيغمبران لېږلي، تر دوی وړاندې ډېرو جاهلو قومونو د پيغمبرانو مخالفت کړی او ډېر پر خپل زور ځواك مغرورو مجرمينو د پيغمبرانو پر دعوت او بلنې ملنډې وهلې دي، تاريخ ته رجوع وکړئ او وگورئ او په هرې پاڼې کې ئې د هغو ظالمانو تور برخليك او عبرتناکې پايلې ته ځير شئ چې د زړه سواندو پيغبرانو عليهم السلام د بلنې مخالفت ته ئې ملا تړلې وه.

كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٢ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ ١٤ لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ ١٥

همداسې ئې د دغو مجرمينو په زړونو کې ننباسو، ايمان به نه پرې راوړي؛ په داسې حال کې چې د لومړنيو تگلاره تېره شوې. او که د آسمان کومه داسې دروازه مو ورته پرانيستې وی چې دوی په کې لوړ ختلی؛ نو حتماً به ئې ويلي وو: زموږ سترگې بې سده شوې؛ بلکې موږ هغه وگړي يو چې کوډې پرې شوې.

(١٢-١٥)- لکه چې مخکينيو قومونو د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی د دعوت مخالفت او مقابله کړې او له بدو پايلو سره مخامخ شوي، همداسې د قريشو د مجرمينو په زړونو کې د مخالفت او مقابلې اراده راولاړه شوې، دوی هم په دې قرآن ايمان نه راوړي؛ که څه هم د لومړنيو تگلاره او پايلې ئې د دوی له نظره تېرې شوې او دا حقيقت ورته جوت شوی چې هغوی له کوم برخليك سره مخامخ شول. د معجزو غوښتنه ئې هسې پلمه ده، نه مخکينيو د معجزو په ليدو سره ايمان راوړی او نه به ئې دوی راوړي، حتی که د آسمان کومه داسې دروازه ورته پرانيزو چې دوی په وازو سترگو په کې لوړ وخېژي؛ نه يوازې ايمان به رانه وړي بلکې وايي به: زموږ سترگې بې سده شوې، غلط شوي يو، دا به هسې کوم خوب وي نه په ويښه بر تلل؛ بلکې وايي به: پر موږ کوډې شوې.

وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ١٦ وَحَفِظۡنَٰهَا مِن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ ١٧ إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ مُّبِينٞ ١٨

او بې شکه چې په آسمان کې مو بروج (ستوري) پیدا کړل او هغه مو لیدونکو ته ښایسته کړ. او هغه مو له هر رټل شوي شیطانه خوندي کړی؛ مګر هغه چې په غلا سره څه واوري نو ښکاره لمبه ورپسې شي.

- (۱۶-۱۸)- د دې مبارکو آیتونو په اړه دا خبرې باید په پام کې ولرو:

- دا مطلب د هغو خلکو په ځواب کې ویل شوی چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې معجزې غوښتې؛ دوی ته ویل شوي: آیا دا په بې شمېرو ستورو ښایسته آسمان کافي نه دئ چې ستاسو عقل راوپاروي او پر الله تعالی ایمان ته مو وهڅوي؟ څوك چې د عظیم قدرت او دقیق نظم دا ستر مظهر قانع نه کړی شي څه به ئې قانع او ایمان راوړو ته چمتو کړي؟!!

- دلته د بروج نوم د ستورو لپاره کارول شوی، بروج د برج جمع ده، برج ښکاره شي او ځای او د یوه شي تر ټولو ښکاره برخې ته وایي، ستوري د آسمان تر ټولو ښکاره او ځلاند اجرام دي، چې آسمان ته ئې ښکلا او ښایست ورکړی. په ځینو نورو آیتونو کې هم ستوري په دې نامه یاد شوي، لکه دا:

تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ فرقان : ٦١

مبارك دئ هغه ذات چې په آسمان کې ئې بروج (ستوري) رامنځته کړل او په هغه کې ئې روڼ څراغ (لمر) او روښانه سپوږمۍ پیدا کړه.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْبُرُوجِ ﴿١﴾

قسم د برجونو پر خاوند آسمان

په قرآن کې (تبرج) د ښکاره کېدو او ښکاره کېدو په معنی راغلی، لکه:

.... وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ .... الاحزاب: ۳۳

.... او د مخکیني جاهلیت د ځان ښودنې په څېر ځانونه مه ښکاره کوئ.

متأسفانه ځینو مفسرینو د قرآن دغو ښکاره لارښوونو ته له پامه پرته بروج د ستورو په ځای؛ د یوناني فلسفي هغه دولس ګوني موهومي بروج اخیستي چې د دوی په فلکي اصطلاحاتو کې د لمر د مختلفو منازلو لپاره ټاکل شوي! یونانیانو د کال په هر فصل کې د لمر دغه منازل او بروج؛ د خپلو مختلفو خدایانو په نامه مسمی کړي او هر برج ته ئې د خپل یوه خدای نوم ورکړی وو؛ دا اصطلاحات له یونان هغو اسلامي ملکونو ته راکوز شول چې له یونان سره همسرحد وو، ځیني علماء ترې متأثره شول او هغوی ته ئې اسلامي رنګ ورکړ.

قریشو او د دوی په څېر نورو جاهلو او مشرکو وګړو دا عقیده درلوده چې شیطانان

کولی شي له غیبي امورو او پېښو خبر شي، په دې توګه چې د آسمان خوا ته ځان رسوي، په یوې ګوښې کې پټ کښېني، د فرشتو تر منځ چې کومې خبرې کښته پورته کېږي هغه اوري، بیا ئې هغو نجومیانو ته رسوي چې دوی ورته تابع دي، نو ځکه دغه نجومیان کولی شي له غیبي چارو خبر شي او خلکو ته ووایي چې کله به له شې یا بدې پېښې سره مخامخ کېږي، په راتلونکي کې به شې ورځې ورته انتظار کوي که بدې!! د دوی په ځواب کې ویل شوي چې شیطانان آسمان ته نشي رسېدی، استراق سمع نشي کولی، له غیب نشي خبرېدی، که د آسمان په لوري د لوړ تلو هڅه وکړي له هر لوري به په شهاب ثاقب ویشتل کېږي.
د الجن سورې کې دا مطلب په دې الفاظو راغلی:

وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ۝٨ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ۝٩ وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ۝١٠ الجن: ٨-١٠

او دا چې مونږ آسمان لمس کړی او هغه مو له ساتونکو او لمبو ډک موندلی. او دا چې مونږ به د هغه په ځینو تم ځایونو کې د اورېدو لپاره کښیناستو؛ نو څوك چې اوس غوږ ونیسي ځان ته به په کمین کې ناسته لمبه ومومي. او دا چې مونږ نه پوهېږو هغه چا ته چې په زمکې کې اوسېږي د شر اراده شوې او که به ئې رب ورته د رشد اراده کړې وي؟

یعني له مونږ پېریانو ځیني د آسمان په لوري لوړ تللي او په خپلو سترګو ئې لیدلي چې آسمان ته د رسېدو امکان نشته، لار ئې له ځارونکو او ساتونکو ډکه او سرې لمبې په لار کې خنډ. مخکې به زمونږ ځیني د دې لپاره د آسمان کنارو ته د رسېدو او په یوې بلې ګوښې کې د کښیناستو هڅه کوله چې پوه شي په آسمان کې څه تېرېږي، څه واوري او په څه اسرارو خبر شي؛ خو اوس پوه شوو چې دا کار ممکن نه دئ، هر څوك چې دا هڅه وکړي د دې پر ځای چې اسرار په لاس ورشي سره لمبه به ځان ته منتظر او په کمین کې ناسته ومومي.

مونږ نه پوهېږو چې په آسمانونو کې څه تېرېږي، الله تعالی د زمکې د اوسېدونکو په اړه څه اراده کړې، د زیان او تاوان اراده که د رشد او کمال په لوري د دوی د هدایت او لارښوونې اراده؟! هغه خبرې چې ځېنې ئې کوي او وایي: مونږ له غیب خبرېږو؛ دروغجنې او بې بنسټه دي، نه جن په غیب پوهېږي او نه انس، هغه چې غیب ویل ئې ځان ته حرفه ګرځولې، له دې لارې خلك شکوي، د خلکو د غولولو لپاره وایي: مونږ له پېریانو سره ارتباط لرو، دا پېریان لوړ آسمان ته درومي، د آسمان کنارو ته رسي، په یوې بلې ګوښې کې مترصد کښېني، د فرشتو تر منځ خبرو آترو ته غوږ نیسي، له اسرارو خبرېږي، زمکې ته راګرځي، مونږ خبروي، له همدې کبله مونږ کولی شو تاسو ته ووایو چې له کومو پېښو سره به په راتلونکي کې مخامخ شئ، څه حالت او کوم برخلیك درته انتظار کوي، شکرانه راکړئ چې په اسرارو مو خبر کړو، له محتملو راتلونکو پېښو مو خبر کړو،... دا ټول ټګمار او

دروغجن دي، هدف ئې د خلکو غولول او د خپلو کڅوړو ډکول دي.

دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ؛ نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ويلي کوي او هيڅ څه ئې مخي ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پوري د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی يا نژدې شوی، تر دې وړاندي تګ يوازي په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چې وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادوم کولو خوندي پاته شي.

---

**وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾**

او زمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل. او تاسو ته مو په هغې کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه ته هم چې تاسي ورته روزي ورکوونکي نه يئ.

---

(۱۹-۲۰)- د دې مبارکو آيتونو مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی لومړی دا زمکه خوره او آواره پيدا کړې، بيا ئې غرونه په کې پيدا کړي؛ او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ؛ ساينس همدا خبره کوي، وايي د زمکي لوړي، ژوري او غرونه وروسته پيدا شوي، په پيل کې د زمکي سر نه لوړي ژوري درلودې او نه غرونه.

- دا آيت وايي چې د زمکي د سر نباتات د غرونو له پيدايښت وروسته پيدا شوي؛ او دا يو څرګند حقيقت دئ چې د غرونو له کبله په زمکي کې د ابو د زخيره کېدو، د ويالو، کاريزونو او چينو د بهېدو شرائط برابر شوي، همدا غرونه د دې باعث شوي چې زمکه په داسي مختلفو سيمو ووېشل شي چې ځيني سړې او ځيني تودې وي، په هري سيمي کې د بېلو بېلو نباتاتو د راټوکېدا شرائط ايجاد شي، دغه غرونه د دې باعث شول چې د زمکي له يوې سيمي بلي ته د بادونو خوځېدا رامنځته شي، که غرونه نه وی نو د زمکي د سر هوا به تر ډېره حده يو شانته وه، بادونه به نه چلېدل؛ او ډول ډول نباتات به مو نه درلودل. دا چې قرآن دلته د غرونو له پيدايښت وروسته لومړی د ډول ډول نباتاتو يادونه کوي او ورپسې د بادونو؛ دغه علمي حقيقت په ګوته کوي.

- الله تعالی ټول هغه څه پيدا کړل چې تاسو ورته اړ او محتاج ياست او په هغه سره

ژوند کولی شئ، ټولو هغو ژوو ته ئې د ژواك توکي پیدا کړي چي تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوئ بلکي الله تعالی ورته روزي ورکوي، دا مختلف حیوانات چي په یوه او بله توګه ترې ګټه اخلئ ټول الله جل شأنه پیدا کړي دي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړی.

د ۲۰ آیت په اړه دوه د اعتناء وړ تفسیرونه مومو:

۱- ځینو داسي ژباړلی: او تاسو ته مو په هغې کي د معیشت اسباب پیدا کړل او هغو ته هم چي تاسي ورته روزي ورکوونکي نه یئ.

۲- او ځینو داسي: او تاسو ته مو په هغې کي د معیشت اسباب راپیدا کړل او هغه څه مو هم درته راپیدا کړل چي تاسي ورته روزي ورکوونکي نه یئ.

که لږ غور وکړو نو راته جوته کېږي چي لومړۍ ژباړه صحیح او دقیقه ده او دوهمه د آیت له الفاظو او ترکیب سره اړخ نه لګوي، دا ځکه چي دلته د بحث اصلي موضوع دا ده چي الله تعالی په زمکي کي د ژوند ټول ضروري اسباب برابر کړي، هم د انسان لپاره او هم د ټولو هغو ژوو لپاره چي انسان ئې د روزي ذمه وال نه دئ، د بحث موضوع دا نه ده چي د انسان تر څنګ ئې نور ژوي هم پیدا کړي؛ په مخکیني آیت کي ویل شوي چي الله تعالی په زمکي کي هر څه په موزون شکل کي راشنه کړل، چي همدا موزون نباتات هم د انسان او د ده د څارویو لپاره د معاش او ژوند اسباب دي او هم د نورو هغو ژوو لپاره چي انسان ئې د روزي ذمه وال نه دئ.

وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٢١﴾

او هیڅ داسي شيء نشته چي خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مګر په معلومي اندازې سره.

(۲۱)- یعنی الله تعالی هر شيء په یوه معلومه او معینه اندازه کي پیدا کړی، که دا عناصر دي، که د زمکي مرکبات دي، که ونې، بوټي او حیوانات دي، که هوا، باد، باران، واوره او اوبه دي، که ګرمي او یخني ده؛ د هر څه لپاره ثابت مقدار او حد ټاکل شوی، دومره چي دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زیات او نه کم، هر څه ئې په همغه اندازه پیدا کړي چي د ژوو ژوند او ژواك او د زمکي او آسمان بقاء او دوام ئې غواړي. دا هم د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ځلوي؛ نن انسان په دې پوه شوی چي د زمکي هر څه ثابت مقدار لري، سره له ټولو هغو تغییراتو چي هره شېبه په زمکي کي رامنځته کېږي، یو شيء په بل بدلېږي، ځیني سره ترکیب شي او نوی شيء رامنځته کړي، ځیني په خپلو اجزاءو تجزیه شي، خو نه په دې ترکیب سره د اشیاءو په اصلي او ثابت مقدار کي تغییر

راځي او نه ئې په تجزيې سره، که په ثابتو مقاديرو کې معمولي تغيير او بدلون راشي نه به د ځمکې پر سر انسان ژوند کولی شي او نه نور ژوي او نه د عالم موجود نظم او نظام دوام کولی شي. دا تعادل او توازن ښيي چې د دې ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی يو دئ، که عالم د تصادفي تخليق زېږنده وی يا ئې له يوه خالق پرته نور پيدا کوونکي درلودی نو نه به دا تعادل او توازن تر سترګو کېدو او نه د ټولو مخلوقاتو تر منځ دا موجود تنسيق، يووالی او همغږي.

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾

او بادونه مو ولېږل چې إلقاح کوونکي دي، بيا مو له آسمان اوبه رانازلې کړې او پر تاسو مو وڅښلې؛ او تاسو ئې ذخيره کوونکي نه يئ.

(۲۲)- په دې مبارك آيت کې څو داسې سترو سترو حقائقو ته اشاره شوې چې هر يو ئې د قرآن يو ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي:

- بادونه د إلقاح کوونکو په نامه ياد شوي؛ يعني د بادونو په ذريعه د نباتاتو إلقاح تر سره کېږي، د نباتاتو د زوجينو تر منځ إلقاح او په دې إلقاح سره د مېوو پيدايښت د بادونو يوه ستره دنده ده، که دا بادونه نه وی نو د بوټو او ونو د نارينه او ښځينه ګلانو اړوند جنسي ماده به نه شوی يو ځای کېدی او مېوې او دانې به ئې نه شوی پيدا کولی؛ دا هغه ستر حقيقت دئ چې انسان اوس پرې پوه شوی، هغه مهال چې قرآن نازلېدو نه خلك پر دې پوهېدل چې ونې او بوټي هم نر او ښځه لري او نه پر دې چې د دوی د إلقاح يوه ستره وسيله بادونه دي. که تاسو دا خبره د يوه داسې عالم مخې ته کښېږدئ چې د نباتاتو په چارو کې تخصص لري نو يقيناً چې په دې حقيقت به له اعتراف پرته بله چاره نه لري چې ووايي: د قرآن دا وينا يو ستر علمي اعجاز دئ.

- بادونه يوه بله ستره دنده هم تر سره کوي؛ د وريځو تشکيل، له يوې سيمې بلې ته انتقال، د وريځو يوه ټوټه له بلې سره نښلول، داسې چې د برېښنا، تالندې او ورېسې د باران ورېدو باعث شي؛ نو د وريځو إلقاح هم د بادونو په واسطه تر سره کېږي. که دا بادونه نه وی نه به وريځې جوړېدې او نه به واوره او باران ورېدو.

- په ځمکې کې د اوبو د ذخيره کولو دقيق انتظام يو له هغو امورو دئ چې که دا نه وی نو د ځمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، نه انسان او نه بل ژوي دلته ژوند کولی شو. ګورو چې دا د څښاك اوبه مو له استعمال وروسته؛ يا په نهرونو کې د لويو لويو بحرونو په لور وخوځېږي، تروې او تبزايي شي او يا په ځمکه کې ننوځي او انسان ته ئې هم له ځمکې

رااېستل گران شي او هم ئې له بحرونو بېرته راوړل محال شي؛ خو گورو چې د لمر د وړانگو په ذريعه د بحرونو همدا تروې او تېزابي اوبه تبخير او تصفيه شي، دا بخارات د بادونو په ذريعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا له کبله په وريځو بدل شي، مؤظف بادونه دا وريځې پر سر واخلي، ناڅاپي ووېشل شي، هر يو؛ خپله خپله برخه، په خپل خپل خاص سمت، خاصې منطقې ته د رسولو لپاره وخوځوي، په بېديا او د آواري په محتاجو او باران ته سترگې په لار خلکو باندې باران ووروي او پر غرونو واوري. چې د دنگو دنگو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کې د واورې کافي ذخيره؛ د دوبي لپاره خوندي وساتي او بيا د دوبي په سختې گرمۍ کې چې انسان، حيوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي؛ همدا ذخيره شوې واوره ورو ورو ويلې شي او په نهرونو، کاريزونو او چينو کې د دوی د خړوبولو لپاره راوخوځېږي او د هر يوه ضرورت رفع کړي. آيا دا بهېر نه ښيي چې بې شکه ټولې ستايني هغه رب ته دي چې په دې عالم کې د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزوينې وسيع آثار او نښې هرې خوا ته خورې گورو؛ هغه چې دا بادونه ئې پيدا کړي او د اوبو د ذخيره کولو دا انتظام ئې رامنځته کړی؟!!

• الله تعالی د همدې دقيق الهي انتظام په نتيجه کې زمکه په ډول ډول بوټو سمسوره کړه، ټول هغه ضروري شيان ئې په کې پيدا کړل چې انسان او د زمکې پر سر مېشت ټول ژوي ورته اړ دي، په زمکه کې ئې د انسان د معاش او ژوند ژواك ټول ضروري اسباب او ذرائع تأمين کړل، هغه حيوانات ئې هم پيدا کړل چې انسان ورته اړ او محتاج دئ، د دغو ژوو د روزي انتظام هم الله تعالی کوي، تاسو هغوی ته روزي ورکوونکي نه يئ.

• د هر شي خزانې له الله تعالی سره دي، د خزانو کيلي ئې د الله تعالی په واك کې دي، د زياتولو او کمولو پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي، هر څه ئې په هغه اندازه پيدا کړي چې ورته ضرورت وو، نه تر خپلې ضروري اندازې زيات او نه کم؛ دومره چې انسان او د زمکې د سر نور ژوي ورته ضرورت لري. که په دې اندازه کې معمولي تغيير راشي مثلاً د باد حرکت لږ تېز او اضافه شي، له موجوده معمول او طبيعي سرعت ئې سرعت لږ اضافه شي؛ نو د زمکې پر سر به هر څه سره ټکوي، هر څه به نسکوروي او د ژوندانه امکانات به ختموي؛ که باران لږ اضافه شي، که واوره لږه زياته شي، که ورځ لږ اوږده او طولاني شي، که شپه لږه لنډه شي، که نور او حرارت لږ زيات شي او دا هر څه چې گورئ؛ له معين حد زيات يا کم شي؛ د انسان ژوند تهديدوي. خو الله جل شأنه هر څه په معينه اندازه کې پيدا کړي، د هر شي لپاره يو معين قدر او اندازه ټاکل شوې، هيڅ شیء له خپلې اندازې اضافه نه دئ، هيڅ شیء له خپلې ضروري اندازې لږ نه دئ. چې هر څه له خپلې اندازې لږ اضافه شي گورئ چې بيا څنگه ترې تنگ شو، باران؛ دا د ژوند تومنه او وسيله چې لږ له خپلې اندازې اضافه شي بيا دعاءگانې کوو چې الله ئې متوقف کړي؛ واوره، بادونه، چې کله له خپلې طبيعي اندازې لږ اضافه شي گورئ چې بيا ترې تنگ يو، سوکالي مو تهديد او ژوند راته

گران کړي.

- له آسمان د اوبو وربېدل او په دغو اوبو سره د زمکې د سر ژوو اړتیا رفع کول او دانې او مېوې ورته راټوکول ښیي چې د زمکې او آسمان پالونکی رب یو دئ، دغه رب د دواړو تر منځ دا تنسیق رامنځته کړی.

---

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾

او دا خو فقط موږ یو چې ژوندي کوو او مړه کوو او (د هر څه) وارث موږ یو (د هر چا هر څه موږ ته په میراث پاته کېږي).

---

(٢٣)- په دې مبارك آیت کې دوه مهمې لارښووني زموږ مخې ته څلېږي:

- د ژوند او مرگ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، هر ژوی په خپل وخت دنیا ته راځي او په خپل وخت بېرته درمي، نه ئې څوك د پیدا کېدو نېټه بدلولی شي او نه ئې د مرگ مخنیوی کولی شي.

- ټول هغه څه چې ستاسو په لاس کې دي د الله تعالی داسي امانتونه دي چې د څو ورځو لپاره ئې تاسو ته درکړي، په موقته توگه به ترې گټه اخلئ او په پای کې به تش لاس د الله په لوري درومئ او هر څه به د هغه اصلي وارث ته په میراث پرېږدئ.

---

وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او یقیناً چې ستاسو پر مخکینیو هم پوه شوي یو او له شك پرته پر وروستنیو هم پوه یو.

---

(٢٤)- نه ستاسو د مخکینیو حالت له الله تعالی پټ دئ او نه ستاسو او هغه چې له تاسو وروسته راځي، الله تعالی چې د مخکینیو په اړه څه ویلي د خپل جامع او دقیق علم له مخي ئې ویلي؛ او ستاسو او ستاسو د خلف د ښه او بد عمل، نېکو او بدو پایلو په اړه چې څه وایي د خپل علم له مخي ئې وایي. د ټولو په اړه دا الهي قضاوتونه، پرېکړې، وړاندویني او حکمونه د هغه ذات له لوري دي چې په هر څه پوه دئ، د نن، پرون او سبا په اړه یو شاني علم لري.

---

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او یقیناً چې ستا رب به ئې په خپله راغونډوي؛ بې شکه چې هغه ډېر پوه باحکمت دئ.

(۲۵)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې ستا رب به دغه کافران چې له الله تعالی او د آخرت له ورځې انکار کوي په خپله راغونډوي، د دوی انکار نه د قیامت د ورځې راتګ ځنډولی شي او نه د الله تعالی په وړاندې د دوی ودرېدا.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَـٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

او یقیناً چې انسان مو د کړنګېدونکې توکې، له بوی ناکې توري خټې پیدا کړ او جن مو تر ده وړاندې له بې لوګې اور.

(۲۷)- د انسان د لومړني پیدایښت د څرنګوالي په اړه تفصیلي بحث د النساء سورې د لومړي آیت او د آل عمران د سورې د ۵۹ آیت په تفسیر کې وګورئ. خو دلته د دې آیت په مطلب د ښه پوهېدو لپاره باید څو اساسي خبرې په پام کې ولرو:

- د مخکینیو آیتونو تسلسل او ترتیب ته په پام سره دا نتیجه تر لاسه کوو چې الله تعالی لومړی ځمکه او آسمانونه پیدا کړي، بیا ئې اوبه پیدا کړې، بیا ئې د ځمکې د سر بوټي او نور ژوي پیدا کړي او په پای کې ئې انسان پیدا کړی. په ۱۵، ۱۹، ۲۰، ۲۲، آیتونو کې د آسمانو، ځمکې، غرونو؛ اوبو، بوټو، حیواناتو پیدایښت ته اشاره شوې او ورپسې په ۲۶ آیت کې د انسان پیدایښت ته، په ۲۷ آیت کې ویل شوي چې پېریان هم تر انسانانو مخکې پیدا شوي، دا تسلسل ښیي چې د انسان تر پیدایښت وړاندې ئې د ده د معیشیت ټول ضروري شیان پیدا کړي؛ او دا هغه حقیقت دئ چې ساینسپوهان اوس پرې پوه شوي؛ او همدغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې، په الله قسم چې دا د قرآن یو داسې ستر علمي اعجاز دئ چې هر د بصیرت او عقل خاوند پرې اعتراف کوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم هم د انسان او نورو ژوو د پیدایښت په اړه فرمایلي چې الله تعالی انسان د پیدایښت د مراحلو د وروستۍ شپېرمې مرحلې په پای کې پیدا کړ.
- قرآن وایي چې ځمکه او آسمانونه سره یو ځای او یوه کتله وه چې د الله تعالی په حکم سره بېل شوي، فرمایي:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَـٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبیاء: ۳۰

آیا کافران دې ته نه ګورې چې آسمانونه او ځمکه سره یو وو او موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له اوبو راپیدا کړ.

د دې معنی دا ده چې زمکه به په لومړي سر کې داسې سره او توده وه لکه لمر، دا تودوالی ئې ورو ورو لږ شوی او اوسنی حالت ئې غوره کړی، له ابتدائي سړېدو وروسته به د زمکې سر داسې کلك او ډبرین وو لکه د اورشیندو (آتش فشان) په نتیجه کې چې د زمکې له زړه ویلې مواد راووځي، ساړه او کلك شي؛ د زمکې دا ډبرین قشر د بارانونو له کبله ورو ورو په خاوره بدل شوی، بارانونو دا خاورې د زمکې ژورو سیمو ته انتقال کړې، لکه څنگه چې گورو غرونه او لوړې تیږې او ډبرې دې او آواره په خاورو پټه شوې، تر دې خاورې لاندې همغه ډبرین قشر دئ، چې د چاودلو په نتیجه کې ئې زلزلې رامنځته کېږي، دا خاوره په بوی ناکې ختې بدله شوې او دغه مهال د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب او ضروري شرائط برابر شوي او الله تعالی د ټولو ژوو لومړی نطفه او بیا لومړی جوړه دغه مهال پیدا کړې.

انسان غواړي په دې پوه شي چې څنگه پیدا شوی؟ له څه پیدا شوی؟ چا پیدا کړی؟ په زمکې کې د انسان پیدایښت څنگه او کله پیل شوی؟ تر نورو ژوو مخکې که وروسته پیدا شوی؟ الله تعالی د دغو مبارکو آیتونو په رڼا کې موږ ته لارښوونه کړې او زموږ دغو پوښتنو ته ئې ځواب ویلی او دا وضاحت ئې کړی چې نه یوازې نور مخلوقات تر انسان مخکې پیدا شوي بلکې جن او پېریان هم تر ده وړاندې پیدا شوي.

کله چې د انسان د پیدایښت په اړه څه وایو او اړوند آیتونه ئې څېړو نو باید متوجه وو چې په دې څېړنې کې د قرآن ټول هغه آیتونه په پام کې ولرو چې د انسان او نورو ژوو د پیدایښت د څرنگوالي په اړه ئې بحث کړی، د رسول الله صلی الله علیه و سلم لارښوونې هم خپلې مخې ته کښېږدو او د خلقت په اړه د الله تعالی عام سنت هم په پام کې ولرو. داسې تعبیر وړاندې نه کړو او وئې نه منو چې له نورو آیتونو سره تعارض رامنځته کوي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحیح احادیث ئې ملا تړ او تأیید نه کوي او د الله تعالی له عام او مشهودو سننو سره اړخ نه لگوي.

د انسان د پیدایښت په اړه زموږ ځواب باید داسې وي چې هم د نورو ژوو د پیدایښت په اړه صدق وکړي او هم ئې زموږ عقل ومني، داسې ځواب ناقص دئ چې د الله تعالی د کوم مشهود سنت خلاف وي او عقل ئې نشي منلی، دا ځکه چې په قرآن کې نه د الله تعالی د سننو خلاف څه شته او نه د عقل خلاف. زموږ ځواب باید دا راته روښانه کړي چې له ویروس او میکروب نیولې تر فیل او ډایناسور پورې او له بکتریا او واړه بوټي نیولې تر سترو ونو پورې، دا د زمکې د سر ټول ژوي او نباتات څنگه پیدا شوي، د پیدایښت پیل ئې څنگه وو او لومړی جوړه ئې څنگه پیدا شوې. آیا لومړی د ټولو دوې دوې مجسمې (د نر او ښځې) جوړې شوې، بیا روح په کې پو شوې، ژوندي شوي او له همدغو لومړیو جوړو ئې نسل دوام کړی؟ او که داسې چې لومړی د هر ژوي یوه وړه نطفه پیدا شوې، دا نطفه په دوو برخو (نر او ښځې) وېشل شوې، ورو ورو ستر شوې، د

یوې بشپړې جوړې په توګه ئې وده کړې او بیا له همدغې بشپړې جوړې د هغوی نسل دوام کړی؟ داسې لکه نن چې په خپلو سترګو ګورو چې ټول ژوي او بوټي، که ستر دي او که واړه، له داسې وړې نطفې ئې پیدایښت پیل کېږي چې په سترګو نه لیدل کېږي، ګڼ شمېر مراحل پرې تېر شي، ورو ورو د کمال او بشپړېدو په لوري وده وکړي او له څه مودې وروسته د یوه بشپړ مخلوق په توګه راڅرګند شي. موږ په دې خور وور عالم کې د پیدایښت داسې بېلګه نه ګورو چې د دې عام او مشهود الهي سنت خلاف لومړی د هغه بشپړه مجسمه جوړه شي او بیا روح په کې پو شي، داسې ژوی مو نه دئ لیدلی چې پیدایښت ئې له یوې وړې نطفې نه وي پیل شوی. دا عام الهي سنت او زموږ عقل راته وایي چې د اوسني پیدایښت توپیر به له لومړي پیدایښت سره یوازې په دې کې وي چې اوس له یوې جوړې او د نر او ښځې له ازدواج پیدا کېږي او په لومړي سر کې ئې دا جوړه (زوج) له یوې نطفې جوړه شوې او له دې وروسته ئې د اوسني طرز پیدا کېدو لړۍ پیل شوې. اوس ئې نطفه د مور په رحم کې جوړېږي او هغه مهال په زمکې کې جوړه شوې؛ اوس ئې نطفه د نر او ښځې د نطفو له یو ځای کېدو جوړېږي او هغه مهال یوه نطفه په دوو (نر او ښځې) تقسیم شوې. د قرآن لاندنۍ درې آیتونه موږ ته په ډېر صراحت سره داسې لارښووني کوي چې دغه پورتنۍ رأیه ترې راوځي:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ فاطر: ۱۱

او الله تاسو له خاورې پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ؛ نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي؛ مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمروال (د عمر خاوند) عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

که دې آیت ته لږ ځیر شئ نو په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې معلومېږي چې د انسان لومړۍ جوړه له یوې نطفې جوړه شوې؛ دلته الله تعالی فرمایي چې تاسو مو لومړی له خاورې؛ او بیا له یوې نطفې پیدا کړئ او بیا مو جوړه جوړه پیدا کړئ؛ یعني د انسان پیدایښت لومړی له خاورې د یوې نطفې په بڼه کې پیل شوی او بیا ئې د زوج زوج پیدا کېدو لړۍ پیل شوې. څوك چې له دې پرته بله رأی وړاندې کوي د قرآن له دې څرګند آیت سره مخالفت کوي.

بل آیت دا مطلب په لازیات صراحت سره بیانوي او وایي:

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن

نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ۝٤ النحل: ۳ ـ ٤

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پيدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چې ورسره شريکوي ئې، انسان ئې له نطفې پيدا کړ او هغه څرګند جګړمار شو.

له دغو دوو آيتونو څو خبرې په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاورې د ده نطفه جوړه شوې.
- بيا له دې نطفې يوه جوړه (زوج) پيدا شوې.

- د آسمانونو او زمکې له خلقت وروسته او ورپسې دا خبره کول چې انسان ئې له نطفې پيدا کړ؛ دا مطلب په ګوته کوي چې دلته د انسان لومړني پيدايښت ته اشاره شوې؛ نه وروستي پيدايښت ته. ابتدائې پيدايښت ئې هم د نطفې په بڼه کې پيل شوی. ډېره عجيبه ده چې څوك د دې صريح آيتونو خلاف خبره کوي.

- بيا له دغې نطفې د ده جوړه پيدا شوې. يعني هغه (واحد نفس) دغه له خاورو جوړه شوې نطفه وه چې له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) پيدا کړه او بيا له دغې جوړې د ده د نسل د پيدا کېدو لړۍ پيل شوې.

همدا راز قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ۝١ النساء: ۱

اې خلکو! له خپل هغه رب ووېرېږئ چې له يوه نفس ئې پيدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه پيدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل؛ هم د هغه الله په نسبت تقوی ولرئ چې په خپلو کې غوښتنې پرې کوئ او هم د خپلوۍ په اړه؛ بې شکه چې الله ستاسو څارونکی دئ.

ګورئ چې دلته دا نه دي ويل شوي چې له آدم عليه السلام ئې د ده مېرمن حواء پيدا کړه، دا خبره نه دلته شوې او نه د قرآن په بل آيت کې او نه په کوم صحيح الإسناد حديث کې، بلکې ويل شوي له يوه نفس ئې د ده جوړه پيدا کړه. د قرآن په هيڅ ځای کې صراحتاً يا اشارتاً دا نه دي ويل شوي چې لومړی آدم عليه السلام پيدا شوی او بيا له ده د ده مېرمن پيدا کړی شوې. همدا راز د قرآن په هيڅ ځای کې دا نه دي ويل شوي چې لومړی د آدم عليه السلام او د ده د زوجې هيئت او څېره جوړه شوې بيا روح په کې پو شوې. او نه هم

په هیڅ صحیح الاسناد حدیث کې دا ویل شوي؛ که خبره داسې وی نو هرومرو به په قرآن کې په همدې الفاظو ذکر شوې وه، نه یوازې د آدم علیه السلام په اړه بلکې د نورو ژوو په اړه به هم همداسې ویل شوي وو چې لومړی ئې د ټولو هیئتونه جوړ کړل، بیا ئې په کې پو کړل او راژوندي شول. لکه څنګه چې د عیسی علیه السلام له قوله فرمايي:

**... أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ ...** آل عمران ٤٩

زه ستاسې لپاره له خټې د مرغه څېره جوړوم، بیا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي.

که تاسو د انسان د خلقت اړوند آیتونو ته لږ ځیر شئ وبه ګورئ چې په ټولو کې (صلصال: کړنګېدونکی توکی) له (حمإ مسنون: بوی ناکې خټې) مخکې ذکر شوی. او په یوه ځای کې خو (صلصال) د انسان د پیدایښت داسې لومړۍ ماده ګڼي لکه د اور لمبه چې د جن د پیدایښت لومړۍ ماده ګڼي او فرمايي:

**خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾**

الرحمن: ١٤ -١٥

انسان ئې د کودړې په څېر له کړنګېدونکې توکې پیدا کړ او جن ئې له بې دوده لمبې.

دا آیت خو وايي چې انسان ئې له صلصال پیدا کړی؛ داسې لکه جن چې ئې له اور پیدا کړی، د ده د پیدایښت اصلي ماده صلصال ده؛ دغسې لکه د جن د وجود اصلي ماده چې اور دئ؛ یعني د انسان د وجود لومړنۍ ماده په سر کې صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی ترې انسان جوړ کړ. داسې نه دي ویل شوي چې دی ئې صلصال کړی او بیا ئې روح په کې پو کړې.

د قرآن دا دقیقه او علمي وینا چې یقیناً ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي؛ داسې ده چې هم ئې علم او ساینس پر حقانیت اعتراف کوي او هم د هر باشعور انسان عقل.

ځیني شیعه د آدم علیه السلام د پیدایښت په اړه یو روایت لري چې امام باقر رحمه الله ته ئې منسوب کړی او وايي: تر آدم علیه السلام مخکې په زرګونو زرګونو آدمان تېر شوي!! دا په داسې حال کې چې قرآن په مکرره توګه فرمايي چې د انسانانو د پیدایښت لړۍ له یوه نفس او یوې جوړې (آدم او د هغه مېرمن) پیل شوې!! زموږ عقل او درایت همدا خبره کوي؛ نه پوهېږو په دغو خلکو څه مصیبت نازل شوی چې د قرآن او عقل خلاف روایات مني او په داسې څه باور کوي چې نه کوم عقلي دلیل ورته لري او نه په ټول قرآن کې د هغه لپاره کوم شاهد!!

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾
فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ
ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣١﴾

او هغه مهال چې ستا رب فرشتو ته وویل: زه هرومرو د کړنګېدونکې توکې، له بوی ناکې ختې د یوه بشر پیدا کوونکی یم. او کله چې مې برابر کړ او د خپلې روح سا مې په کې پو کړه نو هغه ته سجده کوونکې شئ. نو ټولو فرشتو په ګډه سجده وکړه؛ له ابلیس پرته چې له دې سرغړاوی ئې وکړ چې له سجده کوونکو سره شي.

(۲۸-۳۱)- د دې تفصیل د البقره سورې د ۳۰ او ۳۳ آیتونو او د الاعراف د سورې د ۱۱-۱۸ آیتونو په تفسیر کې وګورئ.

قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ
لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾

وئې ویل: اې ابلیس! وجه ئې څه وه چې له سجده کوونکو سره یو ځای نشې؟ وئې ویل: زه (دې ته تیار) نه یم چې داسې بشر ته سجده وکړم چې د کړنګېدونکې توکې، له بوی ناکې ختې دې پیدا کړی.

(۳۲-۳۳)- د دې آیت په ترڅ کې الله تعالی موږ ته لارښوونه کوي چې د اسلامي دعوت ځیني مخاطبین داسې دي چې په هیڅ توګه ایمان نه راوړي، په هیڅ دلیل نه قانع کېږي، د دوی دریځ به د دعوت په وړاندې داسې وي لکه د ابلیس، ځان به تر دې ډېر لوړ ګڼي چې حق ته غاړه کښېږدي او د یوه صالح او زړه سواند لارښود قیادت ومني، له نژادي او توکمیز پلوه به ځان تر نورو غوره ګڼي، نورو ته به په سپکه سترګه ګوري، دا د ابلیس ملګري او د هغه په پل روان دي، له هغوی د حقپالو د ملګرتیا هیڅ طمع مه کوئ.

قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٣٥﴾

وئې ویل: له دې ځای ووځه چې ته رټل شوی یې؛ او پر تا به د قیامت تر ورځې لعنت وي.

(۳۴-۳۵)- ابلیس لویې وکړه، د الله تعالی د پرېکړې له منلو ئې ډډه وکړه؛ د دې تکبر او سرغړاوې سزا دا وه چې سپکاوی او لعنت ئې په برخه او ورټل شي، دا د ده او د ده د

ملګرو برخليك دئ؛ سپكاوی او د قيامت تر ورځې له هر لوري د لعنت باران. خو دا چې شيطان له كوم ځای اخراج او ورټل شو؛ له كوم مكان او كه له كوم مقام؟ له آسمان كه په زمكې كې له كوم ځای؟ له موعود جنت كه د زمكې پر سر له خپل مخكيني مېشت ځای؟ دلته په دې اړه څه نه دي ويل شوي؛ خو د قرآن نورو لارښوونو ته په پام سره په يقيني توګه ويلی شو چې نه شيطان آسمان ته لوړ تللی او نه په موعود جنت كې مېشت شوی؛ ابليس د زمكې مخلوق دئ، په زمكې كې مېشت وو، آدم عليه السلام په زمكې كې پيدا شوی، ابليس همدلته د آدم عليه السلام په وړاندې له سر ټيټولو او اطاعت سرغړاوی كړی، همدلته له مخكيني ځای او مقام كوز كړی شوی، د قرآن په هيڅ آيت كې نه صراحتاً دا خبره شوې او نه اشارتاً چې آدم عليه السلام په آسمان كې پيدا شوی يا په زمكې كې له پيدايښت وروسته آسمان ته بېول شوی؛ او شيطان په آسمان كې د ده خوا ته مېشت وو او هملته ئې د ده د قيادت له منلو ډډه كړې او بيا له آدم عليه السلام سره يو ځای زمكې ته راكوز كړی شوی. چا چې دا خبري كړې دي له ځانه ئې كړې دي، د دې تفصيل د الاعراف د سورې د دوهمې ركوع په تفسير كې وګورئ.

---

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٣٨﴾

وئې ويل: زما ربه! نو تر هغې ورځې مهلت را چې بيا به راپاځول كېږي؛ وئې ويل: نو ته له مهلت وركړی شوو يې؛ د همغې معلومې نېټې تر ورځې.

---

(۳۶-۳۸)- ابليس د الهي پرېكړې له اورېدو وروسته د دې پر ځای چې ندامت وښيي او توبه وكړي؛ په خپل شيطاني دريځ ټينګار كوي او وايي: ما ته د قيامت تر ورځې مهلت راكړه چې درته ثابته كړم آدم؛ دا له بوی ناكې خټې جوړ شوی مخلوق؛ د دې وړ نه دئ چې د زمكې خلافت وروسپارل شي او د عالم هر څه د فرشتو او جن په ګډون د ده اطاعت وكړي؛ او ده ته رام او مسخر وي؛ الله تعالی د ده غوښتنه مني او همدا مهلت وركوي. دا داسې وګڼئ لكه څوك چې پر يوه مقام د ګمارل كېدو هڅه كوي، انګېرنه ئې دا وي چې د دې مقام لپاره تر ټولو غوره كس دی دئ؛ خو ناڅاپي د خپلې انګېرنې او انتظار خلاف ګوري چې بل څوك دې مقام ته غوره شوی، په دې سره د ده غرور او كبر تحريك شي، د بغاوت لار غوره كړي، لوړه وكړي چې دا پرېكړه به غلطه او ناسمه ثابتوي او دا كس به په خپل مأموريت كې بريا ته نه پرېږدي، له هر فرصت په استفادې سره او له هر لوري به هغه او د هغه حيثيت او كړنې تر نيوكو او بريدونو لاندې نيسي؛ او هر كار به ئې ناسم او غلط ګڼي. الله تعالی د دې قصې په ترڅ كې مونږ ته همدا لارښوونه كوي چې د ابليس متابعت ونه كړو او د ځان غوښتنې په تحريك او د شخصي اغراضو لپاره له صالح قيادت

سره د ناروا رقابت لار غوره نه کړو.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾

وئې ويل: زما ربه! له دې کبله چې بې لارې دې کړم هرومرو به په زمکې کې هر څه ورته مزين او سينګار شوي کړم او حتماً به دوی ټول بې لارې کړم؛ مګر د دوی له منځه ستا هغه مخلص بندګان چې (غوره کړی شوي).

(٣٩-٤٠)- دلته د شيطان څو خبرې راوړل شوې:

- الله تعالی ته وايي چې تا او ستا پرېکړې زه دې ته اړ کړم چې بې لارې شم او د بغاوت لار ونيسم، د داسې چا پر متابعت دې وګمارلم چې زه ترې غوره وم، له دې پرته مې بله چاره نه درلوده چې د پرېکړې له منلو سرغړاوی وکړم!! دا داسې ده لکه د شيطان کوم ملګری چې د غرض او مرض له کبله له يوې صالح ډلې بېلېږي او له ناصالح ډلې سره يو ځای کېږي او بيا د خپل بغاوت او له مخکينۍ ډلې د وتلو په توجيه کې وايي: د ډلې مشرتابه زه اړ کړم چې مخکينۍ ډله پرېږدم، هلته د خلکو حيثيت ته اعتناء نه کېږي، په ټاکنو کې اهليت له پامه غورځول کېږي، د چا سوابقو ته اهميت نه ورکول کېږي، داسې څوك ئې زما پر ځای وټاکو چې له هيڅ پلوه د دې اهليت او وړتيا نه لري او له ما سره برابري نشي کولی!!
- زه به هرو مرو د دې هڅه کوم چې د خپلو ملګرو لويه ډله ستا مخې ته ودروم، ډېر داسې کسان راپيدا کړم چې زما په څېر وي، په زمکې کې به هر څه داسې ورته مزين او ښايسته کړم چې زما ملګرتيا ورته غوره وبرېښي او پرې خوښ او راضي شي.
- يوازې هغه خلك به زما له ملګرتيا ډډه کوي چې تا غوره کړي. دا هم داسې ده لکه په غرض او مرض اخته انشعابي ډله چې وايي: وبه ګورئ چې ډېر نور به هم له دې ډلې رابېل شي، يوازې هغه محدود شمېر غړي به په مخکينۍ ډلې کې پاته کېږي چې له ځانګړيو امتيازاتو برخمن دي، د نوې ډلې مشرتابه په وړاندې به دا ژمنه کوي او باتې به وهي چې د مخکينۍ ډلې غړي به داسې ترې رابېل کړم لکه له يوې ونې چې په مني کې پاڼې ورژېږي او ټولې ځانګې ئې لوڅې شي.

دې ته مو بايد پام وي چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د قريشو او يهودو د قومي او مذهبي مشرانو د اختلاف ستره وجه دا وه چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم دعوت او قيادت ئې د ځان لپاره ستر ګواښ ګڼلو او دا وېره ورسره وه چې خپل مخکيني امتيازات به له لاسه ورکړي؛ د شيطان په دې قصې کې د دوی د مخالفت څرنګوالی

او اسباب انځور شوي.

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا
مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبۡعَةُ
أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ﴿٤٤﴾

وئې ويل: همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقيمه لار ده، يقيناً چې زما پر بندګانو دې هيڅ برلاسی او سلطه نشته؛ مګر پر هغو لار ورکو ئې چې ستا متابعت وکړي؛ او يقيناً چې دوزخ د دوی ټولو موعد دئ؛ چې اُوه دروازې ئې دي، د هرې دروازې لپاره د دوی يوه وېشل شوې برخه ده.

(٤١-٤٤)- الله تعالی د شيطان په ځواب کې فرمايلي:

- همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقيمه لار ده، زما بندګان د اخلاص له لارې ما ته رانژدې کېدی شي.

- زما پر هيڅ بنده دې هيڅ تسلط نشته، نه پر مخلصينو او نه پر غير مخلصينو. د آيت د دې فقرې الفاظ په ډېر تأکيد او قاطعيت سره موږ ته وايي چې شيطان او د ده قبيله (پېريان) پر انسانانو هيڅ سلطه نه لري، نه ئې کوم غلط کار ته اړ کولی شي او نه کوم ضرر او تاوان وررسولی شي. دا د هغو خلکو د رأيې بشپړ ترديد کوي چې وايي: پېريان کولی شي انسان ته تاوان او ضرر ورسوي.

- هغه څوك به ستا ملګرتيا او متابعت کوي چې لار ورکې دئ، هيڅ صالح انسان او د بصيرت خاوند به ستا متابعت ونه کړي.

- د ټولو هغو لار ورکو ځای دوزخ دئ چې ستا متابعت کوي.

- دا دوزخ اُوه دروازې لري؛ له هرې دروازې به ئې ستا د ملګرو خاصه ډله ننوځي. دا ښيي چې دوزخ ته د ننوتو اُوه اساسي اسباب دي؛ اُوه ستر ستر ګناهونه دي چې انسان دوزخ ته رسوي، هره يوه ئې د دوزخ يوه دروازه د انسان په وړاندې پرانيزي. دا ګناهونه کوم دي؛ د قرآن د لارښوونو په رڼا کې ئې پېژندی شو. قرآن دغه ګناهونه په جهنم کې د تل پاته کېدو سبب ښودلي:

١- کفر او له الله تعالی انکار.

٢- کذب او دروغ؛ په ځانګړې توګه د الهي آيتونو، د هغه د کتاب او پيغمبر تکذيب؛ لکه چې قرآن فرمايي:

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٩

البقره: ۳۹

او هغه چې کافر شول او زما آيتونه ئې تکذيب کړل، دوی دوزخيان دي، په هغه کې تلپاته.

۳- شرك؛ په عبادت او استعانت کې له الله تعالی سره بل څه او بل څوك شريکول. لکه چې قرآن فرمايي:

مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ١٧ التوبه: ۱۷

مشرکينو ته نه ښايي چې د الله جوماتونه په داسې حال کې آباد کړي چې پر ځان د کفر گواهي ورکوي، دا هغه وگړي دي چې عملونه ئې حبط شول او په اور کې به تلپاته وي.

٤- د هغه نفس وژنه چې الله تعالی ئې وژل حرام کړي؛ په ځانگړې توگه د مؤمن قتل؛ چې قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ٩٣ النساء: ۹۳

او څوك چې کوم مؤمن په قصد سره ووژني نو سزا ئې دوزخ دئ، تلپاته په هغه کې او الله پرې غضب کړی، لعنت ئې پرې ويلی او ستر عذاب ئې ورته تيار کړی.

۵- سود اخيستل؛ لکه چې قرآن فرمايي:

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧٥ البقره: ۲۷۵

هغه چې سود خوري نه پاڅي مگر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چې شيطان په مس (لاس راکښلو) سره د ده حواس خراب کړي وي، دا له دې کبله چې وايي: بيع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چې الله بيع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی، نو چا ته چې د خپل رب له لوري موعظه راغله، نو ډډه ئې وکړه، ده ته همغه پخوا تېر شوی دئ او کار ئې الله ته (محول) دئ او څوك چې بيا وروگرځېدو نو دوی دوزخيان دي؛ په هغه کې تلپاته.

٦- د يتيم مال خوړل؛ لکه چي قرآن فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ١٠﴾ النساء: ۱۰

يقيناً هغه چي د يتيمانو مالونه په ظلم سره خوري؛ دوی په خپلو خېټو کي له اور پرته بل څه نه اچوي او ژر به اور ته ننوځي.

٧- له کافر سره موالات او دوستي؛ چي قرآن په دې اړه فرمايي:

﴿تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ٨٠﴾ المائده: ۸۰

ډېری به ئې گورې چي له کافرانو سره به دوستي کوي؛ څومره بد دئ هغه چي د دوی نفسونو وروړاندي کړل؛ چي الله پرې په قهر شو او په عذاب کي به تلپاته وي.

---

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ٤٥ ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ٤٦ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ٤٧ لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ ٤٨﴾

يقيناً چي متقيان به په جنتونو او چينو کي وي (ورته وبه ويل شي:) په سلامتيا سره خوندي ورننوځئ؛ او په سينو کي ئې چي کومه کينه او رخه وه هغه به ترې وباسو، د وروڼو په څېر يو بل ته مخامخ پر تختونو ناست، نه به ئې ستوماني په برخه کېږي او نه به ترې ايستونکي وي.

---

(٤٥-٤٨)- دلته د دوزخيانو د حال له بيانولو وروسته د جنتيانو حال بيانوي او فرمايي:

- دوی متقيان دي او هغه جنتونه به ئې په برخه شي چي چينې په کي بهېږي.
- دوی ته به وويل شي: روغ رمټ او له هر مصيبت او کړاو د تل لپاره خوندي؛ جنت ته ننوځئ.
- که په دنيا کي د دوی تر منځ څه لانجه راولاړه شوې وه او يوه د بل په اړه کومه کينه او رخه په سينه کي درلوده؛ دا به ئې له سينو وايستل شي، د وروڼو په څېر به يو بل ته مخامخ پر تختونو ناست وي.
- هلته به ئې نه کله ستوماني په برخه کېږي او نه به هيڅکه ترې وايستل شي.

نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

زما بندګانو ته خبر ورکړه چې یقیناً زه مهربان بخښونکی یم؛ او دا چې زما عذاب سخت دردوونکی عذاب دئ.

(٤٩-٥٠)- په دې زړه راښکونکې مبارك آیت کې زموږ مهربان رب رسول الله صلى الله علیه و سلم ته څو سپارښتنې کړې:

- زما ټولو بندګانو ته خبر ورکړه چې زه نه یوازې بخښونکی یم او د خپل ګنهګار بنده ګناهونه بخښم بلکې رحیم او مهربان بخښونکی یم، مغفرت غوښتونکو ته پر بخښنې سربېره د خپلو پراخو پېرزوینو او رحمت دروازې پرانیزم. له کفر، شرك، ظلم او فساد لاس واخلئ او د مهربان بخښونکي رب لورې ته راشئ.
- دا هم ورته ووایه چې زما عذاب سخت دردوونکی عذاب دئ، که توبه ونه کړئ، له بغاوت او ګناه لاس وانه خلئ؛ په سخت دردوونکي عذاب به اخته شئ.

وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ
وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ
أَن مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ
ٱلۡقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾

او د ابراهیم د مېلمنو له حاله ئې خبر کړه؛ هغه مهال چې خوا ته ئې داخل شول نو وئې ویل: سلام؛ وئې ویل: موږ خو له تاسو وېرېدونکي یو؛ وئې ویل: مه وېرېږه، موږ تا ته د یوه پوه زوی زېری درکوو. وئې ویل: آیا په داسې حال کې زېری راکوئ چې زړښت مې په برخه شوی؛ نو په څه توګه زېری راکوئ؟، وئې ویل: په رښتیا سره زېری درکوو؛ نو له ناهیلو مه کېږه؛ وئې ویل: له لار ورکو پرته به بل څوك وي چې د خپل رب له رحمت مأیوس کېږي.

(٥١-٥٦)- د دې مبارك آیت په معنی د ښه پوهېدو او له مخکینیو آیتونو سره ئې د ارتباط په څرنګوالي د پوهېدا لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:

- د ابراهیم علیه السلام دا مېلمانه هغه فرښتې وې چې د لوط علیه السلام د دعاء له امله د هغه مرستې ته لېږل شوې وې خو د څو زلمیانو په بڼې کې؛ مخکې له دې چې هلته

ورشي د ابراهيم عليه السلام خوا ته ورغلې، هغه هم د زړو مېلمنو گمان پرې کړی؛ او وريته غوښه ئې د دوی مخي ته ايښې.

- که گوري چي مېلمانه ئې د خواړو لوښي ته لاس نه وروړي، وېره ورسره راپيدا شوې او داسي ئې انگېرلې چي ښايي دا ناآشنا مېلمانه به د دښمنۍ او تاوان رسولو اراده لري.

- مېلمنو ئې اطمئنان ورکړی چي مه وېرېږه؛ مونږ تا ته د يوه پوه زوی زېری درکوو.

- ده په ځواب کي ورته ويلي: آيا په داسي حال کي زېری راکوئ چي زړښت مي په برخه شوی، نو په څه توگه زېری راکوئ؟ څنگه به مي زوی په برخه کېږي؟

- فرشتو ورته ويلي: زموږ زېری رښتينی دئ، حتماً به تحقق مومي، د هغو خلکو په څېر مه کېږه چي يأس پرې سيوری غوړولی او ناهيلي دي.

- ابراهيم عليه السلام ورته ويلي: د خپل رب له رحمت خو به هغه څوك مأيوس کېږي چي لار ورکې وي او خپل مهربان رب نه پېژني.

- ابراهيم عليه السلام ته دا زيری عجيب غوندي برېښېدلی او ويلي ئې دي: آيا په داسي حال کي د زوی او لمسي زيری راکوئ چي زوړ شوی يم؟ بيا ئې له فرشتو پوښتلي چي ستاسو مأموريت څه دئ؟ هغوی ورته ويلي: د يوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو؛ د لوط له کورنۍ پرته به نور؛ د ده د مېرمني په شمول؛ د الله تعالی په عذاب اخته کېږي. او په دې سره قرآن موږ ته وايي چي ابراهيم عليه السلام او د ده مېرمني ته د غيب خبري د حيرت او تعجب وړ وې؛ حتی په دې هم نه پوهېدل چي الله تعالی به دوی ته زوی او لمسی ورکوي، په دې هم نه پوهېدل چي د لوط عليه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلېږي، د لوط عليه السلام کورنۍ به ژغورل کېږي او مېرمن به ئې د نورو په څېر په الهي عذاب اخته کېږي!! په دې نه پوهېدل چي راغلي مېلمانه انسانان نه بلکي فرشتې دي، په دې هم نه پوهېدل چي ولي څه نه خوري، حتی ترې وېرېدلي.

- په دې توگه د بخښونکي مهربان رب د پېرزوينو يوه ښکلې او په زړه پوري بېلگه زموږ مخي ته انځور شوې، په زوړوالي او داسي وخت کي ابراهيم عليه السلام ته د زوی او لمسي زېری ورکړی شوی چي په خيال کي ئې هم دا خبره نه گرځېده او تصور ئې هم نه شو کولی؛ خو الهي وعده تر سره شوه او د داسي زوی او لمسي خاوند شو چي نه يوازي په خپله د پيغمبرۍ لوړ مقام ته ورسېدل بلکي ټول وروستني پيغمبران عليهم السلام د دوی په اولاد کي مبعوث شول.

---

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٥٩ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ
۝٦٠

وئې ويل: اې استازو! ستاسو مأموريت څه دئ؟ (هغوی) وويل: د يوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو، د لوط له کورنۍ پرته چې موږ د دوی ټولو ژغورونکي يو؛ مګر مېرمن ئې چې د دې په اړه مو دا پرېکړه مقدره کړې چې له وروسته پاتو به وي.

---

(٥٧-٦٠)- دا مبارك آيات څو مهمي لارښووني لري:

- کله چې ابراهيم عليه السلام پوه شو چې مېلمانه ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوې فرشتې دي؛ نو پوښتنه ئې ترې وکړه چې د څه لپاره په دې بڼې کې راغلي يئ؟ نه پوهېدو چې مأموريت ئې څه دئ!! او دا موږ ته ښيي چې پيغمبران په غيب نه پوهېږي، ابراهيم عليه السلام او د ده مېرمني تر هغه فرشتې ونه پېژندې چې دوی په خپله ځان معرفي کړ، په دې نه پوهېدو چې ده ته د زوی زېری له ځان سره لري، د زېري له اورېدو وروسته متردد وو چې دا زېری څنګه دئ او څنګه به تحقق مومي، په دې نه پوهېدو چې دا فرشتې د څه لپاره راغلې او مأموريت ئې څه دئ، په دې نه پوهېدو چې د ده له وراره لوط عليه السلام سره به څه کېږي. آيا عجيبه نه ده چې څوك د داسې صريح او روښانه لارښوونو سره سره دا ادعاء کوي چې پيغمبران په غيب پوهېږي؟!!
- فرشتو ورته وويل: د يوه داسې مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو چې د الهي عذاب مستحق دئ، په دې قوم کې لوط عليه السلام مبشت دئ، د ده ټوله کورنۍ به ژغورو، مګر مېرمن ئې چې د دې په اړه دا پرېکړه شوې چې له وروسته پاتو به وي او په الهي عذاب به اخته کېږي.

---

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ۝٦١ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ۝٦٢ قَالُواْ بَلۡ
جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ۝٦٣ وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ۝٦٤ فَأَسۡرِ
بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ
حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ۝٦٥ وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ
مُّصۡبِحِينَ ۝٦٦

او کله چې د لوط ټبر ته استازي ورغلل؛ وئې ويل: تاسو خو ناآشنا وګړي يئ! وئې

ویل: داسې نه ده بلکې هغه څه مو درته راوړي چې دوی په کې شك کولو؛ او له حق سره درته راغلي يو او مونږ رښتيني يو؛ نو د شپې په يوې برخې کې خپل كهول تر مخ روان کړه او ته ئې تر شا ورپسې شه؛ او ستاسو هيڅ يو دې شا ته نه ګوري او همغه لوري ته ولاړ شئ چې پرې ګمارل کېږئ؛ او ده ته مو د دې کار پرېکړه واوروله چې د دغو جرړې به سبا سهار قطع کېږي.

(٦١-٦٦)- د فرشتو همغه ټولګی د لوط علیه السلام خوا ته ورغی، هغه ته هم پردي او ناآشنا معلوم شول، ورته وئې ویل: تاسو خو ناآشنا وګړي يئ، فرشتو ورته وويل: پردي نه يو، بلکې هغه څه مو درته راوړي چې دوی په کې شك کولو، دوی د الهي عذاب غوښتنه کوله او تا ته ئې ويل: که ته د الله تعالی رښتينی پيغمبر يې نو پر مونږ الهي عذاب نازل کړه، مونږ د دغه عذاب پرېکړه له ځان سره لرو، همغه حقيقت مو درته راوړی چې دوی نه منلو، مونږ رښتيني يو، عذاب راتلونکی دئ، ته د شپې په يوې برخې کې خپل كهول له سيمې وباسه، دوی وړاندې او ته ئې تر شا روان شئ، ستاسو هيڅ يو دې شا ته نه ګوري، هيڅ ته التفات او اعتناء مه کوئ، همغه لوري ته ولاړ شئ چې پرې ګمارل کېږئ؛ او لوط عليه السلام ته اطلاع ورکړی شوه چې سبا سهار به هغه مهال د دې مجرم قوم جرړې قطع کېږي او ټغر به ئې ټولېږي چې شپه ئې پای ته رسولې او سباوون پيلوي.

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ﴿٦٨﴾
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ أَوَ لَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ
بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ
ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن
سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾

او د ښار اوسېدونکي خوښي کوونکي راغلل؛ وئې ويل: دا کسان مې مېلمانه دي نو سپکاوی مه راباروئ؛ او له الله ووېرېږئ او مه مې شرموئ! وئې ويل: آيا ته مو له داسې وګړو نه وې منع کړی؟ وئې ويل: که د کوم کار (نكاح) کولو اراده لرئ نو دغه دي زما لوڼې. ستا په عمر لوړه چې دوی په يقيني توګه په خپلې بې سدۍ (بدمستۍ) کې لالهانده دي؛ نو په سباوون کې هغې لوړې چيغې ونيول، نو مونږ ئې لوړې ورلاندې کړې او پر دوی مو د پخې شوې خټې ډبرې ووروليې.

(٦٧-٧٤)- د دغو آيتونو په اړه څو عرائض لرم:

- په دې اړه د هود د سورې (٧٧-٨٣) آيتونو په شرحې کې تفصيلي بحث شوی؛ هلته مراجعه وکړئ.

- دا آيتونه وايي چې د مېلمنو په راتلو سره د ښار اوسېدونکي خبر شول، خوښ او مست د ده کور ته ورغلل، لوط عليه السلام ورته وويل: دا زمېيان مې مېلمانه دي؛ ما ته سپکاوی مه رااړوئ، له الله تعالى ووېرېږئ او ما مه شرموئ؛ هغو بدمستو ورته وويل: آيا ته مو له دې نه وې منع کړی چې داسي وګړي به نه مېلمانه کوې؟ دوی له خپل کور وباسه، موږ ته ئې تسليم کړه، لوط عليه السلام ورته وويل: که د نکاح اراده لرئ نو زما د ولس لوڼو ته چې زه ئې خپلې لوڼي ګڼم مخه کړئ. يقيناً چې دوی خپلې مستۍ بې سده کړي ول او په تلوار او ټينګار سره ئې مېلمانه ترې غوښتل. نو په سباوون کې هغې لوړې چيغې چې سخته زلزله ورپسې وه ونيول، د ښار لوړې نسکورې او کورونه لاندې باندې شول، زمکه وچاوده، ښار او ښاريان ئې په ستري کندي کې ښخ شول او له پاسه د پخې شوې خټې ډبرې پرې ووربېدې.

- ځينو مفسرينو يرغل کوونکو ته د لوط عليه السلام د دې وينا (دا دي زما لوڼي) په اړه ويلي چې له دې خبري ئې مراد دا وو: زما د ولس لوڼو ته چې زه ئې خپلې لوڼي ګڼم مخه کړئ. ځينو ويلي چې له خپلو لوڼو سره ئې د نکاح وړانديز ورته کړی. بايبل وايي چې د لوط عليه السلام دوه لوڼي وې، دواړه ئې واده شوې وې، د هجرت په وخت کې ئې د ده ملګرتيا وکړه، زومانو ئې دی او د ده لوڼي يوازې پرېښودل او په ښار کې پاته شول. که دا خبري رښتيا وي نو بيا خو کېدی شي چې د لوط عليه السلام زومانو لا د مخه د ده لوڼو ته طلاق ورکړی وي، (همغسي لکه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم دوو زومانو چې د ابو لهب زامن ول د ده لوڼو ته طلاق ورکړ)، ښايي دغه دواړه زومان ئې هم د ده پر کور د راغونډېدو پر مهال له نورو سره يو ځای وو او لوط عليه السلام دوی ته ويلي وي چې که د نکاح اراده لرئ نو دا دي زما هغه لوڼي چې تاسو طلاق ورکړی.

د دې آيت (لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ: ستا په عمر لوړه چې دوی په يقيني توګه په خپل بې سده او د مستۍ حالت کې لالهانده دي)؛ په اړه په تفسيرونو کې دوه د اعتناء وړ تعبيرونه مومو: ځيني وايي چې دلته خطاب رسول الله صلى الله عليه و سلم ته متوجه دئ او الله تعالى د ده پر عمر لوړه کړې؛ نور وايي چې دلته خطاب د فرشتو له لوري لوط عليه السلام ته متوجه دئ او هغوی د لوط عليه السلام په عمر لوړه کړې، په دې دواړو آراءو کې کومه يوه په کوم دليل غوره کولی شو؟ په دې اړه بايد ووايو: دوه دلائل داسي دي چې ښيي دوهمه توجيه صحيح ده: ١- د کلام تسلسل او نظم دا ايجابوي چې دا به د فرشتو د مخکيني کلام تتمه وي او دوی به لوط عليه السلام ته د خپلو خبرو

په پای کې دا وینا کړې وي. د کلام الفاظ داسې دي چې ښیي خطاب لوط علیه السلام ته متوجه دئ او ده ته ویل شوي چې دوی په خپلې بدمستۍ او بې سدۍ کې لالهانده دي. که دا خطاب رسول الله صلی الله علیه و سلم ته متوجه وی نو باید د ماضي په صیغه او داسې ویل شوي وی چې هغوی د بې سدۍ په حالت کې ول. ۲- د قرآن ټول قسمونه د استشهاد لپاره دي، دا قسمونه د دې لپاره نه دي چې ګواکې الله تعالی د خپل مخاطب د قانع کولو او د ده د تشویش رفع کولو لپاره په کوم ستر او با عظمته شي لوړه کړې!! دا نه د قسم د مفهوم او معنی په اړه صحیح تعبیر دئ او نه د قرآن د قسمونو سم تفسیر، هر قسم د استشهاد لپاره وي، دلته که په (عمرك) کې اشاره د رسول الله صلی الله علیه و سلم عمر ته راجع وګڼو نو د قسم له ځواب سره ئې هیڅ تړاو نه تر سترګو کېږي؛ خو که ئې د لوط علیه السلام عمر ته راجع وګڼو نو تړاو ئې ډېر څرګند او واضح دئ او هغه دا چې د لوط علیه السلام ټول عمر شهادت ورکوي چې د ده مخاطب قوم په بدمستۍ کې غرق وو، د ده دعوت ته ئې اعتناء ونه کړه او له فساد او ګناه ئې لاس وانخیست. دا همغسې ده لکه چې د هود د سورې په ۷۸ آیت کې ویل شوي: (وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْيَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ: او قوم ئې په منډه منډه ورته راغی او تر دې مخکې ئې هم بد کارونه کول)، د (لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ) معنی همغه ده چې په (وَمِن قَبۡلُ كَانُواْيَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ) سره بیان شوې. باید دې ته متوجه وو چې کله موږ لوړه کوو د مثال په توګه وایو: پر الله تعالی قسم کوم چې ریښتیا وایم؛ معنی ئې دا ده چې الله تعالی شاهد دئ چې زه ریښتیا وایم، که قسم د تعظیم لپاره وی نو بیا خو به موږ ته دا جائزه وه چې ووایو: په مسجدالحرام قسم، په قرآن قسم، پر پیغمبر قسم، شریعت به داسې قسمونه ناجائز نه ګڼل، خو داسې قسمونه نه یوازې جائز نه دي بلکې د مفهوم او معنی له پلوه صحیح هم نه دي، دا ځکه چې دا شیان (مقسم به) زما د ریښتینولۍ شاهد او ګواه نه دي، یوازې الله تعالی زما په اړه شاهد کېدی شي. نو یوازې پر الله تعالی لوړه او قسم د معنی او مفهوم له پلوه صحیح او له شرعي پلوه جائز دئ. په بل څه قسم د معنی له پلوه غلط او له شرعي پلوه ناجائز دئ. الله تعالی چې په کومو شیانو لوړه کړې هغه ئې د شاهد په توګه وړاندې کړی، د مثال په توګه الله تعالی په هغه سیند لوړه کړې چې د فرعونیانو په مړو ډك شو (والبحر المسجور)؛ او ورپسې ئې ویلي: یقیناً چې ستا د رب عذاب واقع کېدونکی دئ، هیڅ دفع کوونکی ئې نشته، د دې مقصد دا دئ چې: د فرعونیانو په مړو ډك بحر ګواهي ورکوي چې د الهي عذاب د وقوع مخه هیڅوك په هیڅ ځواك سره نشي نیولی، د فرعون لښکرو دا عذاب تم نه کړی شو، د فرعونیانو په مړو ډك بحر ګواهي ورکوي چې که د زمانې د هر فرعون په وړاندې د موسی په څېر مجاهد راپیدا شو نو د دې فرعون برخلیك به داسې وي لکه د مخکیني فرعون. خو که له بحر المسجور بل څه مراد کړو نو نه یوازې د الهي کلام نظم او تسلسل مو له پامه غورځولی بلکې د قسم

او ځواب تر منځ هیڅ تړاو نه شو په ګوته کولی.

زه د لوړي چیغي او د ډبرو د وریدو په حقیقت ښه نه پوهېدم، په تفسیرونو کې مي بېلابېل اراء لیدلي وو، ځینو لیکلي چي داسي توند باد پرې راغلی چي وړې ډبري ئې پر دوی ورولې، ځینو ویلي چي زمکه چاودلې او له منځه ئې مذاب (ویلي توکي) راوتلي، بر تللي او د پخو ډبرو په بڼې کې پر دوی ورېدلې، ځیو ویلي چي فرشتو پر دوی ډبري ورولې، زه د کشمیر زلزلې په دې پوه کړم، دلته زلزله له یوه لوړ او هیبتناك غږ سره توأم وه، په لویو زلزلو کې د زمکي د چاودېدو ډېر هیبتناك او دروند غږ وي، غرونه راوښوېدل، له غرونو ډبري راورغړېدې، ډېر کورونه ترې لاندي شول، چا چي دا صحنه په خپلو سترګو لیدلې وه؛ ویل ئې: له رارغړېدونکو لویو او وړو تېږو به یوې بلې خوا ته تښتېدلو، د شپې به مو له زلزې سره سم د موټرو ځراغونه د غره لوري ته مخامخ کړل چي د ډبرو رارغړېدل وګورو او له هغو ځان خوندي کړو چي زمونږ په لور راځي. د لوط د قوم په اړه چي څه ویل شوي له هغه معلومېږي چي هلته هم زلزله له یوې لویې چاودنې او هیبتناك غږ سره یو ځای وه، زمکه ناسته ده، کورونه رانسکور شوي او پرمخي راپرېوتي؛ او له بره تېږي پرې رارغړېدلې او راورېدلې؛ اوس هغه سیمه له اوبو ډکه شوې او بحیره ترې جوړه شوې، د کیندنو په ترځ کې د یوه نسکور شوي ښار آثار تر لاسه شوي.

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَآيَـٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

یقیناً چي په دې کې د فراست خاوندانو ته څرګندي نښې دي؛ او یقیناً چي دا ښار د تګ راتګ په عامه لار پروت دئ؛ او په رښتیا چي په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده.

(۷۵-۷۷)- په دې مبارکو آیتونو کې څو لارښووني شوې:

- په دې قصې کې د عقلمنو او فراست خاوندانو ته څرګندي نښې دي، هغوی پوهېږي چي قریش، د دوی کړني او له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دوی مخالفت داسي دي لکه د لوط علیه السلام قوم، د هغوی کړني او د هغوی مخالفتونه. که توبه ونه کړي، ایمان رانه وړي او له مخالفتونو لاس وانه خلي؛ پایله به ئې همغسي وي لکه د لوط علیه السلام د قوم پایله.
- دا د کوم مجهول او نوم ورکي خیالي ښار او سیمي قصه نه ده، د داسي ستر او مشهور ښار قصه ده چي د تګ راتګ په عامه لار پروت وو، ټولو ته هغه ښار او د هغه د اوسېدونکو دردناك برخلیك معلوم دئ. دا له حجاز تر شام پوري او له عراق تر مصر پوري

تللې لارې باندې پروت ښار وو، کومې قافلې چې په دې لارې تلې راتلې د دې ښار د ورانو ویجاړو نښې ئې په خپلو سترګو لیدې؛ او تر نن پورې څرګندې پرتې دي، دا سیمه د بحر لوط ختیځ او جنوب ته پرته سیمه ده، د جنوبي برخې په اړه ئې د څېړونکو رأیه دا ده چې دلته د ورانو او ویجاړو دومره آثار تر سترګو کېږي چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې ئې بېلګه نه شو موندلی.

- په دې کې د مؤمنانو لپاره په یقیني توګه څرګنده نښه ده، دوی باید ډاډه او مطمئن وي چې الله تعالی به ئې د لوط علیه السلام د مؤمن ټبر په څېر ژغوري، که څه هم شمېر ئې د یوې کورنۍ د غړو په اندازه وي.

وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ ﴿٧٩﴾

او یقیناً چې ایکه وال ظالمان ول، نو انتقام مو ترې واخیست او رښتیا خبره دا ده چې دا دواړه سیمې په څرګنده توګه ټولو ته مخامخ پرتې وې.

(۷۸-۷۹)- ایکه د شعیب علیه السلام د قوم سیمه وه، مرکزي ښار ئې مدین نومېدو، ټوله سیمه د مدین په نامه هم يادېده، ایکه چې لغوي معنی ئې ګڼ ځنګل دئ د تبوك سیمې ته ویل کېدل؛ اوس هم یو خوړ د ایکه په نامه یادېږي چې له جبل اللوز تر اَفَل پورې غزېدلی دئ. دا ښار هم له حجاز تر فلسطین او شام پورې تللې لارې په خوا کې پروت وو. ایکه والو هم د ظلم لار غوره کړه او له الهي انتقام سره مخامخ شول، دا دئ د ویجاړو کورونو نښې ئې ستاسو مخې ته پرتې دي.

وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٨٠﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٤﴾

او یقیناً چې حجروالو پیغمبران تکذیب کړل؛ او موږ خپل آیتونه ورورالندې کړل خو دوی ترې اعراض کوونکي شول؛ او له غرونو به ئې کورونه تراشل چې خوندي وي، نو په سباوون کې یوې لوړې چیغې ونیول او خپلو لاسته راوړنو هیڅ څه ترې دفع نه کړی شو.

(۸۰-۸٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د ثمودیانو د بغاوت د بدو پایلو په اړه په اختصار سره

لاندې دردناك حقائق زموږ مخې ته ایښودل شوي:

- دوی هم د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت مخالفت ته ملا وتړله او له هغو څرګندو الهي آیتونو ئې بغاوت وکړ چې د پیغمبرانو له لوري دوی ته وړاندې شول.
- د خپلې زمانې مخکې تللی قوم وو، د غرونو په ډبرو کې به ئې ځان ته خونې او مجلل کورونه جوړول، ډېرې به ئې تراشلې او په هغوی کې به ئې خونې خونې جوړولې.
- پر دوی هم الهي عذاب نازل شو، د شپې په پای او سباوون کې یوې لوړې چیغې ونیول.
- خپلو خونو کورونو له الهي عذاب ونه شو ژغورلی.

الحجر د ثمودیانو مرکزي ښار وو، وراني کنډوالې ئې د مدینې شمال مغرب لوري ته د العلاء له ښار څو میله آخوا، له مدینې د تبوك په لوري تلونکې لارې په اړخ کې پرتې دي، تلونکو قافلو به په خپلو سترګو لیدلې، هر چا ته ئې د دې قوم بده پایله وریادوله، په غرونو کې د تراشلو کورونو آثار ئې تر نن پاته دي. په روایاتو کې راځي چې پیغمبر علیه الصلاة و السلام د تبوك په جنګ کې د ثمودیانو سیمې (الحجر) ته ورسېدو او خپلو یارانو ته ئې وفرمایل چې دلته توقف مه کوئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلاَءِ المُعَذَّبِينَ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ، لاَ يُصِيبُكُمْ مَا أَصَابَهُمْ» رواه البخاری

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (هغه مهال چې په الحجر کې وو) وفرمایل: د دغو تعذیب شوو خلکو سیمې ته له ژړا پرته مه ننوځئ او که ژړا نه درځي نو مه ورننوځئ، داسې نه چې تاسو ته همغه څه درورسېږي چې دوی پرې اخته شوي وو.

قرآن په بل ځای کې فرمایي چې ثمودیانو له قیامت د انکار له کبله بغاوت وکړ او الله تعالی د دې بغاوت او طغیان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسې لکه د دوی خپل طغیان، باغي او طغیانګر عذاب، چې قرآن د الاعراف سورې په ۷۸ آیت کې د الرجفة (زلزله او شدید ټکان) په نامه او د هود د سورې په ٦۷ آیت کې ئې د الصیحه (تونده او هېبتناکه چیغه) او د حم سجده سورې په ۱۷ آیت کې ئې د الصاعقة (تندر) په نامه یاده کړې، یعني دا طاغي عذاب له سختې زلزلې، توندې او هیبتناکې چیغې او آسماني تندر سره توأم وو.

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٌۖ فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾

او زمکه، آسمانونه او د دوی په منځ کې هر څه مو نه دي پیدا کړي مګر په حق سره؛ او یقیناً چې (د قیامت) هغه (ټاکلی) ساعت هرومرو راتلونکی دئ، نو په غوره مخ اړولو سره مخ (ترې) واړوه. بې شکه چې ستا رب ښه پوه پیدا کوونکی دئ.

(۸۵-۸٦)- دا مبارك آیتونه له یوې خوا د مخکینیو آیتونو لپاره یوه تتمه او نتیجه ده او له بلې خوا مخاطب ته لارښوونه کوي چې قیامت حتماً راتلونکی دئ، الله تعالی ډېر پوه خالق دئ، د خلکو بیا ژوندي کول ورته آسان کار دئ، نو د مخالفینو اعتراضاتو ته هیڅ اعتناء مه کوه. خلاصه ئې په دې توګه ده:

- د مخکینیو ظالمانو مجازات ښیي چې الله تعالی دا آسمانونه او زمکه په حق ولاړ پیدا کړي، دلته د باطل لپاره د بقاء او دوام لوازم او مجال نشته، د آسمانونو او زمکې هیڅ څه د باطل ملا تړ او تأیید نه کوي.

- د مکافات او مجازات دغه مخکینۍ بېلګې ښیي چې الله تعالی له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي، مجرم ته سزا ورکوي او مؤمن ته د خپلو نېکو عملونو غوره بدله، پر یوه ستر ستر عذابونه نازلوي او جرړې ئې باسي او بل ژغوري او بریا ورپه برخه کوي، نو دا ښیي چې د قیامت او د اخروي مکافات او مجازات وعده رښتینې او حق ده. نو د هغه چا د اعراض او مخالفت پروا مه کوه چې د قیامت راتګ نه مني، د دوی بې بنسټه اعتراضاتو ته هیڅ اعتناء مه کوه.

- ځوك چې بیاژوندون محال او ګران کار ګڼي هغه خپل رب سم نه دئ پېژندلی، د الله تعالی په اړه ئې باور او تصور ناقص دئ، نه پوهېږي چې الله تعالی ډېر پوه او ډېر ځواکمن خالق او پیدا کوونکی دئ. آیا هغه ذات چې دا پراخ عالم ئې له بې شمېره مخلوقاتو سره پیدا کړی له دې عاجز ګڼي چې انسان بیا راپیدا کړي؟!!

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِي وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾

او یقیناً چې تا ته مو تکرار شوي اُوه ګوني او ستر قرآن درکړی.

(۸۷)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې تا ته مو تکرار شوي اُوه ګوني او ستر قرآن درکړي. له سبعاً من المثاني مراد د فاتحې سورې هغه اُوه آیتونه دي چې په قرآن

کې په مکرره او مشرح توګه راغلي؛ او له قرآن العظيم ټول قرآن مراد دئ، د دې معنی دا ده چې قرآن د فاتحې سورې شرح او تفصيل دئ او په دې سوره کې ټول قرآن راخلاصه شوی.

• له مخکيني بحث سره د دې آيت ارتباط داسي دئ: نه يوازي مخکيني دلائل او له مخکينيو قومونو سره الهي محاسبه دا ثابتوي چې قيامت حق او حتماً راتلونکی دئ بلکې دغه عظيم قرآن د قيامت د راتلو په اړه بې شمېره دلائل وړاندي کوي.

که څوك غواړي هغه دلائل له نظره تېر کړي چې د قيامت د اثبات لپاره په قرآن کې راغلي نو د فاتحې د سورې د درېيم آيت تفسير او په (آخرت ايمان) رساله دي ولولي.

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾

او سترګې دي د هغه څه په لوري مه اړوه چې د دوی ځيني مو ترې متمتع او برخمن کړي او مه پرې غمجن کېږه؛ او وزر دي مؤمنانو ته کوز ساته.

(۸۸)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته او د ده له لاري مونږ ته څو لارښووني او توصيې شوې:

• که د کافرانو ځينو ډلو ته مال او متاع په لاس ورغلي او رفاه او سوکالي ئې په برخه شوې؛ دا دي تا په حيرت او تعجب کې ونه غورځوي او د هغوی په لوري ستا د اعتناء او التفات سبب نشي، ګمان مه کوه چې دا الهي پېرزويني دي، دوی د الهي پېرزوينو وړ او مستحق ول نو ځکه ترې برخمن شوي، تېرو مفسدو او ظالمو قومونو ته هم ډېر څه په لاس ورغلي وو، مرفه، له دنيوي مال او متاع برخمن، مخکې تللي او د قصرونو او بنګلو خاوندان ول، خو ومو ليدل چې په الهي عذاب اخته شول او مال متاع ئې الهي عذاب ترې دفع نه کړی شو.

• پر کفر، شرك او جهل د دوی ټينګار او له حق سره د دوی مخالفتونه دي تا غمجن نه کړي، داسي نه چې د دوی ايمان نه راوړنه تا مأيوس کړي، شور او شوق دي کمرنګه او اراده دي کمزورې کړي.

• خپله توجه مؤمنانو ته واړوه، د اعتناء وړ خلك مخالفين نه بلکې هغه مؤمنان دي چې ستا ملګرتيا ته چمتو کېږي، له دوی سره به په خپل چلن کې احتياط کوې، په درنه سترګه به ورته ګورې، ځان به تر دوی ستر او لوړ نه ګڼې.

وَقُلۡ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او ووایه: یقیناً چې زه څرګند نذیر یم، د هغسې (یوه عذاب خبرداری ورکوونکی) چې پر وېشونکو مو نازل کړ، هغه چې قرآن ئې (په برخو برخو) ووېشو، نو ستا په رب لوړه چې هرو مرو به ټول وپوښتو؛ له هغه څه چې دوی کولو.

---

(۸۹-۹۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د (مقتسمین) صحیح معنی وېشونکي ده نه قسم کوونکي، ځکه په ورپسې آیت کې دا مقتسمین داسې معرفي شوي چې قرآن وېشي.
- د آیت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دوی هغه مخکیني قومونه دي چې د الله تعالی عذاب پرې نازل شوی، هغه تعبیر او تفسیر ناسم دئ چې بل څوك ترې مرادوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې خپل امت ته ووایه: زه له داسې یوه الهي عذاب تاسو ته خبرداری درکوم چې په مخکینیو قومونو نازل شو.
- که څه هم قرآن د هغه کتاب نوم دئ چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی خو د معنی او مفهوم له پلوه پر نورو مخکینیو کتابونو هم د دې اطلاق کېدی شي، داسې لکه دلته چې ویل شوي: هغه مخکیني قومونه چې قرآن ئې ووېشو او الهي عذاب پرې نازل شو.
- دوی ته یا په دې دلیل مقتسمین ویل شوي چې: د الهي کتاب ځیني برخې ئې منلې او ځیني نه، یا ئې شرك کړی او الله تعالی ته مختص صفات او حقوق ئې پر نورو وېشلي، یا ئې یو کتاب منلی او بل نه، یا ئې پر یوه پیغمبر ایمان راوړی او پر بل نه. خو له وروستي (۹٤) آیت داسې معلومېږي چې د مقتسمین نوم د مشرکینو لپاره کارول شوی، دوی هم الهي کتاب وېشلی او هم ئې شرك کړی او د الله تعالی مختص صفات او حقوق ئې پر نورو وېشلي.
- الله تعالی پر خپل ذات لوړه کوي چې هرو مرو به داسې ورځ راولم چې له دوی ټولو سره محاسبه وکړم او له خپلو کړنو ئې وپوښتم.

---

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ﴿٩٥﴾ ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

نو هغه څه په جهر سره څرګند کړه چې پرې ګمارل کېږې؛ او له مشرکانو اعراض

وکړه، یقیناً موږ د دغو استهزاء کوونکو په وړاندې درته کفایت کوو، هغه چې له الله سره نور معبودان شریکوي؛ نو ژر به پوه شي.

(٩٤-٩٦)- دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څو لارښوونې شوې:

- په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره او په لوړ ږغ او څرګنده توګه هغه څه خلکو ته ورسوه او د ابلاغ په اړه ئې خپل مأموریت تر سره کړه چې الله تعالی پرې ګمارلی یې.
- د دغو مشرکینو د مخالفتونو هیڅ پروا مه کوه، مطمئن اوسه چې د دوی د مخالفتونو، اذیتونو او استهزاء په وړاندې موږ درته کافي یو.
- دغو مشرکینو هم د مخکینیو مشرکینو او مقتسمینو په څېر له الله تعالی سره باطل او جعلي معبودان شریك کړي او د الله تعالی اختیارات ئې پر نورو وېشلي.
- له دوی سره به همغه معامله کېږي چې له مخکینیو سره وشوه، ډېر ژر به په دې حقیقت پوه شي.

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ﴿٩٩﴾

او یقیناً چې موږ په دې پوهېږو چې ستا سینه پر هغه څه تنګېږي چې دوی ئې وایي، نو د خپل رب له ستاینې سره (په تسبیح) لګیا اوسه؛ او تر هغه د خپل رب عبادت کوه چې یقین (مرګ) درته راشي.

(٩٧-٩٩)- په دې مبارکو آیتونو کې د څو سترو سترو لارښوونو شاهد یو:

- مشرکینو او مخالفینو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت او د ده د ذات په خلاف دومره شدید، ناروا او کرکجن تبلیغات کړي چې ډېر ځلې به د رسول الله صلی الله علیه و سلم سینه له ډېرو غمونو او اندېښنو تنګه شوه، دومره چې شکایت به ئې تر الله تعالی پورې ورسېد.
- په داسې سختو شېبو کې او د داسې شدیدو مخالفتونو او زهرجنو تبلیغاتو د زهرو له اغېز د خوندي پاته کېدو او د الله تعالی د مرستې او رعایت او عنایت تر لاسه کولو لپاره د دریو خبرو سپارښتنه ورته شوې:
- د خپل مهربان رب تسبیح او تحمید، خپل رب له هر عیب او نقص منزه او د ټولو ستاینو وړ ګڼل، په هرې پرېکړې ئې رضایت ښودل او د خېر طمع ترې درلودل، په دې باور ساتل چې د الله تعالی هره پرېکړه صحیح او عادلانه ده او د حقپالو په خیر او ګټه.

- ځمونږ او د الله تعالی په وړاندي خپل تندی پر زمکه ایښودل، خپلي اړیکي له الله تعالی سره ټینګي ساتل؛ او له دې لاري د خپل رب رعایت او عنایت تر لاسه کول.
- د ژوند تر پایه د الله تعالی د یوه مطیع، خاضع او خاشع عبد او بنده په څېر خپله دنده او مأمورت تر سره کول، دا اندېښنه نه کول چي ستا پر عمل او کړنو به څه نتائج مرتب شي، نتائج خپل رب ته حواله کړه، ته په ښه او سمه توګه د خپل مأموریت تر سره کولو هڅه کوه، ټول اهتمام دي باید دې لوري ته وي چي د ژوند په ټولو برخو کې او د ژوند تر پایه د یوه مطیع بنده په توګه عمل وکړې، د دې پروا مه کوه چي ستا کړني به څه نتیجه ورکړي، نه دا ستا دنده ده او نه ترې پوښتل کېږي.

عجیبه ده چي ځیني متصوفین د قرآن دا څرګنده او ځلانده لارښوونه غلطه تعبیروي او وایي: د (وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ) معنی دا ده چي د تصوف د لاري سالك تر هغه په عبادت مأمور دئ چي د یقین، شهود او وصل مقام ته ورسېږي، له هغه وروسته له عباداتو معاف دئ!! ډېر جاهلان د دغو ټګمارو دا غلطه او د قرآن خلاف خبره مني، خپل ټګمار مرشد له ځانځه، روژې او نورو عباداتو معاف ګڼي، دا په داسي حال کې چي له یوې خوا په دې آیت کې الله تعالی د تسبیح، تحمید او سجدې تر څنګ د عبادت یادونه په ځانګړې او مستقله توګه کوي او دا ښیي چي د عبادت مفهوم تر تسبیح، تحمید او ځمونځ عام او پراخ دئ، د انسان ټول ژوند احتواء کوي، معنی ئې دا ده چي په ټول ژوند او د ژوند په ټولو برخو کې باید د یوه عبد (مریي) په توګه عمل وکړو، له بلي خوا دې ته پام نه کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د ژوند په وروستیو کې تر لومړیو زیات د الله تعالی عبادت کاوو، په ټول مبارك ژوند کې ئې یوه شببه داسي نه ده راغلې چي له فرائضو او عباداتو ځان معاف وګڼي، تر نورو ئې هم تسبیح، تحمید، استغفار، تهجد، نوافل، روژه او نور عبادات زیات وو او هم د الله تعالی په لار کې جهاد.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# النحل

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم النحل دئ چي د سورې له ٦٨ آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکي یوازي نوم دئ، یو سل اته ویشت آیتونه لري، د سورې له مضامینو معلومېږي چي د مکي دور په هغو کلونو کې نازله شوې چي د مسلمانانو په ضد د قریشو ظلمونه انتهاء ته رسېدلي وو، له (٤١-٤٢) آیتونو معلومېږي چي دغه مهال د

حبشې په لوري ځينو مسلمانانو هجرت کړی. د آيتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: د اکثرو آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (يشرکون) ته ورته دي او د لږو ئې د اوم آيت (رحيم) ته ورته.

که تاسو د دې مبارکې سورې لومړي آيت ته ځير شئ نو درې مطالب به ستاسو په وړاندې جوت شي:

- د مسلمانانو او مشرکينو تر منځ د مجادلې او مناقشې ميدان ګرم وو.

- مشرکينو له رسول الله صلى الله عليه و سلم د عذاب راتلو غوښتنه کوله، په دې معنى چې که ته په رښتيا د الله تعالى رسول يې او واقعاً موږ د الهي عذاب مستحق يو، نو دا عذاب تر ننه ولې رانه غی او کله به راځي؟! يعني دوی د الهي عذاب په راتلو کې ځنډ د داسې دليل په توګه کارولو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې تکذيب کړي. دوی ته ويل شوي چې د عذاب پرېکړه شوې، په خپل ټاکلي وخت به راځي، تلوار مه کوئ.

- الله تعالى له هغه څه ډېر لوړ او منزه دئ چې مشرکين ئې د ده په اړه وايي او شريکان ورته منسوبوي.

د دې مبارکې سورې ټول محوري او اساسي مضامين همدا درې مطالب دي، ډېره برخه ئې هغه مضبوط او قانع کوونکي دلائل دي چې د شرك په رد او د توحيد په اثبات کې وړاندې شوي، دومره مضبوط چې هيڅ د عقل او ضمير خاوند ترې انکار نشي کولی، دې برخې پر ټولې سورې سيوری غوړولی، د سورې په پای کې مسلمانانو ته د مجادلې آداب ښودل شوي او لارښوونه ورته شوې چې د مخاطب د بلنې او د دعوت په کار کې او له مقابل لوري سره د مناقشو او بحثونو په دوران کې کوم څه وکړي او له څه ځان وساتي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١ يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ٢

د الله فرمان رارسېدلی نو په تلوار سره ئې مه غواړئ، هغه لره پاکي ده او له هغه څه لوړ دئ چې دوی ئې ورسره شريکوي. ملائکې د خپل فرمان له وحي سره په خپلو بندګانو کې هغه چا ته کوز لېږي چې دی ئې وغواړي، په دې توګه چې دا خبرداری

ورکړئ چي له ما پرته بل معبود نشته، نو له ما ووېرېږئ.

(۱-۲)- د دې مبارکو آیتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره باید لاندي خبري په پام کې ولرو:

- مخالفینو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مکرر ویلي چي که ته رښتینی پیغمبر یې او ستا دا ادعاء رښتینې وي چي موږ د الهي عذاب مستحق یو؛ نو دا عذاب چېري دئ او ولي تر اوسه نه راغی؟! په دې مبارك آیت کې دوی ته ویل شوي: د الله فرمان رارسېدلی، د عذاب پرېکړه صادره شوې، تلوار مه کوئ، دا عذاب په تلوار سره مه غواړئ، په خپل وخت به تحقق مومي.

- د دوی په اړه مزید ویل شوي: الله تعالی هم له هغو عیبونو منزه او پاك دئ چي دا کافران ئې ده ته منسوبوي او وعد او وعید ئې هسي او د حقیقت خلاف گواښ بولي او هم له هغو شریکانو چي دوی ئې له الله تعالی سره شریکوي. د دوی دا ادعاء غلطه او بې بنسټه ده چي وايي: که زموږ مذهب ناسم وی او الله تعالی ته د تقرب لپاره چي موږ کوم معبودان غوره کړي دا د الله تعالی خوښ نه وی او دا کار د الهي عذاب وړ وی نو تر اوسه به دا عذاب پر موږ نازل شوی وو!! د دوی د دغي غلطي انگېرني د تردید لپاره ویل شوي چي الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ دئ چي دوی ئې ورسره شریکوي.

- دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چي ملائکي کله او چا ته د خپل فرمان له وحي سره ولېږي، لېږل ئې د هیچا له غوښتني سره تړاو نه لري.

- دوی تل دا الهي پیغام له ځان سره وړی چي له ما پرته بل معبود نشته؛ او زما له عذاب او سرغړاوي ځان وساتئ.

- د دوهم آیت په دې فقره (بالروح من امره) کې یو خاص ترکیب تر سترگو کېږي چي د قرآن په ځینو نورو آیتونو کې هم کارول شوی، لکه دا آیتونه:

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ غافر: ۱۵

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾ الشوری:۵۲

باید وگورو چي دلته د روح معنی وحي ده، که جبرئیل، که ژوند، که په خپله د الله تعالی ذات؟ په تفسیرونو کې مختلف آراء گورو، تر ټولو غوره او دقیق تعبیر دا دئ چي

دلته د روح مراد وحي ده، د آيت معنى دا ده چې فرشتې د خپل امر او فرمان له وحي سره لاندې هغه چا ته لېږي چې دى ئې په خپله غواړي. د وحي لپاره د روح نوم د دې لپاره غوره شوى چې دا د غوره انساني ژوند لپاره د روح حيثيت لري، په دې سره انسان کولى شي د صالح او سم ژوند په لارو چارو پوه شي، د الانفال په سورې کې دې مطلب ته داسې اشاره شوې:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْۖ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ الانفال: ٢٤

اې مؤمنانو! کله چې الله او پيغمبر تاسو هغه څه ته بلې چې ژوند درپه برخه کوي، وئې منئ او په دې پوه شئ چې الله د سړي او د ده د زړه تر منځ حايل کېږي او دا چې د ده لوري ته به غونډ کړى شئ.

يعني د الله تعالى او د هغه پيغمبر بلنه ومنئ او په دې پوه شئ چې په دې بلنې کې ستاسو د ژوند او بقاء راز پروت دئ، په دنيا او آخرت کې غوره ژوند درپه برخه کوي.

---

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پيدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چې ورسره شريکوي ئې، انسان ئې له نطفې پيدا کړ او هغه ځرګند جګړمار شو.

---

(٣-٤)- دلته څو اساسي ټکي په پام کې ولرئ:

- الله تعالى آسمانونه او زمکه په سمه توګه او پر حق ولاړ پيدا کړي، د آسمانونو او زمکې هيڅ څه د باطل ملاتړ او تأييد نه کوي، په ټول عالم کې داسې څه نشته چې په خپله ناسم وي او د باطل ملاتړ وکړي.

- الله تعالى له دې ډېر لوړ دئ چې په خلقت، الوهيت، ربوبيت، مالکيت او حاکميت کې شريك ولري، د مشرکانو باورونه بې بنسټه او واهي دي او الله تعالى ته داسې څه منسوبوي چې د هغه د شأن او عظمت منافي دي.

- انسان ئې له نطفې پيدا کړى، خو همدا له وړې نطفې پيدا شوى انسان هغه مقام ته ورسېږي چې له ځان او خپلې رأيې د دفاع توان پيدا کړي او د خپلې مدعاء د اثبات لپاره استدلال کولى شي؛ او حتى دومره مغرور شي چې د الله تعالى او د هغه د حق دين په وړاندې د عناد او خصومت لار غوره کړي.

● د آسمانونو او زمکې له پیدایښت وروسته او متصل ئې د انسان پیدایښت ته اشاره کول ښیي چې دلته د انسان لومړني پیدایښت ته ګوته نیول شوې، نه اوسني او ورځني پیدایښت ته، یعني انسان ئې په لومړي سر کې له یوې نطفې پیدا کړی، نه هغسې لکه چې ځینې د محرف بایبل تر اغېز لاندې وايي: لومړی له خټې د انسان مجسمه جوړه شوې، بیا پر اور ایښودل شوې او پخه شوې او بیا روح په کې پو شوې!! حقیقت دا دئ چې الله تعالی انسان د پیدایښت په پیل کې داسې له نطفې پیدا کړی لکه نن چې ئې له نطفې پیدا کوي او په هغه کې ئې روح داسې پو کړې لکه نن چې په هغه کې روح پو کوي. د دې تفصیل د آل عمران، النساء، الاعراف او الحجر سورتونو په تفسیر کې وګورئ.

وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ۝٥ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ۝٦ وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ۝٧ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ۝٨

او څاروي ئې پیدا کړل چې په هغوی کې درته د تودوخې توکي دي او نوري ګټې او له ځینو ئې خواړه کوئ؛ او په هغوی کې تاسو ته ښکلا ده هغه مهال چې بېرته ئې راولئ او هغه مهال چې بهر ئې بیایئ؛ او ستاسو درانه بارونه تر داسې سیمو پر (خپلې) شا وړي چې وررسېدونکي نه یئ مګر د ځان په زحمت (کې اچولو) سره، یقیناً چې ستاسو رب مهربان رؤف دئ؛ او آسونه، کچرې او خره ئې پیدا کړل چې پرې سپاره شئ او د ښایست په توګه؛ او هغه څه پیدا کوي چې تاسو نه پرې پوهېږئ.

(۵-۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د څارویو د پیدایښت مقاصدو او هغو ګټو ته اشاره شوې چې انسان ترې برخمن کېږي، په دې توګه:

● الله تعالی دا څاروي ستاسو لپاره پیدا او مسخر کړي.

● ستاسو د تودوخي ډېر پوښاك او وسائل د دوی له وړيو او پوستکو دي، جامې، جورابې، بنیانونه، کوټونه، خولۍ، پکولونه، بوټونه، موزې، شړۍ، کړدۍ، ګېلمونه، غالۍ، لمخې او ډېر نور، له ځینو د کرنې په چارو کې کار اخلئ، یوې پرې کوئ او ارهټ پرې چلوئ؛ او ځینې درته خوندور خواړه درکوي، لکه شیدې، مستې، کوچ، پوڅه، غوښه، له ښکلا ئې خوند اخلئ، هغه مهال هم چې بېرته ئې خپلو کورونه ته روالئ او هغه مهال هم چې بهر ئې د څرېدو لپاره بیایئ، ستاسو درانه بارونه تر داسې سیمو پر خپلې شا وړي

چې تاسو ئې په خپله نشئ وړلی، مګر دا چې ځان په زحمت کې واچوئ. دا هر څه ستاسو د مهربان رب پېرزويني دي، يقيناً چې هغه ذات ډېر زړه سواند او مهربان دئ چې د انسان لپاره ئې دا نعمتونه پيدا کړي.

• آسونه، کچرې او خره ئې پيدا کړل چې پرې سپاره شئ، تاسو ته تابع او رام او سپرېدو ته مو چمتو؛ داسې ئې پيدا کړي چې له ښايست ئې خوند اخلئ، رنګونه ئې ښايسته، جوړښت ئې ښکلی او حرکات ئې په زړه پورې.

• ستاسو د سورلۍ لپاره ئې ډېر نور داسې شيان پيدا کړي چې لا تر اوسه ئې تاسو نه پېژنئ، ډېر نور داسې څاروي شته چې ستاسو په سيمې کې نه تر سترګو کېږي او تاسو نه دي ليدلي؛ همدا راز د داسې وسائلو جوړولو امکانات ئې په دې عالم کې ايښي چې ورو ورو به ئې جوړول زده کړئ؛ د سورلۍ او حمل و نقل ټول هغه وسائل په دې لړ کې راځي چې انسانانو تر نن پورې جوړ کړي او يا له دې وروسته به ئې جوړ کړي, د يٰس سورې په ۴۱-۴۴ آيتونو کې هم دې مطلب ته په دې توګه اشاره شوې:

وَءَايَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِۦ مَا يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾ يس: ۴۱-۴۴

او دا ورته يوه څرګنده نښه ده چې د دوی اولاد مو په ډکې کشتۍ کې سپاره کړل (د نوح عليه السلام د طوفان په مهال مو وژغورل)؛ او دې ته ورته مو ورته پيدا کړي چې پرې سپرېږي؛ او که وغواړو نو غرق به ئې کړو بيا به نه کوم چيغې اورېدونکی ورته وي او نه به وژغورل شي؛ مګر زموږ له لوري کومه پېرزوينه او تر يوې مودې برخمن کول.

دلته دوه لارښووني شوې: ۱- کشتۍ په لومړي ځل د نوح عليه السلام په لاس او د الله تعالی د وحي او لارښووني له مخې جوړه شوه او په دې سره ئې د نوح عليه السلام ملګري له هغه ستر طوفان وژغورل، ۲- الله تعالی انسان ته د کشتۍ په څېر د نورو داسې وسائلو جوړولو استعداد او توفيق ورکړی چې له يوه ځای بل ته د دوی تګ ممکن او آسان کړي. ټول هغه وسائل چې انسان تر نن پورې جوړ کړي او يا له دې وروسته به ئې جوړوي د دې آيتونو مظهر او مصداق ګڼل کېږي.

د آسونو، کچرو او خرو په ارتباط د دې خبرې وضاحت هم ضروري برېښي چې آيا د دوی غوښه حلاله ده که حرامه؟ قرآن دوی د څارويو په ضمن کې ياد کړي، د څارويو په څېر واښه او دانه خوري، د هغو ځناورو په ضمن کې د دوی يادونه نه ده شوې چې غوښه خوري، داړې او منګولې لري، په رواياتو کې له يوې خوا داسې روايات مومو چې د دوی د غوښې پر تحريم دلالت کوي او له بلې خوا داسې چې پر حلال والی ئې دلالت کوي؛ لکه دا

روايات:

عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ. (وَكُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ). رواه النسائى و ابن ماجه

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، وَرَخَّصَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ. رواه البخارى

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَطْعَمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لُحُومَ الْخَيْلِ وَنَهَانَا عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ. رواه مسلم

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ. مسلم

د ځينو صحابه وو په اړه ويل شوي چي د آس غوښه ئې خوړلې، لکه ابْنُ الزُّبَيْرِ، فَضَالَة بْنُ عُبَيْد، أَنَس بْنُ مَالِك، أَسْمَاءُ ابْنَةُ أَبِي بَكْر، سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَة او عَلْقَمَةُ او دا هم ويل شوي چي قريشو به د اهلي خرو غوښه خوړله: وَكَانَتْ قُرَيْشٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم تَذْبَحُهَا. خو د ابن عباس په اړه ويل شوي چي له دې ئې ډډه کوله.

دغو متعارضو رواياتو ته په پام سره ځينو فقهاءو د دريو واړو غوښه حرامه ګڼلې، هغه روايات ئې نه دي منلي چي آس ترې مستثنى کوي، امام ابوحنيفه رحمه الله همدا رأيه لري، ځينو آس ترې مستثنى کړى او غوښه ئې حلاله ګڼې، امام شافعي، امام محمد او امام ابويوسف رحمهم الله له دې ډلې دي. ځينو ويلي چي د خيبر د فتحي په ورځ د خره د غوښي له خوړو له دې کبله ممانعت وشو چي هغه مهال دا د سورلۍ او حمل او نقل مهمه وسيله وه؛ نه دا چي په دې اړه همدا مهال کومه وحي نازله شوې وي؛ داسي وحي په قرآن کي نه مومو.

---

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٩

او سيده لار پر الله ده؛ او ځيني ئې کږې دي او که ئې غوښتي وى نو تاسو ټول به ئې هدايت کړي وئ.

---

(۹)- د دې مبارك آيت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- بايد وګورو چي د آيت د لومړۍ فِقرې معنى څه ده؛ آيا معنى ئې دا ده چي الله تعالى انسان ته د سمي او مستقيمي لار ښودل په خپله ذمه اخيستي او دا ئې پر ځان لازمه کړې چي د دوى د لارښوونې لپاره به مناسب انتظامات کوي، د پيغمبرانو بعثت او د

دوی په لاس د وحي لېږل د همدې ذمې مظهر دئ؟ او که ئې معنی دا ده چې سمه او مستقیمه لار هغه ده چې د الله تعالی په لور درومي، پاته نوري لاري کږې دي؟ که څه هم ځینو درنو مفسرینو لومړۍ رأیه غوره ګڼلې خو حقیقت دا دئ چې دوهمه رأیه په ځو دلائلو غوره ده: ۱- دا تعبیر د آیت له الفاظو سره په بشپړه توګه اړ خ لګوي، په آیت کې داسې نه دي ویل شوي چې علی الله بیان قصد السبیل: د سمې لارې بیان د الله پر ذمه دئ، دا صحیح نه ده چې د قرآن په اصلي الفاظو کې لاسوهنه وکړو، د ژباړې او تعبیر په ترڅ کې څه پرې زیات یا څه ترې حذف کړو. ۲- د الحجر د سورې په یو ځلوېښتم آیت کې دې ته ورته الفاظ راغلي چې وایي: قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ٤: وئې ویل: همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقیمه لار ده، په دغو دواړو آیتونو کې یوه مطلب ته اشاره شوې او په دواړو کې (علی) په یوه معنی راغلی، دا صحیح نه ده چې یو ځای ئې یو ډول تعبیر کړو او بل ځای بل ډول. که د فقرې لومړۍ برخه داسې تعبیر شي چې سمه لار ښودل د الله پر ذمه ده نو ورپسې فقره (و منها جائر) ورسره اړخ نه لګوي، یوازې په هغه صورت کې ورسره اړخ لګوي چې په لومړۍ فقرې کې هم د لارې مواصفات بیان شوي وي، نو په بشپړ یقین سره ویلی شو چې دقیق تعبیر دا دئ: او سیده لار پر الله ده؛ او ځینې ئې کږې دي، یعنې مستقیمه لار هغه ده چې د الله تعالی پر لور درومي او مخامخ پر الله تعالی منتهي کېږي.

- که الله تعالی غوښتي وی نو ټول خلك به ئې دغې مستقیمې لارې ته هدایت کړي وو، خو دا د الله تعالی سنت نه دئ چې خلك په خپل قاهره قوت سره هدایت کړي او پر سمې لارې تللو ته ئې اړ کړي.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ
﴿١٠﴾ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾

او دی هغه ذات دئ چې له آسمان ئې اوبه نازلې کړې؛ چې یوه برخه ئې ستاسو څښاك او یوه برخه ئې وني او بوټي دي چې تاسو (څاروي په کې) څروئ، په همدې سره تاسو ته نباتات، زیتون، د خرما وني، انګور او د مېوو ډول ډول راشنه کوي؛ یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چې تفکر کوي.

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د مهربان رب د سترو سترو نعمتونو څو بېلګې زموږ مخې ته ایښودل شوې:

● له آسمان د اوبو ورېدا؛ اوبه په خپله تر ټولو ستر نعمت دئ چي د انسان، حيوان او نبات ژوند ورپوري تړلی دئ، له بره ئې ورېدا يوه بله الهي پېرزوينه ده؛ ځکه په همدې ورېدا سره ئې له يوې خوا په غرونو کې د هغې ذخيره کېدا او په ويالو، کاريزو او چينو کې ئې بهېدا ممکنه شوې او له بلې خوا زموږ د زمکې د فضاء د تصفيې او له ميکروبونو، لوخړو او تاواني ګازونو ئې پاکېدا تر سره کېږي؛ که دا نظام نه وی نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو.

● دا اوبه دي چي د څښاك تر څنګ زموږ د رزق او روزي ټول توکي ورپوري تړلي دي، هغه بوټي او ونې په همدې خړوبه کېږي چي موږ ته دانې او مېوې راکوي. په همدې سره نباتات، زيتون، د خرما ونې، انګور او د مېوو ډول ډول راشنه کېږي.

● څوك چي دې دقيق او پر حکمت ولاړ الهي نظام ته لږ ځير شي او د آسمان او زمکې تر منځ دې تنسيق ته پام وکړي، له بره د اوبو ورېدا او لاندي د ونو او بوټو زرغونېدا او د داسي دانو او مېوو پيدا کېدا چي انسان ته رزق او روزي شي او د هغوی د ژوند دوام تأمين کړي؛ که په دې اړه لږ غور وکړي نو يقيناً چي په دې ټولو کې به داسي څرګندي او ځلاندي نښې ومومي چي د رب العالمين لوري ته د ده لارښوونه وکړي او په دې ئې پوه کړي چي دا هر څه د هغه مهربان ذات پېرزويني دي چي دا عالم او د هغه هر څه ئې پيدا کړي او د ټولو پالنه کوي.

---

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿١٢﴾

او شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر او تابع کړل؛ او ستوري د ده په حکم مسخر او تابع دي؛ يقيناً چي په دې کې هغو وګړو ته ښکاره نښې دي چي تعقل کوي.

---

(١٢)- دا مبارك آيت د الله تعالی هغه پېرزويني زموږ مخې ته ږدي چي د آسمان په غېږ کې ځلېدي او زموږ سوکالي او زموږ د زمکې بقاء او دوام ورپوري تړلې دي، يو ئې موږ ته تودوخه او رڼا راکوي، زموږ ورځې روښانه کوي او د هر څه د ليدو او ښه پېژندو سبب ګرځي، بله ئې زموږ تيارې شپې روښانه کوي، يوه نه پرېږدي چي زمکه ډېره سړه شي او بله ئې نه پرېږدي چي ډېره توده او د انسان له زغم او تحمل لوړه شي؛ شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ په پر له پسې او منظمه توګه ځي راځي، د داسي دقيق او حکيمانه نظام مطابق چي که دا نه وی او يا معمولي تغيير په کې راشي نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه دئ. نه ګورئ چي دا ستر او پراخ آسمان له څومره ستورو ډك دئ، هر ستوری په خپل ځای کې

ساتل شوی، په خپل مسیر کې درومي، یو بل نه جذبوي، یو له بل سره ټکر نه کوي، که کوم یو د زړښت یا چاودنې له کبله له خپل مسیر منحرف شي له زمکې سره د تصادم مخه نیول کېږي، زمکه او فضاء ئې داسې جوړه شوې چې له داسې تصادماتو خوندي وي. آیا په دې دقیق الهي نظام کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې نه دي چې تعقل کوي؟!! مګر زموږ عقل دا حکم نه کوي چې دا منظم پراخ عالم د یوه ځواکمن مدبر ذات له لوري اداره کېږي؟!! آیا ممکنه ده چې د عقل خاوند به د عالم له دې دقیق نظم او د عالم د هر څه له هدفمنۍ؛ له دې پرته بله انتباه ولري؟!!

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥٓ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾

او هغه څه چې په زمکې کې ئې تاسو پیدا کړي؛ چې رنګونه او ډولونه ئې بېل بېل دي؛ بې شکه چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښه ده چې پند اخلي.

(۱۳)- دلته د الهي قدرت د نښو یوه بل مظهر ته اشاره شوې چې هغه د عالم د اشیاءو بېل بېل ډولونه او رنګونه دي، ته چې هر لوري ته مخ واړوې؛ ډول ډول شیان دې تر سترګو کېږي، هر یو ئې بېل بېل رنګ لري، په ځینو کې یوازې یو رنګ کارول شوی او په ځینو کې ډېر، هر رنګ په خپل خپل ځای کې ډېر ښکلی او زړه راښکونکی، هر رنګ په مناسبه توګه او په ډېر ظرافت سره کارول شوی، له خوا ته رنګ سره ئې مناسبت ډېر موزون او مناسب، داسې چې په ګډه ئې هغه شي ته په زړه پورې ښایست او ښکلی هیئت او انځور ورکړی، دومره چې که د نړۍ ټول ماهر او متخصص انځورګران راغونډ شي نو د یوه صحرایي ګل د یوې پاڼې په څېر رنګونه او انځورنه نه شي کولی. موږ په خپلو سترګو ګورو چې د مخلوقاتو د رنګ په غوراوي کې د ظرافت او لطافت کمال او انتهاء تر سترګو کېږي، هر څه ته ښایسته او ښکلی رنګ ورکړی شوی، په یوه شي کې د بېلو بېلو رنګونو تر منځ ډېر دقیق توازن او تعادل مراعات شوی، رنګونه په دومره دقت تر سره شوې چې په هغه کې معمولي تغییر د شیانو ښایست او ښکلا ته تاوان رسوي، په ګلانو، مرغانو، مېوو، بوټو، حیواناتو او انسانانو کې څومره ښایست ګورو، څنګه هر رنګ په خپل خپل ځای کې او له همځنګ رنګ سره په ډېره متوازنه توګه غوره شوی، له یوه رنګ بل ته تګ په تدریجي توګه تر سره شوی، د یوه ګل منځنی رنګ د پاڼو د سر له رنګ سره توپیر لري خو دا توپیر د ګل د منځنۍ برخې له پاخه او غلیظ رنګ؛ د پاڼو د سر تر خفیف رنګ پورې په تدریجي توګه بدل شوی او ګل ته ئې په مجموع کې زړه راښکونکی رنګ، بڼه او انځور ورکړی. د دې معنی دا ده چې د هر څه په ښایست کې ډېر دقیق تناسب، عمیق نظم، ژوره انځورنه او رنګونه مراعات شوې، د رنګونو انتخاب او مناسب رنګونه یو د بل خوا کې ایښودل ئې هم یو اهم عنصر دئ، که دا انتخاب او تناسب مراعات نشي ښایست له منځه ځي. دا رنګونه او انځورنه د چا کار دئ؟ آیا د نړۍ تر ټولو ماهر انځورګر کولی

شي د يوه گل د پاڼي په څېر انځورنه او رنگوَنه وکړي؟!! زموږ دا پراخ عالم د داسې ښکلو او ښايسته رنگونو او انځورنو مجموعه ده چې هر يو ئې د يوه او حساس انسان تعجُب او حيرت راپاروي. آيا کېدی شي سترگور انسان دا ځلانده ښکلا او ښايست او دا بې انتهاء رنگوَنې او انځورنې له پامه وغورځوي او هغه د تصادف نتيجه وگڼي؟!! په ټول عالم کې داسې رنگ او انځور نشئ موندلی چې په هغه کې د دقت، ظرافت، توازن او تعادل نښې له ورايه نه برېښي. يقيناً چې په دې کې د هغو سترگورو لپاره ځرگنده نښه ده چې د پند اخيستو استعداد ئې نه وي ځپل شوی او د ښايست پېژندو ملکه او له هغه د خوند اخيستو ذائقه ئې نه وي مړه شوې. که طبيعت ښايسته وي او په هغه کې د ښکلا بې شمېره مظاهر زموږ د ذهن زېږنده نه وي نو دا ښايست چا ورکړی؟ دا د طبيعت په پراخې لمنې کې، هر لوري ته او په هر گام کې د ښکلا او ښايست بې شمېره مظاهر د څه نښه گڼلی شو او موږ ته څه پيغام لري؟ که زه د يوه ښکلي ماشوم له تورو وېشتانو، سرو شونډو، ښکلو سترگو، وروځو او باڼوگانو، خندا، موسکا، غږ، لاس پښو خوځېدا دومره خوند اخلم چې زړه مې راتخنوي، ما هڅوي چې په غېږ کې ئې واخلم او پر مخ او تندي ئې ښکل کړم؛ دا هر څه ئې چا زړه راښکونکي پيدا کړي؟ دا انځورنه او رنگوَنه د چا د لاس هنر دئ؟ په ما او هر ليدونکي کې څه دي چې له دې رنگونو خوند اخلو؟ دا د ليدل شوي ځانگړتيا ده که زما د سليقې او مينې مقتضی؟ دی ښکلی دئ که ما ته ښکلی ښکاري؟ په ده کې داسې څه شته چې زما مينه راپاروي که زه په زړه کې داسې مينه لرم چې د خړوبولو لپاره ئې ده ته ورنژدې کېږم؟ آيا دا مينه دې ته ورته ده چې کله زه تږی وم نو له اوبو خوند اخلم خو که تږی نه وم همدا خوندورې اوبه راته بې خونده ښکاري؟!! که داسې نه وي، چې يقيناً داسې نه ده، نو د ده د ښکلا او زما د مينې تر منځ دا تناسق او تړاو څنگه رامنځته کېږي او چا رامنځته کړی؟ دا د نړۍ په هر څه کې زه د ښکلا مظاهر او نښې څنگه احساسوم او ما ته څه لارښوونه کوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چې ووايو: دا ډول ډول ښايسته او ښکلي مخلوقات په دې شهادت ورکوي چې دا عالم يو عليم او حکيم رب لري؟!

عجيبه ده چې څوک په دې عالم کې (ښکلا) او (ښايست) احساسولی شي، خوند ترې اخلي، ستاينه ئې کوي او مينه ورسره کوي؛ خو سره له دې له هغه ذات انکار کوي چې دا ښايست او ښکلا ئې په طبيعت کې پيدا کړې!! نه پوهېږو چې ستا "عقل" څنگه منې چې دا ټوله هستي، په دې کې بې شمېره ښکلي او ښايسته مخلوقات، په هرې برخې کې ئې د "علم"، "هنر"، "دقت" او "هدف والې" خورې نښې، له "عليم"، "قدير" او "حکيم" خالق پرته پيدا شوي؟! په يوه "مصنوع" او "جوړ شوي" شي کې د "علم" او پوهې نښې موږ دې ته اړ باسي چې ووايو: جوړوونکی ئې پوه دئ، د "دقيق" او "ظريف" انځورنې نښې موږ ته وايې: پيداکوونکی ئې ماهر رسام دئ، په ظرافت پوه دئ، که څه هم موږ نه د دې توکي "جوړوونکی" ليدلی او نه د دې ښکلي انځور "رسام"، فقط د ده په "جوړ کړي" شي کې مو

د ده د لاس آثار ليدلي؛ زموږ عقل له آثارو د خالق، صانع، رسام او مصور په شته والي باور كوي. آيا دا هري خوا ته تر سترګو كېدونكې ښكلا او ښايست، كمال او جمال، نظم او دقت، ډول ډول رنګونه او دا چې ګورئ هر څه داسې سم او ښكلى پيدا شوي چې د هغه په رنګ او جوړښت كې معمولي تغيير د هغه ښكلا او ښايست ته تاوان رسوي؛ آيا دا ټول په دې شهادت نه وركوي چې د دې عالمونو (رب)، (صانع) او (مصور او انځورګر) د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه او پاك ذات دئ؟!!

وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا۟ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى ٱلْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾

او دی همغه دئ چې بحر ئې درته مسخر كړ چې تازه غوښه ترې وخورئ او داسې ګاڼې ترې راوباسئ چې اغوندی ئې؛ او په هغه كې كشتۍ ګورې چې (وړاندې درومي په داسې حال كې چې) څېروونكې (د اوبو) دي؛ او دا د دې لپاره چې فضل ئې ولټوئ او د دې لپاره چې شكر وكړئ.

(١٤)- په دې مبارك آيت كې هغو الهي پېرزوينو ته د انسان توجه اړول شوې چې په سيندونو او بحرونو كې د انسان په برخه شوې، په دې توګه چې ويل شوي: الله تعالى همغه ذات دئ چې بحرونه ئې داسې درته مسخر كړي چې ډول ډول ګټې ترې اخلئ؛ ځيني ګټې ئې دا دي:

● د خوراك لپاره تازه غوښه ترې تر لاسه كوئ، چې په دې اړه دوه خبرې بايد په پام كې ولرو: ١- نن او د علمي څېړنو په ترڅ كې ثابته شوې چې سيندونه او سمندرونه انسان ته د خوراك او په ځانګړې توګه د غوښو وركولو ستره منبع ده؛ كه د زمكې ټول ژوي په شلو برخو ووېشو نو نولس ئې په اوبو كې او يوه برخه ئې په وچې كې ژوند كوي. ٢- دلته كب او د سيند ژوي د تازه غوښې په نامه ياد شوي؛ او په دې سره هغې پوښتنې ته ځواب ويل شوی چې وايي: په قرآن كې يوازې هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چې د ذبحې پر مهال ئې د الله تعالى نوم ياد شي؛ خو كب (ماهي) بې له ذبحې حلال دئ؛ آيا د دې استثناء وجه د قرآن كوم آيت دئ كه د پيغمبر عليه السلام كوم حديث؟ ځيني ادعاء كوي چې د دې استثناء لپاره په قرآن كې كوم شاهد نه مومو!! دا خبره هغه خلك كوي چې وايي: قرآن كافي نه دئ، ځيني احكام داسې دي چې منشأ ئې په قرآن كې نه مومو؛ دوی په همدې خبرې استناد كوي خو دې ته ئې پام نه دئ چې قرآن دلته كب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښې په نامه ياد كړی او دا ښيي چې ماهي د تازه او پاكې غوښې حكم لري؛ پيغمبر عليه

السلام ځکه ویلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ.

• له سیندونو داسي توکي تر لاسه کوئ چي د ګاڼو په توګه ترې استفاده کوئ؛ په دې بیان سره څو حقائق زموږ مخي ته څلېږي: ۱- له ګاڼو غالباً ښځي کار اخلي، خو دلته د ښځو یادونه نه ده شوې او دا ښیي چي د قرآن په هر عام خطاب کي دواړه (نارینه او ښځینه) شامل وي، مګر هغه مهال چي د یوه په اړه په ځانګړې توګه بحث کوي، دلته د مؤنث صیغه نه ده کارول شوې خو مقصد ترې ښځي دي. په یاایهاالذین آمنوا کي صیغه د نارینه وو ده خو دواړه مؤمنین او مؤمنات په کي مخاطب دي. ۲- په سیندونو او بحرونو کي نه یوازي مرغلري او مرجان موندل کېږي بلکي نوري قیمتي تیږي هم موندل کېږي. علمي تحقیقات ښیي چي قیمتي ډبري د زمکي په هغي ننۍ برخي کي جوړېږي چي د حرارت او فشار درجه ئې ډېره لوړه وي، دغه توکي د چاودنو او اورشیندو په وسیله د زمکي له زړه بهر راغورځېدلي؛ نو ځکه د غرونو په لوړو کي موندل کېږي، د غرونو له لوړو د نهرونو له لاري لاندي سیمو ته رارغړي. هغه مهال چي خلکو د کانونو د کیندلو پرمختللي وسائل نه درلودل نو دا قیمتي تیږي ئې په سیندونو کي لټول او موندل. یقیناً چي دا هم د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چي د قیمتي ډبرو یوه منبع ئې سیندونه ښودلي.

• الله تعالی په طبیعت کي داسي سنن ایښي او داسي توکي ئې پیدا کړي چي انسان کولی شي له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي؛ اوبه ئې داسي جوړي کړې چي ځیني توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسي کشتیو جوړولو استعداد او توفیق ورکړ چي د بحر اوبه څیري او مخکي درومي، له همدغو کشتیو په استفادې سره له یوې سیمي بلي ته ځي، تجارتي اموال وړي راوړي، په بحرونو کي د ماهیانو ښکار کوي. نن په دې یوه ویشتمي پېړۍ کي د انسان د انتقالاتو تر ټولو مهمه، ارزانه او خوندي ذریعه همدا کشتۍ دي. یقیناً چي په دې سره الله تعالی خپل ستر فضل د انسان په برخه کړی.

• الله تعالی دا نعمتونه د دې لپاره پر تاسو پېرزو کړي چي د خپل منعم رب شکر وکړئ؛ خو عجیبه ده چي تاسو د شکر پر ځای د کفر، عصیان او طغیان لار نیسئ!!

---

وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾
وَعَلَٰمَٰتٍ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او په زمکي کي ئې لنګرونه (غرونه) واچول چي تاسو ونه لړزوي؛ او نهرونه او داسي لاري چي (له یوې سیمي بلي ته) لار پیدا کړئ؛ او نښي؛ او په ستورو سره خو دوی لار مومي.

(١٥-١٦)- د دې مبارکو آيتونو په ژورو مطالبو د ښه پوهېدا لپاره دا خبري په پام کې ولرئ:

● دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (ألقى: واچول) صيغه کارول شوې؛ ولې د جوړولو او پيدا کولو پر ځای دا صيغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنگرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندي زمکه خوځېده؟ غرونو څنگه د هغې خوځښت له منځه يووړ؟ ولې نهرونه او لاري څنگ په څنگ ذکر شوې آيا د نهرونو او لارو تر منځ کوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.

● علمي څېړني ښيي چي غرونه د زمکي له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکي په زړه کې وي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راټوکېدل چي د زمکي بهرنی قشر سوړ او د ډبري په څېر کلك شو؛ خو نازك وو او د زمکي په سينه کې د متراکمي انرژۍ د فشار په وړاندي ئې مقاومت نه شو کولی او په پر له پسې توگه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلي مواد بهر شيندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل؛ اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ کې غرونه د جوړېدو په حال کې دي؛ خو په لږ پيمانه. دا ښيي چي د غرونو لپاره د (القى) صيغه کارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده کوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي. د زمکي پر سر د غرونو د جوړېدو څرنگوالی له دې سره شباهت لري چي څوك هگۍ په جوش اوبو کې کښېږدي، د هگۍ زېړ او سپين ورو ورو گرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هگۍ پوستکی وچوي، د هگۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي؛ غرونه د زمکي پر سر همداسي جوړ شوي.

● د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقيقت هم ثابت شوی چي زمکه د پيدايښت په لومړيو مراحلو کې او هغه مهال چي بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېړ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چي د زمکي بهرنی قشر مضبوط او دروند شي، بېلې بېلې ټوټې ئې سره وصل او ويلډينگ شي او د زلزلو مخه ونيول شي. دا داسي وگڼئ لکه چي د يخو اوبو پر سر د مات کنگل ټوټې له کوم لوی او دروند او ډېر سوړ کنگل سره ونښلي او په دې توگه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنگر نوم غوره کول په حقيقت کې دغه ستر علمي حقيقت ته اشاره کوي او يقيناً چي دا د قرآن يو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

● د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقائق هم ثابت شوي چي د زمکي د سر نهرونه د غرونو له کبله پيدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چي خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسير ډبري وسولېږي او خوړونه او درې په کې جوړ شي؛ او بيا په همدغو درو کې انسان ته له يوې سيمي بلې ته د تلو لاري پرانيستل شي. تاسو که دا نن د لويو غرونو په سيمو

کې تېرې شوو لارو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې ټولې لارې د نهرونو په ژۍ کې او په هغو درو کې تېرې شوې چې دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شك پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه، نهرونه او لارې ئې څنګ په څنګ ياد کړې.

● زمکه داسې جوړه شوې چې هرې خوا ته علائم او نښې زموږ مخې ته ځلېږي، د همدغو علائمو له مخې موږ د خپل سرمنزل لورى او د تګ سمت ټاکلى او پېژندلى شو، که دا علائم نه وى نو انسان ته به ګرانه او حتى محال وه چې له يوې سيمې بلې ته د سفر په دوران کې د خپل هدف لورى او د تګ مسير تعيين کړي او لار ترې غلطه نشي. کله د غرونو څوکې ورته نښه شي، کله نهر، کله وچ خوړ، کله ځنګل، کله يوه ستره ونه، په لويو بېدياوو، بحرونو او فضاء کې هم د دغو علائمو له مخې خپل مسير تعينوي، که دا د زمکې د سر نښې ئې له سترګو غائبې شي نو بيا د ستورو له مخې خپل لورى او سمت ټاکي او لار مومي؛ لکه دا چې د شمالي قطب په ستوري سره د شمال او غرب لورى داسې ټاکي چې ښۍ اوږه د دې ستوري لوري ته برابره کړي، همدا لوري ئې شمال شي او مخامخ ئې غرب.

---

**أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾**

نو آيا هغه چې پيدايښت کوي د هغه په څېر دئ چې څه نشي پيدا کولى؟ نو آيا پند نه اخلئ؟!! او که د الله پېرزويني وشمارئ نو شمېرنه به ئې بشپړه نه کړى شئ، يقيناً چې الله مهربان بخښونکى دئ.

---

(۱۷-۱۸)- دا مبارك آيتونه د مخکيني مبحث لپاره د يوې ښکلې او جامع تتمې او نتيجې په توګه څو لارښووني راته کوي:

● دا مخکيني نعمتونه د يوه حکيم او عليم خالق د قدرت او خلاقيت مظاهر دي، د دې عالم هر څه موږ ته په جګ غږ وايي چې ډېر پوه او قادر خالق لري، له ده پرته داسې څوك په ټول عالم کې نشئ موندلى چې د يوې وړې ذرې د پيدا کولو توان ولري، څنګه له هغه خالق انکار کوئ چې د عالم هر څه د هغه په شته والي او خلاقيت ګواهي ورکوي؟! ولې د مخلوقاتو لپاره داسې خالق لټوئ چې د پيدا کولو قدرت او توان نه لري؟ ولې هغه دروغجن معبودان مو له الله تعالى سره شريکوئ چې نه يوازې څه پيدا کولى نشي بلکې په خپله پيدا شوي؟!! ولې پند نه اخلئ او خپل خالق نه پېژنئ؟!

● د انسان په اړه د الله پېرزويني دومره زياتې او له شمېر وتلې دي چې که د هغوى د شمېرلو هڅه وکړئ هيڅکله به ئې شمېرنه بشپړه نه کړى شئ.

● خپل خالق رب ته راوګرځئ چې مهربان بخښونکی دئ، ستاسو له نا شکريو، ناسپاسيو، عصيانونو او ګناهونو سره سره رزق درکوي، د توبې دروازه ئې ستاسو په وړاندې پرانيستې پريښې.

وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ١٩ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ٢٠ أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٢١

او الله پر هغه څه هم پوهېږي چې پټوی ئې او پر هغه څه هم چې څرګندوی ئې؛ او هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) وربلې هيڅ څه نشي پيدا کولی او دوی په خپله پيدا کړی شوي؛ مړه او ناژوندي دي او په دې نه پوهېږي چې کله به راپاڅول شي.

(۱۹-۲۱)- په دې مبارکو آيتونو کې لاندې ستر ستر ارشادات ځلېږي:

● سره له دې چې الله تعالی ستاسو په ټولو پټو او ښکاره کړنو پوه دئ، نه مو څرګند بغاوتونه له هغه پټ دي او نه مو پټه ناشکري، بيا هم تاسو ته روزي درکوي او دا هر څه درته راپيدا کوي، له آسمان اوبه وروي او له زمکې دانه او مېوه درته پيدا کوي.

● مشرکان چې له الله تعالی پرته د کومو دروغجنو او جعلي معبودانو عبادت کوي او مرستې ترې غواړي؛ دا معبودان ئې نه يوازې هيڅ څه نشي پيدا کولی بلکې دوی په خپله پيدا کړی شوي، دوی يا داسې معبودان ګڼلي چې مړه دي او له مړو تېرو او لرګيو جوړ شوي، يا مړه شوي او اوس ژوندي نه دي. يعني ځينې ئې د مړو بتانو عبادت کوي او ځينې ئې په قبرونو کې د پرتو مړو، دا په داسې حال کې چې دا مړي له خپل مستقبل بې خبر دي، نه پوهېږي څه به ورسره کېږي؛ حتی په دې هم نه پوهېږي چې کله به له قبرونو بېرته راپاڅول کېږي، دا خو لرې پرېږده چې د بل له حالت او وضعيت خبر شي او مرسته ورسره وکړي.

● د آيت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې له دې دروغجنو معبودانو نه فرشتې مراد دي، نه شيطانان او نه له ډبرو او لرګيو جوړ شوي بتان؛ ځکه فرشتو او شيطان ته د مړو خطاب نشي کېدی؛ او د بتانو په اړه دا نشي ويل کېدی چې دوی نه پوهېږي کله به بيا راژوندي کېږي. له دغو فقط هغه معبودان مراد دي چې په قبرونو کې پراته دي، مړه شوي، پر قبرونو ئې دنګې دنګې ګنبدې او زيارتونه جوړ شوي او مشرکين ئې د معبود په څېر لمانځي، د قبرونو طواف ئې کوي، په درشل کې ئې دعاګانې کوي، مرستې ترې غواړي، شفيع ئې ګڼي، د حاجتونو پوره کولو او مشکلاتو حلولو طمع ترې لري.

إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم
مُّسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ ﴿٢٣﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾
لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ
أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

ستاسو اله یوازینی معبود دئ؛ نو هغه چي پر آخرت ایمان نه راوړي زړونه ئې منکر دي او دوی لويي غوښتونکي دي. یقیناً چي الله هرومرو پر هغه څه هم پوهېږي چي دوی ئې پټوي او په هغه څه هم چي دوی ئې څرګندوي، بې شکه چي الله لويي غوښتونکي نه خوښوي؛ او کله چي دوی ته وويل شي: ستاسو رب څه رالېږلي؟ وايي: د لومړنيو افسانې!! په دې سره به دوی د قیامت په ورځ هم خپل پېټي پر شا وړي او هم د هغو ځيني پېټي چي دوی په ناپوهۍ سره بې لاري کړي. خبردار چي بد دئ هغه څه چي دوی ئې پر شا وړي.

(۲۲-۲۵)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- پورتني حقائق هر چا ته دا مدعاء ثابتوي چي الله تعالی یوازینی معبود دئ او له ده پرته بل اله او معبود نشته.

- هغه څوك به د دې څرګند او ځلاند حقیقت په وړاندي د انکار دریځ خپلوي چي په آخرت ایمان راوړو ته چمتو نه وي، د تېرو ګناهونو بد اغېز او د نورو ګناهونه بده اراده ئې دې ته نه پرېږدي چي په آخرت باور وکړي، لويي غوښتونکي دا حقیقت نه مني او مغرور زړونه ئې د انکار پرېکړه کوي. الله تعالی د دوی پر ټولو پټو او څرګندو ګناهونو پوه دئ، ښه پوهېږي چي د دوی د انکار وجه دا نه ده چي قانع کوونکي دلائل ئې نه دي اورېدلي بلکي وجه ئې فقط دا ده چي د دوی پټ او څرګند ګناهونه په دې حقیقت د اعتراف مانع ګرځي، څوك چي کبرجن او په ګناهونو کي غرق وي؛ د ایمان توفیق ئې نه په برخه کېږي، دا ځکه چي الله تعالی کبرجن او لويي غوښتونکي نه خوښوي.

- د حق په وړاندي د دغو لويي غوښتونکو منکرينو چلن داسي دئ چي کله ورته وويل شي: ستاسو رب څه رالېږلي؟ وايي: د لومړنيو افسانې!! د قرآن په څېر باعظمته او له دلائلو او علمي اعجازونو ډك کتاب ته د اساطير الاولين په سترګه ګوري، چي د قرآن په دلائلو

څوك قانع نشي په بل څه به څنگه قانع شي؟ د گناهونو په گنده ډنډ كې د غرق شوو مستكبرينو برخليك دا دئ چې د قيامت په ورځ به په داسې حال كې د الله تعالی په وړاندې ودرېږي چې هم به ئې د خپلو گناهونو دروند پېټي پر شا وي او هم د هغو ځيني پېټي چې دوی په ناپوهۍ سره بې لارې كړي، د خپلو اتباعو د هغو گناهونو پېټي به هم پر دوی بار وي چې سبب ئې دوی او د دوی غلط تلقينات ول.

- بايد متوجه وو چې د دوی درونډ پېټی د بدو بدو گناهونو پېټی دئ، دغو گناهونو دوی نه پرېښودل چې پر الله تعالی او د آخرت پر ورځې ايمان راوړي.

---

قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَـٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ
ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ
ٱلْقِيَـٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تُشَـٰٓقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ
أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ إِنَّ ٱلْخِزْىَ ٱلْيَوْمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ
ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا۟ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍۭ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ
مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

يقيناً چې هغو هم پټ تدبيرونه وكړل چې تر دوی مخكې ول؛ او الله د دوی ماڼيو ته د بنسټونو له لورې ورغی؛ نو چتونه پر دوی د پاسه راپرېوتل؛ او عذاب له هغه لورې ورته راغی چې تصور ئې نه شو كولی. بيا به ئې د قيامت په ورځ سپك او رسوا كړي او (ورته) وبه وايي: زما هغه شريكان چېرې دي چې د هغوی په اړه مو شخړې كولې؟ هغه چې علم ئې په برخه شوی وبه وايي: بې شكه چې نن پر كافرانو سپكاوی او بد حالت (مسلط) دئ. هغه چې ملائكي ئې په داسې حال كې وفات كوي (روح ئې باسي) چې پر ځان ظلم كوونكي ول، نو سلام به اچوي (د تسليمۍ اعلان به كوي او وايي به) موږ هيڅ بد كار نه كولو! داسې نه ده بلكې الله په يقيني توگه پر هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو كول. نو د دوزخ په دروازو ورننوځئ؛ تلپاته په هغه كې؛ نو څومره بد دئ د تكبر كوونكو مېشت ځی!!

---

(٢٦-٢٩)- په دې مباركو آيتونو كې دا لارښوونې زموږ په وړاندې ايښودل شوې:

که ۲٦ آیت د مخکینیو او وروستنیو په رڼا کې وڅېړو نو راته جوته کېږي چې د منکرینو انکار په اصل کې د دوی له هغو تدبیرونو یو تدبیر وو چې د خپلې لویې د بقاء او دوام لپاره ئې کاوو، دوی د شرك سرداران ول، شرك ځپلې ټولنې او شرك لړلو افکارو او عقائدو ډېر امتیازات د دوی په لمن کې غورځول، د همدې لپاره ئې له الله تعالی او د قیامت له ورځې انکار کولو او قرآن ته ئې اساطیر الاولین ویل؛ نو ځکه دلته ورته ویل شوي: تر تاسو مخکې ډېرو دې ته ورته پټ تدبیرونه وکړل، الله تعالی د دوی تدبیرونه شنډ او د دوی د اقتدار ماڼۍ نسکورې کړې؛ داسې چې د زوال او نسکورېدا الهي پرېکړه د دوی له نظره پټه، د دوی د ماڼیو د بنسټونو لورې ته متوجه شوه؛ ماڼۍ ئې نسکورې او چتونه ئې د دوی د پاسه راپرېوتل؛ او الهي عذاب له هغه لورې ورته راغی چې دوی ئې تصور هم نه شو کولی. دلته ویل شوي: (فَأَتَى ٱللَّهُ بُنۡيَٰنَهُم مِّنَ ٱلۡقَوَاعِدِ: نو الله د دوی ماڼیو ته د بنسټونو له لورې ورغی)؛ په دې کې د الله تعالی په اړه داسې د اتیان او ورتګ لفظ راغلی چې په مجازي توګه کارول شوی، مقصد ئې دا دئ چې الله تعالی اراده وکړه د دوی ماڼۍ له بیخه ونړوي او چتونه ئې پرې رانسکور کړي، په داسې حال کې چې دوی غافل وې او په هغه څه نه پوهېږي چې د دوی د اقتدار ماڼۍ له بنسټه نړوي او بنیادونه ئې شړوي.

الله تعالی به د قیامت په ورځ دا متکبرین سپك او رسوا کړي او ورته وبه وایي: زما هغه شریکان چېرې دي چې د هغوی په اړه مو شخړې کولې؟! له دې آیت په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې انکار کوونکي متکبرین د شرك مدافعین او سرداران ول، نه عام او عادي خلك، د توحید په خلاف د جنګ مشرې او زعامت د دوی په لاس کې وو، دوی د پیغمبر علیه السلام په ضد د مخالفتونو او شخړو اور بل کړی وو. دوی ته به د قیامت په ورځ وویل شي: هغه جعلي معبودان مو چېرې دي چې دفاع مو ترې کوله؟

دوی به له ځواب ویلو عاجز وي، د دوی په ځای به د علم او ایمان خاوندان ووایي: بې شکه چې نن پر کافرانو سپکاوی او بد حالت مسلط دئ. هغه کافران چې ملائکې ئې په داسې حال کې روح ترې باسي چې پر ځان ظلم کوونکي ول، د ژوند تر پایه ئې پر خپل کفر او شرك ټینګار کړی؛ او په ظالمانه توګه ئې له حقائقو انکار کړی.

په دغه ورځ به له لویي او تکبر لوېدلي وي، د تسلیمۍ غاړه به ئې کږه کړې وي او په خوله به د تسلیمۍ اعلان کوي او وایي به: موږ هیڅ بد کار نه کولو!! لکه څنګه چې تر دې وړاندې ئې د قیامت له ورځې انکار کولو په هغه ورځ به له خپلو بدو کارونو انکار کوي؛ خو هغه انکار به هیڅ ګټه ورونه رسوي او ورته وبه ویل شي: انکار مو خوشې او بې ګټې دئ، دا ځکه چې الله تعالی په یقیني توګه په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو کول. نو اوس ستاسو هره ډله د دوزخ له اړوند یوې دروازې ورننوځئ؛ ستاسو تلپاتې هستوګنځی به همدا دوزخ وي.

د تکبر کوونکو او لویي غوښتونکو بد مېشت ځی دغه تلپاتې دوزخ دئ؛ څومره بد مېشت

ځی!!

وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ
ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ
يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ
ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ
ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٢﴾

او کله چې هغو ته وویل شي چې تقوی ئې کړې: ستاسو رب څه نازل کړي؟ وايي: یو خیر (له ښېګڼو ډك غوره پیغام)، هغو ته چې ښېګڼې کوي په دې دنیا کې ښېګڼه ده؛ او د آخرت کور خو ډېر غوره دئ؛ او څومره غوره دئ د دغو متقیانو هستوګنځی؛ داسې تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي، ترې لاندې ئې ویالې بهېږي، دوی ته به په هغوی کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي؛ الله دغو متقیانو ته په دې توګه بدله ورکوي. هغه چې ملائکې ئې په داسې حال کې روح قبضوي چې پاك دي، (ورته) وايي به: سلام پر تاسو، جنت ته ننوځئ د هغه څه له امله چې تاسو کول.

(۳۰-۳۲)- دلته د مخکینۍ ډلې په مقابل کې د متقیانو د ډلې حالت په دې توګه بیان شوی: کله چې له هغو خلکو د قرآن په اړه پوښتنه وشي چې له ګناهونو ئې ځان ساتلی؛ او ورته وویل شي: ستاسو رب څه نازل کړي؟ د دوی ځواب به دا وي: له خیر او ښېګڼو ډك غوره پیغام.

دا متقیان هغه دي چې نه یوازې له ګناهونو ئې ځان ساتنه کړې بلکې د خیر او ښېګڼې کارونه ئې کړي، د الله تعالی له لوري د دوی د ښېګڼو بدله ښېګڼې دي، هم په دې دنیا کې او هم په آخرت کې؛ او دا خو څرګنده ده چې د آخرت کور به ئې تر دې ډېر غوره وي، د متقیانو دا غوره هستوګنځی داسې تلپاته جنتونه دي چې دوی به ورننوځي، تر بنګلو او ونو لاندې به ئې ویالې بهېږي، په هغوی کې به د دوی لپاره هر هغه څه وي چې د دوی زړه ئې غواړي؛ د الله تعالی له لوري به دغو متقیانو ته الهي بدله داسې وي.

دا متقیان هغه دي چې ملائکې به د دوی روح په داسې حال کې قبضوي چې هر څه ئې پاك وي؛ تن ئې، روح ئې او اخلاق ئې، له بدو کارونو او ګناهونو ئې خپله لمن پاکه ساتلې، له حرامو ئې ډډه کړې، له ګنده افکارو ئې خپل زړه او دماغ پاك ساتلي، له بدو اخلاقو او ګنده عاداتو ئې اجتناب کړی.

د جنت په دروازو کې به فرشتې د دوی هر کلی کوي او ورته وايي به: سلام پر تاسو، جنت ته ننوځئ د هغه څه له امله چې تاسو کول.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٤﴾

آیا له دې پرته د بل څه انتظار نه کوي چې فرشتې ورشي یا د الله امر؟ هغو هم داسې وکړل چې تر دوی وړاندې ول؛ او الله پر دوی ظلم ونه کړ بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کاوو، نو د لاسته راوړنو بده پایله ئې په برخه شوه؛ او هغه عذاب پرې محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې.

(۳۳-۳٤)- اوس او له هغو ټولو دلائلو وروسته چې په دې سورې کې او د قرآن د نورو لارښوونو په ترڅ کې دوی ته ویل شوي؛ بل داسې دلیل پاته نه دئ چې د دوی د جهل او عناد سترګې ورپرانیزي او ایمان راوړو ته ئې چمتو کړي، له دې پرته د بل څه انتظار نه شي کولی چې یا فرشتې ورشي یا الهي عذاب سیوری پرې وغوړوي؛ د دوی سلف کافرانو هم دې ته ورته دریځ غوره کړ او د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت په وړاندې ئې همداسې چلن اختیار کړ، تر هغه ئې له مخالفت او دښمنۍ لاس وانه خیست چې الهي عذاب پرې نازل شو او له کرغېړن برخلیك سره مخامخ شول؛ د دې سترو عذابونو په نازلولو سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکې دوی پر خپل ځان ظلم وکړ، همغه څه ئې په برخه شول چې د دوی د کړنو عادلانه سزا وه؛ د بدو عملونو بده پایله؛ او همغه عذاب پرې نازل شو چې دوی به ملنډې پرې وهلې او هغه به ئې تش ګواښ او د حقیقت خلاف ګاڼو.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٥﴾

او هغو چې شرك ئې کړی وویل: که الله غوښتی نو نه به موږ له ده پرته د بل چا عبادت کړی وو او نه زموږ پلرونو؛ او نه به مو له ده پرته په خپل سر کوم شیء حرام کړی وو، تر دوی مخکینیو همداسې وکړل؛ نو آیا پر پیغمبرانو له ښکاره (پیغام)

رسولو پرته بله ذمه والې شته؟!

(۳۵)- د دې مبارك آيت لارښووني په دې توگه دي:
رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د قريشو مشركينو وويل: هغه مذهبي طريقه او كړنلاره چې موږ غوره كړې د الله تعالى د رضاء مطابق ده، كه الله تعالى پرې راضي نه وى او نه ئې غوښتى چې زموږ په څېر غوره قوم او د ابراهيم عليه السلام اولاد دا كړنلاره غوره كړي نو هرومرو به ئې زموږ مخنيوى كړى وو، نه به مو بتان لمانځلى شو او نه به مو كوم څه په خپل سر حرام گرځولي وو، ته هم وايې چې هيڅوك د الله تعالى د مشيت او غوښتني خلاف د څه كولو او ويلو توان نه لري؛ ستا د خبري معنى دا ده چې زموږ هر څه د الله تعالى د مرضي مطابق دي!!

د دوى په ځواب كې ويل شوي: ۱- ستاسو مخكينيو هم د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت په وړاندي دې ته ورته كړنلاره درلوده او همدا وينا ئې وكړه، كه دوى د دغي كړنلاري له كبله په الهي عذاب اخته شول نو ستاسو برخليك به هرو مرو دوى ته ورته وي. ۲- كه خبره داسي وى لكه چې تاسو ئې وايئ نو الله تعالى به پيغمبران عليهم السلام ولي له ځرگندوونكو الهي پيغامونو سره لېږل چې خلكو ته روښانه كړي څه حرام دي او څه حلال، په څه الله تعالى راضي كېږي او په څه ناراض، څه وكړئ او څه مه كوئ، بيا خو به ئې هر څوك خپلي مخي ته پرېښى وو، نه به ئې پيغمبران لېږل او نه عذابونه؛ آيا مخكينيو رسولانو له دې پرته بل كار كړى چې د الله تعالى مبين او د حق او باطل بيانوونكى پيغام تر خلكو ورسوي؟ آيا هغه خلك په الهي عذابونو اخته نه شول چې د الهي مبين پيغام او پيغمبرانو مخالفت ئې كړى؟

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦

او يقيناً چې په هر امت او ډلي كې مو يو پيغمبر مبعوث كړى (له دې پيغام سره چې) د الله عبادت وكړئ او له طاغوتانو ډډه وكړئ؛ نو د دوى ځيني داسي وو چې الله هدايت كړل او ځيني ئې هغه چې ضلالت پرې محقق شو؛ نو په ځمكې كې وگرځئ او وگورئ چې د تكذيب كوونكو پايله څنگه وه!!

(۳٦)- دا مبارك آيت د مخكيني شرح او تفصيل زموږ مخي ته ږدي او وايي: الله تعالى په هر امت او ولس كې يو پيغمبر مبعوث كړى، خپل خپل ولس ته د هر پيغمبر الهي پيغام دا

وو چې د الله عبادت وکړئ او له طاغوتانو ډډه وکړئ، د طاغوتانو له غلامۍ او بندګۍ
څخه آزاد کړئ. هر هغه څوك او هر هغه څه طاغوت دئ چې له الله تعالی پرته د هغه
عبادت کېږي، انسان د هغه په وړاندي سر ټيټوي، حکم ته ئې غاړه ږدي، د حاکم او
قاضي په توګه ئې مني او خپلې شخړې د حل و فصل لپاره هغه ته راجع کوي. د هر
پيغمبر له امت څينو ايمان راوړی، الهي لارښوونه، سعادت، فلاح او بريا ئې په برخه شوې
او له الهي عذابونو ژغورل شوي؛ او څيني ئې داسي چې د ضلالت لار ئې غوره کړې، د
الهي معيارونو له مخي لار ورکي ګڼل شوي او په الهي عذابونو اخته شوي. د تاريخ پاڼې
واړوئ، د مخکينيو امتونو برخليك ته ځير شئ، په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې تکذيب
کوونکي له کومو بدو پايلو سره مخامخ شوي او عاقبت ئې څومره تريخ او دردناك وو!!
وګورئ فرعون او فرعونيان له کوم برخليك سره مخامخ شوي او موسی عليه السلام او
مؤمن پلويان ئې څنګه ژغورل شوي او بريا ئې په برخه شوې، له نوح عليه السلام او
مؤمنو پلويانو سره الهي مرسته څنګه وه او د ده مکذبين په کوم برخليك اخته شول، د
تاريخ په هري پاڼې او د زمانې په هر موړ کې به دغه حقيقت ستاسو په وړاندي وځلېږي
چې د شرك او کفر څواکونو پايله تياره او سپېره ده.

إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٣٧﴾

که د دوی د لارښوونې حرص او تلوسه وکړې نو (پوه شه چې) يقيناً الله هغه څوك نه
هدايتوي چې بې لاري کوي ئې؛ او دوی هيڅ مرستندويان نه لري.

(۳۷)- دا مبارك آيت له يوې خوا د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه تنده او تلوسه په
ګوته کوي چې د خپل امت د هدايت او نجات په اړه ئې درلوده، زړه سوی او تلوسه ئې
دومره وه چې قرآن ئې د حرص په صيغه تمثيلوي؛ له بلې خوا د خلکو د لارښوونې په اړه د
الله تعالی ثابت او تغيير نه منونکی سنت زموږ مخي ته ږدي او وايي: الله تعالی هغه څوك
نه هدايتوي چې الله تعالی ئې د هدايت وړ ونه مومي او د هغه د بې لاري کېدو پرېکړه
کوي، دا هغه خلك دي چې نه يوازي په خپله د لارموندو تلوسه نه لري او هڅه نه کوي؛
بلکې له سمي لاري مخ اړوي او په کږو لارو درومي. نه الله تعالی دوی ته لارښوونه کوي
او نه بل څوك توانېدی شي چې دوی پر سمه لار تلو ته چمتو کړي؛ دوی هيڅ مرستندوی
نه لري.

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٨﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ

ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰذِبِينَ ﴿٣٩﴾

او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې الله به هيڅلکه هغه څوك راژوندى نه کړي چې مري!! داسي نه ده بلکې دا د الله پر ذمې يوه رښتينې وعده ده؛ خو ډېرى خلك نه پوهېږي. دا د دې لپاره ده چې دوى ته هغه څه څرگند کړي چې په هغه کې ئې اختلاف کاوو او د دې لپاره چې کافران وپوهېږي چې دوى دروغجن ول.

---

(٣٨-٣٩)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت د ورځي له راتلو د مشرکينو کلك انکار او د دوى په څواب کې څو مضبوطو دلائلو ته په دې توگه اشاره شوې:

● دوى د الله تعالى په نامه کلك کلك قسمونه کول چې الله تعالى به هيڅلکه هغه څوك بيا راژوندى نه کړي چې ومري!! د دې معنى يا دا ده چې بياژوندون ورته محال او ناممکن برېښېدو؛ او يا ئې معنى دا ده چې د دوى مذهبي مشرانو دوى ته په درواغو قسمونه خوړل او ويل ئې: الله تعالى هيڅکله نه دي ويلي چې زه به مړي بياراژوندي کوم، نه په مخکينيو کتابونو کې دا خبره شوې او نه مخکينيو پيغمبرانو دا خبره کړې!! خو د ٣٩ آيت له فحوى معلومېږي چې دا دوهم تعبير صحيح دئ؛ ځکه هلته ويل شوي: د دې لپاره چې کافران وپوهېږي دوى دروغجن ول؛ يعني دا يوه دروغجنه وينا وه چې غوښتل ئې عوام پرې وغولوي.

● د قيامت راوستل، له بندگانو سره محاسبه او د دوى مکافات او مجازات داسي مسئله ده چې الله تعالى پر خپلي ذمې اخيستې، دا له بندگانو سره د الله تعالى ژمنه ده، رښتينې ژمنه چې تحقق ئې حتمي دئ؛ خو ډېرى خلك نه پوهېږي، نه خپل رب پېژني او نه په دې پوهېږي چې د عادل مهربان رب له شأن سره همدا ښايي چې د قيامت ورځ راولي، کامل او بشپړ عدالت تأمين او هر چا ته د خپلو عملونو مناسبه بدله ورکړي. څنگه ومنو چې هغه مهربان رب به قيامت نه راولي چې رحمن دئ او پر خپلو بندگانو سخت مهربان، هغه مهربان رب چې د انسان په اړه د ده پېرزويني بې انتهاء دي، آيا منلى شو چې دا مهربان رب به د هغه مظلوم بنده پوښتنه نه کوي چې حق ئې تلف شوى، ظلم پرې شوى، په ناحقه وژل شوى، پر سر، مال او عزت ئې تېرى شوى؟!! دا انگېرنه نه د الله تعالى له پېرزوينو او مهربانيو سره اړخ لگوي او نه له عدالت سره، د دې لپاره هم د قيامت راتگ يو ضرورت دئ چې حقائق څرگند شي او په ټولو هغو قضاياوو کې عادلانه او پر حق ولاړه پرېکړه وشي چې خلکو په کې اختلاف کولو، چا د حق پلوي کوله او چا د باطل. د انسان د پيدايښت له ورځي دا لړۍ پيل شوې چې چا يوه څه ته حق ويلي او چا بل ته، چا يوه تگلاره سمه گڼلې او چا بله، چا دې عالم ته په يوه سترگه کتلي او چا په بله سترگه،

چا يو دين او مذهب د بريا او نجات وسيله گڼلې او چا بل دين او مذهب؛ د همدې اختلافاتو له کبله په انسانانو کې شخړې راولاړې شوې، جگړې رامنځته شوې او د ډېرو وينې توی شوې؛ له الهي عدالت سره دا ښايي چې د دغو شخړو او جگړو په اړه عادلانه پرېکړه وشي، حق او باطل، ظالم او مظلوم څرگند شي او مکافات او مجازات تر سره شي.

إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾

کله چې د يوه څه اراده وکړو نو زموږ وينا يوازې دا وي چې ورته وايو: وشه! نو (هغه له ځنډ پرته) وشي.

(٤٠)- دا مبارك آيت که له يوې خوا موږ ته وايي: د الله تعالی شأن داسي دئ چې کله د کوم کار د کولو او د کوم څه د پيدا کولو اراده وکړي نو يوازې د يوه امر په صادرولو سره هغه کار تر سره شي، يوازې دومره وايي چې وشه؛ نو هغه کار له ځنډ پرته تر سره کېږي؛ له بلې خوا په دې سره د هغو منکرينو ځواب وايي چې د قيامت راتگ او د مړو بيا راژوندي کېدا ورته محال او گران برېښي، د الله تعالی او د هغه د شأن په اړه د دوی غلطه انگېرنه د دې باعث شوې چې د ټولو انسانانو بياراژوندي کول، له هر يوه سره محاسبه او هر چا ته د خپلو تگلارو او کړنو مناسبه سزا او بدله ورکول ورته گران او ناممکن کار برېښي؛ دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی دا پراخ عالم څنگه پيدا کړی؛ ولې به هغه چا ته د انسان بيا پيدا کول گران وي چې انسان ئې په لومړي ځل له مړې خاورې پيدا کړ!!

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾

او هغو چې د الله په لار کې ئې له هغه وروسته هجرت کړی چې ظلم پرې شوی؛ هرومرو به ئې په دنيا کې په غوره توگه ځای پر ځای کړو او د آخرت اجر خو تر ټولو ستر دئ؛ کاش پوهېدی. همغه چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي.

(٤١-٤٢)- دا آيت د مخکينيو لپاره شرح او د مطالبو لپاره ئې يوه عملي او څرگنده بېلگه ده، هلته په عامه توگه ويل شوي چې الله تعالی به قيامت د دې لپاره راولي چې د خلگو د خپلمنځيو اختلافاتو په اړه وروستۍ عادلانه پرېکړه وکړي، دلته د همدغو اختلافاتو يوه عملي بېلگه وړاندې شوې؛ دا دئ گورئ چې پر ځينو ظلم وشي، د ظالمانو ظلم ئې هجرت او د خپل کور، کلي او پټي پرېښودو ته اړ کړي، آيا د عدل مقتضی او د عقل وينا دا نه ده چې د دغه مظلوم مهاجر پوښتنه وشي؟ آيا ستاسو زړه دا نه غواړي چې د هغه ظالم په

خلاف د دې مظلوم مهاجر مرسته وکړئ؟ که مو له وسه پوره وي نو آيا ستاسو زړه سوی او عدالت غوښتنه به تاسو دې ته ونه هڅوي چې هغه ظالم ته مناسبه سزا ورکړئ او دا مظلوم مهاجر په خپل کور کلي کې ځای پر ځای کړئ؟!! که تاسو دا کار کوئ نو هغه الله تعالی به ئې څنګه نه کوي چې ستاسو او ستاسو د ټولو عواطفو او مشاعرو خالق دئ او په تاسو کې ئې دا زړه سوی او عدالت غوښتنه ايښې ده؟ يقيناً چې هغه تر تاسو زيات مهربان او د عدالت پلوي دئ او هرومرو به دا مهاجرين ترخپل مخکيني ټاټوبي په لازيات غوره مېشت ځای کې مستقر کوي او که ئې د ځينو عواملو له کبله د دنيا نېکه بدله په برخه نه شوه نو قيامت ئې د همدې لپاره د محاسبې ورځ ټاکلې چې دوی ته خپله نېکه بدله ورکړي شي. ناپوه او بې عقله وګړي به له دې حقيقت انکار کوي.

دا الهي ژمنه له هغه مهاجر سره ده چې د حق په لار کې ئې صبر وکړ، په نيمي لار کې بې حوصلې نه شو، له سمې لارې يوه او بل لوري ته کوږ نه شو؛ او تر پايه پرخپل دريځ ټينګ پاته شو، هغه چې پر خپل رب توکل کوي، هر څه خپل رب ته حواله کوي، د ځان په اړه د هرې پرېکړې اختيار خپل رب ته سپاري او هره پرېکړه ئې په ورين تندي مني.

له دې مبارك آيت په وضوح سره معلومېږي چې دا مبارکه سوره د مکې دور په هغې مرحلې کې نازله شوې چې ځينو مؤمنانو د حبشې په لوري هجرت کړی. له مهاجرينو سره د الله تعالی دغه ژمنه تر سره شوه چې دوی ته په دنيا کې غوره مېشت ځی ورکوي، الله تعالی نه يوازې په حبشه او مدينه کې دوی ته پناه ځی برابر کړ بلکې مکه د دوی په لاس فتح شوه او همغه د پرون ورځې ظالمان دوی ته تسليم شول؛ او دا د قرآن يوه وړاندوينه وه چې تر سره شوه.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

او تر تا وړاندې مو نه دي لېږلي مګر هغه سړي چې وحې مو ورته کوله؛ نو که نه پوهېږئ اهل الذکر وپوښتئ. له څرګندو نښو او کتابونو سره؛ او تا ته مو دا ذکر او پند درلېږلی چې خلکو ته روښانه کړې چې څه ورته نازل شوي او د دې لپاره چې تفکر وکړي.

(٤٣-٤٤)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښوونې مومو:

- که څه هم خطاب رسول الله صلی الله عليه و سلم ته متوجه دئ خو په حقيقت کې دا

د مشرکينو د يوه اعتراض ځواب دئ؛ هغوی ويل چې الله تعالى ولې يو انسان او زموږ په څېر يو سړی د پيغمبر په توګه غوره کړی، څنګه ومنو چې دا د الله تعالى له لوري رالېږل شوی استازی دئ، د الله تعالى رسول او استازی خو بايد په هر څه کې له نورو توپير ولري. د دوی په ځواب کې ويل شوي: تر محمد عليه السلام مخکې ډېر پيغمبران لېږل شوي، ټول د نورو په څېر انسانان او سړي ول، له نورو ئې توپير يوازې په دې کې وو چې وحي مو ورته کوله، د څرګندو نښو او کتابونو حامل مو ګرځولي ول.

● که له دې حقيقت خبر نه يئ نو اهل الذکر وپوښتئ. د اهل الذکر مراد يا اهل تورات دي چې قرآن د ذکر په نامه هم نومولی او يا مراد تاريخ پوهان او له مخکينيو پېښو باخبر وګړي دي. ځکه د آيت په سر کې ويل شوي چې تر تا مخکې مو له سړيو پرته بل څوك (فرشته يا بل څه) د پيغمبر په توګه نه دي لېږلي، که په دې نه پوهېږئ نو اهل الذکر (له مخکينيو واقعاتو مطلع خلك) وپوښتئ. د اهل الذکر معنى په هيڅ توګه هغه نه ده چې ځيني مرضي او غرضي کړی ئې تعبيروي او د ذاکرينو او اوراد ويونکو په معنى ئې تعبيروي، هيڅ عاقل او د شفاف ذهن خاوند انسان به له دې اهل الذکر د ذاکرينو معنى وانه خلي؟!!

● په دې مبارك آيت کې د پيغمبر د بعثت موخه او دنده په دې توګه ښودل شوې: ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر د دې الهي تذکار او ذکر حامل ګرځول شوی يې، ستا دنده دا ده چې خلك په دې حقيقت پوه کړې چې د الله تعالى له لوري د لېږل شوو ارشاداتو حقيقي معنى او تفصيل څه دئ. يعني د پيغمبر وينا او عمل د الهي ارشاداتو عيني تجسم، تشريح او تفصيل دئ، الله تعالى ځکه خپل کتاب د يوه پيغمبر په لاس خلکو ته لېږي چې د کتاب د محتوى په اړه خلك بېل بېل تعبيرونه ونه کړي، د اصلي حامل په وينا او کړنو کې د هغه تعبير او تأويل ولټوي، د پيغمبر دنده دا ده چې الهي پيغام تر خلکو ورسوي او سم، صحيح او حقيقي تعبير ئې د هغوی په وړاندې کښېږدي او په دې توګه هم د الله تعالى د کتاب په اړه د شك هر مجال له منځه يوسي او هم د اختلاف عوامل او اسباب.

● د آيت په پای کې ويل شوي: د دې لپاره چې تفکر وکړي؛ بايد وګورو چې د دې معنى څه ده او ارتباط ئې له مخکينيو مطالبو سره څنګه دئ. تر دې وړاندې ويل شوي چې الهي کتابونه د پيغمبرانو په لاس لېږل شوي، رسول الله صلى الله عليه و سلم د مخکينيو رسولانو په څېر د الهي وحي حامل او شارح دئ؛ يعني الهي کتابونه حامل او شارح ايجابوي، د دوی له لاري د وحي شرح او تفصيل خلکو ته وړاندې کېږي؛ خو دا الهي کتابونه داسې دي چې د پيغمبر، حامل او شارح تر څنګ تفکر ايجابوي، هغه څوك پرې پوهېدی شي چې په مضامينو کې ئې غور او تفکر وکړي، د سطحي فکر خاوندان او هغه چې په مسائلو کې د غور او دقت استعداد نه لري؛ د دې الهي کتابونو د مطالبو په پراخو

ابعادو نشي پوهېدی، د کافرانو د انکار اصلي وجه دا ده چې هغوی د ړوند تعصب او تعنت لار غوره کړې، دا تعصب او تعنت ئې نه پرېږدي چې د قرآن په مطالبو کې غور وکړي او ایمان راوړي.

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾

نو آیا هغه چې بد بد مکرونه ئې کارولي له دې ئې ځان خوندي کړی چې الله ئې په زمکې کې ښخ کړي یا په داسې توګه عذاب پرې راشي چې تصور ئې نشي کولی، یا ئې د تګ راتګ په دوران کې ونیسي په داسې توګه چې برلاسي کېدونکي نه وي، یا ئې پر وېرولو سربېره ونیسي؟ نو بې شکه چې ستاسو رب مهربان رؤف دئ.

(۴۵-۴۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغو مخالفینو او معارضینو په اړه چې د حق خلاف او له باطل د دفاع په موخه ناروا او ناوړه تدبیرونه کاروي، له هیڅ بد، پلیت او کرکجن تدبیر او له هیڅ جرم او جنایت ډډه نه کوي؛ ویل شوي: آیا دوی داسې انګېري چې د الله تعالی له مؤاخذې خوندي دي؟ کوم تضمین ئې تر لاسه کړی؟ آیا دا ګمان نه کوي چې الله تعالی کولی شي دوی په زمکې کې ښخ کړي؟ که الله تعالی دا پرېکړه وکړي نو څوك به ئې مخنیوي وکړي؟ آیا کوم تضمین لري چې که الهي عذاب له داسې لوري او په داسې توګه پرې راشي چې دوی ئې تصور هم نشي کولی؛ د دوی کوم تدبیر به د داسې عذاب مخه ونیسي یا به ئې ترې وژغوري؟ دا ضمانت چا ورکړی چې الهي عذاب به په داسې حال کې پر دوی سیوری نه غوړوي چې د ورځني ژوند په چارو کې بوخت او په ښارونو کې دتګ راتګ په حال کې وي؟ او که دا عذاب راشي نو دوی به ئې مخه ونیسي او پر خپلې ځان ژغورنې به برلاسي شي؟ آیا داسې انګېري چې الله تعالی به ئې داسې نه نیسي چې لومړی ئې ووېروي او بیا عذاب پرې نازل کړي؟ مګر خبر نه دي چې الله تعالی له ډېرو سره داسې معامله کړې چې لومړی ئې تنبیه کړي، د عذاب نښې ئې له لرې ورښودلې او په مهلك عذاب ئې هغه مهال اخته کړي چې تنبیهاتو ګټه نه ده وررسولې. الله تعالی دا هر څه کولی شي خو د دې لپاره خپلو بندګانو ته مهلت ورکوي او ژر ئې نه نیسي چې مهربان رؤف دئ.

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ

سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ۩ ﴿٥٠﴾

آيا هر هغه څه ته ئې نه دي کتلي چې الله پيدا کړي، هغه چې سيوري ئې الله ته د سجدې په توګه له ښي او کيڼ لوري راتاوېږي، په داسي حال کې چې دوی الله ته انقياد کوونکي وي. او الله ته هم د آسمانونو او زمکې هر څه سجده کوي، که دا کوم خوځېدونکی وي او يا فرشتې؛ په داسي حال کې چې دوی تکبر نه کوي، له خپل رب چې ترې بر دئ وېرېږي او همغه څه کوي چې پرې ګمارل کېږي.

(٤٨-٥٠)- دلته يو ځل بيا د کافرانو پام دې خبري ته رااړول شوی چې د عالم هر څه، د آسمانونو او زمکې ټول مخلوقات، که دا جمادات دي، يا ژوي يا فرشتې؛ الله تعالی ته منقاد دي او همغه څه کوي چې الله تعالی پرې ګمارلي، دوی هم او سيوري ئې هم؛ په دې ټول پراخ عالم کې يوازينی مخلوق چې د خپل رب په وړاندي ئې د عصيان او بغاوت لار خپله کړې هغه کافر او مشرك انسان دئ چې پر الله او آخرت ايمان نه لري او د پيغمبرانو مخالفت کوي!! آيا دوی د دې عالم په هر لوري کې خورو شيانو ته پام نه دئ کړی؟ هغه چې سيوري ئې له الهي سننو سره سم او په منظمه توګه ښي او کيڼ لوري ته تاوېږي، په هر څه کې د خپل رب حکم ته تابع، نه په خپلي دندي کې اهمال کوي، نه خپل مسير بدلوي، نه د خپل فطرت خلاف ګام اخلي، نه عصيان او بغاوت کوي او نه کبر او لويي؛ په داسي حال کې چې هيڅ ګناه نه کوي خو سره له دې د الله تعالی عظمت او خپل قصور ته په پام سره وېرېږي!! آيا عجيبه نه ده چې تاسو د ټول عالم خلاف لار غوره کړې او په داسي حال کې له خپل رب وېره نه لرئ چې په ګناهونو کې غرق يئ؟!!

د عالم د ټولو شيانو او د دوی د سيوري د سجدې په اړه د الرعد د سورې د ۱۵ آيت په تفسير کې تفصيلي بحث شوی، هيله ده هلته مراجعه وکړئ.

وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيْنِ ٱثْنَيْنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَإِيَّٰيَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

او الله وفرمايل: دوه ګوني معبودان مه نيسئ، حقيقت دا دئ چې دی يوازينی معبود دئ؛ نو يوازي له ما ووېرېږئ؛ او څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د ده دي؛ او دا (په ټول عالم کې) ساري او جاري دين د ده دئ؛ نو آيا له الله پرته له بل چا وېرېږئ؟

(۵۱-۵۲)- د دې مبارکو آيتونو څلانده لارښوونکي ارشادات دا دي:

● د الله تعالی وينا دا ده چي شرك مه کوئ، له ما پرته بل معبود مه نيسئ، له ما پرته بل معبود نشته، ستاسو طمع او وېره دي يوازي له ما وي.

● د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی دي، د عالم هيڅ څه د بل چا په واك کي نه دي، هر څه له هغه وغواړئ، بل درشل ته لاس مه اوږدوئ، د بل په واك کي داسي څه نشته چي تاسو ته ئې درکړي.

● د دې عالم په پراخي غېږ کي پر هر څه او هر لوري د الله دين حاکم دئ، د عالم هر څه د همغو الهي سننو او ضوابطو مطابق عمل کوي چي د الله تعالی له لوري وضع شوي، هر څه الهي دين ته خاضع او خاشع دي، هر چا ته د دغه دين مطابق سزا او جزاء ورکول کېږي؛ نو په کار ده چي له الله تعالی پرته له بل چا وېره ونه لرئ.

---

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَـٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوا۟ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ ۗ تَٱللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾

او د نعمتونو کوم څه چي ستاسو په برخه شوي نو د الله له لوري دي، بيا چي کله کوم کړاو دروړسېږي نو ده ته زارۍ کوئ، بيا چي کله دا کړاو در دفع کړي ناڅاپه ستاسو يوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي؛ د دې لپاره چي د هغه څه ناسپاسي وکړي چي موږ ورکړي؛ نو برخمن شئ؛ ژر به پوه شئ. او له هغه څه چي موږ ورروزي کړي يوه برخه داسي چا ته ټاکي چي نه ئې پېژني! قسم پر الله چي هرومرو به د هغه څه په اړه وپوښتی شئ چي افتراء کول مو (په دروغو مو له ځانه جوړول).

---

(۵۳-۵۶)- دلته د شرك او توحيد په اړه ډېر جامع او ښکلی بحث شوی چي اساسي او مهم ټکي ئې دا دي:

● کوم نعمتونه چي ستاسو په برخه شوي؛ ټول ستاسو د رب او حقيقي منعم له لوري دي، په ورکړي کي ئې د بل چا اراده دخيله نه ده.

● کله چي کوم کړاو دروړسېږي نو له هر چا مخ واړوئ او يوازي الله تعالی ته زارۍ

کوئ.

- خو کله چې الله تعالی دا کړاو در دفع کړي، د دې پر ځای چې د دغې الهي پېرزوینې مننه وکړئ ناڅاپه ستاسو یوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي، د کړاو دفع کېدا بل چا او بل څه ته منسوبوي، کله خپل تدبیر ته، کله د کوم واکمن او ځواکمن رعایت او عنایت ته، کله د کوم پیر، فقیر، قبر او زیارت نظر ته.

- د دې فقرې ﴿لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ﴾: د دې لپاره چې د هغه څه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي؛ دوه تعبیرونه کېدی شي: یا دا چې د شرك طبیعي پایله دا راوخېژي چې دوی د الهي نعمت ناسپاسي وکړي او د خپل منعم احسان هېر کړي. یا دا چې دوی د دې لپاره ناسپاسي کوي او اصلي منعم هېروي چې په خپلو شتمنیو او نعمتونو کې په خلاص لاس او له کوم قید او شرط پرته همغسې تصرف وکړي چې د دوی زړه ئې غواړي، که دا د الله تعالی له لوري او د هغه پېرزوینه وګڼي نو بیا خو به ناچار د تصرف په وخت کې محتاط وي او د منعم خوښې او رضاء ته به ګوري. له وروستې فقرې معلومېږي چې همدا دوهم تعبیر دقیق او صحیح دئ ځکه دوی ته ویل شوي: ځئ له دغو نعمتونو همغسې برخمن شئ چې ستاسو زړه ئې غواړي، خو په دې پوه شئ چې عمر ئې لنډ دئ، ژر به پوه شئ چې د دې ناسپاسۍ پایله او سزا به څه وي.

- دا مشرکان له هغه څه چې موږ ورروزي کړي یوه برخه ئې د داسې چا په نامه مختص کړي او د هغوی په نامه نذرانې او شکرانې ورکوي چې په ناپوهۍ کې ئې له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کې شریکوي، په دې نه پوهېږي چې دا جعلي معبودان په هیڅ څه کې د الله تعالی شریکان نه دي.

- الله تعالی په خپل ذات لوړه کوي او دوی ته وایي: هرومرو به د هغه څه په اړه وپوښتی شئ چې په دروغو مو له ځانه جوړول، ستاسو دروغجن معبودان هم ستاسو د واهمو زېږنده وو او د دوی په اړه ستاسو عقائد او باورونه هم له ځانه جوړ شوي درواغ او د حقیقت خلاف خبري.

---

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم
بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا
بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾

او الله ته لوڼې ټاکي؛ په داسې حال کې چې ده ته (له دې عیب) پاکي ده؛ او دوی ته هغه څه دي چې زړه ئې غواړي؛ او چې کله ئې کوم یوه ته د نجلۍ (د زېږېدو)

زيرى وركړى شي نو مخ ئې تك تور شي؛ په داسي حال كې چې غمونه به زغمي؛ د دې بد زېرې له كبله له قوم پټېږي (او له ځان سره وايي:) آيا په سپكاوي سره ئې وساتي او كه ئې تر خاورو لاندي كړي!! څومره بده ده هغه پرېكړه چې دوى ئې كوي!!

(۵۷-۵۹)- دلته د مشركينو هغو خرافي او د انساني فطرت او عقل خلاف كړنو او عقائدو ته اشاره شوې چې شرك پرې اخته كړي:

● الله تعالى ته ئې د لوڼو نسبت كړى، فرشتې د الله لوڼي بولي، همدا راز د ښځو په نامه ئې ګڼ شمېر داسي بتان جوړ كړي چې د الله تعالى تر څنګ ئې لمانځي او داسي ئې ګڼي لكه د الله تعالى ځاى ناستي لوڼي؛ او دا په داسي حال كې چې ځان ته لوڼي نه خوښوي، زړه ئې نه غواړي چې د لوڼو خاوند شي او ځاى ناستي ئې لوڼي وي، زامن خوښوي، د دوى حال داسي دئ چې په خپلي كورنۍ كې د لور زېږېدا د پېغور خبره ګڼي، د كورنۍ مشر په دې خبري د خجالت او شرم احساس كوي چې په كورنۍ كې ئې لور زېږېدلې وي، د چا په كور كې چې به لور پيدا شوه نو له سيالانو سره به په لوړ سر نه شو مخامخ كېدى او په جګو سترګو به ئې هغوى ته نه شو كتلى، د مظلومي نجلۍ برخليك به يا په ذلت او سپكاوي كې ژوند وو او يا ژوندۍ تر خاورو لاندي كېدا، دواړه ئې مرګ، يو ئې تدريجي مرګ او بل ئې فوري او ناڅاپي. احتمالاً چې قرآن په دې آيت (باي ذنب قتلت: په كومي ګناه وژل شوې) سره دغو دواړو مرګونو ته ګوته نيولې.

● د جاهلي نظام پر ماهيت د ښه پوهېدا لپاره د دغي يوې بېلګي وړاندي كول كافي دي، بې ګناه او معصومي نجوني به ئې فقط د دې لپاره ژوندۍ په خاورو كې ښخي كړې چې ولي نجلۍ پيدا شوې، چې سبا به د بل ښځه وي او دا ئې د پلار لپاره يو پېغور وو؛ چې په جګړو كې به په اسارت نيول كېږي او د كورنۍ سر به پرې ټيټ وي؛ چې په جګړو كې ئې ساتنه او حفاظت د كورنۍ د غاړي پېټى؛ ولي هغه يو هلك نه دئ پيدا شوى چې مضبوطي متې ئې وى، جنګيالى او توريالى؛ چې هم له خپل ځان، هم له كورنۍ او هم له قوم دفاع كولى شي!! د دې پيدايښت به ئې ځان ته عار او ننګ ګاڼو، كله چې به په كورنۍ كې د لور د زېږېدا خبر وركړى شو نو تندى به ئې ګونځي ګونځي شو، غم او غصه به ئې په څېرې كې راڅرګنده شوه، د شرم او سپكاوي احساس به ئې كاوو، چا ته به ئې په جګو سترګو نه شو كتلى!! په پورتني آيت كې قرآن د دوى دا حالت څومره ښكلى او دقيق انځور كړى!! عجيبه ده!! جهل، په خرافاتو باور او د غلط مذهب او عقيدې په اړه ړوند تعصب انسان كوم ځاى ته ورسوي، څومره ئې بې رحمه او بې عاطفې كړي، تر وحشي ځناور ورواوړي، خپله لور وژني!! دا ځكه چې د لور پيدايښت ئې د ننګ او پيغور خبره ګڼله، دا خو لا څه كوئ چې همدا د ننګ او پيغور خبره به ئې الله تعالى ته منسوبوله او د ښځو په بڼي كې به ئې ځان ته معبودان جوړول!!!

● د نجونو د ژوندۍ ښخولو تفصيل د التكوير د سورې د ۸-۹ آيتونو په تفسير كې وګورئ. خو دلته دومره ويل ضروري ګڼو چې نن او په دې يوه ويشتمه پېړۍ كې ډېر خلك له نجونو سره همغه څه كوي چې څوارلس پېړۍ مخكې د هغه جاهليت په دوران كې ورسره كېدل چې اسلام ئې ټغر ورټول كړ او ښځې ئې نه يوازې له دې ستر ظلم وژغورلې بلكې هغوى ته ئې په ډېرو برخو كې تر نارينه زيات حقوق او امتيازات وركړل. نن هم نجونې پلورل كېږي، پلار مور ئې د دې له خوښې او موافقې پرته ودوي، ولور پرې اخلي، په بدل كې ئې وركوي، د تعليم، مَهر او ميراث له حقونو محرومې دي، جومات او مدرسې ته ئې پر تګ بنديز لګول كېږي، شاقه شاقه او د دوى له وس او توان لوړو لوړو كارونو ته اړ كېږي، دومره كارونه ئې پر غاړه وي لكه د قريشو د وينزو. په غرب كې كله د خپل عفت پلورلو ته اړ كېږي او كله ئې پلورلو ته هڅول كېږي، په چين او هند كې د لور د زېږېدو مخنيوى كېږي، كله چې پلار او مور پوه شي چې مور په خپل رحم كې لور لري نو د سقط او ماشوم ضائع كولو دوا اخلي، په هند كې د دې لپاره دا كار كوي چې د لور ودول د نجنۍ له مور او پلار؛ د جهيز په نامه داسې ملاماتوونكې مصارف ايجابوي چې دوى ئې اكثراً له پوره كولو عاجز وي او په دې توګه لور د مېړه له پيدا كولو محرومه او د ژوند تر پايه ئې لګښتونه د پلار پر غاړه وي؛ او په چين كې د دې لپاره چې دولت هرې ښځې او مېړه ته يوازې د دوو ماشومان د درلودو حق وركوي، درېيم نشي زېږولى، نو كله چې مور او پلار پوه شي چې دوهم ئې هم لور ده نو هغه سقط كوي!! د قرآن له نظره دا دومره ستر جرم دئ چې د قيامت د ورځې د هيبتناكو او وېروونكو صحنو له انځورولو، د ټولو خلكو له راژوندي كېدو او په ډلو ډلو كې له راغونډېدو وروسته؛ تر ټولو د مظلوم انسان، د هغې نجلۍ د محاكمې جريان انځوروي چې له كومې ګناه او جرم پرته، په ډېره بې رحمۍ او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندې ښخه شوې؛ وايي: الهي محاسبه به لومړى او په سر كې په دې پيل شي چې د مظلومانو پوښتنه به كېږي، خو په دغو مظلومانو كې به تر هر چا وړاندې (ژوندۍ ښخه شوې) راوړاندې كړى شي، د قيامت د ورځې محاسبه به له دې ځاى پيل شي، د دې صحنې د تمثيل الفاظ او د بيان څرنګوالى داسې دئ چې د صحنې هيبت او رعب او د هغې ورځې د عادل قاضي قهر او غضب څرګندوي. د دې صحنې د هيبت ستروالى هغه وخت لازياتېږي او پر ليدونكې لازيات رعب او وېره مسلطوي چې دا صحنه د لمر او ستورو د تياره كېدو، د غرونو د خوځېدو او ... او نورو سترو سترو حوادثو په ضمن كې ګوري.

● له ښځو سره ظالمانه او له تبعيض او سپكاوي ډك چلن، د دوى انساني حقوق تر پښو لاندې كول او هغه له دې محرومول چې په ټولني كې خپل انساني مقام ولري، خپل حيثيت تر لاسه او خپله دنده تر سره كړي؛ دا د ښځې له ژوندۍ ښخولو سره مترادف كار دئ، دا ځكه چې له هغې سره د يوه ژوندي او شريف انسان په څېر معامله نه كېږي،

استعدادونه ئې ځپل کېږي، د خپلو وړتياوو د تجلي مجال نه شي تر لاسه کولی او د يوه مړي او د نورو د غاړي د ښتې په څېر ګڼل کېږي.

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾

بد صفت خو له هغو سره وړ دئ چي په آخرت ايمان نه راوړي؛ او د الله لوړ لوړ صفتونه دي؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ.

(٦٠)- دا آيت ښيي چي د آخرت د منکرينو دا بد بد خصلتونه د هغي غلطي عقيدې له کبله ول چي په آخرت له عدم ايمان څرګنېده، همدغي خرافي عقيدې دوی هغه پړاو ته رسولي ول چي يا له الله تعالی انکار وکړي او يا هغه ته ناوړه صفات منسوب کړي، په داسي حال کي چي الله تعالی په لوړو لوړو صفتونو متصف او باحکمت عزتمن دئ.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَـٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

او که الله خلك د دوی د ظلم په سبب نيولی نو پر (زمکي) به ئې هيڅ خزنده نه وو پرېښی؛ خو تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي؛ نو کله چي د دوی اجل راورسېږي نه يوه ګړۍ وروسته کېدی شي او نه وړاندي کېدی.

(٦١)- دا هم د کافرانو د هغه اعتراض ځواب دئ چي د الهي عذاب په راتګ کي د ځنډ په اړه ئې درلود او د هغه په اړه الهي وعيدونه ئې هسي ګواښونه بلل؛ خو دا ځل په بېلو الفاظو او په لازياتي زړه راښکونکې بڼې او مزيد وضاحت سره؛ فرمايي: او که الله خلك د دوی د ظلم په سبب فوراً او له ځنډ او تأخير پرته مؤاخذه کولی، ظالم ته ئې مهلت نه ورکولی، د توبې او جبران فرصت ئې نه ورکولی، له بنده سره ئې د بخښني او غفران له مخي معامله نه کولی نو پر زمکي به ئې هيڅ خزنده نه وو پرېښی، انسانان به هم له منځه تلل او ټول ژوي هم چي الله تعالی د انسان لپاره پيدا کړي. خو د دوی مهربان رب ئې د دې لپاره تر ټاکلې نېټې ځنډوي چي د توبې، بيا کتني، تجديد نظر او د غلطيو د جبران فرصت ورکړي. عجيبه ده چي د آخرت او الهي مکافات او مجازات منکرين پر هغه ځنډېدا اعتراض لري چي په حقيقت کي د الله تعالی له لوري پر دوی ستره پېرزوينه ده!! دوی دې پوه وي چي دا ځنډ پای لري، هغه نېټه به په خپل وخت راورسېږي چي دوی ئې په تلوار غواړي، دا ثابته نېټه نه يوه ګړۍ وروسته کېدی شي او نه وړاندي کېدی.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكۡرَهُونَۚ وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ ٱلۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ﴿٦٢﴾

او الله ته هغه څه منسوبوي چې دوی ترې کرکه لري؛ او ژبې ئې په درواغو (د ځان داسې) ستاینه کوي چې ګواکې ښه والی د دوی په برخه دئ؛ دوی ته هرومرو اور دئ او دوی به (تر نورو مخکې) وروړاندې کړی شوي وي.

(٦٢)- د قریشو مشرکین د مخکینیو مشرکینو په څېر هغه څه الله تعالی ته منسوبوي چې په خپله ترې کرکه لري، زړه ئې نه غواړي داسې څه ځان ته منسوب کړي، سره له دې کرکجن جاهلانه چلن او د الله تعالی په اړه دا جسارت او بې باکۍ؛ په درواغو د ځان ستاینه کوي او وايي په حقه يو، سمه لار مو غوره کړې او مذهب مو صحيح او سم دئ!! دا په داسې حال کې چې د دوی د ويناوو، باورونو او کړنو سزا د دوزخ له اور پرته بل څه نشي کېدی، هيڅ منصف قاضي به د دوی لپاره له اور پرته بل څه تجويز نه کړي، نو هرومر به په داسې حال کې اور ته ننوځي چې د نورو دوزخيانو لپاره به مخکښان وي.

تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦٣﴾

په الله قسم چې يقيناً تر تا مخکينيو امتونو ته مو استازي لېږلي، نو شيطان خپلې کړنې ورته ښايسته کړې، نو نن به ئې هغه متولي او همځنګی وي او دردناك عذاب به ئې په برخه وي.

(٦٣)- دا مبارك آيت وايي: الله تعالی شاهد دئ چې هغو ولسونو ته مو هم داسې پيغمبران لېږلي لکه چې ته مو اې محمده! دغه امت ته لېږلی يې، هغوی ته هم شيطان خپلې نادودې، کرکجنې کړنې، شرك، کفر، ظلم او فساد ښايسته کړی وو، هغه اوس هم د هغو کافرانو د کافر او مشرك خلف ولي او مشر دئ؛ او د دوی به هم د مخکينيو په څېر دردناك عذاب په برخه کېږي.

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾

او پر تا مو دا کتاب یوازې د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ايمان راوړي. او الله له آسمان داسې اوبه رانازلې کړې چې په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کړه، یقیناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

(٦٤-٦٥)- دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چې د پیغمبر علیه السلام د بعثت وجه او موخې دا دي:

- کوم پیغمبران چې تر تا وړاندې لېږل شوي وو او د دوی په لاس کومې لارښوونې مخکینیو ته لېږل شوې وې، هغوی د خپلو پیغمبرانو لارښوونې شا ته وغورځولې، په اختلافاتو کې ونښتل، دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلی چې د نوي پیغمبر له بعثت او د نوي کتاب له رالېږلو پرته ئې په بل څه علاج ممکن نه وو، الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره هغو کسانو ته لارښوونه کوي او له خپل رحمت او پېرزوینې ئې برخمن کوي چې ايمان راوړي. دا داسې ده لکه چې الله تعالی له آسمان باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کوي. قرآن هم د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي. یقیناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.
- په وروستیو آیتونو کې د الله تعالی د پېرزوینو نورې بېلګې زموږ مخې ته ايښودل شوې چې ټول د همدې پورتني آیت په څېر د همغه مطلب د اثبات لپاره وړاندې شوې.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ﴿٦٦﴾

او یقیناً چې تاسو ته په څارویو کې د عبرت (درس) دئ، له هغو خالصو شیدو ئې تاسو ته څښاك درکوو چې څښونکو ته خوندوري دي، د دوی له نسه؛ د خوشایو او وینې له منځه.

(٦٦)- دا د مهربان رب د پېرزوینو بله بېلګه ده چې انسان ته ئې داسې څاروي پیدا کړي چې دوی ته خوندورې شیدې ورکوي، دا شیدې له وښو جوړوي، واښه ئې په ګېډې کې درې برخې شي، یوه برخه ئې د څارویو د بدن وینو ته ولاړه شي او د څاروي د غړو غذا

شي، له بلې برخې ئې داسې خوندورې شيدې جوړې شي چې د نړۍ هيڅ خواږه د ګټې له پلوه ورسره برابرې نشي کولی، دريېمه برخه ئې د فضله او اضافي موادو په توګه د هغه له بدنه دفع شي. که د نړۍ ټول ماهر ډاکټران، ساينس پوهان او د لابراتوارونو خاوندان راغونډ شي او د نړۍ ټولې کمپنۍ او فابريکې ئې په واك کې ورکړی شي؛ هغه شيدې نشي جوړولی چې الله تعالی ئې د څارويو په بدن کې مور ته جوړوي. آيا دا کافي نه دي چې پر الله تعالی ايمان راوړو او د هغه د بې انتهاء پېرزوينو شکر وکړو؟!! يقيناً چې انسان ته د څارويو په پيدايښت او د دوی په بدن کې د خوندورو او ګټورو شيدو جوړېدا او له دې لارې انسان ته د رزق ورکړې کې د عبرت ستر درس پروت دئ. د هغه انسان ضمير او عقل ته ژړا په کار ده چې د قدرت له دې سترې نښې پند او عبرت نه اخلي او پر الله تعالی ايمان نه راوړي.

دې ته مو بايد پام وي چې دلته له (بطن) مراد يوازې خېټه نه ده، بطن د وجود ټولې هغه برخې احتواء کوي چې ناڅرګندې او د بدن منځ کې دي، د بطن اصلي معنی د (ظاهر) عکس (پټ) دئ. يعني د شيدو او وينو په پيدايښت کې د ژوو ټول هغه غړي په يوه او بلې بڼې کې ونډه لري چې د بدن دننه دي.

---

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او د خرما او انګورو له ميوو چې ترې نښې کوونکی(شراب) او غوره رزق تر لاسه کوئ؛ يقيناً چې په دې کې هغو خلکو ته نښه ده چې تعقل کوي.

---

(٤٧)- د دې مبارك آيت د لارښوونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- ځينې محققين په دې باور دي چې د شرابو د تقبيح په اړه لومړنی آيت همدا دئ؛ ځکه دا آيت تر نورو اړوند آيتونو مخکې نازل شوی او په دې کې تر نورو وړاندې د شرابو قباحت ته په دې توګه اشاره شوې چې دلته (سکر) د (طيب او غوره رزق) په مقابل کې راغلی او دا ښيي چې سکر او نېشه کوونکې توکي ناغوره توکي دي.
- ځينې لنډ نظره وګړي چې د وينا عمق او مقصد ته د پام پر ځای ظاهري الفاظو ته ګوري او د ظواهرو له مخې حکمونه کوي داسې ګمان کوي چې يوازې هغه شراب حرام دي چې له خرما او انګورو جوړېږي! حال دا چې دا آيت د خرما او انګورو شراب له دې کبله ناغوره توکی بولي چې د بې سده کېدو سبب ګرځي، هر هغه څه مضر توکی دئ چې انسان بې سده کوي، که دا له انګورو او خرما جوړ شوي شراب وي او که له وربشو، غنمو او نورو شيانو؛ او که دا چرس، ترياك، هيروئين، مورفين او نور مواد وي.

● د آيت په پای کې ويل شوي چې په دې کې هغو خلکو ته نښه ده چې تعقل کوي. دلته د تعقل يادونه له (سکر) سره لطيف او ظريف مناسبت لري؛ شراب د انسان د بې سده کېدو باعث کېږي، د مستۍ او بې سدۍ په حالت کې د انسان عقل زائل شي، الهي لارښووني د انسان عقل هڅوي، مخاطب ئې عاقل انسان دئ، په ارزښت ئې هغه څوك پوهېږي چې تعقل کوي، د شيطان هڅوني او وسوسې داسي دي لکه شراب او مخدره توکي چې انسان تېرباسي او د عقل خلاف تګلاره او کړنلاره ورته ښايسته کوي.

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾

او ستا رب موچۍ ته وحي وکړه چې په ځينو غرونو، ځينو ونو او ځينو هغو ځايونو کې کورونه جوړ کړه چې (خلك) ئې لوړ جوړوي، بيا هر ډول مېوې وخوره او د خپل رب پر لارو منقاد درومه؛ له ګېډې ئې داسي څښاك راوځي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او په هغه کې د خلکو لپاره شفاء (درملنه) ده؛ يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته ځرګنده نښه ده چې تفکر کوي.

(٦٨-٦٩)- د دې مبارکو آيتونو په اړه دا اساسي خبري په پام کې ولرئ:

● وحي هغي خفي اشارې ته وايي چې په ترڅ کې ئې يو مطلب چا ته القاء شي، پيغمبرانو عليهم السلام ته د الله تعالی له لوري د فرشتې له لاري او يا له فرشتې پرته وحي، الهام او رؤيا ټول په دې لړ کې راځي؛ که دا پټه او خفي اشاره په ويښه وي او که په خوب کې؛ د وحي اطلاق پرې کېږي. دا آيت ښيي چې د مخلوق په فطرت او خټې کې ايښودل شوي لارښووني هم د وحي په ضمن کې راځي، ځکه دلته هغي فطري لارښووني ته د وحي نوم ورکړی شوی چې د موچيو په زړه او دماغ کې تعبيه شوې.

● الله تعالی موچيو ته په فطري توګه دا لارښوونه کړې او له داسي فطرت او جوړښت سره ئې پيدا کړې چې په غرونو، ونو، د خلکو کورونو او هغو صندوقونو کې چې خلك ئې د دوی لپاره جوړوي؛ ځان ته کور غوره کړي.

● ټول ژوند او د ژوند ټولې کړنې ئې د هغې طريقې مطابق دي چې الله تعالی ورته غوره کړې، په بشپړ انقياد سره د خپل رب له لوري وضع شوې او غوره شوې لار او طريقې

مطابق درومي.

- په دې فطري لار د تلو ثمره او نتيجه ئې رنګ رنګ خوندور او ګټور شهد دي، د خلکو لپاره شفاء. د شاتو رنګ، ګټه او خوند ئې له يوه ګل تر بل توپير لري.

د آيت د دغي فقرې (فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ: او د خپل رب پر لارو منقاد درومه)؛ يو بل تعبير هم په ځينو تفسيرونو کې مومو چې موزون نه بريښي او هغه دا (او د خپل رب پر منقادو لارو درومه)، دا تعبير په دوه دليله کمزوری دئ: لومړی دا چې دلته د بحث موضوع دا ده چې د عالم ټول مخلوقات د الله تعالی په وړاندې منقاد دي او همغه څه کوي چې الله تعالی پرې ګمارلي؛ تر دې وړاندې د څارويو يادونه وشوه او دلته په همدغه لړ کې د موچيو يادونه شوې چې هغوی هم د خپل رب په وړاندې په بشپړه توګه منقاد دي او په همغو لارو درومي چې الله تعالی ورته ټاکلې، دوهم دا چې د لارو لپاره د منقاد لفظ کارول موزون نه بريښي. غوره تعبير همغه لومړنی دئ.

د موچيو ژوند هومره منظم دئ چې انسان په هيڅ توګه او په هيڅ برخي کې له هغوی سره برابري نشي کولی، د کور مشره ئې ملکه ده، په واقعي معنی د کور مشره ده، د هر امر اطاعت ئې کېږي، دوی ئې په خپله غوره کوي، د هر کار لپاره ځان ته ټولګي لري، انجنيران ئې کورونه جوړوي، څوکيداران ئې د کور حفاظت کوي، د پرديو د ننوتو مخنيوی کوي، ناولې موچۍ ننوتو ته نه پرېږدي، ګنده شوې موچۍ وژل کېږي، يوه ډله دا دنده لري چې د داسي موچيو سر غوڅ کړي، يوه ډله د هګيو ساتنه او پالنه کوي، کورونه ئې شپږ ضلعي وي، ټولې اضلاع ئې سره برابري وي، په داسي خاصو او خوندي ځايونو کې کورونه جوړوي چې هم پاك وي او هم له باران خوندي وي، کورونو له مومو جوړوي، داسي منظم کورونه جوړوي چې ستر انجنيران ئې له جوړولو عاجز دي، له داسي توکو ئې جوړوي چې شات په کې خوندي ساتل کېږي او انسان ته ئې خوراك تاوان نه رسوي، موچۍ د ګلانو رس او عصاره زبېښي، په خولې کې ئې داسي بدلون په کې راشي چې شات ترې جوړ شي، داسي شهد ترې جوړ شي چې انسان تر ننه د هغه له جوړولو عاجز دئ، د ډېرو بيماريو لپاره شفاء ده، تر کلونو کلونو له خوسا کېدو خوندي پاته کېږي، هغه شات لا تر څو کاله مخکي پوري روغ رمټ پاته وو چې څو زره کاله مخکي مصريانو د فرعون خوا ته په قبر کې ورسره ښخ کړي ول، د مصريانو عقيده دا وه چې مړي په خپلو قبرونو کې بېرته راژوندي کېږي نو ځکه ئې د هغوی خوا ته ځيني خوراکي توکي هم ږدول. انسان تر نن پوري نه نبات، دانه او مېوه جوړ کړې او نه د شيدو او شاتو په څېر خوراکي توکي، نه هغه شات جوړولی شي چې موچۍ ئې جوړوي او نه هغه موم چې موچۍ خپل کور ترې جوړوي. ټول کمال ئې دا دئ چې موجود خوراکي توکي په يوه او بله بڼه واړوي، له شيدو مستې، کورت، پوڅه او کوچ جوړ کړي. همدا توکي د لنډې مودې لپاره تر زمکي لاندي روغ رمټ نشي ساتلی او د خوسا کېدو مخه ئې نشي نيولی، موچۍ خپل مشر په خپله ټاکي، په

زور تېل شوی مشر او ملکه نه مني، که د موچيو خاوند داسې ملکه ورته راوړي چې دوی ئې نه خوښوي نو ټول په ګډه پرې حمله کوي او هغه وژني، انسان لا تراوسه له دې محروم دئ چې په خپلې ټولنې کې د خپلې خوښې صالح زعيم ولري، انتخابات ئې له ټګيو او برګيو ډك وي او همدا تقلبي انتخابات داسې خلك پرې مسلطوي چې پيسې او تبليغاتي وسائل لري، دومره حساسې دي چې څو ميله د ګلانو په لټه کې له خپل کور لرې ولاړې شي، بېرته سيده خپلو کورونو ته راستنې شي، د پراخې فضاء په غېږ کې د خپل کور لار نه ورکوي، دا واټن د دوی د بدن په تناسب دومره دئ لکه انسان چې څو زره کيلومتره له خپل کور لرې ولاړ شي!! که د يوې موچۍ وزن په تخميني توګه پنځه ګرامه ونيسو، نو دوه سوه موچې يو کيلوګرام کېږي، که د انسان اوسط وزن اويا کيلوګرامه ونيسو نو د څوارلس زرو موچيو وزن د يوه انسان برابر کېږي، که يوه موچۍ له خپل کور پنځه کيلومتره لرې درومي او بېرته د خپل کور لار پيدا کوي او مخامخ ورځي؛ دا داسې ده لکه انسان چې له اويا زره کيلومتره (١٤٠٠٠x٥= ٧٠٠٠٠) لرې واټن په هوا کې خپل کور ته مخامخ ولاړ شي!! پرته له دې چې د بل دروازه وټکوي، پوښتنه وکړي او په کوم هوايي ميدان يا هوټل کې توقف وکړي!! د موچيو په کورنۍ کې د کارونو وېش دومره منظم او عادلانه دئ چې انسانان نه په وړې کورنۍ کې داسې وېش لري او نه د موچيو د سترو کورنيو په څېر په لويو لويو ټولنو کې، انضباط ئې دومره جدي دئ چې هيڅ ګنده شوې او په ګندګيو لړل شوې موچۍ ځالې ته نشي ننوتی، فوراً وژل کېږي، له خپلې ځالې په دفاع کې دومره زړه ورې او پياوړې دي چې د يږ په څېر لوی يرغلګر هم تېښتې ته اړ کوي او تر هغه ئې څغلوي چې په اوبو کې ځان ترې غوټه کړي، که کومه کورنۍ چرګه کومه موچۍ په مښوکه ووهي، مړه ئې کړي يا ئې وخوري؛ ناڅاپي او د سترګو په رپ کې دومرې موچۍ پر يرغلګرې چرګې بريد وکړي چې له تېښتې پرته بله لار ورته پاته نشي!! ما ته ووايئ: آيا انسانان په کوم څه کې له دوی سره سيالي کولی شي.

يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چې تفکر کوي. يعني اې بدمغزو کافرانو! اې چې له تفکر او تعقل پرته په کړو لارو سر شوي يئ! ولې په هغه رب ايمان نه راوړئ چې د قدرت نښې ئې په هر ګام کې او هر لوري ته ستاسو په مخ کې ځلېږي، ولې له دې څرګندو او ځلاندو نښو عبرت نه اخلئ؟! اې د حق منکرينو! که د خپل رب په هغه لار ولاړ شئ چې ستاسو د فطرت مطابق ده نو ژوند به مو د موچيو په څېر ستاسو لپاره بختور او د نورو لپاره ګټور شي.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ٧٠

او دا خو الله دئ چې تاسو ئې پيدا کړئ بيا مو وفات کوي؛ او ستاسو ځيني تر ټولو

ناکاره عمر ته رد کړی شي؛ داسي چي له پوهي وروسته په څه نه پوهېږي. بې شکه چي الله قدرتمن پوه دئ.

(۷۰)- دا مبارك آيت له يوې خوا موږ ته وايي: چا چي تاسو پيدا کړي يئ او ستاسو د مرگ پرېکړه کوي هغه الله تعالی دئ، هغه ځينو ته دومره اوږد عمر ورکوي چي د کمزورۍ او کمعلمۍ داسي حالت ته ورسېږي چي هر څه ترې هېر شي، زده کړی علم هم هېر کړي؛ ولي نه شئ کولئ د خپل مرگ مخنيوی وکړئ؟ ولي له دې عاجز يئ چي د زړښت په ځانگړې توگه د داسي زړښت مخه ونيسئ؟ آيا دا نه ښيي چي د يوه قدرتمن ذات د ارادې په وړاندي خاضع او خاشع يئ او د پرېکړو مخالفت ئې نه شئ کولی؟!! ستاسو پوهه او علم هم د الله تعالی يوه عطيه او ورکړه ده، د هغو استعدادونو په طفيل د زده کړي او په څه د پوهېدا توان تر لاسه کوئ چي الله تعالی درکړي. دا دئ گورئ چي زړښت درباندي راشي او هغه استعدادونه کمزوري شي نو شته پوهه او زده علم مو له لاسه ورکړئ او په هيڅ نه پوهېږئ. په دې ټولو امورو کي د خالق رب د علم بې شمېره مظاهر له ورايه ځلېږي، ټول په دې گواهي ورکوي چي د دې عالم خالق ښه پوه ذات دئ.

له بلي خوا په دې مبارك آيت کي د قرآن يو علمي اعجاز ځلېږي؛ د علمي څېړنو په ترخ کي ثابته شوې چي د عمر په زياتېدو سره د دماغ ځيني شرائين ورو ورو تنگېږي او خبره داسي ځای ته ورسېږي چي دا شرائين د دماغ هغي برخي ته وينه نشي رسولی چي وظيفه ئې حفظ او په ياد ساتل دي، دغه مهال د انسان حافظه په بشپړه توگه له کاره ولوېږي. او تاسو گورئ چي قرآن دلته د (ينسى: هېروي) پر ځای (لايعلم بعد علم شيئا) الفاظ کارولي؛ که يوازي هېرول مراد وی نو د ينسی لفظ ورته کافي وو، خو قرآن د يوې لنډې صيغې پر ځای يوه فقره راوړې او په همدغې فقرې کي د قرآن يو ستر علمي اعجاز ځلېږي؛ ځکه د هېرولو دوه حالته دي: يو عام هېرول چي موقتاً د انسان حافظه يوه څه هېر کړي، دا هېرېدا موقتي وي، اعاده ئې ممکن وي، ځيني عوامل هم د دې باعث کېږي چي هېره شوې خبره بېرته ورپه ياد شي؛ خو بل حالت ئې هغه دئ چي قرآن په دغه آيت کي ورته اشاره کړې؛ او دا هغه حالت دئ چي حافظه په بشپړه توگه له کاره لوېږي!!

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٧١﴾

او الله ستاسو ځينو ته پر ځينو نورو د رزق له پلوه فضيلت ورکړی، نو هغه چي فضيلت ورکړی شوی هغو ته چي د دوی په واك کي (مريان يا وينزي) دي؛ د خپل رزق داسي ورکوونکي نه دي چي دوی په کي برابر وي. نو آيا د الله له نعمتونو انکار

کوي؟!

(٧١)- د دې مبارك آيت په ارتباط دا مطالب په پام کې ولرئ:

- الله تعالی په رزق کې ځينو بندګانو ته پر ځينو نورو فضيلت ورکړی، په رزق کې د توپير عوامل يا د الله تعالی په وېش پوري اړه لري، يا د انسانانو خپلمنځي وېش پوري. د الله تعالی د وېش بېلګې دا دي چې يوه ته ئې يو ډول استعدادونه ورکړي او بل ته بل ډول، يوه سيمه ئې په يوه ډول بوټو او ونو شېرازه کړې او بله په بل ډول، په يوې سيمې کې بارانونه وروي او په بلې کې واوري، د الله تعالی وېش تر عدالت وراوښتی پر فضل ولاړ دئ، له هغه چا هم خپل رزق نه سپموي چې د عدالت له مخې د رزق وړ نه دئ، پر کافرانو هم د رزق دروازې نه تړي؛ او د انسانانو وېش کله عادلانه وي او کله ظالمانه؛ پام کوئ چې د رزق په اړه هر وېش الله تعالی ته منسوب نه کړئ، داسې نه چې د انسانانو ظالمانه وېش د الله تعالی وېش وګڼئ.
- په دې مبارك آيت کې د مشرکينو د هغې غلطې عقيدې او ناسم باور د ترديد لپاره يو ځلانده مثال وړاندې شوی چې د رزق په اړه ئې لري او خپل باطل او وهمي معبودان د رزق په ورکړې کې د الله تعالی شريکان ګڼي، له يوه د باران ورولو طمع کوي، له بل د فصلونو او کروندو د سمسورتيا او له بل په تجارت کې د ګټې. په دې مثال کې هغوی ته ويل شوي: آيا په تاسو کې داسې څوك شته چې خپل غلام په خپلو شتمنيو کې داسې شريك کړي چې برخه ئې له ده سره برابره وي، همغسې تصرف په کې کولی شي چې دی ئې په خپله کوي؟!! که داسې څوك نه مومئ او داسې کار درته ناسم او بې ځايه برېښي؛ نو الله تعالی ته څنګه دا منسوبوئ چې له خپلو بندګانو او مخلوقاتو ئې داسې شريکان ځان ته غوره کړي چې د ده په ملك کې د مساويانه تصرف حق لري او کولی شي د دې ملك له شتمنيو يوه او بل ته څه ورکړي؟!! که تاسو خپل غلامان خپل شريکان نه ګرځوئ نو الله تعالی به څنګه خپل بندګان له ځان سره شريکوي؟! ولې د هغو نعمتونو درکړه له الله تعالی پرته بل چا ته منسوبوئ چې بل په کې د هيڅ ډول تصرف واك او اختيار نه لري او په دې توګه د الله تعالی له پېرزوينو انکار کوئ او د بل له لوري ئې ګڼئ؟!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ ٱللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾

او الله تاسو ته ستاسو له خپلې نوعې جوړې پيدا کړې او ستاسو له جوړو ئې اولاد او

لمسي درته پيدا کړل؛ او پاکيزه رزق ئې درکړ. نو آيا دوی سره له دي په باطل ايمان راوړي او د الله د نعمتونو په اړه کفران کوي؟!!

(۷۲)- د انسان لپاره تر ټولو ستره پېرزوينه او لوی نعمت د ده پيدايښت، د ده د زوج او جوړې پيدايښت، د ده د اولاد او لمسيانو پيدايښت او په زمکې کې د ده لپاره د پاکيزه رزق پيدايښت دئ؛ او ښه پوهېږئ چې د دغو ټولو په پيدايښت کې هيڅوك له الله تعالی سره شريك نه دئ. نو پر دې حقيقت له پوهېدا سره سره څنګه په داسي باطلې عقيدې باور کوي چې نعمتونه او ورکړه ئې له الله تعالی پرته بل ته منسوبوي؟!!

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾

او له الله پرته د هغه څه عبادت کوي چې نه د آسمانونو او زمکې د کوم رزق واك ورته لري او نه توانېدی شي.

(۷۳)- دلته څو ظريف ټکي زموږ مخې ته څلېږي چې دقت او غور غواړي:

- له الله تعالی پرته بل ته د نعمتونو ورکړه منسوبول او دا طمع ترې کول چې کولی شي چا ته له آسمانونو يا له زمکې رزق ورکړي؛ دا باور او عقيده د غير الله له عبادت سره مترادف او يو شانې ګڼل شوي.
- الله تعالی فرمايي: له ده پرته داسې څوك نشته چې له آسمانونو او زمکې د روزي ورکولو اختيار او توان ولري، نه الله تعالی بل ته څه سپارلي او نه بل په خپله د دې توان لري چې چا ته روزي ورکړي.

فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٧٤﴾

الله تعالی ته مثالونه مه بيانوئ؛ يقيناً چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

(۷٤)- د قرآن دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې الله تعالی د دې عالم له هيڅ څه سره تشبيه نه کړو او هيڅ څه د ده مثل او مثال ونه ګڼو، موږ نه داسې شیء پېژنو او نه ئې مومو چې د الله تعالی په څېر او هغه ته ورته وي. دا او د قرآن ګڼ شمېر نور آيتونه په ډېر قاطعيت سره وايي چې په ټول عالم کې الله تعالی ته ورته شیء نشته، نه کوم څه په خپل ذات کې الله تعالی ته ورته دئ، نه په صفاتو او افعالو کې، نه انسان په ذات، صورت، افعالو او صفاتو کې الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی انسان يا کوم بل مخلوق ته، الله

تعالی اوري خو د دې اورېدو معنی دا نه ده چې خدای زموږ په څېر دوه غوږونه لري او په دغو غوږونو سره زموږ خبرې اوري. الله تعالی علیم دئ خو د الله تعالی علم د انسان د علم په څېر نه دئ چې د زده کړې او تعلیم او تعلم له لارې ئې تر لاسه کوي، موږ نه د ماضي له هغو پېښو خبر یو چې په خپله مو نه دي لیدلې او یا له بله مو نه دي اورېدلې؛ او نه د مستقبل په پېښو پوهېږو؛ خو الله تعالی ته ماضي، حال او مستقبل برابر دي او پر ټولو یو شان پوهېږي. الله تعالی بصیر دئ، هر څه ویني، هیڅ حجاب د ده د لیدو مانع کېدی نه شي؛ په مخلوقاتو کې هم لیدونکي شته، خو الله تعالی په دې صفت کې هم هیڅ مخلوق ته ورته نه دئ، که انسان او ځیني حیوانات داسي دي چې دوې سترګي لري نو داسي هم شته چې یوه سترګه یا ډېرې سترګي لري او داسي هم شته چې د خپل بدن په ټول پوستکي سره هره خوا لیدی شي!! خو بصیر او لیدونکی خدای په خپل دغه صفت کې له هیڅ مخلوق سره ورته نه دئ. نو پام کوئ چې الله تعالی له کومه څه سره تشبیه نه کړئ.

دا لاربښوونه په داسي ځای کې راغلې چې په مخکینیو آیتونو کې د رزق او روزي د ورکړې په اړه بحث شوی؛ او له همدې موضوع سره ارتباط لري، په ارتباط ئې د پوهېدو لپاره دا غوره ګڼم چې دلته د هغه چا وینا او ده ته زما ځواب رانقل کړم چې وایي: خدای معطي دئ او مصطفی مقسم، عطاء د خدای له لوري ده او تقسیم ئې د مصطفی له لوري!! دا د یوه مشهور پاکستاني بریلوي مبلغ او د دې ډلي د مشر وینا ده، ما ئې په ځواب کې یو مفصل لیك ورلېږلی وو چې د (تصوف او حقیقت ئې) په نامه د یوه کتاب په بڼې کې خپور شو، په اردو او عربي هم وژباړل شو، هغه د یوې ټلویزیوني خطبې په ترڅ کې د الله تعالی عطاء او ورکړه د توربیلا له ډېم د برق له توزیع سره تشبیه کړه او وئې ویل: هر څوك باید د خپل کلي له ټرانسمیټر برق تر لاسه کړي نه دا چې مخامخ توربیلا ډېم ته ورشي!!! یعني د دې پر ځای چې الله تعالی ته مراجعه کوي باید په خپلې سیمي کې خپل نژدې مرشد او پیر ته مراجعه وکړي!! هغه ته مې ولیکل: ستا دې خبرې ته تر نورو زیات حیران او حتی غصه شوی یم، زه ګمان کوم چې څوك د دین له الف باء خبر وي او له ټول قرآن یوازې د فاتحې په سورې پوه وي؛ هیڅکله به داسي غلطه او خوشې خبره ونه کړي. د الله تعالی عطاء دومره عامه او بې واسطې او بې وسیلې ده چې د لمر له عطاء سره ئې نه شو مقایسه کولی، توربیلا ډېم خو لري لري پرېږده، دا ستر لمر چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې هر چا ته له واسطې، وسیلې، اجورې، شکرانې او بدلې پرته مخامخ رڼا او تودوخه ورکوي، د دنیا هر ګوټ ته په خپله درومي او خپله عطاء پرې وېشي، د ده عطاء د مهربان رب د بې انتهاء عطاء په وړاندې له هیڅ سره برابره ده، الله تعالی خو موږ ته فرمایي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِى وَلْيُؤْمِنُواْ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ١٨٦ البقرة:١٨٦

او كله چي زما بندگان زما په اړه درنه پوښتنه وكړي؛ نو زه يقيناً نژدې يم، چي كله دعاء كوونكى راته دعاء وكړي نو دعاء ئې قبلوم. نو زما بلنه دي ومني او پرما دي ايمان راوړي چي رشد او كمال ته ورسي.

موږ ته خو اسلام ويلي چي په خپل هر ركعت لمانځه كي به د فاتحې سوره لولئ او له الله تعالى سره به په دې الفاظو ژمنه كوئ: اياك نعبد و اياك نستعين: يوازي ستا عبادت كوو او يوازي له تا مرسته غواړو؛ دا د عبادت او استعانت ژمنه او دعاء مخامخ ورته كوو، له واسطې او وسيلې پرته. دا دعاء او وروسته شرح ئې دومره جامع دعاء ده چي هر څه احتواء كوي او بلي هيڅ دعاء ته حاجت نه پاته كېږي.

قرآن خو په واضحو الفاظو موږ ته وايي چي: د ده هر پيغمبر د ده د وحي امين وي، دنده ئې يوازي دا چي د الله تعالى پيغام په امانت سره خلكو ته ورسوي، كار ئې دا نه دئ چي د الله تعالى فضل پر خلكو ووېشي، د الله تعالى فضل په خپله د الله په واك كي دئ، هغه چا ته ئې وركوي چي په خپله ئې غواړي:

قُلْ إِنَّ الْفَضلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشاءُ وَ اللَّهُ وَسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ آل عمران: ٧٣

قرآن خو موږ ته وايي چي د عالم هر څه ده ته د حال او قال په ژبه سؤال كوي او الله تعالى په خپله د دوى غوښتنو ته ځواب وايي؛ تل دا كار كوي او هره شېبه د يوه كار د تر سره كولو په حال كي وي:

يَسئَلُهُ مَن فى السمَوَتِ وَ الأَرْضِ كلَّ يَوْمٍ هُوَ فى شأْنٍ ﴿٢٩﴾ الرحمن:٢٩

يعني الله تعالى د زمكي او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دى ئې ضرورتونه رفع كوي او اړتياوي ئې پوره كوي. د دې عالم هر كار، هره شېبه، په خپله مالك الملك خداى تر سره كوي، الله تعالى داسي نه دئ چي د دنيا كارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي وي او يا ئې نورو ته سپارلي وي او دى هيڅ تصرف په كي نه كوي، بلكي هر كار؛ كه ستر وي او كه ووړ؛ د ده په اراده، إذن، حكم، قدرت او مخامخ تصرف سره تر سره كېږي، هغه يوه شېبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالني او ساتني نه غافله كېږي. قرآن موږ ته همدا وايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ الاعراف:٥٤

يقيناً چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو كي پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استوى وكړه، شپه پر ورځ راكاږي (پرې پټوي ئې)، داسي چي په تلوار ئې

لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې پيدا کړي چې امر ته ئې منقاد دي، په دې پوه شه چې هم خلقت (يعني پيدايښت) ده ته مختص دئ او هم امر (چاري سمبالول)، د عالمونو پالونکی الله برکتناك دئ.

قرآن په دې مبارك آيت سره څو ډېري مهمي او اساسي لارښووني د خپل مخاطب په وړاندي ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو (مرحلو) کې پيدا کړل.
- د دوی له پيدايښت وروسته ئې د ټول عالم د اداري، ساتني او پالني چاري په خپل اختيار کې واخيستې او د مطلق ټولواك په توگه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استوی وکړه.
- دا د ده د ټولواکۍ نښه او بېلگه ده چي شپه پر ورځ راکاږي؛ داسي چي په تلوار ئې لټوي.
- دا هم د ده د ټولواکۍ بله بېلگه ده چي لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه کار کوي او په همغه لار درومي چي الله تعالی پرې گمارلي.
- په دې پوه شه چي هم خلقت يعني پيدايښت ده ته مختص دئ، په دې کې بل شريك نه لري او هم امر يعني چاري سمبالول چي په دې کې هم هيڅ شريك نه لري.
- الله تعالی مبارك او د عالمونو پالونکی او ساتونکی دئ.

دا او دې ته ورته گڼ شمېر آيتونه موږ ته همدا وايي چي الله تعالی د عالم د چارو واگي بل چا ته نه دي سپارلې، امور ټول د ده په واك کې دي، خپل رزق په خپله ورکوي او خپل فضل په خپله وېشي.

د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې دا مطلب توضيح شوی چي الله تاسو ته درنژدې دئ، ډېر نژدې، د غاړې تر رگ هم زيات درنژدې، که دوه ياست دريېم مو الله دئ او که درې وئ څلورم مو الله دئ، چي هر ځای وئ الله درسره دئ، ستاسو دعاءگاني اوري او قبلوي ئې، نه الله له تاسو لري دئ، نه ستاسو او د الله تر منځ پراوونه او حجابونه شته، نه الله ته د رسېدو او د خپلو دعاءگانو د وړاندي کولو لپاره واسطې او وسيلې ته ضرورت شته، هره شېبه، په هر ځای او هر حالت کې، مخامخ خپل مجيب الدعواة رب ته خپل عرائض وړاندي کولی شې او مطمئن اوسه چي الله ئې په خپله مخامخ اوري او قبلوي ئې. قرآن په دې سره د هغو شرکي عقائدو جرړي ايستلې دي چي الله ته د دعاءگانو په اورېدو او قبلېدو کې شريك ثابتوي او وايي: ستا دعاء او عبادت په هغه صورت کې تر خدای رسي او قبلېدی شي چي د ده د نازولو له لاري وړاندي شي او هغوی ئې د قبلېدو سپارښتنه وکړي!! پيغمبر عليه السلام خو وايي چي که د څپلۍ بند مو وشکېدو دا هم له الله تعالی

وغواړئ.

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا هَلْ يَسْتَوُۥنَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

الله د هغه مملوك بنده مثال بیانوي چې پر هیڅ څه نتوانېږي؛ او هغه چې له خپل لوري مو غوره رزق ورکړی چې هغه په پټه او په ډاګه ترې انفاق کوي؛ آیا دا دواړه سره برابر دي؟ ستاینې ټولې الله ته دي؛ خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(۷۵)- په دې مبارك آیت کې د یوه ښکلي مثال په ترڅ کې مخکینی مطلب په مزید وضاحت او تفصیل سره بیان شوی؛ یوې خوا ته داسې څوك انځور شوی چې مریي او د بل غلام دئ، نه څه په واك کې لري او نه په څه کولو توانېږي، که څه ورسره وي د بل دي او که څه کولی شي د بل په امر او اجازه ئې کوي؛ او بل لوري ته داسې څوك انځور شوی چې الله تعالی غوره رزق ورکړی او هغه له دې رزق په پټه او ښکاره انفاق کوي؛ او بیا مخاطب پوښتي: آیا دا دواړه سره برابر دي؟!! که دا سره برابر نه دي نو ته څنګه د الله تعالی یو بنده؛ د الله تعالی پېرزوینو ته محتاج بنده؛ چې هر څه ئې د الله تعالی دي؛ د الله تعالی له إذن پرته نه په خپله څه کولی شي او نه بل ته څه ورکولی شي؛ له هغه الله تعالی سره برابروې چې د رزق ټولې خزانې د ده په واك کې دي، ټول مخلوق ته شپه ورځ رزق او روزي ورکوي؟!! ته څنګه د کور د اصلي خاوند پر ځای د هغه له غلام او مریي څه غواړې؟!! ته ولې د کائناتو د څښتن پر ځای داسې چا ته لاس او لمن اوږدوې چې د عالم هیڅ څه ئې په واك کې نه دي، نه د شپې او ورځې په تلو راتلو کې څه ونډه لري، نه د باران په ورېدو او نه د دانې او مېوې په پیدا کولو کې.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَآ أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَىٰهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِى هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او الله د هغو دوو سړیو مثال بیانوي چې یو ئې ګونګ دئ په هیڅ څه نتوانېږي او هغه د خپل بادار د شا پېټی دئ؛ چې هر لوري ته ئې مخامخ کړی کوم خیر (او ګټه) په رانه وړي؛ آیا دی او هغه څوك سره برابرېدی شي چې په انصاف سره امر کوي او

هغه په مستقيمې لارې برابر (روان) دئ.

(٧٦)- په دې مبارك آيت كې د بل ښكلي مثال په ترڅ كې د جعلي معبودانو ماهيت انځور شوی؛ او د الله تعالی د عظمت په وړاندې د دوی بې ارزښته او واهي حيثيت په ګوته شوی؛ دوه څېرې ئې زموږ مخې ته انځور كړې: يو ئې ګونګ دئ، نه څه اوري او نه څه ويلی شي، د څه كولو توان هم نه لري، نه يوازې خپل مالك ته كومه ګټه نشي رسولی بلكې په خپله د بادار د اوږو پېټی دئ، هر لورې ته چې ئې ولېږې او په هر كار چې ئې وګمارې كومه ګټه به په لاس رانه وړې او د خير كوم كار به تر سره نه كړي. بل ئې هغه څوك دئ چې عادل دئ، هر كار او پرېكړه ئې عادلانه ده؛ او پر مستقيمې لارې درومي، كړنلاره او تګلاره ئې مستقيمه او سمه ده؛ آيا دا دواړه سره برابر دي؟!! كه دا دواړه برابر نه ګڼئ نو څنګه هغه جعلي معبودان له الله تعالی سره برابروئ چې يا بتان دي، يا په قبرونو كې پراته دي، نه څه اوري، نه څه ويلی شي، تاسو ئې پر خپلو اوږو له يوه ځای بل ته وړئ، د ښخولو پر مهال هم او هغه وخت هم چې ځلې ئې له يوې سيمې بلې ته وړئ، كوم لورې ته چې هغه مخامخ كړئ او ترې وغواړئ چې دغه كار درته وكړي او هغه حاجت مو تر سره كړي هيڅ خير ئې نه دررسېږي، نه ځواب دركوي، نه لارښوونه درته كوي او نه مو حاجت تر سره كوي. تاسو چې دغو خيالي معبودانو ته كوم كرامات منسوبوئ هغه په حقيقت كې ستاسو د ذهن زېږنده دي. تاسو دغه جعلي او دروغجن معبودان له هغه الله تعالی سره برابروئ چې هره پرېكړه ئې پر عدالت ولاړه پرېكړه ده، تاسو ته د عدالت كولو امر كوي، سمه لار درښيي؛ او ټولې لارښووني ئې رښتينې، روښانه او سمې دي.

له دې مبارك آيت په ضمني توګه دا خبره هم معلومېږي چې مړي داسې دي لكه ګونګيان؛ نه څه اوري او نه څه ويلی شي. ځكه دلته د مشركينو هغه معبودان له ګونګيانو سره تشبيه شوي چې په قبرونو كې دي.

وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾

او د آسمانونو او زمكې د پټو (امورو) علم له الله سره دئ؛ او د قيامت كار خو يوازې د سترګې د يوه رپ په څېر دئ او تر دې هم زيات لنډ، يقيناً چې الله پر هر څه قادر دئ.

(٧٧)- په دې مبارك آيت كې د هغو معاندينو او معارضينو ځواب ويل شوی چې د قيامت راتګ او د مړو بيا راژوندي كېدا محال ګڼي؛ په دې توګه:

- په آسمانونو او زمكې كې چې څه ستاسو له نظره پټ دي الله تعالی ته څرګند دي، تاسو

نه پوهېږئ چي د دې پراخ عالم په غېږ کې ستاسو له سترګو پټ څه روان دي او دا عالم به له څه برخليك سره مخامخ کوي، الله تعالی ته هر څه څرګند دي، د دغي پوهي او علم له مخي وايي: قيامت راتلونکی دئ.

- تاسو ته دا کار ګران برېښي خو د الله تعالی په وړاندي د قيامت راوستل داسي دي لکه يو کار د سترګو په يوه رپ او تر دې هم ډېري لنډي مودې کي تر سره کول. دا ځکه چي الله پر هر څه قادر دئ.

وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او الله تاسو د خپلو ميندو له ګېډې راوايستئ په داسي حال کي چي په هيڅ څه نه پوهېدئ؛ او تاسو ته ئې غوږ، سترګي او زړونه جوړ کړل؛ ښايي شکر وکړئ.

(۷۸)- دلته د انسان په اړه د الله تعالی د بې شمېرو پېرزوينو څو نوري بېلګي زموږ مخي ته ځلېږي چي د انسان په جوړښت او د ده په استعدادونو پوري مربوط دي:

- د مور له رحم د يوه بشپړ ماشوم په بڼې کي دنيا ته راتګ.

- د غوږونو، سترګو او زړه په څېر هغه مهم غړي ورکول چي د ده د ژوند ستري ستري اړتياوي دي. د انسان سترګي، غوږونه او دماغ دومره حساس او ظريف غړي دي او دومره مهم مهم کارونه تر سره کوي چي انسان ئې په لويو لويو مخکي تللو کمپيوټرو د هغوی يوه وړه برخه نشي تر سره کولی، د انسان سترګي کولی شي تر اُوه مليون زيات رنګونه تشخيص کړي، هر لوري ته خوځي او په مختلفو زاويو ليدل کولی شي، که دا خوځېدا ئې نه وی نو په دغو مختلفو زاويو د ليدلو لپاره به زرګونو سترګو ته اړ وو، همغسي لکه موچې چي سترګي ئې ثابتي دي خو نژدې (۱۸۰۰) عدسيې لري. سترګي په لري او نژدې واټن کي د پرتو شيانو د ليدو؛ او د ډېري رڼا، لږ رڼا او تيارې په حالت کي د شيانو د سم ليدو لپاره ځان په خپله عياروي، عدسيې ئې اتومات پراخي او تنګي کېږي او د مناسب مقدار نور تېرېدو ته ځان عياروي، د دې اهميت هغه چا ته جوتېږي چي د کامرو او دوربينونو له جوړولو سره تړاو لري يا عکاسي کوي، هغه پوهېږي چي دا کار څومره پېچلی دئ او څومره مخکي تللې ټيکنالوژي ته ضرورت لري، يوازي دا نه بلکي سترګي له داسي حافظې سره تړلې دي چي نن يو څوك وګوري، څو کاله وروسته له هغه سره مخامخ شي او له ځنډه پرته ئې وپېژني او د سترګو خاوند ورته ووايي: که په ياد دي وي ما او تا څو کاله مخکي په فلاني ځای کي سره ليدلي وو، دا په داسي حال کي چي په دې اوږدې مودې کي هغه په زرګونو خلك او ده ته نژدې څېرې ليدلې دي، د انسان غوږ نه يوازي له لري

فاصلې غږونه اوري بلکې د زرګونو غږونو د تشخيص توان لري، نن د چا غږ واوري، څو کاله وروسته همغه غږ د ټيلفون په ليکه واوري او له ځنډ پرته ئې تشخيص کړي او ورته ووايي: فلانى يې؟ د انسان دماغ هومره ظريف او پېچلى دئ چې که د نړۍ ټول کمپيوټرونه راغونډ کړئ او د کمپيوټرو يو ستر ښار ترې جوړ کړي هغه کارونه نشي کولى چې د انسان د دماغ يوه وړه برخه ئې کولى شي. د انسان زړه هم له دې پلوه مهمه عضوه ده چې ټول بدن ته د وينو رسولو مهمه دنده پر غاړه لري او هم له دې پلوه چې د انسان ځينې عواطف او مشاعر د زړه له لارې منعکس کېږي، د انسان د مغز لپاره د داسې حساس غړي په توګه عمل کوي چې له پرېکړو ئې انسان خبروي، انسان خپله مينه دلته احساسوي، کرکه دلته، وېره دلته، اطمئنان دلته او تصديق او ترديد دلته احساسوي.

- کله چې انسان په لومړۍ ورځ دنيا ته راځي او سترګې پرانيزي په هيڅ نه پوهېږي، خو ورو ورو او د سترېدو تر څنګ؛ علم او پوهه تر لاسه کوي، دغه غړي ئې مرسته کوي، څه د اورېدو له لارې زده کړي، څه د ليدو له لارې او څه د تفکر او تعقل له لارې، همدا زده کړه او پوهه ده ته دا مجال برابر کړي چې ځان، خپل ماحول، ښه او بد، مفيد او مضر شيان وپېژني او په دې توګه د ژوندي پاته کېدا امکان تر لاسه کوي.

- د دې الهي پېرزوينو او نعمتونو مقتضى دا ده چې انسان خپل منعم رب وپېژني او شکر ئې پر ځاى کړي. خو عجيبه ده چې کافر انسان دغو ځلاندو حقائقو ته شا کړي، دا نعمتونه له پامه وغورځوي، د کفر، انکار او ناسپاسۍ لار غوره کړي!!

---

أَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾

آيا د آسمان په فضاء کې ئې دغو مرغانو ته پام نه دئ کړى چې مسخر کړى شوي؛ له الله پرته ئې هيڅوك نه ټموي؛ يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګندي نښې دي چې ايمان راوړي.

---

(۷۹)- ته پوهېږې چې هوا ته د يوه شي الوزول څومره ګران کار دئ، څومره پوهې، تجربې، تخنيك او مخکې تللو وسائلو ته ضرورت لري، په ځانګړې توګه که دا الوتکه وړه وي او ته وغواړې چې سرعت ئې زيات، مصرف ئې لږ، يوې بلې خوا ته ئې خوځېدا سريع او د مانور قدرت ئې زيات وي!! خو نه ګورې چې الله تعالى څومره ډول ډول مرغان پيدا کړي؛ چا دوى ته د الوت او د آسمان په غېږ کې د سريع تګ او خوځېدا توان ورکړى؟ آسمان ښکالي په توره شپه کې کولى شي ماشي په هوا کې ونيسي!! باز کولى شي له لوړې فضاء په وښو کې د وښو همرنګه ووړ سوى ووينې او له همغې لوړې نېغ او سريع راکوزې

شي او وئې نيسي، ماشي د شپې په تياره کې کولی شي د انسان د بدن لوخ ځای ومومي، پرې کښېني اوويني ئې وزبېښي. آيا د دوی په پيدايښت، په فضاء کې الوت، سريع تګ او تېز مانور کې د هغو وګړو لپاره څرګندي نښې نه دي چې په حقيقت اعتراف او ايمان راوړو ته چمتو وي او له ځان سره ئې د ايمان نه راوړو قطعي پرېکړه نه وي کړې؟!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٨٠﴾

او الله تاسو ته ستاسو له کورونو هستوګنځي جوړ کړي او تاسو ته ئې د څارويو له پوستکو داسي کورونه (کيږدۍ) جوړي کړې چي هم ئې د خپل سفر په ورځو کې سپك مومئ او هم د خپل اقامت په ورځو کې؛ او د پسونو له وړيو، د اوښانو له وړيو او د وزو له وېښتانو (وزغنو) اثاث (پوښاك او فرش) او تر يوې نېټې برخمن کېدا.

(۸۰)- انسان ته د کور جوړولو هنر ورښودل او په ده کې دا استعداد ږدول چي له ختې، ډبرې، لرګي، ټوکر، پوستکې، وړيو او وزغنو ځان ته کور، کږدۍ او خيمه جوړه کړی شي او کولی شي ځان ته جامې او نور ضروري سامان جوړې کړي، دا د الله تعالی هغه ستره پېرزوينه ده چي هر سترګور انسان اعتراف ته اړ کوي؛ عجيبه ده چي انسان دا هر څه ګوري او پر الله تعالی ايمان نه راوړي!!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

او الله تاسو ته له هغه څه چي پيدا کړي ئې دي سيوري جوړ کړي او له غرونو ئې تاسو ته سمڅي جوړي کړې دي او داسي جامې ئې درته جوړي کړې دي چي له تودوخي مو ساتي او داسي جامې چي په جګړو کې مو ساتي. همداسي خپل نعمتونه درباندي بشپړوي چي مسلمان شئ (غاړه کښېږدئ).

(۸۱)- دلته د الله تعالی څو نورو پېرزوينو ته اشاره شوې چي د انسان له هستوګنځي او د تودوخي، يخنۍ او د جګړو له ضرره د انسان له ساتني سره تړاو لري؛ په سختي ګرمۍ کې

د لمر د وړانګو له خطر او ضرر سيوري ته ضرورت لري، په غرونو کې د يخنيو په وړاندې سمڅو ته، د تودوخې او يخنۍ په وړاندې جامو ته، په جګړو کې د تورو، غشو او مرميو په وړاندې زغرو ته ضرورت لري؛ الله تعالی هم د دغو شيانو د جوړولو استعداد په ده کې ايښی او هم ئې اړوند توکي پيدا کړي. دا دئ ګورئ چې نن انسان د دغو خطرونو په وړاندې څومره ډول ډول وسائل جوړ کړي، زغره وال ګاډي، زغره والې چورلکې، د غرونو په ډډو کې د اټومي بټيو لپاره خوندي سمڅې، د جنګياليو لپاره سپکې او مقاومې زغرې، داسې سپکې او تودې جامې چې له واورو ډکو لوړو لوړو غرونو کې ئې له سختې يخنۍ ساتي، داسې جامې چې د اور د لمبو په وړاندې کافي مقاومت کوي او اور مړوونکې له لمبو خوندي ساتي. الله تعالی دا نعمتونه د دې لپاره د انسان په برخه کړي چې هغه خپل رب ته غاړه کښېږدي او له بغاوت او عصيان لاس واخلي؛ د دغو الهي پېرزوينو مقتضی همدا ده. عجيبه ده که انسان د دې نعمتونو په مقابل کې د خپل منعم رب په وړاندې د کفران او عصيان لار غوره کړي.

د الله تعالی له لوري د نعمتونو د اتمام او بشپړولو معنی دا ده چې د انسان د ژوندانه د هرې برخې اړتياوې په بشپړه توګه ورته برابروي، له سترو سترو ضروري شيانو نېولې بيا تر وړو وړو ضرورتونو، ټول هغه اړين شيان ئې ورته پيدا کړي او په مسلسله توګه ئې ورته پيدا کوي چې دی ورته ضرورت لري.

---

فَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٢﴾

خو که ئې مخ واړاوو نو پر تا له څرګند پيغام رسولو پرته بله ذمه والې نشته.

---

(۸۲)- که ستا مخاطبين د دغو دلائلو له اورېدو وروسته بيا هم له حقيقت مخ واړوي او پر خپل کفر او انکار ټينګار وکړي؛ نو ستا دنده او مسئوليت له دې پرته بل څه نه دي چې الهي پيغام په بشپړه توګه هغوی ته ورسوې، د دې پوښتنه له تا نه کېږي چې ولې ئې ايمان رانه وړ او حق ته تسليم نه شول.

---

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٣﴾

د الله نعمتونه پېژني خو بيا انکار ترې کوي؛ او د دوی ډېری کافران دي.

---

(۸۳)- دوی نعمتونه پېژني، په اهميت ئې پوهېږي، په دې هم پوهېږي چې منعم ئې الله تعالی دئ، بل داسې ذات نه مومي چې د دغو نعمتونو په ورکړې کې کومه ونډه ولري؛ خو هم له نعمت انکار کوي او هم له منعم، وجه ئې دا ده چې د دوی ډېری کافران دي، پر الله تعالی عدم ايمان د دې کرکجن انکار په ډنډ کې غورځولي.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾

او هغه ورځ چې له هري ډلې يو گواه راپاڅوو، بيا به نه هغو ته اجازه ورکړی شي چې کفر ئې کړی او نه به له (الهي) عتاب د ځان ژغورني غوښتنه ترې کېږي.

(٨٤)- دوی پرېږده چې خپل انکار ته دوام ورکړي، داسي ورځ راتلونکې ده چې د الله تعالی په وړاندي به ولاړ وي، نادم، پښېمانه او سرټيټی؛ زړه به ئې غواړي چې د بخښني او استغفار اجازت ورکړی شي، څه مهلت ئې په برخه شي چې د نېکو کارونو په کولو له الهي عتاب وژغورل شي؛ خو نه به دا اجازت ورکړی شي او نه به ترې وغوښتل شي چې ځئ اوس داسي څه وکړئ چې له الهي عتاب وژغورل شئ.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾

او کله چې ظلم کوونکي عذاب وگوري نو نه به ترې سپك کړی شي او نه به مهلت ورکول کېږي.

(٨٥)- کله چې له الهي عذاب سره مخامخ شي او له لري ئې په خپلو سترگو وگوري، نو بيا به د داسي څه کولو مجال ورته پاته نه وي چې په کولو او ويلو سره ئې عذاب راکم شي او مهلت ورکړی شي. په دنيا کې هم الهي سنت همدا دئ او په آخرت کې هم. نو خبره هغه ځای ته مه رسوئ چې مهلت مو پای ته ورسي او الهي عذاب درباندي سيوری وغوړوي.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ شُرَكَآءَهُمْ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدْعُواْ مِن دُونِكَۖ فَأَلْقَوْاْ إِلَيْهِمُ ٱلْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوْمَئِذٍ ٱلسَّلَمَۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدْنَٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾

او کله چې مشرك شوي خپل شريکان (جعلي معبودان) وگوري وبه وايي: دا زموږ هغه شريکان ول چې له تا پرته مو رابلل (مرستي مو ترې غوښتې)؛ نو خبره به ورغبرگه کړي چې بې شکه تاسو دروغجن يئ؛ او الله ته به په دې ورځ (خپله) تسليمي وړاندي کړي او هغه څه به ترې ورك شي چې له ځانه ئې په درواغو

جوړول، هغه چې کفر ئې کړی او د الله له لارې ئې مخنیوی کړی؛ عذابونه به ئې یو د بل د پاسه ورته زیات کړو؛ د هغو فسادونو له کبله چې دوی کول.

---

(٨٦-٨٨)- دلته د قیامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندې د مشرکانو او د دوی د جعلي معبودانو تر منځ د مشاجرې یو زړه راښکونکی انځور زموږ مخې ته ځلول شوی چې لاندې لارښووني لري:

- کله چې مشرکان خپل شریکان وګوري، له هغو جعلي معبودانو سره مخامخ شي چې په دنیا کې ئې لمانځل، مرستې ئې ترې غوښتې، د دوی ځلې او مجسمې ئې جوړې کړې وې، د دوی پر قبرونو ئې دنګ دنګ زیارتونه جوړ کړي وو، د دوی د ځلو او قبرونو طوافونه ئې کول، د دوی د زیارتونو په درشل کې ئې لمن غوړوله او دا طمع ئې ترې کوله چې مشکلات ئې ورته حل کړي او حاجتونه ئې تر سره کړي؛ نو الله تعالی ته به شکایت وکړي چې موږ پر دغو غولېدلي وو، دوی مو ستا شریکان ګڼل، ګمان مو دا وو چې تا د عالم ځیني چارې دوی ته سپارلې وې، د دوی له لارې زموږ دعاګانې تر تا پورې رسي. جعلي معبودان به خبره ورغبرګه کړي او وبه وايي: تاسو دروغجن یئ، موږ نه یئ غولولي، موږ دا ادعاء نه وه کړې چې د الله تعالی شریکان یو، ستاسو حاجتونه تر سره کولی شو او ستاسو دعاګانې پر الله تعالی منلی شو، په دې ورځ به ټول خپله تسلیمي د الله تعالی په وړاندې اعلان کړي او هغه څه به ترې ورك شي چې له ځانه ئې په دړواغو جوړول، افتراءات، د شرکي مذهب په تأیید کې د دوی بې بنسټه او غلط دلائل، په دروغو خپل ناچل او شرك لړلي عقائد د الله کتاب، پیغمبرانو او صالحینو ته منسوبول؛ دا هر څه به ترې ورك شي. د دغو کافرانو چې هم په خپله د الله له لارې تېروتي او منحرف شوي ول او هم ئې د الله په لار د نورو د تلو مخنیوی کاوو، د دوی تابع او متبوع، کشر او مشر ته مضاعف عذابونه ورکول کېږي، د خپل شرك عذاب هم او د نورو د بې لارې کولو عذاب هم. دوی مفسدین ول او د دوی شرك د مفاسدو ستر عامل؛ له همدې کبله به په مضاعف عذاب اخته کېږي.

- دې ته مو پام وي چې دلته له جعلي معبودانو یوازې هغه شخصیتونه مراد دي چې مشرکینو ئې ځلې او پر قبرونو زیارتونه جوړ کړي ول؛ لکه نن چې شیعه وو د علي رضی الله عنه او د ده د اولاد پر قبرونو ستر ستر قصرونه جوړ کړي او د ولاړېدو پر مهال وايي: یا علي!! او د خپلې دعاء په وخت وايي: یا علي مدد، وهمي او له ځانه جوړ کړي امام زمان ته دعاګانې کوي او مرسته ترې غواړي، د کربلا له خاورې د سجدې کودرې جوړوي، د دوی د قبرونو طواف کوي، د زیارتونو دروازې او زنځیرونه او د قبرونو پنجرې ئې ښکلوي؛ یا لکه بریلویان چې یوه ته د غوث الاعظم دستګیر نوم ورکوي، بل ته د ګنجبخش، پر قبرونو عرسونه جوړوي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه همغه عقیده لري چې مشرك مسیحیان ئې د عیسی علیه السلام په اړه لري. په دې آیت کې له

جعلي معبودانو بتان مراد نه دي، ځکه ویل شوي چې مشرکین به د قیامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې دغو جعلي معبودانو ته ګوته ونیسي او به وایي: دا همغه دي چې موږ له تا سره شریك کړي ول؛ او دوی به ووایي: تاسو دروغجن یئ، زموږ په اړه چې څه وایئ ټول دروغ دي. د دې معنی دا ده چې دوی بتان نه بلکه انسانان ول چې مشرکینو معبودان ترې جوړ کړي ول.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾

او کومه ورځ چې په هرې ډلې کې د دوی له منځه پر دوی یو ګواه راپاڅوو؛ او تا پر دغو خلکو د یوه ګواه په توګه راولو؛ او پرتا مو دا کتاب نازل کړی چې د هر څه لپاره څرګندوونکی دئ او د مسلمانانو لپاره لارښود، رحمت او زېری.

(۸۹)- په دې مبارك آیت د ښه پوهېدا لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:

- الله تعالی به د قیامت په ورځ د هر قوم او امت له منځه د دوی خپل خپل پیغمبر پر دوی د ګواه په توګه راوړاندې کړي؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم به پر خپل امت ګواه کړي. هر یو به ووایي چې دوی ته ئې الهي پیغام رسولی وو، حق ئې ورته څرګند کړی وو، د الله تعالی لارښود کتاب ئې د دوی مخې ته ایښی وو.

- دلته پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی قرآن د داسې کتاب په توګه معرفي شوی چې د دې عالم د هر څه بیانوونکی او د انسان ټولو پوښتنو ته ځواب ویونکی دئ، یعني هر څه ئې واضح کړي، سربېره پر دې هغه داسې لارښود کتاب دئ چې هر مسلمان ته سمه لار ښيي؛ دا کتاب د الله تعالی له لوري یوه ستره پېرزوینه ده، پر دې کتاب د تمسك له لارې د الله تعالی د رحمتونو دروازه د انسان په وړاندې پرانیستل کېږي، دا کتاب مسلمانانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي. دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا د دې خبرې معنی فقط همدا ده چې په دې کتاب کې د هر څه په اړه لارښووني شوې، هرې پوښتنې ته ئې ځواب ویلی، ټول حقائق ئې بیان کړي؟ د دې عالم توکي او اسرار خو بې انتهاء دي آیا دا ټول اسرار په قرآن کې راغلي؟ د انسان پوښتنې خو بې شمېره دي او ستر ستر کتابونه ترې جوړېږي؛ آیا د قرآن په دې واړه کتاب کې دې ټولو پوښتنو ته ځواب ویل شوی؟ او دا څنګه؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو: هو؛ د قرآن د دغه آیت او دې ته ورته نورو آیتونو وینا همدا ده، له دې پرته بل هر ځواب ناقص او د قرآن د دغو

ويناوو خلاف دئ، په قرآن کې د دې عالم په اړه ټول ضروري علوم او اړيني لارښووني زموږ مخې ته ايښودل شوي، په قرآن کې د هر هغه څه په اړه وضاحت شوی چې انسان ورته ضرورت لري، ځيني وضاحتونه دومره څرګند او ځلانده دي چې هر مخاطب پرې پوهېدی شي، په ځينو ئې د پوهې او بصيرت خاوندان پوهېدی شي، ځيني ئې داسې دي چې يوازې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تشريح او تبيين له لارې پرې پوهېدی شو، دا ځکه چې په قرآن کې د عالم د ځينو برخو په اړه وضاحتونه په مجمله توګه او اختصار او ايجاز سره راغلي او د ځينو په اړه په تفصيل سره. د ټولو په اړه تفصيلي او مشرح بحث داسې ستر او ضخيم کتاب ته ضرورت لري چې ډېرى انسانان به ئې له لوستلو هم عاجز وي. د قرآن د بيان اسلوب داسې دئ چې انسان د خپل فهم او بصيرت په اندازه ترې برخمن کېږي، لکه هغه باران چې هره شېله او خوړ د خپل ظرفيت په اندازه ترې ډکېږي، هر څومره چې انسان له دې کتاب سره مزيد آشنا کېږي؛ همدومره به د هغه پر ابعادو، اسرارو او رموزو پوهېږي. په دې مو بايد بشپړ يقين او باور وي چې دا کتاب هومره اسرار او رموز لري چې په دې ټول عالم کې دومره رموز نشته، دا چې الله تعالی فرمايي: قرآن (تبيانا لکل شئ) دئ؛ دا به مبالغه نه ګڼو؛ دا بېله خبره ده چې موږ له دې کتاب سره دومره نه يو آشنا شوي چې له هغه د هر څه د تبيين او پېژندني رڼا تر لاسه کړو، دا کتاب هومره جامع او له اسرارو ډك دئ چې په جنت کې به هم د تل لپاره په هغه کې تحقيق او څېړنه کوئ؛ خو انتهاء به نه مومي او د اسرارو د عميق بحر تل ته به ئې نشئ رسېدلی. دا دنيا او ستا محدود عمر خو پرېږده چې هيڅکله ورته کفايت نه کوي؛ په آخرت کې به هم ستا د بحث او څېړنې موضوع همدا کتاب وي چې تر پايه به د هغه اسرار او رموز نه ختمېږي.

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾

يقيناً چې الله د عدل، احسان او خپلوانو ته د ورکړې امر کوي؛ او له فحشاء، منکراتو او بغاوت ممانعت کوي؛ تاسو ته د دې لپاره وعظ کوي چې ښايي پند واخلئ.

(۹۰)- په دې مبارك آيت کې د الله تعالی اوامر او نواهي په شپږو برخو کې په دې توګه راخلاصه شوي:

- الله تعالی په دريو کارونو تاسو ګماري: عدل، احسان او له خپلوانو سره مرسته. دا درې لارښووني دومره جامع دي چې د انسان ټول ژوند او د ژوند ټول فکري، اعتقادي، اخلاقي او عملي ابعاد احتواء کوي، د انسان د ژوند هيڅ اړخ د دغو لارښوونو له دائرې بهر نه پاته کېږي.

● الله تعالی له دريو کارونو تاسو منعه کړي يئ: ۱- فحشاء؛ يعني هغه کارونه چې بدوالی ئې بربنډ وي او هر څوك ئې بد ګڼي او پر عمل کوونکي سربېره نورو ته هم د هغه بدي اغېزې سرايت کوي. ۲- منکر؛ يعني هغه بد او کرکجن کار چې د انسان سالم فطرت ترې کرکه کوي. ۳- بغاوت؛ د بل پر حقوقو تېری او د خپل رب له اطاعت سرغړاوی. دا درې نواهي هم داسې دي چې د انسان ټول ژوند احتواء کوي او ټول هغه بد او ناروا کارونه رانغاړي چې د الله تعالی د لارښوونو او نېکو کارونو خلاف دي.

---

وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او کله چې ژمنه کوئ نو پر الهي ژمنې وفا وکړئ او قسمونه د هغوی له ټينګښت وروسته مه ماتوئ؛ په داسې حال کې چې الله مو پر خپل ځان وکيل او ګواه نيولئ؛ يقيناً چې الله پر هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ. او د هغې ښځې په څېر مه کېږئ چې خپل ورېشلی تار ئې له مضبوطولو وروسته ټوټې ټوټې کړ. خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسيله مه ګرځوئ، په دې موخه چې يوه ډله تر بلې زياته ګټونکې شي. يقيناً چې الله تاسو پرې آزمويي؛ او يقيناً چې الله به هرومرو تاسو ته د قيامت په ورځ هغه څه څرګند کړي چې اختلاف مو په کې کولو.

---

(۹۱-۹۲)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني شوې:

● تاسو چې له الله تعالی سره کومې ژمنې کړې دي؛ که دا د ايمان راوړو په ترڅ کې ژمنې دي او که د ژوند په مختلفو پړاوونو کې او له کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال ژمنې؛ په ټولو دغو الهي ژمنو وفا وکړئ.

● د الله تعالی په نامه چې کوم قسمونه کوئ؛ که دا له الله تعالی سره د کوم تعهد په بڼه کې وي او که له کوم انسان سره؛ له ماتولو ئې ډډه وکړئ.

● يقيناً چې الله پر هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ؛ پوهېږي چې تاسو پر خپلو ژمنو په صادقانه توګه عمل کوئ که نه.

- د هغې شخې په څېر مه کېږئ چې خپل ورېشلی تار له مضبوطولو وروسته ټوټې ټوټې کړي؛ د قسمونو ماتول دې ته ورته کار دئ.
- خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسیله مه گرځوئ؛ په دې موخه چې یوه ډله تر بلې زیاته گټونکې شي؛ د کومې گټې تر لاسه کولو په موخه له خپلو قسمونو د غولولو وسیله او ذریعه مه جوړوئ.
- الله تعالی تاسو د خپلو ژمنو او قسمونو په ترڅ کې آزمويي؛ گوري چې څه کوئ، پر خپلو ژمنو عمل کوئ که نه او د خپلو قسمونو درناوی کوئ که نه.
- په دې پوه شئ چې الله تعالی به هرومرو تاسو ته د قیامت په ورځ هغه څه څرگند کړي چې اختلاف مو په کې کولو. که څوك د خپل باطل دریځ، ناسمې غوښتنې او غلطې ادعاء د صحیح ثابتولو لپاره له دروغجنو او غولوونکو قسمونو استفاده وکړي، د خپلې ډلې د غلطې تگلارې د سم او صحیح ثابتولو په موخه له قسمونو د غولوونکې وسیلې په توگه کار واخلي؛ باید پوه شي چې د قیامت په ورځ به الله تعالی ټول هغه حقائق څرگند کړي چې د هغوی په اړه خلك په ډلو ډلو وېشل شوي وو او یوه به د بل پړولو لپاره دروغجنو قسمونو ته پناه وړه.

وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن
يَشَآءُ ۚ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او که الله غوښتی نو تاسو به ئې واحد امت گرځولي وئ خو لیکن هغه څوك بې لارې کوي چې دی ئې وغواړي او هغه هدایتوي چې دی ئې وغواړي؛ او هرومرو به له هغه څه وپوښتی شئ چې تاسو کول.

(٩٣)- که الله تعالی غوښتی نو په خپله به ئې ستاسو تر منځ د اختلاف هیڅ مجال نه پرېښود، په ټولو قضایاوو کې به ستاسو نظر یو وو، متحد امت به ئې درنه جوړ کړی وو؛ خو داسې کار له الهي سنت او د انسان له فطرت سره اړخ نه لگوي، د الله تعالی سنت دا دئ چې ځینې د خپل مشیت مطابق هدایت کړي او ځینو ته د لارموندو توفیق ورنه کړي، هغه هدایتوي چې د هدایت کېدو وړتیا ولري او هغه بې لارې کوي چې په خپله په سمې لار د تلو اراده نه لري او په ځان کې ئې د دې وړتیا نه وي پیدا کړې. الله تعالی انسان ته دا اختیار ورکړي چې د هدایت او ضلالت له منځ یو غوره کړي، د الله تعالی توفیق د ده په انتخاب پورې تعلق نیسي، د همدې اختیار له امله انسان د خپلو کړنو مسئول دئ او پوښتنه به ترې کېږي، که دا واك او اختیار ئې نه وی په برخه شوی او د نورو بې اختیار مخلوقاتو په څېر وی نو الله تعالی به د خپلو کړنو پوښتنه نه ترې کوله؛ نو

ځکه د آيت په پای کې ويل شوي: هرومرو به له هغه څه وپوښتی شئ چې کوی ئې.

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ
بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ
ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٩٥﴾ مَا عِندَكُمۡ
يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسيله مه ګرځوئ چې په نتيجه کې ئې کوم قدم له مضبوطېدا وروسته وښويېږي؛ او د هغه څه له کبله د کړاو خوند وڅکئ چې د الله له لاري مو مخنيوی وکړ او ستر عذاب مو په برخه شي. او پر الهي ژمنو لږکی بيعه (قيمت) مه پېرئ؛ يقيناً هغه څه چې د الله په خوا کې دي درته غوره دي که پوهېږئ، هغه څه چې له تاسو سره دي ختمېږي او هغه څه چې له الله سره دي پاته کېدونکي دي؛ او هرومرو به هغو ته چې صبر ئې وکړ د دوی د هغه غوره عمل له مخي بدله ورکړو چې کاوو ئې.

(٩٤-٩٦)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني شوې:

- خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسيله مه ګرځوئ، داسي نه چې په دې کار سره د داسي چا د ښويېدا باعث شئ چې د ايمان په لوري يو ګام راوړاندي شوی؛ خو د دې پر ځای چې دلته ئې ګامونه مزيد مضبوط شي ستاسو د دغو دروغجنو قسمونو او ټګماريو په ليدو سره ئې پښې وښويي، بېرته د کفر لوري ته مخه کړي او له ځان سره ووايي: ما د ايمان د مدعيانو او کافرانو تر منځ کوم توپير ونه ليد، توپير ئې فقط دا وو چې هغوی په قسمونو سره خلك دوکه کول. په دې کار سره به تاسو له بد برخليك سره مخامخ او د الله تعالی په سخت عذاب اخته شئ؛ له دې کبله چې خلك مو د الله له لاري په شا کول.

- پر الهي ژمنو لږکی قيمت مه پېرئ، د هر څه لپاره چې قسمونه مات او خپلي ژمني تر پښو لاندي کړئ قليله او بې ارزښته قيمت ئې وګڼئ؛ او څه چې د خپلو قسمونو د درناوي او په خپلو ژمنو د ودرېدا له لاري د الله تعالی په خوا کې تر لاسه کوئ ډېر درته غوره دي که وپوهېږئ.

- هغه څه چې له تاسو سره دي ختمېږي او هغه څه چې له الله سره دي پاته کېدونکي دي.
- الله تعالی به هرومرو هغو ته چې صبر ئې وکړ، د نفس او شیطان وسوسو ته تسلیم نه شول، په خپلو ژمنو ټینګ پاته شول؛ د دوی د هغه غوره عمل له مخي بدله ورکړي چې دوی کاوو. یعني الله تعالی به د دوی بدله د هغه عمل له مخي ټاکي چې تر ټولو غوره وو.

---

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

چا چې نېك کار وکړ؛ که نارینه وي او که ښځینه؛ خو چې هغه مؤمن وي؛ نو پاکیزه ژوندون به ورپه برخه کړو او د دوی د هغه غوره عمل له مخي به بدله ورکړو چې کاوو ئې.

---

(۹۷)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې څوك نېك عملونه وکړي، که نارینه وي او که ښځینه؛ خو چې مؤمن وي؛ نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کې پاکیزه ژوندون ورپه برخه کړي؛ او الله تعالی به د دوی بدله د هغه عمل له مخي ټاکي چې تر ټولو غوره وو. له دې آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې ایمان او صالح عمل په پاکیزه ژوندون منتج کېږي، کوم څوك او کومه ټولنه چې له پاکیزه ژوندون محروم وي عوامل دې په خپلې عقیدې او عمل کې ولټوي.

---

فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾

نو کله چې قرآن لولې الله ته له رټل شوي شیطان پناه یوسه؛ یقیناً چې هغه داسي دئ چې پر هغو کسانو هیڅ سلطه نه لري چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. بې شکه چې د ده سلطه یوازې پر هغو ده چې له ده سره دوستي پالي او هغه چې د ده له کبله مشرکان شوي.

---

(۹۸-۱۰۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- کله چې قرآن لولې نو الله تعالی ته له رټل شوي شیطان پناه یوسه، هم په ژبه د ده

له شره له الله تعالی پناه غواړه او هم په زړه کې له ټولو هغو کړنو خپل برائت او بې زاري اعلانوه او الله تعالی ته پناه وړه چې شیطان د هغوی په سبب د الله تعالی له رحمت ورټل شو او هم د قرآن د تلاوت په دوران کې له داسې شیطاني وسوسو ځان ساته چې د قرآن د لارښوونو، وعد او وعید په اړه ئې ستا په زړه کې اچوي او شکوك او شبهات درته راولاړوي. باید د قرآن لوستل په صاف او شفاف ذهن سره پیل کړې، شخصي افکار او آراء لرې وغورځوه، د هغو آراءو لپاره د دلائلو موندلو لټه مه کوه چې ستا له هوس راولاړ شوي یا شیطان درته تلقین کړي؛ باید د یوه داسې طالب په توګه د قرآن په وړاندې ودرېږې چې د ضمیر او ذهن صفحه ئې له هر راز ګرد او غبار پاکه وي.

- په دې باور اوسه چې شیطان پر هغو کسانو هیڅ سلطه نه لري چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. دوی نشي بې لارې کولی او وسوسې ئې پر دوی اغېز نه لري.

- د ده سلطه یوازې پر هغو ده چې له ده سره دوستي پالي او هغه چې د خپل رب په اړه مشرك دي، شیطان ئې له الله تعالی سره شریك کړی. داسې خلك به د ده د وسوسو تر اغېز لاندې ځي او سمه لار به ورکوي.

---

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾

او کله چې یو آیت د بل پر ځای بدل کړو، په داسې حال کې چې الله پر هغه څه ښه پوه دئ چې نازلوي ئې؛ (هغوی) وایي: ته افتراء کوونکی یې؛ داسې نه ده؛ بلکې د دوی ډېری نه پوهېږي. ووایه: روح القدس هغه په حقه ستا د رب له لوري نازل کړی د دې لپاره چې هغه وګړي پرې مضبوط کړي چې ایمان ئې راوړی او مسلمانانو ته لارښوونه او زېری وي.

---

(۱۰۱-۱۰۲)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

که څه هم ځینو درنو مفسرینو دا وینا ناسخ او منسوخ آیتونو ته راجع کړې خو حقیقت دا دئ چې دلته د ناسخ او منسوخ آیتونو په اړه نه بلکې د هغو آیتونو تر منځ توپیرونو ته اشاره شوې چې د یوې موضوع په اړه خو په بېلابېلو الفاظو بحث کوي؛ دا ځکه چې دا سوره په مکه کې نازله شوې او هغه مهال د احکامو اړوند آیتونه نه وو نازل شوي او پر ناسخ او منسوخ آیتونو د مشرکینو د اعتراض سؤال نه راولاړېږي. دقیقه وینا دا ده چې په دې مبارك آیت کې د مشرکینو هغه اعتراض ته اشاره شوې چې د قرآن په ځینو

آيتونو ئې له دې كبله درلود چې له نورو اړوند او ورته آيتونو سره په الفاظو كې توپيرونه لري، د يوې موضوع په اړه په يوه آيت كې يو ډول الفاظ او د هغوى تركيب كارول شوى او پر همدې موضوع په بل آيت كې په نورو الفاظو بحث شوى؛ ويل ئې: كه دا آيتونه د الله تعالى له لوري وي نو نه به د يوې موضوع په اړه دوه ځلي او په بېلو بېلو الفاظو څه راتلل او نه به د آيتونو په تركيب كې څه توپير تر سترګو كېدو، داسې نه چې يو ځل په يوه آيت كې په مجمله توګه يوې موضوع ته اشاره كېږي او بيا په بل ځاى كې د همدې موضوع په اړه تفصيلي بحث په نورو الفاظو سره كېږي. مشركينو به پر دغو توپيرونو د اعتراض ګوته اېښوده او ويل به ئې چې دا آيتونه د الله تعالى له لوري نه دي نازل شوي بلكې محمد (عليه السلام) په خپله جوړ كړي!! د دوى په ځواب كې ويل شوي: د دوى دا بې بنسټه او غلط اعتراض د دوى د ناپوهۍ له كبله دئ، الله تعالى ښه پوهېږي چې مخكې ئې څه نازل كړي او وروسته څه نازلوي، دا تكرار او په بېلو بېلو الفاظو د يوې موضوع يادونه د دې لپاره ده چې مؤمنان ښه پرې پوه شي، د زړونو په تل كې ئې ځاى ونيسي، مزيد ډاډه او مطمئن شي، د ايمان لار ورته لازياته روښانه شي؛ دا خو د الله تعالى له لوري مؤمنانو ته زېرى دئ، د روښان او ځلاند مستقبل زېرى، يو په بل پسې، كله په يوه صيغه او كله په بله صيغه. دا د محمد عليه السلام خپله وينا نه بلكې د روح القدس (جبرئيل عليه السلام) په لاس رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لېږل شوى رښتينى الهي پيغام دئ. دلته جبرئيل عليه السلام د روح القدس (پاكه روح) په نامه يادول په خپله يو ظريف ټكي ته اشاره ده او هغه دا چې: د دې الهي پيغام هر جزء او هره فقره ښيي چې د دې حامل يوه پاكه روح ده، له هرراز ناولو تمايلاتو پاكه، له غرض او مرض خوندي، د نفس او هوس له غوښتنو او د شيطان له وسوسو برئ او پاكه روح؛ ووايئ: آيا په دې پيغام كې داسې څه په نظر درځي چې ښيي دا د كوم انسان له شخصي تمايلاتو او نفسي غوښتنو راټوكېدلى؟

---

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾

او يقيناً په دې پوهېږو چې دوى وايي: خبره له دې پرته بله نه ده چې يو انسان ئې ورزده كوي؛ دا په داسې حال كې چې د هغه چا ژبه غير عربي ده چې دوى ورته ګوته نيسي او دا خو ځرګنده عربي ده.

---

(۱۰۳)- دا مبارك آيت د معارضينو يوې بلې افتراء ته اشاره كوي او هغه دا چې ويل به ئې: محمد (عليه السلام) ته دا خبري بل څوك ورښيي، دا د مخكينيو كتابونو خبري دي چې ده له بل چا زده كړې دي، د داسې كسانو نومونه به ئې اخيستل چې عربان نه ول، ژبه ئې اعجمي (غير عربي) وه، د اهل كتاب د مذهبي مشرانو نومونه به ئې اخيستل، دا په داسې

حال کې چې نه د هغوی ژبه عربي وه او نه د تورات او انجیل ژبه؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم دوی ته په څرګندې عربي ژبې کې قرآن وړاندې کړی وو!! دا یوازې د عربو مشرکین نه ول چې د قرآن او رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه ئې دا افتراء کوله؛ ډېرو مستشرقینو دې ته ورته افتراءات کړي. که تاسو د هغو مستشرقینو کتابونه ولولئ چې د اسلام په اړه ئې د څېړنو او تحقیقاتو په نامه څه لیکلي؛ وبه ګورئ چې هر یوه ئې دا هڅه کړې چې په یوه او بل ډول دا ثابته کړي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له بایبل (تورات او انجیل) اقتباسات کړي!! دا افتراء د هغو خلکو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړولی شي چې نه ئې قرآن لوستی او نه بایبل؛ او د دې خبرې منل هم ورته ګران وي چې یو نالوستی انسان څنګه کولی شي د قرآن په څېر داسې بلیغ، جامع او اغېزناك کتاب وړاندې کړي چې د یوه ستر فکري، اخلاقي، اجتماعي او سیاسي انقلاب باعث شي او د منونکو شمېر ئې ملیاردونو ته ورسېږي!! ډېره حیرانوونکې او عجیبه ده چې دغو غرضي او مرضي مستشرقینو څنګه دا جسارت کړی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قرآن په اړه دا افتراء وکړي!! دا په داسې حال کې چې قرآن د بایبل په سلو کې لږ تر لږه د پنځه نوي ویناوو په قاطع او بشپړه توګه تردید کوي او پاته پنځمه سلنه ئې تصحیح کوي.
یو مهال ما هم داسې ګمان کاوو چې ښایي د قرآن او بایبل تر منځ به نژدې شباهتونه وي، بایبل به همغه تورات او انجیل وي چې پر موسی علیه السلام او عیسی علیه السلام نازل شوي، د همدغې غلطې انګېرنې له کبله مې پر هغو درنو مفسرینو اعتراض نه درلود چې د بایبل پر ځینو ویناوو ئې استناد کړی. خو کله چې ما په بایبل کې تحقیق پیل کړ او هغه مې د قرآن په څنګ کې کښېښود او ژورو توپیرونو ته ئې متوجه شوم؛ ومې لیدل چې قرآن په اصل کې د دې لپاره راغلی چې د دغه محرف بایبل خبرې تردید او تصحیح کړي، په دې هم پوه شوم چې الله تعالی هغه مهال نوی پیغمبر مبعوث کړی او نوی کتاب ئې رالېږلی چې د مخکیني کتاب هیڅ برخه روغه، سالمه او له تحریف او لاسوهنو خوندي نه ده پاته شوې او د مخکیني پیغمبر د دعوت ټولې اغېزې په بشپړه توګه له منځه تللې. د رسول الله صلی الله علیه و سلم د بعثت په مهال د اصلي تورات او انجیل هیڅ برخه روغه نه وه پاته. په دې حقیقت هغه څوك ښه پوهېږي چې یا بایبل په دقت او غور سره ولولي او له قرآن سره ئې مقایسه کړي او یا د بني اسرائیلو د تاریخ هغې برخې ولولي چې پر دې قوم د سختو بدو ورځو هغه پېښې ئې څېړلې چې په ترځ کې ئې د دوی ښارونه وران شوي، معبدونه ئې نسکور او له خاورو سره برابر شوي، ټول مذهبي کتابونه ئې سوزل شوي، د اسیرانو او غلامانو په توګه کله روم او یونان ته او کله فارس ته انتقال شوي، نه ئې د مذهب کومه نښه پاته شوې او نه ئې د تمدن. د تورات او انجیل موجودې عبراني نسخې له یوناني ژبې ژباړل شوې نسخې دي، اصلي عبراني نسخې ئې نشته؛ او دا ښیي چې په تورات او انجیل څه تېر شوي؟ حقیقت دا دئ چې اوسنی محرف بایبل د رومیانو په وینا او د بني اسرائیلو په ضد لیکل شوی، په دې بایبل کې د بني اسرائیلو د ټولو پیغمبرانو داسې

سپکاوی شوی او داسې بد بد تورونه پرې لګېدلي چې هيڅ مؤمن او شريف انسان ئې د ويلو جسارت نشي کولی. هيله ده بايبل د قرآن په رڼا کې کتاب ولولئ چې په دې حقيقت لازيات ښه پوه شئ.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا
يَفْتَرِى ٱلْكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٠٥﴾

يقيناً هغه چې د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي الله ئې لارښونه نه کوي او دوی ته دردناك عذاب دئ. يوازې هغه وګړي له خپلې خوا دروغ جوړوي چې د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي؛ او همدا دوی دروغجن دي.

---

(١٠٤-١٠٥)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

- څوك چې د الله تعالی په مقروء او مشهود آيتونو ايمان نه راوړي؛ د هدايت دروازې ئې په وړاندې تړل شوې پاته کېږي او الله تعالی دا توفيق نه ورکوي چې په حقائقو د پوهېدا سعادت ئې په برخه شي؛ دوی ته په دنيا او آخرت کې دردناك عذاب انتظار کوي.
- يوازې هغه وګړي له ځانه دروغ جوړوي چې د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي؛ او اصلي دروغجن وګړي همدا دوی دي. تاسو څنګه يو رښتيني انسان چې د الله تعالی پر آيتونو کلك او پوخ باور لري او تاسو ته مکرر بلنه درکوي چې د الله پر آيتونو ايمان راوړئ په دې تورنوئ چې دا قرآن ئې په دروغو له ځانه جوړ کړی؟!!

---

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَٰنِ
وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ
عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْءَاخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى
ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۖ
وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾

چا چې له خپل ايمان وروسته د الله په اړه کفر کړی؛ مګر هغه چې په زور اړ کړی شوی؛ په داسې حال کې چې زړه ئې پر ايمان ډاډه دئ. خو هغه چې کفر ته ئې سينه پرانيستې، نو پر دوی د الله له لوري غضب دئ او دوی ته ستر عذاب دئ. دا له دې کبله چې دوی د دنيا ژوند پر آخرت غوره وګڼلو او د دې لپاره چې الله دا کافر وګړي

نه هدايتوي. دا هغه وګړي دي چې الله د دوی پر زړونو، غوږونو او سترګو مهر لګولی او همدا دوی غافلان دي؛ شك نشته چې همدا دوی به په آخرت کې زیانمن وي.

(۱۰۶-۱۰۹)- د دې مبارکو آيتونو مهمي لارښووني دا دي:

- ځوك چې پر الله تعالی له ایمان راوړو وروسته د کفر لار غوره کړي، پرته له دې چې کفر ته اړ کړی شوی وي او چا داسي ځه ویلو او کولو ته اړ کړی وي چې انسان پرې کافر کېږي، په خپله خوښه او له جبر او اکراه پرته کافر شي؛ هغه نه چې د مجبورت له مخې په ژبه د کفر کلمه وايي خو زړه ئې پر ایمان ډاډه وي؛ بلکې هغه چې کفر ته ئې خپله سینه پرانيستې؛ او په خپل زړه کې ئې ځای ورکړی؛ پر دوی د الله له لوري غضب دئ او ستر عذاب به ئې په برخه وي.
- دوی له دې کبله خپل ایمان ته شا کړه او ببرته ئې د کفر په لوري مخه کړه چې د دنیا ژوند ئې پر آخرت غوره وګڼلو، عقل نه بلکې هوس ببولي، د دلیل نشتوالي نه بلکې د لذتونو نشتوالي او د ایمان په لیکه کې پلیتو دنیوي اغراضو ته د نه رسېدا له کبله د کفر په ګنده خو رنګيني غېږ کې پربوتي او خپل ایمان ئې په لته وهلی، عقل ئې ایمان ته بللي خو شهوت ئې کفر ته هڅولي، دوی د عقل وینا ته د رد ځواب ورکړی او د هوس د لمسون په لومي کې نښتي.
- د دې بله وجه دا ده چې دوی د کفر او انکار هغه پړاو ته رسېدلي او په دې ګنده ډنډ کې داسي نښتي چې د هدايت ټولي دروازې ئې په وړاندي تړل شوې دي، ټولي هغه وړتیاوي ئې له لاسه ورکړې دي چې له امله ئې الله تعالی د چا لارښوونه کوي او په سمي لار د تلو توفيق ورکوي. دوی داسي دي چې الله تعالی ئې پر زړونو، غوږونو او سترګو مهر لګولی، په خپلو مستیو کې غرق دي، د هوی او هوس ځپانده سیند په سر اخیستي، ضمیر ئې ویده دئ، وجدان ئې ځپل شوی، د دوی هر لوري ته چې کوم ځلانده نښې دي او د الله تعالی په لوري بلنه ورکوي؛ له ټولو غافل دي او د هغوی په اړه د غور او فکر مجال او فرصت نه لري.
- شك نشته چې همدا دوی به په آخرت کې زیانمن وي.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١١٠﴾

بیا یقیناً چې ستا رب د هغو وګړو په اړه له شك پرته ډېر مهربان بخښونکی دئ چې

په آزمېښتونو کې له اچول کېدو وروسته ئې هجرت کړی، بیا ئې جهاد او صبر کړی.

(۱۱۰)- دا مبارك آیت د مخکیني په تړاو موږ ته وایي: که یوه لوري ته داسې ضعیف النفس او د هوی او هوس غلامان گورئ چې د دنیوي مال او متاع لپاره د خپل ایمان سودا کوي، بل لوري ته داسې خلك گورئ چې د خپل ایمان په حکم هري قرباني ته چمتو دي، له سختو سختو آزموینو سره مخامخ کېږي، په عذابونو او کړاوونو آزمویل کېږي، هجرت ته اړ کېږي، له کور، کلي، مال، دولت، خپلوانو، دوستانو لاس اخیستو او پردیو ملکونو ته په تلو آزمویل کېږي، خو هغه د خپل ایمان لپاره دا ټول مني، نه یوازې هجرت کوي بلکې د خپل ایمان په حکم جهاد ته ملا تړي، غواړي د ایمان رڼا د نړۍ گوټ گوټ ته ورسوي او هغه خنډونه له منځه یوسي چې د دې رڼا د خورېدا مخه نیسي؛ او د هجرت او جهاد په دوران کې چې له کومو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېږي په صبر سره او په سړه سینه ئې زغمي.

الله تعالی د دغه مهاجر، مجاهد او صابر مؤمن په اړه له شك پرته ډېر ډېر مهربان بخښونکی دئ، نه یوازې د ده له اشتباهاتو، قصور او خطأگانو تېرېږي او بخښنه ورته کوي بلکې د خپل پراخ رحمت سیوری پرې غوړوي.

﴿يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١١١﴾﴾

هغه ورځ چې هر څوك به په داسې حال کې راشي چې له ځان د دفاع لپاره به مجادله کوي او هر چا ته به هغه څه په بشپړه توگه ورکړی شي چې کړي ئې وو او پر دوی به ظلم نه کېږي.

(۱۱۱)- داسې ورځ راتلونکې ده چې هر څوك به په داسې حال کې د الله تعالی په وړاندې حاضر شي چې له ځان پرته به بل مدافع نه لري، بل څوك به ئې نه یوازې مرسته نشي کولی بلکې له ده به د دفاع کولو او د ده په گټه د څه ویلو مجال او فرصت هم نه لري، هر څوك به په خپله له ځان دفاع کوي، دا دفاع او مجادله به هیڅ گټه نشي وررسولی او د ده سزا به نشي راکمولی، هر چا ته به هغه څه په بشپړه توگه ورکړی شي چې کړي ئې وو او پر دوی به هیڅ ظلم نه کېږي.

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ

يَصۡنَعُونَ ﴿١١٢﴾

او الله د هغه کلي مثال بیان کړ چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځای تازه او پرېمانه ورته راتو؛ خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه؛ نو الله د لوږي او وېري په جامو د پټېدو خوند وروڅاکو؛ د هغه څه په سبب چې دوی کول.

(۱۱۲)- دلته الله تعالی د یوه ښکلي مثال په ترڅ کې یو ستر حقیقت انځور کړی او یوه جامع لارښوونه ئې زموږ په وړاندې ایښې؛ دا حقیقت چې کله یو قوم د الله تعالی د نعمتونو ناسپاسي وکړي، د نعمتونو د شکر اداء کولو پر ځای د منعم په وړاندې د بغاوت لار غوره کړي نو له دوو سترو مصیبتونو سره مخامخ شي، دوه ستر نعمتونه ترې واخیستل شي: د (پراخ رزق) نعمت او د (امن نعمت). په بدل کې ئې (لوږه) او (وېره) خپل تور وزر پرې وغوړوي. په پورتني مثال کې داسي کلی او کلیوال ئې انځور شوي چې په هغه کې امنیت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان؛ خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه؛ چې د دې له کبله لومړی (فقر) پرې مسلط شو او بیا (خوف او وېري) خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

په دې مبارك آیت کې د انساني ټولني دوو سترو سترو آفتونو ته اشاره شوې: (لوږه او وېره) چې دواړه ئې څنگ په څنگ او یو وخت راځي. کله ئې یو مخکې راشي او لاره بل ته پرانیزي او کله ئې بل، کله یو وځي او بل له ځان سره بیايي او کله ئې بل، کله گورو چې وېره او بې امني پر ټولني خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم اقتصادي فعالیتونه متوقف شي، اقتصادي تأسیسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواد ووځي، خپلې شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي زمکې شاړې او بائر پاته شي، فابریکې تخریب شي، بزگر خپل بېل لرې واچوي او کارگر خپل څټك او ټوپك ته لاس کړي، جگړه ئې کسب او پېشه شي او په دې ترتیب فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي او خپل سیوری پرې وغوړوي؛ او کله بیا گورو چې لومړی فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي، غیرعادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولني مسلط شي، د ټولني ثروت او شتمنۍ د محدود شمېر بډایانو په لاس کې پرېوځي، د ټولني اکثریت له فقر او محرومیت سره مخامخ شي؛ کله چې د ټولني اکثریت دا گوري چې پر ټولني د مسلط ظالمانه نظام تر سیوري لاندي هیڅکله آرام او سوکاله ژوند نه شي تر لاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نه شي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محرومیت کې ژوند کوي؛ ناچار د نورو لارو په لټه کې کېږي، د خپلې بقاء لار، د دې نظام د نسکورولو لار، د هغو زندانونو د ړنگولو او د هغو زنځیرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقاء تضمینوي، د جنگ او مسلحانه قیام لار. همدا راز په ټولني کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بیع د جنگیالیو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جگړو

له لارې خپل اهداف تر لاسه کړي او خپله لويې او برلاسي پر نورو ومني. قرآن په دې آيت کې امن او اطمئنان د رزق او روزي تر وفرت او کثرت مخکې يادوي د قريش په سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه يادوي او ورپسې له وېرې او خوف نجات. تفصيل ئې د قريش د سورې په تفسير کې ولولئ.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾

او يقيناً چې دوی ته د دوی له منځ يو پيغمبر ورغی؛ او هغه ئې تکذيب کړ؛ نو ځکه په داسې حال کې عذاب ونيول چې ظالمان ول.

(١١٣)- دغو مخکينيو ولسونو ته خپل خپل پيغمبران ورغلل خو هغوی تکذيب کړل؛ نو ځکه په داسې حال کې په الهي عذاب اخته شول چې ظالمان ول، هم ئې د پيغمبرانو د تکذيب په اړه ظلم او تېری کولو او هم په خپل چلن کې ظالمان ول.

فَكُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَـٰلًا طَيِّبًا وَٱشْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ
تَعْبُدُونَ ﴿١١٤﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ
ٱللَّهِ بِهِۦ ۖ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا۟
لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَـٰذَا حَلَـٰلٌ وَهَـٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ
ٱلْكَذِبَ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾ مَتَـٰعٌ قَلِيلٌ
وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ۖ
وَمَا ظَلَمْنَـٰهُمْ وَلَـٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا۟
ٱلسُّوٓءَ بِجَهَـٰلَةٍ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا
لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

نو هغه حلال او پاك رزق وخورئ چې الله درروزي کړی؛ او د الله د نعمت شکروکړئ که په رښتينې توګه د هغه عبادت کوئ. يقيناً خبره يوازې دا ده چې پر تاسو ئې مړژګه، وينه، د خوګ غوښه او هغه څه حرام کړي چې د غير الله نوم پرې اخيستل کېږي؛ نو که څوك مضطر شو په داسې حال کې چې نه بغاوت کوونکی وي او

نه تېرى كوونكى؛ نو يقيناً چې الله مهربان بخښونكى دئ. او د هغه څه په اړه دروغ مه وايئ چې ستاسو ژبې ئې څرنګوالى بيانوي؛ چې دا حلال دئ او دا حرام دئ؛ چې په دې توګه پر الله په درواغو له ځانه افتراء وكړئ؛ يقيناً هغه چې پر الله دروغجنه افتراء كوي فلاح (بريا) نشي موندلى. (حاصل ئې) يوه قليله متاع ده او دوى ته دردناك عذاب دئ؛ او پر هغو چې يهودان شوي وو هغه څه مو حرام كړل چې مخكې مو تاته بيان كړل؛ او موږ ظلم نه دئ پرې كړى بلكې دوى پر خپلو ځانونو ظلم كاوو. يقيناً چې ستا رب د هغو وګړو په اړه چې په ناپوهۍ سره ئې بد كار كړې، بيا ئې له دې وروسته توبه كړې او سمونه ئې كړې (خپل عمل ئې اصلاح كړى)؛ يقيناً چې ستا رب تر دې وروسته حتماً ډېر مهربان بخښونكې دئ.

(۱۱٤-۱۲۰)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- هغه حلال او پاك رزق وخورئ چې الله درروزي كړى او د الله د نعمت شكر وكړئ كه په رښتينې توګه د هغه عبادت كوئ. د خپل رب د رښتيني عبادت مقتضى دا ده چې حلال او پاكيزه رزق وخورئ، د (حرام) او (ګنده او ناپاك) رزق له خوړلو ډډه وكړئ او دا چې د الله تعالى د نعمتونو شكر پر ځاى كړئ. له الهي نعمتونو د استفادې په مهال هم د هغه د احسان مرهون وئ او د حمد او شكر له جذبې مو زړه ډك وي او هم دا نعمتونه په هغه توګه وكاروئ چې ستاسو منعم پرې راضي كېږي.

- الله تعالى پر تاسو مړژګه، وينه، د خوګ غوښه او هغه څه حرام كړي چې د ذبحې پر مهال ئې د غير الله نوم پرې اخيستل كېږي، خو كه څوك مضطر شو؛ په داسې حال كې چې نه بغاوت كوونكى وي او نه تېرى كوونكى، نه ئې د الله تعالى له حكم د بغاوت او سرغړاوي په توګه خوري او نه د خپلې اړتيا له حده زيات خوري؛ نو يقيناً چې الله تعالى مهربان بخښونكى دئ؛ مضطر ته ئې د دې حرام خوراك اجازه وركړې.

- د خوراكي توكو په اړه دروغجني او له خپل ځان جوړې فتوى‌ګانې مه وركوئ، له دې ډډه وكړئ چې په خپل سر او په دروغو ووايئ: دا حلال دئ او دا حرام دئ. دا د الله تعالى په شأن كې افتراء ده. هغه څوك به هيڅكله بريالى نشي او د الله تعالى له عذاب به ونه ژغورل شي چې پر الله تعالى دروغجنه افتراء كوي. د دې افتراء پايله به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې يوه قليله متاع ئې په برخه شي، يا يو نس خوراك، يا د خپلې دروغجنې فتوى كومه ذليله اجوره، د كوم حاكم او واكمن له لوري كوم شاباسى، كومه چپنه، كومه پګړۍ؛ او په پاى كې د الله تعالى له لوري دردناك عذاب.

- د الله تعالى له لوري چې پر يهودانو څه حرام شوي وو بيان ئې تر دې وړاندې راغلى، هغه د دوى د ظلمونو سزا وه، الله تعالى پر دوى ظلم نه دئ كړى بلكې دوى پر خپلو

ځانونو ظلم کاوو.

● ځوك چې په ناپوهۍ سره بد کار وکړي، بیا له خپلې غلطۍ وروسته توبه وکړي او خپل غلط کار جبران کړي، خپل غلط کار اصلاح کړي؛ یقیناً چې له داسې چا سره ستا د رب معامله د بخښنې او پېرزوینې معامله ده؛ دا ځکه چې هغه ډېر مهربان بخښونکی دئ.

---

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا
لِّأَنْعُمِهِ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً
وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ
حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾

یقیناً چې ابراهیم (په یوازې سر) یو امت وو، الله ته مطیع، حق ته یو مخیز مائل او داسې نه وو چې له مشرکینو شي، د نعمتونو ئې شاکر؛ غوره ئې کړ او مستقیمې لارې ته ئې هدایت کړ؛ او په دنیا کې مو ښېګڼه ورپه برخه کړه او هغه به په آخرت کې حتماً د صالحانو په ډلې کې وي. بیا مو تا ته وحې وکړه چې د حنیف ابراهیم د ملت متابعت وکړه او هغه له مشرکینو نه وو.

---

(۱۲۰-۱۲۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

● دلته ویل شوي چې ابراهیم علیه السلام په یوازې سر یو امت وو؛ یا په دې معنی چې د یوه ستر امت بنسټ ئې کښېښود، د ده لار د یوه لوی امت لار شوه؛ او یا په دې معنی چې دومره ستر ستر کارونه ئې وکړل چې یو امت ئې له عهدې وتلی شي.

● ابراهیم علیه السلام الله تعالی ته مطیع وو، حق ته یو مخیز مائل وو، دې ته چمتو نه وو چې د مشرکینو په څنګ کې ودرېږي او د دوی له ډلې شي. د خپل رب د نعمتونو په وړاندې شاکر وو، الله تعالی د سترو سترو کارونو لپاره غوره کړی وو، د یوه موحد امت د باني او لاربښود په توګه غوره شوی وو، بیت الله د ده په لاس جوړه شوه، الله تعالی مستقیمې لارې ته هدایت کړ، په دنیا کې ئې ښېګڼه ورپه برخه کړه، ګڼ شمېر پیغمبران د ده په اولاد کې مبعوث شول، تر قیامت به د نړۍ موحدین پر ده درود وایي، په آخرت کې به د صالحانو په ډلې کې وي.

● رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده له لارې اسلامي امت ته ویل شوي چې د ابراهیم د ملت متابعت وکړي؛ لکه چې هغه په هیڅ څه کې د مشرکینو په څېر نه وو؛ تاسو به هم له شرکي عقائدو ځان لرې ساتئ.

- دلته د ابراهيم عليه السلام په ارتباط دا ارشادات د دې لپاره راغلي چې له يوې خوا معترضينو ته ځواب ورکړی شي چې ويل ئې: څنګه ومنو چې محمد (عليه السلام) د الله له لوري د پيغمبر په توګه غوره شوی او قرآن د الله له لوري راغلی؛ حال دا چې د ده دين له مخکينيو سره توپير لري، د ده په دين کې ډېر داسي څه مومو چې د حلالو اطلاق پرې شوی خو همدا شيان په مخکينيو اديانو کې حرام وو؟ دوی ته تر دې ورﺍندي وويل شول چې پر يهودانو حرام شوي ځيني شيان د دوی لپاره يوه سزا وه، دوی په خپله دا شيان حرام کړي وو، د محمد عليه السلام دين همغه د ابراهيم عليه السلام او نورو پيغمبرانو دين دئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې مأمور شوی چې د ابراهيم عليه السلام د ملت او مذهب متابعت وکړي. له بلي خوا قريشو ته ويل شوي چې تاسو هسي ځان ابراهيم عليه السلام ته منسوبوئ؛ ابراهيم عليه السلام له شرك او مشركينو بې زار وو، هغه حنيف او موحد وو، تاسو په شرك کې غرق يئ، نه مو عقائد د ابراهيم عليه السلام په څېر دي او نه مو اخلاق او عمل د هغه په څېر.

---

إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبۡتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

يقيناً چې سبت (شنبه او په هغې پوري تړلي احکام) پر هغو (لازم) ګرځول شوی وو چې اختلاف ئې کړی وو؛ او يقيناً چې ستا رب به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

---

(۱۲٤)- په دې ځای کې د سبت د ورځې يادونه ښايي د دې لپاره راغلې وي چې دا هم د معاندينو اعتراض وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ولې د سبت (شنبه) ورځې هغه ډول درناوی نه کوي چې يهودان ئې درناوی کوي او ولې له هغو کارونو ډډه نه کوي چې يهودان په دې ورځ ترې ډډه کوي؟ سره له دې چې وايي: زما دين همغه دين دئ چې د ابراهيم، موسی او عيسی عليهم السلام دين وو!! دوی ته په ځواب کې ويل شوي چې دا ورځ او اړوند احکام ئې د ځينو خاصو او ځانګړو عواملو له کبله پر دوی لازم شوي وو، ستر عامل ئې د دوی اختلاف وو. د همدې لپاره د آيت په پای کې ويل شوي چې ستا رب به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

---

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

د خپل رب لارې ته په حکمت او نېکې موعظې سره بلنه ورکړه؛ او په داسې توګه مجادله ورسره کوه چې تر ټولو غوره وي. یقیناً چې ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چې د ده له لارې تېروتي او هغه پر هدایت شوو هم ښه پوه دئ.

(۱۲۵)- په دې مبارك آیت کې مؤمن داعي ته څو مهمې لارښوونې شوې:

- مخاطب ته په حکمت سره بلنه ورکړه چې ستا د رب په لارې تلو ته چمتو شي، ستا بلنه باید حکیمانه وي، د مخاطب حالت ته په پام سره، په داسې الفاظو چې هغه ته د فهم وړ وي، په داسې توګه چې د هغه زړه ته لار ومومي او د زړه دروازه ئې ورته پرانیستل شي، په مناسب وخت او مناسب ځای او حالت کې هغه ته بلنه ورکړه، باید متوجه وې چې ستا بلنه په هغه درنه تمامه نشي، حساسیت ئې تحریك نشي او تا ته د رقیب او حریف په سترګه ونه ګوري، داسې ونه انګېرې چې ته ځان تر ده لوړ ګڼې او هغه ته د حقارت په سترګه ګورې او موخه دې یوازې دا ده چې هغه پړ کړې.

- ستا بلنه باید د یوې نېکې موعظې بڼه ولري، مخاطب داسې احساس کړي چې ته ئې خواخوږی یې، د ده په اړه زړه سوی لرې، د ده د خیر، سعادت او فلاح تلوسه لرې. ستا په الفاظو او لهجې کې باید د یوه دردمن زړه جذبه او غږ احساس کړي. که مجادلې ته اړ شوې او د مخاطب له لورې پوښتنو سره مخامخ شوې نو په داسې توګه مجادله ورسره کوه چې تر ټولو غوره وي، په ښکلې او معقوله توګه ئې پوښتنو ته ځواب ووایه، له مجادلې ستا موخه او هدف باید مخاطب قانع کول او د هغه تشویشونه رفع کول او پوښتنې ځوابول وي نه د هغه پرځول، پړول او خړول. د یوه حریف او رقیب په سترګه مه ورته ګوره، داسې الفاظ مه کاروه چې یو غصه ناك انسان ئې د خپل دښمن په ضد کاروي.

- د هیڅ مخاطب له هدایت مه مأیوس کېږه، د هیڅ مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چې هغه داسې لار ورکی دئ چې د هدایت امکان ئې نشته. د مخاطب په اړه داسې پرېکړه ستا د لارې خنډ ګرځي او له دعوت دې لاس اخیستو ته اړباسي، دا پرېکړه الله تعالی ته پرېږده، یقیناً چې ستا رب لار ورکي او هدایت کېدونکي ښه پېژني، که الله تعالی د لار ورکو له پېژندو سره سره پیغمبران ورلېږي او د دوی په لاس ئې سمې لارې ته بلي نو ته هم د دوی له دعوت او بلنې لاس مه اخله.

- ځینې بې حکمت داعیان دغو الهي لارښوونو ته له پام پرته د دعوت داسې اسلوب غوره کوي چې دین ته د ګټې رسولو پر ځای تاوان رسوي، د دې پر ځای چې خلك دین ته راوبلي له دین ئې متنفر کوي، د دې پر ځای چې کافر د قرآن لوستلو ته وهڅوي او د دین په حقیقت د پوهېدا هڅې ته ئې چمتو کړي هغه له دین سره سختې دښمنۍ ته هڅوي، هر کافر ته د محارب دښمن په سترګه ګوري، ګمان کوي چې د هر کافر په وړاندې شدت، غضب، توندوالی او تریخوالی د ثواب کار دئ او ګواکې الله تعالی او د هغه رسول موږ پر

همدې ګمارلې يو!! حال دا چي حقيقت په بشپړه توګه د دې خلاف دئ. برنی آيت ښيي چي په دې اړه الهي لارښوونه څنګه ده؛ د اسلام لارښوونه دا ده چي موږ خپل مخاطبين طبقه بندي کړو، محارب کافر، غير محارب کافر، د محاربو کافرانو زوړ، ووړ، ښځه، راهب، هغه کافر چي زموږ مخاطب دئ او اسلام ته ئې رابلو، هغه کافر چي له فکري پلوه يا د خپلوۍ له پلوه تر نورو موږ ته رانژدې دئ، هغه کافر چي له موږ سره د جنګېدو اراده نه لري، نه غواړي په هغو جګړو کې برخه واخلي چي د ده قوم زموږ په ضد پيل کړې؛ د دې ټولو تر منځ بايد توپير وکړو، له هر يوه سره زموږ چلن بايد له بل توپير ولري. څوك چي له ټولو سره يو شان چلن کوي او ګمان کوي چي اسلام موږ ته د دوی په ضد د تشدد امر کړی؛ سخته اشتباه کوي. د قرآن لارښوونه دا ده چي د ځينو په اړه به مضبوط دريځ لرو، د دوی په اړه به نه زموږ په تعامل کې نرموالی وي، نه په لهجې کې او نه په پيغامونو کې، د ځينو په اړه به هم زموږ تعامل په نرمښت ولاړ وي او هم زموږ لهجه خوږه او نرمه، هغه ته د ورور، دوست، محترم، د قدر وړ، ملګري، ګران زوی،... خطاب کولی شو، هغه مخاطب کافر ته چي اسلام ته ئې رابلو حتماً بايد له داسي مينه ناکو الفاظو کار واخلو، قرآن فرمايي چي زموږ پيغمبر رحمة للعلمين دئ، دا هسي نوم نه دئ، دا د عالمينو سره د رسول الله صلی الله عليه و سلم او د هغه د امت د چلن څرنګوالی موږ ته انځوروي؛ او لارښوونه راته کوي چي ستاسو دعوت بايد حکيمانه او پر مهربانۍ او رحمت ولاړ وي، د موعظې او پند بڼه ولري او ستاسو مجادله بايد په ډېره غوره طريقه او خوږو او مؤدبانه الفاظو سره وي. څوك چي ګمان کوي رسول الله صلی الله عليه و سلم نه د کافرانو د سلام ځواب په ښکلو او نرمو الفاظو ورکړی او نه ئې له دوی سره د مخامخېدو په دوران کې سلام ته ورته الفاظ ويلی؛ سخته اشتباه کوي. رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل چلن کې هومره خوږ او مهربان وو چي ډېر او حتی سخت سخت دښمنان ئې يوازې په همدې مؤدبانه او محترمانه چلن سره مسلمانان شوي. رسول الله صلی الله عليه و سلم چي به کله کوم مجلس ته ننوتو نو اکثراً به ئې درې ځلي سلام ويلو، لومړی سلام له ننوتلو سره سم، بيا ښي او کيڼ لوري ناستو خلکو ته مخ اړول او سلام اچول. د يوه روايت له مخي کافر ته د سلام لفظ کارول صحيح نه دي ګڼل شوي. که دا روايت صحيح ومنو نو يوازې د دغه لفظ له کارولو به ډډه کوو او پر ځای به ئې نور مناسب او ښکلي الفاظ کاروو، دې ته مو هم بايد پام وي چي کله څوك موږ ته ووايي: السلام عليکم؛ او موږ يوازې دا ورته ووايو: وعليکم، نو دا په خپله هغه ته د سلام د کلمې کارول او د سلامتيا دعاء ګڼل کېږي.

- قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي کله څوك تاسو ته هرکلی وايي، سلام درباندې اچوي، کومه تحيه وايي؛ نو د ده تر الفاظو غوره الفاظ ورته ووايئ، لږ تر لږه د ده الفاظ وکاروئ:

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾﴾ النساء:٨٦

او که کله په کوم ښه سلام پر تاسو سلام وویل شو، نو یا تر دې غوره سلام ووایئ او یا همغه وروګرځوئ. بې شکه چي الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

یعني د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې؛ ځواب به یا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او یا به همدغه کلمات په ځواب کي وایئ. په دې پوه شئ چي الله تعالی حسیب دئ له بنده سره په هر څه کي حساب کوي.

نا مناسبه ئې مه ګڼئ چي دلته هغه قصه ستاسو مخي ته ږدم چي د یوه جاهل مبلغ په اړه ده، د داؤد د اقتدار په دوران کي او هغه مهال چي زه د دولت تر تعقیب لاندي وم، د کابل شمال کي د فرزې ولسوالۍ په یوې غرنۍ سیمي کي اوسېدم، د اختر لمانځه لپاره جومات ته ولاړو، خطیب وینا پیل کړه، داسي ناپرېتي، کچه او بې خونده خبري ئې له خولې وتلې چي له بازاري سړي سره هم نه ښایي، داسي د اخلاق او عفت خلاف خبري ئې کولې چي اورېدل ئې ګران وو، دومره ورته بې حوصلې شوم چي بې اختیاره مي لاسونه اوچت او دا دعاء مي سوکه په ژبه راغله: اې خدایه! خپل عزیز دین د دغو ذلیلو له منګولو وژغوره.

د قرآن لارښوونې دا دي چي له محارب دښمن سره د نښتو په دوران کي باید قاطع او جدي وو، دښمن ته مو عملي ځواب تونډ، تېز او پرېکنده وي، نه سنګر پرېږدو، نه تېښته وکړو او نه تسلیم شو، تر پایه وجنګېږو، په خپله وژل کېدو ته چمتو وو او د دښمن په وژلو صرفه ونه کړو، کله چي له دښمن سره معاهده کوو نو پر خپلو ژمنو به صادقانه عمل کوو او له غدر او خیانت به ډډه کوو، کله چي له دوی سره مجادلې ته اړ کېږو باید په غوره توګه استدلال وکړو، نه مو تندی تریو وي او نه الفاظ سخت، رکیك، نامناسب او غضبناك؛ او کله چي هغوی اسلام ته رابلو باید د یوه زړه سواند او حکیم دعوتګر او واعظ په څېر عمل وکړو، په دې پړاو کي کولی شو ټول ښکلي، زړه راښکونکي او له مهربانۍ ډك الفاظ وکاروو. له هر هغه حرکت او لفظ باید ډډه وکړو چي د مخاطب حساسیت پاروي. زموږ رؤف او زړه سواند پیغمبر هغه مهال چي د یوه یهودي جنازه ئې مخي ته تېرېده د درناوي یا همدردي ښودلو لپاره ودرېدو؛ او د هغه چا په ځواب کي چي دا کار ورته عجیب وبرېښېدو او پوښتنه ئې وکړه؛ وفرمایل: یو انسان دئ!

---

﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا۟ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا

يَمۡكُرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

او كه تېرى درباندي وشو (وځورول شوئ) نو همغسي تېرى پرې وكړئ چي پر تاسو شوى؛ او كه صبر وكړئ دا يقيناً صابرانو ته غوره دئ. او صبر وكړه؛ او صبر دي نه دئ مگر د الله په توفيق سره؛ او پر دوى مه غمجن كېږه؛ او له هغو پټو تدبيرونو ئې مه زړه تنگى كېږه چي دوى ئې كوي. يقيناً چي الله له هغو سره مل دئ چي تقوى (ځان ساتنه) ئې وكړه او هغه چي محسنين (احسان كوونكي) دي.

---

(۱۲۶-۱۲۸)- دا مبارك آيتونه د مخكينۍ موضوع په اړه مزيد لارښووني زموږ په وړاندي ږدي او يوه داعي ته څو نوري ارزښتناكې سپارښتني كوي:

● كه د دعوت او مجادلې په دوران كي د مخاطب له لوري وځورول شوئ، داسي څه ئې درته وويل چي تاسو پرې وځورېږئ؛ نو يا خو صبر وكړئ، بالمثله ځواب ئې مه وركوئ، بده خبره ئې وزغمئ، دا كار درته غوره دئ، د نتائجو له پلوه هم او د الله تعالى په خوا كي د ثواب له پلوه هم؛ او كه ځواب وركوئ نو يوازي بالمثله ځواب وركړئ، همغه څه ورته ووايئ چي مخاطب درته ويلي، نه تر هغه زيات. دا په هغه صورت كي چي د صبر او زغم ماده مو كمزورې وي، د داسي كمزورۍ په حالت كي د دې رخصت دركړى شوى؛ خو د عزيمت كار دا دئ چي صبر وكړئ.

● الله تعالى تاسو ته د صبر سپارښتنه كوي، د دعوت په شمول په ټولو چارو كي، خو د صبر دا ښكلى او الله تعالى ته مقبول صفت د هغه چا په برخه كېږي چي الهي توفيق ئې د لاري مل شي، هر څومره چي انسان الله تعالى ته نژدې او مقرب وي، د الله تعالى پېرزويني ئې په برخه وي او الله تعالى ئې مل او مرستندوى وي؛ همدومره به صابر او د لوى زغم خاوند وي.

● ستا د دعوت، زړه سوي، شفقت او حكيمانه بلني په وړاندي د مخاطب بد غبرگون، ناسم چلن، تريو تندى، بده وينا او پر جهالت او ناپوهۍ ولاړ دريځ دي تا غمجن نه كړي؛ او د دعوت په كار كي ستا شور، شوق او نشاط دي كمزورى او كمرنگى نه كړي.

● د دښمن له پټو تدبيرونو مه زړه تنگى كېږه، داسي نه چي د دوى بد چلن او شيطاني تدبيرونه ستا حوصله كمزورې كړي او داسي كار ته دي وهڅوي چي له بې صبرۍ نشأت كوي، ډاډه اوسه چي الله تعالى به د دوى ټول تدبيرونه شنډوي.

● يقيناً چي الله له هغو سره مل دئ چي تقوى (ځان ساتنه) وكړي، له هغو ناسمو كارونو ډډه وكړي چي په پورتنيو آيتونو كي ورته اشاره وشوه: له بې صبرۍ، زړه تنگۍ، غمجن كېدو، د دعوت په دوران كي له داسي ناسم چلن چي د حكمت، خوږې موعظې او

غوره مجادلې خلاف وي، د تودني او غضبناکې لهجې له کارولو؛ دلته تقوی په همدې معنی راغلې. او الله تعالی له هغو سره مل دئ چې محسنين (احسان کوونکي) وي: د مخاطب د بد چلن په وړاندې نېك چلن کوي، د بدي وينا ځواب ئې په نېکې وينا سره ورکوي، تريو تندی ئې په ورين تندي ځوابوي.

د سورې وروستی آيت که له يوه پلوه د دې سورې د يوې درېيمې برخې ښکلې تتمه ده، له بله پلوه د سورې له لومړي آيت سره ډېر موزون تړاو لري؛ په لومړي آيت کې دې ته اشاره شوې چې قريشو جدل پيل کړی، د مجادلې لويه موضوع ئې دا ده چې وايي: هغه عذاب چېري دئ چې ته مو پرې ګواښې؟!! دا آيت د مجادلې په اړه د الهي لارښوونو وروستی آيت دئ او په ترڅ کې ئې مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی چې که د مجادلو او مناقشو په دوران کې د (تقوی) او (احسان) لمن کلکه ونيسئ د الله تعالی معيت او تأييد به تر لاسه کړئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الإسراء

## د سورې پېژندنه:

دا مبارکه سوره دوه مشهور نومونه لري: الإسراء او بني اسرائيل؛ چې له لومړي او څلورم آيتونو اخيستل شوي، دا دواړه د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلکې يوازې نومونه دي، يو سل يولس آيتونه لري، د رواياتو له مخې دا سوره د بعثت يولسم کال په پای يا د دولسم کال په لومړيو کې نازله شوې، که څه هم ځيني په دې باور دي چې ځيني آيتونه ئې په مدينه کې نازل شوي، ۲٦، ۳۲، ۳۳، ۵۷ او له ۷۳ تر ۸۰ آيتونه مدني بولي؛ خو جمهور مفسرين ئې کاملاً مکي سوره ګڼي. له لومړي آيت پرته چې په بصير پای ته رسېدلی د نورو ټولو آيتونو فواصل ئې د دوهم او درېيم آيتونو (وکيلاً) او (شکوراً) ته ورته دي.

دا مبارکه سوره په داسي آيت پيل شوې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج سفر ئې په لنډه توګه څېړلی؛ وايي: پاکې ده هغه ذات ته چې يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام تر مسجد الاقصی پوري بوت؛ د دې لپاره چې ځيني آيتونه وروښيي. د همدې سورې په شپېتم آيت کې ويل شوي چې دا يوه رؤيا او روحاني سفر وو. د لومړي آيت له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چې په دې روحاني سفر کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د قرآن د ځينو آيتونو حقيقت ورښودل شوی. د قرآن يوه برخه آيتونه د داسي شيانو په اړه دي چې په سترګو نه ليدل کېږي؛ لکه جنت، دوزخ، آسمانونه، فرشتې، تېر شوي پيغمبران او د هر يوه مقام او منزلت؛ الله تعالی د دغه روحاني سفر په ترځ کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هم أوه آسمانونه وښودل، هم فرشتې د جبرائيل عليه السلام په شمول، هم جنت او دوزخ او هم په هر آسمان کې يو پيغمبر. ورپسې آيت ښيي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته آيتونه ښودل داسي دي لکه موسی عليه السلام ته چې الله تعالی د طور په غره کې ليکلی کتاب ورکړ. له دوهم آيت تر اتم آيت پوري د موسی عليه السلام د قصې دا برخه راغلې چې الله تعالی ده ته داسي کتاب ورکړ چې د بني اسرائيلو لپاره لارښود وو او دوی ئې توحيد ته رابلل، په دې کتاب کې وړاندوينه شوې وه چې بني اسرائيل به دوه ځلي په ستر فساد لاس پوري کړي او هر ځل به خپله سزا وګوري، د جنګيالي او پياوړي دښمن تر بريدونو لاندې به راشي او هر څه به ئې تباه شي. د بني اسرائيلو تاريخ شهادت ورکوي چې دا دواړه وړاندويني تر سره شوې. ورپسې په نهم آيت کې د قرآن په اړه ويل شوي چې دا قرآن هغه څه ته لارښوونه کوي چې تر ټولو سم او سيده دئ؛ او هغو مؤمنانو ته زېری ورکوي چې نېك عملونه کوي؛ (دا زېری) چې ستر اجر

به ئې په برخه شي. او دا چې هغو ته دردناك عذاب دئ چې پر آخرت ایمان نه راوړي. او دا همغه څه دي چې د موسی علیه السلام په تورات کې ویل شوي وو.

که د د ې سورې ټولو آیتونو ته په غور سره ځیر شئ نو وبه ګورئ چې په ټولې سورې کې د همدې لومړۍ رکوع مطالب په مشرح او مفصله توګه څېړل شوي، د سورې آخري رکوع هم د موسی علیه السلام او د ده د نهو معجزو او د فرعون د مخالفت یادونه کوي او ورپسې قرآن ته راګرځي او د هغه ګڼ شمېر ځانګړتیاوې بیانوي؛ او په دې پای ته رسي چې:

- ستاینې ټولې الله ته دي.
- زوی او ځای ناستی نه لري.
- په خپل ملك او واکمنۍ کې هیڅ شریك نه لري.
- د هیڅ کار په سرته رسولو کې د بل مرستې ته اړ نه دئ.
- په لوی لوی یادولو سره ئې ستر ګڼه.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١

پاکې ده هغه ذات ته چې یوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام (محترم جومات) تر هغه مسجد الاقصی (لرې جومات) پورې بوت چې موږ ئې شاو خوا وربرکتې کړې؛ چې ځینې خپلې آیتونه وروښیو، یقیناً چې هغه ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

---

(۱)- د دې مبارك آیت په ارتباط لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

● ټول علماء په دې متفق دي چې په دې مبارك آیت کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د معراج سفر ته اشاره شوې. د معراج دا سفر له مسجد الحرام پیل شوی او په سدرالمنتهی پای ته رسېدلی، له مسجدالحرام تر مسجد الاقصی پورې د اسراء په نامه یاد شوی او له مسجدالاقصی تر سدرة المنتهی پورې د معراج په نامه. په دې آیت کې یوازې یوې برخې (اسراء) ته اشاره شوې، نورې برخې ئې په نورو آیتونو او په روایاتو کې څېړل شوې.

- دا آيت وايي چې دا سفر د شپې له لوري تر سره شوى او موخه ئې دا وه چې الله تعالى غوښتل رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د خپل قدرت او عظمت ځيني ځرګندي نښې او د قرآن د ځينو آيتونو مصداق وروښيي. دا پوښتنه راولاړېږي چې انسان خو په ويښه، د شپې له لوري او په تياره کې هيڅ نه ويني، نو آيا په دې سفر کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم بشري حالت بدل شوى او داسي حالت ئې په برخه شوى چې د شپې له لوري ئې هم د الله تعالى د قدرت نښې ليدى شوې؟ که ځواب مثبت وي د دې خبري دليل به څه وي؟ آيا دا خبره په قرآن کې راغلې که د رسول الله صلى الله عليه و سلم په احاديثو کې؟ که داسي کوم آيت او حديث نه وي؛ چې نشته؛ نو دا خبره به څنګه منو؟

- انسان د شپې په تياره کې خو په خوب کې داسي ليدل کولی شي چې ډېر ځلي ئې د خوب ليدا تر ويښې ډېره دقيقه، پراخه او تېزه وي، په لنډ وخت کې دومره شيان وګوري چې په ويښه ئې په اوږدې مودې کې نشي ليدى؛ لکه هغه فيلم چې د يوه کس اوږد عمر په لنډ وخت کې زموږ په وړاندي انځور کړي. نو آيا دا سفر د عالم رؤيا او خوب سفر وو؟ که ځواب مثبت وي نو د دې دليل څه دئ؟ آيا په قرآن او سنت کې داسي دليل مومو چې ښيي دا يوه رؤيا وه او روحاني سفر وو؟ د دې پوښتني ځواب دا دئ چې هو؛ هم په قرآن کې په ډېر صراحت او وضاحت سره ويل شوي چې دا يوه رؤيا وه، هم په ګڼ شمېر رواياتو کې، د همدې سورې په ٦٠ آيت کې داسي راغلي:

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٠﴾ الإسراء:٦٠

او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او هغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې؛ او په قرآن کې (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې؛ نو (دغو خبرو) يوازي د دوى ستر طغيان لازيات کړ.

د دې سورې له لومړني او شپېتم آيتونو دا خبره ثابتېږي چې دلته د معراج اړوند بحث شوى او په ترڅ کې ئې دا لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوې:

- دا سفر په شپه کې تر سره شوى.
- له مسجدالحرام تر مسجد الاقصى پورې بېول شوى.
- د سفر موخه دا وه چې الله تعالى خپل آيتونه وروښيي.
- په دې اړه چې خلکو څه ويلي او دښمنانو کوم تبليغات کړي؛ الله تعالى اورېدلي.

- په دې سفر کې چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم څه تېر شوي الله تعالی ليدلي. دا ځکه چې الله تعالی سميع او بصير دئ.
- دا هر څه فقط يوه رؤيا وه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په خوب کې ښودل شوې.
- خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل گران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وگڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجدالاقصى پورى تللى، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړى، تر اوم آسمان پورې رسېدلى، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلى، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترگو ليدلي او... دا رؤيا د دوى لپاره داسې فتنه وه لکه په قرآن کې چې د دوزخيانو په اړه يادونه وشوه چې خوراك به ئې د زقوم هغه تريخ بوټى وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي؛ او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدى شي؟!! يا د قرآن هغه وينا چې الله تعالى کافران احاطه کړي، داسې څه نشي کولى چې الله تعالى ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي؛ او يا د قرآن دا وينا چې الله تعالى به داسې څه وکړي چې ستا دښمنان به پرې ووېروي؛ لکه چې قريشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه گڼلې ستا د دغې رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!
- شپېتم آيت په اصل کې د لومړي آيت شرح او تفسير دئ؛ ځکه په لومړي آيت کې دا سفر د شپې له لوري ښودل شوى او شپيتم آيت وايي چې دا يوه رؤيا وه، لومړى آيت په سبحان سره پيل شوى او دا لفظ په قرآن کې اکثراً هغه مهال کارول شوى چې الله تعالى ته د کوم عيب منسوبول نفي کوي، قريشو د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا سفر مهال گڼلى؛ قرآن د دوى په ځواب کې وايي: تاسو د ده رب سم نه دئ پېژندلى چې داسې سفر درته محال برېښي، تاسو الله تعالى ته ضعف او عجز منسوبوئ او الله تعالى له ضعف او ناتوانۍ منزه دئ. د لومړي آيت په پاى کې د الله تعالى دوه صفاتو (سميع او بصير) ته اشاره شوې چې ارتباط ئې د آيت له لومړۍ فقرې سره داسې دئ: په دې اړه چې خلکو څه ويلي الله تعالى اورېدلي، په دې سفر کې چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم څه تېر شوي الله تعالى ليدلي. شپيتم آيت همدا مطلب په تفصيل او پوره وضاحت سره بيانوي او وايي: دا رؤيا د خلکو لپاره يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل گران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وگڼله.
- ځوك چې دا سفر يوه رؤيا نه گڼي د قرآن د دې آيت په اړه به څه وايي او څه تأويل به وړاندې کوي؟ متأسفانه ځينو داسې کمزوري تأويلونه کړي چې قطعاً د منلو وړ نه دي. ځينو ويلي چې دلته رؤيا د خوب په معنى نه بلکې په ويښه د څه ښودلو او ليدلو په

معنی راغلې!! خو دا په بشپړه توګه غلطه خبره ده، څوك چې رؤيا له خوب پرته په بله معنی تعبيروي او د ويښې ليدنه ئې ګڼي لويه اشتباه؛ حتی د قرآن په اړه جسارت کوي؛ ځکه قرآن اُوه ځله دا کلمه (رءيا) راوړې چې په ټولو کې ئې معنی د خوب رؤيا ده، دا به ډېر جسارت او حتی د قرآن آيتونه د يوه ناسم تصور لپاره تحريفول وي چې څوك د دې کلمې اصلي معنی پرېږدي او د ويښې رؤيا ئې وګڼي. دا په داسې حال کې چې له ډېرو رواياتو هم معلومېږي چې دا يو خوب وو او د دغو رواياتو په پای کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو. د ټولو هغو رواياتو چې د معراج په اړه راغلي او د احاديثو کتابونو کې ئې مومو؛ تر نوي سلنه زياتو کې ئې دا الفاظ مومو:

۱- بينا أنا نائمٌ في الحَطِيْمِ: په داسې حال کې چې زه په حطيم کې ويده وم؛ وهْو نائِمٌ في المسْجدِ الحرامِ: او دی په مسجد الحرام کې ويده وو؛ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ او دې ته ورته الفاظ.

۲- فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ: په داسې حال کې چې زړه ئې ليدل کول او د رسول الله صلی الله عليه و سلم سترګې ويده وې؛ او زړه ئې ويده نه وو، او انبياء همداسې وي چې سترګې ئې ويده وي خو زړونه ئې نه ويدېږي.

۳- يا د روايت په پای کې داسې راغلي: واسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي المسجدِ الحرامِ: او راويښ شو په داسې حال کې چې په مسجد الحرام کې وو.

نوي سلنه روايات همداسې دي؛ او که هغه روايات هم پرې علاوه کړو چې يوازې د خوب د پېښې تعبير ترې کولی شو نه بل څه؛ لکه دا چې ويل شوي: فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ: زما د کور سقف پرانيستل شو په داسې حال کې چې زه په مکه کې وم، جبريل نازل شو نو زما سينه ئې پرانيستله، بيا ئې د زمزم په اوبو ومنځله، بيا ئې د سرو زرو لوښی (طشت) راوړ چې له حکمت او ايمان ډك وو، او زما په سينه کې ئې تش کړ، بيا ئې بنده کړه. مګر کېدی شي دا له خوب پرته په بل څه تعبير کړو؟ په دې صورت کې تر نوي سلنه زيات روايتونه داسې کېږي چې د معراج سفر يوه رؤيا ګڼي. د دې تفصيل د معراج رساله کې ولولئ.

انسان داسې دئ چې په ويښه په تياره کې او د شپې له لوري څه نشي ليدلی؛ خو په خوب کې ئې ليدی شي، کله کله ئې په خوب کې ليدنه دومره دقيقه، جامع او وسيع وي چې د ويښې ليدا ئې ورسره مقايسه کېدی نشي، په خوب کې په داسې اسرارو پوهېدی شي

چې په ويښه ورته ممکنه نه وي، د خوب ليدا ډېره سريع وي، په لنډ وخت کې دومره څه ليدلی شي چې په ويښه ئې په اوږدې مودې کې هم نشي ليدلی. هغه خلك چې د رؤيا ليدنې ته په ټيټه سترګه ګوري او خاص اهميت نه ورکوي په دې خبرې باور کول ورته ګران برېښي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د معراج سفر د رؤيا سفر وګڼي؛ خو څوك چې رؤيا ته د قرآن له مخې ګوري هغه پوهېږي چې داسې سفر يوه انسان ته يوازې په رؤيا کې ممکن دئ نه په ويښه. که دا د ويښې سفر وی نو حتماً به د ورځې له لورې وو، ځکه انسان په وېښه د شپې له لورې او په تياره کې څه نشي ليدلی، کله چې د انسان روح د کالبد په قيد کې وي نو د سترګو لرې ليد ئې دومره کمزوری وي چې څو کيلو متره لرې لوی لوی شيان هم نشي ليدی، د نرۍ پردې له شا څه نشي ليدی، له رڼا پرته څه نشي ليدی، د شپې په تياره کې څه نهويني، خو کله چې د کالبد له قيد او محدودې آزاده شي نو له پرېړو پرېړو حجابونو واوړي، هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو؛ نه ئې تياره مخه نيولی شي او نه حجابونه، هم د زمان له محدودې ووځي او هم د مکان؛ د شپې په تياره کې داسې ويني لکه د ورځې په رڼا کې.

- ځينې نور تر دې هم مخکې تللي او ويلي ئې دي چې د الاسراء په سوره کې له ياده شوې رؤيا مراد د حديبيې د سفر اړوند رؤيا ده!! خو يقيناً چې دا خلك ډېره ستره غلطي کوي، دا ځکه چې د الاسراء سوره په مکه کې او د بعثت يولسم کال شاوخوا نازله شوې او د حديبيې پېښه تر دې نژدې اته کاله وروسته وه او اړوند خوب ئې د حديبيې له پېښې لږ وړاندې ليدل شوی؛ او هغه خوب ته د الفتح په سورې کې اشاره شوې. په الاسراء کې ياد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ؛ دا قطعاً غلطه خبره ده چې دا د حديبيې اړوند خوب ګڼې.

- د شپېتم آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته داسې يوې رؤيا ته اشاره شوې چې قريشو د هغې په اړه شديد تبليغات پيل کړي؛ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم دوه خوبونه داسې وو چې دښمنانو د هغوی په اړه شديد تبليغات وکړل: يو د حديبي د سفر اړوند خوب او بل دغه د معراج اړوند رؤيا؛ که دا رؤيا د معراج رؤيا نه وي نو کومه رؤيا ده؟ قريشو د کومې رؤيا په اړه شديد تبليغات کړي؟ له دې آيت پرته بل هغه آيت دې ما ته راوښيي چې وايي د معراج په اړه قريشو تبليغات کړي. په ټول قرآن کې خو له دې پرته بل داسې آيت نه مومو چې د معراج په اړه د قريشو شديد تبليغات ترې معلوم شي. او که دا رؤيا د معراج اړوند رؤيا وي چې يقيناً د معراج اړوند رؤيا ده؛ نو په کوم جرأت سره به ئې د معراج له رؤيا پرته په بل څه تعبيروو؟!!

- ځينې وايي چې د لومړي آيت په دغې فقرې: (أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا) کې د اسری معنی همغسې ده لکه موسی عليه السلام ته چې ويل شوي: (...أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ)، يعني په دواړو کې جسماني بېول مراد دي نه روحاني او غير جسماني. په دې اړه دوه عرائض لرم:

لومړی دا چې یوه ته ئې قرآن رؤیا ویلې موږ به څنګه او ولې هغه ته د جسماني سفر نوم ورکوو؟!، دوهم دا چې د الله تعالی په اړه یو فعل په هغې متبادري معنی نه شو اخیستی چې د انسان په اړه ئې اخلو، اسری د موسی علیه السلام په اړه په دې معنی ده چې بني اسرائیل د شپې له لوري داسې روان کړه چې دوی وړاندې او ته ئې شا ته؛ خو د الله تعالی په اړه ئې قطعاً په دې معنی نه شو اخیستی، دا ځکه چې موسی علیه السلام او بني اسرائیل په خپلو پښو او پر زمکه روان شوي او یقیناً د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا سفر داسې نه وو!! نو دا دواړه په هیڅ توګه یو ډول بېول نه شو ګڼلی. که موږ د یوه انسان په اړه ووایو انزل الکتاب نو معنی ئې دا ده چې له بره ئې کتاب لاندې په خپل لاس کې راوړ، خو د الله تعالی په اړه انزل الکتاب په دغې متبادري معنی نه شو اخیستی؛ الله تعالی خپل بنده رسول الله صلی الله علیه و سلم د شپې له لوري له مسجدالحرام تر مسجدالاقصی او بیا تر سدرة المنتهی پوري بېولی، څنګه ئې بېولی؟!! په کیفیت ئې له الله تعالی پرته بل څوک نه پوهېږي خو دا بېول یقیناً داسې نه وو لکه موسی علیه السلام چې بني اسرائیل بېولي. نو څنګه وو؟ له دې پرته بل څه نه شو ویلی چې دا سفر همغسې وو لکه چې قرآن وایي: یوه رؤیا وه!! له دې علاوه؛ هغه روایات به څنګه تعبیروو چې وایي دا یوه رؤیا وه؟!! وایي په داسې حال کې ئې دا خوب لیدلی چې سترګې ئې ویده وې او زړه ئې ویښ او د رؤیا په پای کې له خوبه راویښ شوی!!

● زه نه پوهېږم چې موږ کوم ضرورت او مجبوریت دې ته اړ کوي چې دا جسماني سفر وګڼو؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په هیڅ آیت کې نه دي ویل شوي چې دا جسماني سفر وو، په کوم صحیح او معتبر روایت کې هم دا خبره نه ده شوې، په مقابل کې ئې ګورو چې قرآن دې ته د رؤیا نوم ورکړی؛ او ګڼ شمېر روایات وایي چې دا یوه رؤیا وه او رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسې حال کې دا سفر کړی چې سترګې ئې ویده وې او زړه ئې ویښ، یعني دا یوه رؤیا وه. نو څه ضرورت چې دې ته د جسماني سفر نوم ورکړو؟!!

● که تاسو د معراج اړوند روایات په دقت سره له نظره تېر کړئ، نو وبه ګورئ چې په هغوی کې کافي تعارض، ژور توپیرونه او جدي تضاد تر سترګو کېږي؛ د مثال په توګه په دې اړه ابن عباس رضی الله عنهما ته دوه متضاد اقوال منسوب شوي: یو ئې وایي چې ابن عباس دا رؤیا مکې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ننوتلو اړوند رؤیا بولي او بل ئې وایي چې دا د اسراء اړوند رؤیا ده!! په یوه کې دا رؤیا د خوب په معنی نیول شوې او په بل کې د ویښې لیدا!! په دغو متضادو او متعارضو روایاتو کې به هغه غوره کوو چې له قرآن سره اړخ لګوي، قرآن په هیڅ ځای کې رؤیا د ویښې لیدا په معنی نه ده راوړې، دا رؤیا په هیڅ صورت کې هغه رؤیا نه شو ګڼلی چې د حدیبیې په سفر پورې ارتباط لري، دا ځکه چې دغه آیت نژدې اته کاله د حدیبیې تر سفر وړاندې نازل شوی.

● د الاسراء په سوره کې د معراج د سفر په اړه مزید وضاحت نه دئ شوی خو د النجم

په سوره کې په دې اړه داسې راغلي:

أَفَتُمَـٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَـٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾ النجم: ١٢- ١٨

نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئې ويني؟!! په داسې حال کې چې هغه ئې يو ځل بل هم ليدلی وو، د سدرة المنتهى (وروستۍ بېرې) خوا ته، چې هغې ته څېرمه جنت المأوى (د جنت هستوګنځی) دئ، هغه مهال چې سدرة المنتهى ځانګړې شي پوښلې وه، نه سترګې کاږه ليدل کړې او نه تېروتې، يقيناً د خپل رب ځينې ستر ستر آيتونه ئې وليدل.

دا آيتونه ښيي چې:

- قريشو د دغې رؤيا له امله له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره سخته شخړه او مجادله پيل کړې. هغه څه ئې نه منل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کې ليدلي وو.

- رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کې جبرئيل عليه السلام په خپلې اصلي بڼه کې ليدلی او دا د ده دوهم ځل ليدل وو.

- دا ليدنه په سدرة المنتهى کې شوې، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسې وګڼئ لکه چې د يوه جګ غره په ډډه کې د ونو ځنګل وي، دا ونې تر هغه ځای راټوکېدلې وي چې تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسيجن د کموالي له امله نه بوټي راشنه کېږي او نه ونې، د دې ځنګله د وروستۍ ونې په يادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چې تر دې آخوا نوري ونې نشته؛ سدرة المنتهى همداسې ده.

- د قرآن د وينا له مخې جنت المأوى هم دلته دئ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اُوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوى. رسول الله صلى الله عليه و سلم تر دغه ځای تللی او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلی.

- سدرة المنتهى داسې څه پوښلې وه چې د انسان په قاموس کې د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.

- په دې رؤيا کې ئې د الله تعالى نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

- د قرآن صريح آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل

عليه السلام په خپلې اصلي څېرې کې ليدلی، يو ځل داسې چې د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنژدې شوی او د الله تعالی وحي ئې وررسولې؛ او بل ځل په سدرة المنتهی کې او د معراج په شپه. هغه روايات او آراء قطعاً بې بنسټه دي چې وايي رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې سفر کې يا بل وخت الله تعالی په خپلو سترگو ليدلی.

● د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې له جنت المأوی مراد همغه جنتونه دي چې په آخرت کې به د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چې اوس او تر آخرت مخکې د شهداءو ارواح په کې اوسي، په سلف کې هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله، قتاده رحمه الله په دوهمې رأيې دئ او ابن عباس رضی الله عنهما هم دغه رأيه لري او دا پرې اضافه کوي چې د آخرت جنت به په زمکې کې وي نه په آسمان کې، حسن بصري رحمه الله وايي چې جنت المأوی همغه جنت دئ چې مؤمنان به په آخرت کې ورننوځي.

● راشئ وگورو چې د معراج په اړه په رواياتو کې څه راغلي؛ دې ته مو بايد پام وي چې د معراج د څرنگوالي په اړه په امت کې د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلاف له متعارضو رواياتو راولاړ شوی، د معراج په اړه روايات متعدد او تر ډېره حده متعارض دي. يو روايت دا دئ:

عن أمّ هانئ بنت أبى طالب، فى مسرى النبىّ صلى الله عليه وسلم ، أنها كانت تقول: ما أُسرى برسول الله صلى الله عليه وسلم إلا وهو فى بيتى نائم عندى تلك الليلة، فصلى العشاء الآخرة، ثم نام ونمنا، فلما كان قُبيل الفجر، أهبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما صلى الصبح وصلينا معه قال: "يا أمّ هانِئٍ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَكُمْ العِشاءَ الآخِرَةَ كَمَا رأيْت بِهَذَا الوَادِى، ثُمَّ جِئْتُ بَيْتَ المَقْدِسِ فَصَلَّيْتُ فِيهِ، ثُمَّ صَلَّيْتُ صَلاةَ الغدَاةِ مَعَكُمُ الآنَ كَمَا تَرينَ".

ام هانې رضی الله عنها وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د معراج په شپه زما په کور کې وو، د ماخستن لمونځ ئې وکړ، ويده شو، له فجر لږ وړاندې پاڅېد، موږ ئې راپاڅولو، لمونځ ئې وکړ، موږ هم لمونځ ورسره وکړ، بيا ئې وفرمايل: اې ام هانې! لکه چې ودې ليدل د ماخستن لمونځ مې دلته له تاسو سره وکړ، بيا بيت المقدس ته ولاړم او هلته مې لمونځ وکړ بيا مې دا دئ لکه چې گورئ د سحر لمونځ له تاسو سره وکړ.

له دې روايت څو خبرې معلومېږي:

● لمونځونه د معراج تر سفر مخکې فرض شوي وو، ځکه په دې روايت کې د ماخستن او سحر د لمانځه يادونه شوې. او دا ټول هغه روايات ردوي چې وايي: لمونځونه، د رکعتونو

تعداد او ختونه ئې د معراج په سفر کې فرض شوي!!

- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ام هاني رضی الله عنها په کور کې ویده شوی، په همدې شپه ئې دا خوب لیدلی چې له مسجدالحرامه مسجدالاقصی ته او له هغه ځای د آسمانونو په لور بېول شوی. په دې توجیه سره هغه تعارض هم له منځه ځي چې آیت وایي د معراج سفر له مسجد الحرام د مسجد الاقصي په لوري وو او ځیني روایات وایي چې دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم له کور پیل شوی.

- د بخاري ځیني روایات وایي چې دا سفر په خوب کې او په داسي حال کې تر سره شوی چې سترګي ئې پټې او زړه ئې ویښ وو؛ او د سفر په پای کې رسول الله صلی الله علیه و سلم له خوبه راویښ شوی؛ خو له نورو روایاتو ئې داسي معلومېږي چې دا سفر په ویښه کې تر سره شوی!! امام بخاري رحمه الله نه دي ویلي چې کوم روایت ئې تر نورو غوره، دقیق او صحیح دئ، هغه له بېلو بېلو راویانو چې څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دې پرته بله چاره نه لرو چې له دغو متعارضو روایاتو یو غوره کوو.

د بخاري یو روایت دا دئ:

٣٤٩ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي، فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، قَالَ جِبْرِيلُ: لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ، قَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ، قَالَ: هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ؟ قَالَ: نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ، وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ لِجِبْرِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا آدَمُ، وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ اليَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، فَقَالَ لِخَازِنِهَا: افْتَحْ، فَقَالَ لَهُ خَازِنِهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ: فَفَتَحَ، - قَالَ أَنَسٌ: فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ، وَإِدْرِيسَ، وَمُوسَى، وَعِيسَى،

وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قَالَ أَنَسٌ - فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِدْرِيسُ، ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا مُوسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا عِيسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِيَّ، كَانَا يَقُولاَنِ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ»، قَالَ ابْنُ حَزْمٍ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ، حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً، قَالَ: فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُ، فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، قُلْتُ: وَضَعَ شَطْرَهَا، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ، فَقَالَ: هِيَ خَمْسٌ، وَهِيَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ القَوْلُ لَدَيَّ، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَقُلْتُ: اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي، ثُمَّ انْطَلَقَ بِي، حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ المُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ؟ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا المِسْكُ "

له انس بن مالک رضی الله عنه روایت دئ چي وايي: ابوذر رضی الله عنه به ويل چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبريل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئې پرانيسته؛ او د زمزم په اوبو ئې ومينځله، بيا ئې د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان ډک وو او زما په سينه کي ئې تش کړ، بيا ئې سينه راته بنده کړه، بيا ئې له لاس ونيولم او لومړي آسمان ته ئې وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم، جبريل (عليه السلام) د آسمان خازن (ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانيزه، هغه وويل: څوک يې؟ وئې ويل: زه جبريل يم؛ هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو؛ محمد صلی الله عليه و سلم راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په هغه پسي څوك لېږل شوی (بلل شوی)؟ جبريل

(عليه السلام) وويل: هو؛ او كله چي ئې دروازه پرانيستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو، گورو چي يو سړى ناست دئ، ښي اړخ ته ئې سړي دي او كيڼ اړخ ته ئې هم سړي دي، كله چي ښى خوا ته وگوري وخاندي او چي كيڼ اړخ ته وگوري نو وژاړي، ما ته ئې وويل: صالح پيغمبر او صالح زوى ته هركلى وايم، ما جبريل (عليه السلام) ته وويل: دا څوک دئ؟ هغه وويل: دا آدم (عليه السلام) دئ او دا چي ښي او كيڼ اړخ ته ئې گوري دا ئې د اولاد ارواح دي، هغه چي ښي اړخ ته ئې دي هغوى جنتيان دي او هغه چي كيڼ اړخ ته ئې دي هغوى دوزخيان دي، نو كله چي ښى خوا ته گوري خاندي او چي كيڼي خوا ته گوري ژاړي، بيا ئې دوهم آسمان ته پورته كړم، خازن ته ئې وويل: پرانيزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وكړه، بيا ئې دروازه پرانيستله. انس رضى الله عنه وايي چي ابوذر رضى الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په آسمانونو كي آدم، ادريس، موسى، عيسى او ابراهيم (عليهم السلام) ليدلي، خو د هغوى ځايونه ئې نه شوى تثبيتولى، يوازي دومره ئې په ياد وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په لومړي آسمان كي آدم (عليه السلام) او په شپږم آسمان كي ابراهيم (عليه السلام) وليد. انس رضى الله عنه وايي: كله چي محمد صلى الله عليه و سلم له جبريل (عليه السلام) سره ادريس (عليه السلام) ته ورسېد، هغه ورته وويل: صالح پيغمبر او صالح ورور ته هركلى وايم. محمد صلى الله عليه و سلم وايي: (ما وويل: دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ادريس (عليه السلام) دئ بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم، هغه وويل: صالح نبي او صالح ورور ته هركلى وايم، ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا موسى (عليه السلام) دئ. بيا عيسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه وويل: صالح ورور او صالح نبي ته هركلى وايم. ما وويل: (داڅوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا عيسى (عليه السلام) دئ. بيا ابراهيم (عليه السلام) ته ورغلم هغه وويل: صالح نبي او صالح زوى ته هركلى وايم. ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ابراهيم (عليه السلام) دئ. ابن شهاب وايي چي ابن حزم راته ويلي: ابن عباس رضى الله عنهما او ابو حبة انصاري رضى الله عنه به ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا لوړ بېولى شوم او هغه آوار ځاى ته پورته شوم چي د (ملائكو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک رضى الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا الله تعالى زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض كړل، زه له همدې حكم سره راوگرځېدم، ترهغه چي موسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالى ستا پر امت څه فرض كړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئې فرض كړل. موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نه لري، زه بېرته وروگرځېدم، نو يوه برخه ئې ترې كم كړل، بېرته چي موسى (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومي ويل: الله تعالى يوه برخه ترې ساقطه كړه، موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلرى، زه بېرته وروگرځېدم، الله تعالى ئې يوه برخه راته ساقطه كړه، بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم،

هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نه لري، ما بيا الله تعالی ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل کېږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئې د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکې نه ده، زه بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب حياء کوم، بيا جبريل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چې (سدرة المنتهی) ته ئې بوتلم؛ او دا ځای داسي رنګونو پوښلی وو چې توصيف ئې نه شم کولی، بيا جنت ته داخل کړی شوم، په جنت کې د ملغلرو مزي ول او خاوره ئې له مشکو وه).

دا روايت په بخاري کې په دغو شمېرو اُوه ځلي نور په تکرار سره راغلی: ١٦٣٦، ٣٣٤٢، ٣٥٧٠، ٤٩٦٤، ٥٦١٠، ٦٥٨١، ٧٥١٧، چې په هغوی کې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: دوه روايتونه وايي چې دا عروج په خوب کې وو، په٣٥٧٠ روايت کې راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلاَّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاء او په ٧٥١٧ روايت کې راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کې ئې دا برخه نه ده راغلي او پر ځای ئې د دې خلاف دوه خبري شوې: يوه دا چې د مسجد الحرام پر ځای په مکه کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کور يادونه شوې ګواکې له خپل کور بېول شوی او بل دا چې دا د ويښې بېول وو!!

د احاديثو په نورو کتابونو کې هم په دې اړه ګڼ شمېر روايات راغلي، ټول پنځه ويشت روايات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپيرونه او ژور تعارض تر سترګو کېږي، د دغو متعارضو رواياتو له ليدو سره به تاسو ته دغه پوښتني راولاړېږي: آيا معراج په ويښه وو که په خوب کې؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم له کوره که له مسجدالحرام؟ مستقيماً د آسمان په لور که لومړی بيت المقدس ته او بيا له هغه ځای آسمان ته؟ آيا لمونځ تر دې وړاندي فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدنه له پيغمبرانو عليهم السلام سره په کوم ترتيب تر سره شوې، په لومړي، دوهم، درېيم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کې ئې څوك څوك ليدلي؟ په لومړي آسمان کې ئې آدم عليه السلام ليدلی که عيسی عليه السلام؟ ابراهيم عليه السلام ئې په شپږم آسمان کې ليدلی که په اوم کې؟ موسی عليه السلام ئې په اوم کې ليدلی که ابراهيم عليه السلام؟ هارون عليه السلام ئې ليدلی که نه؟ په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو صحيح دئ؟ سدرة المنتهی چېري ده؟ هلته ئې جبريل عليه السلام ليدلی که الله تعالی؟ الله تعالی ئې په خپلو سترګو ليدلی که نه؟ په هري مراجعې کې پنځه پنځه لمونځونه کم شوي که لس لس او که ځيني؟ ځکه د دغو متعارضو رواياتو ځيني يوه خبره کوي او ځيني بله، همدا راز دا پوښتنه به درسره پيدا شي چې د دې معنی څه ده چې هر ځل د الله تعالی په پرېکړې کې بدلون راغلی خو سره له دې ويل شوي: ما يبدل القول لدی؟ آيا دا آيت په قرآن کې په همدې ارتباط راغلی؟ قرآن د معراج په اړه څه وايي؟ آيا په قرآن کې د

دې روایاتو لپاره څه شاهد موندلی شو؟ د معراج په اړه د متعارضو روایاتو له منځ به یو څنګه انتخابوو؟ کوم یوه ته به په کوم دلیل صحیح وایو او بل به یوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چي نه امام بخاري رحمه الله ځواب ورته ویلی، نه ئې د بخاري په روایاتو کي ځواب موندلی شو او نه په نورو روایاتو کي. له دې پرته بله چاره نه لرو چي دا روایات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحیح ګڼو چي له قرآن سره تطابق ولري یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- د قرآن د وینا له مخي د معراج سفر یو روحاني سفر وو نه جسماني سفر، یوه رؤیا وه نه د ویښي لیدا، نو هغه روایات د قرآن له دې وینا سره اړخ نه لګوي چي وایي دا سفر په ویښه تر سره شوی او جسماني سفر وو.
- قرآن وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د معراج په روحاني سفر کي هر څه د زړه په سترګو لیدلي نه د مخ په سترګو: مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى * أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى *: نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چي لیدلي ئې وو، نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چي دی ئې ویني؟!! د زړه په سترګو لیدا یعني رؤیا، په رؤیا کي موږ هر څه په زړه سره ګورو نه د مخ په سترګو.
- قرآن وایي چي په دې روحاني سفر کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ستر ستر آیتونه ښودل شوي، جبریل علیه السلام ئې یو ځل بیا په خپلي اصلي بڼي کي لیدلی، سدرة المنتهی ته رسېدلی، په سدرة المنتهی کي ئې جنت المأوی لیدلی، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هم اُوه آسمانونه لیدلي او هم جنت. هغه روایات صحیح نه دي چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم دلته الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی، دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو روایاتو سره چي وایي: انسان نشي کولی په دنیا کي او په دغو سترګو الله تعالی وګوري، یو څوك له پیغمبر علیه السلام پوښتي چي الله تعالی دي لیدلی؟ په ځواب کي ئې فرمایي: الله تعالی نور دئ نو څنګه به لیدل کېږي؟! جبریل علیه السلام د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې پوښتني چي آیا الله تعالی دي لیدلی؟ وایي: زما او الله تعالی تر منځ د نور اویا زره حجابونه دي؛ که لاندیني حجاب ته ورنژدې شم وزرونه مي سوزي!! قرآن دلته وایي چي هغه ئې یو ځل مخکي هم لیدلی وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چي دا جبریل علیه السلام وو چي تر دې وړاندي ئې هم لیدلی وو چي دې لیدني ته د التکویر د سورې په۲۳ آیت کي داسي اشاره شوې: وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ: او بې شکه چي هغه ئې په افق کي په څرګنده توګه لیدلی. دې دوهم ځل لیدنې ته په احادیثو کي هم اشاره شوې چي په خپل ځای کي به ئې وګورئ. عائشه رضی الله عنها وایي: که چا درته وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل رب لیدلي نو پوه شه چي هغه دروغ وایي. ځکه چي قرآن وایي:

**(لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ)** الأنعام : ۱۰۳ :

سترګې ئې درك كولی (ليدلی) نشي او دی سترګېويني؛ او دی ښه باخبر لطيف دئ.

يعني د مخلوق سترګې د ده له ليدو عاجزي دي؛ دا ځكه چې الله تعالى لطيف دئ. انسان په مخلوقاتو كې هغه څه نشي ليدی چې لطيف وي او متكاثف او متراكم نه وي. ساينس او علم موږ ته وايي چې د انسان سترګې د انرژي، نور، جاذبې، ساحې او په زرګونو نورو مخلوقاتو له ليدو عاجزي دي؛ نو دا سترګې به څنګه لطيف خدای وليدی شي؟!

هغه روايات له قرآن سره تعارض لري چې وايي لمونځونه او اوقات ئې د معراج په سفر كې فرض شوي، دا ځكه چې د الاسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چې په هغوی كې هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، خو له دې رواياتو داسې معلومېږي چې ګواكې لمونځونه د معراج په سفر كې فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي، په ډېر يقين سره ويلی شو چې د معراج له سفر ډېر وړاندې هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاكل شوي وو. د كوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنكبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو كې د لمانځه امر شوی، دا سورتونه ټول تر الاسراء وړاندې نازل شوي، د هود په سوره كې داسې راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾

او د ورځې په دواړو خواوو كې او (وريسې نژدې) د شپې ځينې برخې كې لمونځ كوه، يقيناً چې ښېګڼې بدي له منځه وړي؛ دا د پند اخستونكو لپاره پند دئ.

د دې آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې له (طرفي النهار) مراد د ورځې دواړه خواوې دي؛ له غرمې مخكې او وروسته برخې ئې؛ چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځې ته نژدې وي؛ چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د الاسراء په سوره كې هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ئې لارښوونه شوې او وايي:

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودًا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحۡمُودًا ﴿٧٩﴾ الاسراء: ۷۸- ۷۹

په دغو مباركو آيتونو كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې، كه د الاسراء تر سورې وړاندې په نورو سورتونو كې د

لمانځه او د هغه د وختونو هيڅ يادونه نه وی شوې نو ويلی مو شو چي لمونځ د معراج د روايت له مخي فرض شوی؛ خو خبره د دې عکس ده، تر معراج ډېر وړاندي هم لمونځ فرض شوی وو او هم ئې اوقات او د رکعتونو شمېر ټاکل شوي وو. د ام هاني رضی الله عنها روايت خو ستاسو له نظره تېر شو چي وايي رسول الله صلی الله عليه و سلم د معراج په شپه د ماخستن او سحر لمونځونه له موږ سره يو ځای وکړل. نه پوهېږم څوك چي د لمانځه او د هغه د اوقاتو په اړه ګڼ شمېر داسي آيتونه ګوري چي د معراج تر شپې ډېر کلونه وړاندي نازل شوي او د ام هاني رضی الله عنها روايت هم ګوري، هغه څنګه داسي روايات مني چي له قرآن او دغه روايت سره په بشپړه توګه تضاد او تعارض لري؟!!

د بخاري په رواياتو کي دا خبره هم تر سترګو کېږي چي ګواکي رسول الله صلی الله عليه و سلم د موسی عليه السلام په سپارښتنه پنځه، يا نه يا څو ځلي بېرته د الله تعالی حضور ته ورغلی او په هر ځل کي د فرض لمونځونو شمېره راکمه شوې؛ خو په پای کي الله تعالی فرمايلي: (مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ) ق ٢٩: زما وينا بدلون نه لري او زه پر بندګانو ظلم کوونکی نه يم... بايد واضح کړو چي دا د (ق) د سورې د ٢٩ آيت يوه فقره ده، چي د قيامت په ورځ د دوزخيانو تر منځ د شخړي په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د الله تعالی پرېکړي پرېکنده او تغيير نه منونکې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، هر چا ته به عادلانه سزا ورکوي، دا آيت له يوې خوا د معراج له سفر سره هيڅ تړاو نه لري له بلي خوا د روايت له هغي برخي سره په بشپړه توګه تعارض لري چي وايي الله تعالی د لمانځه په اړه خپله پرېکړه څو څو ځلي بدله کړې ده!!

دا هم بايد واضح کړو چي په رواياتو کي په دې اړه هم شديد تعارض تر سترګو کېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په هر آسمان کي کوم کوم پيغمبر ليدلی، په دې اړه هغه روايات د اعتبار وړ ګڼلی شو چي له قرآن سره تطابق لري، که د پيغمبرانو عليهم السلام مقام او منزلت ته د قرآن په رڼا کي ځير شو نو ويلی شو چي په دوی کي پنځه پيغمبران عليهم السلام تر ټولو لوړ مقام لري: محمد عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام او نوح عليه السلام، د يوسف عليه السلام او ادريس عليه السلام مقام او منزلت تر دوی رالاندي دئ، نو ويلي شو چي په آسمانونو کي د پيغمبرانو عليهم السلام د ليدو ترتيب به داسي وو چي په لومړي آسمان کي آدم عليه السلام، بيا ادريس، يوسف، نوح، عيسی، موسی او ابراهيم عليهم السلام، هغه روايت دقيق ګڼلی شو چي دا ترتيب په کي مراعات شوی.

نه پوهېږم په هغو خلکو څه شوي چي د قرآن دا صراحتونه له پامه غورځوي، هغو رواياتو ته هم اعتناء نه کوي چي د معراج په اړه ئې وينا قرآن ته ورته ده او يوه رؤيا ئې ګڼي؛ خو دوی د معراج په اړه داسي څه وايي چي په بشپړه توګه له قرآن او دغو رواياتو سره تعارض لري؟ د دوی مجبوريت څه دئ؟ ولي دا کار کوي؟ ځيني دا کمزوری عقلي

دليل وړاندې کوې چې که دا يوه رؤيا وى نو مخالفينو به داسې شديد اعتراضات نه کول!! دوى ته وايو: جنابانو! قرآن مکرر وايي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رؤيا په اړه ئې اعتراضات کول، دا خبره هم د الاسراء په سوره کې کوي او هم د النجم په سوره کې؛ او ته جسارت کوې او وايې: که دا رؤيا وى نو خلکو به اعتراض نه کولو!!

دې ته مو پام وي چې شيعه هم د معراج په اړه ځانته روايات لري، چې هم له قرآن سره تعارض لري، هم له صحيح رواياتو سره او هم له عقل او درايت سره. د دوى د رواياتو څرنګوالى له دې قياس کولى شئ چې وايي: فاطمه رضى الله عنها د هغې جنتي مېوې له نطفې پيدا شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د معراج په سفر کې جبرئيل عليه السلام ورکړه، هغه څلوېښت ورځې له ځان سره وساتله، په دې مودې کې ئې له خديجې رضى الله عنها سره نژدېکت ونه کړ؛ او په څلوېښتمه شپه ئې دا مېوه وخوړه او بيا ئې له هغې سره نژدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې رضى الله عنها نطفه خلق شوه!! دا په داسې حال کې چې د معراج واقعه له هجرت يو کال مخکې او هغه مهال رامنځته شوې چې خديجه رضى الله عنها لا څو کاله وړاندې وفات شوې وه او فاطمه رضى الله عنها پېغلتوب ته رسېدلې وه!! دغسې مسخره رواياتو په امت کې د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې ټوټې ټوټې کړى.

نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته خپله داسې يوه رؤيا ستاسو په وړاندې کښېږدم چې د خوب اهميت او پراخ ابعاد تمثيلوي:

د داؤد د اقتدار په دوران کې او هغه مهال چې زه د رژيم په ضد د يوې نظامي کودتا په تور تر تعقيب لاندې وم، زما د اعدام غيابي پرېکړه شوې وه او زما د نيولو لپاره زما عکسونه په ټول هېواد کې خواره شوي وو، په ارګون کې د يوه ورور قابل صديقي کور ته ولاړم، څو شپې مې هلته تېرې کړې، ده ته يو بل مېلمه هم راغلى وو چې نوم ئې حاجي آدم خان او د زرمت اوسېدونکى وو، ډېر عابد او صالح انسان معلومېدو، ويل ئې چې ما تر نن پورې بې جماعته لمونځ نه دئ کړى، تل الله تعالى د لمانځه په وخت کې په جمعي برابر کړى يم. ما هغه شپه يو خوب وليد، دا خوب مې نژدې ديارلس کاله مکرر ليدلى وو، هر کال څو څو ځلې، په خوب کې يوه داسې زيارت ته ولاړ شم چې د يوې غونډۍ پر سر جوړ شوى، خوا ته ئې جومات دئ، يوه چينه ئې په څنګ کې بهېږي، پر چينې يوه تياره خونه جوړه شوې چې په منځ کې ئې د دې چينې د اوبو ډنډ دئ، خلك په کې غسل کولى شي، له دې کوټې اوبه بهر راوځي او د څو غسلخانو مخې ته تېرېږي، د زيارت يوې خوا ته باغ دئ، د توتانو ونې لري، لاندې کلي دئ، پټې داسې جوړ شوي لکه چې معمولاً د غرونو په ډډې کې جوړېږي، دېوالونه ئې د ډبرو وي، يو پټى تر بل لوړ وي، دې زيارت ته په وار وار په خپلو خوبونو کې تللى يم، کله مې د زيارت په چينه کې غسل کړى، کله مې توتان خوړلي، کله مې د کلي په دکان کې څه اخيستي او ... دغه شپه مې بيا دا خوب وليد، سحر

مى قابل صديقي او د ده مېلمه ته وويل چي ما نن شپه داسي خوب ليدلی چي دومره كاله ئې مسلسل گورم. حاجي آدم خان راته وويل: څنگه خوب دئ؟ ما ورته تېر كړ او د زيارت ټول تفصيلات مي ورته بيان كړل، هغه له څنډ پرته او په تأكيد سره وويل: دا خو د روحاني صاحب زيارت دئ، ما همهلته تصميم ونيولو چي هلته به ځم او په دې به ځان پوه كوم چي دا دومره كلونه ما دا زيارت د څه لپاره په خوب كي ليدو او په دې خوب كي ما ته څه پيغام مضمر دئ؟ د زرمت په لوري روان شوم، سفر مي په يوې لارۍ كي وو، په پوښتنه پوښتنه د روحانی صاحب تر زيارت پوري ورسېدم. په الله تعالی قسم چي ما ټول هغه شيان په زيارت كي په وينښه او په خپلو سترگو وليدل چي په وار وار مي په خوب كي ليدلي وو، ثابت شيان خو څه كوئ حتى په اوبو كي مي داسي شیء روان وليد چي همغه مي څو كاله وړاندي په خوب كي د اوبو پر سر روان ليدلی وو. تصميم مي ونيو چي څو ورځي دلته پاته كېږم. د جومات په شاتنۍ كوټي كي مي واړول، له كټملو (خسكو) ډكه وه، خوب ته ئې نه پرېښودم، په دې دوران كي مي د خپلو خوبونو په څېر د چينې خوا ته غسل كړی، د باغ توتان مي خوړلي، د كلي له دوكان مي سودا اخيستې او ... په دغو ورځو كي د قرآن په تلاوت مشغول وم او غوښتل مي پوه شم چي زما په دغو خوبونو كي څه رمز او سر او څه پيغام پروت وو. له يوې اونۍ تېرولو وروسته دې نتيجې ته ورسېدم چي په دې خوبونو كي ما ته د تقدير او برخليك په اړه دا ستر درس مضمر وو چي انسان په خپل ژوند كي له داسي پېښو سره مخامخ كېږي چي الله تعالی لا دمخه هغه ته ليكلې دي. دغه زيارت ته د راتگ خبر ما ته نژدې ديارلس كاله مخكي راكړ شوی وو، همدا حالت ما ته مقدر شوی وو، دا دئ ورته راغلم او هر څه مي همغسي وموندل چي په خوب كي مي ليدلي وو. له همدې باور او اعتقاد سره له دې ځای روان شوم او بيا مي هغه خوب نه دئ ليدلی؛ او يقيناً چي په هغو سختو ورځو كي زه داسي يوې لارښوونې ته سخت اړ وم او ډاډه ئې كړم چي له تصادفي پېښو سره نه مخامخ كېږم، همغه څه راته انتظار كوي چي زما رب لا دمخه زما لپاره مقدر كړي دي.

---

وَءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِى وَكِيلًا ۝٢ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ۝٣

او موسی ته مو هغه كتاب وركړ او هغه مو لارښود وگرځاوو بني اسرائيلو ته، (له دې لارښوونې سره) چي له ما پرته هيڅ وكيل مه نيسئ؛ د هغو اولاد چي له نوح سره مو (په بېړۍ كي) سپاره كړل. يقيناً چي هغه يو شاكر بنده وو.

---

( ٢-٣)- په دې مباركو آيتونو كي لاندي لارښوونې شوې:

- موسی عليه السلام ته داسي كتاب وركړ شوی وو چي بني اسرائيلو ته لارښود وو، د دې

لاربښود کتاب لومړی او اساسي لاربښوونه دا وه چې له الله تعالی پرته هیڅ بل وکیل مه نیسئ.

- بني اسرائیل د هغو خلکو اولاد دي چې له نوح علیه السلام سره یو ځای په کشتۍ کې ژغورل شوي وو، د دې معنی دا ده چې د بایبل دا ادعاء غلطه ده چې وایي: له نوځ علیه السلام وروسته ټول انسانان د ده له څلورو زامنو پیدا شوي، ښه زوی ئې د بني اسرائیلو جد دئ او بد زامن ئې د نورو قومونو اجداد!! دا ځکه چې دا آیت وایي: دوی د نوح علیه السلام د ملگرو اولاد دي؛ نه یوازې او فقط د نوح علیه السلام اولاد.

- اې بني اسرائیلو! که تاسو ځان نوح علیه السلام ته منسوبوئ نو هغه خو یقیناً چې د الله تعالی یو شاکر بنده وو؛ تاسو خو د بغاوت او ناشکرۍ لار غوره کړې!!

- له مخکیني آیت سره د دې آیت په ارتباط پوهېدا لږ غور غواړي؛ په ظاهر کې داسې معلومېږي چې گواکې دا دواړه دوو بېلو بېلو قضایاوو ته اشاره کوي او تر منځ ئې کوم تړاو نشته؛ خو په حقیقت کې دا آیت د بېلې موضوع د څېړنې تر څنگ د هغو معترضینو ځواب هم وایي چې د معراج او اسراء په اړه ئې غلط او خصمانه تبلیغات کول، دوی ته ویل شوي: آیا موسی علیه السلام ته د هغه میقات په ترځ کې تورات نه وو ورکړی شوي چې څلوېښت شپې ئې احتواء کړې؛ او هغه هم داسې کتاب چې په لوحو کې لیکل شوی وو او د بني اسرائیلو لپاره لاربښود وو؟!! که یوه پیغمبر ته د ډېرو پر مخ د لیکل شوي کتاب ورکړه؛ منلی شئ نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه رؤیا ولې نشئ منلی چې په ترځ کې ئې هغه روحاني سفر تر سره شو؟!!

- دا کتاب نه یوازې لاربښود وو، بلکې د بني اسرائیلو په اړه ئې داسې وړاندوینې کړې وې چې تر سره شوې او دا وړاندوینې په وروستیو آیتونو کې توضیح شوې دي.

---

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ
عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ
شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ
عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ
أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ لِيَسُۥٓـُٔوا۟
وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا۟ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا۟ مَا عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا

(٧)

په دې کتاب کې مو بني اسرائيلو ته پرېکړه واوروله چې دوه ځلي به په زمکې کې فساد کوئ او ستره لويي او کبر به کوئ، نو کله چې د دوی دواړو لومړی وعده راورسېږي؛ خپل داسي بندګان به درباندي راولېږو چې شديد او پياوړي جنګيالي دي، چې (ستاسو) کورونو ته به ننوځي؛ او دا يوه تر سره کېدونکې وعده ده. بيا به تاسو ته پر دوی برى درکړو او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړو او تاسو به د شمېر له پلوه زيات کړو. که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د ځان لپاره به مو وي، نو کله چې دوهمه وعده راشي (موخه به ئې دا وي چې) ستاسو مخونه سپېره کړي؛ او مسجد الاقصى ته همغسي ننوځي لکه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه ښه نسکور کړي چې پرې برلاسي شي.

---

(٤-٧)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني ځلېږي:

- موسی عليه السلام ته چې کوم کتاب ورکړی شوی وو په هغه کې بني اسرائيلو ته دا الهي پرېکړه اورول شوې وه چې دوه ځلي به په زمکې کې فساد کوئ او ستره لويي او کبر به کوئ؛ کله چې د دوی دواړو لومړی وعده راورسېږي؛ الله تعالى به داسي بندګان درباندي مسلط کړي چې مضبوط او پياوړي جنګيالي به وي، ستاسو کورونو ته به ننوځي؛ او دا يوه تر سره کېدونکې وعده ده. دا وړاندوينه تر سره شوه.

- دوهمه وړاندوينه دا وه چې الله تعالى به بيا تاسو ته پر دوی برى درکړي او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړي او تاسو به د شمېر له پلوه زيات کړي. که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د ځان لپاره به مو وي، دا الهي ژمنه هم تر سره شوه.

- کله چې د دوهمي وعدې نېټه راورسېږي، موخه به ئې دا وي چې ستاسو مخونه سپېره کړي او مسجد الاقصى ته همغسي ننوځي لکه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه ښه نسکور کړي چې لوړ وي. دا الهي وړاندوينه هم تر سره شوه، بني اسرائيل له همداسي برخليك سره مخامخ شول.

- دلته د دښمنانو په لاس د يهودو دوو سترو او وحشتناکو تباهيو ته اشاره شوې چې په ترڅ کې ئې دښمن هم د دوی کورونو ته ننوتی او هم ئې معبدونو ته، هر څه ئې له خاورو سره برابر شوي، کورونه ئې، ښارونه ئې، قصرونه ئې، ځلي ئې او معبدونه ئې. دواړه ځله دوی ته د بغاوت سخته سزا ورکړی شوې، هر څه ئې د دښمن لاس ته ورغلي، يا د اسيرانو په توګه کله د فارسيانو بابل ته او کله د روميانو تر سلطې لاندي سيمو ته

لېږدول شوي، تفصيل ئې په (بايبل د قرآن په رڼا کې) ولولئ. د الله تعالی په کتاب کې د دغو پېښو وړاندويني شوې وې چې ټولې تر سره شوې.

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾

ښايي ستاسو رب رحم دربانديې وکړي؛ او که بېرته وګرځېدئ موږ هم راګرځو؛ او دوزخ مو د کافرانو لپاره حصاروونکی (زندان) ګرځولی.

(۸)- که له مخکينيو بدو عملونو توبه وکړئ نو هيله ده چې الله تعالی پر تاسو رحم وکړي او له بدو ورځو مو وژغوري؛ خو که بېرته د عصيان او بغاوت لوري ته وګرځېدئ؛ الله تعالی به بيا ستاسو د تعذيب پرېکړه کوي، په دنيا کې به له دردناك الهي عذاب سره مخامخ کېږي او په آخرت کې به د دوزخ په هغه زندان کې پرېوځي چې د وتلو ټولې لارې ئې بندې دي او کلك حصار ترې راتاو دئ.

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾

يقيناً چې دا قرآن هغه څه ته لارښوونه کوي چې تر ټولو سمه او سيده ده؛ او هغو مؤمنانو ته زېری ورکوي چې نېك عملونه کوي، (دا زېری) چې ستر اجر به ئې په برخه شي. او دا چې هغو ته دردناك عذاب دئ چې پر آخرت ايمان نه راوړي.

(۹-۱۰)- په دې مبارك آيت کې د عظيم الشأن قرآن څو ځانګړتياوې بيان شوې:

- هغې سمې او روغې لارې ته لارښوونه کوي چې تر ټولو غوره ده. د ژوند په هر اړخ کې او د هرې قضيې په اړه داسې لارښوونه کوي چې تر هغې آخوا د سمې او سيده لارښوونې تصور نشي کېدی.

- هغو مؤمنانو ته چې نېك عملونه کوي؛ دا زېری ورکوي چې په دنيا او آخرت کې به ستر اجر تر لاسه کړي.

- دا حقيقت څرګندوي چې په دنيا او آخرت کې دردناك عذاب هغو ته انتظار کوي چې پر آخرت ايمان نه راوړي.

وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴿١١﴾

او انسان د شر په اړه داسې دعاء کوي لکه د خیر په اړه ئې دعاء؛ او انسان ډېر عجول (تلواري) دئ.

(۱۱)- دا مبارك آیت د انسان یوه فطري نقص او عیب ته ګوته نیسي او وایي: انسان عجول دئ، د شر په غوښتلو کې همغسې تلوار کوي لکه د خیر او ښېګڼو په غوښتلو کې، که ګوته ئې په درد شي نو غواړي هغه قطع شي چې له درده وژغورل شي، کله د عادي ستونزې او کړاو په وړاندې صبر له لاسه ورکړي او ځان ته به مرګ غواړي. دلته دا وینا د هغو خلکو په ارتباط شوې چې پیغمبر علیه السلام ته به ئې ویل: که دا د الهي عذاب ګواښ حقیقت لري نو ولې ځنډ کوي، ولې تر اوسه نه راغی؟ دوی ته ویل شوي چې تاسو د یوه عجول انسان په څېر د شر په غوښتلو کې عجله او تلوار کوئ!!

وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴿١٢﴾

او شپه او ورځ مو دوه څرګندې نښې وګرځولې؛ نو د شپې نښه مو له منځه یووړه او ورځ مو لید مهال وګرځوله؛ د دې لپاره چې د خپل رب فضل ولټوئ او د دې لپاره چې د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ؛ او هر څه مو په تفصیل سره بیان کړي.

(۱۲)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- تلوار او عجله مه کوئ، د الله تعالی هر څه د دقیق نظم او محاسبې له مخې په خپل خپل وخت تر سره کېږي، لکه دا شپه او ورځ چې هره یوه ئې په خپل خپل وخت راځي په داسې دقیقه او منظمه توګه چې تاسو د هغې له مخې د کلونو شمېر او حساب معلومولی شئ.
- دلته د شپې په اړه ویل شوي چې د شپې نښه مو محوه کړه خو د ورځې په اړه ویل شوي چې د ورځې نښه مو د هر څه د لیدو او پېژندو وسیله وګرځوله چې په ترڅ کې ئې د خپل رب فضل ولټوئ؛ د بیان له فحوی معلومېږي چې دلته کفر له شپې سره تشبیه شوی؛ او ایمان له رڼا او ورځې سره، کافرانو ته ویل شوي چې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه و سلم په بعثت سره د کفر تیاره شپه پای ته رسوي او د ایمان په رڼا روښانه شوې ورځ راولي، په دې کې تاسو د خپل رب فضل او پېرزوینه تر لاسه کوئ، عجیبه ده چې

تاسو د ربّا پر ځای په تیاره کې پاته کېدا خوښوئ او د الله تعالی له ستر فضل او پېرزوینې ځان محروموئ.

● خو دا خبره لږ دقت او غور ایجابوي چې ولې دلته د (محونا آیة اللیل) الفاظ راغلي، که محو د نابودي او له منځه تلو په معنی واخلو نو شپه خو له منځه نه ځي، تل د زمکې پر سر وي، له یوې سیمې ئې پېښې بلې ته ورو ورو خوځېږي، نو یقیناً چې معنی ئې له منځه وړل نه بلکې تیاره کول دي، ځکه په ورپسې فقره کې ورځې ته مبصرة ویل شوي نو معنی ئې دا شوه چې شپه مو تیاره کړه او ورځ مو لید مهال، خو دا پوښتنه راولاړېږي چې دلته د لیل پر ځای آیة اللیل راغلي یعني ویل شوي چې آیة اللیل مو تیاره کړ!! د دې ځواب دا دئ چې د الفاظو په دغه ترکیب کې د قرآن یو ستر علمي اعجاز مضمر دئ. تاسو پوهېږئ چې لمر د ورځې نښه ده او سپوږمۍ د شپې نښه؛ نو د دې آیت دقیقه معنی دا ده چې الله تعالی د شپې دغه نښه (سپوږمۍ) تیاره کړه!! او د ورځې نښه (لمر) ئې د لیدو وسیله وګرځوله؛ او دا هغه ځلانده حقیقت دئ چې ساینسپوهان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شول او وئې ویل: سپوږمۍ په سر کې د لمر په څېر ځلانده وه او خپله رڼا ئې درلوده خو ورو ورو ئې دا رڼا له لاسه ورکړې او اوسنی حالت ئې غوره کړی.

● علي رضی الله عنه او عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته منسوب ګڼ شمېر روایات لرو چې د محونا آیة اللیل په اړه ئې همدا تفسیر وړاندي کړی او ویلي ئې دي چې په سپوږمۍ کې تور تور تپونه د همدې نښه ده؛ او تاسو پوهېږئ چې د سپوږمۍ دا تور تور تپونه په حقیقت کې هغه ځایونه دي چې د لمر رڼا نه وررسېږي او کوم سیوری پرې غوړېدلی وي، که سپوږمۍ له ځانه رڼا درلودی نو داسې تور تپونه به نه په کې تر سترګو کېدل.

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ ۖ وَنُخْرِجُ لَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ كِتَٰبًا يَلْقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴿١٤﴾

او هر انسان ته مو د ده بختليك د ده پر غاړه کې غوټه کړی او د قیامت په ورځ به ئې ده ته د یوه داسې پرانیستي کتاب په توګه راوباسو چې ورسره مخامخ به شي، خپل کتاب دې ولوله، نن ستا خپل نفس پر تا باندې د حسابوونکي په توګه کافي دئ.

(۱۳-۱٤)- دلته هم مخکیني عجول انسان ته ویل شوي: د هر چا عملونه لیکل کېږي، د همدې عملونو له مخې ئې برخلیك ټاکل کېږي، بختور او بې بخت د همدې له مخې پېژندل کېږي، هر انسان ته خپل بختليك د ده په غاړه کې غوټه کېږي، د قیامت په ورځ به ده ته د داسې پرانیستي کتاب په توګه راوایستل شي چې دی به ئې په خپلو سترګو وګوري

او ورته وبه ویل شي: خپل کتاب دي ولوله، نن ستا د ملامتولو لپاره بل ګواه، شاهد او محاسب ته ضرورت نشته، ستا خپل نفس پر تا باندې د حسابوونکي په توګه کافي دئ.

مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ﴿١٥﴾

څوك چې په سمه لار ولاړ شي نو د ځان لپاره په سمه لار درومي او څوك چې بې لارې شي نو د ځان په ضرر بې لارې کېږي؛ او هیڅ پر شا کوونکی د بل پېټی نه پر شا کوي؛ او موږ تر هغه تعذیبوونکي نه یو چې کوم پیغمبر مبعوث کړو.

(۱۵)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې د هر چا د ښه او بد عمل پایله په خپله ده ته ورګرځي، که په سمه لار ولاړ ګټه ئې ده ته رسي او که له سمې لارې منحرف شو تاوان ئې ده ته رسي، الله تعالی یو د بل په ګناه نه نیسي، هر څوك به د قیامت په ورځ د خپلو کړنو پېټی په شا وړي، نه پلار د زوی پېټی سپکولی شي او نه زوی د پلار پېټی، نه نسبي اړیکي څوك ژغورلی شي او نه د چا سپارښتنه او لاس نیوی. دا او دې ته ورته آیتونه او ګڼ شمېر روایات ښيي چې نه د کافر ماشوم د پلار د کفر له کبله دوزخ ته درومي او نه د مؤمن ماشوم د خپل پلار او مور د ایمان له امله جنت ته درومي، ټول ماشومان به جنت ته درومي دا ځکه چې دوی داسې عمل نه دئ کړی چې سزا ئې دوزخ ته تګ وي. په دې مبارك آیت کې چې د مجازات په اړه کومه عادلانه ضابطه او پر حق او انصاف ولاړ قانون تر سترګو کېږي چې وايي جرم یو داسې شخصي عمل دئ چې له مجرم پرته هیڅوك نشي پرې مؤاخذه کېدی؛ دا هغه څه دي چې نړۍ وال اوس د هغه په اهمیت پوه شوي او د نړۍ په ټولو مدني او اساسي قوانینو کې د هغه یادونه کېږي!!!

د دې مبارك آیت بله مهمه لارښوونه دا ده چې الله تعالی تر هغه یوه قوم ته د سزا ورکولو پرېکړه نه کوي چې دوی ته ئې پیغمبر نه وي لېږلی، د پیغمبر له لېږلو وروسته الهي حجت بشپړ کېږي او الله تعالی وروستۍ پرېکړه کوي او هغه چا ته سزا ورکوي چې له دې وروستي فرصت ګټه وانه خلي او د کفر، شرك او عصیان لار پرې نږدي. د آیت له دې فقرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې الله تعالی د زمانې په هر پړاو او د نړۍ په هر ګوټ کې، هر قوم ته پیغمبر لېږلی او تر هغه ئې کوم قوم ته سزا نه ده ورکړې چې د کوم پیغمبر بلنه او دعوت نه وي وررسېدلی.

دې ته مو پام وي چې په مسلمانانو کې دا یوه اختلافي مسئله ده چې د مؤمنانو او کافرانو ماشومان به جنت ته درومي که دوزخ ته، دوی خو نه ښه عمل کړی او نه بد؛ او نه پر ایمان مکلف شوي، له بلوغ مخکې د مړینې په حالت کې به ولې دوی مکافات یا مجازات کېږي؟! د مؤمنانو د ماشومانو په اړه خو زیات اختلاف نشته؛ خو په دې اړه

اختلاف زيات دئ چي د کافرانو ماشومان به دوزخ ته درومي که به جنت ته او که د جنت او دوزخ تر منځ درېيم ځاى ته؟! راشئ په دې اړه رواياتو ته ځير شو او وګورو چي سمه او د قرآن او حديث مطابق عقيده کومه يوه ده. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم عَنْ أَوْلاَدِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ « اللَّهُ إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ ». (بخارى:١٣٨٣)

له ابن عباس رضى الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم د مشرکينو د اولادونو په اړه پوښتنه وشوه، نو وئې فرمايل: (کله چي الله تعالى هغوى پيدا کول په هغه ښه پوه وو چي دوى به ئې کوونکي وي).

دا روايت چي په بخاري کې له ځينو توپيرونو سره دوه ځلي راغلى، د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کې يو يو راوي لري، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره توپير لري چي په همدې اړه راغلي، له ابوهريره رضى الله عنه هم دې ته ورته روايت راغلى. ځيني روايات وايي چي د مشرکينو اولاد به له دوى سره په دوزخ کې وي، ځيني وايي چي الله تعالى ښه پوهېږي چي دوى به د ژوندي پاته کېدو په صورت کې څه کول؛ يعني د همدغه الهي علم له مخي به جنت يا دوزخ ته درومي!! ځيني روايات داسي دي چي وايي دوى به په جنت کې وي. هغه محققين چي دغو رواياتو ته ترجيح ورکوي، د پورتني روايت په اړه وايي چي له (اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ) دا نه معلومېږي چي دوى به دوزخ ته ځي. د مقابل لوري په ځواب کې څو دلائل وړاندي کوي:

د دې مطلب لپاره چي د مشرکينو اولاد به دوزخ ته ځي نه يوازي په قرآن کې کوم شاهد نه شو موندلى بلکي د قرآن له ډېرو صريحو لارښوونو سره تعارض لري. په هيڅ آيت کې نه دي راغلي چي د مشرکانو کم عمر اولاد به دوزخ ته ځي. قرآن وايي چي هر چا ته به د هغه د عمل له مخي بدله ورکول کېږي، ليس للانسان إلا ما سعى، ماشوم که ئې والدين مؤمن وي يا کافر داسي عمل ئې نه وي کړى چي د عذاب مستحق وګڼل شي؛ نو ولي به دوزخ ته ځي؟!

قرآن فرمايي چي د هر بني آدم (که کافر وي که مسلمان) اولاد له داسي فطري جوړښت سره پيدا کېږي چي پر الله تعالى ايمان ئې په خته کې ايښودل شوى وي؛ له دې پلوه د مؤمن او کافر اولاد سره ورته دي؛ ولي به د مؤمن اولاد جنت ته درومي او د مشرك اولاد دوزخ ته؟!

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چي هر ماشوم له روغ فطرت سره دنيا ته راځي، وروسته ئې والدين بې لاري کړي؛ د روغ فطرت خاوند به ولي دوزخ ته ځي؟!

همدا راز په بل روايت کې راغلي:

عَن حَسْنَاءُ ابْنَةُ مُعَاوِيَةَ الصُّرَيْمِيَّةُ عَنْ عَمِّهَا قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ فِى الْجَنَّةِ قَالَ

النَّبِيُّ صَلَّ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْءُودَةُ فِي الْجَنَّةِ. رواه احمد

حسناء بنت معاويه له خپل تره روايت کوي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وويل: يا رسول الله! څوك به په جنت کې وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت کې وي، شهيد به په جنت کې وي، ماشوم به په جنت کې وي، ژوندۍ ښخه شوې ماشومه به په جنت کې وي.

بل روايت وايي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَأَلْتُ رَبِّي اللَّاهِينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ الْبَشَرِ أَلَّا يُعَذِّبَهُمْ، فَأَعْطَانِيهِمْ» رواه أبو يعلى

له انس رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: له خپل رب مي وغوښتل چي د بشر ماشومان تعذيب نه کړي؛ نو دا ئې راپه برخه کړل (زما دا دعاء ئې قبوله کړه).

د يوه بل روايت په ترڅ کې داسي راغلي:

فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ قَتْلِ الْأَطْفَالِ، ثُمَّ قَالَ: «اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ» معجم الاوسط للطبرانى

نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماشومانو له وژلو ممانعت وکړ او وئې فرمايل: الله تعالى په هغه څه ښه پوهېږي چي دوى به ئې کوي.

د دې معنى دا ده چي د مشرکينو ماشومان له دې امله مه وژنئ چي ګواکې دوى به د خپلو پلرونو په څېر مشرك ستر شي، الله تعالى ښه پوهېږي چي دوى به څه کوي. له دې معلومېږي چي د دې وينا موخه د دوى نه وژل دي نه دا چي په دوزخ کې د دوى د پرېوتو وجه او توجيه وي.

په بل روايت کې ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل خوب کې ابراهيم عليه السلام له بې شمېره ماشومانو سره په جنت کې ليدلى، بيا ئې وفرمايل چي دا د مؤمنانو او کافرانو ماشومان ول.

دغو خبرو ته په پام سره په قاطع توګه ويلى شو چي ټول ماشومان به جنت ته ځي. ډېره عجيبه ده چي څوك د صريح آيتونو په شتون کې داسي روايات مني چي له قرآن سره په واضح توګه تعارض لري!!! څوك چي په قرآن ايمان لري او هغه د الله تعالى د داسي کتاب په توګه مني چي هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي، هغه بايد د هري رأيي او د هر روايت په اړه قرآن ته مراجعه وکړي او يوازې په هغه صورت کې ئې ومني چي له قرآن سره تعارض ونه لري.

وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ١٦

او کله چې د کوم کلي د تباه کولو اراده وکړو نو مترفينو ته ئې امر وکړو؛ او هغوی هلته سرغړاوی وکړي؛ نو د دوی په اړه (د عذاب) وينا محققه شي او په ځانګړې ورانېدو سره ئې وران کړو.

(۱٦)- په دې مبارك آيت کې د باغي ولسونو د هلاکت په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکی سنت بيان شوی چې تفصيل ئې داسې دئ:

- الله تعالی هغه مهال د يوه ملت د تباه کولو اراده کوي چې مترفينو ته ئې د ده اوامر ورسېږي، د پيغمبرانو عليهم السلام او زړه سواندو داعيانو له خوا د حق لوري ته وبلل شي، د بغاوت، کفر او شرك له بدو پايلو ئې ووېروي؛ خو هغوی له فساد، بغاوت او سرغړاوی لاس وانه خلي، مهلت ئې پای ته ورسېږي او په بشپړه توګه جوته شي چې دوی د سزا وړ دي او مزيد مهلت ورکول بې ګټې؛ په دې توګه د دوی په اړه د عذاب پرېکړه محققه شي، کلی ئې وران او کليوال ئې هلاك شي.

- د دې مبارك آيت له لارښوونو معلومېږي چې د ملتونو د تباهۍ اصلي عاملين هغه مترفين، د شتمنيو خاوندان، له سوکالۍ برخمن او د ناز او نعمت په جامو پوښلي دي چې د ټولني حاکم سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام دوی ته بې شمېره او بې حسابه امتيازات ورکړي، په ولس کې شرك لړلي عقائد، جهل او خرافات د دوی واکمني تأمين کړي او جاهل عوام ئې د دوی پښو ته غورځولي؛ دوی د پيغمبرانو او زړه سواندو داعيانو په ضد د مخالفت ملاتړلې، په ټولني کې ئې فساد خور کړی او د الهي عذاب د راتلو اسباب ئې رامنځته کړي.

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ١٧

او له نوح وروسته مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك کړل؛ او ستا رب د خپلو بندګانو پر ګناهونو د باخبر او ليدونکي ذات په توګه کافي دئ.

(۱۷)- آيا تاسو ته هغه ستري تاريخي پېښې کافي نه دي چې په ترڅ کې ئې ګڼ شمېر مفسد، ظالم، کافر او مشرك قومونه په سختو سختو الهي عذابونو اخته شوي او د دوی ښارونه نسکور شوي؟ له نوح عليه السلام وروسته تر نن پورې په تېرو څو پېړيو کې څومره

د زر او ځواك خاوندان د فساد او طغيان له كبله هلاك شوي؟!! آيا دا پېښې نه ثابتوي چي دلته د خبير او بصير ذات له لوري د مجازات لړۍ روانه ده، د دې عذابونو پرېكړې د هغه رب له لوري شوې چي د خپلو بندګانو پر ګناهونو ښه باخبر او د دوی د وضعيت ښه ليدونكي دئ، همغه چا ته ئې سزا وركړې چي د سزا وړ ئې موندلې.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهُۥ
جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومًا مَّدۡحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ
مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ﴿١٩﴾ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ
رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ﴿٢٠﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴿٢١﴾

څوك چي عاجله (ژر تر لاسه كېدونكې) غواړي، د دوی هغه چا ته چي اراده مو ورته وشي په دنيا كې هغه څه وركوو چي مونږ ئې غواړو، بيا ئې جهنم په برخه كړو، چي د بدګڼل شوي او رټل شوي په توګه به ورننوځي؛ او چا چي آخرت وغوښت او له هغه سره وړ سعي او هڅه ئې ورته وكړه، په داسي حال كې چي مؤمن وي، نو دوی هغه وګړي دي چي د سعي قدرونه ئې كېږي. هر يوه ته دا (نعمتونه) ورپه برخه كوو؛ او دا ټول ستا د رب له وركړې دي؛ او ستا د رب د وركړې مخنيوی نشي كېدی، وګوره چي څنګه مو ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت وركړی؛ او آخرت خو هم د درجو له پلوه ستر دئ او هم د فضيلت له پلوه ستر.

(۱۸-۲۱)- په دې مباركو آيتونو كې د وركړې او عطاء په اړه د الله تعالی سنت په دې توګه توضيح شوی:

- څوك چي د خپلو هڅو او عملونو بدله يوازې په دنيا كې غواړي، هم او غم ئې دا وي چي بدله ئې ژر او په عاجله توګه په همدې دنيا كې وركړی شي، له نژدې دنيوي اغراضو آخوا بل مقصد او هدف نه لري؛ نو الله تعالی دا پرېكړه كوي چي د دوی كوم يوه ته څه او څومره په دنيا كې وركړي، داسي نه ده چي دوی به هرو مرو خپلو ټولو موخو ته رسي او ټول اهداف او اغراض به تر لاسه كوي؛ خو د دغو عجولو او غرضي دنياپالو وروستی تم ځی دوزخ دئ، دغه بيماري به په پای كې جهنم ورپه برخه كړي، له سپكاوي او ذلت سره به مخامخ شي او دوزخ ته به په داسي حال كې ننوځي چي مذموم (بدګڼل شوی) او مدحور (رټل شوی) به وي.

- ځوك چې د اخروي بريا او سعادت په لټه کې وي او دې هدف ته د رسېدو لپاره هغه سعي او هڅه کوي چې پر آخرت ايمان او اخروي سعادت او بريا ئې غوښتنه کوي، دا سعي د خپل ايمان په حکم کوي؛ نو الله تعالى به د ده د عملونو او هڅو قدرونه کوي او تر هغه به لازياته غوره بدله ورکوي.
- د نعمتونو د ورکړې پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، د الله تعالى د ورکړې او عطاء مخه هيڅوك نشي نيولی، هيڅوك نشي کولی د الله تعالى د هغې پرېکړې د تحقق خنډ او مانع شي چې غواړي کوم بنده په کومې پېرزوينې او نعمت سره ونازوي.
- لکه چې گورئ الله تعالى په دنيا کې د خپلو پېرزوينو او نعمتونو له پلوه ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت ورکړی؛ په آخرت کې به دا فضيلت لازيات ځرگند او پراخ وي، په آخرت کې به د خلکو مقام او مرتبه هم د درجې له پلوه ستر توپيرونه لري او هم به ئې يو پر بل فضيلت ستر توپيرونه لري.

---

لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ﴿٢٢﴾

د الله تر څنگ بل ځوك معبود مه گرځوه که نه نو سپېره گنډل شوی او يوازې پاته شوی به شې.

---

(۲۲)- دا مبارك آيت څو اساسي لارښووني لري:

- له الله سره بل معبود ځان ته مه جوړوه، داسې نه چې د ده تر څنگ بل ځوك او څه هم ولمانځې، په لمانځني کې سر ورته ټيټ کړې او په دعاء کې لاس ورته اوږد کړې.
- که بل ته سر ټيټ او لاس اوږد کړې او په دعاء او عبادت کې ئې له الله تعالى سره شريك کړې نو هم به مذموم او کرکجن وگنډل شې او هم به مخذول او بې مرستندوی پاته شې، داسې ځوك به ونه مومې چې ستا مرسته وکړی شي.

---

وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ
أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا
﴿٢٣﴾ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي
صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾

او ستا رب پرېکړه کړې چې له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ او له والدين (مور او

پلار) سره ښېګڼه کوئ، که د دوی یو یا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسېږي نو اُف هم مه ورته وایه؛ او مه ئې رټه؛ او محترمانه وینا ورته کوه. او د پېرزویني او مهربانۍ ټیټ وزر ورته غوړوه او وایه: اې زما ربه! داسې رحم پرې وکړه لکه چې زه ئې په وړکتوب کې (په مهربانۍ سره) وپاللم.

(۲۳-۲٤)- دا مبارك آیتونه د الله تعالی څو پرېکړي او اوامر زموږ مخې ته ږدي:

- له الله تعالی پرته د هیچا عبادت مه کوئ.
- له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ.
- که د دوی یو یا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسېږي نو اُف هم مه ورته وایه، که د دوی له کومې خبرې یا کړنې په تنګ شوئ نو نه یوازې صبر پرې وکړئ بلکې باید د اُف لفظ هم ستاسو له خولې ونه وځي.
- په هیڅ کار او وینا ئې مه رټئ، مه ورته وایئ چې ولې دې داسې وکړل یا داسې دې وویل.
- په هر حالت کې باید دوی ته ستاسو وینا له درناوي او احترام ډکه وي.
- ځان تر دوی لوړ مه ګڼئ، داسې څه مه وایئ چې ښیي ځان تر دوی ستر او مهم ګڼئ، چلن مو باید داسې وي چې ښیي پر دوی مهربان او زړه سواند یئ او دوی تر ځان لوړ ګڼئ، د پېرزویني او مهربانۍ ټیټ وزر ورته غوړوئ.
- دا دعاء ورته کوئ: اې زما ربه! داسې رحم پرې وکړه لکه چې دوی هغه مهال پر ما مهربان ول چې زه ووړ وم او دوی په مهربانۍ سره پاللم.

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِن تَكُونُوا۟ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾

ستاسو رب پر هغه څه ښه پوه دئ چې ستاسو په زړونو کې دي، که صالح وئ نو یقیناً چې هغه د ورګرځېدونکو (توبه کوونکو) لپاره بخښونکی دئ.

(۲۵)- د هر عمل او چلن تر شا چې ستاسو په زړونو کې کومه تلوسه، اراده او نیت دئ، کوم احساس چې تاسو کوم کار ته هڅوي، الله تعالی ښه پرې پوهېږي؛ که د مور او پلار په اړه ستاسو سلوك سم او عمل او نیت مو د صالح انسان په څېر وي او احیاناً د کوم بشري ضعف او کمزورۍ له کبله کومه غلطي او اشتباه وکړئ خو ژر متوجه شئ او بېرته سمې لارې ته راوګرځئ، توبه وکړئ او خپله غلطي جبران کړئ؛ نو یقیناً چې الله تعالی د داسې

توبه کوونکو لپاره بخښونکی دئ.

وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ
ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾

او خپلوانو ته خپل خپل حق ورکړه؛ او مسکين او مسافر ته هم؛ او خوشي خوشي لګښتونه مه کوه، يقيناً چي خوشي لګښت کوونکي د شيطان وروڼه دي او شيطان د خپل رب په وړاندي ناشکر دئ.

(۲٦-۲۷)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- ستا خپلوان ستا په شتمنيو کي ځانګړي حقوق لري، هر يوه ته خپل خپل حق ورکړه.
- مسکين او مسافر هم ستا په شتمنيو کي ځانګړي حقوق لري، دوی ته هم خپل خپل حق ورکړه.
- خوشي خوشي لګښتونه مه کوه، يقيناً چي خوشي لګښت کوونکي د شيطان وروڼه دي، همغه کار کوي چي شيطان ئې کوي او شيطان ئې خوښوي، د دوی عزائم او احساسات شيطانانو ته ورته دي. او شيطان د خپل رب په وړاندي ناشکر دئ. يعني تبذير او د الله تعالی په نعمتونو کي شيطاني تصرف د نعمتونو ناسپاسي ده، د يوه نعمت شکر اداء کول دې ته وايي چي په هغه نعمت کي د منعم د رضاء او خوښي مطابق تصرف وشي، په هغه توګه او په هغه لاره ولګول شي چي منعم پرې راضي کېږي. هر هغه تصرف چي د منعم د رضاء خلاف وي د نعمت ناسپاسي ده.

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا
﴿٢٨﴾

او که له دوی دي اعراض کاوو (له څه ورکولو دي مخ اړاوو) د خپل رب د يوې پېرزويني په لټه کي چي هيله ئې کوې؛ نو دوی ته پسته خبره وکړه.

(۲۸)- که له دغو مستحقينو سره د مرستي لپاره څه درسره نه وو، خو دا تلوسه دي په زړه کي وه چي کاش الله تعالی څه درکړي وی چي له دغو محتاجانو سره دي مرسته کړې وی، نو دوی ته پسته خبره وکړه. داسي چي مأيوس او ناهيلي ولاړ نشي، ورته ووايه: که مي په لاس کي څه وی نو له تاسو مي نه سپمول او که کله هم الله تعالی فضل وکړ او څه مي لاس ته راغلل هرو مرو به ستاسو مرسته کوم.

د دې مبارك آيت يو بل تعبير هم کېدی شي او هغه دا چي که له دغو خپلوانو او محتاجانو دي کومه ستوغه خبره واورېده خو تا د الله تعالی د رحمت او پېرزوېني په طمع ځواب ورنه کړ، صبر دي وکړ او مخ دي ترېو واړاوو؛ نو پسته خبره ورته وکړه.

---

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾

مه دې لاسونه تر خپلي غاړي تړلي ساته (له ورکړي لاس مه راټموه) او مه ئې په بشپړ پرانيستو سره پرانيزه؛ داسي چي (سبا ته) ملامت وګنل شې او حسرت درباندي وشي.

---

(٢٩)- د ورکړي او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه، مه بخل کوه دومره چي له مستحقينو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راټم کړې او مه اسراف کوه؛ داسي چي له مستحق او غير مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستي وکړې چي سبا په خپله د بل مرستي ته اړ شې او هر څوك دي ملامتوي او ستا په حال تأسف کوي.

يعني مه بخل کوه؛ دومره چي له محتاجانو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راټم کړې او مه اسراف کوه؛ داسي چي له مستحق او غير مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستي وکړې چي سبا په خپله د بل مرستي ته اړ شې او هر څوك دي ملامتوي او ستا پر حال تأسف کوي. بلکي د ورکړي او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه.

دلته دوه استعارې کارول شوې:

- خپل لاس تر خپلي غاړي مه تړه.
- لاسونه دي په بشپړ پرانيستو سره مه پرانيزه.

يوه ئې د بخل لپاره کارول شوې او بله ئې د ډېر سخاوت لپاره.

اوس که کوم ساده اهل ظاهر راپاځي او ووايي: الله تعالی فرمايلي: لاس دي له خپلي غاړي سره مه تړه؛ نو که دي لاس مات شو او ډاکټر غوښتل مات لاس دي له غاړي سره وتړي؛ پام چي دا کار ونه کړې؛ دا د الله تعالی د امر خلاف کار دئ. او يا درته ووايي: هيڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانيستو سره نه پرانيزې؛ ځکه الله تعالی د دې ممانعت کړی!! آيا د دې اهل ظاهر دا وينا د خندا او تأسف وړه نه ده؟!!

انسان ډېری وخت د خپلو معنوي مفاهيمو د إظهار لپاره مجبوراً له إستعارو کار اخلي؛ مثلاً وايي: «فلانی درووند سړی دئ» که څه هم د درووند معنیٰ ډېر وزن‌لرونکی دئ؛ خو کله چي موږ د يوه شخص په اړه دا خبره کوو؛ نو هدف مو د هغه معنوي وزن وي؛ يعني متين، معتبر او سنګين سړی دئ؛ نه دا چي هدف مو د هغه مادي او فزيکي وزن

وي؛ او يا په بل عبارت: فلان ډېر غټ زړه لري، معنیٰ ئې دا ده چې فلانی ډېر زړور سړی دئ؛ نه دا چې زړه ئې په فزيكي او مادي لحاظ غټ دئ، خو دلته ناچاره د خپل معنوي مفهوم د إفادې لپاره د مجاز په ډول إستعاره كاروو او خپل أصلي مطلب نورو ته بيانوو.

---

إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٣٠﴾

يقيناً ستا رب چې چا ته وغواړي رزق پراخوي او (چا ته چې وغواړي) تنگوي ئې؛ يقيناً چې هغه د خپلو بندگانو په حال ښه خبر او ښه ليدونكی دئ.

---

(۳۰)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه كوي چې بندگانو ته د رزق پراخولو او تنگولو په اړه الله تعالی د خپل جامع او بشپړ علم له مخي پرېكړه كوي، د بندگانو حالت ته په پام سره كله هغه پراخ كړي او كله ئې محدود او تنگ، هغه د خپلو بندگانو په حال ښه خبر او ښه ليدونكی دئ؛ كله دا مناسب بولي چې د آسمان او زمكې د بركتونو دروازې د خپلو بندگانو په وړاندې پرانيزي او كله دا چې دا دروازې پر دوی نيم بندې كړي، نه آسمان په پراخ زړه خپل نعمتونه پرې ووروي او نه زمكه په ورين تندي او پراخ لاس هر څه ورته راوټوكوي. تاسو هم د وركړې او له محتاجانو سره د مرستې په دوران كې د پوهې او بصيرت له مخي عمل وكړئ، د لږ او زيات مستحق، د ډېر او كم محتاج تر منځ توپير وكړئ، مه اسراف او تبذير كوئ او مه بخل.

---

وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ
خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا ﴿٣٢﴾ وَلَا
تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا
لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ﴿٣٣﴾

او خپل زامن د لوږې له وېرې مه وژنئ؛ موږ دوی ته هم روزي وركوو او تاسو ته هم. بې شكه چې د دوی وژل لويه گناه او خطأ ده. زنا ته مه نژدې كېږئ چې دا يوه بې حيائي او كركجنه طريقه ده؛ او هغه څوك مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام كړي مگر په حقه سره؛ او څوك چې په مظلوميت سره ووژل شو نو موږ د ده خپلوانو ته (د قصاص) واك وركړی؛ نو هغه دې په وژلو كې تېری نه كوي؛ ځكه (د الله له لوري ئې) مرسته شوې.

(۳۱-۳۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- خپل زامن د لوږي له وېرې مه وژنئ، الله تعالی هم د دوی د روزي ضامن دئ او هم ستاسو د روزي. څوك چې د لوږي له وېرې خپل ماشومان له پيدا کېدو وروسته يا مخکې وژني، سقط جنين کوي، يا داسې څه کوي چې اولاد ئې په برخه نشي؛ دوی ټول له دې پلوه سره برابر دي چې په زړونو کې ئې په دې اړه شك دئ چې الله تعالی د خپلو بندګانو د رزق او روزي ضامن دئ. دغه شك ئې له لوږي وېروي او د اولاد وژلو ته ئې چمتو کوي. که په مخکينيو جهل ځپلو او شرك وهلو ټولنو کې بې رحمو او سخت زړو مشرکينو خپل اولاد له پيدايښت وروسته وژل، شرك او جهل دې قساوت او بې رحمۍ ته چمتو کول؛ د نن زمانې په ظاهر کې متمدني او په حقيقت کې د جهل، شرك، خرافاتو او مفاسدو په ګنده ډنډ کې تر ستوني غرقې ټولنې همغه پرونی کار کوي، هغوی د لوږي له وېرې خپل ماشومان وژل او دوی کله د اقتصادي مشکلاتو تر نامه لاندې، کله د ښځې د صحت او روغتيا په بهانه او کله د دې لپاره چې ښځه د اولاد په پيدا کولو سره خپل ښکلتوب او ښايست له لاسه ورنه کړي؛ او په ډېرو نورو بهانو او پلمو سره د اولاد پيدا کېدو مخه نيسي. هغوی له پيدا کېدو وروسته وژل، دوی ئې د مور په رحم کې وژني، هغوی دنيا ته له راتلو وروسته ژوندی ښخول او دوی ئې نه پرېږدي چې د دنيا مخ په سترګو وګوري، نه هغوی دې ته کتل چې الله تعالی د ماشوم له پيدايښت مخکې د ده د مور په تيو کې د داسې شيدو په بڼې کې روزي تعبيه کوي چې د ده ټولو اړتياوو ته ځواب وايي او د داسې مهرباني او زړه سواندي مور په لاس ئې ده ته رسوي چې د ده لپاره د هر کړاو ګاللو ته چمتو وي؛ او نه دا بې رحمه وحشي متمدن انسان دې ته اعتناء کوي چې دا ماشوم د ژوند همغسې حق لري لکه دی چې ئې لري.

- هغه څوك چې خپل اولاد وژني ستره ګناه کوي او لوی خطأکار دئ، دا کار ئې له دې کبله ګناه ده چې د الله تعالی د حکم مخالفت ئې کړی او له دې کبله لويه اشتباه ده چې باعث ئې د الله تعالی په اړه يو غلط باور او يوه غلطه انګېرنه ده.

- زنا ته مه نژدې کېږئ چې دا يوه بې حيائي او کرکجن کار دئ، زنا پليت او ناپاك عمل دئ، د پاکيزه او قانوني جنسي اړيکو مغاير عمل دئ، د بل پر حق ستر او تر ټولو بد تېری دئ، هغه فطري قانون تر پښو لاندې کول دي چې د انساني نسل سالمه بقاء ورپورې تړلې ده، هر سالم الفطرت انسان له دې کرکه لري چې د ده پر ناموس او عزت تېری وشي او د ژوند همسفر او ملګری ئې خائن او بې وفا وخېژي. نارينه له داسې فطرت سره پيدا شوی چې پر خپلې مېرمنې د بل کس جنسي تېری نه زغمي او شديد عکس العمل ښيي؛ ښځه داسې پيدا شوې چې د بکارت پرده ئې وي؛ دا دواړه د آزاد جنسي تعلق مانع او مغاير فطري مقتضيات دي، د فطرت خلاف تصرفات ستري ستونزې او بدې پايلې زېږوي؛ نن علم ته ثابته شوې چې لومړی جنسي تقارب د مېرمنې په بدن کې د خاصو هورمونونو د راپيدا

کېدو باعث شي، بدن ئې له دې تقارب سره متناسب عيار شي، په عين وخت کې له بل سره تقارب ئې په بدن کې د هورمونونو اختلال او بدنظمي رامنځته کوي او په جسمي او رواني بېماريو ئې اخته کوي. زنا داسې ده لکه يوه انسان ته هممهاله تر يوه زيات واکسينونه لګول يا له خپلې خاصې وينې پرته بله وينه تزريقول.

- هغه ژوی مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه سره.

- څوك چې په مظلوميت سره ووژل شي نو الله تعالی د ده خپلوانو ته د قصاص واك او حق ورکړی، د مقتول ورثه دې د قاتل په قصاص کې تېری نه کوي، له اصلي قاتل پرته دې بل څوك په بدل کې نه وژني، د قصاص په اخيستو کې دې له هر هغه کار ډډه کوي چې تېری ګڼل کېږي. د الله تعالی د دې حکم درناوی دې وکړي چې د مقتول ورثه ته ئې د قصاص واك او توان ورکړی.

---

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٤﴾

او د يتيم مال ته تر هغه مه نژدې کېږئ چې خپل پوخوالي ته ورسېږي؛ مګر په هغه توګه چې ترټولو غوره وي؛ او پر ژمنو وفا وکړئ؛ دا ځکه چې د ژمنو خامخا پوښتنه کېږي.

---

(٣٤)- دا مبارك آيت له يوې خوا د يتيم په اړه سپارښتنه کوي او وايي: د يتيم مال ته مه نژدې کېږئ؛ مګر په داسې توګه چې ترټولو غوره وي، د يتيم له مال سره احتياط کوئ، تر خپل مال زيات احتياط، داسې تصرف په کې وکړئ چې يتيم ته ئې ګټه ورسېږي، تر هغه ئې مال ورته وساتئ او په ښه او غوره توګه تصرف په کې وکړئ چې دا يتيم د خپل عمر پوخوالي ته ورسېږي او د خپل مال د ساتلو او پاللو جوګه شي. له بلې خوا مونږ ته لارښوونه کوي چې په خپلو ژمنو وفا وکړو، دا ځکه چې د ژمنو خامخا پوښتنه کېږي، الله تعالی به حتماً د ژمنو پوښتنه کوي. که څه هم د آيت دوهمه لارښوونه بېله او مستقله لارښوونه برېښي خو په حقيقت کې له لومړنۍ سره ژوره اړيکه لري؛ دا ځکه چې کله انسان د يتيمانو پالنه او ساتنه پر غاړه اخلي، يا د ټولني د دود دستور مطابق يا د شرعي ضوابطو له مخې د مړو خپلوانو يتيمان ده ته پاته کېږي؛ نو دا په حقيقت کې له الله تعالی او له دغو يتيمانو سره يوه ژمنه ده، الله تعالی به هرو مرو د دې ژمني په اړه له ده پوښتنه کوي.

---

وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ

تَأۡوِيلٗا ﴿٣٥﴾

او کله چې کوم څه پیمانه کوئ نو پیمانه بشپړه کړئ او په سمې تلې تلل وکړئ؛ دا غوره دئ او د پایلې له مخې ډېر ښه.

(٣٥)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې په تلې او پیمانې کې صادق وو او له غدر او خیانت ډډه وکړو، که څه هم پیمانه او تله په حقیقي معنی په تجارتي معاملاتو او پېر پلور کې کارول کېږي؛ خو په مجازي توګه د انسان د معنوي قضاوتونو په اړه هم کارول کېږي، د چا په اړه دا قضاوت چې دروند یا سپك سړی دئ، درنې یا سپکې خبرې ئې وکړې؛ تلل او پیمانه کول ګڼل کېږي؛ نو ویلی شو چې د آیت مفهوم عام دئ او د پېر پلور تر څنګ د انسان ټول قضاوتونه احتواء کوي. په تلې او پیمانې کې صداقت، په سمې او صحیح تلې تلل او له څه کمولو ډډه کول؛ او په قضاوتونو کې د حقیقت او عدالت مراعات د ستاینې او قدر وړ عمل دئ او پایله ئې ښه او غوره ده.

وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٦﴾

او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې، دا ځکه چې غوږ، سترګې او زړه داسې دي چې د هر یوه پوښتنه کېږي.

(٣٦)- په دې مبارك آیت کې هم یوه ستره او ځلانده الهي لارښوونه زموږ په وړاندې ځلېږي: موږ ته ویل شوي چې له غور او دقت پرته هیڅ خبره ونه منو، د غوږ دړه د هرې خبرې اورېدو ته داسې پرانیستې پرېنږدو چې د زړه تل ته مو لار ومومي؛ پرته له دې چې زموږ عقل ئې وڅېړي او د صحت او سموالي پرېکړه ئې وکړي. یوازې هغه مهال باید یوې خبرې ته په خپل زړه کې ځای ورکړو چې پرې پوه شوي یو، که د کوم شي په اړه څه اورو نو هغه مهال ئې ومنو چې یا ئې په خپلو سترګو وګورو او یا زموږ عقل او زړه ګواهي ورکړي چې دا خبره رښتیا ده. الله تعالی موږ ته غوږونه، سترګې او زړه د دې لپاره راکړي چې د سم او ناسم په پېژندو کې ترې استفاده وکړو، د قیامت په ورځ پوښتل کېږو چې دا د معرفت او پېژندو استعدادونه مو څنګه کارولي، مهمل او بې استفادې مو پرېښي وو او که مو سمه استفاده ترې کړې وه. الله تعالی به پوښتنه کوي چې ولې مو غلطې خبرې ته غوږ کښېښود، له تحقیق پرته مو ومنله، عمل مو پرې وکړ او بل ته مو وکړه. هغه خبره ومنه چې په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته په یوې خبرې باور کوه، په پټو سترګو په هرې خبرې پسې مه درومه.

وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ﴿٣٧﴾

او په زمکې کې په کبر او نخرو مه درومه؛ ځکه ته خو نه زمکه سورې کولی شې او نه په خپل لوړوالي کې د غرونو څوکو ته رسېدی شې.

(۳۷)- کبر او لويي مه کوه، ځان تر نورو لوړ مه گڼه، نورو ته په سپکه سترگه مه گوره، په زمکې کې په کبر او نخرو مه درومه؛ ځکه ته خو نه د ځواك او قوت له پلوه دومره ځواکمن يې چې زمکه دې تر پښو لاندې سورې شي او نه د جسامت له پلوه دومره ستر او لوړ چې سر دې د غرونو څوکو ته رسي!! دا مبارك آيت يو کمعقله مغرور او کبرجن انسان ډېر ښکلی انځوروي: داسې به درومي لکه چې زمکه ئې له وړلو عاجزه وي، لکه زمکه چې د ده د دروندوالی په وړاندې تاب نشي راوړی، نژدې ده سورې شي، لکه چې سر ئې د لوړو لوړو غرونو له څوکو هم اوښتی وي!! پښتانه هم بې عقله مغرور انسان له هغه چرگ سره تشبيه کوي چې د بام پر سر داسې درومي چې ته به وايې وېرېږي بام ئې تر پښو لاندې ړنگ نشي!!

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ﴿٣٨﴾

د دې هر يوه بدوالی ستا د رب په خوا کې کرکجن دئ.

(۳۸)- ټول هغه کرکجن خويونه او کړنې چې په پورتنيو مبارکو آيتونو کې ورته اشاره وشوه؛ د الله تعالی په وړاندې منفور او د غندلو وړ کارونه دي. الله تعالی هغه خلك نه خوښوي چې په دغو گنده او کرکجنو خويونو اخته وي. هغه کرکجن کارونه دا دي: شرك، د غير الله عبادت، مور او پلار ځورول، تبذير (خوشې لگښتونه)، بخل او اسراف، د اولاد وژنه، زنا، ناحقه قتل، له تحقيق پرته څه منل او عمل پرې کول، کبر او لويي.

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ﴿٣٩﴾

دا د حکمت هغه برخې دي چې ستا رب درته وحې کړې؛ او له الله سره بل معبود مه گرځوه که نه نو په دوزخ کې به ملامت شوی او رټل شوی وغورځول شې.

(۳۹)- له (۲۲) تر ((۳۸) آيت پورې چې کومې سترې سترې لارښوونې زموږ په وړاندې ايښودل شوې؛ د قرآن له نظره د پوهې او حکمت اساسي خبرې همدا دي. الله تعالی خپل

پیغمبر ته د دغو خبرو لارښوونه کړې، دا همغه څه دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې وحي شوې. لکه چي ګورئ د دې لارښوونو په پیل او پای کي پر توحید او یوازي د یوه الله پر عبادت ترکیز شوی او ویل شوي ﴿وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ﴾ او له الله سره بل معبود مه ګرځوه)، د دې خبري معنی دا ده چي توحید د حکمت او پوهي اساسي بنسټ دئ او پر ټولو ښېګڼو ئې احتواء کړې، د انسان ټول ښه اخلاق او نېك اعمال له دغي چیني خړوبه کېږي، نه پر وران بنسټ ماڼۍ جوړېدی شي او نه وچه او خوسا چینه تږی خړوبولی شي.

راشئ د حکمت په اړه د بایبل وینا د قرآن د دغو مبارکو آیتونو په خوا کي کښېږدو او وګورو چي د دوی تر منځ توپیر څومره ژور او پراخ دئ. د بایبل د امثال کتاب چي د متلونو مجموعه ده؛ او مواعظ او نصائح د متلونو په ژبه وړاندي کوي؛ د دې کتاب په مقدمه کي راغلي: د امثال د کتاب ډېری برخي د سلیمان؛ د نړۍ تر ټولو باحکمت انسان؛ لخوا لیکل شوې، د کتاب اصلي موضوع کولی شو په خلاصه توګه په اووم، اتم او نهم آیتونو کي ومومو چي وایي: د حکمت او پوهي د تر لاسه کولو لپاره لومړی ګام له خدای وېره ده، څوك چي حکمت او ادب خوار ګڼي احمق دئ؛ اې ځوانه! د پلار نصیحت واوره او د مور له لارښوونو مخ مه اړوه، ځکه د دوی خبري به د ملغلرو په څېر ستا تاج ښایسته کړي... د امثال کتاب ډېری برخي د حکیمانو او پوهانو د کارونو په اړه بحث کوي او د ناپوهانو له کړنو سره ئې مقایسه کوي، لکه دا: ناپوه انسان داسي فکر کوي چي د ده هر کار سم دئ، د چا نصیحت ته ضرورت نه لري، خو پوه انسان د نورو نصیحت ته غوږ نیسي، د امین او چغلګر په اړه وایي: چغلګر انسان چي هر چېري ولاړ شي د نورو اسرار افشاء کوي او امین انسان اسرار په خپل زړه کي ساتي، ... دا کتاب دوه ډوله انسانان موږ ته معرفي کوي: هغه چي د خپل نفس د ارضاء په لټه کي وي او هغه چي د خدای رضاء لټوي... د دې کتاب په اړه دومره ویلی شو چي د بایبل تر نورو کتابونو ئې ګټه وري برخي ډېري دي، خو اهمیت ئې ښایي دومره وي لکه د پښتو د متلونو یوه مجموعه!!

خو تاسو د حکمت په اړه د قرآن جامع او زړه راښکونکي لارښووني هم ولیدې او مو لیدل چي قرآن څه ته د (حکمت) نوم ورکړی او کوم کوم کارونه د حکمت کارونه ګڼي؟ د حکمت په اړه د بایبل انګېرنه داسي ده لکه هوا ګزول، لکه د باد پر سر ماڼۍ جوړول، لکه له هغه چا د ښېګڼي او نېکۍ طمع درلودل چي نه ئې زړه ورته چمتو دئ او نه ذهن، له شوره (ښوره) زمکي د ښېرازه فصل طمع. څوك چي خدای نه پېژني له هغه دا انتظار درلودل چي له خدای ووېرېږي او له ګناه ځان وساتي؛ بې ځایه توقع ده. بایبل د خدای په اړه واضح تصور نه لري، د قیامت او حساب و کتاب، مکافات او مجازات په اړه واضح خبره نه کوي، د بیا ژوندون د اثبات لپاره هیڅ دلیل نه وړاندي کوي، برعکس وایي چي مسیح زموږ د ګناهونو فدیه ورکړې. نو د بایبل منونکي ته دا خبره کول چي له خدای

وېره د حکمت سرچینه ده؛ یوه بابیزه خبره ده، خو د بایبل په مقابل کې د قرآن وینا نه یوازې داسې ده چې د انسان له عملي ژوند سره ژور ارتباط لري، انسان ته لارښوونه کوي چې خپل ژوند او له نورو سره خپلې اړیکې څنګه تنظیم کړي؛ داسې چې هم په دنیا کې له حسرت او ندامت خوندي وي او هم په آخرت کې؛ بلکې لومړی خدای ورمعرفي کوي، داسې معرفي چې هم د انسان ژور محبت ورسره راپیدا شي او هم ژوره وېره، رحمت ته ئې هیله من او له مواخذې ئې په وېرې کې، د اثبات لپاره ئې مضبوط دلائل مخې ته ږدي، بیاژوندون او مکافات او مجازات ورته ثابتوي، ... له دې وروسته ورته وایي چې څه به کوي او له څه به ځان ساتي.

أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

نو آیا خپل رب (تاسو) په زامنو سره ستایلي یئ او له فرښتو ئې (ځان ته) لوڼې نیولې دي؟!! یقیناً چې تاسو ستره (غلطه) خبره کوئ!!

(٤٠)- آیا عجیبه نه ده چې تاسو د خپل رب په اړه دا غلطه انګېرنه لرئ چې تاسو ته ئې زامن درکړي او ځان ته ئې د فرشتو په بڼې کې لوڼې غوره کړې؟!! دا په داسې حال کې چې په خپله د لوڼو له درلودو کرکه لرئ او ځان ته ئې پېغور ګڼئ!! یقیناً چې په دې کرکجنې وینا سره د الله تعالی په اړه ستر جسارت کوئ او ستره بده او غلطه وینا په خوله راوړئ. الله تعالی نه اولاد لري او نه ئې فرشتې لوڼې دي.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِيَذَّكَّرُوا۟ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾

او یقیناً چې په دې قرآن کې مو د دې لپاره پوره وضاحت وکړ چې پند واخلي خو قرآن دوی ته له کرکې پرته بل څه ورزیات نه کړ.

(٤١)- په قرآن کې دوی ته کافي او شافي وضاحتونه وشول، حقائق په وار وار او بېلو بېلو بڼو کې څرګند شول؛ په دې موخه چې عقل ئې سر ته راشي او پند واخلي؛ خو د دې پر ځای چې د قرآن له دغو ځلاندو او پرله پسې څرګندونو پند واخلي، د باطل ملګرتیا پرېږدي او د حق لوري ته مخه کړي؛ په خلاف ئې د حق رڼا ته شا کړه او له حقیقت د تېښتې او کرکې لار ئې غوره کړه،

قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴿٤٤﴾

ووايه: كه له الله سره نور معبودان وى؛ همغسې چې دوى ئې وايي؛ نو هرومرو به ئې د عرش وال په لور لټه كوله، پاك والى ئې دئ او له هغه څه ډېر ډېر لوړ دئ چې دوى ئې وايي؛ اُوه آسمانونه او زمكه او څه چې په دوى كې دي؛ ده ته تسبيح وايي، داسې څه نشته چې له ستاينې سره د ده په تسبيح لګيا نه وي؛ خو تاسو ئې په تسبيح نه پوهېږئ. بې شكه چې هغه بخښونكى حليم دئ.

---

(٤٢-٤٤)- په دې مبارك آيت كې څو ستر ستر مطالب زموږ مخې ته څلېږي:

- كه داسې چې مشركان ئې وايي له الله تعالى سره نور معبودان هم وى؛ نو هر يوه به غوښتل چې تر عرش ځان ورسوي، د عرش له اصلي خاوند سره په نزاع لاس پورې كړي او د آسمانونو او زمكې واكمنې په خپل لاس كې ونيسي؛ او يا د جوړ جاړي لار غوره كړي او د عرش واكمنې په خپلو منځونو كې سره ووېشي؛ په دواړو صورتونو كې به هغه نظم او يووالى چې د عالم په ټولو برخو كې تر ستړګو كېږي په بشپړه توګه له منځه تلو. په عالم كې دا كامل او بشپړ يو والى، نظم او تنسيق ښيي چې دلته هر څه د يوه ځواكمن، عليم او حكيم ذات تر واك او سلطې لاندې دي، دا عالم ګواهي وركوي چې خالق، پالونكى او ساتونكى ئې يو دئ، له دې عيب پاك او منزه دئ چې شريك ولري او له هغه څه ډېر ډېر لوړ دئ چې مشركان ئې الله تعالى ته منسوبوي.
- اوه آسمانونه او زمكه او څه چې په دوى كې دي؛ د الله تعالى په عبادت لګيا دي، د حال او قال په ژبه د الله تعالى تسبيح وايي، هم هر ليدونكي ته دا ثابتوي چې الله تعالى له هر عيب منزه او د ټولو ستاينو وړ دئ، هم عملاً د الله تعالى اوامرو ته منقاد دي او همغه څه كوي چې الله تعالى پرې ګمارلي او هم په داسې توګه د الله تعالى حمد او تسبيح وايي چې موږ پرې نه پوهېږو.
- دا چې الله تعالى مشركانو ته د دوى د شرك، الله تعالى ته د شريكانو او لوڼو منسوبولو او د الله تعالى په اړه كركجنو ويناوو فوري سزا نه وركوي؛ دا ښيي چې الله تعالى بخښونكى حليم دئ.

---

وَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ جَعَلۡنَا بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ حِجَابٗا

مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

او كله چې قرآن لولې ستا او د هغو خلكو تر منځ پټوونكې پرده رامنځته كوو چې پر آخرت ايمان نه راوړي. او پر زړونو ئې داسې غلاف جوړوو چې پرې پوه نشي او غوږونو كې ئې دروندوالى؛ او كله چې په قرآن كې خپل رب په يووالي سره ياد كړې نو هغوى له كركې سره په شا واوړي.

---

(٤٥-٤٦)- دا مبارك آيتونه په پرېكنده توگه وايي چې پر آخرت د عدم ايمان پايله او نتيجه دا ده چې د انسان زړه د حقيقت له درك او پېژندو عاجز شي او منل ئې ورته گران، د زړه دړه ئې د حق په وړاندې وتړل شي، پر حقيقت ايمان د ده زړه ته لار نه مومي، د ده او هغه داعي تر منځ پرېړ پرېړ حجابونه رامنځته شي چې دى د حق لوري ته بلي، غوږونه ئې درانه شي او هغه حساسيت له لاسه وركړي چې د حق په اورېدو سره څك شي او زړه ته د باور كولو او منلو پيغام ولېږي، كار ئې هغه پړاو ته ورسېږي چې نه يوازې د قرآن په څېر جذاب، اغېزناك او زړه راښكونكي كلام په وړاندې ئې نه زړه درېږي، نه ئې غوږونه څك كېږي او نه ئې ضمير او وجدان ويښېږي؛ بلكې د الله تعالى د نامه په وړاندې حساسيت ښيي او كله چې هغه په يووالي سره ياد شي نو دا تور زړى او مړضمير انسان په داسې حال كې مخ اړوي چې زړه ئې له كركې ډك وي.

---

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

موږ په هغه څه ښه پوه يو چې دوى هغه مهال پرې اورېدا كوي چې تا ته غوږ نيسي؛ او هغه مهال چې دوى نجوى كوي، هغه وخت چې دا ظالمان وايي: تاسو فقط د يوه مسحور (جادو وهلي) سړي متابعت كوئ! وگوره چې څنگه مثالونه درته بيانوي! نو په همدې سره تېروتي؛ او هيڅ لار نه مومي.

---

(٤٧-٤٨)- دا آيتونه د معاندينو او د آخرت د منكرينو هغه روحي حالت او كيفيت انځوروي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعوت اورېدو پر مهال او په خپلو منځونو كې د پټو غونډو په وخت كې به ئې درلود. په مخكيني آيت كې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مجلس كې، د قرآن د اورېدو او توحيد ته د بلنې په وخت كې د دوى روحي كيفيت توضيح شو؛ چې د زړونو دړې به ئې تړلې وې، غوږونه به ئې درانه او د دوى او رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منځ به پرېړ پرېړ حجابونه ول، شرك او پر

آخرت عدم ایمان دا حجابونه رامنځته کړي ول، د دوی زړونه ئې مړه او غوږونه ئې درانه کړي ول. خو په خپلو پټو غونډو کې بیا د دوی حالت داسې وو چې د مؤمنانو په اړه به ئې ویل: تاسو له دې پرته بل څه نه کوئ چې د یوه جادو وهلي سړي متابعت کوئ!! الله تعالی ښه پوه دئ چې د قرآن اورېدو پر مهال د دوی روحي کیفیت څنګه وي او په پټو غونډو کې د دوی قضاوت څنګه.

د دوی دغه حالت، دا غلط قضاوتونه او د حقیقت خلاف تبصرې او خیالات د دې باعث شوي چې تېروتنه وکړي او سمه لار ونشي موندلی.

---

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ﴿٤٩﴾ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ﴿٥١﴾ يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٥٢﴾

او وئې ویل: کله چې موږ هډوکي شو او وراسته شو؛ آیا موږ به بیا په یوه نوي خلقت او پیدایښت کې راپاڅېدونکي یو؟ ورته ووایه! تیږې شئ یا اوسپنه او یا بل داسې څه چې ستاسو په سینو کې درته ستر برېښي؛ ژر ده چې وبه وایي: څوك مو بېرته راپیدا کوي؟ ورته ووایه! هغه ذات چې په لومړي ځل ئې تاسو راپیدا کړئ؛ خو ډېر ژر ده چې دوی به خپل سرونه تاته خوځوي او وایي به: دا "دوهم ځلي پیدایښت" به کله وي؟ ورته ووایه: ښایي نژدې وي. هغه ورځ چې تاسو به وربلې، نو د ده له ستاینې سره به د منني ځواب ورکوئ او گمان به کوئ چې یوازې لنډه موده ځنډېدلي یئ.

---

(٤٩-٥٢)- گورئ چې دوی د بیا ژوندون په اړه څو پوښتنې او اعتراضات لري: کله چې زموږ غوښې توی شي، په هډوکو بدل شو، د بدن ټول اجزا مو وراسته شي؛ بیا به څنګه په یوه نوي هیئت او جوړښت کې راژوندي کېږو؟ دا خبره ورته محال برېښي چې انسان دې په ورستو هډوکو بدل شي او هر څه دې تجزیه شي، بیا دې بېرته راژوندی شي!! په ځواب کې ورته ویل شوي: تاسو خو د هغو سننو او ضوابطو مطابق مرئ چې الله تعالی وضع کړي، د همدې ضوابطو په حکم په هډوکو، ورستو اجزاءو او خاورو بدلېږئ او له همدې خاورې پیدا شوي یئ؛ ولې له دغې خاورې بیا راپیدا کېدل درته محال برېښي؟!! آیا اوس

مو له همدې خاورې نه پيدا کوي؟ آيا نه ګورئ چې د همدې خاورې اجزاء په دانې او مېوی بدلېږي او له هغه د انسان نطفه جوړېږي. تاسو خو له مرګ وروسته نه په اوسپنه بدلېږئ او نه په بل داسې څه چې له هغه د انسان پيدايښت محال او ناممکن وي!! په دې قاطع او روښانه دليل ئې سر نه خلاصيږي؛ بيا هم پوښتنه کوي چې څوك به مو بيا راژوندي کوي؟ اوس خو له ميندو پيدا کېږو، د قيامت په ورځ به څنګه او له څه پيدا کېږو؟ د دوی په ځواب کې ويل شوي: کوم ذات چې تاسو په لومړي ځل له خاورې پيدا کړئ؛ هغه به مو بيا راپيدا کوي. ولې له مور او پلار پرته او مخامخ له خاورې بيا پيدايښت درته محال او ګران برېښي؟!! دوی به د دې روښانه او قانع کوونکي دليل له اورېدو وروسته بيا هم خپل سرونه د انکار په توګه خوځوي او وايي به: دا "دوهم ځلي پيدايښت" به کله وي؟ ولې تر اوسه نه دئ راغلی او تر ننه مو داسې څوك نه دئ ليدلی چې بيا راژوندی شوی وي؟ د دوی په ځواب کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ورته ووايه: ښايي نژدې وي، هغه ورځ به ژر راشي چې الله تعالی به مو وربلي؛ نو په داسې حال کې به د ده بلنه منئ چې ستاينه به ئې کوئ او ګمان به کوئ چې يوازې لنډه موده ځنډېدلي يئ. که نن دا موده درته ډېره اوږده ښکاري هغه ورځ به ئې ډېره لنډه ګڼئ.

---

وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾

او زما بندګانو ته ووايه: هغه څه ووايي چې تر ټولو غوره وي، يقيناً چې شيطان د دوی تر منځ د شخړو باعث وسوسې راولاړوي؛ يقيناً چې شيطان د انسان څرګند دښمن دئ.

---

(۵۳)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې له خپل او پردي، دوست او دښمن، مخاطب او مجادل سره ئې خبرې او وينا په غوره توګه وي او ښکلي الفاظ وکاروي، له بدې وينا، غلطو خبرو، پاروونکو الفاظو او ستغو او سپورو الفاظو ډډه وکړي، داسې الفاظ ونه کاروي چې شيطان ئې خوښوي او شيطان ترې استفاده کوي او ستاسو او مخاطبينو تر منځ منازعات او شخړې راولاړوي، شيطان ستاسو څرګند دښمن دئ، په کمين کې درته ناست دئ، له يوې خوا تاسو پاروي چې تندی تريو کړئ او له کرکې او غصې ډك الفاظ وکاروئ او له بلې خوا ستا مخاطب هڅوي چې په خپل نامناسب او ناشايسته چلن سره تا بې صبره کړي او په دې توګه ستاسو تر منځ تريخوالی او دښمني راولاړه کړي.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ﴿٥٤﴾

ستاسو رب ډېر ښه درباندې پوه دئ؛ که وغواړي پېرزوينه به درباندې وکړي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي؛ او ته مو پر دوی وکیل نه یې لېږلی.

---

(٥٤)- دا مبارك آيت هم د مخکينۍ موضوع اړوند يوه بله لارښوونه کوي او د الله د لارې دعوتگرانو ته دا سپارښتنه کوي چې د مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چې د الله تعالی د رحمت وړ دئ که د عذاب، د ایمان راوړو امکان ئې شته که نه، الله تعالی به خپل رحمت ورپه برخه کړي او د ایمان راوړو سعادت به ئې په نصيب شي که نه؛ دا ستا کار نه دئ، کېدی شي هغه څوك د الله تعالی د پېرزويني او رحمت وړ وگرځي چې ته ترې مأيوس يې او د همدې يأس له کبله توند او تريخ چلن ورسره کوې!! د هيڅ مخاطب له هدايت مه مأيوس کېږه، د هيڅ مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چې هغه داسي د الله تعالی له رحمت محروم دئ چې د هدايت امکان ئې نشته، د مخاطب په اړه داسې پرېکړه ستا د لارې خنډ گرځي او له دعوت دې لاس اخيستو ته اړباسي، دا پرېکړه الله تعالی ته پرېږده، يقيناً چې ستا رب د ټولو پر حال ښه پوه دئ، د رحمت او نقمت پرېکړه الله تعالی په خپله کوي، که وغواړي پېرزوينه به درباندې وکړي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي، ته پر نورو وکيل نه يې، ستا دنده دا ده چې د الله تعالی دين تر نورو ورسوې، حق ته بلنه ورکړې او په دې اړه خپل الهي مسئوليت اداء کړې.

دا لارښوونه همغسې ده لکه د النحل د سورې په ١٢٥ آيت کې چې راغلې:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

د خپل رب لارې ته په حکمت او نېکې موعظې سره بلنه ورکړه؛ او په داسې توگه مجادله ورسره کوه چې تر ټولو غوره وي. يقيناً چې ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چې د ده له لارې تېروتي او هغه پر هدايت شوو هم ښه پوه دئ.

---

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿٥٥﴾

او ستا رب پر هغو چې په آسمانونو او زمکې کې دي ښه پوه دئ؛ او يقيناً چې ځينو پيغمبرانو ته مو پر ځينو نورو فضيلت ورکړی؛ او داؤد ته مو زبور ورکړ.

(۵۵)- له مخکینیو آیتونو سره د دې مبارك آیت د تړاو او ارتباط په اړه د مفسرینو بېل بېل تعبیرونه او توجیهات مومو، په ځینو تعبیرونو کې ډېر تکلف شوی او داسې تعبیر ئې وړاندې کړی چې لوستونکو ته لازیاتې پوښتنې راولاړوي. خو دا مبارك آیت له یوه پلوه له وړپسې آیتونو سره ژور ارتباط لري او له بله پلوه د دې سورې له یوې اساسي موضوع سره چې د إسراء او معراج سفر دئ دقیق ارتباط لري؛ له وړپسې آیتونو سره ئې تړاو داسې دئ: څوك چې د پیغمبرانو په شمول د لویو لویو او الله تعالی ته د مقربو شخصیتونو په نامه زیارتونه، ځلې او حتی مجسمې او بتان جوړوي، له هغوی مرسته غواړي، ګمان کوي چې هغوی اوس په آسمان کې؛ د الله تعالی خوا ته، د عرش شا و خوا او حتی پر عرش ناست دي، د خپلو محبانو په اړه الله تعالی ته سپارښتنې کوي او هغه ئې سپارښتنې له ځنډه پرته مني؛ په دې آیت کې دوی ته ویل شوي: څوك چې په آسمانونو کې دي الله تعالی پرې ښه خبر دئ، الله تعالی دا فضیلت ورکړی، دا د دوی ذاتي کمال نه دئ، د الله تعالی عطاء او پېرزوینه ده، نه یوازې دا چې پیغمبرانو علیهم السلام ته ئې پر نورو انسانانو فضیلت ورکړی بلکې د دوی تر منځ ئې هم یوه ته پر بل فضیلت ورکړی؛ خو الله تعالی تاسو ته وایي: که تاسو له الله تعالی پرته هر څوك، که په زمکې کې وي که په آسمان کې، انسان وي او که فرشته، پیغمبر وي که د الله تعالی کوم بل مقرب بنده؛ مرستې ته دروبلئ او په درشل کې ئې د دعاء لاسونه لوړ کړئ؛ نه تاسو ته کومه ګټه دررسولی شي او نه کوم ضرر دفع کولی شي؛ د الله تعالی مقرب بندګان په خپله الله تعالی ته د مزید نژدې کېدو اسباب لټوي. د معراج له قضیې سره ئې تړاو داسې دئ: پیغمبر علیه السلام ویلي وو چې د معراج په سفر کې مې له فلان فلان پیغمبر سره په فلان فلان آسمان کې ولیدل، د غوره او تر ټولو صحیح روایت له مخې، له اوو پیغمبرانو سره لیدنه شوې، په لومړي کې له آدم علیه السلام سره او په اوم کې له ابراهیم علیه السلام سره، په دوی کې د داؤد علیه السلام یادونه نه ده شوې، یهود او مسیحیان د داؤد علیه السلام مقام تر ډېرو نورو پیغمبرانو لوړ ګڼي، د معراج په اړه چې معاندینو کوم اعتراضات لرل یو ئې همدا وو چې ولې د داسې جلیل القدر پیغمبر نوم ئې نه دئ اخیستی او له هغه سره ئې د ملاقات وینا نه ده کړې؟!! دوی ته ویل شوي: الله تعالی ښه پوهېږي چې په آسمانونو کې څوك دي، د پیغمبرانو د فضیلت مراتب څنګه دي، هو؛ داؤد علیه السلام ته دا فضیلت ورکړی شوی وو چې د زبور په څېر الهي کتاب پرې نازل شوی وو؛ خو دا پوښتنه څه ارزښت لري چې ولې د معراج په سفر کې د ده یادونه نه ده شوې؟!! د ډېرو نورو پیغمبرانو یادونه هم نه ده شوې؛ یوازې د اوو نومونه اخیستل شوي.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا

تَحۡوِيلًا ٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ٥٧

**ووايه: له الله تعالی پرته چې "پر هر چا او هر څه د ملجأ او مرجع" گمان كوئ؛ "خپلي مرستي ته" ئې دروبلئ؛ هغوی نه له تاسو د ضرر دفع كولو توان لري او نه ئې د بدلولو، هغه چې مشركان ئې مرستي ته وربلي؛ هغوی په خپله د الله لوري ته د تقرب وسيله لټوي؛ هغه ئې چې تر ټولو زيات د نژدې والي وسيله وي؛ د هغه رحمت ته ئې هيله وي او له عذاب ئې وېره لري؛ بې شكه چې ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چې وېره ترې وشي.**

(٥٦-٥٧)- قرآن د دغو مباركو آيتونو په ترڅ كې خپلو مخاطبينو ته لارښوونه كوي چې له شرك ځان وساتئ؛ او له الله تعالی پرته بل چا ته د مرستي لاس مه اوږدوئ، يوازې له الله تعالی مرسته او مدد وغواړئ او د الله لوري ته ورلنډ شئ. مشركان چې له الله تعالی پرته په بل درشل كې لمن غوړوي او د الله تعالی مقرب بندگان د ملجأ او مرجع په توگه نيسي او له هغوی غواړي د دوی حاجتونه تر سره او دعاءگاني قبولي كړي؛ په دې نه پوهېږي چې دا مقرب بندگان نه يوازې د چا مرسته نشي كولی، نه ئې حاجت تر سره كولی شي او نه ضرر او كړاو ترې دفع كولی شي؛ بلكې په خپله هڅه كوي چې د الله تعالی لوري ته د تقرب وسيله تر لاسه كړي. لكه چې گورئ دا مبارك آيت وايي چې د الله تعالی او بنده تر منځ اشخاص نشي وسيله كېدی؛ كه دا اشخاص هر څومره د الله تعالی مقرب بندگان وي، د الله تعالی په وړاندې د تقرب وسيله كوم نازولی شخصيت نه بلكې د انسان خپله هڅه او عمل دئ، مقرب بندگان هم الله تعالی ته د مزيد تقرب لپاره دغه وسيله لټوي. په داسې حال كې چې دا مبارك آيت د شرك د نفی لپاره راغلی او په ډېر صراحت سره وايي چې هيڅ مقرب بنده نشي كولی د بل لپاره د الله تعالی په وړاندې وسيله او واسطه شي؛ خو متأسفانه عوام غولوونكي او ښكماران دا آيت تحريفوي او داسې معنی ترې راباسي چې د دوی شرك توجيه كړي او له ماسوی الله مرسته غوښتل جائز وگڼي؛ وايي: دا دئ په قرآن كې د وسيلې يادونه شوې نو په كار ده چې موږ د الله تعالی د مقربو بندگانو لمن ونيسو، دوی الله تعالی ته شفيع كړو، د دوی له لاري خپلې دعاءگاني الله تعالی ته وړاندې كړو، له دوی وغواړو چې زموږ حاجتونه تر سره كړي!! عجيبه ده!! داسې څرگند آيت چې شرك او ماسوی الله ته لاس اوږدول او مرسته ترې غوښتل په پرېكنده او قاطع الفاظو نفي كوي؛ ښكماران ئې داسې تحريفوي چې له ماسوی الله د مرستي غوښتلو د جواز دليل ترې راوباسي!! د اهل سنت و جماعت ټول علماء او معتبر تفاسير؛ وسيله يا د تقرب يعني نژديوالي په معنی اخلي او يا د هغه عمل په معنی چې د تقرب موجب گرځي، په احاديثو كې چې چېري د

وسيلې كلمه راغلې نو مطلب ترې تقرب (نژدېوالى) او د الله په وړاندې لوړ مقام دئ.

وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَـٰبِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾

او هيڅ كلى داسې نه دئ چې يا ئې موږ د قيامت له ورځې وړاندې هلاكوونكې نه يو او يا په شديد عذاب سره تعذيبوونكې، دا په كتاب كې ليكل شوي.

(۵۸)- په دې مبارك آيت كې معاندينو ته ويل شوي: تاسو هسې دوكه شوي يئ او گمان كوئ چې دا موجود حالت به همداسې د تل لپاره دوام كوي، نه به ستاسو اقتدار او واكمنې پاى ته رسي، نه به دا نظام نسكورېږي چې تاسو ته ئې له هره پلوه بې شمېره امتيازات درپه برخه كړي او نه به د هغو گناهونو، بغاوتونو او ظلمونو سزا دركول كېږي چې تاسو ئې كوئ. د الله تعالى ليكلى او تغيير نه منونكى سنت دا دئ چې هيچا ته تلپاتې ژوند نه وركوي، هيڅ ظالم د تل لپاره په اقتدار كې نه پرېږدي، تر قيامت مخكې ئې ټغر ورټولوي، يا په طبيعي توگه او يا په شديد عذاب سره.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْـَٔايَـٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْـَٔايَـٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾

او له دې پرته بل څه موږ د ځرگندو نښو (معجزو) له لېږلو منع نه كړو چې مخكينيو هغه تكذيب كړې؛ او ثمودیانو ته مو اوښه د ليدونكې نښې په توگه وركړه چې ظلم ئې پرې وكړ؛ او ځرگندې نښې نه لېږو مگر د وېرولو لپاره.

(۵۹)- قريشو له رسول الله صلى الله عليه و سلم د داسې معجزو وړاندې كول غوښتل چې مخكينيو پيغمبرانو ته وركړى شوې وې، ويل ئې: څنگه ومنو چې ته د الله تعالى پيغمبر يې حال دا چې يوه داسې معجزه دې وړاندې نه كړه چې مخكينيو پيغمبرانو لرلې!؟ د دې مبارك آيت په ترڅ كې دوى ته ويل شوي: معجزې د الله تعالى له لوري ښودل كېږي، د معجزې ښودل د پيغمبر ذاتي كار نه وي؛ الله تعالى له دې كبله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه معجزې نه دي وركړې چې مخكينيو پيغمبرانو ته ئې وركړې وې چې مخكينيو قومونو هغه تكذيب كړې، كه مخالفينو د معجزو په ليدو سره ايمان راوړلى نو پر مخكينيو پيغمبرانو به ئې ايمان راوړى وو او د دوى معجزې به ئې نه تكذيبولې. آيا ثموديانو داسې يوه ستره معجزه تكذيب نه كړه چې له ورايه ئې په خپلو سترگو ليدله، د يوې اوښې په بڼې كې معجزه، نه يوازې دا چې دا معجزه ئې ونه منله بلكې تېرى ئې پرې وكړ، د هغې

لاس پښې ئې پرې کړل!! چا چې د عیسی علیه السلام ستري ستري معجزې ونه منلې نوري معجزې به څنګه ومني؟!! تاسو چې معجزې غواړئ آیا دې ته هم متوجه یئ چې معجزې د هغه چا لپاره د الهي عذاب پیلامه وي چې په لیدو سره ئې ایمان رانه وړي، الله تعالی ټول هغه قومونه هلاك کړي چې د معجزو له لیدو سره سره ئې ایمان نه دئ راوړی. آیا غواړئ له تاسو سره همداسې وشي؟!! خو ستاسو مهربان رب دا نه غواړي، دې پیغمبر ته ئې د مخکینیو پیغمبرانو معجزې نه دي ورکړې، غواړي د ده امت تر قیامت پورې پاته شي، ده ته ئې داسې تلپاته معجزه ورکړې چې تر قیامت پورې د ټولو قومونو او نسلونو لپاره ستره معجزه ده، دا قرآن د ده معجزه ده، د ده د نبوت د اثبات لپاره دا معجزه کافي ده، څوك چې د قرآن په اورېدو سره او د قرآن د سترو سترو دلائلو په اورېدو سره قانع نه شي او ایمان رانه وړي هیڅ څه ئې نشي قانع کولی.

له دې او دې ته ورته آیتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د مخکینیو پیغمبرانو په څېر معجزې نه لرلې.

---

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠

او کله چې مو درته وویل: یقیناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او هغه رؤیا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره یوه آزموینه ګرځولې؛ او په قرآن کې (یاده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې؛ نو (دغو خبرو) یوازې د دوی ستر طغیان لازیات کړ.

---

(٦٠)- د دې مبارك آیت په ټولو فِقرو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

- د دې آیت په څلورو فقرو کې داسې څلورو خبرو ته ګوته نیول شوې چې د مخالفینو عناد، دښمني او طغیان ئې لازیات کړ.

- لومړۍ خبره ئې د قرآن دا وینا وه چې الله تعالی پر خلکو احاطه کړې، داسې څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفیق ورنه کړي؛ مخالفینو ویل: موږ خو په خپلې شاوخوا کې داسې څوك نه ګورو چې موږ ئې احاطه کړي یو!! موږ خو ډېر داسې څه کوو چې ته وایې الله تعالی ئې نه خوښوي، ستا د رب احاطه چېرې ده؟

- دوهمه خبره د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه رؤیا وه چې د اسراء او معراج په نامه یاده شوه، خلکو ته دا رؤیا یوه آزموینه وه، ځینو ته ئې منل ګران وو، ځینو هغه له

ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجدالاقصی پورې تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو ليدلي او...

- دربيمه خبره د قرآن دا وينا وه چې د دوزخيانو خوراك به د زقوم هغه تريخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي؛ او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!!
- څلورمه خبره د قرآن دا وينا وه چې الله تعالی به ستا د دښمنانو د تنبيه لپاره داسې څه وکړي چې دوی پرې ووېروي، مخالفينو وويل: دا تنبيه او تهديد ولې ځنډېدلی، ولې د دومره کلونو له تېرېدو وروسته هم دا ګواښونه تر سره نه شول؟

د آيت خلاصه دا ده: لکه څنګه چې قريشو د قرآن پر دغو دريو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې ستا د دغې رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

له دې مبارك آيت دوه خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د معراج سفر يوه رؤيا وه.
- قريشو د ملنډو او شديدو تبليغاتو موضوع ګرځولې وه.

د دغې رؤيا په اړه ابن عباس رضی الله عنهما ته دوه متضاد اقوال منسوب شوي: يو ئې وايي چې ابن عباس دا رؤيا مکې ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ننوتلو اړوند رؤيا بولي او بل ئې وايي چې دا د اسراء اړوند رؤيا ده!! په يوه کې دا رؤيا د خوب په معنی نيول شوې او په بل کې د ويښې ليدا!! په دغو متضادو او متعارضو رواياتو کې به هغه غوره کوو چې له قرآن سره اړخ لګوي. قرآن په هيڅ ځای کې رؤيا د ويښې ليدا په معنی نه ده راوړې، دا رؤيا په هيڅ صورت کې هغه رؤيا نه شو ګڼلی چې د حديبيې په سفر پورې ارتباط لري، دا ځکه چې دغه آيت نژدې اته کاله د حديبيې تر سفر وړاندې نازل شوی.

---

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ
خَلَقۡتَ طِينٗا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱذۡهَبۡ فَمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ فَإِنَّ
جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءٗ مَّوۡفُورٗا ﴿٦٣﴾ وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ

وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا
يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ وَكَفَىٰ
بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾

او كله چي مو فرشتو ته وويل: آدم ته سجده وكړئ؛ نو له ابليس پرته نورو (ټولو) سجده وكړه، (هغه) وويل: آيا هغه چا ته سجده وكړم چي له خټي دي پيدا كړی؟! وئې ويل: آيا پوهېږې چي كه تر قيامت مي وځنډوې نو دغه چي پر ما دي غوره والی وركړ؛ زامن به ئې له لږو پرته ټول هرومرو تباه كړم، (ورته) وئې ويل: ځه؛ د دوی هر څوك چي ستا متابعت وكړي جهنم به ستاسو سزا وي، پوره او وافره سزا. په خپل غږ سره د دوی هغه څوك وښويوه چي له وسه دي پوره وي؛ او خپل سپاره او پلي پرې وهڅوه؛ او په مالونو او اولادونو كې ئې ورسره شريك شه؛ او ژمني ورسره وكړه، شيطان خو يوازي غولوونكې ژمني ورسره كوي. يقيناً چي زما پر بندگانو دي هيڅ برلاسی او سلطه نشته؛ او ستا رب د وكيل په توگه كافي دئ.

---

(٦١-٦٥)- دا مبارك آيتونه چي په مجموع كې د مخالفينو د هغه اعتراض جامع ځواب دئ چي ويل ئې: په الهي عذاب كې ځنډ د څه لپاره دئ او ولي تر اوسه رانه غی؟ دوی ته ويل شوي: د انسان د پيدايښت پر مهال الله تعالی دا پرېكړه كړې وه چي شيطان ته به مهلت وركوي، دا ځنډ د هغه مهلت له كبله دئ، مشرح مطالب ئې دا دي:

● هغه مهال چي الله تعالی فرشتو ته وويل: آدم ته سجده وكړئ؛ نو له ابليس پرته نورو ټولو سجده وكړه؛ هغه وويل: آيا هغه چا ته سجده وكړم چي له خټي دي پيدا كړی؟! څنگه هغه چا ته سجده وكړم چي زه ترې غوره يم.

● شيطان نه يوازي له سجدې ډډه وكړه بلكې په تأكيد سره ئې وويل: كه ما ته تر قيامت مهلت راكړې نو دغه انسان چي پر ما دي غوره والی وركړ؛ زامن به ئې له لږو پرته ټول هرومرو تباه كړم، څنگه هغه چا ته سجده وكړم چي زه ئې په آسانۍ سره غولولی او بې لاري كولی شم، داسي كارونه پرې كولی شم چي د هلاكت كندي ته ئې وغورځوي، آيا داسي كمعقله او غولېدونكی د دې وړ دئ چي زه ورته سجده وكړم؟!!

● الله تعالی هغه ته وفرمايل: ځه؛ د قيامت تر ورځي مهلت دركوم، د دوی هر څوك چي ستا متابعت وكړي نو جهنم به ستا او د دوی سزا وي، پوره او وافره سزا. په خپل غږ، بلني او وسوسو سره د دوی هغه څوك وښيوه چي له وسه دي پوره وي، خپل ټول فوځ؛ سپاره او پلي دي د دوی په ضد بريدونو ته وهڅوه، په مالونو كې ئې ورسره شريك شه،

چي ستا د خوښي له لاري ئې تر لاسه کړي او ستا د خوښي په لارو ئې ولګوي؛ اولادونو کې ئې ورسره شريك شه، چي ستا د خوښي په کارونو ئې وګماري، ژمني ورسره وکړه، هيلي او طمعي ئې په زړونو کې راپيدا کړه، د شيطاني تګلارو او کړنلارو پايلي ورته ښايسته وبرېښوه، ته خو يوازي غولوونکې ژمني ورسره کولی شې چي نه حقيقت لري او نه ئې ته تر سره کولی شې، يقيناً چي زما پر بندګانو دي هيڅ برلاسی او سلطه نشته، نه مي ته داسي پيدا کړی يې چي پر انسانانو مسلط وې او نه مي دوی داسي پيدا کړي چي ستا تر سلطې لاندي وي، الله تعالی د وکيل په توګه کافي دئ، که څوك پر الله تعالی توکل وکړي نو الله تعالی د شيطان د وسوسو او بريدونو په شمول د هر څه په وړاندي ورته کافي دئ.

رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزۡجِى لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِى ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾

ستاسو رب هغه دئ چي کشتۍ په بحر کې درته خوځوي؛ چي فضل ئې ولټوئ، يقيناً چي هغه پر تاسو ډېر مهربان دئ.

(٦٦)- ستاسو رب هغه دئ چي په څپانده سيند کې ئې د کشتيو د تلو انتظام درته کړی، د دې لپاره چي فضل ئې ولټوئ، هم ئې په وچي کې ستاسو لپاره د رزق او روزي اسباب تعبيه کړي او هم په اوبو کې، په کشتيو سره له يوې خوا د اوبو له منځه خپله روزي تر لاسه کوئ او له بلي خوا له يوې سيمي بلي سيمي ته تګ کولی شي او تجارتي توکي انتقالولی شئ. چي هري خوا ته سترګي وغړوئ د مهربان رب د بې شمېرو پېرزوينو آثار به مو تر سترګو شي. ولي د دغو څلاندو نښو له ليدو سره سره پر خپل مهربان رب ايمان نه راوړئ.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمۡ أَن يَخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ ٱلۡبَرِّ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمۡ أَمِنتُمۡ أَن يُعِيدَكُمۡ فِيهِ تَارَةً أُخۡرَىٰ فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغۡرِقَكُم بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾

او کله چي په بحر کې کوم ربړ درورسېږي؛ له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چي (مرستي ته ئې) دربلئ؛ خو چي کله مو وچي ته وژغوري نو اعراض او ډډه کوئ او

انسان ډېر ناسپاسه دئ. آيا له دې خوندي شوي يئ چې د وچې په ژۍ کې مو ښخ کړي او يا تونده سيلۍ درباندي راولېږي؛ بيا هيڅ وکيل درته ونه مومئ او آيا له دې خوندي شوي يئ چې يو ځل بيا مو بېرته وروګرځوي او ستاسو د کفر او ناسپاسۍ له کبله د باد تونده سيلۍ درباندي راولېږي او غرق مو کړي او بيا د دغي سزا له کبله پر مونږ کوم نيوونکی ونه مومئ؟!

---

(٦٧-٦٩)- په دغو مبارکو آيتونو کې د شرك او توحيد حقيقت په ډېره ښايسته او ښکلې توګه انځور شوی او د دواړو ځرنګوالی او مقتضيات په دې توګه زموږ مخې ته ږدي:

- توحيد يعني دا چې انسان له الله تعالی پرته هيڅا ته طمع او اميد ونه لري او بل چا ته د دعاء لاس اوږد نه کړي، حالت ئې هغه چا ته ورته وي چې په کشتۍ کې سپور دئ، د طوفان هيبتناکو ځپو احاطه کړی، هيڅا او هيڅ څه ته د هيلي سترګي نشي غړولی او د مرستي غږ نشي کولی، له الله تعالی پرته هره بله مرجع او ملجأ هېره کړي او يوازي له ده مرسته غواړي.

- شرك يعني له دې پرته هر هغه حالت چې د الله تعالی تر څنګ بلې مرجع ته د طمعي او هيلي سترګي واوړي، يعني هغه حالت چې د احتياج لاسونه د بل په درشل کې لوږ شي او له کړاو ژغورنه بل ته منسوب شي. دا د قرآن له نظره هم شرك دئ او هم د الله تعالی د پېرزوينو ستره او کرکجنه ناسپاسي.

- دغو ناسپاسه مشرکينو ته ويل شوي: آيا له دې ځان خوندي ګڼئ چې د بحر په ژۍ کې مو ښخ کړي؟ چا دا ضمانت درکړی؟ چا درته ويلي چې که د طوفان له هيبتناکو ځپو وژغورل شئ نو د بحر په ژۍ کې به له هر خطر او ګواښ خوندي وئ؟ آيا داسي څوك شته چې تضمين کړي تونده سيلۍ به نه درباندي راځي او هر څه به نه درباندي نسکوروي؟!! آيا داسي کوم تضمين مو تر لاسه کړی چې بيا به د سيند له هيبتناکو ځپو سره نه مخامخ کېږئ؛ او الله تعالی به ستاسو د کفر او ناسپاسۍ له کبله د باد تونده سيلۍ نه درباندي رالېږي او په سيند کې به مو نه غرقوي؟!! که داسي وشي آيا داسي څوك موندلی شي چې له تاسو د دفاع په موخه د الله تعالی پر پرېکړي نيوکه وکړي؟

په قرآن کې به ګڼ شمېر آيتونه دې ته ورته ومومئ، په ټولو دغو آيتونو کې دا حقيقت ستاسو مخې ته راځي چې انسان هغه وخت الله تعالی ته مخه کوي، دعاء ورته کوي او عبادت ته ئې چمتو کېږي چې د احتياج او اړتيا احساس وکړي، د "عبادت" اراده ئې د "نيازمنۍ له احساس" راولاړېږي؛ خو چې د استغناء او بې نيازۍ احساس وکړي نو له الله تعالی مخ واړوي او د عصيان او طغيان لار غوره کړي. په دې ترتيب ګورئ چې د الله په اړه د انسان معرفت او د ده د ربوبيت په اړه د ده علم او پوهه په انسان کې د احتياج او نيازمنۍ احساس راولاړوي، د ده دعاء له هغه "معرفت" څروبه کېږي چې د رب العالمين

په اړه ئې لري.

وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ﴿٧٠﴾

او يقيناً چې موږ د آدم اولادې ته كرامت ور په برخه كړ او په وچه (زمكه) او بحر كې مو حمل كړ (د حمل وسائل مو ورته پيدا كړل)، پاكيزه رزق مو وركړ او دوى ته مو پر ډېرو هغو فضيلت وركړ چې موږ پيدا كړي.

(۷۰)- دا آيت موږ ته لارښوونه كوي چې الله تعالى انسانانو ته عزت او كرامت ورپه برخه كړ، د دوى لپاره ئې د حمل وسائل پيدا كړل، په وچه كې د آس او اوښ په څېر حيوانات؛ او د موټرو گاډو په څېر وسائل، په بحر كې كشتۍ؛ لكه څنگه چې په بحر كې كشتۍ ترې مراد دي، همدغسې په وچه كې دا د حمل ټول وسائل ترې مراد دي، د دغو وسائلو اړوند مواد، ضوابط، سنن او قواعد هم الله تعالى پيدا كړي، كوم مواد چې له هغوى په استفادې سره انسان موټرې، طيارې او كشتۍ جوړوي؛ ټول الله تعالى پيدا كړي او په انسان كې له دغو امكاناتو د استفادې استعداد هم د الله تعالى پېرزوينه ده، الله تعالى د دوى لپاره د رزق او روزي انتظام هم كړى، په دنيا كې دغه پاكيزه رزق چې تاسو ئې گورئ، دغه مېوې چې الله ئې د زمكې له مړو اجزاءو، له خټې او خاورې راپيدا كوي، په دومره پاكيزگۍ سره، له ظرافت، لطافت او نظافت سره، ښايسته او خوندور، داسې چې ته ئې له خونده لذت اخلې، له بوى او رنگ ئې خوند اخلې، هغه ته ئې پوستكې ور اغوستي او د دې انتظام ئې كړى چې پاك او ستره وي، الله جل شأنه د دوى لپاره د داسې پاك رزق او روزي انتظام وكړ، دوى ته ئې پر ډېرو هغو مخلوقاتو فضيلت وركړى چې الله تعالى پيدا كړي، له هره پلوه ئې دوى ته فضيلت وركړ: د صورت له پلوه، د عقل او پوهې له پلوه، د گڼ شمېر استعدادونو له ناحيې، دا چې هغه ئې په زمكه كې خپل خليفه وگرځولو، د دنيا هر څه ئې هغه ته مسخر كړل، د زمكې او آسمانونو هر څه د هغه په خدمت كې دي او الله جل شأنه ده ته رام او مسخر كړي او په دې ترتيب ئې د ټولو مخلوقاتو په نسبت دوى ته فضيلت او لوړوالى وركړى.

يَوۡمَ نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَٰمِهِمۡۖ فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴿٧٢﴾

هغه ورځ چي هره ډله خلك به د خپل مشر په نامه راوبلو؛ نو چا ته چي خپل کتاب (عملپاڼه) په ښي لاس کي ورکړی شي نو دوی به خپل کتاب لولي او پر دوی به د (خرما د زړي د) نري تار په اندازه هم ظلم نه کېږي. او څوك چي دلته "په دې دنيا کي" ړوند وو؛ هغه به په آخرت کي هم ړوند او تر دې زيات تېروتی او لار ورکی وي.

(۷۱-۷۲)- د قيامت په ورځ به هره ډله د خپل زعيم او امام په نامه د محاسبې لپاره وبلل شي، ځيني به بريالي وګڼل شي، دوی ته به خپلي عملپاڼي په ښي لاس کي ورکړی شي، خپلي عملپاڼي به لولي، نورو ته به ئې اوروي، بدله به ئې په بشپړه توګه ورکړی شي. ځيني نور به له خپلو قبرونو ړانده راپاځي، دا هغه خلك دي چي په دنيا کي ئې په پټو سترګو ژوند کړی وو، له خپل بصيرت او سترګو ئې هغه کار نه وو اخيستی چي ورسره ښايي، نه ئې د دنيا له پېښو او حوادثو عبرت او پند اخيستی وو او نه ئې په عالم کي د عبرت نښو ته اعتناء کړې وه، د ټولو هغو نښو له خوا د ړندو په څېر تېر شوی وو چي انسان ته د خپل رب په لوري بلنه ورکوي او په آخرت ايمان ته ئې بلي، په دنيا کي ئې د ړانده په څېر ژوند وکړ، په آخرت کي به هم ړوند حشر کېږي، څوك چي په دې دنيا کي له بصيرت محروم وي، د دنيا له عبرتناکو پېښو او صحنو پند او عبرت وانه خلي، په عالم کي دا دقيق نظم، يووالی او هدفمني ئې د الله لوري ته هدايت نه کړي، ړوند پاته شي، د ړندو په شان ژوند وکړي، هغه به په آخرت کي ړوند حشر کېږي، لکه په دنيا کي چي تېروتی او لار ورکی وو، د سمي لاري له پېژندو عاجز او په سمي لاري له تلو بې زاره وو هلته به تر دې زيات تېروتی او لار ورکی وي، د جنت په لوري به لار نشي موندلی، د دوزخ په لوري به درومي او د جهنم په کندو کي به لوېږي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي لار ورکه کړې وه، په آخرت کي به هم لار ترې ورکه وي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي د ړندو په څېر ژوند کړی، په آخرت کي به هم ړوند وي.

دا مطلب د طٰهٰ په سورې کي په دې الفاظو راغلی:

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِىٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَـٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ طٰهٰ: ١٢٤-١٢٦

او چا چي زما له ذکر اعراض او ډډه وکړه نو يقيناً چي تنګ او ضيق ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند حشر کړو. هلته به وايي: اې زما ربه! ولي دې ړوند حشر کړم په داسي حال کي چي سترګه ور وم، الله تعالی به وفرمايي: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر کړل (هغه دې ونه منل) نو همداسي به نن هېر کړی شې.

يعني چا چي په دنيا کي د الله تعالی له ذکر او يادولو او د الهي کتاب له پند او

لارښوونو ډېره وکړه، الله جل شأنه ئې هېر کړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وکړ، د هغه دنيايي ژوند به له تنگئ، اضطراب، پرېشانئ او تشويش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادئ مخ ونه گوري، په اختناق او وحشت کې به ژوند کوي، که څه هم له زياتو امکاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرائع او امکانات ئې په واك کې وي، خو زړه به ئې ډاډه نشي، تل به مضطرب او پرېشان وي. د انسان ترټولو لويه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنئ محروم وي، وسائل، بنگلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي ورکولی، دا د الله تعالی ذکر او يادونه ده چې انسان ته اطمئنان ورکوي او زړه ئې ډاډه کوي، چا چې د الله له ذکر او ياد ډېره وکړه، په دې معنی چې الله ورپه ياد نه شو او کوم کتاب چې الله تعالی نازل کړی هغه ئې خپل لارښود نه کړ، د هغه په رڼا کې ئې ژوند ونه کړ، هغه د ده د لارې ډېوه او د ژوند په ټولو برخو کې لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډېره وکړه؛ د دې اجتناب له کبله به په دنيا کې مضطرب او پرېشانه ژوند لري او د قيامت په ورځ به ړوند حشر کېږي. ورته وبه ويل شي: لکه څنگه چې تا د الله آيتونه هېر کړل، پند او عبرت دې ترې وانه خيست، همداسې به الله تعالی نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او اعتناء نه لري، دا ځکه چې تا د هغه آيتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴿٧٣﴾ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ﴿٧٥﴾

او نژدې وه په فتنه کې دې واچوي او له هغه څه دې واړوي چې تا ته مو دروحې کړي، په دې توگه چې د وحې خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نيولې. او که مو مضبوط کړی نه وی نو يقيناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لورې ته متمايل شې؛ چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرگ وروسته هم دوه برابره، بيا به دې زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

(۷۳-۷۵)- په دې آيتونو کې داسې له عتابه ډکې صيغې مومو چې نظير ئې په ټول قرآن کې نه شو موندلی!! رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دې منلې وی چې په الهي وحې کې د لږ قدرې تغيير مطالبه ئې کوله او له ځانه دې څه ويلي

وی نو هم به مو په دنیا کې تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزوينې له امله پر خپل دريځ ثابت او ټينګ پاته شوې او د دوی غلطې غوښتنې ته تسليم نه شوې!! دا آيت د قريشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته به ئې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو ويل: زموږ د معبودانو په ضد له څه ويلو ډډه وکړه، داسې څه ووايه چې ټول پرې راغونډ شو، د تلفيق او روغې جوړې کوم مناسب صورت راپيدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ او په دې سره به د دښمنيو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!! خو ګورئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسې روغې جوړې منع کړی!! ګورئ چې د پيغمبرانو عليهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې درووند الهي مأموريت کې د معمولي اشتباه پايله څومره جدي او هيبتناکه!! ګورئ چې د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالى د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز ګورئ چې که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمايل دومره جدي نيول کېږي او د داسې سختې مؤاخذې وړ ګڼل کېږي؛ له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟!!

له دې معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل څه وکړي؛ او يو ډول تفاهم رامنځته شي؛ خوالله تعالی ترې منع کړ.

---

وَإِن كَادُوا۟ لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا ۖ وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾

او تلوار ئې کاوو چې له دې زمکې دې پښې سپکې کړي او ترې ودې باسي؛ او په دې صورت کې به دوی هم له تا وروسته نه وو ځنډېدلي مګر لنډه موده. دا زموږ د هغو پيغمبرانو په اړه (الهي) سنت دئ چې تر تا وړاندې مو لېږلي ول او زموږ سنت ته هيڅ بدلون نشې موندلی.

---

(٧٦-٧٧)- دښمنانو په تلوار سره هڅه کوله چې د مکې زمکه درته انګار کړي او وتلو ته دې اړ کړي، دې ته ئې نه کتل چې په دې ظلم سره به په الهي عذاب اخته شي او ستا له ايستلو وروسته به دوی ته هم زيات مهلت ورنه کړی شي، هغه تغيير نه منونکی الهي سنت ته ئې پام نه وو چې له مخکينيو پيغمبرانو سره د مخالفت له کبله ټبر قومونه په سخت الهي عذاب اخته شوي. مطمئن اوسه چې د پيغمبرانو په اړه الهي سنت همدا دئ او الهي سنت ته هيڅ بدلون نشې موندلی.

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴿٧٨﴾

**د لمر له زوال د شپې تر پخېدو پورې لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت، يقيناً چې د سباوون قرآن وينه مشهوده وي.**

(۷۸)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

● د آيت په لومړۍ فقرې کې ويل شوي چې د لمر له زوال بيا د شپې تر پخېدو پورې لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت، په دې سره پنځو لمونځونو ته اشاره شوې: د ماپښين، مازديگر، ماښام، ماخستن او سحر لمونځونه.

● د سحر لمانځه ته د قرآن الفجر: د سباوون قرآن وينه نوم ورکړى شوى؛ او له دې معلومېږي چې همدا د قرآن تلاوت د دې لمانځه يو امتيازي ځانگړتيا ده، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت په رڼا کې هم معلومېږي چې د سحر په لمانځه کې به ئې تر نورو زيات قرآن لوستلو. له دې وينا دا هم معلومېږي چې په لمانځه کې قرآن لوستل د رکوع او سجدې په څېر ضروري دئ، د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې لمونځ په داسې نومونو ياد شوى چې هر يو ئې د لمانځه يو جزء دئ، لکه سجده، رکوع او دلته قرآن الفجر، رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغو آيتونو په رڼا کې د لمانځه هيئت او څرنگوالى او بېلې بېلې برخې موږ ته راښودلې.

● د آيت په پاى کې ويل شوي: يقيناً چې د سباوون قرآن وينه مشهوده وي. يا په دې معنى چې فرشتې ئې ليدو ته راغونډېږي او يا په دې معنى چې د دې قرآن ويني آثار او اغېز د ورځني ژوند په ټولو چارو کې تر سترگو کېږي، د سحر په لمانځه سره نوې ورځ پيلول او په دې لمانځه کې د قرآن قرائت ته ځانگړې پاملرنه او اهتمام د دې باعث کېږي چې انسان په سم لوري تگ پيل کړي، خپل تگلورى د ايمان او قرآن په رڼا کې غوره کړي، د ورځې په اوږدو کې ئې هغه ژمنې په ياد وي چې د سحر په لمانځه کې ئې له خپل رب سره کړې دي، هغه حالت ئې مسلسل مخې ته ودرېږي چې سحر د الله تعالى په وړاندې د مطيع بنده په څېر درېدلى، رکوع او سجده ئې کړې، د لمانځه په پيل کې ئې لاسونه لوړ کړي وو او په دې سره ئې د الله تعالى په وړاندې خپله تسليمي او له بغاوت او سرغړاوي لاس اخيستل اعلان کړي وو، طبيعي ده چې دا روحي او معنوي حالت او کيفيت به د ده پر ټول ورځني ژوند سيورى غوړوي او اغېز به ئې په هر گام او هر کار کې راڅرگندېږي.

● دې ته مو پام وي چې ځينې گمان کوي پنځه وخت لمونځونه د همدې آيت له مخې فرض شوي او گواکې لمونځ د معراج په سفر کې فرض شوى او شمېر او اوقات ئې د همدې

سفر په دوران کې تاکل شوي!! خو دا انګېرنه نه له قرآن سره اړخ لګوي او نه له ګڼ شمېر هغو روایاتو سره چې وايي رسول الله صلی الله علیه و سلم تر دې وړاندې او حتی د بعثت په لومړیو کې لمونځ کړی. د قرآن په ګڼ شمېر هغو سورتونو کې د لمانځه یادونه شوې چې د الاسراء تر سورې وړاندې نازل شوي، په ګڼ شمېر آیتونو کې د لمانځه سپارښتنه شوې او په ډېرو کې د لمانځه اوقاتو ته هم اشاره شوې، د کوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کې د لمانځه امر شوی، دا سورتونه ټول تر الاسراء وړاندې نازل شوي، د هود په سوره کې داسې راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ هود: ١١٤

او د ورځې په دواړو خواوو کې او (وروستي نږدې) د شپې ځینې برخې کې لمونځ کوه، یقیناً چې ښېګڼې بدې له منځه وړي، دا د پند اخیستونکو لپاره پند دئ.

له شك پرته او په بشپړ یقین سره ویلی شو چې لمونځ او اوقات ئې د معراج تر سفر ډېر وړاندې او د الاسراء د سورې له نزول ډېر مخکې فرض شوي.

---

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحۡمُودًا ﴿٧٩﴾

او د شپې په یوې برخې کې تهجد کوه (پر لمانځه بې خوبي ګاله) ستا لپاره اضافي (کار)، هیله ده چې ستا رب دې په ستایل شوي مقام راپاڅوي.

---

(٧٩)- په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د تهجد لمانځه سپارښتنه شوې، دا د ده لپاره یو اضافي مکلفیت ګڼل شوی، پایله ئې ستایل شوی مقام تر لاسه کول ښودل شوي، د تهجد لغوي معنی بې خوبي ګالل دي، دلته ویل شوي چې پر لمانځه او د قرآن پر تلاوت بې خوبي ګاله. که څه هم د دې آیت لومړنی مخاطب رسول الله صلی الله علیه و سلم دئ، خو د المزمل سورې له آیتونو معلومېږي چې صحابه وو د تهجد په لمانځه کې د خپل لارښود ملګرتیا کوله، د المزمل د سورې لومړي آیتونه د تهجد په اړه وايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـًٔا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ المزمل: ١-٦

اې په جامو کې نغښتیه!! د شپې پاڅه پرته له لږ (برخې ئې)؛ نیمايي ئې یا لږ ترې راکم کړه؛ یا پرې زیات کړه او قرآن لوله په صفا لوستلو سره. بې شکه چې ژر به پر تا درنه وینا

نازله کړو. بې شکه چې تر ښو لاندې کولو (د یوه عمیق قول معنی او مفهوم ته رسېدو) کې د شپې پاڅېدونکې مضبوط وي او په وینا (د خپل ما في الضمیر په بیان) کې تکړه وي.

دلته د قرآن مخاطب د مزمل په لفظ سره یاد شوی او په دې توګه خطاب عام شوی، هر مخاطب احتواء کوي، د پیغمبر علیه السلام صحابه وو له دې آیت همدا مطلب اخیستی، د همدې لپاره ئې په قیام لیل کې د خپل لاربنود ملګرتیا کوله، د دې سورې په شلم آیت کې د دې رأیې په تائید کې څرګندې نښې مومو، هلته لولو چې نه یوازې پیغمبر علیه السلام د شپې دوه برخې، نیمایي او درېیمه برخه په قیام لیل او د قرآن په تلاوت تېروله بلکې د ده یارانو هم په دې سنت عمل کاوو؛ او په هماغه آیت کې لولو چې اوس ئې درته عفوه وکړه او دا اجازه ئې درکړه چې په دې کې تخفیف وکړئ او هومره تلاوت وکړئ چې درته آسان وي، که په لومړني آیت کې خطاب عام نه وی او ټول مخاطبین ئې نه احتواء کولی نو باید په شلم آیت کې د جمعي د صیغې (فتاب علیکم) پر ځای د مفرد صیغه (فتاب علیك) او د (فاقرءوا) پر ځای (فاقرأ) راغلې وی.

د الاسراء د سورې په پورتني آیت کې د تهجد پایله او نتیجه مقام محمود تر لاسه کول ښودل شوي او د المزمل په سوره کې ویل شوي چې د (قیام لیل) ګټه دا ده چې په دې سره ته په قول ثقیل (درنه وینا) د پوهېدو جوګه کېږې، کوم دراك استعداد او حساس ذهن چې د ثقیل قول، درنې وینا او ژور کلام په پېچلو، پراخو او ظریفو ابعادو د ښه او دقیق پوهېدا لپاره ضروري دئ، هغه د همدې قیام لیل په ترڅ کې د انسان په برخه کېږي او په هغه کې وده کوي. له (قول ثقیل) مراد قرآن مجید دئ چې د آیتونو محتوی او مفهوم ئې لوړ او ژور، وعدې ئې ګراني، انسان ته چې کوم مسئولیتونه سپاري هغه ډېر ستر ستر او درانه، عمل پرې ګران او د لوړ همت او عزم غوښتونکی. د قرآن له القاء یا مراد دا دئ چې خطاب متوجه پیغمبر علیه السلام ته دئ او هغه ته ویل شوي چې په قیام لیل او د قرآن تلاوت سره به د قرآن د نورو درنو درنو برخو تر لاسه کولو ته لازیات چمتو شې، دا درنې برخې به ډېر ژر پر تا نازلې کړو؛ او یا ئې مراد دا دئ چې د شپې په زړه کې د قرآن په تلاوت سره به ته د قرآن د آیتونو په ژورو او پراخو معانیو او مفاهیمو لا ښه پوه شې، د قرآن د اسرارو دروازې به ستا مخې ته پرانیستی شي. همدا راز ویل شوي چې د شپې پاڅېدا انسان ته دا وړتیا وربه برخه کوي چې وینا ئې اقوم او ډېره سمه مضبوطه وي، کولی شي خپل ما في الضمیر په اغېزمنو الفاظو او مؤثره بڼه کې وړاندې کړي.

---

وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ﴿٨٠﴾ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ﴿٨١﴾

او ووايه: اې زما ربه! په رښتيني ننوتو سره مې ننباسه او په رښتيني وتو سره مې وباسه؛ او له خپل لوري مرستندوى ځواك را؛ او ووايه: حق راغى او باطل له منځه ولاړ؛ يقيناً چې باطل له منځه تلونکى دئ.

(۸۰-۸۱)- خپل رب ته دا دعاء كوه: اې زما ربه! كوم ځاى ته چې ما ننباسې له صدق او رښتينولۍ سره مې ننباسه او له كوم ځاى چې مې باسې له صدق سره مې وباسه، له خپل لوري داسي واك او ځواك راپه برخه كړه چې د حق او صدق په لار كې زما مرستندوى وي، پر دې حقيقت بشپړ باور لره او تل ئې وايه: حق راغى او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چې باطل له منځه تلونکى دئ.

د دې مباركو آيتونو له فحوى معلومېږي چې دا برخه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له هجرت لږ مخكې نازله شوې، په دې كې وتلو او ننوتلو ته اشاره شوې، د مدخل صدق او مخرج صدق الفاظ راغلي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خپل رب ته دا دعاء وكړي چې له يوه ځاى وتل او بل ته ننوتل ئې له رښتينولۍ سره مل وي او هيڅكله د صداقت لمن پرې نږدي. د دغو مباركو آيتونو په ترڅ كې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د كومو دعاءگانو لارښوونه شوې وه ټولې به بشپړه توگه تر سره شوې، له مكې ئې سالم او روغ وتل او مدينې منورې ته ئې عزتمن ننوتل په برخه شول، الله تعالى له خپل لوري په مدينې منورې كې د صادقو او مخلصو انصارو داسي مجاهد لښكر په واك كې وركړ چې د حق په لار كې هري قربانۍ ته چمتو وو، د دوى په مباركو لاسونو د الله د دين بيرغ د نړۍ په گوټ گوټ كې ورپېدو، د دوى د سرښندونو او قربانيو په نتيجه كې دا الهي شعار محقق شو چې: حق راغى او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چې باطل له منځه تلونکى دئ.

له دې دعاء د اسلام او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت يوه مهمه ځانگړتيا څرگندېږي، ښيي چې دا دين د دعوت او بلني تر څنگ داسي (سلطان او نصير) ته ضرورت لري چې پلى ئې كړي، د انساني ژوند پر ټولو برخو ئې حاكم كړي، هغه ځواكونه وځپي چې د دې دين د غلبې او سلطې مانع كېږي، هغه خنډونه له منځه يوسي چې د الله پر زمكې د الله د دين د پلي كېدو مخه نيسي، د شر او فساد د هغو ځواكونو مقابله وكړي چې مظلومان په خپلې غلامۍ كې ساتي او نه پرېږدي چې خلك يوازي د يوه الله بندگي وكړي، دا دين داسي ولي او نصير ايجابوي چې دا ځلانده ډېوه بله وساتي او د طوفانونو په وړاندي ئې تتېدو ته پرې نږدي. دا دعاء او د قرآن گڼ شمېر نوري دعاءگاني ښيي چې د پيغمبرانو عليهم السلام رسالت يوازي په تبليغ، وعظ او نصيحت كې نه راخلاصه كېږي، د دعوت او تبليغ تر څنگ د هجرت، جهاد او شهادت مطالبه كوي، دا دئ گورئ چې الله تعالى خپل وروستي پيغمبر؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه كړې چې هجرت او وتلو ته چمتو شه، د ډاډمن مهجر او مرستندوى سلطان په لټه كې خپل رب ته د دعاء لاسونه

اوچت کړه. د هر چا له دعاءګانو معلومېږي چې هغه په خپل ژوند کې کوم اهداف څان ته غوره کړي، تګلوری ئې کوم دئ، دوست او دښمن ئې څوك دئ، د چا په دعاءګانو کې چې پر کافرانو د بري دعاء شامله نه وي، وانصرنا على القوم الكافرين: پر کافرانو برى را؛ واجعل لنا سلطانا نصيرا: مرستندوى څواك راپه برخه کړه؛ او دې ته ورته دعاء نه کوي، مه په هغه پسې لمونځ کوه، مه ئې له اسلام او رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د مينې پر دروغجنې دعوى باور کوه. دا قرآني دعاءګانې موږ ته ښيي چې د هغه چا په صداقت کې شك ولرو او دا ادعاء ئې ونه منو چې وايي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت عمل کولو ته چمتو يم، له هغه سره مينه لرم، هغه او رسالت ته ئې اخلاص او وفا لرم خو په دعاءګانو کې ئې دا مهمې برخې نشته. دا د يوه معيار او ملاك په توګه په پام کې ساته، کله چې کوم جومات ته ولاړ شې، کوم خطيب د منبر د پاسه وګورې چې د خداى، قرآن، پيغمبر او د هغه د سنت نوم اخلي خو نه د دين د غلبې او حاکمولو په اړه څه وايي، نه د ظالم په خلاف او د مظوم په دفاع کې، پوه شه چې دا خطيب نه د دين له حقيقت خبر دئ او نه له الله تعالى، د هغه له کتاب او پيغمبر سره اخلاص او وفا لري، که څوك په محراب کې وګورې چې لاسونه ئې د دعاء لپاره لوړ کړي؛ اوږدې اوږدې دعاءګانې کوي خو په دعاءګانو کې ئې دا نشته چې خدايه! موږ ته پر کافرانو برى را، پوه شه چې دا امام د دې وړ نه دئ چې په هغه پسې لمونځ وکړې، مه د داسې خطيب خبرو ته غوږ نيسه او مه په داسې امام پسې لمونځ کوه.

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾

او د قرآن داسې څه نازلوو چې هغه مؤمنانو ته درملنه او پېرزوينه ده؛ او ظالمانو ته له تاوان پرته بل څه نه زياتوي.

(۸۲)- دلته د قرآن څو ځلاندو ځانګړتياوو ته اشاره شوې: قرآن داسې لارښووني لري چې له يوې خوا د مؤمنانو لپاره داسې روحي او معنوي شفاء او درملنه ده چې ټولې فردي، اجتماعي، اخلاقي او روحي بيمارې معالجه کوي، له بلې خوا ئې الهي رحمتونه او پېرزوينې په برخه کوي. څوك چې پر قرآن ايمان راوړي او د قرآن له لارښوونو سره سم خپل فردي او اجتماعي ژوند عيار کړي، له ټولو هغو بيماريو به ژغورل کېږي چې فرد او ټولنه پرې اخته کېږي، خو هغه چې د تېرې او ظلم لار ئې غوره کړې او د قرآن مخالفت ته ئې ملا تړلې دوى به له زيات تاوان پرته بل څه تر لاسه نه کړي.

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا

﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ۝٨٤﴾ ۝٨٣

او کله چې پر انسان (د کوم نعمت) پېرزوينه وکړو اعراض کوي او خپل څنګ اړوي؛ او چې شر (کړاو) وروړسېږي نو ناهيلي (مأيوس) وي، ووايه: هر څوك پر خپلې کړنلارې عمل کوي؛ او ستاسو رب پر هغه چا ښه پوه دئ چې لار ئې تر ټولو سمه ده.

(۸۳-۸٤)- انسان داسې دئ چې کله الله تعالی کوم نعمت ورپه برخه کړي نو له خپل منعم مولا اعراض کوي او مخ اړوي او کله چې له کړاو سره مخامخ شي نو بيا ئې حالت د يوه ناهيلي او مأيوس په څېر وي. دغو کمظرفو انسانانو ته ووايه: هر څوك پر خپلې هغې کړنلارې عمل کوي چې ورته غوره برېښي او خپل نفس ورته ښايسته کړې، بخيل ته بخل ښه ښکاري او هغه څوك کمعقله ګڼي چې سخاوت کوي، منافق ته نفاق ښه برېښي او هوښياري ئې ګڼي او هغه مجاهد ته د سفيه او ناپوه په سترګه ګوري چې د ايمان په لار کې ستونزې ګالي او له خطرونو سره ډغرې وهي، هغو ته چې خپلې غلطې کړنلارې ورته ښايسته برېښي ووايه: ستاسو رب پر هغه چا ښه پوه دئ چې لار ئې تر ټولو سمه ده.

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ۝٨٥﴾

د روح په اړه تا پوښتي، ورته ووايه چې روح زما د رب کار دئ او تاسې ته (پدې اړه ډېره) کمه پوهه درکړل شوې.

(۸۵)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- ځينو مفسرينو ويلي چې دلته د قريشو هغې پوښتنې ته اشاره شوې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې د روح د کيفيت او څرنګوالي په اړه کوله، دوی ته په ځواب کې ويل شوي: د روح حقيقت يوازې الله تعالی ته معلوم دئ، تاسو دومره علم نه لرئ چې د روح په حقيقت پوه شئ، دې ته مو بايد پام وي چې د قرآن الفاظ دا دي (وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا) د دې الفاظو دقيقه معنی دا ده چې ستاسې علم دومره نه دئ چې د روح حقيقت پرې درك کړی شئ، معنی ئې دا نه ده چې تاسې ته د روح په اړه لږ علم درکړل شوی، دلته د (مِن علمِها ) الفاظ نه دي راغلي بلکه ويل شوي (من العلم) د دې دواړو تعبيرونو تر منځ زيات توپير شته.
- ځينې نور مفسرين په دې نظر دي چې دا پوښتنه د روح د کيفيت په اړه نه ده، د هغې وحې په اړه ده چې د قرآن په بڼه کې پر رسول الله صلی الله عليه و سلم نازله شوې،

د دې لپاره دوه مضبوط دلائل وړاندې کوي: لومړی ئې دا چې دلته په مخکینیو او وروستنیو آیتونو کې د بحث موضوع روح، د روح کیفیت او دا چې الله تعالی څنګه مړي ژوندي کوي او روح ورپه برخه کوي؛ نه ده، بلکې تر دې وروسته هم د وحې په اړه خبره شوې او تر دې مخکې هم د قرآن په اړه خبره شوې، تر دې آیت وړاندې ویل شوي چې قرآن د مؤمنانو لپاره شفاء او رحمت دئ، تر دې وروسته ویل شوي: که وغواړو هغه څه به له منځه یوسو چې تا ته مو وحې کړې... که دلته روح د وحې په معنی تعبیر نشي نو بیا خو د آیتونو تر منځ مناسبت او ارتباط په بشپړه توګه له منځه ځي. دوهم دلیل ئې دا دئ چې په قرآن کې روح د وحې په معنی راغلې، لکه دا آیتونه:

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ غافر: ۱۵

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾ الشورى: ۵۲

... دغو دلائلو ته په پام سره دا نتیجه تر لاسه کوو چې دا وروستی تعبیر صحیح او دقیق دئ. یعني معارضینو له پیغمبر علیه السلام پوښتل چې تا ته د الله له لوري څنګه وحې کېږي؟ موږ ته هغه څه عملاً راوښیه چې تا ته الهي پیغام راوړي. د هغوی په ځواب کې ویل شوي: روح زما د رب کار دئ او تاسي ته (پدې اړه ډېره) کمه پوهه درکړل شوې. د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې دې ته ورته مطالب راغلي؛ معارضینو پیغمبرانو ته ویلي: تر هغه ستاسو ادعاء نه منو چې فرشته او خدای په خپلو سترګو وګورو او عملاً د دې شاهد وو چې د الله تعالی او فرشتې له لوري تاسو ته څه ویل کېږي. د همدې سورې په ۹۲ آیت کې راغلي: لن نُؤمِنَ لَكَ..... أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا: هیڅکله ستا لپاره ایمان نه راوړو چې .... الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې.

---

وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيۡنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرٗا ﴿٨٧﴾

او که وغواړو هغه څه به له منځه یوسو چې تا ته مو وحې کړې بیا به زموږ په خلاف ځان ته کوم وکیل ونه مومې، مګر ستا د رب له لوري کومه پېرزوینه، یقیناً پر تا باندې د هغه فضل ډېر ستر دئ.

(٨٦-٨٧)- په دې مبارك آيت كې ويل شوي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له لوري وړاندې شوى قرآن د ده د ذاتي افكارو او نظرياتو مجموعه نه ده، دا هغه الهي كتاب دئ چې د الله تعالى له لوري ده ته وحي شوى، كه الله تعالى وغواړي هم به د وحې لړۍ متوقفه كړي او هم به هغه څه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له ذهنه وباسي چې تر دې وړاندې ده ته وحي شوي، داسې څوك به ونه مومې چې د الله تعالى د دې پرېكړې په خلاف د ده مرسته وكړى شي، خو حقيقت دا دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل رب د پراخ رحمت تر سيوري لاندې دئ او پر ده باندې د الله تعالى فضل ډېر ستر دئ.

قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾

ووايه: كه ټول انسانان او پېريان پر دې راغونډ شي چې د دې قرآن په څېر (كوم كتاب) راوړي، هغه ته ورته (كتاب) نشي راوړلى كه څه هم ځيني ئې د ځينو نورو ملاتړي شي. او يقيناً چې په دې قرآن كې مو خلكو ته هر راز مثالونه بيان كړي، خو ډېرى خلك يوازې له ناسپاسۍ ډډه نه كوي.

(٨٨-٨٩)- دا مبارك آيتونه د هغې موضوع وروستۍ برخه ده چې د قرآن د عظمت او د انسان په لارښوونې او د ده د ژوند په ښه سمبالولو كې د هغه د ژور اغېز په اړه له ٧٨ آيت پيل شوى؛ دلته ويل شوي: كه ټول انسانان او پېريان د دې لپاره سره راغونډ شي چې د دې قرآن په څېر كوم كتاب راوړي؛ په هيڅ توګه نشي كولى هغه ته ورته كتاب راوړي؛ كه څه هم ځيني ئې د ځينو نورو ملاتړي شي. په دې قرآن كې خلكو ته هر راز مثالونه بيان شوي؛ خو ډېرى خلك داسې دي چې د الله تعالى د دغه ستر نعمت د قدرونې پر ځاى ناسپاسي كوي، حالت ئې داسې دئ چې ښيي له كفران او ناسپاسۍ پرته د بل څه كولو اراده نه لري.

ځيني د دې مبارك آيت په اړه داسې څه وايي چې ښيي قرآن يوازې د ادبي لوړ او اغېزناك تركيب له پلوه معجز كتاب دئ او هيڅوك نشي كولى دې ته ورته كتاب وړاندې كړي، حال دا چې قرآن تر دې زيات له نورو زاويو يو معجز كتاب دئ، د هغو مطالبو له پلوه چې قرآن څېړلي، د احكامو او لارښوونو له پلوه، د پرېكړو او قضاوتونو له پلوه، د الله تعالى، انسان او ټول عالم د جامع او دقيقې معرفي له پلوه، د داسې پراخو علمي اعجازونو له پلوه چې انسان ورو ورو او د خپلو علمي ارتقاء په تناسب پرې پوهېږي او

حقيقت ئې ورته څرګندېږي، د خپلو وړاندوينو له پلوه، د هغو سترو سترو سياسي، فکري، اخلاقي بدلونو له پلوه چې قرآن رامنځته کړل، د هغه جامع نظام له پلوه چې قرآن وړاندې کړ او ... له پلوه داسې معجز کتاب دئ چې هيڅوک ئې مثل نشي وړاندې کولی.

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ
جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ
كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ
بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا
كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ
أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوۡ
كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا
رَّسُولٗا ﴿٩٥﴾

او وئې ويل: تر هغه درباندې ايمان نه راوړو چې له زمکې کومه چينه راته ونه بهوې؛ او يا دې د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ويالې رواني کړې؛ او يا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې او يا دې د سرو سپينو زرو کور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې ليکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو. ورته ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! او د هدايت له راتلو وروسته؛ خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه کړل چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووايه: که په زمکې کې ملائکې اوسېدی او ډاډمنه ګرځېدی؛ نو هرومرو به مو له آسمان پر دوی يوه ملائکه د پيغمبر په توګه لېږلې وه.

(۹۰-۹۵)- دا مبارك آيتونه څو مهمې او اساسي لارښوونې زموږ مخې ته ږدي:

- منکرينو نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت او بلنې محتوی ته کتل، نه د ده دلائلو ته، نه د ده لارښوونو ته، نه د ده شخصيت ته، نه د ده ويناوو او کړنو ته، نه د قرآن اغېزناکو او ځلاندو څرګندونو او روښانه لارښوونو ته او نه هغو شخصيتونو ته چې د

قرآن په غبرګ کې او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس وروزل شول او هر یو ئې د یوه ځلانده ستوري په څېر وو؛ له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې داسې معجزې غوښتې چې خارق العاده او حیرتناکې وې؛ لکه: له زمکې کومه روانه چینه راوخوټوه، ځان ته د خرما او انګورو داسې باغ راپیدا کړه چې په منځ کې ئې ویالې روانې کړې، لکه څنګه چې ته ګمان کوې دا آسمان به پر موږ ټوټې ټوټې راپرېوځي دا کار همدا اوس زموږ مخې ته وکړه، الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړه، ځان ته د سرو سپینو زرو کور جوړ کړه، آسمان ته وخیژه؛ ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې لیکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو!! د دې مبارکې سورې په ۵۹ آیت کې د دوی د داسې غوښتنو په اړه ویل شوي: له دې پرته بل څه موږ د معجزو له لېږلو منع نه کړو چې مخکینیو هغه تکذیب کړې؛ دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

● ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ایمان راوړلو منع کړي چې پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر یو انسان موندلی، داسې چې حیرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولی، د ده په خوا کې نه څوك خدای په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښکرې، آسمان ته نشي ختلی، له زمکې چینې نشي راخوټولی، سره او سپین زر ئې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!! د یهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پیغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ویلي وو چې دوی دغه ټول کارونه کولی شو؛ نو ځکه ئې د عیسی علیه السلام په څېر پر هغه پیغمبر هم ایمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پیغمبرانو زیاتې او حیرتناکې وې!!

● مشرکینو هم له دې کبله پر پیغمبر علیه السلام له ایمان راوړو ډډه کړې چې هغه ئې د ځان په څېر یو انسان موندلی، د دوی انګېرنه او انتظار دا وو چې د الله تعالی پیغمبر باید له انسانانو په هر څه کې توپیر ولري او داسې ستر ستر او خارق العاده کارونه وکړی شي چې عادي انسانان ترې عاجز وي!! د دوی په اړه ویل شوي: کله چې خلکو ته د الله تعالی له لوري او د کوم پېغمبر په لاس هدایات راغلي نو دوی له ایمان راوړلو بل څه منع نه کړل مګر دې خبرې چې ویل ئې: آیا الله یو انسان د پیغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووایه: که پر زمکه ملائکې اوسېدی او ډاډه په کې ګرځېدی نو مونږ به حتماً له آسمان یوه فرشته د پیغمبر په توګه رالېږلې وه. دا ځکه چې فرشته د فرشتې په ژبه پوهېدی شي او انسان د انسان په ژبه.

● که الله تعالی غوښتی چې پیغمبر علیه السلام داسې معجزې وښیي نو دغو کافرانو ته به ئې ورښودلې وې، ځکه معجزه په اصل کې د مخالفینو د عاجزولو او پر کولو لپاره وي، د همدې لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام خارق العاده کارونو ته د معجزې نوم ورکړی شوی. د موسی علیه السلام د عصا په یوه ګوزار سره له تیږې دولس چینې راوخوټېدې، خو

هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه؛ اوس هغه چینې نشته، که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي معجزې ورکول کېدی نو دا به تر قیامت پوري تلپاته وې، ځکه د ده دعوت تلپاته دئ او تر قیامت دوام کوي. که الله تعالی غوښتی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام په څېر معجزې ورکړي نو دا معجزې به هم تر مخکینیو ستري وې او هم تلپاته، دا ځکه چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم رسالت مقتضی همدا ده، دا معجزې باید تر قیامت لیدل کېدی، که ئې غوښتی چي د موسی علیه السلام په څېر معجزه ورکړي نو له یوې ډبري به ئې داسي چینه ورته راخوټولې وه چي تر قیامت به اوبه ترې راخوټېدې، له آسمان به ئې داسي لیکلی قرآن پرې نازل کړی وو چي د خلکو په وړاندي به په فضاء کي ولاړ وو، هر چا به په خپلو سترګو لیدو، دا کار الله تعالی ته ډېر آسان دئ، که لمر، سپوږمۍ او دا ټول بې شمېره ستوري په فضاء کي ساتلی شي د یوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتي وی چي د عیسی علیه السلام په څېر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بیماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقیقي معنی تل مړي راژوندي کول؛ او ناروغان به ئې روغول، الله تعالی ته دا ټول کارونه آسان دي، ځوك چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقیقت کي د هغو خلکو د تبلیغاتو تر اغېز لاندي تللي چي ویل ئې: ولي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د مخکینیو پیغمبرانو په څېر معجزې نه دي ورکړی شوې؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چي الله تعالی د کافرانو د دغي غوښتني څه ځواب ورکړی؟ ځواب دا دئ: که له آسمان مو داسي کتاب درباندي نازل کړی وی چي کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بیا هم دوی ایمان نه راوړ.

له دې مبارکو آیتونو معلومېږي چي د مشرکینو او اهل کتاب ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو خلکو ته ویل: مخکینیو پیغمبرانو، د الله مقربو بندګانو او اولیاء کرامو دغسي خارق العاده او حیرتناك کارونه کولی شو، هغه ځوك د پیغمبر په توګه مه منئ چي دا کارونه ونه کړی شي. د دوی په ځواب کي ویل شوي: معجزه د پیغمبر په خوښه نه رامنځته کېږي، د ده په واك کي نه وي، د الله تعالی په إذن او هغه مهال رامنځته کېږي چي الله تعالی ئې وغواړي او پیغمبر ته ئې د ښودلو امر، اجازه او واك ورکړي.

د دوی ځیني نور بیا داسي ول چي د خپلو پیغمبرانو په اړه به ئې همداسي ګمانونه کول، ویل به ئې چي زموږ پیغمبر په غیب پوه وو، د امورو متصرف وو، الله ورته خاص خاص اختیارات ورکړي وو، موږ هغه پیغمبر نه منو چي دغه ځانګړتیاوي ونه لري!!

بیمار ذهنونه دغسي وي، خدای په (اعجازونو)، (خارق العاده پېښو) او (فوق طبیعي اسرارو) کي لټوي؛ او پیغمبر د خارق العاده معجزو له مخي مني، پر الله تعالی د ایمان راوړو لپاره دا په طبیعت کي خواره بې شمېره نښي او شواهد ورته کافي نه وي، دا د الله

له لوري نه ګڼي، طبيعي پېښې ئې بولي، غواړي خدای د داسې پېښو له مخې ثابت کړي چې غير طبيعي وي، په (رازونو) او (رموزونو) سره نه په (ښکاره وو) او (څرګندو) سره!! او پر پيغمبر د ايمان لپاره د هغه (لارښود کتاب)، (ځلانده پيغام)، (لوړ شخصيت)، (صالح ملګري)، (پر حق او عدالت ولاړ دعوت)، (د ظلم، فساد او بې عدالتۍ په خلاف د هغه مسلسل جهاد)، (له ظالمانو او مفسدينو سره د هغه عدم مصالحت او له هر راز تمايل، نژدې والي او جوړ جاړی ډډه کول)، کافي نه ګڼي، له هغه داسې معجزې غواړي چې انسان ئې له وړاندې کولو عاجز وي!!! خو د قرآن اسلوب بېل دئ، قرآن د هستي هر څه او هر حرکت د الله تعالی د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو څرګندو شيانو استناد کوي او په دې سره خپله ادعاء ثابتوي، په همدې څرګندو، په طبيعت کې خورو ورو شيانو باندې لوړه کوي او د خپلې مدعی لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندې کوي. د پيغمبر د حقانيت ثابتولو لپاره هغه کتاب شاهد ګڼي چې دی ئې خلکو ته وړاندې کوي: فرمايي: له حکمت ډک قرآن شاهد دئ چې ته (اې محمده!) د پيغمبرانو له ډلې يې، په مستقيمې لارې برابر. وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤

قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ٩٦
وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ
وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ
كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ٩٧ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ
أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ٩٨

ووايه: الله زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توګه کافي دئ، يقيناً چې هغه د خپلو بندګانو په اړه ښه باخبره او ليدونکی دئ. او الله چې څوك هدايت کړي هدايت شوی همدا دئ؛ او څوك چې بې لارې کړي نو له ده پرته به هيڅ اولياء ورته ونه مومې؛ او د قيامت په ورځ به ئې پر خپلو مخونو (پراته) ړانده، ګونګي او کاڼه راغونډ کړو، تم ځی به ئې جهنم وي، هر کله چې تت شي لمبې به ورته زياتې کړو؛ دا د دوی سزا ده له دې کبله چې زما له آيتونو ئې انکار کاوو او ويل ئې: کله چې هډوکي او وراسته شو آيا بيا به په نوي پيدايښت کې راپاڅول کېږو؟!

(٩٦-٩٨)- که دا جاهل، لجوج او د شرك او خرافاتو په ډنډ کې ننښتي مخاطبين ټولو دغو څرګندو او ځلاندو دلائلو ته اعتناء نه کوي، نو هغوی ته ووايه: الله زما او ستاسو تر منځ

د شاهد په توګه کافي دئ، يقيناً چې هغه د خپلو بندګانو په اړه ښه باخبره او ليدونکی دئ. هغه څوك په سمه لار روان دئ او حقيقي لارښوونه ئې په برخه شوې چې د الهي لارښوونو څلانده مشعل ئې په لاس کې دئ او په رڼا کې ئې درومي، هغه څوك بې لارې دئ او په کږو لارو سر شوی چې له الهي لارښوونو محروم پاته شوی. داسې لار ورکي انسان ته هيڅ ولي او مرستندوی نشې موندلی، هيڅوك نشي کولی هغه له بدو پايلو وژغوري او د هدايت بله سمه لار ورته پرانيزي. الله تعالی به ئې د قيامت په ورځ په داسې حال کې رانده، ګونګي او کاڼه راغونډ کړي چې پر خپلو مخونو به پراته وي، تم ځی به ئې جهنم وي، د دوزخ په سرو او سرکښو لمبو کې به سوزي، نه به ئې اور تت کېږي او نه لمبې کمېږي. دا د دوی سزا ده له دې کبله چې د الله تعالی له آيتونو ئې انکار کاوو او ويل ئې: کله چې هډوکي او وراسته شو آيا بيا به په نوي پيدايښت کې راپاڅول کېږي؟! دوی په دنيا کې د ړندو، ګونګيانو او کاڼو په څېر ژوند کړی، د قيامت په ورځ به ئې سزا عمل ته ورته وي، راندہ، ګونګيان او کاڼه به حشر کېږي، دوی د دې پراخ عالم په هر لوري او هر ګام کې بې شمېره نښو او آيتونو ته اعتناء ونه کړه؛ د قيامت په ورځ به ئې سزا ګناه ته ورته وي پر مخي به حشر کېږي، دوی له آخرت، بياژوندون، جنت او دوزخ، مکافات او مجازات انکار کاوو، د قيامت په ورځ به دوزخ او د هغه سرې لمبې په خپلو سترګو وګوري.

أَوَ لَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴿٩٩﴾

آيا دې ته ئې ونه کتل چې هغه الله چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر دئ چې دوی ته ورته راپيدا کړي؛ او دوی ته ئې داسې اجل ټاکلی چې هيڅ شك په کې نشته؛ نو ظالمانو يوازې له کفران ډډه ونه کړه.

(۹۹)- آيا د قيامت او بياژوندون منکرين دې ته نه ګوري چې د آسمانونو او زمکې پيدا کوونکی الله پر دې قادر دئ چې د دوی په څېر خلك بيا راپيدا کړي؛ همغه الله چې دوی ته ئې داسې اجل ټاکلی چې هيڅ شك په کې نشته، هغه نېټه حتماً راتلونکې ده، د دوی په ژوند کې د اجل ګڼ شمېر انکار نه منونکې بېلګې شته، پيدايښت ئې، د مور په رحم کې پاته کېدا ئې، مرګ ئې، ټول د ثابت الهي اجل له مخي وو، بياژوندون به ئې هم دې ته ورته په خپلې نېټې وي؛ خو دغو ظالمانو د انکار لار غوره کړې او له دې پرته له بل هر څه ډډه کوي!!

قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ

ٱلْإِنسَٰنُ قَتُورًا ﴿١٠٠﴾

ووايه: كه تاسو زما د رب د رحمت خزانو واكمن وى نو د انفاق له وېرې به مو بخل كولو؛ او انسان ډېر كنجوس دئ.

(١٠٠)- د دې مبارك آيت پر مطلب او له مخكينيو سره تړاو ئې هغه مهال صحيح پوهېدى شو چې دې ته ورته آيات په پام كې ولرو. داسې آيات په هغو ځايونو كې راغلي چې د مخالفينو په دې چلن نيوكه شوې چې ويل ئې: الله تعالى ولې زموږ له منځه بل څوك د پيغمبرۍ لپاره نه دئ غوره كړى؟ ولې ئې دا دنده داسې چا ته نه ده سپارلې چې د نوم، شهرت، وجاهت او دولت خاوند وي؟ د دوى په ځواب كې ويل شوي: الله تعالى خپل فضل په خپله وېشي، دا وېش ئې بل چا ته نه دئ سپارلى، هغه پوهېږي چې څوك ئې د فضل مستحق دئ او وړتيا ئې لري. دلته هم د آيت مطلب همدا دئ؛ دوى د كوم معقول دليل له مخې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت او دعوت مخالفت نه كوي، مخالفت ئې له دې كبله دئ چې دا فضيلت ئې پر نورو نه لورېږي، نه غواړي د قوم زعامت او مشري د دوى له لاسه ووځي او د بل لاس ته ورشي، كه څه هم دوى ئې وړتيا نه لري او بل ئې مستحق دئ. د دوى حالت داسې دئ چې كه د الله تعالى د پراخو خزانو واك وروسپارل شي نو له دې وېرې چې د دوى برخه كمه نشي هيچا ته به څه ورنه كړي. دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالف انسان سخت كنجوس دئ، د مخالفت اصلي وجه ئې همدا ده. په ورپسې آيت كې د موسى عليه السلام او د فرعون قصه د همدې پورتني مطلب لپاره د يوې تاريخي بېلگې په توگه وړاندې شوې؛ الله تعالى موسى عليه السلام د بني اسرائيلو د مظلوم ولس له منځه انتخاب كړ، څرگندې نښې او معجزې ورسره وې، خو فرعون د دې لپاره د هغه مخالفت ته كلكه ملا وتړله چې موسى عليه السلام او د ده دعوت ئې د خپل اقتدار لپاره گواښ گڼلو؛ د قريشو مشران د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه همغه څه كوي چې فرعون كول.

د دې يو مثال په لاندې آيت كې ليدلى شئ:

وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ ... الزخرف: ٣١-٣٢

او وئې ويل: ولې دا قرآن د دواړو كليو په يوه ستر سړي نازل نه شو؟ آيا ستا د رب رحمت دوى وېشي؟ په دنيا كې خو دا موږ يو چې د دوى تر منځ مو د دوى معيشت وېشلى...

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ۖ فَسْـَٔلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ

لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ
هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ﴿١٠٢﴾
فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعٗا ﴿١٠٣﴾ وَقُلۡنَا مِنۢ
بَعۡدِهِۦ لِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱسۡكُنُواْ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ
لَفِيفٗا ﴿١٠٤﴾

او يقيناً چي موسى ته مو نه (۹) څرګندوونکي آيتونه (نښي) ورکړل؛ نو له بني اسرائيلو وپوښته؛ کله چي ورغی نو فرعون ورته وويل: اې موسى! زه په کوډو د اخته شوي ګمان درباندي کوم؛ وئې ويل: ته ښه پوهېدلی یې چي دا د بصيرت رڼا د آسمانونو او زمکي له پالونکي رب پرته بل چا نه ده رالېږلې؛ او اې فرعونه! زه درباندي ګمان کوم چي تباه شوی يې؛ نو وئې غوښتل چي له زمکي ئې پښې ورسپکي کړي نو دی او ټول هغه مو غرق کړل چي ورسره ول؛ او تر ده وروسته مو بني اسرائيلو ته وويل: په دې زمکي کې مېشت شئ؛ نو کله چي د آخرت وعده راورسېږي ټول به په ګډه راولو.

---

(۱۰۱-۱۰٤)- له پيغمبرانو عليهم السلام سره د اقتدار د خاوندانو د نه پخلا کېدونکي مخالفت يوه څرګنده بېلګه له موسى عليه السلام سره د فرعون مخالفت دئ؛ هغه ته يوه نه بلکي نه (۹) ځلانده او انکار نه منونکې معجزې ورکړی شوې وې. له بني اسرائيلو پوښتنه وکړه چي د ده په وړاندي د فرعون دريځ څنګه وو؟ آيا د ده پر ټولو معجزو ئې سترګي پټي نه کړې؟ آيا تر پايه ئې د موسى عليه السلام مخالفت ته دوام ورنه کړ؟ آيا موسى عليه السلام ته ئې د جادوګر، د جادوګرانو استاد او په جادو مبتلی خطاب ونه کړ؟ آيا موسى عليه السلام ورته ونه ويل: ته ښه پوهېدلی يې چي زما دا معجزې د هغه الله له لوري دي چي د آسمانونو او زمکي خالق او پالونکی دئ؛ داسي معجزې چي د بصيرت خاوندانو ته حقائق څرګندوي. آيا فرعون ونه غوښتل چي موسى عليه السلام او بني اسرائيل د زمکي له سره ورك کړي؟ اې د قريشو مشرانو! دا همغه څه دي چي نن ئې تاسو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره کوئ؛ خو په دې پوه شئ چي ستاسو پايله به هرو مرو همغسي وي چي فرعون ورسره مخامخ شو، دی او د ده پلويان مو غرق کړل او د فرعون تر واك او سلطې لاندي زمکه مو بني اسرائيلو ته په ميراث ورکړه. لکه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته وايي چي د قيامت په ورځ به ټول له خپلو قبرونو راپاڅئ او د الله تعالى په وړاندي به راغونډ کړی شئ؛ بني اسرائيلو ته همدا خبره د موسى

علیه السلام له لوري شوې وه.

وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿١٠٥﴾ وَقُرۡءَانٗا
فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ﴿١٠٦﴾

**او په حقه مو نازل کړی او په حقه نازل شوی؛ او ته مو یوازې یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی یې؛ او قرآن مو ټوك ټوك کړ؛ د دې لپاره چې په ځنډ ځنډ سره ئې پر خلکو ولولې او په ځانګړې کوزولو سره مو راکوز کړ.**

(۱۰۵-۱۰۶)- د دې مبارکو آیتونو په اړه دا خبرې په پام کې ولرئ:

- ځینو درنو مفسرینو دا دواړه (انزلناه) او (نزل) قرآن ته راجع کړي، ځینو مخکیني آیت ته په پام سره د موسی علیه السلام کتاب (تورات) ته راجع کړي. خو د کلام له فحوی داسې معلومېږي چې په دوی کې یو قرآن ته راجع دئ او بل تورات ته، یعني هغه مو هم په حقه نازل کړی وو او دا هم په حقه نازل شوی، ځکه تر دې وړاندې لومړی د قرآن یادونه شوې، بحث ئې له ۸۸ آیت پیل شوی، د بحث په پای کې د موسی علیه السلام یادونه د یوه تاریخي مثال په توګه شوې.

- پیغمبر علیه السلام ته د مبشر: زېری ورکوونکی او نذیر: خبرداری ورکوونکی؛ القاب ورکړی شوي؛ چې دا ښيي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په دعوت کې هم زېري شته او هم ګواښونه او تهدیدونه، صالحانو ته زېري لري، په دنیا او آخرت کې د ښه ژوند او روښانه مستقبل؛ او بدانو ته په دنیا او آخرت کې د بدو پایلو انذار او خبرداری. د پیغمبرانو علیهم السلام اساسي دندې دا دي چې نېکانو ته په دنیا او آخرت کې د ښه او روښانه راتلونکې زېری ورکړي او بدان د خپلو ګناهونو له بدو پایلو ووېروي. پیغمبر هم بشیر وي او هم نذیر. د ده د دعوت وارثان به هم بشیر او هم نذیر وي، د بدانو او ظالمانو مخې ته به ودرېږي او د ظلم او فساد له بدو پایلو به ئې وېروي او مظلومانو ته به د حق لار ښيي او په سمه لار د تلو د نېکو پایلو زېری به ورکوي. که پیغمبرانو یوازې نېکانو ته د جنت زېری ورکولی، فضایل ئې بیانولی، په بدانو ئې غرض نه درلودی، دوی ئې د ظلم او فساد له بدو پایلو نه وېرولی، په دوی ئې نیوکې نه کولی، له ظلم او فساده لاس اخیستو ته ئې نه رابللی؛ نو هیڅکله به د دوی له مخالفتونو سره نه مخامخ کېدل. د پیغمبرانو علیهم السلام د ورثه وو دنده هم دا ده چې بشیر او نذیر به وي؛ چا چې هغه کار وکړ او دا نه؛ رښتینی وارث نه دئ. ځوك چې د ظالمانو او بد کارانو له مخالفت سره مخامخ نه وو؛ د پیغمبرانو علیهم السلام په لار روان نه دئ.

- قرآن تدریجي او ټوك ټوك نازل شوی، د خلکو حالت او هغو پېښو ته په پام سره چې

د ژوند په مختلفو پړاوونو کې ورسره مخامخ شوي، د تدریجي نزول یوه موخه دا وه چې خلك ئې په ځنډ ځنډ سره تر لاسه کړي او د هرې برخې د پوهېدا او پلې کېدا لپاره مناسب وخت ورکړی شي. د نزول څرنګوالی ئې ډېر دقیق او حکیمانه وو. د قرآن په نورو آیتونو کې هم دې تدریجي نزول ته اشاره شوې ده، لکه دا آیت:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾ فرقان : ۳۲

او کافرانو وویل: ولې دا قرآن په یوه وار ټول یو ځایي پر ده نه دئ نازل شوی؟ داسې مو وکړل چې ستا زړه پرې مضبوط کړو او ورو ورو ئې ولولو.

دا آیتونه په ډېر وضاحت سره ښیې چې د قرآن (نزول) تدریجي، ټوك ټوك، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلکو په رأیې د بطلان کرښه راکاږي چې پر پیغمبر علیه السلام د قرآن په یو وار او یو ځایي نزول باور لري. شیعه او بریلویان په دې عقیده دي؛ دا ځکه چې دواړه د قرآن د صریح او محکمو آیتونو خلاف په دې باور دي چې پیغمبران، ائمه او اولیاء الله په غیب پوهېږي؛ دا انګېرنه د قرآن له تدریجي نزول سره مغایرت لري، د تدریجي نزول معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هرې وحې له نزول مخکې نه پوهېدو چې راتلونکې وحې به څه مهال راځي او ده ته به څه لارښووني له ځان سره لري، د دغو دواړو ډلو غلطه انګېرنه ښیې چې هغه له لومړۍ ورځې پر ټولو اسرارو خبر وو او پوهېدو چې هره وحې به کله راځي او ده ته به څه لارښوونه کوي!! دا په داسې حال کې چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایي:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ الشوری:۵۲

او همداسې مو تا ته له خپل لوري د یوه خاص امر وحې وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې؛ خو موږ داسې نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدایتوو چې غواړو ئې؛ او بې شکه چې ته د مستقیمې لارې خوا ته لارښوونه کوې.

دا آیت په صراحت سره او په پرېکنده توګه وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له بعثت مخکې نه د کتاب له څرنګوالي خبر وو او نه د ایمان په معنی او حقیقت پوهېدو. د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول ژوند پر دې ګواهي ورکوي چې هغه نه په غیب

پوهېدو او نه د راتلونکې وحي له وخت او څرنګوالي خبر وو؛ د قرآن ګڼ شمېر آيتونه همدغه خبره کوي.

هغه څوك چي اورېدلي ئې دي يا ګمان کوي او يا په تکلف سره هڅه کوي چي ثابت کړي؛ د انزال او تنزيل تر منځ توپير شته، يو ئې تدريجي راکوزېدل او بل ئې يو ځايي راکوزېدل افاده کوي، اشتباه ئې کړې او دا ځکه چي قرآن په ځای ځای کي د باران د ورېدو لپاره د (انزلنا) صيغه کارولې، چي په ټولو کي تدريجي ورښت ترې مراد دئ نه د ټولو اوبو يو ځايي راتويېدل. د دوی اصلي مشکل دا نه دئ چي د لغت په کوم کتاب کي ئې دا قاعده لوستلې؛ اصلي مشکل ئې دا دئ چي پيغمبرعليه السلام او ائمه عالم الغيب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطي عقيدې سره سمون نه خوري چي پيغمبر عليه السلام په سر کي او د وحي په لومړۍ ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چي وروسته وروسته پرې نازلي شوې. د غلطي عقيدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسي وي؛ د دې پر ځای چي خپله غلطه عقيده د سمي خبري په اورېدو سره تصحيح کړي؛ په خلاف ئې سمه خبره غلطه توجيه کوي؛ حتی د قرآن خبره.

قرآن پر دې خبري شهادت ورکوي چي پر پيغمبر عليه السلام د وحي د نزول پيل د روژې په مبارکي مياشت کي او د ده د بعثت په لومړي شپه شوی، لکه چي فرمايي:

**شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ ...** البقرة: ١٨٥

د روژې مياشت هغه ده چي قرآن په کي نازل شوی؛ د خلکو لارښود، څرګندي لارښووني او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفريق او توپير ذريعه).

او قرآن موږ ته وايي چي نژدې ٢٣ کاله وروسته او هغه مهال د قرآن نزول بشپړ شو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د حجة الوداع له سفره راستنېدو:

**... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ...** المائده: ٣

... نن مي ستاسو دين درته مکمل کړ، خپل نعمت مي درباندي بشپړ کړ او اسلام مي د دين په توګه درته غوره کړ...

آيا د قرآن دا صريح آيتونه کافي نه دي چي هغه خبره په دېوال ووهو چي وايي قرآن يو ځايي نازل شوی او پيغمبر په غيب پوه وو او پوهېدو چي وحي کله راځي او څه ورته راوړي!!

قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ
يَخِرُّونَۤ لِلۡأَذۡقَانِۤ سُجَّدٗا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا
﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا۩ ﴿١٠٩﴾

ووایه: یا ایمان پرې راوړئ یا ایمان مه راوړئ (ستاسو خپله خوښه)؛ یقیناً هغه چي تر دې وړاندي علم ورکړی شوی کله چي پرې ولوستل شي د سجدې په توګه زنو ته ټیټېږي؛ او وایي: زموږ رب ته پاکوالی دئ یقیناً چي زموږ د رب وعده حتماً تر سره کېدونکې ده، په داسي حال کي زنو ته نسکورېږي چي ژاړي؛ او ترهه ئې ورزیاتوي.

---

(۱۰۷-۱۰۹)- ستاسو خپله خوښه چي ایمان پرې راوړئ او که ئې نه راوړئ، داسي د علم او پوهي خاوندان شته چي د دې کتاب د لارښوونو او موعظو په اورېدو سره نه یوازي ایمان راوړي بلکي داسي حالت پرې طارئ شي: سرونه ټیټ کړي، زنې ئې له سینو سره ولګېږي؛ اوښکي ئې بهېږي، زړه ئې له وېري او خشوع درېږي، په خوله ئې دا وینا وي: سبحان الله، یقیناً چي زموږ د رب هغه وعدې حتماً تر سره کېدونکې دي چي په دې کتاب کي راغلې دي.

که څه هم ځینو درنو مفسرینو په ډېر تکلف سره یخرون للاذقان سجداً پر زمکه تندی اېښودل ګڼلي خو دا تعبیر له الفاظو سره اړخ نه لګوي، سجده په هر ځای کي په دې معنی نه شو نیولی. که دلته له سجدې مراد تندی پر زمکه اېښودل وی نو د اذقان راوړلو ته هیڅ ضرورت نه وو. دلته د سجدې داسي یادونه شوې چي سر دومره کوزل افاده کوي چي زنې ئې له سینو سره ولګېږي.

---

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا
تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴿١١٠﴾

ووایه! یا الله دروبولئ یا رحمن ته دعاء وکړئ، په هر یوه چي ئې دربولئ؛ ده ته ښایسته او غوره نومونه دي؛ او مه دي دعاء په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه؛ (بلکي) د دواړو تر منځ وسط لاره غوره کړه.

---

(۱۱۰)- په دې مبارك آیت کي څو مهمي مهمي لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي چي د تفصیلي بحث غوښته کوي:

- موږ ته لارښونه کوي چي د دعاء په وخت کي باید الله تعالی په خپلو غوره نومونو یاد

کړو، الله تعالی نېك او غوره نومونه لري، باید په همدغو نومونو یاد شي او دعاء ورته وشي، په هري دعاء کې ئې هغه نوم یاد شي چې زموږ له دعاء او غوښتني سره مناسبت ولري؛ د مثال په توگه یا رحمن ارحمني: اې مهربانه ربه پر ما رحم وکړې، یاحفیظ احفظني: اې ساتونکیه ربه ما وساتې.

- د الله تعالی په وړاندې دعاء کې باید هغه طریقه غوره کړو چې په دغه مبارك آیت کې ئې موږ ته لارښوونه شوې: نه به په ډېر لوړ غږ دعاء کوو او نه په ډېر ټیټ؛ بلکې د دواړو تر منځ به متوسطه لاره غوره کوو. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

" أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ مَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّمَا تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا. إِنَّ الَّذِي تَدْعُونَ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ. رواه احمد

اې خلکو! پرخپل ځان نرمي وکړئ ( په لوړ غږ د دعاء لپاره پر ځان زیاتی مه کوئ) ځکه تاسي نه کوڼ ته دعاء کوئ او نه غائب ته؛ بلکې هغه چا ته دعاء کوئ چې اورېدونکی او لیدونکی دئ، تاسي چې کوم ذات ته سؤال کوئ هغه ستاسو هر یوه ته د خپلي سورلۍ تر غاړي ډېر درنژدې دئ.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې نه یوازې د دعاء په وخت کې به د دعاء ضروري آداب مراعاتوو بلکې الله تعالی به په ښکلو نومونو یادوو او د الله په نومَوَنې کې به له انحراف او له ځانه د اسماءو او صفاتو له ایښودلو ډډه کوو.

---

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ الاعراف: ۱۸۰

او د الله غوره نومونه دي؛ نو په دغو نومونو سره ئې دروبلئ او هغه پرېږدئ چې د ده په نومونو کې الحاد کوي (په کږه ځي)؛ حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي.

مخکې له دې چې د دې آیت د تفسیر په اړه څه ووایو باید دا واضح کړو چې آیا الله تعالی د خدای په نامه یادول جائز دي؟ آیا له آدم علیه السلام تر نن پوري په ټولو الهي کتابونو کې خدای د الله په نامه یاد شوی؟ آیا له آدم علیه السلام تر عیسی علیه السلام پوري ټولو پیغمبرانو او د دوی امتونو خدای د الله په نامه یاد کړی؟ آیا د دوی ژبه عربي وه؟ آیا پر دوی نازل شوي کتابونه په عربي ژبي وو او الله تعالی ئې په همغو نومونو یاد کړی چې په قرآن کې یاد شوی؟ دې پوښتنو ته د ځواب لپاره باید ووایو:

هر پیغمبر چې په کوم قوم کې مبعوث شوی نو پر هغه نازل شوی کتاب او صحیفه هم د ده د قوم په ژبه وو او الله تعالی په هغو نومونو یاد شوی چې دغو خلکو د الله تعالی لپاره د کتاب له نازلېدو مخکې وضع کړي وو او په دغو کتابونو کې الله تعالی په هغو

صفاتو ستایل شوی چې دا قوم پرې پوهېدو او په دوی کې معمول ول، نه د الهي کتاب کوم لفظ ورته نامأنوس او پردی وو او نه د الله تعالی کوم نوم او صفت.

آدم علیه السلام او تر ده وروسته له ټولو پیغمبرانو لکه: نوح، ابراهیم، اسحاق، یعقوب، یوسف، موسی، هارون، یونس، داؤد، سلیمان او عیسی علیهم السلام هیڅ یوه خدای جل شأنه د الله په نامه نه دئ یاد کړی او په هغو توصیفي نومونو ئې نه دئ ستایلی چې الله تعالی په قرآن کې پرې ستایل شوی. بلکې هم ئې الله تعالی د خپل خپل قوم د ژبې په نومونو یاد کړی او هم ئې د الله تعالی صفتونه او صفاتي نومونه د خپلې ژبې له قاموس غوره کړي.

که الله تعالی په پښتنو کې کوم پیغمبر مبعوث کړی وی او پر هغه ئې کتاب نازل کړی وی نو دا کتاب به پښتو وو او الله تعالی به د خدای په نامه یادېدو او صفتونه به ئې دې ته ورته ول: پالونکی، ساتونکی، څارونکی، بخښونکی، خاوند، څښتن، او ټول هغه نومونه به په پښتو کې وو چې اوس په عربي کې ورته راغلي. که دا کار شوی وی، هم پیغمبر پښتون وی او هم د الله له لوري لېږل شوی کتاب او هم د الله تعالی نومونه؛ بیا چا ویلي وی چې خدای به یوازې د پښتو په نومونو یادوو او په پښتو صفتونو به ئې ستایو او خدای د الله په نامه یادول او په هغو صفاتو ئې ستایل چې اوس په عربي کې پرې ستایل کېږي حرام او ناروا کار دئ!! نو ووایئ چې د دې کس وینا به څومره صحیح وه؟! او دیني او علمي ارزښت به ئې څومره وو؟ په دې کې هیڅ شك نشته چې دا ادعاء خوشې، بې بنسټه او له خپله ځانه جوړه شوې ده، یوازې کم علمه خلك به دا خبره کوي چې الله تعالی د خدای په نامه یادول حرام دي!! له عربو پرته هیڅ قوم، هیڅ پیغمبر او هیڅ الهي کتاب خدای د الله په نامه نه دئ یاد کړی. الله تعالی د خدای په نامه یادول نه یوازې جائز دي بلکې د الله تعالی ټول نومونه او صفات له عربي بلې ژبې ته ژباړل ضروري دي او له دې پرته بله چاره نشته، که دا کار ونه شي نو له عربو پرته به هیڅوك نه خدای پېژندی شي او نه د هغه صفات. څنگه به یوه چینایي، روسي، انگرېز او نورو ته ښیو چې الله یعني څه، د رب، مالك، غفار، قهار، رحمان، رحیم، کریم،... معنی څه ده؟ آیا له ژباړې پرته بله چاره شته؟!

که څوك ووایي چې خدای د الله په نامه یادول غوره دي، په دې خبرې هیڅ اعتراض نه لرو، خو که ووایي چې الله د خدای په نامه یادول حرام دي نو دا د هغه چا خبره گڼو چې ډېر بې علمه وي او له ځانه حلال او حرام جوړوي، که څوك ووایي چې مأثوره دعاءگاني غوره دي؛ ورسره موافق یو، خو که ووایي چې په پښتو او له عربي پرته په بله ژبه دعاء کول ناروا دي؛ خبره ئې واهي او چټې ده او هیڅ ارزښت نه لري. څوك چې په عربي نه پوهېږي نو په خپلې ژبې ئې دعاء کول تر دې ډېر غوره دي چې په هغو الفاظو دعاء وکړي چې په معنی ئې نه پوهېږي.

قرآن موږ ته هغه نومونه راښودلي چې بايد خپل رب پرې ياد کړو، د الله تعالی هر نوم د يوه الهي صفت ښوونه کوي، موږ د الله تعالی نومونه او صفات د هغه کتاب له مخې پېژندلی شو چې الله تعالی نازل کړی او رسول صلی الله عليه و سلم ته ئې د هغه علم ورکړی، له دې پرته د الله تعالی د نومونو او صفاتو د پېژندلو بله صحيح لاره نشته. خو تاسو پوهېږئ چې الهي کتابونه د مختلفو قومونو په ژبه نازل شوي او په هر يوه کې الله تعالی په بېلو بېلو نومونو ياد شوی، که څه هم په دغو الهي کتابونو کې د الله تعالی د نومونو الفاظ مختلف دي، خو معنی او مفهوم ئې يو دئ، دا نومونه په قرآنکريم، تورات، انجيل او زبور کې په يوه ډول الفاظو نه دي ياد شوي، له دې معلومېږي چې پدغو نومونو کې ترټولو د پام وړ خبره هغه صفات دي چې دا نومونه ئې په گوته کوي.

په قرآنکريم کې له ذکر شوو نومونو علاوه، الله تعالی نور نومونه هم لري چې يا ئې په نورو آسماني کتابونو کې ذکر کړي دي او يا ئې له ځان سره ساتلي او هيڅ څوك ئې نه دئ پرې خبر کړی، لکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: "... أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ..*" رواه احمد

الهي! په هر هغه نوم دې سؤال درته کوم چې ځان دې پرې نوملی، يا دې خپل کوم مخلوق ته ورښودلی او يا دې په خپل کتاب کې نازل کړی او يا دې په خپل علم غيب کې چې له تاسره دئ ځانته ځانگړی او خاص کړی.

له دې مبارك حديث دا څرگندېږي چې د الله تعالی نومونه محدود نه دي، يو شمېر ئې پدې کتاب کې ذکر شوي او نور ئې په نورو کتابو کې راغلي دي، ځيني ئې پيغمبرانو عليهم السلام ته ورښودلي او ځيني ئې الله تعالی له خپل ځان سره ساتلي او هيچا ته ئې نه دي ښودلي. دا ټول نيك او پاك نومونه داسي صفات په گوته کوي چې الله تعالی ورباندي متصف دئ. د مثال په توگه السميع يعنی هغه ذات چې اورېدونکي دئ، البصير: هغه ذات چې ليدونکي دئ، الرحمن: هغه ذات چې ډېر مهربان دئ. خو هغه نومونه چې د ده په علم غيب پوري منحصر بلل شوي دا نومونه د الله تعالی داسي صفات افاده کوي چې انسان پرې نه پوهېږي.

خو دا چې د الله تعالی په نومَوني کې له کوږوالي مراد څه دئ؟ آيا په قرآن او حديث کې له راغلو عربي نومونو پرته په بل نامه د الله تعالی يادول الحاد دئ؟ ځيني خلك په دې اړه زياته غلو کوي او الله تعالی له عربي نومونو پرته په بل نامه يادول او بلې ژبې ته د الله تعالی د نومونو ژباړه حرام او ناروا گڼي!! حال دا چې الله تعالی په داسي نومونو يادول حرام دي چې له ده سره نه ښايي، د ده صفت نشي منعکس کولی، غلطه او ناقصه معنی ورکوي، په غلطو مواردو کې کارول کېږي لکه: معشوق، جانان، نگار، صنم، ساقي، پيرمغان او دې ته ورته نومونه. هغه نومونه چې مختلف قومونه ئې د الله تعالی لپاره کاروي لکه

خدای او GOD؛ او له عربي نورو ژبو ته د الله تعالی د نومونو ژباړه لکه د مالك پر ځای څښتن یا خاوند، د رب پر ځای پالونکی، د حفیظ پر ځای ساتونکی؛ نه یوازې څه مانع نه لري بلکې د الله تعالی د نومونو او صفاتو په حقیقي معنی د ښه پوهېدو لپاره ضروري او ګټور دي. الله تعالی په خپله دا کار کړی؛ په تورات، زبور او انجیل کې چې کوم نومونه راغلي وو، په قرآن کې ئې هغه مور ته په عربي ژبې بیان کړي. که قرآن په پښتو نازل شوی وی نو د الله تعالی ټول نومونه به په پښتو کې وو، بیا به پښتنو اهل ظاهرو ویل: له پښتو عربي ته د الله تعالی نومونه ژباړل او څښتن تعالی د الله او مالك په نامه یادول منع دي!!

وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًۢا ﴿١١١﴾

او وو‌ایه: ستاینې هغه الله ته دي چې نه ئې زوی نیولی، نه په ملك کې کوم شریك ورته شته؛ او نه د ناتوانۍ له کبله کوم ولي او مرستندوی ورته شته؛ او په لوی یادولو سره ئې ستر ګڼه.

(۱۱۱)- دا مبارك آیت چې د سورې وروستی آیت او د ټولو مضامینو لپاره ئې ډېره ښکلې او موزونه تتمه ده؛ د قرآن هر مخاطب ته د څو خبرو کولو او پر هغوی باور لرلو لارښوونه کوي:

- ستاینې ټولې الله ته دي.
- زوی او ځای ناستی نه لري.
- په خپل ملك او واکمنۍ کې هیڅ شریك نه لري.
- د هیڅ کار په سرته رسولو کې د بل مرستې ته اړ نه دئ.
- په لوی لوی یادولو سره ئې ستر ګڼه.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|


فهرست.... ٤
یونس .... ١
هود .... ٦٢
د یوسف له سورې ئې زده کړو .... ١٢٩
سریزه.... ١٣٠
یوسف.... ١٣٧
الرعد.... ٢٢٧
ابراهیم.... ٢٥٩
الحجر.... ٢٨٥
النحل .... ٣٢١
الإسراء .... ٣٩٧
فهرست.... ٤٧٦

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷